د قرآن پلوشې

الرعد	الاسراء
ابراهيم	الكهف
الحجر	مريم
النحل	طٰه

خلورم جلد

حكمتيار

فهرست

عنوان

بسم الله الرحمن الرحيم

الرعد

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم الرعد دئ چې د سورې له ۱۳ آيت اخيستل شوی، دا د سورې د مضامينو لپاره عنوان نه بلکې يوازې نوم دئ، درې څلوېښت آيتونه لري، د سورې له مضامينو معلومېږي چې د مکې دور په هغو وروستيو کلونو کې نازله شوې چې د الاعراف، يونس او هود سورتونه په کې نازل شوي. **د آيتونو فواصل ئې دوه وزنه لري: يؤمنون او عقاب ته ورته،** لومړي پنځه آيتونه **ئې د لومړي آيت په څېر يؤمنون ته په ورته او هموزنه صيغو پای ته رسېدلي او** پاته اته دېرش ئې د شپږم آيت په څېر عقاب ته ورته **وزن لري.** يوازې اتلسم آيت ئې په قلوب پای ته رسېدلی خو دا له وروستي آيت سره تړلی دئ او په ګډه په مآب پای ته رسي.

لکه چې دا سوره په څلورو حروفو (ا، ل، م، ر) پيل شوې د سورې محوري او اساسي مضامين هم څلور دي چې **دا اساسي مضامين د سورې په لومړيو آيتونو کې په دې توګه راغلي:**

١ – دا د همغه کتاب آيتونه دي، او څه چې ستا د رب له لوري درته نازل شوي رښتيني دي.

٢ – خو ډېری وګړي ايمان نه راوړي.

٣ – هغه الله چې آسمانونه ئې له داسې ستنو پرته لوړ کړل چې تاسو ئې وينئ، بيا پر عرش برابر شو، او لمر او سپوږمی ئې مسخر کړل، هر يو له ټاکلې نېټې سره سم درومي، کارونه سنبالوي.

٤ – آيتونه په تفصيل سره بيانوي، د دې لپاره چې د خپل رب په ملاقات يقين وکړئ.

د سورې تر پای پورې به وګورئ چې د بحث اساسي موضوعات ئې همدا دي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِۗ وَٱلَّذِيٓ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِي رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِي لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ ﴿٢﴾

ا، ل، م، ر، دا د همغه كتاب آيتونه دي، او څه چي ستا د رب له لوري درته نازل شوي رښتيني دي خو ډېرى وګړي ايمان نه راوړي. هغه الله چي آسمانونه ئې له داسي ستنو پرته لوړ كړل چي تاسو ئې وينئ، بيا پر عرش برابر شو، او لمر او سپوږمۍ ئې مسخر كړل، هر يو له ټاكلي نېټې سره سم درومي، كارونه سنبالوي، آيتونه په تفصيل سره بيانوي، د دې لپاره چي د خپل رب په ملاقات يقين وكړئ.

(١-٢)- په دې مباركو ايتونو كي څو مهمي لارښووني شوې:

- دا د هغه كتاب آيتونه دي چي ستا د رب له لوري درباندي نازل شوى، له متن، محتوى او الفاظو ئې معلومېږي چي دا ستا د رب له لوري نازل شوى. رشتينى كتاب چي حقائق ستا مخي ته ږدي.

- ډېرى انسانان داسي دي چي د حقيقت منلو ته چمتو نه دي، له يوې خوا ئې جني او انسي شيطانان د حق منلو ته نه پرېږدي او له بلې خوا ئې د دوى هوى او هوس.

- دا كتاب د هغه الله له لوري نازل شوى چي دا لوړ آسمان ئې له داسي ستنو پرته لوړ كړى چي ليدى شي، ستني شته خو ليدل كېږي نه، او دا هغه ستر علمي حقيقت دئ چي د قرآن بل علمي اعجاز زموږ مخي ته ږدي، انسان نن په دې حقيقت پوه شوى چي د آسمان د ټولو ستورو تر منځ د جذب او دفع داسي نامرئي ځواك شته چي كه دا نه وى او يا له اوسني حالت نه ځواكمن او يا كمزورى وى نو د عالم دا موجود نظام پاينښت نشو موندلى، يا به يوه بل جذبولو او يا به داسي خواره واره كېدل چي ټول نظام به له منځه تلو. كه تاسو يوه ساينسپوه ته ووايئ چي زموږ په هغه مذهبي كتاب كي چي څوارلس پېړۍ وړاندي نازل شوى راغلي چي آسمان په داسي ستنو لوړ ساتل شوى چي نه ليدل كېږي، نو يقيناً هغه به له ځنډ پرته تاسو ته ووايي: پر

دې حقيقت انسانان په نولسمي پېړۍ کي پوه شول، تر دې د مخه هيڅوك په دې حقيقت نه پوهېدو او د آسمان د ستورو تر منځ د داسي ځواك د شته والي تصور ئې هم نشو کولی.

● الله تعالی نه يوازي خالق دئ او دا آسمانونه ئې پيدا او لوړ کړي بلکي د دې پراخ عالم ټولواك، مالك او حاکم هم دئ، د دې عالم د واکمنۍ او سنبالولو چاري د ده په واك کي دي، د عالم له پيدا کولو وروسته ئې ټولي چاري په خپل لاس کي ونيولې، د لمر او سپوږمۍ تسخير، په خاص خاص مدار کي د هغوی خوځېدا او په خپل حرکت کي د ټاکلو نېټو التزام د الله تعالی د واکمنۍ او د عالم د چارو د سنبالولو ښېلګي دي. د عالم له پيدايښت وروسته د ټولواکۍ پر عرش د الله تعالی د استوی معنی همدا ده.

● دا آيتونه د دې لپاره ستاسو مخي ته ږدي چي له الله تعالی سره په مخامخېدو باور وکړئ، داسي ونه انګېرئ چي تاسو او ستاسو دا پراخ عالم نه کوم خالق لرئ، نه کوم ټولواك او نه کوم سنبالوونکی، هر څه په خپله پيدا شوي، خپلي مخي ته پرېښودل شوي، نه پوښتنه ترې کېږي، نه محاسبه ورسره کېږي، نه ئې د ښه عمل بدله ورکول کېږي او نه ئې د بد عمل سزا، دا کچه او غلطه انګېرنه له هغه څه سره اړخ نه لګوي چي هر عاقل انسان ئې په دې پراخ عالم کي هر لوري ته په خپلو سترګو ګوري. که د عالم هر څه د يوه ځانګړي هدف لپاره پيدا شوي، په دې پراخ عالم کي نه اضافي شی موندی شو، نه د کوم ضروري شي تشه او خلاء په ګوته کوی شو او نه کوم بې هدفه او خوشې شی ښودی شو، لمر او سپوږمۍ چي د آسمان د بې شمېره اجرامو دوه څرګندي ښېلګي دي په منظمه توګه او د خاصي نېټي په مراعات سره خوځي، طلوع او غروب ئې د دقيق نظم مطابق او د يوه ستر مقصد لپاره ترسره کېږي، کوم عقل به دا چټي او غلطه خبره ومني چي دا عالم په خپله پيدا شوی، خپلي مخي ته پرېښودی شوی، نه حکيم او عليم خالق لري او نه ځواکمن پالونکی او ساتونکی، نه پوښتنه کوي او نه مکافات او مجازات!!

وَهُوَ ٱلَّذِى مَدَّ ٱلْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنْهَٰرًا ۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ ۖ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٣﴾

او دی همغه ذات دئ چي زمکه ئې خوره کړه او په هغې کي ئې غرونه او نهرونه جوړ کړل، او په هغې کي ئې د هري مېوې دوه ګوني جوړه پيدا کړه، شپه پر ورځ راکاږي، يقيناً چي په دې کي د تفکر کوونکو وګړو لپاره نښې دي.

(٣)- د الله تعالی د ټولواکۍ او چارو سنبالولو نوري ښېلګي دا دي چي زمکه ئې خوره کړه، په هغې کي ئې غرونه او نهرونه جوړ کړل، په هغې کي ئې د هري مېوې دوه ګوني جوړه پيدا کړه او شپه پر ورځ راکاږي. زمکه داسي جوړه شوې چي ځيني برخي ئې آواري دي او ځيني لوړي او غرونه، د زمکي دا جوړښت د دې سبب شوی چي هم نهرونه، چيني او کاريزونه په کي وبهېږي او آواري زمکي خړوبې کړي او هم داسي بېلي بېلي سيمي او موسمي حالت په کي راپيدا شي چي د راز راز بوټو او ونو د ټوکېدو او ودې لپاره ضروري دي، که زمکه داسي نه

وی نو نه به نهرونه بهېدل او نه به بېل بېل موسمونه ول او نه رنگ رنگ بوټي او وني.

په دې مبارك آيت كې د قرآن د يوه بل ستر علمي اعجاز شاهد يو، قرآن وايي چې د هري مېوې دوه گوني جوړه ئې راپيدا كړه، تر دې وروستيو پوري هيڅوك په دې نه پوهېدو چې د ژوو او حيواناتو په څېر په نباتاتو (ونو او بوټو) كې هم نر او ښځه شته او مېوه د نر او ښځې د نطفو له يو ځای كېدو راپيدا كېږي، د دوی القاح يا د بادونو په واسطه تر سره كېږي او يا د موچيو په څېر حشراتو په واسطه، كه تاسو د قرآن دا وينا هم د كوم ساينس پوه مخې ته كېږدئ نو يقيناً چې دا به د قرآن يو ستر علمي اعجاز گڼي.

قرآن دلته د جوړه جوړه مېوو راپيدا كولو تر څنگ د شپې او ورځې تلو راتلو ته اشاره كوي او ښيي چې دا هم د مېوو په راپيدا كېدو كې يو مهم عنصر دئ، او دا يو بل ستر علمي حقيقت دئ چې انسان ډېر وروسته پرې پوه شوی، كه د شپې او ورځې دا خاص نظام نه وی نو د زمكې پر سر به نه يو بوټی راټوكېدلی وو او نه يو ژوی، د شپې او ورځې دغه نظام د زمكې پر سر هغه شرايط برابر كړي چې بوټي او ژوي ورته ضرورت لري. كه ورځ نه وی، يا لنډه يا اوږده وی نو د زمكې پر سر نه ژوند ممكن وو او نه د ژوو راپيدا كېدا، كه شپه نه وی يا لنډه يا اوږده وی نو زمكه به تر ضروري حد يا ډېره توده يا ډېره سړه وه چې نه به حيوانات په كې راپيدا كېدل او نه نباتات، همغسې لكه چې د آسمان په نورو ستورو كې د شپې او ورځې تر منځ د خاص او ضروري تناسب د نشتوالي له كبله هلته د ژوند شرائط مساعد نه دي.

وَفِي ٱلۡأَرۡضِ قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ أَعۡنَٰبٖ وَزَرۡعٞ وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ صِنۡوَانٖ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلۡأُكُلِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ۝٤

او په زمكې كې څنگ په څنگ پرتې ټوټې دي او د انگورو باغونه او كښتونه او د كجورو گډبنستي او بېل بنستي وني چې په يو ډول اوبو خړوبېږي، په داسې حال كې چې ځينو ته مو پر ځينو نورو د خوراك له پلوه فضيلت وركړی، يقيناً چې په دې كې د تعقل كوونكو وگړو لپاره څرگندې نښې دي.

(٤)- د دې مبارك آيت مهمې لارښووني دا دي:

● څوك چې په سطحي نظر د زمكې مخ ته گوري داسې انگېري چې ټوله زمكه به د جوړښت او تركيب له پلوه سره ورته وي، خو كه په علمي نظر او دقت سره د زمكې د بېلو بېلو برخو تركيب ته ځير شو نو دا حقيقت راته جوت كېږي چې د زمكې برنۍ سطحه له داسې بېلو بېلو ټوټو جوړه شوې چې د تركيب له پلوه يوه له بلې سره ژور توپيرونه لري، دا هغه حقيقت دئ چې قرآن په پورتني آيت كې ورته اشاره كړې او انسان هغه مهال پرې پوه شو چې د

خاوري د ترکيب معلومولو پر مخ تللي وسائل او پوهه په لاس ورغله، او يقيناً چي دا د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز دئ. په نولسمي پېړۍ کي انسان له علمي پلوه هغه پوړ ته ورسېد چي په دې حقيقت پوه شي، اوس ورته جوته شوې چي د زمکي ځيني برخي داسي دي چي په ترکيب کي ئې يو عنصر زيات دئ او د بلي په ترکيب کي بل عنصر، په ځينو کي مس زيات دي، په ځينو کي اوسپنه زياته ده او په ځينو کي سره او سپين زر، او دې ته ورته د نورو عناصرو د تناسب له پلوه توپيرونه، همدغه توپيرونه د دې باعث شوي چي په يوې سيمي کي يو ډول بوټي او وني راټوکېږي او وده کوي او په بلي کي بل ډول، د يو ډول ونو مېوې به په يوې سيمي کي يو ډول خوند لري او په بلي کي بل ډول، نه يوازي د خوند له پلوه به يوه له بلي توپير لري بلکي د ګټي له پلوه يوه پر بلي فضيلت لري. د خوند په توپير هر څوك پوهېدی شي خو د ګټي له پلوه د دوی تر منځ توپيرونو باندي پوهېدا نه يوازي ګران کار دئ بلکي له نولسمي پېړۍ مخکي انسان ته قطعاً ممکنه نه وه، د قرآن دا وينا له شکه پرته يو بل ستر علمي اعجاز دئ چي وايي: ځينو مېوو ته پر نورو د خوراك له پلوه فضيلت ورکوو او يقيناً چي د عقل خاوندانو ته په دې وينا او دې حقيقت کي ډېري نښې دي.

- د دې لپاره چي دا موضوع لازياته واضح شي دوه مثاله ئې وړاندي کوم: د کابل په جنوب کي د عينك په نامه د زمکي يوه ټوټه ده چي په ترکيب کي ئې د مسو کچه ډېره لوړه ده، د دې ټوټې طول، عرض او ضخامت معلوم دئ، د ټولو موادو او په هغوی کي د مسو تخميني اندازه هم معلومه شوې، د همدې معلوماتو له مخي يوې چينايي کمپني د مسو د رايستلو معاهده امضاء او عملاً ئې کار پيل کړ، بل مثال ئې د کابل په شمال غرب کي د حاجي ګك سيمه ده چي د اوسپني ستر کان په کي موندل شوی، د دې سيمي اوږدوالی، سور او پرېړوالی هم معلوم شوی او د اوسپني تخميني اندازه هم معلومه شوې، دا معلومات د نړۍ سترو سترو شرکتونو ته وړاندي شوی، چي له مخي به ئې د اوسپني د استخراج معاهده لاسليك کېږي، د دې دواړو ټوټو تر منځ د زمکي نوري ټوټې دي چي ترکيب ئې له دوی دواړو ځانګړي توپيرونه لري. خو دا چي دا بېلي بېلي ټوټې د زمکي د لومړني پيدايښت په وخت کي رامنځته شوې که وروسته، بايد ووايو چي په لومړي سر کي د زمکي برنۍ سطحه يو ډول وه، ورو ورو په هغې کي تغييرات راغلي، دا بېلي بېلي ټوټې د هغو چاودنو په لړ کي رامنځه شوې چي د زمکي برنۍ قشر ئې مات کړی، د زمکي د زړه ويلي مواد بهر راوتلي، د زمکي پر سر خواره شوي او يوه خاصه سيمه ئې لاندي کړې، په دې ويلي موادو کي کله د يوه عنصر کچه زياته وه او کله د بل، له همدې کبله يوه سيمه او د موادو ترکيب ئې له بلي توپير لري.
- که څوك ووايي: دا مېوه تر بلي غوره ده، د ده دا وينا ناقصه ده، ځکه دا ئې نه دي ويلي چي له کومه پلوه غوره ده، د غوره والي وجه ئې نه ده په ګوته کړې، يو شی پر بل له ځانګړي پلوه فضيلت درلودی شي نه په عام او کلي توګه، بشپړه او صحيح وينا دا ده چي ووايو: دا مېوه تر هغي بلي انسان ته د ګټي له پلوه غوره والی لري، دلته ګورئ چي د قرآن الفاظ څومره په دقت سره غوره شوي، وايي: ځينو مېوو ته پر نورو د (خوراك) له پلوه فضيلت ورکوو!!

وَإِن تَعۡجَبۡ فَعَجَبٞ قَوۡلُهُمۡ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدٍۗ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَغۡلَٰلُ فِيٓ أَعۡنَاقِهِمۡۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ۝٥

او كه ته تعجب كوې نو د دوى وينا عجيبه ده چي (وايي) كه خاوري شوي وو نو آيا په نوي پيدايښت كي به (بيا راپيدا) كېږو؟ دوى همغه دي چي د خپل رب په اړه ئې كفر وكړ، او دوى همغه وګړي دي چي زنځيرونه ئې په غاړو كي دي، او دوى دوزخيان دي، تلپاته په هغه كي.

(٥)- كه څه هم د دې آيت لومړنى مخاطب رسول الله ﷺ دئ، خو په عامه توګه د قرآن هر مخاطب ته متوجه دئ او مطلب ئې دا دئ چي كه ته تعجب كوې نو د دوى دا وينا تر ټولو زياته د حيرت او تعجب وړ ده چي وايي: كه ومرو او خاوري شو نو آيا بيا به راژوندي كېږو؟! څنګه به زموږ وراسته شوي هډوكي او خاوري شوي بدنونه بيا په روغ رمټ ژوندي انسان بدلېږي؟ له بيا ژوندون د دوى د انكار اصلي وجوهات دا دي:

- دوى پر خپل رب باور او ايمان نه لري، همغه د دوى پالونكى رب چي په مخكنيو آيتونو كي د هغه د قدرت او انسان پالني ګڼ شمېر نښي زموږ مخي ته كېښودى شوې.
- د دوى زړه او دماغ د جهل، تعصب، پلرني غلط مذهب ړوند تقليد او هوى او هوس په زنځيرونو تړل شوي، پر سترګو ئې پرېړي پردې غوړېدلې، له آزاد او شفاف فكر كولو عاجز دي.
- دوزخيان دي، عملونه ئې داسي دي چي دوزخ ته ئې بيايي، هغه لار او كار نشي غوره كولى چي جنت ته ئې بيايي.

يقيناً چي دا ډېره د حيرانتيا او تعجب وړ خبره ده چي څوك له هغه رب انكار كوي چي د قدرت نښي ئې هر لوري ته او په هر ګام كي د انسان مخي ته ځلېږي، آيا عجيبه نه ده چي څوك هغه الله تعالى د انسان له بيا پيدايښت عاجز ګڼي چي دى ئې پيدا كړى، دا له ملياردونو ستورو ډك آسمان ئې پيدا كړى، هره شېبه د زمكي له سپېره ډاګ ډول ډول بوټي او مېوې راپيدا كوي، له آسمانه باران وروي او مړه زمكه پرې ژوندۍ كوي او د انسان لپاره ئې د زمكي پر سر د ژوند مساعد شرائط برابر كړي.

وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِ وَقَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِمُ ٱلۡمَثُلَٰتُۗ وَإِنَّ رَبَّكَ

لَذُو مَغۡفِرَةٖ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلۡمِهِمۡۖ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴿٦﴾

او له تا په تلوار سره تر ښېګني د مخه بدي (عذاب) غواړي، په داسي حال کي چي تر دوی وړاندي د عذابونو بېلګي تېري شوې، او يقيناً چي ستا رب د خلکو په اړه د بخښني خاوند دئ د دوی له ظلمونو سره سره، او يقيناً چي رب دي حتماً کلك تعذيبوونکی دئ.

(٦)- په مخکني آيت کي د قيامت او بيا ژوندون په اړه د کافرانو د انکار يوه اړخ ته ګوته نيول شوې چي هغه د دوی دا وينا ده: څنګه به له هغه وروسته بيا راژوندي کېږو چي بدنونه مو خاوري شوي وي؟ د دوی د دې غلطي او بې بنسټي اندېښني په ځواب کي ويل شول: د دوی د انکار وجه دا ده چي پر هغه رب العالمين ايمان نه لري چي آسمان ئې لوړ کړی او ځمکه ئې غوړولې، غرونه او نهرونه او ډول ډول مېوې ئې په کي راپيدا کړي، په دې آيت کي د دوی د انکار بل اړخ څېړل شوی او هغه دا چي وايي: که الله تعالی واقعاً له خپلو بندګانو سره محاسبه کوي، نېکان پالي او بدکارو ته سزا ورکوي، مؤمنانو ته د دوی د ايمان او صالح عمل غوره بدله ورکوي او کافرانو ته د دوی د کفر، شرك او بدو عملونو سخته سزا ورکوي، که دا د الهي مکافات او مجازات عقيده صحيح وي نو ولي پر موږ هغه عذابونه نه نازلېږي چي تاسو مو ترې وېروئ؟! د دوی په ځواب کي څو خبري شوې:

- دا عذابونو عملاً نازل شوي، تر تاسو مخکي ډېر پرې اخته شوي، د تاريخ پاڼو ته ځير شئ، وګورئ چي ستاسو سلف له کومو بدو پايلو سره مخامخ شوي او څومره سخت سخت عذابونه پرې نازل شوي.
- د عذاب په راتلو کي د ځنډ او ګنهګارانو ته د فرصت ورکولو وجه دا ده چي ستا رب بخښونکی دئ، خپل ګنهګار بنده ته د توبې فرصت ورکوي، په مؤاخذه او نيولو او سزا ورکولو کي تلوار نه کوي.
- د دنيوي او اخروي محاسبې او عذاب لپاره ئې خاصه نېټه ټاکلې، کله چي دا نېټه راورسېږي په خپلو سترګو به وګورئ چي ستاسو رب کلك تعذيبوونکی دئ.

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦٓۗ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرٞۖ وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ ﴿٧﴾

او هغه چي کفر ئې کړی وايي: ولي د ده د رب له لوري کومه څرګنده نښه نه پرې نازلېږي؟! يقيناً چي ته خو يوازي يو خبرداری ورکوونکی يې او هر قوم ته يو لارښود وي.

(٧)- دلته د معاندينو يو بل اعتراض څېړل شوی، هغه دا چي د رسول اللهﷺ په اړه به ئې ويل:

که دی په ربښتیا د الله تعالی له لوري غوره شوی پیغمبر وی نو داسي څرګنده نښه به ورسره وه چي هیڅا ترې انکار نشو کولی، د قرآن په نورو آیتونو کي د دوی د دې اعتراض تفصیلات راغلي، د الاسراء په سورې کي داسي لولو:

وَقَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفۡجُرَ لَنَا مِنَ ٱلۡأَرۡضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوۡ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٞ مِّن نَّخِيلٖ وَعِنَبٖ فَتُفَجِّرَ ٱلۡأَنۡهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفۡجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوۡ تُسۡقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا زَعَمۡتَ عَلَيۡنَا كِسَفًا أَوۡ تَأۡتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾ أَوۡ يَكُونَ لَكَ بَيۡتٞ مِّن زُخۡرُفٍ أَوۡ تَرۡقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤۡمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥۗ قُلۡ سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ إِلَّا بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا ﴿٩٤﴾
الاسرا: ۹۰-۹٤

او وئي ويل: تر هغه به هیڅکله درباندي باور ونه کړو چي له زمکي یوه چینه راته جاري نه کړې، یا د کجورو او انګورو داسي باغ دي وي چي هري خوا ته ویالي په کي وبهوې او یا لکه څنګه چي ګمان کوې د آسمان یوه ټوټه پر موږ راپرې باسې، یا خدای او فرشتي مخامخ راولې، یا د سرو سپینو زرو کور ولرې، یا آسمان ته لوړ ولاړ شي او پورته تګ دي هم تر هغه نه منو چي داسي کتاب درسره راوړې چي موږ ئې ولولو، ورته ووايه: پاکي زما رب لره ده ، آیا زه له یوه داسي انسان پرته بل څه یم چي د پیغمبر په توګه لېږل شوی؟ او خلکو ته د هدایت له راتلو وروسته یوازي دې خبري دوی له ایمان راوړو منع کړل چي ویل ئې: آیا خدای یو انسان د پیغمبر په توګه رالېږلی؟!!

ګورئ چې (خلك) دغي خبري له ایمان راوړلو منع کړي چي پیغمبر ئې د نورو انسانانو په څېر یو انسان موندلی، داسي چي حیرتناك او خارق العاده کارونه نشي کولی، د ده په خوا کي نه څوك خدای په څرګنده ګوري او نه د فرشتو لښکري، آسمان ته نشي ختلی، له زمکي چینې نشي راخوټولی، سره او سپین زر ئې په لاس کي نشته، د باغونو او بنګلو خاوند نه دئ!!

د یهودانو مذهبي مشرانو د خپلو پیغمبرانو په اړه خلکو ته همدا ویلي وو چي دوی دغه ټول کارونه کولی شو، نو ځکه ئې د عیسی علیه السلام په څېر په هغه پیغمبر هم ایمان رانه ووړ چي معجزې ئې تر ټولو پیغمبرانو زیاتي وې!!

قریشو هم له رسول اللهﷺ دې ته ورته معجزې غوښتې، د دوی د غوښتنو په ځواب کي ویل شوي: یقیناً چي ته خو یوازي یو خبرداری ورکوونکی یې او دا یوازي ته نه یې چي خپل قوم ته د لارښود په توګه لېږل شوی یې تر تا د مخه نورو قومونو ته ستا په څېر لارښود پیغمبران لېږل شوي.

ٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَحۡمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ ٱلۡأَرۡحَامُ وَمَا تَزۡدَادُۖ وَكُلُّ شَيۡءٍ عِندَهُۥ بِمِقۡدَارٍ ﴿٨﴾

الله په هغه څه پوهېږي چي هره ښځینه ئې (په خپل رحم کي) وړي، او په هغه څه هم چي رحمونه ئې کموي او په هغه څه هم چي زیاتوي ئې، او هر څه د ده خوا ته په یوه (خاص) مقدار کي دي.

(۸)- دا مبارك آیت له دوو پلوو غور او دقت غواړي: لومړی دا چي ارتباط ئې له مخکنیو آیتونو سره څنګه دئ؟ او دوهم دا چي په رحم کي د نطفي ورو ورو او مسلسل وده او د ماشوم په قوتونو او استعدادونو کي پر له پسي زیاتوالی خو واضح او د فهم وړ حقیقت دئ خو دا چي رحم څه کموي او د دې کمولو حقیقت او معنی څه ده؟ دا مطلب لږ وضاحت غواړي.

د لومړۍ پوښتني په ځواب کي باید ووایو چي تر دې د مخه په شپږم آیت کي د کافرانو په اړه ویل شوي چي دوی په تلوار سره د عذاب راتلو غوښتنه کوي او په دې کي ځنډ داسي تعبیروي چي ګواکي د عذاب ګواښونه حقیقت نه لري، نه الله تعالی له خپل بنده سره حساب کوي او نه هغه ته د ګناهونو سزا ورکوي، د پیغمبرانو له لوري چي د عذاب راتلو کوم ګواښونه شوي حقیقت نه لري. دوی ته د مخکنیو ځوابونو تر څنګ په دې آیت کي ویل شوي چي الله تعالی د هر څه او هر کار لپاره ځانګړی مقدار او حد ټاکلی، لکه چي د مور په رحم کي د ماشوم د پیدایښت، ودي او زېږېدا لپاره حد او موده ټاکل شوې، تر خاصي نېټي ئې د مور په رحم کي پرېږدي او په ټاکلي نېټي ئې له یوې نړۍ بلي ته بیایي همدارازکافرانو ته تر خاصي نېټي مهلت ورکوي، د مهلت په پای کي او هغه مهال د عذاب پرېکړه کوي چي دوی له دې مهلت ګټه وانخلي او پر خپل کفر او انکار ټینګار وکړي.

او د دوهمي پوښتني په ځواب کي باید ووایو چي د مفسرینو تر منځ د دې زیاتوالي او کموالي په اړه کافي اختلاف شته، ځیني ئې په رحم کي د ماشوم د پاته کېدا د مودې کموالی او زیاتوالی ګڼي، ځیني ئې د ماشوم د بشپړ او ناقص پیدا کېدو په معنی تعبیروي، ځیني ئې د حیض دویني وروسته او مخکي کېدا بولي، خو په رحم کي د جذب او دفع، زیاتولو او کمولو یوه بله عملیه په مسلسله توګه تر سره کېږي چي انسان ډېر وروسته پرې پوه شوی، او هغه دا چي ماشوم د مور په رحم کي مخامخ د مور له ویني تغذیه کېږي او د ده د بدن فضله مواد هم بېرته د هغه رګ له لاري د مور بدن ته انتقالېږي چي د ماشوم له نامه سره وصل دئ، د آیت له الفاظو داسي معلومېږي چي پر له پسي او مسلسل زیاتوالي او کموالي ته اشاره لري او دا مسلسل زیاتونه او کمونه یوازي همدا د تغذیې له لاري د ماشوم بدن ته وده ورکول او اضافي، غیر ضروري او فضله مواد ترې ایستل دي نه بل څه. تر دې د مخه ځینو داسي انګېرله چي ښایي ماشوم به د مور په رحم کي هغه وینه خوري چي د حیض په بڼې کي د مور له رحمه وځي، دلیل ئې دا وو چي د حمل په مودې کي د حیض وینه بنده شي، خو اوس انسان په دې پوه

شوی چي ماشوم د مور په رحم کي نه خوراك کوي او نه ئې د بدن له مخصوصو لارو فضله مواد وځي، بلکي دا عمليه د هغو رګونو له لاري ترسره کېږي چي ماشوم ئې له مور سره وصل کړی، له همدې لاري غذايي مواد د ده د بدن هر سلول ته رسي او له همدې لاري فضله مواد د مور بدن ته انتقالېږي.

عَـٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ ٱلۡكَبِيرُ ٱلۡمُتَعَالِ ﴿٩﴾

په ناڅرګند او څرګند پوه، ستر د لوړ شأن خاوند ذات.

(۹)- په دې مبارك آيت کي د الله تعالی دغو صفاتو ته اشاره شوې: په ناڅرګند او څرګند پوه دئ، ستر دئ او د لوړ شأن خاوند دئ. په مخکنيو آيتونو کي د الله تعالی د دغو صفاتو څرګند مظاهر زموږ مخي ته کېښودل شول، دا لوړ آسمان او په هغه کي لمر، سپوږمۍ او بې شمېره ستوري ښيي چي د دې عالم خالق او ساتونکی رب ستر ذات او د لوړ شان خاوند دئ، په دې عالم کي موږ د داسي عليم ذات د پراخ علم مظاهر په خپلو سترګو ګورو چي ښيي الله تعالی په څرګندو او ناڅرګندو شيانو پوه دئ، بېلګي ئې په مخکنيو آيتونو کي وړاندي شوې. غائب او شاهد د انساني معيارونو مفاهيم دي، د الله تعالی په وړاندي غائب نشته، هر څه ورته څرګند او معلوم دي، انسان په دې نه پوهېږي چي د زمکي سر له بېلو بېلو ټوټو جوړ شوی، انسان په دې نه پوهېږي چي د ميندو په رحم کي څه تېرېږي، څه کمېږي او څه زياتېږي، په دې اړه د قرآن وينا ښيي چي الله تعالی په څرګندو او ناڅرګندو پوه دئ.

سَوَآءٌ مِّنكُم مَّنۡ أَسَرَّ ٱلۡقَوۡلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنۡ هُوَ مُسۡتَخۡفِۭ بِٱلَّيۡلِ وَسَارِبُۢ
بِٱلنَّهَارِ ﴿١٠﴾ لَهُۥ مُعَقِّبَـٰتٌ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ يَحۡفَظُونَهُۥ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۗ إِنَّ
ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوۡمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمۡۗ وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِقَوۡمٍ سُوٓءًا فَلَا مَرَدَّ
لَهُۥۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٍ ﴿١١﴾

که ستاسو څوك خبره پټوي او څوك ئې څرګندوي، او که څوك په شپه کي ځان پټوي او په ورځې کي (څرګند) درومي يو برابر دي. ده ته په مخکي او تر شا ئې پرله پسې راتلونکي ټولګي دي چي د الله په حکم ئې ساتنه او څارنه کوي، يقيناً چي الله هغه څه نه بدلوي چي د يوه قوم په برخه شوي تر هغه چي دوی خپل ځاني حالت بدل کړي، او کله چي الله د کوم ولس په اړه د مصيبت اراده وکړي نو هيڅ ستنېدا ئې نشته او له ده پرته هيڅ مرستندوی نه لري.

(۱۰-۱۱)- په دې مبارکو آيتونو کې څو مهمې لارښوونې شوې:

- ستاسو هیڅ څه له الله تعالی پټ نه پاته کېږي، نه مو قول او نه عمل، که له تاسو څوك خپله خبره په زړه کې پټه ساتي يا ئې څرګندوي، که څوك په شپه کې ځان پټوي او په ورځې کې څرګند درومي، ټول د الله تعالی په وړاندې برابر دي.
- هر انسان ته د فرشتو داسې څارونکې او ساتونکې ټولګې ټاکل شوي چې په مخکې او تر شا ئې پرله پسې راځي او د الله تعالی له حکم سره سم د ده ساتنه او څارنه کوي.
- له بنده سره د الله تعالی معامله داسې ده چې حالت ئې يوازې هغه مهال بدلوي چې هغه خپل ځانې حالت بدل کړي، له خپلو نعمتونو ئې هغه مهال محروموي چې د نعمتونو ضروري وړتيا او استحقاق له لاسه ورکړي، له مصيبتونو ئې هغه مهال ژغوري چې اړوند وړتيا په ځان کې راپيدا کړي.
- کله چې الله تعالی د کوم ولس په اړه د مصيبت اراده وکړي نه ئې څوك ځنډولی شي او نه تمولی او ستنولی.
- له الله تعالی پرته هيڅ مرستندوی نشي موندلی.

هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ﴿١٢﴾ وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعْدُ بِحَمْدِهِۦ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِۦ وَيُرْسِلُ ٱلصَّوَٰعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَن يَشَآءُ وَهُمْ يُجَٰدِلُونَ فِى ٱللَّهِ وَهُوَ شَدِيدُ ٱلْمِحَالِ ﴿١٣﴾

دی همغه ذات دئ چې برېښنا د وېرې او طمعې په توګه درښيي او درنې ورېځې راپيدا کوي. او تالنده ئې له ستاينې سره تسبيح وايي او فرشتې ئې له وېرې، او تندرونه (تکه) رالېږي او هغه څوك پرې اخته کوي چې دی ئې غواړي، په داسې حال کې چې دوی د الله په اړه جدل کوي او هغه د نيونې او عذاب له پلوه ډېر شديد دئ.

(۱۲-۱۳)- په دې مبارکو آيتونو کې څو ستر ستر مطالب زموږ مخې ته ايښودل شوي:

- هغه ذات چې موږ ته په مکرره توګه په آسمان کې برېښنا راښيي؛ الله تعالی دئ، دا برېښنا په چا کې وېره او په چا کې طمع راولاړوي، په چا کې دا هيله راوپاروي چې ښکلی او بختور باران به ورېږېږي او په چا کې د درنو سيلابونو بهېدو او له هغه نه د راولاړ شوو تاوانونو وېره راولاړه شي، هيڅوك نه پوهېږي چې دا برېښنا به د کومو پېښو پېلامه شي.
- له برېښنا سره سم په آسمان کې درنې او پرېړې ورېځې راڅرګندې شي. هغه ذات چې دا ورېځې زموږ پر سر راپيدا کوي؛ الله تعالی دئ، هيڅوك ئې نه د راپيدا کولو توان لري او نه ئې د سمت او لورې ټاکلو وس او قدرت، د ده په اراده رامنځته کېږي او د ده په اراده په خپل ټاکلې لورې درومي.
- له برېښنا سره سم د تالندې درانه غړونه اوړو، چې موږ ته د باران وربدو زېرې راکړي، دا غږ د ژوند پيغام له ځان سره لري، له همدې غږ سره له يوې خوا د اوبو پيدا کېدو او باران وربدو لړۍ پيل شي چې د ژوو تر ټولو ستره اړتيا پرې رفع شي او له بلې خوا مړه زمکه پرې راژوندۍ شي او ډول ډول بوټي ترې راوټوکېږي. خو دا چې تالنده څنګه له ستاينې سره د الله تعالی تسبيح وايي، د حال په ژبه الله تعالی ستايي او تسبيح وايي که د قال په ژبه؟! د تالندې غږ زموږ د آذان او لوړ ذکر په څېر تسبيح او ذکر دئ که دا غږ شهادت

ورکوي چي الله تعالی له هر عيب او نقص لوړ او د ټولو ستاينو وړ دئ؟!! دواړه تعبيرونه صحيح دي، د قرآن د وينا له مخي د دې پراخ عالم هر څه د حال او قال په ژبه د الله تعالی تسبيح وايي او خپل رب ستايي، خو موږ ئې په تسبيح نه پوهېږو.

• فرشتي هم د خپل رب تسبيح وايي، په داسي حال کي چي وېرېږي، هغه فرشتي چي د ګناه، عصيان او انحراف ماده او استعداد په کي نشته، تل او په هر حال کي د الله تعالی په عبادت بوختي وي، خو سره له دې وېرېږي، خپل ضعف او د الله تعالی عظمت ته په پام سره په عبادت کي د قصور احساس کوي او دا احساس په دوی کي وېره راولاړوي. قرآن پورتنيو مطالبو ته په اشاري سره کافرانو ته وايي: که تاسو له خپل رب انکار کوئ ستاسو دا انکار نه د الله تعالی عظمت او واکمني ته څه زيان رسوي او نه ئې د تسبيح ويونکو بندګانو په شمېر کي کمی راولي، د دې پراخ عالم هر څه د هغه په عبادت او تسبيح بوخت دي، همغه څه کوي چي خپل رب پرې ګمارلي، رعد او برېښنا هم او د آسمانونو فرشتي هم. فرشتي په داسي حال کي تسبيح وايي چي زړه ئې له وېري رپېږدي، او دا په داسي حال کي چي يوه شېبه او يوه ذره نه له تسبيح او عبادت غافله کېږي، نه په خپل ټاکلي مأموريت کي قصور او نه له خپل ثابت مسير نه انحراف کوي، آيا عجيبه نه ده چي تاسو خپل رب هېر کړی او د کفر لار مو غوره کړې؟!!

• آيا له دې نه وېرېږئ چي له آسمانه تندر درباندي راپرې باسي؟ مګر نه پوهېږئ چي دا تندرونه د ده په اراده پر زمکه پرېوځي او هغه څوك پرې اخته کوي چي دی ئې غواړي؟ آيا خبر نه يئ چي د څومره هغو خلکو پر سر راپرېوتي چي د الله په اړه په جدل بوخت ول؟

• تاسو له هغه رب انکار کوئ چي د نيوني او عذاب له پلوه ډېر شديد دئ، چا چي د کفر او انکار لار غوره کړې په شديد الهي عذاب اخته شوی.

لَهُۥ دَعۡوَةُ ٱلۡحَقِّۖ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَجِيبُونَ لَهُم بِشَيۡءٍ إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيۡهِ إِلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦۚ وَمَا دُعَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ ﴿١٤﴾

رښتيني بلنه د ده ده، او هغه چي له ده پرته نور وربلي په هيڅ څه سره به اجابت ورته ونه کړي، مګر (حال ئې) هغه چا ته ورته دئ چي د اوبو لوري ته لاس غزوي چي (په خپله ئې) خولې ته ورسېږي، خو هغه وررسېدونکي نه دي، او د کافرانو دعاء خو هسي په تېروتني کي دعاء ده.

(١٤)- د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

• الله تعالی مرستي ته رابلل رښتيني بلنه ده، هغه څوك چي ده ته مخه کړي او د ده په وړاندي د دعاء لاسونه لوړ کړي په رښتيني او حقيقي توګه ئې هغه چا ته دعاء کړې چي د دې دعاء وړ دئ او دعاء بايد د ده په درشل کي وي، هغه چي د خپل بنده دعاء اوري او حاجت ئې تر سره کوي.

• او هغه څوك چي له ده پرته نور وربلي، له بل چا مرسته غواړي، د مرستي ترلاسه کولو لپاره په بل درشل کي لمن غوړوي او د خپلو حاجتونو پوره کېدا ترې غواړي، هيڅ دعاء به ئې ونه منل شي او هيڅ حاجت به ئې ترسره نشي، حال ئې هغه چا ته ورته دئ چي د اوبو لوري ته لاس غزوي چي په خپله ئې خولې ته ورسېږي، خو هغه وررسېدونکي نه دي.

• د کافرانو دعاء خو هسي د تېروتني دعاء ده، دوی غولېدلي، اصلي ملجأ او مرجع ئې غلطه کړې، داسي دروازې ته ودرېدلي چي هيڅکله نه پرانيستل کېږي، داسي چا ته ږغ کوي چي نه څه اوري او نه چا ته ځواب

ورکولی شي.

• په دې مثال کې هغه کافر انسان چې له الله تعالی پرته بل چا ته دعاء کوي له هغه تږي انسان سره تشبیه شوی چې د ژورو اوبو خوا ته ولاړ دئ، لاس د اوبو لوري ته غزوي چې خولې ته ئې راشي، خو نه د ده لاس اوبو ته رسي او نه اوبه د ده خولې ته، په دې مثال کې دا کافر انسان له تږي سره، له الله تعالی پرته بل چا ته دعاء ئې د اوبو لوري ته د تږي انسان له لاس غزولو سره، او د ده حاجت له اوبو سره تشبیه شوي، خو هغه مرجع او د ده د هیلې ځای چې دعاء ئې ورته کړې او مرسته ئې ترې غوښتې هیڅ ګټل شوی او په مثال کې له هیڅ سره تشبیه شوی، او د دې معنی دا ده چې د ده او د ده د حاجت تر منځ له الله تعالی پرته بل څوك نشته چې مرسته ئې وکړي او حاجت ئې ترسره کړي، له چا چې ده مرسته غوښتې هغه په حقیقت کې د ده د ذهن زېږنده واهمه ده چې نه شتون لري، نه د ده او د ده د حاجت تر منځ وسیله او واسطه دئ، او نه د ده دعاء قبلولی او حاجت رفع کولی شي.

وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَظِلَٰلُهُم بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْءَاصَالِ ۩ 

او الله ته هر هغه څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي او د دوی سیوري هم، په خوښه او ناخوښه، سبا او ماښام سجده کوي.

(۱۵)- د دې مبارك آیت په وړاندې لږ توقف په کار دئ، په مطلب ئې سم پوهېدا دقت او غور غواړي، باید وګورو چې څنګه د آسمانونو او زمکې هر څه او د دوی سیوري د الله تعالی په وړاندې په خوښه او ناخوښه، سبا او ماښام سجده کوي؟ په دې اړه څو خبرې باید په پام کې ولرو:

• دا مطلب د آل عمران د سورې په ۸۳ آیت کې په دې توګه راغلی: **أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾** آیا د الله له دین پرته (بل دین) لټوي، حال دا چې د آسمانونو او زمکې هرڅه، طوعاً اوکرهاً، (په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه ایښې او د ده لوري ته ورګرځول کېږي. یعني د زمکې او آسمان هر څه الله ته تسلیم دي، د ټولو دین اسلام دئ، هغه څه کوي چې الله پرې ګمارلي، په همغه لار درومي چې الله ورته ټاکلې، لمر، سپوږمۍ، ستوري په خپل خپل مدار کې خوځي، په خپل خپل وخت او له خپل خپل ځایه راخېژي او پرېوځي، ونې، بوټي او حیوانات د خپل فطرت مطابق په خپل کار لګیا دي، په ټولو مخلوقاتو کې یوازې کافر او عاصي انسان داسې دئ چې د الله له دین پرته د بل څه په لټه کې شي، هم د الله د دین په نسبت کافر شي او هم د خپل فطرت په نسبت، دی ستر باغي دئ، له هغه دین ئې بغاوت کړی چې د زمکې او د آسمان د هر څه دین دئ.

• په دې آیت کې د سجدې معنی همغه ده چې د آل عمران د سورې په آیت کې د (اسلم) په لفظ سره بیان شوې، چې مراد ئې د الله تعالی حکم ته انقیاد او تسلیمېدا ده، که سجده له دې پرته په بله معنی او تندی پر زمکه اېښودل تعبیر شي نو نه یوازې د هغو مخلوقاتو په اړه صدق نه کوي چې نه تندی لري، نه ملا، نه کوږېدی شي

او نه تندی پر زمکه ابښودی شي، بلکي د هغو انسانانو په اړه هم صدق نه کوي چي پر الله تعالی ایمان نه لري او سجده نه کوي. د دغو مخلوقاتو د سیوري په اړه هم صدق نه کوي.

- نه یوازي ټول مخلوقات د الله تعالی تکویني حکم ته منقاد دي او د عالم هیڅ څه له هغو ثابتو الهي سننو او تکویني احکامو سرغړاوی نشي کولی چي الله تعالی وضع کړي، بلکي د دوی سیوري هم د دغو الهي سننو او تکویني احکامو مطابق په داسي دقیقه توگه رامنځته کېږي، لوېږي، وړېږي او له سترگو پټېږي، چي موږ کولی شو د یوه شي د سیوري له مخي دا وټاکو چي د دې شي او د نور د منبع تر منځ څومره واټن دئ، سیوري ته په پام سره ویلی شو چي اوس غرمه، که ماپښین که مازدیگر، او څو بجي دي، د سیوري له مخي د لمر او زمکي تر منځ فاصله معلومولی شو.
- دا یقیناً چي د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ چي وایي د عالم هر څه او سیوري ئې هم د خاصو تکویني ضوابطو تابع دي. د دې علمي اعجاز په اهمیت او ارزښت هغه څوك پوهېږي چي په طبیعي علومو کي په تحقیق بوخت وي.

قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ قُلِ ٱللَّهُۚ قُلۡ أَفَٱتَّخَذۡتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ لَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ نَفۡعٗا وَلَا ضَرّٗاۚ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُ أَمۡ هَلۡ تَسۡتَوِي ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُۗ أَمۡ جَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُواْ كَخَلۡقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلۡخَلۡقُ عَلَيۡهِمۡۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّٰرُ ﴿١٦﴾

ورته ووایه: د آسمانونو پالونکی څوك دئ؟ ووایه: الله، ووایه: نو بیا له ده پرته مو داسي اولیاء نیولی چي نه ځان ته د گټي "رسولو" خاوند دي او نه د ضرر؟ ورته ووایه: آیا ړوند او سترگور سره برابر دي؟ آیا تیاره او رڼا سره برابره ده؟ آیا الله ته ئې داسي شریکان (په خپل ذهن کي) جوړ کړی چي "څه ئې" پیدا کړی وي لکه الله چي پیدا کړي؟ نو " په دې توگه" پیدایښت پرې مشتبه او شکمن شوی؟ ووایه: الله د هر څه خالق دئ او دی یوازینی قهار رب دئ.

(١٦)- په دې مبارك آیت کي څو مهمي لاربښووني زموږ په وړاندي ځلېږي:

- آیا له الله جل شأنه پرته داسي څوك موندلی شئ چي د زمکي او آسمانونو په پیدایښت او پالني کي څه برخه او ونډه ولري؟
- هغه څوك چي له الله جل شأنه پرته بل څه یا بل څوك مرستي ته وربلي او د گټي طمعي یا د زیان او ضرر وېري د دروغجنو معبودانو او اولیاوو درشل ته ودرولی؛ په حقیقت کي هغه ړانده ته ورته دئ چي د خپل ماحول له پېژندو عاجز دئ، چي هر قدم اخلي پښه ئې له مانع او خنډ سره لگېږي او یا هغه چا ته چي په سختو تیارو کي وي، نه خپل موقعیت او تم ځای پېژني او نه د بل، هر څه ورته نا آشنا وي، مسلماً داسي څوك له هغه بصیر او پوه انسان سره برابر نه دئ چي په رڼا کي وي او قضاوت ئې د هر څه په اړه او معامله ئې له هغه سره د پوهي په رڼا کي او له پېژندو وروسته وي، مشرك ړوند ته ورته دئ چي شرك د هر څه حقیقت ورته مغشوش کړی، په

داسي حال کي چي په څرگنده گوري په دې خور او پراخ عالم کي داسي يوه وړه بېلگه هم نشته چي له رب العالمين پرته بل چا پيدا کړې وي او بل څوك د هغې ساتنه او پالنه کوي، خو سره لدې له الله سره بل څه په الوهيت او ربوبيت کي شريکوي!!

- دا عالم په خپله د دې خبري شهادت ورکوي چي خالق او پالونکی ئې يو او واکمن او څواکمن دئ، د ټول عالم د ټولو توکيو د پيدايښت اصلي ماده يوه ده، پر ټول عالم واحد نظم مسلط دئ، په دې خور او پراخ عالم کي داسي شی نه مومو چي د پيدايښت اصلي ماده ئې له نورو توپير ولري، په خلقت کي ئې د دوهم او دريم خالق او پيدا کوونکي د لاس آثار او نښې ومومو، داسي چي يو د يوه نظم تابع وي او بل د بل نظم.

أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتۡ أَوۡدِيَةُۢ بِقَدَرِهَا فَٱحۡتَمَلَ ٱلسَّيۡلُ زَبَدًا رَّابِيًاۚ
وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيۡهِ فِي ٱلنَّارِ ٱبۡتِغَآءَ حِلۡيَةٍ أَوۡ مَتَٰعٍ زَبَدٌ مِّثۡلُهُۥۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ
ٱلۡحَقَّ وَٱلۡبَٰطِلَۚ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذۡهَبُ جُفَآءًۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمۡكُثُ فِي
ٱلۡأَرۡضِۚ كَذَٰلِكَ يَضۡرِبُ ٱللَّهُ ٱلۡأَمۡثَالَ ﴿١٧﴾

له آسمانه ئې اوبه راکوزي کړې نو خوړونه په خپلي خپلي اندازې وبهېدل، بيا سېل تلونکي ځگونه پر سر واخيستل، او پر هغه څه هم دې ته ورته ځگ وي چي د گاڼو او سامان (جوړولو) په لټه کي اور پرې بلوي، الله د حق او باطل (مثالونه) همدا رنگه بيانوي، نو دا ځگ چي دئ په وچېدو سره له منځه ځي، او هغه چي خلکو ته گټه رسوي په زمکي کي پاته کېږي، الله په دې توگه متلونه تېروي.

(۱۷)- دلته د مؤمن او کافر او د ايمان او کفر لپاره ښکلی او په زړه پوري مثال بيان شوی، ايمان له اوبو او سرو او سپينو زرو سره او کفر د اوبو د سر او فلزاتو له ځك سره، د مؤمن زړه له ژور نهر سره او د کافر سينه له شگو ډك خوړ سره تشبيه شوي، په دې توگه چي فرمايي: الله تعالى له آسمانه اوبه وروي، هر خوړ په خپلي خپلي اندازې اوبه ترلاسه کړي، ژور نهرونه ډېري او له شگو او ډبرو ډك خوړونه لږ يا هيڅ، له دې روان سېل سره ځگونه راپيدا او د اوبو پر سر روان شي، دې ته ورته ځك د هغه څه پر سر هم راپيدا کېږي چي د گاڼو او سامان جوړولو لپاره ئې ويلي کوي، دا ځگونه وپړسي او وچوي، وچ شي او له منځه ولاړ شي، او هغه څه چي خلکو ته گټه رسوي په زمکي کي پاته کېږي. کله کله باطل او د باطل په گټه غلط تبليغات د ځکونو په څېرد حقيقت مخ مغشوش او پټ کړي، کمعقله او د کمزوري بصيرت خاوندان د حقيقت له پېژندو محروم کړي، خو د ځگ په څېر ژر او له لنډي مودې وروسته له منځه ولاړ شي.

لِلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِرَبِّهِمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَٱلَّذِينَ لَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُۥ لَوۡ أَنَّ لَهُم مَّا فِي

ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا وَمِثۡلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفۡتَدَوۡاْ بِهِۦٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ سُوٓءُ ٱلۡحِسَابِ وَمَأۡوَىٰهُمۡ
جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿١٨﴾

هغو ته چي د خپل رب بلنه ئې ومنله ښکلې (پايله او بدله) ده، او هغه چي د ده مننه ئې ونه کړه (داسي حالت به ئې وي چي) که په زمکي کي ټول څه او همدومره نور ورسره يوځای د دوی په برخه وي په بدل کي به ئې ورکړي، دا همغه ډله ده چي بده محاسبه به ئې په برخه وي او هستوګنځی ئې دوزخ دئ، او څومره بد تمځی.

(١٨)- دلته د دوو ډلو عاقبت او پايله ښودل شوې، د هغي ډلي چي د خپل رب بلنه ئې ومنله، د الله تعالی حکم ته ئې غاړه کښېښوده، او په دې توګه ئې په دنيا او آخرت کي ښکلې پايله او بدله په برخه شوه او هغه چي د خپل رب بلنه ئې ونه منله، د پيغمبر بلني ته ئې د رد ځواب ورکړ او له دې کبله په دنيا او آخرت کي له داسي بدو پايلو سره مخامخ شو چي د ځان ژغورني لپاره به غواړي خپل هر څه په بدل کي ورکړي، حتی که د زمکي ټول شته او همدومره نور ورسره يوځای د دوی په برخه وي ټول به په بدل کي ورکړي، دا همغه ډله ده چي بده محاسبه به ئې په برخه وي او هستوګنځی ئې دوزخ دئ، او څومره بد تمځی.

أَفَمَن يَعۡلَمُ أَنَّمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ كَمَنۡ هُوَ أَعۡمَىٰٓۚ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ
ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿١٩﴾ ٱلَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَلَا يَنقُضُونَ ٱلۡمِيثَٰقَ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ
أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلۡحِسَابِ ﴿٢١﴾ وَٱلَّذِينَ
صَبَرُواْ ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِمۡ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ
وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٢﴾ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ
يَدۡخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَدۡخُلُونَ عَلَيۡهِم
مِّن كُلِّ بَابٖ ﴿٢٣﴾ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٤﴾ وَٱلَّذِينَ
يَنقُضُونَ عَهۡدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقۡطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ

وَيُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٢٥﴾

آيا هغه څوك چي پوهيږي هغه څه حق دي چي ستا د رب له لوري درته نازل شوي؛ د هغه چا په څېر دئ چي ړوند وي؟ يقيناً چي يوازي عقلمن پند اخلي؛ هغه چي په الهي ژمني وفا كوي او دا تړون نه ماتوي. او هغه چي (تولي) هغه اړيكي وصلوي چي الله ئې د وصلولو امر كړى او له خپل رب وېرېږي او له بد حساب ترهه لري. او هغه چي د خپل رب د رضاء په لټه كي ئې صبر وكړ او لمونځ ئې قائم كړ او په پټه او ښكاره توگه ئې هغه څه انفاق كړل چي موږ ورروزي كړي او په ښېگڼي سره بدي دفع كوي، دوى همغه دي چي د آخرت (غوره) تمځى به ئې پايله وي، داسي تلپاته جنتونه چي دوى به ورننوځي او د دوى صالح پلرونه، مېرمني او اولاد هم، او ملائكي به له هري دروازې پرې ورننوځي (او وايي به) پر تاسو دي د هغه صبر له امله سلام وي چي وموكړ، نو څومره غوره دئ دا وروستنى تمځى. او هغه چي د الله عهد له هغه وروسته ماتوي چي ژمنه ئې پرې كړې او هغه څه قطع كوي چي الله ئې د وصلولو امر كړى او په زمكي كي فساد كوي، دوى ته لعنت دئ او دوى لره بد ټاټوبى دئ.

(۱۹-۲۵)- په دې مباركو آيتونو كي دا ستر حقيقت بيان شوى چي د الله تعالى د كتاب په اړه خلك په دوو ډلو وېشل شوي:

۱- عقلمن او د بصيرت خاوندان چي د دوى مواصفات دا دي:

- د دې كتاب په حقانيت پوهيږي، په دې باور كوي چي دا كتاب د الله تعالى له لوري نازل شوى، نو ايمان پرې راوړي او پند ترې اخلي.
- له خپل رب سره د اطاعت او منني ژمنه كوي، خپلي ژمني نه ماتوي.
- تولي هغه اړيكي وصلوي چي الله ئې د وصلولو امر كړى. د هغو اړيكو په ټينگ ساتلو باور لري چي د ده انساني طبيعت ئې غوښتنه كوي، كه دا له خپل خالق سره وي او كه له خپل همنوع سره، د هغو په څېر نه وي چي الله تعالى په همدې سوره كي داسي معرفي كړي: وَ يَقطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصلَ و يُفسِدُون فِي الأَرض.
- له خپل رب او له بد حساب او بدي پايلي وېره او ترهه لري.
- د خپل رب د رضاء په لټه كي صبر كوي.
- لمونځ كوي.
- په پټه او ښكاره توگه هغه څه د الله تعالى په لار كي لگوي چي الله تعالى ورروزي كړي.
- او په ښېگڼي سره بدي دفع كوي.

د دوى مكافات دا دي: د آخرت تمځى به ئې پايله وي، داسي تلپاته جنتونه چي دوى به ورننوځي او د دوى صالح پلرونه، مېرمني او اولاد هم، او ملائكي به له هري دروازې پرې ورننوځي او ورته وايي به: پر تاسو دي د هغه صبر له امله سلام وي چي وموكړ، نو څومره غوره دئ دا وروستنى تمځى.

۲- دوهمه ډله د لومړۍ ډلې په مقابل کې ده، چې د ړندو په څېر دي، تعقل نه کوي، ایمان نه راوړي، پند نه اخلي، له الله تعالی سره په وار وار ژمنې کوي خو هر ځل خپلې ژمنې ماتوي، هغه څه قطع کوي چې الله ئې د وصلولو امر کړی او په زمکې کې فساد کوي.

د دوی سزا دا ده چې لعنت به ئې په برخه وي، له هر لوري به رټل کېږي، هر څه به لعنت پرې وایي او د دوزخ بد ټاټوبی به ئې تمځی وي.

ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ وَفَرِحُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٞ ﴿٢٦﴾

دا الله دئ چې چا ته وغواړي روزي ورته پراخوي او تنګوي ئې، او (دوی) په دنیایي ژوند ښاد شول، حال دا چې دنیایي ژوند د آخرت په پرتله له (ناڅیزي) متاع پرته بل څه نه دئ.

(۲٦)- په دې مبارك آیت کې د مخکني بحث په ارتباط د هغو خلکو غلطه انګېرنه تردید او تصحیح شوې چې د دنیا مال او متاع، دولت او ثروت د ښه او بد، بختور او بې بخته لپاره معیار او ملاك ګڼي، ګمان کوي چې شتمن بختور دئ او د الله تعالی له پېرزوینو وړ او نیستمن سپېره او بدبخت دئ او د الله تعالی له رعایت او عنایت محروم، قرآن د دوی په ځواب کې فرمایي: د رزق او روزي د پراخوالي او تنګوالي په اړه د الله تعالی خاص سنن دي، د دې الهي مشیت مطابق ئې چا ته زیاتوي او چا ته ئې محدودوي، نه کافر د کفر له کبله له خپل رزق او روزي محروموي او نه هر مؤمن ته د ایمان له مخې د رزق او روزي ټولې کنجیانې ورکوي، کېدی شي کله هغه مؤمن چې الله تعالی د زمکې هر څه د هغه لپاره پیدا کړي، د هغه ظالمانه وېش له کبله له خپل جائز حق محروم شي چې ظالمانو پر ټولنې مسلط کړی او کېدی شي د همدې ظالمانه نظام له وجهې هغه کافر د ډېر څه خاوند شي چې د الله تعالی د رزق وړتیا نه لري او که الله تعالی د رزق وېش د استحقاق له مخې او د چا د کفر او ایمان پر بنسټ کولی نو کافر ته به ئې یو غوړپ اوبه هم نه وې ورکړې. دا د هغو وګړو قضاوت دئ چې دنیایي ژوند ئې د قضاوت معیار او ملاك دئ، په همدې ښاد شوي، نه دې ته ګوري چې دا متاع ئې له کومې لارې ترلاسه کړې او نه دې ته چې څنګه کارول کېږي او خاوند ئې له کومې پایلې سره مخامخ کوي، دوی په دې نه پوهېږي چې دنیایي ژوند د آخرت په پرتله له (ناڅیزي) متاع پرته بل څه نه دئ.

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَنۡ أَنَابَ ﴿٢٧﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴿٢٨﴾

او هغه چې كفر ئې كړی وايي: ولې د خپل رب له لوري كوم آيت نه دئ پرې نازل شوی؟ ووايه: يقيناً چې الله هغه څوك بې لارې كوي چې دی ئې وغواړي او هغه څوك د ځان لوري ته هدايت كوي چې (ده ته) ورګرځېدلی. هغه چې ايمان ئې راوړی او د الله په ذكر سره ئې زړونه مطمئن كېږي، خبر دار چې د الله په ذكر او يادولو سره زړونه مطمئن كېږي.

(۲۷-۲۸)- دا مبارك آيتونه موږ ته څو مهمې لارښوونې كوي:

- څوك چې د كفر لار غوره كړې نه د خپل ضمير ږغ ته غوږ نيسي او نه عقلي او علمي دلائلو ته اعتناء كوي، دوی تل د پيغمبرانو عليهم السلام په څېر د لوړو لوړو شخصيتونو له حق او رښتيني دعوت سره د مخالفت لار نيولې، نه ئې د دوی سپېڅلی دعوت منلی، نه ئې د دوی لوړ شخصيت او اوچت اخلاق ته كتلي او نه د دوی په دلائلو قانع شوي، له دوی نه ئې داسې خارق العاده او عجيبې معجزې غوښتې چې نه ئې هيڅ انسان د وړاندې كولو توان ولري او نه ئې هيڅوك مخالفت وكړی شي، سره له هغو ټولو څرګندو نښو چې د پيغمبر عليه السلام د الهي دعوت په هر پيغام كې او د ده د لوړ شخصيت په هر اړخ كې د دوی مخې ته ځلېدل او په جګ ږغ ئې دا ثابتوله چې دی له شكه پرته رښتينی پيغمبر دئ، د الله تعالی له لوري غوره شوی چې د ده پيغام خلكو ته ورسوي، خو سره له دې ئې خارق العاده معجزې ترې غوښتلې. دا آيت موږ ته لارښوونه كوي چې ستاسو ځينې مخاطبين داسې دي چې په هيڅ توګه ستاسو دعوت نه مني او ستاسو ملګرتيا نه كوي، دا هيله مه لرئ او دا تلوسه مه كوئ چې ټول مخاطبين به ستاسو دعوت هرومرو مني، يوازې د هغو كسانو په لټه كې اوسئ او د دوی د ملګرتيا هڅه وكړئ چې د حق پېژندلو او منلو تلوسه لري او د حق په لار كې ستاسو ملګرتيا كولی شي. الله تعالی د خلكو د هدايت په اړه خاص سنن لري، ځينې داسې دي چې په دوی كې د حق پېژندلو او منلو استعداد ځپل شوی، د هدايت دروازه ئې هيڅكله پر مخ نه پرانيستل كېږي، خپل ګران وخت له دوی سره په بې ګټې جدل او د دوی پر اقناع مه ضايع كوئ.
- الهي هدايت او لارښوونه د هغه چا په برخه كېږي چې د خپل رب د ښه پېژندو او د ده لوري ته د تلو تلوسه لري، هغه چې ايمان راوړي او د الله تعالی په ذكر او يادولو سره ئې زړونه مطمئن كېږي.
- پر الله تعالی ايمان او د ده ذكر او يادونه انسان ته د زړه هغه ډاډ او اطمئنان ورپه برخه كوي چې د انسان لپاره تر ټولو ستر نعمت دئ او له هغه اضطراب، پرېشانی او تشويش ئې ژغوري چې د انسان لپاره تر ټولو ستر عذاب دئ، د الله تعالی ذكر انسان د ډاډ او اطمئنان هغه پوړ ته رسوي چې قرآن د (مطمئن نفس) ښكلی لقب ورته غوره كړی، مطمئن نفس همغه دئ چې رابطه ئې له خپل رب سره ټينګه ساتي، زړه ئې د الله په ياد سره ډاډه كېږي، د الله تعالی په پرېكړو راضي او قانع وي او خپل خير په هغه كې لټوي، څوك چې خپل رب نه پېژني، خپله رابطه ئې له الله تعالی سره شلولې، تل په وېرې، اضطراب او پرېشانی كې ژوند كوي، نه ئې زړه ډاډه وي او نه ئې روح آرامه، اضطراب او پرېشاني به حتماً د هغه روح او زړه په برخه وي چې خپل رب ئې هېر كړی، دا اوس تاسو په غربي ټولنو كې ګورئ چې هرې خوا ته او د هر چا په څېره كې د ژور اضطراب او ناآرامی نښې له ورايه برېښي، د غربي ټولنې اكثر وګړي له خوب راوړونكو او مسكن دوا پرته خوب نه شي كولی، غواړي په شراب، چرس، سګرېټ، هيروئين، موروفين او نورو مخدره موادو خپل روحي اضطراب علاج كړي او څو شېبې خپل ناآرامه زړه ته كاذب ډاډ او سكون ورپه برخه كړي، ورو ورو ئې كار هغه ځای ته ورسېږي چې له سخت روحي اضطرابه د نجات لپاره ځان وژني ته ملاتړي، دا پراخې ځان وژنې چې په هر غربي هېواد كې ئې ګورو او حكومتونه ئې له مخنيوې عاجز او راتلونكې ته سخت پرېشانه، ټول په خدای له عدم باور او له الله سره د خپلو اړيكو د شلولو نتيجه ده، دا ځان وژنې ښيي چې غربي تمدن، افكار، عقايد، د ژوند طريقه او اسلوب ئې د انسان له سالم فطرت سره اړخ نه لګوي، نه شي كولی انسان ته روحي آرامي او د زړه سكون ورپه برخه كړي، په دې غير فطري او په الحاد او بې دينی ولاړ تمدن كې انسان د اضطراب او پرېشانی احساس

کوي، روح ئې ناآرامه، هيڅ څه ئې نه شي ډاډه کولی، زغم، حوصله، صبر او استقامت نه شي ورکولی، د معمولي کړاو په نتيجه کې له ژونده بې زاره شي، يا مخدره موادو ته پناه وړي او يا ځان وژني ته. دا ولې آسيايي او افريقايي انسان په سختو سختو ستونزو او کړاونو کې، په فقر او لوږې کې، په ژوند راضي وي او له کړاوونو د نجات لپاره ځان وژني ته پناه نه وړي، په يوه ستر آسيايي هېواد کې په يو کال کې دومره کسان ځان وژنه نه کوي لکه چې د غربي هېوادونو په يوه يوه ښار کې تر دې په کمه موده کې ځان وژني کېږي، دا ولې؟ آيا د دې لپاره کومه بله توجيه موندلی شو؟ آيا له دې پرته بل څه ويلی شو چې هلته زړونه له ايمانه تش شوي او دلته پر خدای باور په يوه او بله بڼه کې شته!! مخدره او نشه ئې موادو ته د پناه وړلو اصلي او بنيادي وجه روحي اضطراب دئ، په دې خطرناکي بيمارۍ هغه څوك اخته کېږي چې له روحي سکونه محروم وي، د دې بيمارۍ علاج له دې پرته په بل څه نه شي کېدی چې انسان بېرته الله ته راوګرځي، له الله تعالی سره خپلې شلېدلې اړيکې ټينګې کړي. عظيم الشأن قرآن د جنت مستحق مؤمن بنده د نفس مطمئنة په نامه يادوي او په دې سره مونږ ته لارښوونه کوي چې فقط ايمان کولی شي انسان ته ډاډ او اطمئنان ورپه برخه کړي، ايمان د انسان روح ته سکون او زړه ته ئې ډاډ ورکوي، عقل ئې قانع کوي، پوښتنو ته ئې ځواب وايي، په ټولنې کې ئې عدالت راولي او له اضطراب او پرېشانی ئې ژغوري.

- هغه چې ايمان لري، د الله د نوم په اخيستلو او د الله په ذکر سره او چې کله الله ور په ياد شي، په دې سره ئې زړونه مطمئن شي. دا ځکه چې کله شيطان درته وسوسې تلقين کړي او خوف دې په زړه کې راپيدا کړي، خو چې کله ته دې خبرې ته متوجه شې چې ستا مرګ ژوند د الله په اختيار کې دئ او دلته هر څه د الله په اراده ترسره کېږي، هغه لکه چې ستا پيدا کوونکی دئ همدا راز ستا پالونکی او ساتونکی هم دئ، د هغه رحمت او پېرزوينه بې انتهاء ده او هغه د دې ملك مالك دئ، په دې زمکه کې د هغه اراده حاکمه او نافذه ده او هر څه د ده ارادې ته منقاد دي، دا اعتقاد او دا ايمان پخپله د دې باعث شي چې ته ډاډه او مطمئن وې او متيقن وې چې له تصادفي حوادثو او پېښو سره نه مخامخ کېږې، بلکې دلته چې هر څه کېږي د يوه مالك الملك الله په اراده کېږي، له همدې امله ته مطمئن او ډاډه وې.

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ طُوبَىٰ لَهُمۡ وَحُسۡنُ مَـَٔابٖ ﴿٢٩﴾

هغه چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، دوی ته سپېڅلی (ژوند او رزق) دئ او غوره مېشتځی.

(٢٩)- د دغو مؤمنانو بله ځانګړتيا دا ده چې عملونه ئې سم او صالح وي، يعنې ايمان نه يوازې دوی ته د زړه ډاډ او اطمئنان ورپه برخه کوي بلکې عملونو ته ئې ښکلا ورکوي، ايمان ئې د صالح عمل په توګه راڅرګندېږي. د دغه ايمان او صالح عمل له امله به الله تعالی دوی ته سپېڅلی ژوند او رزق او غوره مېشتځی ورپه برخه کړي.

كَذَٰلِكَ أَرۡسَلۡنَٰكَ فِيٓ أُمَّةٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهَآ أُمَمٞ لِّتَتۡلُوَاْ عَلَيۡهِمُ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَهُمۡ يَكۡفُرُونَ بِٱلرَّحۡمَٰنِۚ قُلۡ هُوَ رَبِّي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ

 ﴿٣٠﴾

همداسې مو په هغه امت کې استازی کړې چې يقيناً تر دوی وړاندې نور امتونه تېر شوي

وو، تر څو هغه څه پرې ولولې چې تا ته مو وحې کړي، په داسي حال کې چې د رحمن ذات په اړه کفر کوي. ووايه: هغه مې رب دئ، له ده پرته بل معبود نشته، پر ده مې توکل کړی او د ده لوري ته مې ورتګ دئ.

(۳۰)- په دې مبارك آيت کې رسول الله ﷺ ته څو مهمې سپارښتنې شوې:

- ته مو له همداسې يوه پيغام سره هغه قوم ته ليږلی يې چې تر دوی مخکې ډېر ولسونه تېر شوي، نه ته لومړی پيغمبر يې او نه ستا قوم لومړی قوم دئ چې پيغمبر په کې مبعوث کېږي.
- ستا دنده دا ده چې خلکو ته د وحې پيغام ورسوې، که څه هم دوی په دې سختې بېمارۍ اخته دي چې د رحمن رب په اړه ئې د کفر او انکار لار غوره کړې.
- دوی ته ووايه: همدا رحمن خدای زما رب دئ، له ده پرته بل معبود نشته، پر ده مې توکل کړی او د ده لوري ته مې ورتګ دئ.

وَلَوْ أَنَّ قُرْءَانًا سُيِّرَتْ بِهِ ٱلْجِبَالُ أَوْ قُطِّعَتْ بِهِ ٱلْأَرْضُ أَوْ كُلِّمَ بِهِ ٱلْمَوْتَىٰ ۗ بَل لِّلَّهِ ٱلْأَمْرُ جَمِيعًا ۗ أَفَلَمْ يَا۟يْـَٔسِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَن لَّوْ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَهَدَى ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۗ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُوا۟ قَارِعَةٌ أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمْ حَتَّىٰ يَأْتِىَ وَعْدُ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخْلِفُ ٱلْمِيعَادَ ﴿٣١﴾

او که څه هم داسې کوم قرآن وی چې غرونه پرې خوزېدی شوی، زمکه پرې ټوټې ټوټې کېدی شوی او مړي پرې په خبرو راتلی شوی، (بيا به هم دوی د رحمن ذات په اړه انکار کاوو)، بلکې ټولې چارې د الله په واك کې دي، آيا هغه چې ايمان ئې راوړی له دې ندي ناهيلي شوي چې که الله غوښتی نو حتماً به ئې ټول خلك هدايت کړي ول، کافران به تل داسې وي چې يا به د خپلو کړنو له کبله مخامخ په پرېکنده عذاب اخته کېږي او يا به ئې کورونو ته څېرمه راپرېوځي، تر هغه چې د الله د وعدې نېټه راورسي. يقيناً چې الله له (خپلې) وعدې څخه نه په شا کېږي.

(۳۱)- په دې مبارك آيت کې مؤمنانو ته لارښوونه شوې چې قرآن د لارښود په توګه کافي دئ، ټول ضروري او قانع کوونکي دلائل د مخاطب مخې ته ږدي، داسې دليل نه دئ پاته چې د کومې مدعاء د اثبات لپاره استدلال پرې ضروري وي خو په قرآن کې هغه نه وي وړاندې شوی، که څوك د عقلي او علمي دلائلو له مخې کومه بلنه او مدعاء مني نو هرو مرو به د قرآن په مضبوطو دلائلو قانع کېږي او بلنه به ئې مني، خو د قرآن ځينې مخاطبين داسې دي چې په هيڅ دليل نه قانع کېږي، حتی که قرآن داسې وی چې غرونه پرې خوزېدی شوی، زمکه پرې ټوټې ټوټې کېدی شوی او مړي پرې په خبرو راتلی شوی، بيا به هم دوی د رحمن ذات په اړه انکار کاوو او په دې اړه به ئې د قرآن وينا نه منله، الله تعالی کولی شي دا ټول خارق العاده کارونه ترسره کړي، ټولې چارې د الله

په واك كي دي او هر څه كولی شي، خو د الله تعالی سنت دا نه دئ چي د منكرينو د اقناع لپاره دا لار غوره كړي او داسي خارق العاده معجزې وړاندي كړي، مؤمنانو ته په كار ده چي د قرآن بلنه او دلائل كافي او شافي وګڼي او د هغو متعنتو منكرينو د هدايت بې ځايه طمع ونه لري چي د قرآن بشپړ او كامل پيغام او دلائل ئې كافي نه ګڼي او د خارق العاده معجزو غوښتني كوي. دا بې ځايه هيله او طمع پرېږدئ، كه الله غوښتی چي ټول خلك په خپل قاهره قوت سره ايمان راوړو ته اړ كړي نو حتماً به ئې ټول خلك هدايت كړي ول. خو الله تعالی د پيغمبرانو عليهم السلام د بعثت او لارښود كتاب د لېږلو تر څنګ، د كافرانو د تنبيه لپاره، او د دوی د غلطو كړنو له كبله تل يا دا پرېكړه كوي چي مخامخ ئې په پرېكنده عذاب اخته كړي او يا ئې كورونو ته څېرمه د عذاب ټكه راپرېوځي، دا لړۍ تر هغه دوام كوي چي د الله د وعدې نېټه راورسي، هغه نېټه چي د كافرانو د مهلت پای او پر كافرانو د الهي عذاب د راپرېوتو وروستی او نه بدلېدونكي نېټه ده. يقيناً چي الله له خپلي وعدې څخه نه په شا كېږي.

وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَمْلَيْتُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ

عِقَابِ ﴿٣٢﴾

او يقيناً چي تر تا مخكي پيغمبرانو باندي استهزاء شوې، نو موږ هغو كسانو ته چي كافران شوي وو مهلت وركړ، بيا مو ونيول، نو وګوره چي دا څنګه عذاب وو.

(٣٢)- چا چي پر پيغمبرانو استهزاء كړې، الله جل شأنه مؤاخذه كړي او خپل عذاب ئې پرې نازل كړی. نو وګوره چي دا عقاب او نيونه څنګه وه؟ وګوره چا چي پر مخكنيو پيغمبرانو استهزاء او تمسخر كړی او د هغوی احترام او توقير ئې نه دی ساتلی او د دوی بلني ته ئې د رد ځواب وركړی، پايله ئې څنګه وه او الله تعالی څنګه تعذيب كړل.

أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۗ وَجَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ قُلْ سَمُّوهُمْ ۚ أَمْ

تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلْأَرْضِ أَم بِظَـٰهِرٍ مِّنَ ٱلْقَوْلِ ۗ بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟

مَكْرُهُمْ وَصُدُّوا۟ عَنِ ٱلسَّبِيلِ ۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾

نو آيا هغه چي پر هر ساكښ (د څارونكي په توګه) ولاړ دئ (د هغه په وړاندي د هغه پر پيغمبرانو ملنډي وهي؟!!) او (همدغه) الله ته ئې شريكان جوړ كړي!! ووايه: وئې نوموئ، آيا په هغه څه ئې خبروئ چي دی ئې په زمكي كي نه پېژني، او كه هسي دا وينا د يوې سطحي خبري په توګه كوئ؟ بلكي كافرانو ته خپل مكر ښايسته كړی شوی او له لاري اړول شوي، او الله چي څوك بې لاري كړي نو هيڅ لارښود ئې نشته.

(۳۳)- دوی هغه الله او د ده رسولان نه مني چې د ټول عالم او د ټولو ساکښنو پالونکی او څارونکی دئ، د همدې مهربان رب په وړاندې د هغه پر پیغمبرانو ملنډې وهي؟!! او همدغه د ټول عالم پیدا کوونکي او پالونکي رب ته ئې شریکان جوړ کړي!! دا شریکان نه دي، الله تعالی په هیڅ څه کي شریك نه لري، دا دوی دي چې یوه او بل څه ته ئې په یوه او بل کار کي د الله تعالی د شریك نوم ورکړی، یو د یوه حاجت په ترسره کولو کي د الله تعالی شریك ګڼي او بل په بل څه کي، دا هسې بې مسمی نومونه دي چې د دوی د وهم زېږنده دي، دوی ته ویل شوي چې څنګه مو خوښه وي همغسې نومونه ورته غوره کړئ، په خپلو چارو کي هغه څوك شریك ته اړ وي چې یا په خپله او د بل له مرستې پرته ټولې چارې نشي ترسره کولی او یا هغه چې پوهه او علم ئې محدود وي او د بل له مرستې پرته له ټولو چارو نشي خبرېدی، آیا تاسو الله تعالی ته د شریکانو په غوره کولو سره غواړئ له هغه څه ئې خبر کړئ چې دی ئې په زمکي کي نه پېژني؟! ټولو پیغمبرانو خلکو ته د الله تعالی دا پیغام رسولی چې الله تعالی هیڅ شریك نه لري، آیا تاسو د زمکي پر سر داسې کوم معبود نومول غواړئ چې الله تعالی ترې خبر نه دئ؟ خپل شریکان معرفي کړئ، په څه کي له الله تعالی سره شریك دي، الله تعالی خو فرمایي چې زه شریك نه لرم، آیا کوم پیغمبر تاسو ته ویلي چې الله تعالی شریکان لري او که دا هسې ستاسو د خولې خوشې او تشې خبرې دي؟! الله تعالی ته دا دروغجن شریکان هغو مکارو او ټګمارو مذهبي مشرانو جوړ کړي چې خلك غولوي، شکرانې او نذرانې ترلاسه کوي او د غولېدلو شتمني لوټوي، دوی ته دا مکر او ټګمارې ښایسته کړی شوې او له لارې اړول شوي، او الله چې څوك بې لارې کړي نو هیڅ لارښود ئې نشته.

هُمۡ عَذَابٌ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَشَقُّۖ وَمَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٖ 

دوی ته په دنیا کي عذاب دئ او د آخرت عذاب تر ټولو سخت دئ، او د الله په وړاندې ئې هیڅ ساتونکی نشته.

(۳٤)- دوی به په دنیا کي د خپل انکار او شرك سزا ګوري، په دنیوي عذابونو به اخته کېږي او په آخرت کي به له ډېر سخت عذاب سره مخامخ کېږي او د الله په وړاندې ئې هیڅ ساتونکی او له عذابونو ژغورونکی نشته.

مَّثَلُ ٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلۡمُتَّقُونَۖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ أُكُلُهَا دَآئِمٞ وَظِلُّهَاۚ تِلۡكَ عُقۡبَى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَواْۖ وَّعُقۡبَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ٱلنَّارُ (۳٥)

د هغه جنت مثال چې متقیانو ته ئې وعده ورکړی شوې (داسې دئ چې) لاندې ئې ویالې بهېږي، خواړه (مېوې) ئې تلپاته دي او سیوری ئې هم، دا د هغو وګړو پایله ده چې تقوی ئې وکړه، او د کافرانو پایله اور دئ.

(۳۵)- دا مبارك آيت موږ ته د متقيانو د هغه جنت مثال چي له دوی سره ئي ژمنه شوې داسي راپېژني: ترې لاندي ويالي بهېږي، مېوې ئي تلپاته دي او سيورى ئي هم ثابت او تلپاتی، دا د هغو وګړو پايله ده چي تقوی ئي وکړه، او د کافرانو پايله اور دئ.

وَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَفۡرَحُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَۖ وَمِنَ ٱلۡأَحۡزَابِ مَن يُنكِرُ بَعۡضَهُۥۚ قُلۡ إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱللَّهَ وَلَآ أُشۡرِكَ بِهِۦٓۚ إِلَيۡهِ أَدۡعُواْ وَإِلَيۡهِ مَـَٔابِ 

او هغه چي کتاب مو ورکړی پر هغه څه خوښي کوي چي تا ته نازل کړی شوي، او د دغو ډلو ځيني داسي دي چي ځيني برخي ئي نه خوښوي، ووايه: ما ته امر شوی چي د الله عبادت وکړم او څوك ورسره شريك نه کړم، د ده لوري ته بلنه کوم او د ده لوري ته مي ورګرځېدا ده.

(۳٦)- په دې مبارك آيت کي د قرآن په اړه د ځينو نورو ډلو دريځ څرګند شوی، د اهل کتاب هغه ډله چي په واقعي معنی په مخکنيو الهي کتابونو ايمان لري؛ دوی قرآن خوښوي، ځيني نور داسي دي چي د قرآن ځيني برخي نه خوښوي، د دې آيت له وروستۍ برخي معلومېږي چي دا هغه خلك دي چي د شرك مرتکب شوي، د الله تعالی تر څنګ د نورو معبودانو عبادت کوي، بل ته د دعاء لاسونه اوچتوي او د قيامت په اړه ئي عقايد مغشوش دي، د همدې لپاره د آيت په پای کي رسول الله ﷺ ته ويل شوي چي دوی ته ووايه: ما ته امر شوی چي د الله عبادت وکړم او څوك ورسره شريك نه کړم، د ده لوري ته بلنه کوم او د ده لوري ته مي ورګرځېدا ده.

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ حُكۡمًا عَرَبِيّٗاۚ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم بَعۡدَمَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا وَاقٖ ﴿٣٧﴾

او همداسي مو د عربي حکم په توګه نازل کړ، او که له هغه وروسته چي څه علم په لاس درغلی د دوی د هوی او هوس متابعت وکړې نو نه به د الله له عذابه کوم حامي ومومې او نه کوم ساتونکی.

(۳۷)- قرآن د الله تعالی هغه احکام زموږ مخي ته ږدي چي په مخکنيو کتابونو کي هم راغلي، توپير ئي له مخکنيو کتابونو سره په دې کي دئ چي هغه په نورو ژبو کي وو او دا په عربي ژبي کي، له همدې امله رښتيني اهل کتاب هغه خوښوي، احکام ئي د مخکنيو کتابونو په څېر مومي او ايمان پرې راوړي، د مخالفينو اعتراضاتو، مخالفتونو او چټي پوښتنو او غوښتنو ته هيڅ اعتناء مه کوه، د دوی غوښتنو او پوښتنو ته اعتناء او ارزښت

ورکول بدي پايلي لري، که له هغه وروسته چي څه علم په لاس درغلی د دوی د هوی او هوس متابعت وکړې نو نه به د الله له عذابه کوم حامي ومومي او نه کوم ساتونکی.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً ۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿٣٨﴾

او يقيناً چي تر تا د مخه مو داسي پيغمبران لېږلي چي مېرمني او اولاد مو ورپه برخه کړي ول، او هيڅ پيغمبر ته نه ښايي چي کومه نښه راوړي مګر د الله په إذن، د هري نېټې لپاره يوه ځانګړې ليکنه ده.

(۳۸)- په دې مبارك آيت کي د پيغمبرانو عليهم السلام او د دوی د دعوت د مخالفينو څو اعتراضاتو ته ځوابونه ويل شوي، په دې توګه:

- دوی وايي: څنګه ومنو چي دا د الله تعالى له لوري غوره شوی پيغمبر دئ، په داسي حال کي چي هر څه ئې زموږ په څېر دي، په هيڅ څه کي له نورو انسانانو څه توپير نه لري، مور او پلار لري، مېرمن او اولاد لري، د خدای پيغمبر خو بايد په هيڅ څه کي انسانانو ته ورته نه وي، نه په دنيايي چارو کي بوخت وي او نه ئې د دنيا له نعمتونو او لذتونو سره تړاو، د دوی په ځواب کي ويل شوي: يقيناً چي تر تا د مخه مو داسي پيغمبران لېږلي چي مېرمني او اولاد مو ورپه برخه کړي ول، تر تا د مخه ډېر پيغمبران تېر شوي چي هم ئې مېرمني درلودې او هم اولاد، که دوی هغه پيغمبران مني نو تا ولي نه مني؟!! تر تا د مخه عيسى عليه السلام مبعوث شوی وو، نه ئې مېرمن وه او نه اولاد، خو يهودو نه يوازي ونه منلو بلکي د هغه د وژلو لپاره ئې ملا وتړله.
- دوی له رسول اللهﷺ خارق العاده معجزې غوښتې، ادعاء ئې دا وه چي پيغمبر بايد دا توان ولري چي د مخالفينو د اقناع او د دوی اعتراضاتو ته د ځواب ويلو په موخه هر وخت، په هر ځای کي او د مخالفينو له غوښتنو سره سم معجزې وښيي، څنګه ومنو چي ته د الله تعالى له لوري د پيغمبر په توګه لېږل شوی يې خو هغه معجزې نشې وړاندي کولی چي موږ ئې غواړو؟!! دوی ته په ځواب کي ويل شوي: هيڅ پيغمبر ته نه ښايي چي کومه نښه راوړي مګر د الله په إذن، معجزه د پيغمبر ذاتي کار نه دئ، هم معجزه د الله تعالى په حکم ښودل کېږي، هم ئې کيفيت او څرنګوالی د الله تعالى له لوري ټاکل کېږي او هم ئې وخت او ځای.
- دوی ويل: که دا ګواښونه چي ستا له لوري ئې اورو رښتيني وي، موږ باغيان يو او د الهي عذاب وړ او زموږ عقايد او اعمال د الهي عذاب سبب، نو دا عذاب ولي تم شوی او چا ئې د راتلو مخه نيولې، دا قيامت به کله راځي، ولي تر اوسه رانه غی؟!! دوی ته په ځواب کي ويل شوي: د هري نېټې لپاره يوه ځانګړې ليکنه ده. د هر څه لپاره يوه نېټه ټاکل شوې، دا نېټه په هغه الهي کتاب کي ثبت شوې چي نه ئې څوك حذفولی شي او نه څه تغيير په کي راتلی شي.

يَمْحُوا اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ ۖ وَعِندَهُ أُمُّ الْكِتَابِ ﴿٣٩﴾

الله چي څه وغواړي له منځه ئې وړي او ثابتوي ئې، او اصلي کتاب د ده په خوا کي دئ.

(۳۹)- په دې مبارك آيت کي د مخالفينو يوه بل اعتراض ته ځواب ويل شوی او هغه دا چي دوی به ويل: څنګه ومنو چي دا قرآن د الله تعالى له لوري نازل شوی، حال دا چي تر دې د مخه نور کتابونه، په نورو ژبو کي نازل

شوي، خدای خو یو دئ، کتاب ئې باید یو وي، د کتاب ژبه باید یوه وي، د کتاب وینا، احکام او لاربښووني باید په بشپړه توګه سره ورته وي!! دوی ته په ځواب کې ویل شوي: الله چې څه وغواړي له منځه ئې وړي او چه څه وغواړي په خپل مخکني حال ئې پرېږدي او ثابتوي ئې، اصلي کتاب د ده په خوا کې دئ، څه چې له دې اصلي کتاب سره توپیر لري هغه له منځه وړي او څه چې د دې اصلي کتاب مطابق وي او څه تغییر په کې نه وي راغلی، هغه په خپل حال پرېږدي، الله تعالی د قرآن په رالېږلو سره د مخکنیو کتابونو هغه څه له منځه وړي چې د ام الکتاب خلاف وو او د اهل کتابو د لاسوهنو او تحریفاتو په نتیجه کې تغییر په کې راغلی وو، او د مخکنیو کتابونو هغه برخې ئې تثبیت کړې چې د ام الکتاب مطابق وې او له تحریف او تغییر نه خوندي پاته شوې وې.

وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُ وَعَلَيۡنَا ٱلۡحِسَابُ ﴿٤٠﴾

او که تا ته ځیني هغه څه دروښیو چې وعده ئې ورسره کوو او یا وفات دې کړو، نو یقیناً چې ابلاغ ستا پر ذمه دئ او حساب زموږ پر ذمه.

(٤٠)- په دې مبارك آیت کې د مخکني موضوع په تړاو پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي: له دوی سره چې د کومو عذابونو وعده شوې او دوی انکار ترې کوي او هسې ګواښونه ئې ګڼي که دا په داسي حال کې پرې راشي چې ته لاژوندی وې او د دوی پر سر د دغو عذابونو د راپرېوتو شاهد او یا له هغه وروسته راشي چې ته وفات شوی وې، نو یقیناً چې ابلاغ ستا پر ذمه دئ او حساب زموږ پر ذمه، ستا ذمه واري یوازې دا ده چې د خپل رب پیغام په امانت سره تر خلکو ورسوې، نه د عذاب نازلېدو پرېکړه ستا په واك کې ده او نه ئې د نېټې ټاکل او وروسته مخکې کول، حساب و کتاب، مکافات او مجازات د الله تعالی پر ذمه دئ، دا پرېکړه دئ کوي چې چا ته څنګه سزا ورکړي او کله ئې ورکړي.

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا نَأۡتِي ٱلۡأَرۡضَ نَنقُصُهَا مِنۡ أَطۡرَافِهَاۚ وَٱللَّهُ يَحۡكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿٤١﴾

آیا وئې نه لیدل چې موږ دې زمکې ته وردرومو او له ژیو ئې راکموو، او دا خو الله دئ چې پرېکړې کوي په داسي حال کې چې حکم ته ئې شا ته کوونکی نشته او هغه سریع حساب کوونکی دئ.

(٤١)- د دې مبارك آیت اساسي مطالب دا دي:

- آیا کافران دې ته نه ګوري چې د حق رڼا په خورېدو ده، لمن ئې ورځ په ورځ پراخېږي، د کفر او شرك پر ځواکونو زمکه راتنګېږي، الله تعالی او هغه ته بلونکي د دوی لوري ته ورروان دي او سنګرونه ئې ترې نیول کېږي.

- آيا نه ګوري چې ټولې پرېکړې د الله تعالى له لورې کېږي، هم د ځا د ماتې او هم د بريا، هم د کوم دين د غلبې او هم د کوم مذهب د زوال، هم د کومې ډلې اقتدار او عزت ته د رسېدا او هم د بلې د سپکاوي او له اقتدار او عزت د محرومېدا پرېکړې، په داسې حال کې چې حکم ته ئې شا ته کوونکی نشته.
- دا ځکه چې الله تعالى سريع حساب کوونکی دئ. دا تاسو او ستاسو ناقص معيارونه دي چې په الهي پرېکنده او تغيير نه منونکو پرېکړو کې معمولي ځنډ اوږده موده ګڼئ او د خپل انکار بنسټ ترې جوړوئ، دا په داسې حال کې چې ډېر مو په خپلو سترګو ليدلي چې ډېر ژر په الهي عذاب اخته شوي!!

وَقَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلِلَّهِ ٱلْمَكْرُ جَمِيعًا ۖ يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ ٱلْكُفَّـٰرُ لِمَنْ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٤٢﴾

او يقيناً چې هغو پټ تدبيرونه وکړل چې تر دوى مخکې ول، نو پټ تدبيرونه خو ټول له الله سره دي، په هغه څه پوهېږي چې هر ساکښ ئې ترلاسه کوي، او کافران به ډېر ژر پوه شي چې د هستوګنځي غوره پايله د چا په برخه ده.

(٤٢)- په دې مبارك آيت کې مؤمنانو ته اطمئنان ورکړى شوى چې د حق په خلاف د کافرانو پټ تدبيرونه څه نوې خبره نه ده، د تاريخ په اوږدو کې ډېرو نورو کفري ځواکونو د حقپالو په ضد خپل ټول وس کارولى او له ډول ډول پټو تدبيرونو ئې کار اخيستى، خو نه ئې زور او ځواك ګټه وررسولې او نه ئې پټو تدبيرونو، د الله تعالى د تدبير په وړاندې هم د دوى تدبيرونه شنډ شوي او هم ئې زور او ځواك ويلې شوى. پټ تدبيرونه خو يوازې هغه مهال څه ګټه لري چې له مقابل لورې پټ پاته شي، د کافرانو پټ تدبيرونه به څنګه کومه ګټوره پايله لري چې نه له الله تعالى پټ پاته کېږي او نه د الله تعالى د تدبير مخې ته ودرېدى شي؟ الله تعالى په هر هغه څه ښه پوهېږي چې هر ساکښ ئې ترسره کوي، کافران دې لږ نور انتظار وکړي، ډېر ژر به پوه شي چې غوره پايله به د چا په برخه شي.

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَسْتَ مُرْسَلًا ۚ قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْكِتَـٰبِ ﴿٤٣﴾

او هغه چې کفر ئې کړى وايي: ته پيغمبر نه يې! ووايه: زما او ستاسو ترمنځ الله د ګواه په توګه کافي دئ او هغه چې د کتاب علم ورکړى شوى.

(٤٣)- کافرانو به د رسول الله ﷺ په اړه ويل چې هغه د الله تعالى له لورې لېږل شوى استازى او پيغمبر نه دئ، د دې مبارك آيت په ترڅ کې رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چې د دوى په ځواب کې ووايه: زما او ستاسو ترمنځ الله د ګواه په توګه کافي دئ او هغه چې د کتاب علم ورکړى شوى. دلته څو خبرې بايد په پام کې ولرو:

- د دې خبرې معنى چې الله تعالى زما او ستاسو تر منځ د شاهد په توګه کافي دئ دا ده چې هغه په خپلو ټولو مخکنيو کتابونو کې همغه خبرې کړې چې په قرآن کې راغلې او زه همغه څه درته وايم چې د الله تعالى

مخکنیو پیغمبرانو تاسو ته کړی، زه تاسو ته وایم چي الله تعالی شریك نـه لـري او یـوازینی معبود دئ او دا همغه وینا ده چي الله تعالی هم په خپلو ټولو مخکنیو کتابونو کي کړې ده او هم پـه دغـه قرآن کـي چـي پـر مـا ئـي نـازل کړی؟ په داسي حال کي چي الله تعالی په خپله په دې خبري شهادت ورکوي آیا بل شاهد ته ضرورت شته؟!

- او د دې خبري چي زما او ستاسو ترمنځ هغه خلك د شاهد په توگه بس دي چي د کتاب علم ورکړی شوی، معنی دا ده چي ټول عالمان او په الهي کتابونو پوه کسان زما د رسالت تصدیق کوي، د اهل کتابو صالح او واقعي علماء هم او په قرآن پوه کسان هم. او دا همغه خبره ده چي د آل عمران د سورې پـه ۱۸ آیت کـي پـه دې توگـه راغلي:

شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلْعِلْمِ قَآئِمَۢا بِٱلْقِسْطِ ۚ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٨﴾

الله په دې شهادت ورکړی چي له ده پرته بل معبود نشته، ملائکو او په عدل ولاړو د علم خاوندانو هم، له عزیز حکیم خدای پرته بل معبود نشته.

الله تعالی په خپل کتاب کي د دې خبري شهادت ورکړی چي له ده پرته بل معبود نشته، ملائکي هم په دې خبري شهادت ورکوي او هر باانصافه د علم خاوند هم دا شهادت ورکوي، ځوك چي له الله پرته بل د لمانځني وړ گڼي، په الوهیت او ربوبیت کي بل ته برخه ورکوي، بل ته عبادت او دعاء جائز گڼي، د هغه خبره هم د الله د شهادت خلاف ده او هم د ملائکو او هم د با انصافه علماوو. زه تاسو ته دغه خبره کوم.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

ابراهيم

د سورې پېژندنه:

د دې مباركې سورې نوم ابراهيم دئ چې د سورې له ٣٥ آيت اخيستل شوى، دا د سورې د مضامينو لپاره عنوان نه بلكې يوازې نوم دئ، ٥٢ آيتونه لري، د سورې له مضامينو معلومېږي چې د مكي دور په هغو وروستيو كلونو كې نازله شوې چې د الرعد، الاعراف، يونس او هود سورتونه په كې نازل شوي. له ١٣آيت **په ډېر صراحت سره معلومېږي چې دا سوره هغه مهال نازله شوې چې قريشو د مسلمانانو په ضد خپل تشدد او زور زياتى انتهاء ته رسولى وو او دا پرېكړه ئې كړې وه چې رسول الله ﷺ يا بندي كړي، يا ئې تبعيد كړي او يا ئې ووژني، آيت داسې دئ:** (وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمۡ لَنُخۡرِجَنَّكُم مِّنۡ أَرۡضِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ رَبُّهُمۡ لَنُهۡلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٣﴾ او كافرانو خپلو پيغمبرانو ته وويل: يا به مو هرو مرو له خپلې زمكې باسو او يا به هرومرو زموږ ملت او مذهب ته راګرځئ، نو د دوى رب وحې ورته وكړه چې دا ظالمان به حتماً هلاك كړو)**.**

د دې سورې د ډېرى آيتونو فواصل د لومړي آيت (حميد) ته ورته وزن لري، لكه شديد، بعيد، عنيد، سديد، ... ځينې ئې د غړ له پلوه دې ته نږدې وزن لري خو حروف ئې توپير لري لكه حكيم، عظيم، مبين او مريب، ځينې ئې د يولسم آيت د مؤمنون په څېر وزن لري لكه متوكلون، يتذكرون، يشكرون، ځينې ئې د ٢٦آيت د قرار په څېر دي لكه البوار، النهار، النار، القهار، كفار، ځينې ئې دې ته نږدې وزن لري خو په حروفو كې ئې توپير شته لكه السماء، الدعاء، هواء، ځينې ئې د زوال، جبال او امثال په څېر وزن لري.

لكه چې دا سوره په دريو حروفو (ا، ل، ر) پيل شوې د سورې محوري او اساسي مضامين هم درې دي چې **دا اساسي مضامين د سورې په لومړيو آيتونو كې په دې توګه راغلي:**

- دا هغه كتاب دئ چې ستا په لوري مو نازل كړ چې د دوى د رب په حكم سره خلك له تيارو د نور طرف

ته وباسي. د ستایل شوي عزتمن ذات لاري ته. هغه الله چي د آسمانونو او زمکي هر څه د ده دي.

- افسوس د کافرانو په حال د شدید عذاب له کبله. هغه چي له دنیوي ژوند سره د آخرت په پرتله زیاته مینه کوي، او د الله له لاري ډډه کوي او کوږوالي ورته لټوي، دوی (له حق څخه) په لري واټن کي لارورکي دي.
- او هیڅ رسول مو د خپل قوم له ژبي پرته په بله ژبه نه دئ لیږلی، د دې لپاره چي دوی ته ئې (په واضح توګه) بیان کړي، نو الله چي چا ته خوښه وي بې لاري کوي ئې او د هغه چا لارښوونه کوي چي غواړي ئې، او هغه باحکمته عزتمن دئ.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ إِلَىٰ
صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ۝١ ٱللَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَوَيۡلٞ
لِّلۡكَٰفِرِينَ مِنۡ عَذَابٖ شَدِيدٍ ۝٢ ٱلَّذِينَ يَسۡتَحِبُّونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ
وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًاۚ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٖ ۝٣

الف لام را، دا هغه کتاب دئ چي ستا په لوري مو نازل کړ چي د دوی د رب په حکم سره خلك له تیارو د نور لوري ته وباسي، د ستایل شوي عزتمن ذات لاري ته، هغه الله چي د آسمانونو او زمکي هر څه د ده دي، افسوس د کافرانو په حال د شدید عذاب له کبله، هغه چي له دنیوي ژوند سره د آخرت په پرتله زیاته مینه کوي، او د الله له لاري ډډه کوي او کوږوالي ورته لټوي، دوی (له حق څخه) په لري واټن بې لارې کي دي.

(۱-۳)- په دې مبارکو آیتونو کي څو مهمي لارښووني زموږ مخي ته څلېږي:

- دا کتاب د الله تعالی له لوري راغلی.
- له تیارو د نور لوري ته د خلکو د ایستلو یوازنی وسیله ده، یوازي په دې سره خلك له تیارو د نور طرف ته وتلی شي، له دې رڼا پرته انسان ته خپل ځان، فضا، ماحول، هستي، عالم او کائنات مجهول، تك تور او تیاره برېښي، پېژندلی ئې نشي او په هغه کي خپله لار موندلی نشي، الله تعالی دا کتاب نازل کړی ترڅو ته اې پیغمبره دا خلك له تیارو د نور لوري ته بوځې.
- دا د هغه الله له لوري راغلی چي یو صفت ئې (عزیز) دئ او بل (حمید)، یعني دا د عزیز رب له لوري راغلی او عزت ته د رسېدو لار درښیي، دا د هغه رب له لوري راغلی چي له هر عیب منزه او د ټولو ستاینو خاوند دئ، د ده کتاب تاسو ته کمال ته د رسېدو لار درښیي، د دې کتاب محتویات خپل مخاطب ته ښیي چي رالېږونکی ئې عزیز او حمید دئ، لکه څنګه چي د هر چا کتاب د هغه شخصیت د لوستونکي مخي ته انځوروي، همدا راز د عزیز او حکیم رب کتاب

موږ ته د هغه صفات ځلوي.

• دا د هغه الله له لوري راغلی چې د ټول عالم ځواکمن ټولواک دئ او د آسمانونو او زمکې هر څه د ده دي، څوك چې دا كتاب ځان ته لارښود كړي نو د دغه ټولواك رب عنايت او رعايت به ئې په برخه كيږي او هغه چې له دې كتاب سره د مخالفت لار غوره كړي له سختو بدو پايلو سره به مخامخ كيږي، افسوس د دغو كافرانو په بد حال د شديد عذاب له كبله چې دا كفر او انكار ئې د دوی په برخه كوي، د دغو كافرانو خصلتونه دا دي: له دنيوي ژوند سره د آخرت په پرتله زياته مينه كوي، د الله له لارې ډډه كوي او كوږوالي ورته لټوي، او له حقيقت او حق لارې په لرې واټن ضلالت او بې لارې كې دي.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡۖ فَيُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٤﴾

او هيڅ رسول مو د خپل قوم له ژبې پرته په بله توگه نه دئ لېږلی، د دې لپاره چې دوی ته ئې (په واضح توگه) بيان كړي، نو د الله چې چا ته خوښه وي بې لارې كوي ئې او د هغه چا لارښوونه كوي چې غواړي ئې، او هغه باحكمته عزتمن دئ.

(٤)- د پيغمبرانو عليهم السلام په اړه ځينو دا اعتراض كړی چې دا خو زموږ په څېر انسان دئ، زموږ په ژبه خبرې كوي، هر څه ئې زموږ په څېر دي، د خدای پيغمبر خو بايد په هر څه كې له عادي انسانانو توپير درلودی، ځينو ويلې: دا د خپل قوم او ولس لارښود او مشر دئ، د هغه قوم او ولس چې دی په نسبي توگه ورپورې تړلی دئ او د هغوی په ژبه خبرې كوي، د دوی په ضد ئې د نورو ولسونو قومي او ژبني تعصبات راپارولي، په دې مبارك آيت كې د دغو معترضينو په ځواب كې ويل شوي: هر پيغمبر له خپل قوم او ولس څخه غوره شوی، هم د ده ژبه د خپل قوم ژبه وه او هم ئې پيغام د خپل قوم په ژبه، دا د دې لپاره چې لومړي مخاطبين ئې د پيغام په محتوی او مطلب په سمه توگه او آسانی سره پوه شي، ای نصاراوو او ای يهودانو! آيا موسی عليه السلام او عيسی عليه السلام د خپل خپل قوم په ژبه خبرې نه كولې، آيا تورات او انجيل د دوی د قومونو په ژبه نه دي نازل شوي؟ څنگه په دې اعتراض كوئ چې محمدﷺ عرب دئ او قرآن په عربي ژبې كې، نه دا پيغمبر د نورو قومونو لپاره پيغمبر گڼئ او نه قرآن د نورو قومونو لپاره لارښود كتاب؟ ولې د رسول اللهﷺ په ضد د يهودو او نصاراوو قومي او ژبني تعصبات پاروئ؟!! اصلي خبره دا ده چې څوك له الهي هدايته محروم شي او دا سعادت او استعداد له لاسه وركړي چې په حق پوه شي او ايمان پرې راوړي نو يو او بل څه ئې د لارې خنډ شي، كله ئې شيطان يوه لوري ته كوږ كړي او كله بل لوري ته، كله يو څه ورته پلمه شي او كله بل څه، دا پرېكړه د الله تعالی له لوري كيږي چې څوك د هدايت مستحق دئ او څوك نه، په چا كې د هدايت كېدو وړتياوې شته او په چا كې نه، يوه ته دروازې پرانستل كيږي او د بل پر مخ تړلې پاتې كيږي.

د آیت په پای کې د الله تعالی دوه صفتونه بیان شوي: (عزیز) او (حکیم) چې ارتباط ئې له مخکنیو مطالبو سره په دې توګه دئ: هر قوم ته د دوی له منځه او د دوی په ژبه د پیغمبر لیږل حکیمانه کار دئ نه د اعتراض وړ کار، په دې کې ستر الهي حکمت مضمر دئ، ستاسو اعتراض بې بنسټه او بېهوده دئ، الله تعالی عزیز او عزتمن او ځواکمن دئ، کولی شي ټول خلك په خپل قاهره قوت سره په دې اړ کړي چې ایمان راوړي او د پیغمبر مخالفت ونه کړی شي، خو د حکیم خدای سنت دا نه دئ چې خلك د هدایت په لاري تلو ته مجبور کړي، د خلکو د لارښوونې په اړه خاص حکیمانه سنن لري؛ د هغوی له مخې ځینو ته د هدایت توفیق ورکوي او ځیني ترې محروموي.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنۡ أَخۡرِجۡ قَوۡمَكَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ وَذَكِّرۡهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ۝

او یقیناً چې موسی مو له خپلو آیتونو سره ولیږو چې خپل قوم دې له تیارو د نور لوري ته وباسه او (د پند په توګه) د الهي ورځو یادونه ورته وکړه، یقیناً چې په دې کې حتماً د هر تکړه صبر کوونکي شاکر لپاره ښکاره نښې دي.

(۵)- د لته د موسی علیه السلام د بعثت یادونه د سورې د لومړۍ محوري موضوع لپاره د یوې تاریخي بېلګې په توګه وړاندې شوې، موسی علیه السلام په خپل قوم کې په پیغمبرۍ مبعوث شو، د تورات کتاب ورکړی شو چې د ده د قوم په ژبه وو، مأموریت ئې دا وو چې خلك د کفر، شرك، جهل، ظلم او فساد له تیارو وباسي او د ایمان، صالح عمل، عدالت او ښایسته ژوند روڼ سباوون پرې وګوري، ورته ویل شوي وو چې د قوم په وړاندې د هغو سترو سترو الهي ورځو یادونه وکړه چې د لویو لویو ظالمانو د واکمنۍ ماڼۍ په کې نسکورې شوې او مظلومان په کې ژغورل شوي او د زمکې خلافت او وراثت ئې په برخه شوی. په دې تاریخي ورځو کې د هغو وګړو لپاره ښکاره نښې دي چې (صبر) او (شکر) ئې دوه څرګندې ځانګړتیاوې دي، هغه چې د ستونزو او کړاوونو په وړاندې په مېړانه صبر کوي، نه مأیوس کېږي او نه په نیمې لارې کې ښې او کیڼ لوري ته منحرف کېږي، هغه چې د حق په لار کې په خپل هر حالت راضي وي او د خپل رب د پېرزوینو قدر کوي.

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ أَنجَىٰكُم مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَسُومُونَكُمۡ سُوٓءَ ٱلۡعَذَابِ وَيُذَبِّحُونَ أَبۡنَآءَكُمۡ وَيَسۡتَحۡيُونَ

نِسَآءَكُمۡۚ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٞ مِّن رَّبِّكُمۡ عَظِيمٞ ٦ وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكُمۡ لَئِن شَكَرۡتُمۡ لَأَزِيدَنَّكُمۡۖ وَلَئِن كَفَرۡتُمۡ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٞ ٧

او هغه مهال چې موسی خپل قوم ته وویل: د الله پېرزوینه درباندې دریاده کړئ چې له فرعونیانو ئې وژغورلی، بد بد عذابونه ئې درکول، او ستاسو زامن ئې ذبح کول او ستاسو ښځې ئې ژوندۍ پرېښودې، او په دې کې مو د خپل رب لویه آزموینه وه. او هغه مهال چې ستاسو رب اعلان کړه چې که شکر وکړئ درته زیات به ئې کړم او که ناشکري وکړئ نو یقیناً چې زما عذاب ډېر کلك او سخت دئ.

(٦-٧)- د دې مبارکو آیتونو په اړه باید څو خبرې په پام کې ولرو:

- موسی علیه السلام خپل قوم ته د الله تعالی هغه پېرزوینه وریادوې چې دوی ئې د فرعونیانو له بدو بدو عذابونو وژغورل، د الله تعالی له پېرزوینې پرته هیچا او هیڅ څه له هغه دردناك عذاب نشو ژغورلی.
- د ژغورنې دغه ورځ او پېښه ئې له هغو الهي ورځو څخه ده چې په مخکنې آیت کې ورته اشاره شوې.
- دا آیت ښیي چې د بني اسرائیلو زامن حلالول او ښځې ئې د وینځو په توګه ساتل د نورو بدو بدو عذابونو یوه بېلګه وه، خو د عذابونو تر ټولوستره بېلګه، دوی ئې په غلامۍ، ذلت، فقر، لوږې او وېرې کې ساتل، سخت سخت او شاقه کارونه ئې پرې کول، نه یوازې هر قبطي په شخصي توګه له هر مظلوم بني اسرائیلي سره د هر څه کولو حق درلود، وهل، سپکول، وژل، مال او عزت ئې لوټل ورته جائز وو، بلکې حاکم نظام په رسمي توګه او د دې لپاره د دوی زامن ذبح کول چې د دوی شمېر زیات نشي او د فرعون واکمنۍته ګواښ متوجه نکړي، او د دوی لونې او ښځې ئې د دې لپاره ژوندۍ پرېښودې چې د وینځو په توګه د دوی خدمت وکړي.
- دلته ویل شوي چې (په دې کې مو د خپل رب لویه آزموینه وه)، که څه هم ځینو درنو مفسرینو ویلي چې په دې کې هغو مصیبتونو ته هم ګوته نیول شوې چې بني اسرائیل ورسره مخامخ ول، خو د آیت له فحوی او له مخکې او ورسته سره د دې فقرې تړاو ښیي چې مراد ئې هغه الهي پېرزوینه او د فرعون له عذابونو د دوی ژغورنه ده چې د دوی په برخه شوه، او دا ځکه د بلاء او امتحان په نامه یاده شوې چې الله تعالی خپل بندګان هم په مصیبتونو سره ابتلاء او امتحانوي او هم په خپلو پېرزوینو او نعمتونو سره. وروستی آیت چې وایي: (او هغه مهال درپه یاد کړئ چې ستاسو رب اعلان کړه چې که شکر وکړئ درته زیات به ئې کړم او که ناشکري وکړئ نو یقیناً چې زما عذاب ډېر کلك او سخت دئ) په ډېر وضاحت او صراحت سره ښیي چې دلته د بلاء مراد پېرزوینه او نعمت دئ.

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِن تَكۡفُرُوٓاْ أَنتُمۡ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٨﴾

او موسی وویل: که تاسو او ټول هغه چي په زمکي کي دي کفر وکړئ نو یقیناً چي الله ستایل شوی بې نیاز دئ.

(۸)- موسی علیه السلام خپل قوم ته وویل: که تاسو او د زمکي ټول هستوګن د کفر او انکار لار غوره کړئ، نه الله تعالی او د ده دین ته تاوان رسولی شئ او نه ئې ټولواکي او سیطرې ته ګواښ متوجه کولی شئ، الله تعالی نه ستاسو عبادت ته اړ دئ او نه ستاسو له مرستي پرته د کوم کار له ترسره کولو عاجز او ناتوان، الله تعالی غني دئ د هیچا مرستي او ملتیا ته اړ نه دئ، الله تعالی حمید دئ له هر عیب، نقص او عجز منزه دئ. الله تعالی ستایل شوی بې نیاز دئ.

أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَۛ وَٱلَّذِينَ مِنۢ
بَعۡدِهِمۡۛ لَا يَعۡلَمُهُمۡ إِلَّا ٱللَّهُۚ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَرَدُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فِيٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ
وَقَالُوٓاْ إِنَّا كَفَرۡنَا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ وَإِنَّا لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدۡعُونَنَآ إِلَيۡهِ مُرِيبٖ ﴿٩﴾
قَالَتۡ رُسُلُهُمۡ أَفِي ٱللَّهِ شَكّٞ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يَدۡعُوكُمۡ لِيَغۡفِرَ لَكُم مِّن
ذُنُوبِكُمۡ وَيُؤَخِّرَكُمۡ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ قَالُوٓاْ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا تُرِيدُونَ أَن
تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتُونَا بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ﴿١٠﴾

آیا د هغو خبر نه دئ دررسېدلی چي تر تاسو مخکي ول، د نوح قوم، عاد او ثمود او هغه چي تر دوی وروسته ول، چي له الله پرته ئې هیڅوك نه پېژني، پیغمبرانو ئې څرګندي نښي ورته وروړې، نو دوی خپل لاسونه خپلو خولو ته وګرځول او وئې ویل: موږ له هغه څه انکار کړی چي تاسو ورسره رالېږل شوي یئ، او موږ د هغه څه په اړه په بدګمانوونکي شك کي یو چي تاسو مو وربلئ، پیغمبرانو ئې وویل: آیا د الله په اړه شك کوئ چي د آسمانونو او زمکي پیدا کوونکی دئ؟ تاسو دې ته بلي چي ځیني ګناهونه مو درته وبخښي او تر ټاکلي نېټې مو وځنډوي؟! وئې ویل: تاسو یوازي زموږ په څېر انسانان یئ، غواړئ له هغه څه مو واړوئ چي زموږ پلرونو لمانځل، نو څرګند دلیل راته راوړئ.

(۹-۱۰)- دلته څو وضاحتونه ضروري دي:

• ډېرو ګمان کړی چې دا هم د موسى علیه السلام د مخکنۍ وینا ادامه ده، خو یقیناً چې دا یوه اشتباه ده، د موسى علیه السلام وینا د مخکني آيت په (إن الله لغنى حميد) پای ته رسېدلې، دا ځکه چې له دې ځایه تر دېرشم آيت پورې ټول آيتونه سره تړلي دي او يو بشپړ مضمون ئې جوړ کړی، که ټول مضمون ته ځير شو نو په واضح توګه راته جوته کېږي چې مخکني آيتونه د سورې د دې برخې لپاره د مقدمې حيثيت لري، دلته قرآن په عامه توګه خپلو مخاطبينو ته وېلي چې آيا د مخکنيو قومونو د کفر، بغاوت او له پيغمبرانو عليهم السلام سره د دوی د مخالفت له بدو پايلو خبر شوي نه يئ، د نوح عليه السلام د قوم، د عاد او ثمود او د هغو چې تر دوی وروسته ول، چې له الله پرته ئې هيڅوك نه پېژني، پيغمبرانو ئې ځرګندې نښې ورته ورووړې، نو دوی خپل لاسونه خپلو خولو ته وګرځول او وئې ويل: موږ له هغه څه انکار کړی چې تاسو ورسره رالېږل شوي يئ، او موږ د هغه څه په اړه په شك کې يو چې تاسو مو وربلئ، داسې شك چې موږ ته ستاسو او ستاسو د دعوت په اړه ډول ډول ګمانونه راولاړوي.

• د آيت د دغې فقرې (**فَرَدُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فِيٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ**: نو دوی خپل لاسونه خپلو خولو ته وګرځول) په اړه هم بېل بېل تعبيرونه وړاندي شوي چې تر ټولو دقيق ئې دا دئ: دوی خپل لاسونه خولو ته کړل او له ډېرې غصې ئې وچيچل، دا تعبير ځکه تر ټولو غوره دئ چې هم د فقرې له الفاظو سره اړخ لګوي او هم په قرآن کې ورته شاهد مومو، لکه دا (**وَ إِذَا خَلَوۡا عَضوا عَلَيۡكُمُ الأَنَامِلَ مِنَ الغَيۡظِ**)، عبدالله بن عمر ﷺ دغه تفسير او تعبير ته ترجيح ورکړې:

عن أبي الأحوص، عن عبد الله:(فردوا أيديهم في أفواههم) ، قال: عضوا عليها تغيُّظًا.

له **أبي الأحوص** نه روايت دئ چې عبد الله بن عمر **رسول** وويل: **فردوا أيديهم في أفواههم** يعني خپل لاسونه ئې وچيچل.

ځينو ويلي چې د تعجب په توګه ئې خپلې ګوتې چيچلې، خو دا تعبير ځکه صحيح نه دئ چې د آيت په وروستۍ برخې کې د دوی انکار او ګواښ ته اشاره شوې او د دوی غيظ او مخالفت په ګوته کوي نه تعجب او حيرانتيا، ځينې وايي چې پر خپلو خولو ئې لاس ايښی او په دې سره ئې پيغمبرانو عليهم السلام ته اشاره کړې چې خوله پټه کړئ، دا تعبير ځکه صحيح نه دئ چې د آيت له الفاظو سره اړخ نه لګوي، په آيت کې داسې نه دي ويل شوي چې خپل لاس ئې پر خپلو خولو ايښی، بلکې ويل شوي چې دوی خپل لاسونه خولو ته کړل (في افواههم) راغلي نه (على افواههم).

• له دې آيت معلومېږي چې هغه خلك دروغجن دي چې تر آدم عليه السلام پورې شجرې او نسبونه په ګوته کوي، ځکه قرآن وايي چې له نوح عليه السلام وروسته او مخکې ډېر داسې قومونه تېر شوي چې له الله تعالى پرته ئې هيڅوك نه پېژني.

• دوی خپلو پيغمبرانو ته د رد ځواب ورکړی او ورته ويلي ئې دي: موږ له هغه څه انکار کړی چې تاسو راوړی او د الله تعالى له لوري ئې ګڼئ، موږ د هغه څه په اړه په شك کې يو

چې تاسو مو وربلئ، داسې شك چې موږ ته ستاسو او ستاسو د دعوت په اړه ډول ډول گمانونه راولاړوي.

• پيغمبرانو عليهم السلام دوی ته په ځواب کې ويلې: آيا د هغه الله په اړه شك کوئ چې د آسمانونو او زمکې پيدا کوونکی دئ؟ موږ خو تاسو د دغه الله لوري ته بلو، د الله تعالی دا پيغام تاسو ته رسوو چې له گناهونو لاس واخلئ، خپل رب ته مخه کړئ چې گناهونه مو درته وبخښي او تر ټاکلې نېټې مو وځنډوي؟! که نه نو ستاسې ځينې گناهونه داسې دي چې له کبله به ئې د الله تعالی ستر عذاب درباندې نازل شي، يوازې ستاسو توبه او د الله تعالی لوري ته گرځېدا دا عذاب ځنډولی شي.

• دوی همغه د مخکنيو کافرانو خبره تکرار کړې او دا درې ځوابونه ئې ورکړي: ۱- تاسو خو زموږ په څېر انسانان يئ، ۲- غواړئ له هغه څه مو واړوئ چې زموږ پلرونو لمانځل، ۳- څرگند دليل راته راوړئ.

قَالَتۡ لَهُمۡ رُسُلُهُمۡ إِن نَّحۡنُ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأۡتِيَكُم بِسُلۡطَٰنٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿١١﴾ وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدۡ هَدَىٰنَا سُبُلَنَاۚ وَلَنَصۡبِرَنَّ عَلَىٰ مَآ ءَاذَيۡتُمُونَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُتَوَكِّلُونَ ﴿١٢﴾

خپلو پيغمبرانو ئې ورته وويل: موږ نه يو مگر ستاسو په څېر بشر، خو الله له خپلو بندگانو څخه پر هغه چا پېرزوينه کوي چې دی ئې غواړي، او موږ ته ممکنه نه ده چې د الله له اجازې پرته تاسو ته کوم دليل او نښه راوړو، او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي. او ولې به موږ پر الله توکل نه کوو حال دا چې موږ ته ئې خپلې لارې راوښودې، او هرومرو به په هغه څه صبر کوو چې موږ پرې ځوروئ، او توکل کوونکې بايد پر الله توکل وکړي.

(۱۱-۱۲)- پيغمبرانو عليهم السلام دوی ته په ځواب کې ويلې: هو موږ ستاسو په څېر انسانان يو، له نورو انسانانو يوازې په دې کې توپير لرو چې الله تعالی پر موږ د وحې پېرزوينه کړې، زموږ په لاس ئې تاسو ته خپل پيغام لېږلی، دا پرېکړه الله تعالی کوي چې له خپلو بندگانو پر چا دا پېرزوينه وکړي، کومې معجزې چې تاسو غواړئ زموږ په واك کې نه دي، موږ ته ممکنه نه ده چې د الله له حکم او اجازې پرته تاسو ته داسې دليل او نښه راوړو چې تاسو ئې غواړئ او قناعت پرې کوئ، ستاسو د گواښونو په وړاندې موږ خپل ځان الله ته سپارو، له مؤمنانو سره دا ښايي چې پر خپل رب توکل وکړي. ولې به پر الله تعالی توکل نه کوو په داسې حال کې چې

مور. ته ئې د ژوندانه ټولي سمي لاري راوښودې، ستاسو د مخالفتونو او ځورونو په وړاندي به هرو مرو صبر کوو، له توکل کوونکو سره ښايي چي يوازي پر الله تعالی توکل وکړي.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمۡ لَنُخۡرِجَنَّكُم مِّنۡ أَرۡضِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ
فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ رَبُّهُمۡ لَنُهۡلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٣﴾ وَلَنُسۡكِنَنَّكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۚ
ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَافَ مَقَامِي وَخَافَ وَعِيدِ ﴿١٤﴾

او کافر شوو خپلو پيغمبرانو ته وويل: يا به مو هرو مرو له خپلي زمکي باسو او يا خو به حتماً زموږ دين او مذهب ته راګرځئ، نو رب ئې دوی ته وحي وکړه چي دا ظالمان به هرو مرو هلاك کړو، او له دوی وروسته به تاسو په همدې زمکي کي حتماً مېشت کوو، دا د هغه چا لپاره دي چي زما له مقام ووېرېدو او زما له وعيد او ګواښ ووېرېدو.

(١٣-١٤)- د کافرانو وروستی ځواب خپلو پيغمبرانو ته دا وو: له دغو دوو بديلونو يو غوره کړئ، يا به مو هرو مرو له خپلي زمکي او وطنه باسو او يا خو به حتماً زموږ دين او مذهب ته راګرځئ، د دوی د دې ګواښ په ځواب کي الله تعالی خپلو پيغمبرانو ته دا ډاډينه ورکړې چي مطمئن اوسئ دا ظالمان به هرو مرو هلاکوو، او له دوی وروسته به همدا زمکه ستاسو ډاډمن هستوګنځی ګرځوو، دا الهي ژمنه د هغه چا لپاره ده چي زما په وړاندي له ودرېدو وېرېږي او زما له وعيد او ګواښ وېرېږي. د الله تعالی له لوري دا ژمنه يوازي له پيغمبرانو عليهم السلام سره نه ده بلکي تر قيامت پوري له هر هغه مؤمن بنده سره ده چي دغه دوه ځانګړتياوي ولري: د الله تعالی په وړاندي له ودرېدو او له الهي وعيد او ګواښ وېرېږي. الله تعالی به د دوی دښمنان له منځه وړي او زمکه به دوی ته په ميراث ورکوي.

وَٱسۡتَفۡتَحُواْ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ﴿١٥﴾ مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسۡقَىٰ مِن مَّآءٖ
صَدِيدٖ ﴿١٦﴾ يَتَجَرَّعُهُۥ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ وَيَأۡتِيهِ ٱلۡمَوۡتُ مِن كُلِّ مَكَانٖ وَمَا هُوَ
بِمَيِّتٖۖ وَمِن وَرَآئِهِۦ عَذَابٌ غَلِيظٞ ﴿١٧﴾

او د فتح او پرېکړي غوښتنه ئې وکړه او هر سرکښ دښمن تباه شو، تر شا ئې دوزخ دئ او د نو په اوبو به خړوبه کړی شي، غوړپوي به ئې خو داسي به نه وي چي په آسانۍ ئې له ستوني تېري کړي، له هر لوري به مرګ وردرومي خو دی به مړ کېدونکی نه

وي، او تر شا به ئې پربړ (سخت) عذاب وي.

(۱۵-۱۷)- د دښمنانو شرارتونه، مخالفتونه او ګواښونه هغه پړاو ته رسېدلي چې پيغمبرانو عليهم السلام خپل رب ته د دعاء لاسونه لوړ کړي او د وروستی پرېکړي او بريا غوښتنه ئې کړې، الله تعالی د دوی دعاء قبوله کړې، د کافرانو د تعذيب پرېکړه ئې صادره کړې او هر سرکښ دښمن ئې له تباهی سره مخ کړی. دا د حق سرکښ دښمنان نه يوازې په دنيا کې په الهي عذاب اخته او نامراده شوي بلکې د دوزخ سخت عذاب ورته سترګې په لار دئ، هلته به د پرهارونو نو او زوې په تريو تندي او له کرکي سره له خپل ستوني تېروي، غوړپ غوړپ به په کړاو کړاو تېروي، مرګ به له هر لوري خپل کومی ورته پرانيستلی وي خو د مرګ آرامتيا به ئې نه په برخه کېږي او له کړاوونو به ئې نه ژغوري او نور سخت سخت عذابونه به ورته انتظار کوي او يو په بل پسي به ئې په خپلو کلکو منګولو کې نيسي.

مَّثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمْۖ أَعْمَٰلُهُمْ كَرَمَادٍ ٱشْتَدَّتْ بِهِ ٱلرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍۖ لَّا يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُواْ عَلَىٰ شَيْءٍۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلْبَعِيدُ ﴿١٨﴾

د هغو مثال چې د خپل رب په اړه ئې کفر کړی؛ عملونه ئې د داسي ايرو په څېر دي چې د بادريې په ورځ سخته سيلۍ پرې راشي، د خپلو لاسته راوړنو په هيڅ څه به برلاسي نشي، همدا ژور لارورکتوب دئ.

(۱۸)- په دې مبارك آيت کې د هغه چا د کړنو، لاسته راوړنو، هلو، ځلو، وسائلو او امکاناتو ماهيت د يوه ښکلي مثال په ترڅ کې انځور شوی چې د خپل رب په اړه ئې د کفر لار غوره کړې، د ايرو له داسي کوټي سره تشبيه شوي چې پر له پسي تنده سيلۍ پرې راشي او داسي ئې خورې ورې کړې چې هيڅ اثر ئې پر ځای پاته نشي، د کافرانو کړني، لاسته راوړني او هلې ځلي دې ته ورته دي، نه ګټه لري، نه اغېز او نه بقا، نه به دوی ته هيڅ ګټه ورسوي او نه به د حق د برې لاره خنډ کړی شي. دوی داسي دي لکه په لويه وچه بيديا کې چې لار ترې ورکه شوې وي، په تيارې کې درومي، په هر لوري چې ګام اخلي د سمي لاري په موندلو نه توانېږي او څه په لاس نه ورځي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٩﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٍ ﴿٢٠﴾

آيا نه ګورې چې الله آسمانونه او زمکه په حقه پيدا کړي، که وغواړي له منځه به مو يوسي او نوي خلك به راپيدا کړي. او دا الله ته ګران او درونډ کار نه دئ.

(۱۹-۲۰)- دلته څو مهمي لارښووني زموږ په وړاندي ځليږي:

• الله تعالى آسمانونه او زمکه په حقه او سمه توګه پيدا کړي، نه ناکاره، عبث، باطل او بېهوده شی په کي موندی شي او نه اضافي او بې حاجته شی، نه کومه تشه او خلاء تر سترګو کېږي او نه کوږوالی. د الله تعالى په دې ملك کي به کافران څنګه خپلو موخو ته رسي؟ څه او څوك به ئې په باطل کي مرسته او ملګرتيا کوي؟ آيا په دې پراخ عالم کي داسي څه په نظر ورځي چي د باطل ملاتړ او تأييد وکړي؟!!

• الله تعالى ته ګرانه نه ده چي د زمکي د سر ټول خلك له منځه يوسي او نوی مخلوق راپيدا کړي، که وغواړي چي دا کار وکړي څوك ئې مخنيوی کولی شي؟

وَبَرَزُواْ لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ ٱلضُّعَفَـٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ ۚ قَالُواْ لَوْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ لَهَدَيْنَـٰكُمْ ۖ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَجَزِعْنَآ أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ ﴿٢١﴾

او ټول به الله ته څرګند (غونډ) شي، نو کمزوري به هغو ته چي لويي ئې غوښته ووايي: يقيناً موږ ستاسو اتباع وو، نو آيا تاسو د الله له عذابه کوم څه زمانه دفع کوونکي يئ؟ وبه وايي: که الله موږ هدايت کړي وی نو حتماً به مو تاسو ته لارښوونه کړې وه، موږ ته برابره ده چي که زګېروی وکړو او يا صبر وکړو هيڅ خلاصی راته نشته.

(۲۱)- د دې مبارك آيت اساسي لارښووني دا دي:

• د قيامت په ورځ به ټول خلك له قبرونو راووځي، د الله تعالى په وړاندي به په څرګنده توګه ودرېږي، د هر چا هر څه به څرګند او ښکاره وي، نه به څوك پټنځی موندی شي او نه به څه له الله تعالى پټولی شي.

• هغه چي په دنيا کي په ضعف او کمزورۍ کي ساتل شوي وو، هغو ته به ووايي چي لويي ئې غوښته: موږ خو ستاسو اتباع او پلويان وو، نو اوس خو به د الله له عذابه کوم څه رانه دفع کوونکي يئ؟ مستکبرين به ورته ووايي: موږ پرون له الهي هدايت محروم وو او نن له الهي عذاب د ژغورني لار رانه ورکه ده، که الله موږ ته هدايت کړي وی نو حتماً به مو تاسو ته لارښوونه کړې وه، نه ځان ژغورلی شو او نه ستاسو مرسته کولی شو، نن موږ ټولو ته برابره ده چي که زګېروی وکړو او يا صبر وکړو هيڅ خلاصی راته نشته.

وَقَالَ ٱلشَّيْطَـٰنُ لَمَّا قُضِىَ ٱلْأَمْرُ إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ ٱلْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ

فَأَخۡلَفۡتُكُمۡۖ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيۡكُم مِّن سُلۡطَٰنٍ إِلَّآ أَن دَعَوۡتُكُمۡ فَٱسۡتَجَبۡتُمۡ لِيۖ فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوٓاْ أَنفُسَكُمۖ مَّآ أَنَا۠ بِمُصۡرِخِكُمۡ وَمَآ أَنتُم بِمُصۡرِخِيَّۖ إِنِّي كَفَرۡتُ بِمَآ أَشۡرَكۡتُمُونِ مِن قَبۡلُۗ إِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٢٢﴾

او کله چي د دې کار د پای ته رسېدو پرېکړه وشي شیطان به ووایي: یقیناً چي الله له تاسو سره رښتیني ژمنه کړې وه او ما چي ژمنه درسره کړې وه درنه په شا شوم، او پر تاسو مي هیڅ راز واکمني نه وه، مگر دومره چي تاسو ته بلنه درکړم او راسره ومو منله، نو ما مه ملامتوئ، او خپل ځان ملامت کړئ، نه زه ستاسو د چیغو اورېدونکی یم او نه تاسو زما د چیغو اورېدونکي، یقیناً چي زه ستاسو له هغه مخکني شرك منکر یم چي (له الله) سره مو شریکولم. یقیناً چي دغو ظالمانو ته دردناك عذاب دئ.

(۲۲)- د دې مبارك آیت لارښووني دا دي:

- کله چي د الله تعالی له لوري د ټولو خلکو د برخلیك وروستۍ پرېکړه وشي، جنتیان جنت ته ولاړ شي او دوزخیان دوزخ ته، نو شیطان به خپلو اتباعو ته مخ کړي او وبه وایي: یقیناً چي الله له تاسو سره رښتیني ژمنه کړې وه، همغه څه ئې وکړل چي د پیغمبرانو په واسطه ئې له تاسو سره وعده کړې وه، مؤمنانو ته ئې جنت ورپه برخه کړ او کافران ئې په دوزخ کي واچول، د ایمان او کفر پایلي همغسي وختې چي الله تعالی ویلي وو، او ما چي کومي ژمني درسره کړې وې، د شرك، کفر، ظلم، گناه، عصیان او فساد پایلي مي درته ښایسته ښودلې وې، دا دئ گورئ چي خپله هیڅ وعده مي ترسره نه کړی شوه، له ټولو ژمنو تر شا شوم، پر تاسو مي هیڅ راز واکمني او برلاسي نه وه، نه مي شرك ته اړ کړي یئ او نه مي د گناه په کولو مجبور کړي، فقط دومره مي کړي چي تاسو ته بلنه درکړم او تاسو راسره منلې ده، نو ما مه ملامتوئ، خپل ځان ملامت کړئ، اوس زما او ستاسو حالت داسي دئ چي نه زه ستاسو د چیغو اورېدونکی یم او نه تاسو زما د چیغو اورېدونکي، نه زه کومه مرسته درسره کولی شم او نه تاسو زما مرسته کولی شئ، زه ستاسو له هغه مخکني شرك منکر یم چي (له الله) سره مو شریکولم.
- **د شیطان د وینا د دغي برخي په وړاندي باید لږ توقف وکړو او وگورو چي معنی ئې څه ده او د شیطان اتباع څنگه دی له الله تعالی سره شریك کړی؟ آیا له الله تعالی پرته د بل چا اطاعت شرك دئ؟ آیا د شیطان وسوسو ته تسلیمېدل او خبره ئې منل داسي دي لکه چي دی له الله تعالی سره شریك کړی شي؟ د قرآن له وینا معلومېږي چي د الله تعالی مختص او ځانگړي حقوق دي، که څوك په دغو ځانگړو او اختصاصي حقوقو کي بل څوك له الله تعالی سره شریك کړي؛ نو د شرك مرتکب شوی، دا عمل ئې شرك دئ او دی مشرك، یوازې د الله تعالی عبادت، یوازې له ده استعانت او یوازې ده ته دعاء، د حلال او حرام په اړه یوازې د ده د حکم اطاعت، د شخړو د حل و فصل لپاره یوازې د ده شریعت ته رجوع، له ده سره دومره مینه چي پر**

هري بلي ميني غالبه وي، له ده داسي وېره چي هيڅ وېره ورسره برابري ونه کړی شي او ده ته داسي طمع چي يوازي له ده سره ښايي، څوك چي په دغو برخو کي بل څه او بل څوك له الله تعالی سره شريك کړي؛ مشرك دئ. لکه چي دلته د شيطان له خولې د ده اطاعت او متابعت ته شرك ويل شوي، همداراز قرآن وايي چي چا د خپل نفس او هوی او هوس متابعت وکړ په حقيقت کي ئې خپل نفس (اله او معبود) ګرځولی: (أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلاً ﴿٤٣﴾ الفرقان: ٤٣ : آيا هغه ته دي پام نه دئ کړی چي خپله هوی او هوس ئې خان ته اله ګرځولی، نو آيا ته پرې وکيل يې؟

- هغه ظالمان به په دردناك عذاب اخته کېږي چي د شرك لار ئې غوره کړه او د شيطان متابعت ئې وکړ.

وَأُدْخِلَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ ۖ تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَٰمٌ ﴿٢٣﴾

او هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي د الله په حکم سره به داسي جنتونو ته ننايستی شي چي ترې لاندي ويالې بهېږي، تلپاته په هغه کي، هلته به ئې هر کلی په سلام سره وي.

(٢٣)- دا آيت وايي: چا چي ايمان راوړی او نېك عملونه ئې کړي د الله په حکم سره به داسي جنتونو ته ننايستی شي چي د ونو او بنګلو لاندي ئې ويالې بهېږي، هلته به ئې تلپاتی ژوند په برخه وي، د دوی هر کلی به په سلام سره کېږي او يو به بل ته په سلام سره هرکلی وايي. هر څه به له هر لوري هغوی ته د سلامتيا زېرې ورکوي او مبارکي به ئې ورته وايي.

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلاً كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِى ٱلسَّمَآءِ ﴿٢٤﴾ تُؤْتِىٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا ۗ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ ٱجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ ٱلْأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ ﴿٢٦﴾ يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ

ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّٰلِمِينَۚ وَيَفۡعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ﴿٢٧﴾

آیا پام دي نه دئ چي الله د سپېڅلي کلمې مثال څنګه بیان کړی، د هغي پاکي وني په څېر چي جرړي ئې مضبوطي دي او څانګي ئې د آسمان (په غېږ) کي، د خپل رب په حکم هر وخت خپله مېوه ورکوي، الله خلکو ته دا مثالونه بیانوي چي پند واخلي، او ناپاکه کلمه هغه پلیت بوټي ته ورته ده چي د زمکي له سره ایستل شوی، هیڅ ټیکاو ئې نشته، الله مؤمنان په دنیوي ژوند کي هم په مضبوطي وینا سره ټینګ او ثابت ساتي او په آخرت کي هم، او ظالمان بې لاري کوي او همغه څه کوي چي غواړي ئې.

(٢٤-٢٧)- په دې مبارکو آیتونو کي د پاکي او ناپاکي کلمې مثالونه په ډېري ښکلې او زړه راکښونکې بڼي کي وړاندي شوي، یوې خوا ته د هغي وینا مثال انځوروي چي د ایمان له سمسوري زمکي راټوکېدلې او بلي خوا ته د هغي وینا مثال چي د کفر او شرك له ګنده ډنډ خړوبه شوې، په دې توګه:

- ایمان د هغي پاکي وني په څېر دئ چي جرړي ئې مضبوطي دي او څانګي ئې د آسمان په غېږ کي، زمکي په خپل زړه کي ځای ورکړی او جرړي ئې په هغې کي ژوري ننوتې او څانګي ئې آسمان ته لوړي شوې او آسمان په خپلې غېږ کي نیولې، د خپل رب په حکم هر وخت خپله مېوه ورکوي، یعني ایمان داسي ونه ده چي جرړي ئې مضبوطي دي، د عالم هر څه ئې ملاتړ او تأیید کوي، پر مضبوطو بنسټونو ولاړه ده، څانګي ئې هر لوري ته لوړي ځي، تل او په خپل وخت خپله مېوه ورکوي، مؤمن ته ثبات او دوام ورپه برخه کوي، مېوه ئې د مؤمن د نېك او صالح عمل په توګه راڅرګندېږي.
- او کفر د هغه پلیت بوټي په څېر دئ چي نه ئې جرړي په زمکي کي ننوځي او نه ئې څانګي د آسمان په لور لوړېږي، نه ئې زمکه جرړي په خپلې سینې کي قبلوي او نه ئې آسمان څانګي په خپلې غېږ کي نیسي، د هر څه له تأیید او ملاتړ محرومه، د یوې سپکي او آرامي سیلۍ په وړاندي هم مقاومت نشي کولی، په معمولي باد سره ئې جرړي وځي او د زمکي پر سر رغړي.
- تر دې د مخه په (١٨) آیت کي الله تعالی د کافرانو عمل د ایرو له داسي کوټي سره تشبیه کړ چي تند باد پرې راشي او خوري وری ئې کړي، دلته ئې کفر له داسي پلیت بوټي سره تشبیه کړی چي جرړي ئې په زمکي کي نه ننوځي او څانګي ئې آسمان ته نه لوړېږي.
- الله دا مثالونه خلکو ته د دې لپاره بیانوي چي پند واخلي.
- الله تعالی مؤمنان هم په دنیوي ژوند کي په مضبوطي وینا سره مضبوطوي او هم په آخرت کي، په دنیوي ژوند کي به ئې هم وینا درنه، پر مضبوطو دلائلو ولاړه او اغېزمنه وي او په آخرت کي هم د الله تعالی په وړاندي له قدر او اعتباره برخمنه.
- خو هغه ظالمان چي د کفر او شرك لار ئې غوره کړي نه به په دنیا کي په سم لوري د تلو توفیق ترلاسه کړي او نه به په آخرت کي داسي څه د ویلو لپاره موندلی شي چي خپل کفر او

شرك پرې توجيه کړي او له عذابه ځان وژغوري.

- الله تعالی له هر بنده سره د خپل مشيت او ثابتو سننو مطابق معامله کوي، يوه ته د همدې سننو مطابق لارښوونه کوي او بل ترې محروموي.

د قرآن دا مثال په يوه روايت کې په دې توګه تشريح شوی:

عَنِ ابْنِ عُمَرَرسول قَالَ قَالَ رَسُولُ الله "أَخْبِرُونِي بِشَجَرَةٍ مَثَلُهَا مَثَلُ الْمُسْلِمِ، تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا، وَلاَ تَحُتُّ وَرَقَهَا". فَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ، فَكَرِهْتُ أَنْ أَتَكَلَّمَ وَثَمَّ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، فَلَمَّا لَمْ يَتَكَلَّمَا قَالَ النَّبِيُّ "هِيَ النَّخْلَةُ". فَلَمَّا خَرَجْتُ مَعَ أَبِي قُلْتُ يَا أَبَتَاهْ وَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ. قَالَ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَقُولَهَا لَوْ كُنْتَ قُلْتَهَا كَانَ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ كَذَا وَكَذَا. قَالَ مَا مَنَعَنِي إِلاَّ أَنِّي لَمْ أَرَكَ وَلاَ أَبَا بَكْرٍ تَكَلَّمْتُمَا، فَكَرِهْتُ.

له ابن عمر رسول نه روايت دئ چې وايي: رسول الله وفرمايل: (هغه ونه راوښيئ چې مسلمان ته ورته ده، د الله په حکم سره په هر موسم کې خپله مېوه ورکوي، پاڼې ئې نه رژېږي، عبدالله (بن عمر رضي الله عنهما) وايي: زما په زړه کې راولوېدل چې ښايي دا به د خرما ونه وي، خو دا راته بده وبرېښېده چې په داسې حال کې څه ووايم چې هلته ابوبکر او عمر وي خو څه نه وايي، کله چې دوی څه ونه ويل نو رسول الله وفرمايل: (دا د خرما ونه ده.)، کله چې له خپل پلار سره ووتم ومې ويل: ګرانه پلاره! زما په زړه کې راولوېدل چې ښايي دا به د خرما ونه وي، راته وئې ويل: څه شي د دې خبرې له کولو منع کړې؟ که دې دا خبره کړې وی نو ستا دا خبره به تر هغه او هغه هم راته غوره وه. ومې ويل يوازې دې خبرې منع کړم چې ته او ابوبکر څه نه وايئ نو بده راته وبرېښېده(چې زه څه ووايم).

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ بَدَّلُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ كُفۡرٗا وَأَحَلُّواْ قَوۡمَهُمۡ دَارَ ٱلۡبَوَارِ ﴿٢٨﴾ جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَاۖ وَبِئۡسَ ٱلۡقَرَارُ ﴿٢٩﴾

آيا هغو ته دې پام نه دئ کړی چې د الله نعمت ئې په کفر بدل کړ او خپل قوم ئې د هلاکت ټاټوبي ته کوز کړ، دوزخ ته چې ورننوځي به، او څومره بد قرارځی!

(٢٨-٢٩)- په دې مبارك آيت کې د کفر د جبهې هغو قومي سردارانو او صناديدو او مذهبي مشرانو ته اشاره شوې چې خپل قوم او اتباع ئې د کفر په لور بېولي او دوزخ ته ئې رسولي، الله تعالی چې دوی ته کوم نعمتونه ورکړي وو، يا مال او دولت، يا اقتدار او زعامت، يا اعتبار او وجاهت، د دې پر ځای چې د الله تعالی دا پېرزويني او نعمتونه په دوی کې د مننې او سپاس احساس راوپاروي او د الله تعالی شاکر بنده شي؛ په خلاف ئې دا نعمتونه د کفر او بغاوت په لار کې کارولي، په خپله بې لارې شوي او نور ئې بې لارې کړي.

وَجَعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا لِّيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِهِۦۗ قُلۡ تَمَتَّعُواْ فَإِنَّ مَصِيرَكُمۡ إِلَى ٱلنَّارِ



او الله ته ئې سيالان جوړ كړل د دې لپاره چې د ده له لارې (خلك) منحرف كړي، ووايه: متمتع شئ چې ګرځېدا مو د اور په لورې ده.

(۳۰)- دا مبارك آيت څو ډېرې مهمې لارښوونې او حقايق زموږ مخې ته ږدي:

- الله تعالى ته سيالان جوړول د هغه چا كار دئ چې غواړي خلك دوكه او د الله تعالى له لارې ئې منحرف كړي. شرك هغه بوټى نه دئ چې په خپله راټوكېږي، دا ګنده بوټى د هغو ټګمارانو په لاس كرل شوى چې غواړي ناپوهان د الله تعالى له لارې منحرف كړي. پر قبرونو لوړ لوړ او ښايسته او مزين زيارتونه جوړول، خلك دې ته رابلل چې د دې زيارتونو په درشل كې نذرانې وړاندې او مجاورينو ته ئې شكرانې وركړي، دې او هغه ته د ولي الله نوم وركول، كرامتونه ورته ثابتول او په غيب پوهېدا ورته منسوبول د هغو ټګمارانو دنده ده چې له همدې ئې ځان ته دام او دكان جوړ كړى، جاهلان غولوي او له حق لارې ئې تېرباسي.
- دوى له دې كاره ګټې ترلاسه كوي، دا ئې د تمتع او ګټې وسيله ده، د همدې لپاره هغوى ته ووايه: متمتع شئ خو په دې دې پوه وئ چې دا ګټه به تاسو د دوزخ اور ته رسوي.

قُل لِّعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خِلَٰلٌ ﴿٣١﴾

زما هغو بندګانو ته چې ايمان ئې راوړى ووايه چې (د لمانځه) اړيكه ټينګه كړي، او له هغو څخه څه په پټه او ښكاره انفاق كړي چې وررروزي كړي مو دي، تر دې د مخه چې داسې ورځ راشي چې نه پېر پلور په كې شته او نه دوستي.

(۳۱)- دلته څو خبرې په پام كې ولرئ:

- په مخكنيو آيتونو كې د كافرانو دريو خصلتونو ته اشاره شوې: كفر او شرك، له آخرت انكار، د دنيوي اغراضو لپاره د شرك څلې جوړول او جاهلان پرې غولول، په دې آيت كې د دوى مقابله ډله معرفي شوې چې ځانګړتياوې ئې دا دي: د الله تعالى عبادت كوي، په لمانځه سره خپلې اړيكې هم له الله تعالى سره او هم د ده له بندګانو سره ټينګوي، كوم نعمتونه چې الله تعالى وركړي د ده په لار كې ئې په پټه او ښكاره لګوي، دا ځكه چې دوى په هغې ورځې باور لري چې نه پېر پلور په كې شته او نه خپلوي چا ته ګټه رسولى شي.

ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ

ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ لِتَجۡرِيَ فِي ٱلۡبَحۡرِ بِأَمۡرِهِۦۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡأَنۡهَٰرَ ﴿٣٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ دَآئِبَيۡنِۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ﴿٣٣﴾ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلۡتُمُوهُۚ وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ كَفَّارٞ ﴿٣٤﴾

الله هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړل، له آسمانه ئې اوبه رانازلي کړې او په دې سره ئې دا مېوې راوايستې، تاسو ته د روزي په توګه، کښتۍ ئې درته مسخره کړې چي د ده په حکم سره په بحر کي درومي، او نهرونه ئې درته مسخر کړل. او لمر او سپوږمۍ ئې درته مسخر کړل؛ د دوو تلونکو په توګه، او شپه او ورځ ئې درته مسخر کړي، او هر هغه څه ئې درکړل چي ترې ومو غوښتل، او که د الله نعمتونه وشمېرئ نو شمېرلی ئې نشئ، يقيناً چي انسان ډېر ظالم او ډېر ناسپاس دئ.

(۳۲-۳٤)- دلته د الله تعالی د سترو سترو پېرزوينو څو بېلګي زموږ مخي ته ځلېږي:

- الله هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړل، يو ئې زموږ د کور چت او بله ئې ~~غولی، او د دوی دواړو هر څه داسي چي زموږ اړتياوو ته ځواب وايي. چا چي آسمانونه او~~ زمکه په دې توګه پيدا کړي، هغه الله تعالی دئ.
- له آسمانه ئې اوبه رانازلي کړې او په دې سره ئې دا مېوې راوايستې، تاسو ته د روزي په توګه، د دواړو تر منځ ئې دا تنسيق، يووالی او ګډ کار رامنځته کړی چي له يوه باران ورو او له بلې موږ ته مېوې راباسي، يو موږ ته اوبه راکوي او بله ئې دانه او مېوه، دواړه په ګډه موږ ته د رزق او روزي انتظام کوي، چا چي د آسمان او زمکي تر منځ دا تنسيق راوستی او دواړه ئې پر دې ګمارلي چي موږ ته خوراك او څښاك برابر کړي؛ هغه الله تعالی دئ.
- کښتۍ ئې درته مسخره کړې چي د ده په حکم سره په بحر کي درومي، او نهرونه ئې درته مسخر کړل. الله تعالی په طبيعت کي د کښتۍ جوړولو او د اوبو پر سر د هغوی د تلو امکانات کېښودل او انسان ته ئې دا استعداد او توفيق ورکړ چي له دغو امکاناتو په استفادې سره کښتۍ جوړه کړي.
- په طبيعت کي ئې د نهرونو بهېدو شرايط برابر کړل، زمکه ئې داسي جوړه کړې چي لوړې، ژوري او آواري برخي لري، پر لوړو ئې واوره او باران ووروي، د واورو او باران اوبه ورو ورو د ژورو او آوارو سيمو په لور وبهېږي، واوري ورو ورو ويلي کېږي او نهرونو ته راکوزېږي، د خلکو د کورونو خوا ته تېرېږي، دوی ته صفا او خوندوري اوبه ورکوي، ځاروي او کروندې ئې خړوبه کوي.

- لمر او سپوږمۍ ئې درته مسخر کړل، چې په منظمه او دقیقه توګه درومي، لمر ستاسو ورځ رڼا کوي، ستاسو کور ته رڼا او تودوخه درکوي، سپوږمۍ ستاسو تیارې شپې رڼا کوي، لمر، سپوږمۍ، ورځ او شپه ئې د داسي قواعدو تابع کړي چې ستاسو اړتیاوو ته ځواب وايي، پرې نږدې چې زمکه دومره سره یا سړه شي چې ژوند په کي ممکن نه وي، د شپې او ورځې پر له پسې تګ راتګ د دې باعث شي چې د زمکي په تودوخي کي تعادل رامنځته شي، د ډېر تودوالي او سوړوالي مخه ئې ونیسي، که د لمر او سپوږمي دا منظم خوځښت نه وي، که د شپې او ورځې تګ راتګ نه وی، که شپه او ورځ تر اوسني حالت اوږده یا لنډه وی نو د زمکي پر سر نه انسان ژوند کولی شو، نه حیواناتو او نه نباتاتو. چا چې لمر او سپوږمۍ پیدا کړي، د دوی د تلو راتلو لپاره ئې ثابت او دقیق مدار او مسیر ټاکلی، شپه او ورځ ئې پیدا کړي، د هري یوې عمر ئې تعیین کړی او په دې سره ئې ټولو ژوو ته د ژوند مجال او شرائط برابر کړي؛ هغه الله تعالی دئ.
- انسان ته ئې هر هغه څه ورکړل چې د حال او قال په ژبه ئې ترې غوښتي، هغه څه هم چې د ده فطرت ورته اړ وو او د ده د وجود سلول سلول ئې ترې غواړي او ډېر هغه څه هم چې ده په خپله ژبه ترې غوښتي، هغه ذات چې زموږ غوښتنو ته ئې ځواب ویلی او زموږ حاجتونه ئې ترسره کړي هغه الله تعالی دئ.
- او اې انسانه! الله تعالی دومره پېرزویني پر تا کړې او دومره نعمتونه ئې درکړي چې که وغواړې هغه حساب کړې نو هیڅکله به ئې په شمېرلو موفق نشې.
- د الله تعالی د دغو ټولو بې شمېره پېرزوینو او نعمتونو په وړاندي انسان له خپل رب سره هغه څه کوي چې یوازي ډېر ظالم او ډېر ناسپاس مخلوق ئې کولی شي، یقیناً چې انسان ډېر ظالم او ډېر ناسپاس دئ.

وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجۡعَلۡ هَٰذَا ٱلۡبَلَدَ ءَامِنٗا وَٱجۡنُبۡنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعۡبُدَ ٱلۡأَصۡنَامَ
﴿٣٥﴾ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضۡلَلۡنَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِۖ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُۥ مِنِّيۖ وَمَنۡ عَصَانِي فَإِنَّكَ
غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٣٦﴾ رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ
ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم
مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَشۡكُرُونَ ﴿٣٧﴾ رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعۡلَمُ مَا نُخۡفِي وَمَا نُعۡلِنُۗ وَمَا يَخۡفَىٰ
عَلَى ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴿٣٨﴾ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى

ٱلۡكِبَرِ إِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٩﴾ رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ
وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ يَوۡمَ يَقُومُ
ٱلۡحِسَابُ ﴿٤١﴾

او هغه مهال چې ابراهيم وويل: اې زما ربه! دا ښار خوندي کړې، او ما او زما اولاد له دې په ډډه کړې چې بتان ولمانځو، اې زما ربه! يقيناً چې دوی ډېری وګړي بې لاري کړل، نو چا چې زما متابعت وکړ هغه زما له ډلي څخه دئ او چا چې زما سرغړاوی وکړ نو بې شکه چې ته مهربان بخښونکی يې. اې زمونږ ربه! ما خو د خپل اولاد ځيني، ستا د محترم کور خوا ته په داسي بېديا کي مېشت کړل چې بې بوټي ده، اې زمونږ ربه! د دې لپاره چې لمونځ اقامه کړی شي، د خلکو زړونه د دوی لوري ته رامات کړه او له مېوو روزي ورکړه چې شکر پر ځای کړي. اې زمونږ ربه! يقيناً چې ته په هر هغه څه پوهېږې چې مونږ ئې پټوو يا ئې ښکاره کوو او پر الله خو نه څه په آسمان کي پټ پاته کېږي او نه په ځمکي کي، ستاينه هغه الله لره ده چې ما ته ئې په زړښت کي اسمعيل او اسحاق راپه برخه کړل، بې شکه چې زما رب د دعاګانو اورېدونکی دئ، اې زما ربه! لمونځ کوونکی مي کړې او اولاد مي هم، اې زمونږ ربه! او دعاء مي قبوله کړې!! **باري خدايه! ما ته بخښنه وکړې، او زما مور پلار ته او مؤمنانو ته د حساب قائمېدو په ورځ.**

(٣٥-٤١)- په دې مبارکو آيتونو کي د مخکنۍ موضوع په ارتباط؛ د مؤمنانو د ستر سالار او د موحدينو د نوميالي مخکښ مشر ابراهيم عليه السلام قصه زمونږ مخي ته اېښودل شوې، تر څو وګورو چې ايمان انسان کوم مقام ته رسوي، څومره ئې لوړ بيايي، څنګه ئې د عالمونو رب دعاګاني مني، يو سپېره وچ خوړ د ده په دعاء په داسي خوندي او له امن او برکتونو ډک ښار ~~بدلېږي چې د نړۍ د ټولو موحدينو او مؤمنانو قبله ګرځي، په دې کي د ابراهيم عليه السلام په~~ لاس بيت الله، د خدای کور او د خدای پالو مطاف جوړېږي، هر کال په لکونو خدای پال، پر الله تعالی مين، له محبت او اخلاص ډك زړونو سره دې ښار ته د الله تعالی د کور د طواف او د ابراهيم عليه السلام پر پل د پل اېښودو لپاره درومي او همغه څه کوي چې ابراهيم عليه السلام، د ده زوی اسمعيل عليه السلام او د ده مېرمني هاجر عليها السلام کړي ول، او دا دئ تر نن پوري په تېرو نږدې څلورو زرو کلونو کي په سلګونو مليونو خلکو د ابراهيم عليه السلام په دعاء آباد شوي ښار ته تللي او د ده په لاس جوړي شوې کعبې طواف ئې کړی، دا لړۍ به همداسي تر قيامته دوام کوي، دا په داسي حال کي چې څلور زره کاله مخکي، دلته په دې وچ ناو کي، له ابراهيم عليه السلام او د ده له مېرمني او تي خور زوی پرته نه بل انسان وو او نه

بل ژوی، نه اوبه، نه بوټی او نه حیوان، دا دئ ستاسو په وړاندي د پاکي کلمي د اغېز او مېوو هغه تاریخي بېلګه چي د ابراهیم علیه السلام په قصي کي انځور شوې، هغه کلمه چي جرړي ئې د زمکي په زړه کي ژوري درومي، څانګي ئې د آسمان په لوري لوړېږي او تل خپله مېوه ورکوي.

له بلي خوا د دې قصي په ترڅ کي قریشو ته خپل جد ورپه یاد شوی او ورته ویل شوي: ستاسو دا خوندي او بامنه ټاټوبی او هغه پریمانه رزق چي له هر لوري دې مبارك ښار ته رادرومي؛ ستاسو د هغه جد د دعاء مظهر دئ چي موحد وو، د ځان او خپل اولاد لپاره ئې د الله تعالی په وړاندي دا دعاء کړې وه چي له شرك او د بتانو له لمانځني ئې لري وساتي او د (اقامة الصلوة) او (شکر) توفیق ئې په برخه کړي، خو نن ستاسو هر څه د هغه د هیلو او آرمانونو خلاف دي، ستاسو ټغر به ټولېږي، الله تعالی به له ابراهیم علیه السلام سره خپله وعده تر سره کوي، د ده د دعاء مصداق به یو ځل بیا راڅرګندېږي، الله تعالی به دا ښار هغو خلکو ته سپاري چي ابراهیم علیه السلام ئې د راپیدا کېدو هیله او دعاء کړې وه.

د قرآن له دغو آیتونو چي د ابراهیم علیه السلام دعاء ئې په ډېري اغېزمني او زړه راښکونکې بڼې کي انځور کړې، څو خبري په صراحت سره معلومېږي:

- ابراهیم علیه السلام خپله مېرمن هاجر او زوی ئې اسمعیل علیهما السلام د مکې په بېدیا کي هغه مهال پرېښودل چي هغه ناو سپېره ډاګ وو او هېڅ بوټی په کي نه راټوکېدو.
- دا کار ئې د الله تعالی په امر او په دې موخه کړی وو چي دلته به څو کاله وروسته د الله تعالی محترم کور (بیت الله) جوړوي. په دې سره د بایبل هغه ادعاء تکذیب شوې چي وایي: سارا د ابراهیم علیه السلام بلي مېرمني له ده وغوښتل چي هاجر او زوی ئې له کوره وشړي او ده هم دا کار وکړ.
- د دوی لپاره ئې د رزق او د دوی په لوري د خلکو د زړونو د راماتېدو دعاء ئې وکړه. دا ځکه چي په هغې وچي بېدیا کي نه بل انسان اوسېدو او نه بوټي، وني او اوبه وې.
- مطمئن وو چي الله تعالی به دا دعاء داسي قبلوي لکه ده ته چي ئې په زړښت کي اولاد ورکړ.
- د دعاء له الفاظو معلومېږي چي اسمعیل علیه السلام تر اسحق علیه السلام مشر وو، لومړی ئې د اسمعیل او ورپسي د اسحاق نوم اخیستی، او په دې سره ئې د بایبل هغه ادعاء رد کړې چي وایي: اسحاق د ابراهیم یوازنی مشر زوی وو.
- د دعاء په الفاظو کي د ده قوي عاطفه او د مېرمني، زوی او ټولو مؤمنانو په اړه د ده ژور زړه سوی او قوي مینه د څپانده سیند په څېر انځور شوې. د دې دعاء په اورېدو سره به د هر مهربان پلار او هر زړه سواند داعي له سترګو اوښکي بهېږي، ابراهیم علیه السلام هغه څوك د خپلي ډلي غړی او د خپل کاروان همسفر بولي چي د ده متابعت کوي، له ده سره په فکري او اخلاقي لحاظ ورته والی لري، د نسبي اړیکو پر ځای فکري او اخلاقي اړیکي د اعتبار وړ ګڼي، هغه چا ته د مهربان بخښونکي رب بخښنه او مغفرت غواړي چي د الله په لوري تګ کي د ده ملګرتیا نه کوي.

ښه به وي چي دلته د بايبل هغه برخه هم راواخلو چي د هاجر او اسمعيل تر عنوان لاندي ئي ليکلي او ډېري سپکي سپوري او غلطي وېناوي په کي ګورو، بايبل ليکي:
سارای ابرام ته وويل: زه اولاد نه لرم، ته زما دا وينځه په نکاح کړه چي زما لپاره اولاد تري پيدا شي، ابرام موافقه وکړه، خو کله چي هاجر حامله (اميندواره) شوه، نو مغروره شوه او سارای ته ئې د حقارت په سترګه کتل، سارای ابرام ته شکايت وکړ، هغه په ځواب کي ورته وويل: دا ستا وينځه ده، چي څنګه دې زړه غواړي همغسي ورسره وکړه!! نو سارای له هاجر سره بدسلوکي پيل کړه او هغه وتښتېده!! خو په بېديا کي يوې فرشتې د هغي چينې خوا ته وليده چي د شور په لاري کي پرته ده، ورته وئې ويل: بېرته خپلي باداري ته ستنه شه او اطاعت ئې کوه، زه به ستا نسل زيات کړم، ته حامله يې، زوی به وزېږوې، د اسمعيل نوم پرې کېږده... ستا زوی به وحشي وي، دی به له ټولو سره او ټول به له ده سره جنګېږي!! ... هاجر له ځان سره وويل: آيا په رښتيا ما خدای ليدلی!! ... هاجر کور ته ستنه شوه او زوی ئې پيدا شو او ابرام، اسمعيل ونومولو!!)
دلته څو خبري په پام کي ولرئ:

- قرآن د بايبل د دغو غلطو خبرو د تصحيح لپاره فرمايي: هاجر تښتېدلې نه ده بلکي ابراهيم عليه السلام د الله تعالی په امر له خپل زوی اسمعيل عليه السلام سره يو ځای د مکې په وادۍ کي پرېښوده، په دې موخه او په دې هيله چي دلته به د موحدينو ستر مرکز جوړوي.
- دا چينه هغه نه ده چي بايبل ئې ادعا کوي، بلکي دا د زمزم چينه ده، چي تر ننه پاته ده، د زمزم اوبه تري بهېږي او په خوا کي ئې بنو اسمعيل (د اسمعيل عليه السلام اولاد) مېشت دي.
- بايبل دلته هم او په ډېرو نورو ځايونو کي هم خدای او فرشته سره خلطوي، دلته وايي چي يوې فرشتې هاجر وليده خو وروسته د همدغي فرشتې له خولې وايي: زه به ستا اولاد زيات کړم، د هاجر وينا هم داسي ليکي: آيا په رښتيا سره ما خدای ليدلی!! له دې وروسته د ابراهيم عليه السلام په هکله ليکي چي درې فرشتې ورته راغلې او ورپسي ليکي چي له دغو دريو څخه يو ئې خدای وو!! د بايبل ليکوال هڅه کوي چي د دريو خدايانو (خدای، زوی ئې او روح القدس) غلط او بې معنی تصور سم ثابت کړي!! دا د فرشتې او خدای نومونه يو د بل په ځای کارول د همدې لپاره دي!!
- هاجر ته الله تعالی هومره لوړ مقام ورکړ چي د صفا او مروې تر منځ د دې هڅه ئې د حج په څېر د يوه ستر عبادت په مناسکو کي ونيول او وئې فرمايل: څوك چي د خدای د کور طواف ته راځي د هاجر په څېر به د دغو دواړو غونډيو ترمنځ منډه وهي او د هري غونډۍ پر سر به د دې په څېر کعبې ته مخ اړوي او دعاء به کوي!!
- د اسمعيل عليه السلام په هکله د بايبل د ليکوال کچه او بده ژبه خوځول د قومي او مذهبي تعصب زېږنده ده، تاسو به دې ته ورته وېناوي د بايبل په ډېرو ځايونو کي وګورئ چي د دوی کاهنانو د نورو قومونو په هکله کړي دي، پر هغوی ئې لعنت ويلی او د مرګ او له منځه وړلو مستحق ئې ګڼلي!!

وَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱللَّهَ غَٰفِلًا عَمَّا يَعۡمَلُ ٱلظَّٰلِمُونَۚ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمۡ لِيَوۡمٖ تَشۡخَصُ فِيهِ ٱلۡأَبۡصَٰرُ ﴿٤٢﴾ مُهۡطِعِينَ مُقۡنِعِي رُءُوسِهِمۡ لَا يَرۡتَدُّ إِلَيۡهِمۡ طَرۡفُهُمۡۖ وَأَفۡـِٔدَتُهُمۡ هَوَآءٞ ﴿٤٣﴾

او د الله په اړه دا ګمان مه کوه چې له هغه څه به غافل وي چې دا ظالمان ئې کوي، یقیناً چې (په دې مهلت سره ئې) یوازې هغې ورځې ته ځنډوي چې سترګې په کې (له ډېره هیبته) ټېغې او رډې شي، داسې ځغاستونکي به وي چې سرونه به ئې هسك پاته وي، نظر به ئې نه ورته راګرځي، زړونه به ئې په وتو (او له سینې په تښېدو) وي.

(٤٢-٤٣)- په دې مبارکو آیتونو کې څو مهمې لارښوونې شوې:

- داسې مه انګېره چې ظالمانو ته مهلت ورکول یا له دې کبله دي چې د سزا وړ نه دي او یا له دې کبله چې الله تعالی ترې غافل دئ، دا مهلت پای لري. هغه ورځ هرومرو راتلونکې ده چې الله تعالی به له دوی سره محاسبه کوي او په الهي عذاب به اخته کېږي.
- دا ځنډ به دوی له هغې سختې ورځې سره مخامخ کړي چې له هیبته به ئې د دوی سترګې رډې رډې راختلې وي، لاندې او یوې خوا بلې خوا ته به کتلی نشي، یوه او بل لوري ته به تښتي، سترګې به ئې نه رپېږي، بانوګان به ئې نه سره ورځي، زړونه به ئې له ډېرې وېرې په وتو وي.

وَأَنذِرِ ٱلنَّاسَ يَوۡمَ يَأۡتِيهِمُ ٱلۡعَذَابُ فَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ رَبَّنَآ أَخِّرۡنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖ نُّجِبۡ دَعۡوَتَكَ وَنَتَّبِعِ ٱلرُّسُلَۗ أَوَلَمۡ تَكُونُوٓاْ أَقۡسَمۡتُم مِّن قَبۡلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٖ ﴿٤٤﴾ وَسَكَنتُمۡ فِي مَسَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَتَبَيَّنَ لَكُمۡ كَيۡفَ فَعَلۡنَا بِهِمۡ وَضَرَبۡنَا لَكُمُ ٱلۡأَمۡثَالَ ﴿٤٥﴾ وَقَدۡ مَكَرُواْ مَكۡرَهُمۡ وَعِندَ ٱللَّهِ مَكۡرُهُمۡ وَإِن كَانَ مَكۡرُهُمۡ لِتَزُولَ مِنۡهُ ٱلۡجِبَالُ ﴿٤٦﴾

او خلك له هغې ورځې ووېروه چې عذاب به ورته راشي، نو هغه چې ظلم ئې کړی؛ وایي به: اې زموږ ربه! تر یوې ټاکلې نږدې نېټې مو وځنډوه چې ستا بلنه ومنو او د پیغمبرانو متابعت وکړو، آیا تاسو هغه نه یئ چې تر دې د مخه مو لوړه کړې وه چې هیڅ

زوال به مو په برخه نشي؟! او د هغو په هستوګنځیو کي مېشت شوئ چي پر ځان ئي ظلم کړی وو، او درته معلومه شوه چي څه چلن مو ورسره وکړ او (ګڼ شمېر تاریخي) مثالونه مو درته بیان کړل، او یقیناً چي دوی خپل پټ تدبیرونه وکارول، او دا په داسي حال کي چي د دوی مکر (او پایلي ئې) د الله په خوا او واك کي دي، که څه هم د دوی تدبیرونه داسي وي چي غرونه پرې له منځه ځي.

(٤٤-٤٦)- په دې مبارکو آیتونو کي دا لارښووني مومو:

- خلك د هغي ورځي له راتلو وويروه چي له الهي عذاب سره به مخامخ شي، ظالمان به ئې وايي: اې زموږ ربه! لږ دي دا عذاب وځنډوه، لږ نور مهلت را، یوه بله نبۍه راته وټاکه، تر بلي ټاکلي نږدې نېټې مهلت راکړه، ژمنه کوو چي ستا بلنه به منو او د پیغمبرانو متابعت به کوو. دوی ته به په ځواب کي وویل شي: آیا تاسو هغه نه یئ چي تر دې د مخه مو په ډېر غرور او تأکید سره ویل چي هیڅکله به مو زوال په برخه نشي او له الهي عذاب سره به مخامخ نشئ؟!! او آیا د خپل سلف د کفر، شرك او ظلم بدي پایلي مو په خپلو سترګو نه وې لیدلې؟ آیا تاسو د مخکنیو ظالمانو په هستوګنځیو کي مېشت شوي نه وئ او درته معلومه شوې نه وه چي الله تعالی له دوی سره څه وکړل؟ آیا د ظالمانو د هلاکت ګڼ شمېر تاریخي مثالونه ستاسو مخي ته نه وو اېښودل شوي؟ هغوی هم د حق خلاف او د باطل په دفاع کي ډېر پټ تدبیرونه وکارول، خو مو لیدل چي دغو پټو تدبیرونو هیڅ ګټه ورونه رسوله، ټول شنډ او بې اغېز شول، دا ځکه چي هر څه د دوی د پټو تدبیرونو په شمول د الله تعالی په واك کي دي، پایلي ئې هغه ټاکي، هیڅ تدبیر د الله تعالی له إذن پرته ګټه او اغېز نه لري که څه هم دا تدبیرونه داسي وي چي ستر ستر غرونه ئې په وړاندي تم کېدی نشي.

فَلَا تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِۦ رُسُلَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٤٧﴾

نو د الله په اړه دا ګمان مه کوه چي له خپلو پیغمبرانو سره له خپلو وعدو تر شا کېدونکی دئ، یقیناً چي الله غچ اخیستونکی عزتمن دئ.

(٤٧)- په ٤٢ آیت کي ویل شوي چي د الله په اړه داسي مه انګېره چي ظالمانو ته مهلت ورکول یا له دې کبله دي چي د سزا وړ نه دي او یا له دې کبله چي الله تعالی ترې غافل دئ، دا مهلت پای لري. هغه ورځ هرومرو راتلونکې ده چي الله تعالی به له دوی سره محاسبه کوي او په الهي عذاب به اخته کېږي. په دې مبارك آیت کي د همدې موضوع بل اړخ ته ګوته نیول شوې او ویل شوي: که د بریا او پر کافرانو د غلبې او فتحې هغو الهي وعدو په تحقق کي څه ځنډ راغی چي الله تعالی له خپلو پیغمبرانو سره او د دوی له لاري له مؤمنانو سره کړې دي نو دا ګمان مه کوه چي الله تعالی له خپلو وعدو تر شا کېدونکی دئ، الله تعالی به هرو مرو خپلي وعدې ترسره کوي، هیڅوك او هیڅ ځواك د ده د وعدو په وړاندي خنډ کېدی نشي، دا ځکه چي الله تعالی هم عزیز او ځواکمن دئ او هم له ظالمانو او د حق له دښمنانو غچ اخیستونکی دئ.

يَوْمَ تُبَدَّلُ ٱلْأَرْضُ غَيْرَ ٱلْأَرْضِ وَٱلسَّمَـٰوَٰتُ ۖ وَبَرَزُوا۟ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴿٤٨﴾ وَتَرَى
ٱلْمُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُّقَرَّنِينَ فِى ٱلْأَصْفَادِ ﴿٤٩﴾ سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ وَتَغْشَىٰ
وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴿٥٠﴾ لِيَجْزِىَ ٱللَّهُ كُلَّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ


هغه ورځ چې دا ځمکه به له دې پرته په بلې ځمکې بدله شي او آسمانونه هم، او (ټول به) د يوازنې ډېر برلاسي الله په وړاندې راڅرګند شي. او په دې ورځ به مجرمين ګورې چې په زولنو کې يو له بل سره تړل شوي دي. کميسونه ئې د زړنو (نانزرو) او اور به ئې پر مخونو غوړېږي، د دې لپاره چې هر ساکښ ته د خپلو لاسته راوړنو بدله ورکړی شي، يقيناً چې الله ژر حساب کوونکی دئ.

(٤٨-٥١)- په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښووني ګورو:

- دا آسمانونه او ځمکه به په بشپړه توګه له منځه ځي، الله تعالی به نوې ځمکه او نوي آسمانونه راپيدا کړي، چې له اوسنۍ ځمکې او اوسني آسمانونو سره به توپير لري، نوی عالم به وي له نوي نظم سره، ټول انسانان به بېرته راژوندي شي، د يوازني ډېر برلاسي الله په وړاندي به راڅرګند او په ښکاره ميدان کې راغونډ کړی شي.
- په دې ورځ به مجرمين ګورې چې په زولنو کې يو له بل سره تړل شوي دي، کميسونه ئې د زړنو (نانزرو)، داسې تور تېل چې بد بوی لري او ژر اور اخلي، پر مخونو به ئې د دوزخ د اور لمبې راتاوې وي.
- دا هر څه به د دې لپاره وي چې هر چا ته د خپلو کړنو سزا او بدله ورکړی شي.
- يقيناً چې الله ژر حساب کوونکی دئ.

هَـٰذَا بَلَـٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا۟ بِهِۦ وَلِيَعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا هُوَ إِلَـٰهٌ وَٰحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُو۟لُوا۟
ٱلْأَلْبَـٰبِ ﴿٥٢﴾

دا د خلکو لپاره يو ابلاغ دئ او دا د دې لپاره چې په دې سره خبرداری ورکړی شي، او د دې لپاره چې پوه شي هغه له شکه پرته يوازنی معبود دئ او د دې لپاره چې عقلمن وګړي پند واخلي.

(٥٢)- دا مبارك آيت چې د سورې وروستی آيت دئ او د سورې د مضامينو لپاره ښايسته او په زړه پورې تتمه ده، موږ ته وايي:

- دا قرآن او د دې سورې مضامين د خلکو لپاره الهي پيغام دئ.

- د دې لپاره راغلی چي خلکو ته خبرداری ورکړی شي، د کفر، شرك او ظلم له بدو پايلو او د ايمان او صالح عمل له غوره نتائجو خبر کړی شي.
- او د دې لپاره راغلی چي خلك په دې حقيقت پوه شي چي الله تعالی يوازنی معبود دئ.
- او د دې لپاره چي د عقل خاوندان راويښ کړي او د عبرت سترګي ئې پرانېزي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحیم

الحجر

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم الحجر دئ چې د سورې د ۸۰ آیت له دې فقرې (كَذَّبَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡحِجۡرِ ٱلۡمُرۡسَلِينَ) اخیستل شوی، دا د سورې د مضامینو لپاره عنوان نه بلکې یوازې نوم دئ، نه نوې آیتونه لرې، د سورې له مضامینو معلومېږي چې ښایي د مکې دور په هغو وروستیو کلونو کې نازله شوې چې د ابراهیم سوره په کې نازله شوې، ښایي د ابراهیم له سورې وروسته او متصل نازله شوې وي، ځینې وايي چې د یوسف له سورې وروسته نازله شوې. **د آیتونو فواصل ئې دوه وزنه لري: ځینې ئې د لومړي آیت مبین ته ورته او ځینې ئې د درېیم آیت یعلمون ته ورته.**

لکه چې دا سوره په دریو حروفو (ا، ل، ر) پیل شوې د سورې محوري او اساسي مضامین هم درې دي چې **دا اساسي مضامین د سورې په لومړیو آیتونو کې په دې توګه راغلي:**

- دا د کتاب او ځرګند قرآن آیتونه دي.
- هغه چې کفر ئې کړی ډېر ځلي به دا خوښوي چې کاش مسلمانان وی. پرې ئې ږده چې وخوري او متمتع شي او هیلې ئې مشغول کړي، ژر به پوه شي.
- او هیڅ کلی مو نه دئ تباه کړی مګر په داسې حال کې چې معلومه (لیکلې) نېټه ئې وه. نه هیڅ ولس له خپلې نېټې وړاندې کېدی شي او نه وروسته کېدی.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ وَقُرۡءَانٖ مُّبِينٖ ﴿١﴾

الف، لام، راء، دا د کتاب او څرګند قرآن آيتونه دي.

(۱)- دا د الهي کتاب او د څرګند قرآن آيتونه دي، هغه قرآن چې په خپله څرګند او روښانه دئ، هيڅ ابهام او اغماض په کې نشته او هر څه په واضح او څرګنده توګه خپل مخاطب ته ښيي.

رُّبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡ كَانُواْ مُسۡلِمِينَ ﴿٢﴾ ذَرۡهُمۡ يَأۡكُلُواْ وَيَتَمَتَّعُواْ وَيُلۡهِهِمُ ٱلۡأَمَلُۖ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ﴿٣﴾

هغه چې کفر ئې کړی ډېر ځلي به دا خوښوي چې کاش مسلمانان وی. پرېږ ئې ږده چې وخوري او متمتع شي او هيلي ئې مشغول کړي، ژر به پوه شي.

(۲-۳)- هغه مخالفين چې نن ئې د حق دښمنۍ ته ملا تړلې، تا ګواښي، بلنه دي نه مني او ستا د دعوت په وړاندې خنډ کېږي، هغه ورځ لري نه ده چې دوی به له خپل مخالفت او دښمنۍ نادم وي او دا ارمان او هيله به کوي چې کاش لا د مخه ئې ايمان راوړی وی او مسلمان شوي وی. پرېږ ئې ږده چې وخوري او متمتع شي او هيلي ئې مشغول کړي، ژر به پوه شي. دوی له خوراك، څښاك او د دنيا له مال او متاع خوند اخيستو پرته نه بله مشغولتيا لري او نه کوم سپېڅلی هدف، د بې ځايه او غير واقعي هيلو په خيالي بڼ کې مشغول وي او په هوا کې ځان ته قصرونه جوړوي.

نامناسبه ئې مه ګڼئ که دلته د دغه مبارك آيت په اړه د ځوانۍ د ورځو يوه رؤيا هم ستاسو مخې ته کېږدم، هغه مهال چې لا پوهنتون ته نه وم تللی، لا اسلامي نهضت نه وو پيل شوی، يوه شپه مې خوب ليدو چې د سرور پوپل په نامه له يوه پرچمي سره مناقشه لرم، تر دې خوب د مخه مې هم څه موده مخکې له هغه سره په ويينه يوه مناقشه درلوده، د خوب د مناقشې په پای کې مې دغه آيت ده ته واوراوو، او دا په داسې حال کې چې نه مې دا آيت حفظ وو او نه ئې په معنی سم پوهېدم، په همدې له خوبه راويښ شوم، نه پوهېږم چې دا آيت څنګه زما په ژبه راغی، خو نن پوهېږم چې په دې آيت کې څومره ستره وړاندوينه او په دې خوب کې څومره

ستر بشارت مضمر وو، ما هغه ورځ په خپلو سترګو ولیده چې ډېرو کمونیستانو دا هیله کوله چې کاش مسلمان وی.

وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٞ مَّعۡلُومٞ ۝٤ مَّا تَسۡبِقُ مِنۡ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسۡتَـٔۡخِرُونَ ۝٥

او هیڅ کلی مو نه دئ تباه کړی مګر په داسي حال کي چي معلومه (لیکلې) نېټه ئې وه. نه هیڅ ولس له خپلي نېټې وړاندي کېدی شي او نه وروسته کېدی.

(٤-٥)- دا مبارك آیت د الله تعالی هغه ثابت سنت زموږ مخي ته ږدي چي له مخي ئې د عذاب مستحق ولسونه په خپل خپل ټاکلي وخت په الهي عذاب اخته کېږي، دوی ته چي کوم مهلت ورکوي پای ئې ثابت دئ، نه بدلېږي، نه مخکي کېږي او نه وروسته کېږي، هغه مغرور ځواکونه چي سره له کفر، عصیان، ظلم او فساد د خپل اقتدار د دوام خوشې او پوچي هیلي په سر کي لري، او مؤمنانو ته ئې په کبر او غرور سره ویلي چي که موږ په حقه نه وی، که الله تعالی ته زموږ کړني منظور نه وی، که لار مو سمه نه وی، که الله تعالی له بنده سره محاسبه کولی او ګنهګاران ئې مواخذه کولی، که موږ د عذاب مستحق وی او تاسو د الهي پېرزوینو وړ؛ نو الهي عذاب به لا ډېر د مخه پر موږ نازل شوی وو، تاسو به له دغو بدو ورځو سره مخامخ نه وئ، دا ولي موږ سوکاله یو او تاسو له کړاوونو سره مخامخ، زندانونو ته درومئ، له وطنه شړل کېږئ، نه مو سر خوندي دئ او نه عزت؟!! په دې آیت کي دوی ته ویل شوي چي الهي عذاب هرو مرو راتلونکی دئ خو په خپل ټاکلي وخت، تاسو ته درکړی شوی مهلت پای لري، د پای نېټه ئې هیڅوك نشي بدلولی، تر تاسو د مخه ډېرو همدا ستاسو خبري کړې وې او په پای کي په الهي عذاب اخته شول، نه ئې تدبیرونو دا ثابته نېټه بدله کړی شوه او نه ئې زور او ځواك.

وَقَالُواْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ ۝٦ لَّوۡ مَا تَأۡتِينَا بِٱلۡمَلَـٰٓئِكَةِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ۝٧ مَا نُنَزِّلُ ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَمَا كَانُوٓاْ إِذٗا مُّنظَرِينَ ۝٨

او وئې ویل: اې هغه چي دا ذکر (د پند کتاب) پرې نازل شوی، یقیناً چي ته مجنون یې، ولي موږ ته فرشتې نشې راوستی که له رښتینو څخه یې؟ ملائکي نه لېږو مګر په حقه سره او هغه مهال به دوی له مهلته برخمن نه وي.

(٦-٨)- د حق دښمنانو به رسول اللهﷺ ته ویل: تا ته وایو چي ادعاء کوې د الله تعالی له لوري دا د پند کتاب

دربانديې نازل شوی، ته یقیناً چي مجنون یې، پېریان دربانديې ناست دي او داسي نادري خبري دربانديې کوي، که ته په رښتیا د الله تعالی له لوري رالېږل شوی یې نو هغه فرشته موږ ته راوښیه چي دا الهي پیغام ئې تا ته رارسولی، په کار ده چي په خوا کي دي د فرشتو ټولګې وی او ستا ساتنه او حفاظت ئې کولی او هیڅوك په دې نه توانېدی چي تا ته په کږه سترګه وګوري او ضرر دروروسوي. الله تعالی د دوی په ځواب کي فرمایي: ملائکي په حقه سره لېږو، له یوې دقیقي او رښتیني منصوبې سره سم، د هر چا په خوښې غوښتنه او غلطي مطالبې نه

لېږل کېږي، د عذاب فرشتې هغه مهال لېږل کېږي چې د الله تعالى له لوري ورکړی شوی مهلت پای ته رسېدلی وي، تاسو چې غواړئ د عذاب فرشتې په خپلو سترګو وګورئ نو پوه شئ چې خپلې تباهي ته بلنه ورکوئ، که دا فرشتې درغلې بیا به مزید مهلت نه درکول کېږي او له الهي عذابه د نجات ټول امکانات او فرصتونه به مو له لاسه ورکړي وي.

إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٩﴾

یقیناً دا موږ یو چې دا د پند کتاب مو نازل کړی او موږ ئې هرو مرو ساتونکې یو.

(۹)- په دې آیت کې د مخکنی موضوع په ارتباط مخالفینو ته ویل شوي: دا د پند کتاب موږ نازل کړی او موږ ئې هرو مرو ساتونکې یو، دلته د کتاب د ساتنې مراد دا دئ چې وعدې او وعیدونه به ئې ترسره کېږي، موږ ئې د تحقق ذمه وار یو، نه پرېږدو چې څوك ئې د پرېکړو، وړاندوینو، وعدو او وعیدونو د تحقق مخه ونیسي. لکه څنګه چې څوك نشي کولی په خپل زور ځواك سره د دې کتاب پرېکړې تکذیب کړي او د تحقق مخه ئې ونیسي همداسې نشي کولی په دې کتاب کې لاسوهنه وکړي او مطالب ئې تحریف کړي. او دا یقیناً چې د قرآن ستر اعجاز دئ، په ملیونو کتابونو او ملیونو سینو کې حفظ شوی، هیڅوك نشي کولی په هغه کې لاسوهنه وکړي حتی څوك ئې د زور او زېږ بدلولو توان هم نه لري، د نړۍ هیڅ کتاب دومره حافظان نه لري، یقیناً چې دا د قرآن کمال دئ او د الهي حفاظت مظهر. د قرآن د نزول له نېټې تر ننه په ملیونو خلکو هغه حفظ کړی، تاسو به په ټولې نړۍ او ټول بشري تاریخ کې هیڅ داسې مذهبي او غیر مذهبي، د شعر یا د نثر کوم کتاب ونه مومئ چې د قرآن په اندازه حافظان ولري!! مسیحیان د نړۍ ستره مذهبي فرقه ده خو هغوی په خپل اوږده تاریخ کې د بایبل محدود شمېر حافظان هم نه لرئ؟!! دا ولې؟ ځواب ئې څرګند دئ؛ انسان هغه کلام ژر حفظ کولی شي چې د زړه دړه ئې ورته پرانیستلې شي، له عقل سره ئې اړخ ولګوي، محتوی ئې لوړه او د الفاظو ترکیب ئې خوندور وي.

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي شِيَعِ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٠﴾ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿١١﴾

او یقیناً چې تر تا د مخه مو په لومړنیو ډلو کې پیغمبران لېږلي، او هیڅ پیغمبر نه دئ ورغلی مګر دا چې استهزاء ئې پرې کوله.

(۱۱-۱۲)- دا آیتونه رسول الله ته وایي: نه ته لومړنی پیغمبر یې او نه دا قوم لومړی قوم دئ چې پیغمبر په کې مبعوث شوی، تر تا د مخه مو په ډېرو مخکنیو ډلو کې پیغمبران لېږلي، تر دوی د مخه ډېرو جاهلو قومونو د پیغمبرانو مخالفت کړی او ډېر پر خپل زور ځواك مغرورو مجرمینو د پیغمبرانو پر دعوت او بلنې ملنډې وهلې دي، تاریخ ته رجوع وکړئ او وګورئ او په هرې پاڼې کې ئې د هغو ظالمانو تور برخلیك او عبرتناکې پایلې ته ځیر شئ چې د زړه سواندو پیغبرانو علیهم السلام د بلنې مخالفت ته ئې ملا تړلې وه.

كَذَٰلِكَ نَسۡلُكُهُۥ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١٢﴾ لَا يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ ۖ وَقَدۡ خَلَتۡ سُنَّةُ ٱلۡأَوَّلِينَ
﴿١٣﴾ وَلَوۡ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَابٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَظَلُّواْ فِيهِ يَعۡرُجُونَ ﴿١٤﴾ لَقَالُوٓاْ إِنَّمَا
سُكِّرَتۡ أَبۡصَٰرُنَا بَلۡ نَحۡنُ قَوۡمٞ مَّسۡحُورُونَ ﴿١٥﴾

همداسې ئې د دغو مجرمينو په زړونو كې ننباسو، ايمان به نه پرې راوړي، په داسې حال كې چې د لومړنيو تګلاره تېره شوې. او كه د آسمان كومه داسې دړه مو ورته پرانيستې وى چې دوى په كې لوړ ختلى، حتماً به ئې ويلي وو: زموږ سترګې بې سده شوې بلكې موږ هغه وګړي يو چې كوډې پرې شوې.

(١٣-١٥)- لكه چې مخكنيو قومونو د پيغمبرانو عليهم السلام او د دوى د دعوت مخالفت او مقابله كړې او له بدو پايلو سره مخامخ شوي، همداسې د قريشو د مجرمينو په زړونو كې د مخالفت او مقابلې اراده راولاړه شوې، دوى هم په دې قرآن ايمان نه راوړي، كه څه هم د لومړنيو تګلاره او پايلې ئې د دوى له نظره تېرې شوې او دا حقيقت ورته جوت شوى چې هغوى له كوم برخليك سره مخامخ شول. د معجزو غوښتنه ئې هسې پلمه ده، نه مخكنيو د معجزو په ليدو سره ايمان راوړى او نه به ئې دوى راوړي، حتى كه د آسمان كومه داسې دړه ورته پرانېزو چې دوى په وازو سترګو په كې لوړ وخېژي، نه يوازې ايمان به رانه وړي بلكې وايي به: زموږ سترګې بې سده شوې، غلط شوي يو، دا به هسې كوم خوب وي نه په ويښه بر تلل، بلكې وايي به: پر موږ كوډې شوې.

وَلَقَدۡ جَعَلۡنَا فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجٗا وَزَيَّنَّٰهَا لِلنَّٰظِرِينَ ﴿١٦﴾ وَحَفِظۡنَٰهَا مِن كُلِّ
شَيۡطَٰنٖ رَّجِيمٍ ﴿١٧﴾ إِلَّا مَنِ ٱسۡتَرَقَ ٱلسَّمۡعَ فَأَتۡبَعَهُۥ شِهَابٞ مُّبِينٞ ﴿١٨﴾

او بې شكه چې په آسمان كې مو بروج (ستوري) پيدا كړل او هغه مو ليدونكو ته ښايسته كړ. او هغه مو له هر رټل شوي شيطانه خوندي كړى، مګر هغه چې په غلا سره څه واوري نو ځرګنده لمبه ورپسې شي.

(١٦-١٨)- د دې مباركو آيتونو په اړه دا خبري بايد په پام كې ولرو:

- دا مطلب د هغو خلكو په ځواب كې ويل شوى چې له رسول اللهﷺ څخه ئې معجزې غوښتې، دوى ته ويل شوي: آيا دا په بې شمېرو ستورو ښايسته آسمان كافي نه دئ چې ستاسو عقل راوپاروي او پر الله تعالى ايمان ته مو وهڅوي؟ څوك چې د عظيم قدرت او دقيق نظم دا ستر مظهر قانع نه كړى شي څه به ئې قانع او ايمان راوړو ته چمتو كړي؟!!
- دلته د بروج نوم د ستورو لپاره كارول شوى، بروج د برج جمع ده، برج ځرګند شي او ځاى او د يوه شي تر ټولو ځرګندې برخې ته وايي، ستوري د آسمان تر ټولو ځرګند او ځلاند

اجرام دي، چې آسمان ته ئې ښکلا او ښايست ورکړی. په ځينو نورو آيتونو کې هم ستوري په دې نامه ياد شوي، لکه دا:

تَبَارَكَ ٱلَّذِى جَعَلَ فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجًا وَقَمَرًا مُّنِيرًا ﴿٦١﴾

فرقان : ٦١

مبارك دئ هغه ذات چې په آسمان کې ئې بروج (ستوري) رامنځته کړل او په هغه کې ئې روڼ څراغ (لمر) او روښانه سپوږمۍ راپيدا کړه.

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلْبُرُوجِ ﴿١﴾ : قسم د برجونو په خاوند آسمان

په قرآن کې (تبرج) د څرګندېدو او ښکاره کېدو په معنی راغلی، لکه:

.... وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ ٱلْجَـٰهِلِيَّةِ ٱلْأُولَىٰ ....

الاحزاب: ٣٣

او د مخکنې جاهليت د ځان ښودنې په څېر ځانونه مه څرګندوئ.

متأسفانه ځينو مفسرينو د قرآن دغو څرګندو لارښوونو ته له پامه پرته بروج د ستورو په ځاي، د يوناني فلسفي هغه دولس ګوني موهومي بروج اخيستي چې د دوی په فلکي اصطلاحاتو کې د لمر د مختلفو منازلو لپاره ټاکل شوي، يونانيانو، د کال په هر فصل کې د لمر دغه منازل او بروج، د خپلو مختلفو خدايانو په نامه مسمی کړي او هر برج ته ئې د خپل يوه خدای نوم ورکړی وو، دا اصطلاحات له يونان څخه هغو اسلامي ملکونو ته راکوز شول چې له يونان سره همسرحد وو، ځينې علماء ترې متأثره شول او هغوی ته ئې اسلامي رنګ ورکړ.

• قريشو او د دوی په څېر نورو جاهلو او مشرکو وګړو دا عقيده درلوده چې شيطانان کولی شي له غيبي امورو او پټو خبر شي، په دې توګه چې د آسمان خوا ته ځان رسوي، په يوې ګوښې کې پټ کښېني، د فرشتو تر منځ چې کومې خبرې کېنته پورته کېږي هغه اوري، بيا ئې هغو نجوميانو ته رسوي چې دوی ورته تابع دي، نو ځکه دغه نجوميان کولی شي له غيبي چارو خبر شي او خلکو ته ووايي چې کله به له ښې يا بدې پېښې سره مخامخ کېږي، په راتلونکې کې به ښې ورځې ورته انتظار کوي که بدې!! د دوی په ځواب کې ويل شوي چې شيطانان آسمان ته نشي رسېدی، استراق سمع نشي کولی، له غيبه نشي خبرېدی، که د آسمان په لوري د لوړ تلو هڅه وکړي له هر لوري به په شهاب ثاقب ويشتل کېږي. د الجن سورې کې دا مطلب په دې الفاظو راغلی:

وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدْنَـٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ﴿٨﴾ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَـٰعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَن يَسْتَمِعِ ٱلْـَٔانَ يَجِدْ لَهُۥ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿٩﴾ وَأَنَّا لَا نَدْرِىٓ أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَن فِى ٱلْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿١٠﴾

الجن: ٨-١٠

او دا چې مونږ آسمان لمس کړی او هغه مو له ساتونکو او لمبو ډك موندلی. او دا چې مونږ به د هغه په ځينو تم ځايونو کې د اورېدو لپاره کښيناستو، نو څوك چې اوس غوږ ونيسي ځان ته به په کمين کې ناسته لمبه ومومي.
او دا چې مونږ نه پوهېږو هغه چا ته چې په ځمکې کې اوسېږي د شر اراده شوې او که به ئې رب ورته د رشد اراده کړې وي؟

يعني له مونږ پيريانو څخه ځينې د آسمان په لوري لوړ تللي او په خپلو سترګو ئې ليدلي چې آسمان ته د رسېدو امکان نشته، لار ئې له څارونکو او ساتونکو ډکه او سرې لمبې په لار کې خنډ. مخکې به زمونږ ځينې د دې لپاره د آسمان کنارو ته د رسېدو او په يوه بلې ګوښې کې د کښيناستو هڅه کوله چې پوه شي په آسمان کې څه تېرېږي، څه واوري او په څه اسرارو خبر شي، خو اوس پوه شوو چې دا کار ممکن نه دئ، هر څوك چې دا هڅه وکړي د دې په ځای چې اسرار په لاس ورشي سره لمبه به ځان ته منتظر او په کمين کې ناسته ومومي.
مونږ نه پوهېږو چې په آسمانونو کې څه تېرېږي، الله تعالی د ځمکې د اوسېدونکو په اړه څه اراده کړې، د زيان او تاوان اراده که د رشد او کمال په لوري د دوی د هدايت او لارښوونې اراده؟! هغه خبرې چې ځينې ئې کوي او وايي: مونږ له غيبه خبرېږو؛ دروغجنې او بې بنسټه دي، نه جن په غيب پوهېږي او نه انس، هغه چې غيب ويل ئې ځان ته حرفه ګرځولې، له دې لارې خلك شکوي، د خلکو د غولولو لپاره وايي: مونږ له پيريانو سره ارتباط لرو، دا پېريان لوړ آسمان ته درومي، د آسمان کنارو ته رسي، په يوه بلې ګوښې کې مترصد کښېني، د فرشتو ترمنځ خبرو آترو ته غوږ نيسي، له اسرارو خبرېږي، ځمکې ته راګرځي، مونږ خبروي، په همدې خاطر مونږ کولی شو تاسو ته ووايو چې له کومو پېښو سره به په راتلونکې کې مخامخ شئ، څه حالت او کوم برخليك درته انتظار کوي، شکرانه راکړئ چې په اسرارو مو خبر کړو، له محتملو راتلونکو پېښو مو خبر کړو،... دا ټول ټګمار او دروغجن دي، هدف ئې د خلکو غولول او د خپلو کڅوړو ډکول دي.

• دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ، نن او له ډېرو ژورو تحقيقاتو وروسته انسان ته جوته شوې چې آسمان ته د لوړ تلو په لار کې تر ټولو ستره مانع او خنډ هغه شهاب ثاقب (د اور د لمبو په څېر لوېدونکي آسماني اجرام) دي چې هره شېبه، له هر لوري راغورځي، ځان ترې ساتل او خوندي ترې تېرېدل ممکن نه دي، د دغو لمبو حرارت، سرعت، زور او فشار دومره لوړ وي چې هر څه ويلې کوي او هيڅ څه ئې مخې ته تم کېدی نشي. انسان تر نن پورې د خپل واړه شمسي نظام څو ستورو ته رسېدلي يا نږدې شوي، تر دې وړاندې تګ يوازې په هغه صورت کې ورته ممکن دئ چې وسيله ئې له شهاب ثاقب سره له تصادوم کولو خوندي پاته شي.

وَٱلْأَرْضَ مَدَدْنَٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ ﴿١٩﴾
وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسْتُمْ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ ﴿٢٠﴾

او ځمکه مو خوره کړه او په هغې کې مو غرونه واچول او په هغې کې مو هر څه په موزون شکل کې راشنه کړل. او تاسو ته مو په هغې کې د معيشت اسباب راپيدا کړل او هغه څه ته هم چې تاسې ورته روزي ورکوونکي نه يئ.

(۱۹-۲۰)- د دې مبارکو آيتونو مهمې مهمي لارښوونې دا دي:

- الله تعالی لومړی دا زمکه خوره او آواره پيدا کړې، بيا ئې غرونه په کې پيدا کړي، او دا يقيناً چې د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ، ساينس همدا خبره کوي، وايي د زمکې لوړې، ژورې او غرونه وروسته راپيدا شوي، په پيل کې د زمکې سر نه لوړې ژورې درلودې او نه غرونه.
- دا آيت وايي چې د زمکې د سر نباتات د غرونو له پيدايښت وروسته پيدا شوي، او دا يو ځرګند حقيقت دئ چې د غرونو له کبله په زمکې کې د ابو د زخيره کېدو، د ويالو، کاريزونو او چينو د بهېدو شرائط برابر شوي، همدا غرونه د دې باعث شوي چې زمکه په داسې مختلفو سيمو وويشل شي چې ځيني سړې او ځيني تودې وي، په هرې سيمې کې د بېلو بېلو نباتاتو د راټوکېدا شرائط ايجاد شي، دغه غرونه د دې باعث شول چې د زمکې له يوې سيمې بلې ته د بادونو خوځېدا رامنځته شي، که غرونه نه وی نو د زمکې د سر هوا به تر ډېره حده يو شانته وه، بادونه به نه چلېدل، او ډول ډول نباتات به مو نه درلودل. دا چې قرآن دلته د غرونو له پيدايښت وروسته لومړی د ډول ډول نباتاتو يادونه کوي او ورپسې د بادونو، دغه علمي حقيقت په ګوته کوي.
- الله تعالی ټول هغه څه راپيدا کړل چې تاسو ورته اړ او محتاج ياست او په هغه سره ژوند کولی شئ، ټولو هغو ژوو ته ئې د ژواك توکي پيدا کړي چې تاسو ورته رزق او روزي نه ورکوئ بلکې الله تعالی ورته روزي ورکوي، دا مختلف حيوانات چې په يوه او بله توګه ترې ګټه اخلئ ټول الله جل شأنه پيدا کړي دي او د رزق او روزي انتظام ئې هم الله ورته کړی.

د ۲۰ آيت په اړه دوه د اعتناء وړ تفسيرونه مومو:

- ځينو داسې ژباړلی: او تاسو ته مو په هغې کې د معيشت اسباب راپيدا کړل او هغو ته هم چې تاسې ورته روزي ورکوونکي نه يئ.
- او ځينو داسې: او تاسو ته مو په هغې کې د معيشت اسباب راپيدا کړل او هغه څه مو هم درته راپيدا کړل چې تاسې ورته روزي ورکوونکي نه يئ.

که لږ غور وکړو نو راته جوته کېږي چې لومړی ژباړه صحيح او دقيقه ده او دوهمه د آيت له الفاظو او ترکيب سره اړخ نه لګوي، دا ځکه چې دلته د بحث اصلي موضوع دا ده چې الله تعالی په زمکې کې د ژوند ټول ضروري اسباب برابر کړي، هم د انسان لپاره او هم د ټولو هغو ژوو لپاره چې انسان ئې د روزي ذمه وال نه دئ، د بحث موضوع دا نه ده چې د انسان تر څنګ ئې نور ژوي هم پيدا کړي، په مخکنې آيت کې ويل شوي چې الله تعالی په زمکې کې هر څه په موزون شکل کې راشنه کړل، چې همدا موزون نباتات هم د انسان او د ده د څارويو لپاره د معاش او ژوند اسباب دي او هم د نورو هغو ژوو لپاره چې انسان ئې د روزي ذمه وال نه دئ.

وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٖ مَّعۡلُومٖ ﴿٢١﴾

او هيڅ داسې شی نشته چې خزانې ئې له موږ سره نه وي او نه ئې نازلوو مګر په

معلومي اندازې سره.

(۲۱)- يعنی الله تعالی هر شی په يوه معلومه او معينه اندازه کي راپيدا کړی، که دا عناصر دي، که د زمکي مرکبات دي، که وني، بوټي او حيوانات دي، که هوا، باد، باران، واوره او اوبه دي، که ګرمي او يخني ده، د هر څه لپاره ثابت مقدار او حد ټاکل شوی، دومره چي دلته ورته ضرورت وي، نه تر ضرورت زيات او نه کم، هر څه ئې په همغه اندازه پيدا کړي چي د ژوو ژوند او ژواك او د زمکي او آسمان بقاء او دوام ئې غواړي. دا هم د قرآن يو بل ستر علمي اعجاز زموږ مخي ته څلوي، نن انسان په دې پوه شوی چي د زمکي هر څه ثابت مقدار لري، سره له ټولو هغو تغييراتو چي هره شېبه په زمکي کي رامنځته کېږي، يو شی په بل بدلېږي، ځيني سره ترکيب شي او نوی شی رامنځته کړي، ځيني په خپلو اجزاوو تجزيه شي، خو نه په دې ترکيب سره د اشياوو په اصلي او ثابت مقدار کي تغيير راځي او نه ئې په تجزيې سره، که په ثابتو مقاديرو کي معمولي تغيير او بدلون راشي نه به د زمکي پر سر انسان ژوند کولی شي او نه نور ژوي او نه د عالم موجود نظم او نظام دوام کولی شي. دا تعادل او توازن ښيي چي د دې ټول عالم پيدا کوونکی او پالونکی يو دئ، که عالم د تصادفي تخليق زېږنده وی يا ئې له يوه خالق پرته نور پيدا کوونکي درلودی نو نه به دا تعادل او توازن تر سترګو کېدو او نه د ټولو مخلوقاتو تر منځ دا موجود تنسيق، يووالی او همغږي.

وَأَرْسَلْنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَسْقَيْنَٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمْ لَهُۥ بِخَٰزِنِينَ ﴿٢٢﴾

او بادونه مو ولېږل چي القاح کوونکي دي، بيا مو له آسمانه اوبه را نازلي کړې او په تاسو مو وڅښلي، او تاسو ئې ذخيره کوونکي نه ياست.

(۲۲)- په دې مبارك آيت کي څو داسي سترو سترو حقايقو ته اشاره شوې چي هر يو ئې د قرآن يو ستر علمي اعجاز ګڼل کېږي:

- بادونه د القاح کوونکو په نامه ياد شوي، يعني د بادونو په ذريعه د نباتاتو القاح ترسره کېږي، د نباتاتو د زوجينو تر منځ القاح او په دې القاح سره د مېوو پيدايښت د بادونو يوه ستره دنده ده، که دا بادونه نه وی نو د بوټو او ونو د نارينه او ښځينه ګلانو اړوند جنسي ماده به نشوی يو ځای کېدی او مېوې او دانې به ئې نه شوی پيدا کولی، دا هغه ستر حقيقت دئ چي انسان اوس پرې پوه شوی، هغه مهال چي قرآن نازلېدو نه خلك په دې پوهېدل چي وني او بوټي هم نر او ښځه لري او نه په دې چي د دوی د القاح يوه ستره وسيله بادونه دي، که تاسو دا خبره د يوه داسي عالم مخي ته کېږدئ چي د نباتاتو په چارو کي تخصص لري نو يقيناً چي په دې حقيقت به له اعتراف نه پرته بله چاره نه لري چي ووايي: د قرآن دا وينا يو ستر علمي اعجاز دئ.

- بادونه يوه بله ستره دنده هم ترسره کوي، د وريځو تشکيل، له يوې سيمي بلي ته انتقال، د وريځو يوه ټوټه له بلي سره نښلول، داسي چي د برېښنا، تالندي او ورېښي د باران ورېدو باعث شي، نو د وريځو القاح هم د بادونو په واسطه ترسره کېږي. که دا بادونه نه وی نه به وريځي جوړېدې او نه به واوره او باران ورېدو.
- په زمکي کي د اوبو د ذخيره کولو دقيق انتظام يو له هغو امورو څخه دئ چي که دا نه وی نو د زمکي پر سر ژوند ممکن نه وو، نه انسان او نه بل ژوي دلته ژوند کولی شو. گورو چي دا د څښاك اوبه مو له استعمال وروسته؛ يا د نهرونو له لاري د لويو لويو بحرونو په لور وخوځېږي، تروې او تېزابي شي او يا په زمکه کي ننوځي او انسان ته ئې هم له زمکي راايستل گران شي او هم ئې له بحرونو بېرته راوړل محال شي، خو گورو چي د لمر د وړانگو په ذريعه د بحرونو همدا تروې او تېزابي اوبه تبخير او تصفيه شي، دا بخارات د بادونو په ذريعه د آسمان په لوري اوچت کړی شي، هلته د سړې هوا په وجه په وريځو بدل شي، مؤظف بادونه دا وريځي پر سر واخلي، ناڅاپي ووېشل شي، هر يو، خپله خپله برخه، په خپل خپل خاص سمت، خاصي منطقي ته د رسولو لپاره وخوځوي، په بيديا او د آواري په محتاجو او باران ته سترگي په لاره خلکو باندي باران ووروي او په غرونو باندي واوري. چي د دنگو دنگو غرونو په ژورو او پراخو لمنو کي، د واوري کافي ذخيره، د دوبي لپاره خوندي وساتي او بيا د دوبي په سختي گرمۍ کي چي انسان، حيوان او نبات اوبو ته سخت اړ وي، همدا ذخيره شوې واوره ورو ورو ويلي شي او په نهرونو، کاريزونو او چينو کي د دوی د خړوبولو لپاره راوخوځېږي او د هر يوه ضرورت رفع کړي. آيا دا بهير نه ښيي چي بې شکه ټولي ستايني هغه رب لره دي چي په دې عالم کي د ده د بې انتهاء رحمت او پېرزويني وسيع آثار او نښي هري خوا ته خورې گورو، هغه چي دا بادونه ئې پيدا کړي او د اوبو د ذخيره کولو دا انتظام ئې رامنځته کړی؟!!
- الله تعالی د همدې دقيق الهي انتظام په نتيجه کي زمکه په ډول ډول بوټو سمسوره کړه، ټول هغه ضروري شيان ئې په کي راپيدا کړل چي انسان او د زمکي پر سر مېشت ټول ژوي ورته اړ دي، په زمکه کي ئې د انسان د معاش او ژوند ژواك ټول ضروري اسباب او ذرايع تأمين کړل، هغه حيوانات ئې هم راپيدا کړل چي انسان ورته اړ او محتاج دئ، د دغو ژوو د روزي انتظام هم الله تعالی کوي، تاسو هغوی ته روزي ورکوونکي نه يئ.
- د هر شي خزاني له الله تعالی سره دي، د خزانو کيلي ئې د الله تعالی په واك کي دي، د زياتولو او کمولو پرېکړه ئې د ده له لوري کېږي، هر څه ئې په هغه اندازه پيدا کړي چي ورته ضرورت وو، نه تر خپلي ضروري اندازې زيات او نه کم، دومره چي انسان او د زمکي د سر نور ژوي ورته ضرورت لري، که په دې اندازه کي معمولي تغيير راشي مثلاً د باد حرکت لږ تېز او اضافه شي، له موجوده معمول او طبيعي سرعت ئې سرعت لږ اضافه شي، نو د زمکي په سر به هر څه سره ټکوي، هر څه به نسکوروي او د ژوندانه امکانات به ختموي، که باران لږ اضافه شي، که واوره لږه زياته شي، که ورځ لږ اوږده او طولاني شي، که شپه لږه لنډه شي، که نور او حرارت لږ زيات شي او دا هر څه چي گورئ، له معين حد نه زيات يا کم شي، د انسان ژوند تهديدوي، خو الله جل شأنه هر څه په معينه اندازه کي راپيدا کړي، د هر شي لپاره

یو معین قدر او اندازه ټاکل شوې، هیڅ شی له خپلې اندازې اضافه نه دئ، هیڅ شی له خپل ضروري اندازې لږ نه دئ. چې هر څه له خپلې اندازې لږ اضافه شي ګورئ چې بیا څنګه ترې تنګ شو، باران، دا د ژوند تومنه او وسیله چې لږ له خپلې اندازې اضافه شي بیا دعاګانې کوو چې الله ئې متوقف کړي، واوره، بادونه، چې کله له خپلې طبیعي اندازې لږ اضافه شي ګورئ چې بیا ترې تنګ یو، سوکالي مو تهدید او ژوند راته ګران کړي.

- له آسمانه د اوبو ورېدل او په دغو اوبو سره د زمکې د سر ژوو اړتیا رفع کول او دانې او مېوې ورته راټوکول ښیي چې د زمکې او آسمان پالونکی رب یو دئ، دغه رب د دواړو تر منځ دا تنسیق رامنځته کړی.

وَإِنَّا لَنَحۡنُ نُحۡيِۦ وَنُمِيتُ وَنَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثُونَ ﴿٢٣﴾

او دا خو فقط موږ یو چې ژوندي کول او مړه کوو او (د هر څه) وارث موږ یو (د هر چا هر څه موږ ته په میراث پاته کیږي).

(۲۳)- په دې مبارك آیت کې دوه مهمې لارښووني زموږ مخې ته ځلیږي:

- د ژوند او مرګ پرېکړه د الله تعالی له لوري کیږي، هر ژوی په خپل وخت دنیا ته راځي او په خپل وخت بېرته درمي، نه ئې څوك د پیدا کېدو نېټه بدلولی شي او نه ئې د مرګ مخنیوی کولی شي.
- ټول هغه څه چې ستاسو په لاس کې دي د الله تعالی داسي امانتونه دي چې د څو ورځو لپاره ئې تاسو ته درکړي، په موقته توګه به ترې ګټه اخلئ او په پای کې به تش لاس د الله په لوري درومئ او هر څه به د هغه اصلي وارث ته په میراث پرېږدئ.

وَلَقَدۡ عَلِمۡنَا ٱلۡمُسۡتَقۡدِمِينَ مِنكُمۡ وَلَقَدۡ عَلِمۡنَا ٱلۡمُسۡتَـٔۡخِرِينَ ﴿٢٤﴾

او یقیناً چې ستاسو پر مخکنیو هم پوه شوي یو او له شکه پرته پر وروستنیو هم پوه یو.

~~(۲٤)- نه ستاسو د مخکنیو حالت له الله تعالی پټ دئ او نه ستاسو او هغه چې له تاسو وروسته راځي، الله تعالی~~ چې د مخکنیو په اړه څه ویلي د خپل جامع او دقیق علم له مخې ئې ویلي، او ستاسو او ستاسو د خلف د ښه او بد عمل، نېکو او بدو پایلو په اړه چې څه وایي د خپل علم له مخې ئې وایي. د ټولو په اړه دا الهي قضاوتونه، پریکړي، وړاندوینې او حکمونه د هغه ذات له لوري دي چې په هر څه پوه دئ، د نن، پرون او سبا په اړه یو شانې علم لري.

وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحۡشُرُهُمۡۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٞ ﴿٢٥﴾

او یقیناً چې ستا رب به ئې په خپله راغونډوي، بې شکه چې هغه ډېر پوه باحکمته دئ.

(۲۵)- په دې مبارك آيت كې رسول اللهﷺ ته ويل شوي چې ستا رب به دغه كافران چې له الله تعالى او د آخرت له ورځې انكار كوي په خپله راغونډوي، د دوى انكار نه د قيامت د ورځې راتګ ځنډولی شي او نه د الله تعالى په وړاندې د دوى ودرېدا.

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ ﴿٢٦﴾ وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾

او يقيناً چې انسان مو د كړنګېدونكې توكې، له بوى ناكې تورې خټې پيدا كړ او جن مو تر ده د مخه له بې لوګې اوره.

(۲۷)- د انسان د لومړني پيدايښت د څرنګوالي په اړه تفصيلي بحث د النساء سورې د لومړي آيت او د آل عمران د سورې د ۵۹ آيت په تفسير كې وګورئ. خو دلته د دې آيت په مطلب د ښه پوهېدو لپاره بايد څو اساسي خبرې په پام كې ولرو:

- د مخكنيو آيتونو تسلسل او ترتيب ته په پام سره دا نتيجه ترلاسه كوو چې الله تعالى لومړى ځمكه او آسمانونه پيدا كړي، بيا ئې اوبه پيدا كړې، بيا ئې د ځمكې د سر بوټي او نور ژوي پيدا كړي او په پاى كې ئې انسان پيدا كړى. په ۱۵، ۱۹، ۲۰، ۲۲، آيتونو كې د آسمانو، ځمكې، غرونو، اوبو، بوټو، حيواناتو پيدايښت ته اشاره شوې او ورپسې په ۲٦ آيت كې د انسان پيدايښت ته، په ۲۷ آيت كې ويل شوي چې پېريان هم تر انسانانو مخكې پيدا شوي، دا تسلسل ښيي چې د انسان تر پيدايښت وړاندې ئې د ده د معيشيت ټول ضروري شيان پيدا كړي، او دا هغه حقيقت دئ چې ساينسپوهان اوس پرې پوه شوي، او همدغه خبره كوي چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندې كړې، په الله قسم چې دا د قرآن يو داسې ستر علمي اعجاز دئ چې هر د بصيرت او عقل خاوند پرې اعتراف كوي. رسول اللهﷺ هم د انسان او نورو ژوو د پيدايښت په اړه فرمايلې چې الله تعالى انسان د پيدايښت د مراحلو د وروستۍ شپږمې مرحلې په پاى كې پيدا كړ.
- قرآن وايي چې ځمكه او آسمانونه سره يو ځاى او يوه كتله وه چې د الله تعالى په حكم سره بېل شوي، فرمايي: (أَوَلَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٣٠﴾ الانبياء: ۳۰ : آيا كافران دې ته نه ګوري چې آسمانونه او ځمكه سره يو وو او موږ سره بېل كړل او هر ژوى مو له اوبو راپيدا كړ). د دې معنى دا ده چې ځمكه به په لومړي سر كې داسې سره او توده وه لكه لمر، دا تودوالى ئې ورو ورو لږ شوى او اوسنۍ حالت ئې غوره كړى، له ابتدائي سړېدو وروسته به د ځمكې سر داسې كلك او ډبرين وو لكه د اورشيندو (آتش فشان) په نتيجه كې چې د ځمكې له زړه نه ويلې مواد راووځي، ساړه او كلك شي، د ځمكې دا ډبرين قشر د بارانونو له كبله ورو ورو په خاوره بدل شوى، بارانونو دا خاورې د ځمكې ژورو سيمو ته انتقال كړې، لكه څنګه چې ګورو غرونه او لوړې تيږې او ډبرې دي او آواره په خاورو پټه شوې، تر دې خاورې لاندې همغه ډبرين قشر دئ، چې د چاودلو په نتيجه كې ئې زلزلې رامنځته كېږي، دا خاوره په بوى ناكې خټې بدله شوې او دغه مهال د ژوو د پيدايښت لپاره مناسب او ضروري شرايط برابر شوي او الله تعالى د ټولو ژوو لومړۍ نطفه او بيا لومړى جوړه دغه مهال پيدا كړې.

• انسان غواړي په دې پوه شي چې څنګه پيدا شوی؟ له څه پيدا شوی؟ چا پيدا کړی؟ په زمکې کې د انسان پيدايښت څنګه او کله پيل شوی؟ تر نورو ژوو مخکې که وروسته پيدا شوی؟ الله تعالی د دغو مبارکو آيتونو په رڼا کې موږ ته لارښوونه کړې او زموږ دغو پوښتنو ته ئې ځواب ويلی او دا وضاحت ئې کړی چې نه يوازې نور مخلوقات تر انسان مخکې پيدا شوي بلکې جن او پېريان هم تر ده د مخه پيدا شوي.

• کله چې د انسان د پيدايښت په اړه څه وايو او اړوند آيتونه ئې څېړو نو بايد متوجه وو چې په دې څېړنې کې د قرآن ټول هغه آيتونه په پام کې ولرو چې د انسان او نورو ژوو د پيدايښت د څرنګوالي په اړه ئې بحث کړی، د رسول الله ﷺ لارښوونې هم خپلې مخې ته کېږدو او د خلقت په اړه د الله تعالی عام سنت هم په پام کې ولرو. داسې تعبير وړاندې نه کړو او وئې نه منو چې له نورو آيتونو سره تعارض رامنځته کوي، د رسول الله ﷺ صحيح احاديث ئې ملا تړ او تأييد نه کوي او د الله تعالی له عام او مشهودو سننو سره اړخ نه لګوي.

• د انسان د پيدايښت په اړه زموږ ځواب بايد داسې وي چې هم د نورو ژوو د پيدايښت په اړه صدق وکړي او هم ئې زموږ عقل ومني، داسې ځواب ناقص دئ چې د الله تعالی د کوم مشهود سنت خلاف وي او عقل ئې نشي منلی، دا ځکه چې په قرآن کې نه د الله تعالی د سننو خلاف څه شته او نه د عقل خلاف. زموږ ځواب بايد دا راته روښانه کړي چې له ويروس او ميکروب نيولې تر فيل او ډايناسور پورې او له بکتريا او واړه بوټي نيولې تر سترو سترو ونو پورې، دا د زمکې د سر ټول ژوي او نباتات څنګه پيدا شوي، د پيدايښت پيل ئې څنګه وو او لومړی جوړه ئې څنګه پيدا شوې. آيا لومړی د ټولو دوې دوې مجسمې (د نر او ښځې) جوړې شوې، بيا روح په کې پو شوی، ژوندي شوي او له همدغو لومړيو جوړو ئې نسل دوام کړی؟ او که داسې چې لومړی د هر ژوي يوه وړه نطفه پيدا شوې، دا نطفه په دوو برخو (نر او ښځې) وېشل شوې، ورو ورو ستر شوې، د يوې بشپړې جوړې په توګه ئې وده کړې او بيا له همدغې بشپړې جوړې د هغوی نسل دوام کړی؟ داسې لکه نن چې په خپلو سترګو ګورو چې ټول ژوي او بوټي، که ستر دي او که واړه، له داسې وړې نطفې ئې پيدايښت پيل کېږي چې په سترګو نه ليدل کېږي، ګڼ شمېر مراحل پرې تېر شي، ورو ورو د کمال او بشپړېدو په لوري وده وکړي او له څه مودې وروسته د يوه بشپړ مخلوق په توګه راڅرګند شي. موږ په دې خور وور عالم کې د پيدايښت داسې بېلګه نه ګورو چې د دې عام او مشهود الهي سنت خلاف لومړی د هغه بشپړه مجسمه جوړه شي او بيا روح په کې پو شي، داسې ژوی مو نه دئ ليدلی چې پيدايښت ئې له يوې وړې نطفې څخه نه وي پيل شوی. دا عام الهي سنت او زموږ عقل راته وايي چې د اوسني پيدايښت توپير به له لومړي پيدايښت سره يوازې په دې کې وي چې اوس له يوې جوړې او د نر او ښځې له ازدواج راپيدا کېږي او په لومړي سر کې ئې دا جوړه (زوج) له يوې نطفې جوړه شوې او له دې وروسته ئې د اوسني طرز پيدا کېدو لړۍ پيل شوې. اوس ئې نطفه د مور په رحم کې جوړېږي او هغه مهال په زمکې کې جوړه شوې، اوس ئې نطفه د نر او ښځې د نطفو له يو ځای کېدو جوړېږي او هغه مهال يوه نطفه په دوو (نر او ښځې) تقسيم شوې. د قرآن لاندنې درې آيتونه موږ ته په ډېر صراحت سره داسې لارښوونې کوي چې دغه پورتنی رأيه تړې راوځي:

وَٱللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَٰجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِۦ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١١﴾

فاطر: ١١

او الله تاسو له خاورې راپيدا کړئ، بيا له نطفې، بيا ئې جوړه جوړه کړئ، نه کومه ښځينه څه حمل کوي او نه ئې زېږوي، مګر د ده په علم سره او نه د کوم عمروال (د عمر خاوند) عمر ورزياتېږي او نه ئې عمر کمېږي مګر دا چې په کتاب کې (ثبت) دي او دا کار الله ته آسان دئ.

که دې آیت ته لږ ځیر شئ نو په ډېر صراحت او وضاحت سره ترې معلومېږي چې د انسان لومړئ جوړه له یوې نطفې جوړه شوې، دلته الله تعالی فرمایي چې تاسو مو لومړی له خاورې، او بیا له یوې نطفې راپیدا کړئ او بیا مو جوړه جوړه پیدا کړئ، یعني د انسان پیدایښت لومړی له خاورې د یوې نطفې په بڼه کې پیل شوی او بیا ئې د زوج زوج پیدا کېدو لړئ پیل شوې. څوك چې له دې پرته بله رأیه وړاندې کوي د قرآن له دې څرګند آیت سره مخالفت کوي.
بل آیت دا مطلب په لازیات صراحت سره بیانوي او وایي:

خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ تَعَـٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٣﴾ خَلَقَ ٱلۡإِنسَـٰنَ مِن نُّطۡفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٤﴾

النحل: ٣ ـ ٤

آسمانونه او زمکه ئې په حقه پیدا کړل، لوړ دئ له هغه څه چې ورسره شریکوي ئې، انسان ئې له نطفې پیدا کړ او هغه څرګند جګړمار شو.

له دغو دوو آیتونو څو خبرې په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي:

- د انسان د پیدایښت لومړئ ماده خاوره ده.
- له خاورې د ده نطفه جوړه شوې.
- بیا ئې له دې نطفې جوړه (زوج) پیدا شوې.
- د آسمانونو او زمکې له خلقت نه وروسته او ورپسې دا خبره کول چې انسان ئې له نطفې پیدا کړ، دا مطلب په ګوته کوي چې دلته د انسان لومړني پیدایښت ته اشاره شوې، نه وروستي پیدایښت ته. ابتدائي پیدایښت ئې هم د نطفې په بڼه کې پیل شوی، ډېره عجیبه ده چې څوك د دې صریح آیتونو خلاف خبره کوي.
- بیا له دغې نطفې څخه د ده جوړه پیدا شوې. یعني هغه (واحد نفس) دغه له خاورو جوړه شوې نطفه وه چې له هغې ئې د ده (زوج او جوړه) راپیدا کړه او بیا له دغې جوړې د ده د نسل د پیدا کېدو لړئ پیل شوې.

همدا راز قرآن فرمایي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالاً كَثِيرًا وَنِسَآءًۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبًا ﴿١﴾

اې خلکو! له خپل هغه رب ووېرېږئ چې له یوه نفس ئې راپیدا کړئ او له هغه ئې د ده جوړه راپیدا کړه او له دواړو ئې ډېر نارینه او ښځې خواره کړل، هم د هغه الله په نسبت تقوی ولرئ چې په خپلو کې غوښتنې پرې کوئ او هم د خپلوئ په اړه، بې شکه چې الله ستاسو څارونکی دئ.

ګوری چي دلته دا نه دي ویل شوي چي له آدم علیه السلام ئي د ده مېرمن حوی راپیدا کړه، دا خبره نه دلته شوي او نه د قرآن په بل آیت کي او نه په کوم صحیح الاسناد حدیث کي، بلکي ویل شوي له یوه نفس ئي د ده جوړه راپیدا کړه، د قرآن په هیڅ ځای کي صراحتاً یا اشارتاً دا نه دي ویل شوي چي لومړی آدم علیه السلام پیدا شوی او بیا له ده نه د ده مېرمن پیدا کړی شوې. همدا راز د قرآن په هیڅ ځای کي دا نه دي ویل شوي چي لومړی د آدم علیه السلام او د ده د زوجي هیئت او څېره جوړه شوې، بیا روح په کي پو شوی. او نه هم په هیڅ صحیح الاسناد حدیث کي دا ویل شوي، که خبره داسي وی نو هرومرو به په قرآن کي په همدې الفاظو ذکر شوې وه، نه یوازي د آدم علیه السلام په اړه بلکي د نورو ژوو په اړه به هم همداسي ویل شوي وو چي لومړی ئي د ټولو هیئتونه جوړ کړل، بیا ئي په کي پو کړل او راژوندي شول، لکه څنګه چي د عیسی علیه السلام له قوله فرمایي:

أَنِّي أَخْلُقُ لَكُمْ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنْفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللَّهِ

زه ستاسي لپاره له ختي د مرغه څېره جوړوم، بیا په هغه کي پو کوم، نو هغه به د الله په اذن سره ژوندی مرغه شي.

- که تاسو د انسان د خلقت اړوند آیتونو ته لږ ځیر شئ وبه ګورئ چي په ټولو کي (صلصال: کړنګېدونکی توکی) له (حمإ مسنون: بوی ناکي ختي) نه مخکي ذکر شوی. او په یوه ځای کي خو (صلصال) د انسان د پیدایښت داسي لومړۍ ماده ګڼي لکه د اور لمبه چي د جن د پیدایښت لومړۍ ماده ګڼي او فرمایي:

خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ كَٱلۡفَخَّارِ ﴿١٤﴾ وَخَلَقَ ٱلۡجَآنَّ مِن مَّارِجٖ مِّن نَّارٖ ﴿١٥﴾ الرحمن: ١٤-١٥

انسان ئي د کودړي په څېر له کړنګېدونکي توکي پیدا کړ او جن ئي له بې دوده لمبې.

دا آیت خو وایي چي انسان ئي له صلصال پیدا کړی، داسي لکه جن چي ئي له اوره پیدا کړی، د ده د پیدایښت اصلي ماده صلصال ده، دغسي لکه د جن د وجود اصلي ماده چي اور دئ، یعني د انسان د وجود لومړنی ماده په سر کي صلصال وه، خاوره شوه، خټه شوه او الله تعالی ترې انسان جوړ کړ. داسي نه دي ویل شوي چي دی ئي صلصال کړی او بیا ئي روح په کي پو کړی.

د قرآن دا دقیقه او علمي وینا چي یقیناً ستر علمي اعجاز ګڼل کېږي؛ داسي ده چي هم ئې علم او ساینس پر حقانیت اعتراف کوي او هم د هر باشعوره انسان عقل.

شیعه د آدم علیه السلام د پیدایښت په اړه یو روایت لري چي امام باقر رحمه الله ته ئي منسوب کړی او وایي: تر آدم علیه السلام مخکي په زرګونو زرګونو آدمان تېر شوي!! دا په داسي حال کي چي قرآن په مکرره توګه فرمایي چي د انسانانو د پیدایښت لړۍ له یوه نفس او یوې جوړې (آدم او د هغه مېرمن) پیل شوې، زموږ عقل او درایت همدا خبره کوي، نه پوهېږو په دغو خلکو څه مصیبت نازل شوی چي د قرآن او عقل خلاف روایات مني او په داسي څه

باور کوي چي نه کوم عقلي دلیل ورته لري او نه په ټول قرآن کي د هغه لپاره کوم شاهد**!!**

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٨﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٢٩﴾ فَسَجَدَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٣٠﴾ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٣١﴾

او هغه مهال چي ستا رب فرشتو ته وويل: زه هرومرو د کړنګېدونکي توکي، له بوی ناکي خټي د يوه بشر پيدا کوونکی يم. او کله چي مي برابر کړ او د خپلي روح سا مي په کي پو کړه نو هغه ته سجده کوونکي شئ. نو ټولو فرشتو په ګډه سجده وکړه، له ابليس پرته چي سرغړاوی ئې وکړ له دې چي له سجده کوونکو سره شي.

(۲۸-۳۱)- د دې تفصيل د البقره سورې د ۳۰ او ۳۳ آيتونو او د الاعراف د سورې د ۱۱-۱۸ آيتونو په تفسير کي وګورئ.

قَالَ يَٰٓإِبْلِيسُ مَا لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ أَكُن لِّأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهُۥ مِن صَلْصَٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٣٣﴾

وئې ويل: اې ابليسه**!** وجه ئې څه وه چي له سجده کوونکو سره يو ځای نشې؟ وئې ويل: زه (دې ته تيار) نه يم چي داسي بشر ته سجده وکړم چي د کړنګېدونکي توکي، له بوی ناکي خټي دي پيدا کړی.

(۳۲-۳۳)- د دې آيت په ترڅ کي الله تعالی موږ ته لارښوونه کوي چي د اسلامي دعوت ځيني مخاطبين داسي دي چي په هيڅ توګه ايمان نه راوړي، په هيڅ دليل نه قانع کېږي، د دوی دريځ به د دعوت په وړاندي داسي وي لکه د ابليس، ځان به تر دې ډېر لوړ ګڼي چي حق ته غاړه کېږدي او د يوه صالح او زړه سواند لارښود قيادت ومني، له نژادي او توکميز پلوه به ځان تر نورو غوره ګڼي، نورو ته به په سپکه سترګه ګوري، دا د ابليس ملګري او د هغه په پل روان دي، له هغوی د حقپالو د ملګرتيا هيڅ طمعه مه کوئ.

قَالَ فَٱخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَإِنَّ عَلَيْكَ ٱللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٣٥﴾

وئې ويل: له دې ځايه ووځه، چي ته رټل شوی يې، او پر تا به د قيامت تر ورځي لعنت وي.

(٣٤-٣٥)- ابلیس لويي وکړه، د الله تعالی د پرېکړي له منلو ئي ډډه وکړه، د دې تکبر او سرغړاوي سزا دا وه چي سپکاوی او لعنت ئي په برخه او ورټل شي، دا د ده او د ده د ملګرو برخليك دئ، سپکاوی او د قيامت تر ورځي له هر لوري د لعنت باران. خو دا چي شيطان له کوم ځايه اخراج او ورټل شو، له کوم مکان او که له کوم مقام؟ له آسمان، که په زمکي کي له کوم ځاي؟ له موعود جنت څخه، که د زمکي پر سر له خپل مخکني مېشت ځای څخه؟ دلته په دې اړه څه نه دي ويل شوي، خو د قرآن نورو لارښوونو ته په پام سره په يقيني توګه ويلی شو چي نه شيطان آسمان ته لوړ تللی او نه په موعود جنت کي مېشت شوی، ابليس د زمکي مخلوق دئ، په زمکي کي مېشت وو، آدم عليه السلام په زمکي کي پيدا شوی، ابليس همدلته د آدم عليه السلام په وړاندي له سر ټيټولو او اطاعت سرغړاوی کړی، همدلته له مخکني ځای او مقام کوز کړی شوی، د قرآن په هيڅ آيت کي نه صراحتاً دا خبره شوې او نه اشارتاً چي آدم عليه السلام په آسمان کي پيدا شوی يا په زمکي کي له پيدايښت وروسته آسمان ته بېول شوی، او شيطان په آسمان کي د ده خوا ته مېشت وو او همدلته ئي د ده د قيادت له منلو ډډه کړې او بيا له آدم عليه السلام سره يو ځای زمکي ته راکوز کړی شوی. چا چي دا خبري کړې دي له ځانه ئي کړې دي، د دې تفصيل د الاعراف د سورې د دوهمي رکوع په تفسير کي وګورئ.

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ﴿٣٦﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ﴿٣٧﴾ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ﴿٣٨﴾

وئې ويل: زما ربه! نو تر هغي ورځي مهلت را چي بيا به راپاڅول کېږي، وئې ويل: نو ته له مهلت ورکړی شوو څخه يې، د همغي معلومي نېټي تر ورځي.

(٣٦-٣٨)- ابليس د الهي پرېکړي له اورېدو وروسته د دې پر ځای چي ندامت وښيي او توبه وکړي، په خپل شيطاني دريځ ټينګار کوي، وايي: ما ته د قيامت تر ورځي مهلت راکړه چي درته ثابته کړم آدم؛ دا له بوی ناکي ختي جوړ شوی مخلوق؛ د دې وړ نه دئ چي د زمکي خلافت وروسپارل شي او د عالم هر څه د فرشتو او جن په ګډون د ده اطاعت وکړي، او ده ته رام او مسخر وي، الله تعالی د ده غوښتنه مني او همدا مهلت ورکوي، دا داسي وګڼئ لکه څوك چي پر يوه مقام د ګمارل کېدو هڅه کوي، انګېرنه ئي دا وي چي د دې مقام لپاره تر ټولو غوره کس دی دئ، خو ناڅاپي د خپلي انګېرني او انتظار خلاف ګوري چي بل څوك دې مقام ته غوره شوی، په دې سره د ده غرور او کبر تحريك شي، د بغاوت لار غوره کړي، لوړه وکړي چي دا پرېکړه به غلطه او ناسمه ثابتوي او دا کس به په خپل مأموريت کي بريا ته نه پرېږدي، له هر فرصت په استفادې سره او له هر لوري به هغه او د هغه حيثيت او کړني تر نيوکو او بريدونو لاندي نيسي، او هر کار به ئي ناسم او غلط ګڼي. الله تعالی د دې قصي په ترڅ کي موږ ته همدا لارښوونه کوي چي د ابليس متابعت ونه کړو او د ځان غوښتني په تحريك او د شخصي اغراضو لپاره له صالح قيادت سره د ناروا رقابت لار غوره نه کړو.

قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٣٩﴾ إِلَّا

عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ٤٠

وئې ويل: زما ربه! له دې کبله چې بې لارې دې کړم هرومرو به په زمکې کې هر څه ورته مزين او سينګار شوي کړم او حتماً به دوی ټول بې لارې کړم، مګر د دوی له منځه ستا هغه مخلص بندګان چې (غوره کړی شوي).

(۳۹-٤٠)- دلته د شيطان څو خبرې راوړل شوې:

- الله تعالی ته وايي چې تا او ستا پرېکړې زه دې ته اړ کړم چې بې لارې شم او د بغاوت لار ونيسم، د داسې چا پر متابعت دې وګمارلم چې زه ترې غوره وم، له دې پرته مې بله چاره نه درلوده چې د پرېکړې له منلو سرغړاوی وکړم!! دا داسې ده لکه د شيطان کوم ملګری چې د غرض او مرض له کبله له يوې صالح ډلې بېلېږي او له ناصالح ډلې سره يو ځای کېږي او بيا د خپل بغاوت او له مخکنۍ ډلې د وتلو په توجيه کې وايي: د ډلې مشرتابه زه اړ کړم چې مخکنۍ ډله پرېږدم، هلته د خلکو حيثيت ته اعتناء نه کېږي، په ټاکنو کې اهليت له پامه غورځول کېږي، د چا سوابقو ته اهميت نه ورکول کېږي، داسې څوك ئې زما پر ځای وټاکو چې له هيڅ پلوه د دې اهليت او وړتيا نه لري او له ما سره برابرې نشي کولی!!
- زه به هرو مرو د دې هڅه کوم چې د خپلو ملګرو لويه ډله ستا مخې ته ودروم، ډېر داسې کسان راپيدا کړم چې زما په څېر وي، په زمکې کې به هر څه داسې ورته مزين او ښايسته کړم چې زما ملګرتيا ورته غوره وبرېښي او پرې خوښ او راضي شي.
- يوازې هغه خلك به زما له ملګرتيا ډډه کوي چې تا غوره کړي. دا هم داسې ده لکه په غرض او مرض اخته انشعابي ډله چې وايي: وبه ګورئ چې ډېر نور به هم له دې ډلې رابېل شي، يوازې هغه محدود شمېر غړي به په مخکنۍ ډلې کې پاته کېږي چې له ځانګړيو امتيازاتو برخمن دي، د نوې ډلې مشرتابه په وړاندې به دا ژمنه کوي او باټې به وهي چې د مخکنۍ ډلې غړي به داسې ترې رابېل کړم لکه له يوې ونې چې په منۍ کې پاڼې ورژېږي او ټولې ځانګې ئې لوڅې شي.

دې ته مو بايد پام وي چې له رسول اللهﷺ سره د قريشو او يهودو د قومي او مذهبي مشرانو د اختلاف ستره وجه دا وه چې د رسول اللهﷺ دعوت او قيادت ئې د ځان لپاره ستر ګواښ ګڼلو او دا وېره ورسره وه چې خپل مخکني امتيازات به له لاسه ورکړي، د شيطان په دې قصې کې د دوی د مخالفت څرنګوالی او اسباب انځور شوي.

قَالَ هَٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ مُسۡتَقِيمٌ ٤١ إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٌ إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ ٤٢ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوۡعِدُهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٤٣ لَهَا سَبۡعَةُ أَبۡوَٰبٖ لِّكُلِّ بَابٖ مِّنۡهُمۡ جُزۡءٞ مَّقۡسُومٌ ٤٤

وئې ويل: همدا تر ما پورې (رسېدونکې) مستقيمه لار ده، يقيناً چې زما پر بندګانو دې هيڅ برلاسی او سلطه نشته، مګر پر هغو لارورکو ئې چې ستا متابعت وکړي، او يقيناً

چې دوزخ د دوی ټولو موعد دئ، چې اوه دروازې ئې دي، د هرې دروازې لپاره د دوی
یوه وېشل شوې برخه ده.

(٤١-٤٤)- الله تعالی د شیطان په ځواب کې فرمایلي:

- همدا تر ما پورې (رسېدونکې) مستقیمه لار ده، زما بندګان د اخلاص له لارې ما ته رانږدې کېدی شي.
- زما پر هیڅ بنده دې هیڅ تسلط نشته، نه پر مخلصینو او نه پر غیرمخلصینو. د آیت د دې فقرې الفاظ په ډېر تأکید او قاطعیت سره موږ ته وایي چې شیطان او د ده قبیله (پېریان) پر انسانانو هیڅ سلطه نه لري، نه ئې کوم غلط کار ته اړ کولی شي او نه کوم ضرر او تاوان وررسولی شي. دا د هغو خلکو د رأیې بشپړ تردید کوي چې وایي: پېریان کولی شي انسان ته تاوان او ضرر ورسوي.
- هغه څوک به ستا ملګرتیا او متابعت کوي چې لارورکی دئ، هیڅ صالح انسان او د بصیرت خاوند به ستا متابعت ونه کړي.
- د ټولو هغو لارورکو ځای دوزخ دئ چې ستا متابعت کوي.
- دا دوزخ اوه دروازې لري، له هرې دروازې به ئې ستا د ملګرو خاصه ډله ننوځي. دا ښیي چې دوزخ ته د ننوتو اوه اساسي اسباب دي، اوه ستر ستر ګناهونه دي چې انسان دوزخ ته رسوي، هره یوه ئې د دوزخ یوه دروازه د انسان پر مخ پرانېزي. دا ګناهونه کوم دي، د قرآن د لارښوونو په رڼا کې ئې پېژندی شو. قرآن دغه ګناهونه په جهنم کې د تل پاته کېدو سبب ښودلي:

١. کفر او له الله تعالی انکار.
٢. کذب او دروغ؛ په ځانګړې توګه د الهي آیتونو، د هغه د کتاب او پیغمبر تکذیب، لکه چې قرآن فرمایي:
وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَـٰتِنَآ أُوْلَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿٣٩﴾
البقره: ٣٩
٣. شرک، په عبادت او استعانت کې له الله تعالی سره بل څه او بل څوک شریکول. لکه چې قرآن فرمایي: مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُواْ مَسَـٰجِدَ ٱللَّهِ شَـٰهِدِينَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِم بِٱلْكُفْرِ ۚ أُوْلَـٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَـٰلُهُمْ وَفِى ٱلنَّارِ هُمْ خَـٰلِدُونَ ﴿١٧﴾ التوبه: ١٧
٤. د هغه نفس وژنه چې الله تعالی ئې وژل حرام کړي، په ځانګړې توګه د مؤمن قتل، چې قرآن په دې اړه فرمایي: وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَـٰلِدًا فِيهَا وَغَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُۥ وَأَعَدَّ لَهُۥ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿٩٣﴾ النساء: ٩٣
٥. سود اخیستل، لکه چې قرآن فرمایي: ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِى يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيْطَـٰنُ مِنَ ٱلْمَسِّ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلْبَيْعُ مِثْلُ ٱلرِّبَوٰاْ ۗ وَأَحَلَّ

ٱللَّهُ ٱلۡبَيۡعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمۡرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَنۡ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ (٢٧٥) البقره: ٢٧٥

٦. د يتيم مال خوړل؛ لكه چې قرآن فرمايي: إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلۡيَتَٰمَىٰ ظُلۡمًا إِنَّمَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ نَارٗاۖ وَسَيَصۡلَوۡنَ سَعِيرٗا (١٠) النساء: ١٠

٧. له كافر سره موالات او دوستي، چې قرآن په دې اړه فرمايي: تَرَىٰ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ يَتَوَلَّوۡنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ لَبِئۡسَ مَا قَدَّمَتۡ لَهُمۡ أَنفُسُهُمۡ أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَفِي ٱلۡعَذَابِ هُمۡ خَٰلِدُونَ



المائده: ٨٠

إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ (٤٥) ٱدۡخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ءَامِنِينَ (٤٦) وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلٍّ إِخۡوَٰنًا عَلَىٰ سُرُرٖ مُّتَقَٰبِلِينَ (٤٧) لَا يَمَسُّهُمۡ فِيهَا نَصَبٞ وَمَا هُم مِّنۡهَا بِمُخۡرَجِينَ (٤٨)

يقيناً چې متقيان به په جنتونو او چينو كې وي، (ورته وبه ويل شي:) په سلامتيا سره خوندي ورننوځئ، او په سينو كې ئې چې كومه كينه او رخه وه هغه به ترې وباسو، د ورونو په څېر يو بل ته مخامخ پر تختونو ناست، نه به ئې ستوماني په برخه كېږي او نه به ترې ايستونكي وي.

(٤٥-٤٨)- دلته د دوزخيانو د حال له بيانولو وروسته د جنتيانو حال بيانوي او فرمايي:

- دوی متقيان دي او هغه جنتونه به ئې په برخه شي چې چينې په كې بهېږي.
- دوی ته به وويل شي: روغ رمټ او له هر مصيبت او كړاو نه د تل لپاره خوندي؛ جنت ته ننوځئ.
- كه په دنيا كې د دوی تر منځ څه لانجه راولاړه شوې وه او يوه د بل په اړه كومه

کينه او رخه په سينه کي درلوده، دا به ئي له سينو وايستل شي، د ورونو په څېر به يو بل ته مخامخ پر تختونو ناست وي.

- هلته به ئي نه کله ستوماني په برخه کېږي او نه به هيڅکه ترې وايستل شي.

نَبِّئۡ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ ٱلۡعَذَابُ ٱلۡأَلِيمُ ﴿٥٠﴾

زما بندگانو ته خبر ورکړه چي يقيناً زه مهربان بخښونکی يم، او دا چي زما عذاب سخت دردوونکی عذاب دئ.

(٤٩-٥٠)- په دې زړه راښکونکي مبارك آيت کي زموږ مهربان رب رسول الله ﷺ ته څو سپارښتني کړې:

- زما ټولو بندگانو ته خبر ورکړه چي زه نه يوازې بخښونکی يم او د خپل گنهگار بنده گناهونه بخښم بلکي رحيم او مهربان بخښونکی يم، مغفرت غوښتونکو ته پر بخښني سربېره د خپلو پراخو پېرزوينو او رحمت دروازې پرانېزم. له کفر، شرك، ظلم او فساد لاس واخلئ او د مهربان بخښونکي رب لورې ته راشئ.
- دا هم ورته ووايه چي زما عذاب سخت دردوونکی عذاب دئ، که توبه ونه کړئ، له بغاوت او گناه لاس وانه خلئ، په سخت دردوونکي عذاب به اخته شئ.

وَنَبِّئۡهُمۡ عَن ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ﴿٥١﴾ إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗا قَالَ إِنَّا مِنكُمۡ
وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾ قَالُواْ لَا تَوۡجَلۡ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ ﴿٥٣﴾ قَالَ أَبَشَّرۡتُمُونِي عَلَىٰٓ أَن
مَّسَّنِيَ ٱلۡكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ ﴿٥٤﴾ قَالُواْ بَشَّرۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡقَٰنِطِينَ
﴿٥٥﴾ قَالَ وَمَن يَقۡنَطُ مِن رَّحۡمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ ﴿٥٦﴾

او د ابراهيم د مېلمنو له حاله ئي خبر کړه، هغه مهال چي خوا ته ئي داخل شول نو وئي ويل: سلام؛ وئې ويل: موږ خو له تاسو وېرېدونکي يو، وئې ويل: مه وېرېږه، موږ تا ته د يوه پوه زوی زېری درکوو. وئې ويل: آيا په داسي حال کي زېری راکوئ چي زړښت مي په برخه شوی، نو په څه توگه زېری راکوئ؟، وئې ويل: په رښتيا سره زېری درکوو، نو له نا هيلو څخه مه کېږه، وئې ويل: له لارورکو پرته به بل څوك وي چي د خپل رب له رحمته مأيوس کېږي.

(٥١-٥٦)- د دې مبارك آيت په معنی د ښه پوهېدو او له مخکنيو آيتونو سره ئي د ارتباط په څرنگوالي د پوهېدا لپاره بايد دا خبري په پام کي ولرو:

- د ابراهيم عليه السلام دا مېلمانه هغه فرښتي وې چي د لوط عليه السلام د دعاء له امله د هغه مرستي ته

لېږل شوي وو خو د څو زلميانو په بڼې کې، مخکې له دې چې هلته ورشي د ابراهيم عليه السلام خوا ته ورغلي، هغه هم د زلمو مېلمنو ګمان پرې کړی، او وريته غوښه ئې مخې ته ورته ايښې.

- که ګورې چې مېلمانه ئې د خوارو لوښي ته لاس نه وروړي، وېره ورسره راپيدا شوې او داسې ئې انګېرلې چې ښايي دا ناآشنا مېلمانه به د دښمنۍ او تاوان رسولو اراده لري.
- **مېلمنو ئې اطمئنان ورکړی چې مه وېرېږه، مونږ تا ته د يوه پوه زوی زېری درکوو.**
- ده په ځواب کې ورته ويلي: آيا په داسې حال کې زېری راکوئ چې زړښت مې په برخه شوی، نو په څه توګه زېری راکوئ؟ څنګه به مې زوی په برخه کېږي؟
- فرشتو ورته ويلي: زموږ زېری رښتينی دئ، حتماً به تحقق مومي، د هغو خلکو په څېر مه کېږه چې يأس پرې سيوری غوړولی او ناهيلي دي.
- ابراهيم عليه السلام ورته ويلي: د خپل رب له رحمته خو به هغه څوك مأيوس کېږي چې لاروركی وي او خپل مهربان رب نه پېژني.
- ابراهيم عليه السلام ته دا زيری عجيب غوندې برېښېدلی او ويلي ئې دي: آيا په داسې حال کې د زوی او لمسي زيری راکوئ چې زوړ شوی يم؟ بيا ئې له فرشتو پوښتلي چې ستاسو مأموريت څه دئ؟ هغوی ورته ويلي: د يوه مجرم او بدکار قوم په لوري لېږل شوي يو، د لوط له کورنۍ پرته به نور؛ د ده د مېرمنې په شمول؛ د الله تعالی په عذاب اخته کېږي. او په دې سره قرآن موږ ته وايي چې ابراهيم عليه السلام او د ده مېرمنې ته د غيب خبرې د حيرت او تعجب وړ وې، حتی په دې هم نه پوهېدل چې الله تعالی به دوی ته زوی او لمسی ورکوي، په دې هم نه پوهېدل چې د لوط عليه السلام پر قوم به الهي عذاب نازلېږي، د لوط عليه السلام کورنۍ به ژغورل کېږي او مېرمن به ئې د نورو په څېر په الهي عذاب اخته کېږي!! په دې نه پوهېدل چې راغلي مېلمانه انسانان نه بلکې فرشتې دي، په دې هم نه پوهېدل چې ولې څه نه خوري، حتی ترې وېرېدلي.
- په دې توګه د بخښونکي مهربان رب د پېرزوينو يوه ښکلې او په زړه پورې ببلګه زموږ مخې ته انځور شوې، په زوړوالي او داسې وخت کې ابراهيم عليه السلام ته د زوی او لمسي زېری ورکړی شوی چې په خيال کې ئې هم دا خبره نه ګرځېده او تصور ئې هم نشو کولی، خو الهي وعده ترسره شوه او د داسې زوی او لمسي خاوند شو چې نه يوازې په خپله د پيغمبرۍ لوړ مقام ته ورسېدل بلکې ټول وروستني پيغمبران عليهم السلام د دوی په اولاد کې مبعوث شول.

قَالَ فَمَا خَطۡبُكُمۡ أَيُّهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٥٧﴾ قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ ﴿٥٨﴾ إِلَّآ
ءَالَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٥٩﴾ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَآ ۙ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ



وئې ويل: اې استازو! ستاسو مأموريت څه دئ؟ (هغوی) وويل: د يوه مجرم او بدکار قوم په لوري لېږل شوي يو، د لوط له کورنۍ پرته چې موږ د دوی ټولو ژغورونکي يو، مګر مېرمن ئې چې د دې په اړه مو دا پرېکړه مقدره کړې چې له وروسته پاتو څخه به وي.

(٥٧-٦٠)- دا مبارك آيات څو مهمې لارښوونې لري:

- کله چي ابراهیم علیه السلام پوه شو چي مېلمانه ئې د الله تعالی له لوري لېږل شوې فرشتې دي، نو پوښتنه ئې ترې وکړه چي د څه لپاره په دې بڼې کي راغلي يئ؟ نه پوهېدو چي مأموريت ئې څه دئ!! او دا موږ ته ښيي چي پيغمبران په غيب نه پوهېږي، ابراهيم عليه السلام او د ده مېرمني تر هغه فرشتې ونه پېژندې چي دوی په خپله ځان معرفي کړ، په دې نه پوهېدو چي ده ته د زوی زېری له ځان سره لري، د زېري له اورېدو وروسته متردد وو چي دا زېری څنګه دئ او څنګه به تحقق مومي، په دې نه پوهېدو چي دا فرشتې د څه لپاره راغلې او مأموريت ئې څه دئ، په دې نه پوهېدو چي د ده له وراره لوط عليه السلام سره به څه کېږي، آيا عجيبه نه ده چي څوك د داسي صريح او روښانه لارښوونو سره سره دا ادعاء کوي چي پيغمبران په غيب پوهېږي؟!!
- فرشتو ورته وويل: د يوه داسي مجرم او بدکار قوم په لوري لېږل شوي يو چي د الهي عذاب مستحق دئ، په دې قوم کي لوط عليه السلام مېشت دئ، د ده ټوله کورنۍ به ژغورو، مګر مېرمن ئې چي د دې په اړه دا پرېکړه شوې چي له وروسته پاتو څخه به وي په الهي عذاب به اخته کېږي.

فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٌ مُّنكَرُونَ ﴿٦٢﴾ قَالُواْ بَلۡ
جِئۡنَٰكَ بِمَا كَانُواْ فِيهِ يَمۡتَرُونَ ﴿٦٣﴾ وَأَتَيۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٦٤﴾
فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٍ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَٱتَّبِعۡ أَدۡبَٰرَهُمۡ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٌ وَٱمۡضُواْ
حَيۡثُ تُؤۡمَرُونَ ﴿٦٥﴾ وَقَضَيۡنَآ إِلَيۡهِ ذَٰلِكَ ٱلۡأَمۡرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقۡطُوعٌ
مُّصۡبِحِينَ ﴿٦٦﴾

او کله چي د لوط ټبر ته استازي ورغلل، وئې ويل: تاسو خو ناآشنا وګړي يئ، وئې ويل: داسي نه ده بلکي هغه څه مو درته راوړي چي دوی په کي شك کولو، او له حق سره درته راغلي يو او موږ رښتيني يو، نو د شپې په يوې برخي کي خپل کهول تر مخ روان کړه او ته ئې تر شا ورپسې شه، او ستاسو هيڅ يو دې شا ته نه ګوري او همغه لوري ته ولاړ شئ چي پرې ګمارل کېږئ، او ده ته مو د دې کار پرېکړه واوروله چي د دغو جرړي به سبا سهار قطع کېږي.

(٦١-٦٦)- د فرشتو همغه ټولګی د لوط علیه السلام خوا ته ورغی، هغه ته هم پردي او ناآشنا معلوم شول، ورته وئې ويل: تاسو خو ناآشنا وګړي يئ، فرشتو ورته وويل: پردي نه يو، بلکي هغه څه مو درته راوړي چي دوی په کي شك کولو، دوی د الهي عذاب غوښتنه کوله او تا ته ئې ويل: که ته د الله تعالی رښتينی پيغمبر يې نو پر موږ الهي عذاب نازل کړه، موږ د دغه عذاب پرېکړه له ځان سره لرو، همغه حقيقت مو درته راوړی چي دوی نه منلو، موږ رښتيني يو، عذاب راتلونکی دئ، ته د شپې په يوې برخي کي خپل کهول له سيمي وباسه، دوی وړاندي او ته ئې ترشا روان شئ، ستاسو هيڅ يو دې شا ته نه ګوري، هيڅا ته التفات او اعتناء مه کوئ، همغه

لوري ته ولاړ شئ چې پرې ګمارل کېږئ، او لوط علیه السلام ته اطلاع ورکړی شوه چې سبا سهار به هغه مهال د دې مجرم قوم جرړې قطع کېږي او ټغر به ئې ټولېږي چې شپه ئې پای ته رسولې او سباوون پیلوي.

وَجَآءَ أَهۡلُ ٱلۡمَدِينَةِ يَسۡتَبۡشِرُونَ ﴿٦٧﴾ قَالَ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ ضَيۡفِي فَلَا تَفۡضَحُونِ ﴿٦٨﴾
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ ﴿٦٩﴾ قَالُوٓاْ أَوَلَمۡ نَنۡهَكَ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٠﴾ قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ
بَنَاتِيٓ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ﴿٧١﴾ لَعَمۡرُكَ إِنَّهُمۡ لَفِي سَكۡرَتِهِمۡ يَعۡمَهُونَ ﴿٧٢﴾ فَأَخَذَتۡهُمُ
ٱلصَّيۡحَةُ مُشۡرِقِينَ ﴿٧٣﴾ فَجَعَلۡنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ حِجَارَةٗ مِّن سِجِّيلٍ


او د ښار اوسېدونکي خوښي کوونکي راغلل، وئې ویل: دا کسان مې مېلمانه دي نو سپکاوی مه رااړوئ، او له الله ووېرېږئ او مه مې شرموئ، وئې ویل: آیا ته مو له داسې وګړو نه وې منع کړی؟ وئې ویل: که د کوم کار (نکاح) کولو اراده لرئ نو دغه دي زما لوڼې، ستا په عمر لوړه چې دوی په یقیني توګه په خپلې بې سدۍ (بدمستۍ) کې لالهانده دي، نو په سباوون کې هغې لوړې چیغې ونیول، نو موږ ئې لوړې ورلاندې کړې او پر دوی مو د پخې شوې ختې ډبرې ووروړې.

(٦٧-٧٤)- د دغو آیتونو په اړه څو عرایض لرم:

- په دې اړه د هود د سورې (٧٧-٨٣) آیتونو په شرحې کې تفصیلي بحث شوی هلته مراجعه وکړئ.
- دا آیتونه وايي چې د مېلمنو په راتلو سره د ښار اوسېدونکي خبر شول، خوښ او مست د ده کور ته ورغلل، لوط علیه السلام ورته وویل: دا زلمیان مې مېلمانه دي ما ته سپکاوی مه راړوئ، له الله تعالی ووېرېږئ او ما مه شرموئ، هغو بدمستو ورته وویل: آیا ته مو له دې نه وې منع کړی چې داسې وګړي به نه مېلمانه کوې؟ دوی له خپل کور څخه وباسه، موږ ته ئې تسلیم کړه، لوط علیه السلام ورته وویل: که د نکاح اراده لرئ نو زما د ولس لوڼو ته چې زه ئې خپلې لوڼې ګڼم مخه کړئ، یقیناً چې دوی خپلې مستۍ بې سده کړي ول او په تلوار او ټینګار سره ئې مېلمانه ترې غوښتل. نو په سباوون کې هغې لوړې چیغې چې سخته زلزله ورپسې وه ونیول، د ښار لوړې نسکورې او کورونه لاندې باندې شول، زمکه وچاوده، ښار او ښاریان ئې په ستړې کندې کې ښخ شول او له پاسه د پخې شوې ختې ډبرې پرې ووربدې.
- ځینو مفسرینو یرغل کوونکو ته د لوط علیه السلام د دې وینا (دا دي زما لوڼې) په اړه ویلي چې له دې خبرې ئې مراد دا وو: زما د ولس لوڼو ته چې زه ئې خپلې لوڼې ګڼم مخه کړئ. ځینو ویلي چې له خپلو لوڼو سره ئې د نکاح وړاندیز ورته کړی. بایبل وايي چې د لوط علیه السلام دوه لوڼې وې، دواړه ئې واده شوې وې، د هجرت په وخت کې ئې د ده ملګرتیا وکړه، زومانو ئې دی او د ده لوڼې یوازې پرېښودل او په ښار کې پاته شول، که دا خبرې رښتیا وي نو بیا خو کېدی شي چې د لوط علیه السلام زومانو لا د مخه د ده لوڼو ته طلاق

ورکړی وي، (همغسي لکه چي د رسول الله ﷺ دوو زومانو چي د ابو لهب زامن ول د ده لونو ته طلاق ورکړ)، ښايي دغه دواړه زومان ئې هم د ده پر کور د راغونډېدو پر مهال له نورو سره يو ځای وو او لوط عليه السلام دوی ته ويلي وي چي که د نکاح اراده لرئ نو دا دي زما هغه لوڼي چي تاسو طلاق ورکړی.

- **د دې آيت (لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِى سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ : ستا په عمر لوړه چي دوی په يقيني توگه په خپل بې سده او د مستئ حالت کي لالهانده دي) په اړه په تفسيرونو کي دوه د اعتناء وړ تعبيرونه مومو، ځيني وايي چي دلته خطاب رسول الله ﷺ ته متوجه دئ او الله تعالی د ده پر عمر لوړه کړې، نور وايي چي دلته خطاب د فرشتو له لوري لوط عليه السلام ته متوجه دئ او هغوی د لوط عليه السلام په عمر لوړه کړې، په دې دواړو آراوو کي کومه يوه په کوم دليل غوره کولی شو، په دې اړه بايد ووايو: دوه دلائل داسي دي چي ښيي دوهمه توجيه صحيح ده: ۱- د کلام تسلسل او نظم دا ايجابوي چي دا به د فرشتو د مخکني کلام تتمه وي او دوی به لوط عليه السلام ته د خپلو خبرو په پای کي دا وينا کړې وي، د کلام الفاظ داسي دي چي ښيي خطاب لوط عليه السلام ته متوجه دئ او ده ته ويل شوي چي دوی په خپلي بدمستئ او بې سدئ کي لالهانده دي، که دا خطاب رسول الله ﷺ ته متوجه وی نو بايد د ماضي په صيغه او داسي ويل شوي وی چي هغوی د بې سدئ په حالت کي ول. ۲- د قرآن ټول قسمونه د استشهاد لپاره دي، دا قسمونه د دې لپاره نه دي چي گواکي الله تعالی د خپل مخاطب د قانع کولو او د ده د تشويش رفع کولو لپاره په کوم ستر او با عظمته شي لوړه کړې!! دا نه د قسم د مفهوم او معنی په اړه صحيح تعبير دئ او نه د قرآن د قسمونو سم تفسير، هر قسم د استشهاد لپاره وي، دلته که په (عمرك) کي اشاره د رسول الله ﷺ عمر ته راجع وگڼو نو د قسم له ځواب سره ئې هيڅ تړاو نه تر سترگو کېږي، خو که ئې د لوط عليه السلام عمر ته راجع وگڼو نو تړاو ئې ډېر ځرگند او واضح دئ او هغه دا چي د لوط عليه السلام ټول عمر شهادت ورکوي چي د ده مخاطب قوم په بدمستئ کي غرق وو، د ده دعوت ته ئې اعتناء ونه کړه او له فساد او گناه لاس په سره نشول. دا همغسي ده لکه چي د هود د سورې په ۷۸ آيت کي ويل شوي: (وَجَآءَهُۥ قَوْمُهُۥ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ وَمِن قَبْلُ كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ او قوم ئې په منډه منډه ورته راغی او تر دې مخکي ئې هم بدکارونه کول)، د (لعمرك انهم لفی سکرتهم يعمهون) معنی همغه ده چي په (ومن قبل كانوا يعملون السيئات) سره بيان شوې. بايد دې ته متوجه وو چي کله موږ لوړه کوو د مثال په توگه وايو: پر الله تعالی قسم کوم چي رښتيا وايم؛ معنی ئې دا ده چي الله تعالی شاهد دئ چي زه رښتيا وايم، که قسم د تعظيم لپاره وی نو بيا خو به موږ ته دا جائزه وه چي ووايو: په مسجدالحرام قسم، په قرآن قسم، پر پيغمبر قسم، شريعت به داسي قسمونه ناجائز نه گڼل، خو داسي قسمونه نه يوازي جائز نه دي بلکي د مفهوم او معنی له پلوه صحيح هم نه دي، دا ځکه چي دا شيان (مقسم به) زما د رښتينولئ شاهد او گواه نه دي، يوازي الله تعالی زما په اړه شاهد کېدی شي، نو يوازي پر الله تعالی لوړه او قسم د معنی او مفهوم له پلوه صحيح او له شرعي پلوه جائز دئ. په بل څه قسم د معنی له پلوه غلط او له شرعي پلوه ناجائز دئ. الله تعالی چي په کومو شيانو لوړه کړې هغه ئې د شاهد په توگه**

وړاندې کړی، د مثال په توګه الله تعالی په هغه سیند لوړه کړې چې د فرعونیانو په مړو ډک شو (والبحر المسجور)، او وروسته ئې ویلي: یقیناً چې ستا د رب عذاب واقع کېدونکی دئ، هیڅ دفع کوونکی ئې نشته، د دې مقصد دا دئ چې: د فرعونیانو په مړو ډک بحر ګواهي ورکوي چې د الهي عذاب د وقوع مخه هیڅوک په هیڅ ځواك سره نشي نیولی، د فرعون لښکرو دا عذاب تم نکړی شو، د فرعونیانو په مړو ډك بحر ګواهي ورکوي چې که د زماني د هر فرعون په وړاندې د موسی په څېر مجاهد راپیدا شو نو د دې فرعون برخلیك به داسي وي لکه د مخکني فرعون. خو که له بحرالمسجور نه بل څه مراد کړو نو نه یوازي د الهي کلام نظم او تسلسل مو له پامه غورځولی بلکي د قسم او ځواب تر منځ هیڅ تړاو نشو په ګوته کولی.

- **زه د لوړي چیغي او د ډبرو د وریدو په حقیقت ښه نه پوهېږم، په تفسیرونو کي مي بېلابېل اراء لیدلي وو، ځینو لیکلي چي داسي توند باد پرې راغلی چي وړې ډبري ئې پر دوی ورولې، ځینو ویلي چي زمکه چاودلې او له منځه ئې مذاب (ویلي توکي) راوتلي، بر تللي او د پخو ډبرو په بڼي کي پر دوی ورېدلي، ځیو ویلي چي فرشتو پر دوی ډبري ورولې، زه د کشمیر زلزلې په دې پوه کړم، دلته زلزله له یوه لوړ او هیبتناك غږ سره توأم وه، په لویو زلزلو کي د زمکي د چاودېدو ډېر هیبتناك او درونډ غږ وي، غرونه راوښوېدل، له غرونو ډبري راوړغړېدې، ډېر کورونه ترې لاندي شول، چا چي دا صحنه په خپلو سترګو لیدلې وه، ویل ئې: له رارغړېدونکو لویو او وړو تیږو به یوې بلې خوا ته تښتېدلو، د شپې به مو له زلزې سره سم د موټرو څراغونه د غره لوري ته مخامخ کړل تر څو د ډبرو رارغړېدل وګورو او له هغو ځان خوندي کړو چي زمونږ په لور راځي، د لوط د قوم په هکله چي څه ویل شوي له هغه معلومېږي چي هلته هم زلزله له یوې لویې چاودني او هیبتناك غږ سره یو ځای وه، زمکه ناسته ده، کورونه رانسکور شوي او پړمخي راپرېوتي، او له بره تیږې پرې رارغړېدلې او راورېدلې، اوس هغه سیمه له اوبو ډکه شوې او بحیره ترې جوړه شوې، د کیندنو په ترڅ کي د یوه نسکور شوي ښار آثار ترلاسه شوي.**

إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَأَيَـٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴿٧٦﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَأَيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾

یقیناً چي په دې کي د فراست خاوندانو ته څرګندي نښي دي، او یقیناً چي دا ښار د تګ راتګ په عامه لار پروت دئ، او په رښتیا چي په دې کي د مؤمنانو لپاره څرګنده نښه ده.

(۷۵-۷۷)- په دې مبارکو آیتونو کي څو لارښووني شوي:

- په دې قصي کي د عقلمنو او فراست خاوندانو ته څرګندي نښي دي، هغوی پوهېږي چي قریش، د دوی کړني او له رسول اللهﷺ سره د دوی مخالفت داسي دي لکه د لوط علیه السلام قوم، د هغوی کړني او د هغوی مخالفتونه، که توبه ونه کړي، ایمان رانه وړي او له مخالفتونو لاس وانه خلي پایله به ئې همغسي وي لکه د لوط

عليه السلام د قوم پايله.

• دا د کوم مجهول او نوم ورکي خيالي ښار او سيمې قصه نه ده، د داسې ستر او مشهور ښار قصه ده چې د تګ راتګ په عامه لار پروت وو، ټولو ته هغه ښار او د هغه د اوسېدونکو دردناك برخليك معلوم دئ. دا له حجاز تر شام پورې او له عراق تر مصر پورې تللې لارې باندې پروت ښار وو، کومې قافلې چې په دې لارې تلې راتلې د دې ښار د ورانو ويجاړو نښې ئې په خپلو سترګو ليدې، او تر نن پورې ځرګندې پرتې دي، دا سيمه د بحر لوط ختيځ او جنوب ته پرته سيمه ده، د جنوبي برخې په اړه ئې د څېړونکو رأيه دا ده چې دلته د ورانو او ويجاړو دومره آثار تر سترګو کېږي چې د نړۍ په هيڅ ګوټ کې ئې بېلګه نشو موندلی.

• په دې کې د مؤمنانو لپاره په يقيني توګه ځرګنده نښه ده، دوی بايد ډاډه او مطمئن وي چې الله تعالی به ئې د لوط عليه السلام د مؤمن ټبر په څېر ژغورې، که څه هم شمېر ئې د يوې کورنۍ د غړو په اندازه وي.

وَإِن كَانَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَيۡكَةِ لَظَٰلِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٖ مُّبِينٖ ﴿٧٩﴾

او يقيناً چې ايکه وال ظالمان ول، نو انتقام مو ترې واخيست او ربښتيا خبره دا ده چې دا دواړه سيمې په ځرګنده توګه ټولو ته مخامخ پرتې وې.

(٧٨-٧٩)- ايکه د شعيب عليه السلام د قوم سيمه وه، مرکزي ښار ئې مدين نومېدو، ټوله سيمه د مدين په نامه هم يادېده، ايکه چې لغوي معنی ئې ګڼ ځنګل دئ د تبوك سيمې ته ويل کېدل، اوس هم يو خوړ د ايکه په نامه يادېږي چې له جبل اللوز تر اَقَل پورې غزېدلی دئ. دا ښار هم له حجاز تر فلسطين او شام پورې تللي لارې په څوا کې پروت وو. ايکه والو هم د ظلم لار غوره کړه او له الهي انتقام سره مخامخ شول، دا دئ د ويجاړو کورونو نښې ئې ستاسو مخې ته پرتې دي.

وَلَقَدۡ كَذَّبَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡحِجۡرِ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٨٠﴾ وَءَاتَيۡنَٰهُمۡ ءَايَٰتِنَا فَكَانُواْ عَنۡهَا
مُعۡرِضِينَ ﴿٨١﴾ وَكَانُواْ يَنۡحِتُونَ مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتًا ءَامِنِينَ ﴿٨٢﴾ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ
مُصۡبِحِينَ ﴿٨٣﴾ فَمَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٨٤﴾

او يقيناً چې حجروالو پيغمبران تکذيب کړل، او موږ خپل آيتونه وروړاندې کړل خو دوی ترې اعراض کوونکي شول، او له غرونو به ئې کورونه تراشل چې خوندي وي، نو په سباوون کې يوې لوړې چيغې ونيول او خپلو لاس ته راوړنو هيڅ څه ترې دفع نکړی شو.

(٨٠-٨٤)- په دې مبارکو آيتونو کې د ثموديانو د بغاوت د بدو پايلو په اړه په اختصار سره لاندې دردناك حقايق زموږ مخې ته ايښودل شوي:

• دوی هم د پيغمبرانو عليهم السلام د دعوت مخالفت ته ملا وتړله او له هغو ځرګندو الهي آيتونو ئې بغاوت وکړ چې د پيغمبرانو له لورې دوی ته وړاندې شول.

- د خپلي زماني پرمخ تللی قوم وو، د غرونو په ډبرو کي به ئې ځان ته خوندي او مجلل کورونه جوړول، ډبري به ئې تراشلي او په هغوی کي به ئې خوندي خوني جوړولې.
- پر دوی هم الهي عذاب نازل شو، د شپې په پای او سباوون کي يوې لوړي چيغي ونيول.
- خپلو خوندي کورونو له الهي عذابه ونشو ژغورلی.

الحجر د ثموديانو مرکزي ښار وو، وراني کنډوالي ئې د مديني شمال مغرب لوري ته د العلاء له ښار څو ميله آخوا، له مديني د تبوك په لوري تلونکي لاري په اړخ کي پرتې دي، **تلونکو قافلو به په خپلو سترگو ليدلې، هر چا ته ئې د دې قوم بده پايله وريادوله، په غرونو کي د تراشلو کورونو آثار ئې تر اوسه پاته دي. په رواياتو کي راځي چي پيغمبر عليه الصلاة و السلام د تبوك په جنگ کي د ثموديانو سيمي (الحجر) ته ورسېدو او خپلو يارانو ته ئې وفرمايل چي دلته توقف مه کوئ.**

عن عبد الله بن عمر قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو بالحجر [لا تدخلوا على هؤلاء المعذبين إلا أن تكونوا باكين فإن لم تكونوا باكين فلا تدخلوا عليهم أن يصيبكم مثل ما أصابهم.

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه مهال چي په الحجر کي وو وفرمايل: د دغو تعذيب شوو خلکو سيمي ته له ژړا پرته مه ننوځئ او که ژړا نه درځي نو مه ورننوځئ، داسي نه چي تاسو ته همغه څه دروررسېږي چي دوی پرې اخته شوي وو.

قرآن په بل ځای کي فرمايي چي ثموديانو له قيامته د انکار په وجه بغاوت وکړ او الله تعالی د دې بغاوت او طغيان مناسبه سزا ورکړه، عذاب ئې داسي لکه د دوی خپل طغيان، باغي او طغيانگر عذاب، چي قرآن د الاعراف سورې په ۷۸ آيت کي د الرجفة (زلزله او شديد ټکان) په نامه او د هود د سورې په ٦۷ آيت کي ئې د الصيحه (تونده او هېبتناکه چيغه) او د حم سجده سورې په ۱۷ آيت کي ئې د الصاعقة (تندر) په نامه ياده کړې، يعني دا طاغي عذاب له سختي زلزلې، تونديو او هيبتناکي چيغي او آسماني تندر سره توأم وو.

وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۗ وَإِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَـَٔاتِيَةٌ ۖ فَٱصْفَحِ ٱلصَّفْحَ ٱلْجَمِيلَ ﴿٨٥﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلْخَلَّـٰقُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٨٦﴾

او ځمکه، آسمانونه او د دوی په منځ کي هر څه مو نه دي پيدا کړي مگر په حق سره، او يقيناً چي (د قيامت) هغه (ټاکلی) ساعت هرومرو راتلونکی دئ، نو په غوره مخ اړولو سره مخ (ترې) واړوه. بې شکه چي ستا رب ښه پوه پيدا کوونکی دئ.

(۸۵-۸٦)- دا مبارك آيتونه له يوې خوا د مخکنيو آيتونو لپاره يوه تتمه او نتيجه ده او له بلي خوا مخاطب ته ~~لارښوونه کوي چي قيامت حتماً راتلونکی دئ، الله تعالی ډېر پوه خالق دئ، د خلکو بيا ژوندي کول ورته آسان~~ کار دئ، نو د مخالفينو اعتراضاتو ته هيڅ اعتناء مه کوه. خلاصه ئې په دې توگه ده:

- د مخکنیو ظالمانو مجازات ښیي چې الله تعالی دا آسمانونه او ځمکه په حق ولاړ پیدا کړي، دلته د باطل لپاره د بقا او دوام لوازم او مجال نشته، د آسمانونو او ځمکې هیڅ څه د باطل ملا تړ او تأیید نه کوي.
- د مکافات او مجازات دغه مخکنی بېلګې ښیي چې الله تعالی له خپلو بندګانو سره محاسبه کوي، مجرم ته سزا ورکوي او مؤمن ته د خپلو نېکو عملونو غوره بدله، پر یوه ستر ستر عذابونه نازلوي او جرړې ئې باسي او بل ژغوري او بریا ورپه برخه کوي، نو دا ښیي چې د قیامت او د اخروي مکافات او مجازات وعده رښتینې او حق ده. نو د هغه چا د اعراض او مخالفت پروا مه کوه چې د قیامت راتګ نه مني، د دوی بې بنسټه اعتراضاتو ته هیڅ اعتناء مه کوه.
- څوك چې بیاژوندون محال او ګران کار ګڼي هغه خپل رب سم نه دئ پېژندلی، د الله تعالی په اړه ئې باور او تصور ناقص دئ، نه پوهېږي چې الله تعالی ډېر پوه او ډېر ځواکمن خالق او پیدا کوونکی دئ. آیا هغه ذات چې دا پراخ عالم ئې له بې شمېره مخلوقاتو سره پیدا کړی له دې عاجز ګڼي چې انسان بیا راپیدا کړي؟!!

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ سَبۡعٗا مِّنَ ٱلۡمَثَانِي وَٱلۡقُرۡءَانَ ٱلۡعَظِيمَ ﴿٨٧﴾

او یقیناً چې تا ته مو تکرار شوي اوه ګوني او ستر قرآن درکړی.

(۸۷)- د دې مبارك آیت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- رسول اللهﷺ ته ویل شوي چې تا ته مو تکرار شوي اوه ګوني او ستر قرآن درکړي. له سبعاً من المثاني نه مراد د فاتحې سورې هغه اوه آیتونه دي چې په قرآن کې په مکرره او مشرح توګه راغلي، او له قرآن العظیم نه ټول قرآن مراد دئ، د دې معنی دا ده چې قرآن د فاتحې سورې شرح او تفصیل دئ او په دې سوره کې ټول قرآن راخلاصه شوی.
- له مخکني بحث سره د دې آیت ارتباط داسي دئ: نه یوازې مخکني دلائل او له مخکنیو قومونو سره الهي محاسبه دا ثابتوي چې قیامت حق او حتماً راتلونکی دئ بلکې دغه عظیم قرآن د قیامت د راتلو په اړه بې شمېره دلائل وړاندې کوي.
- که څوك غواړي هغه دلائل له نظره تېر کړي چې د قیامت د اثبات لپاره په قرآن کې راغلي نو د فاتحې د سورې د دریم آیت تفسیر او په (آخرت ایمان) رساله دې ولولي.

لَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّنۡهُمۡ وَلَا تَحۡزَنۡ عَلَيۡهِمۡ وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨٨﴾

او سترګې دې د هغه څه په لوري مه اړوه چې د دوی ځینې مو ترې متمتع او برخمن کړي او مه پرې غمجن کېږه، او وزر دې مؤمنانو ته کوز ساته.

(۸۸)- دلته رسول اللهﷺ ته او د ده له لارې موږ ته څو لارښووني او توصیې شوې:

- **که د کافرانو ځینو ډلو ته مال او متاع په لاس ورغلي او رفاه او سوکالي ئې په برخه شوې؛ دا دې تا په حیرت او تعجب کې ونه غورځوي او د هغوی په لوري ستا د اعتناء او**

التفات سبب نشي، گمان مه کوه چي دا الهي پيرزويني دي، دوی د الهي پيرزوينو وړ او مستحق ول نو ځکه ترې برخمن شوي، تېرو مفسدو او ظالمو قومونو ته هم ډېر څه په لاس ورغلي وو، مرفه، له دنيوي مال او متاع برخمن، پر مخ تللي او د قصرونو او بنګلو خاوندان ول، خو ومو ليدل چي په الهي عذاب اخته شول او مال متاع ئې الهي عذاب ترې دفع نه کړی شو.

- **پر کفر، شرك او جهل د دوی ټينګار او له حق سره د دوی مخالفتونه دي تا غمجن نه کړي، داسي نه چي د دوی ايمان نه راوړنه تا مأيوس کړي، شور او شوق دي کمرنګه او اراده دي کمزورې کړي.**
- **خپله توجه مؤمنانو ته واړوه، د اعتناء وړ خلك مخالفين نه بلکي هغه مؤمنان دي چي ستا ملګرتيا ته چمتو کېږي، له دوی سره به په خپل چلن کي احتياط کوې، په درنه سترګه به ورته ګورې، ځان به تر دوی ستر او لوړ نه ګڼې.**

وَقُلْ إِنِّيٓ أَنَا ٱلنَّذِيرُ ٱلْمُبِينُ ﴿٨٩﴾ كَمَآ أَنزَلْنَا عَلَى ٱلْمُقْتَسِمِينَ ﴿٩٠﴾ ٱلَّذِينَ جَعَلُواْ ٱلْقُرْءَانَ عِضِينَ ﴿٩١﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ



او ووايه: يقيناً چي زه ښکاره او ښکاره نذير يم، د هغسي (يوه عذاب خبرداری ورکوونکی) چي پر وېشونکو مو نازل کړ، هغه چي قرآن ئې (په برخو برخو) ووېشو، نو ستا په رب لوړه چي هرو مرو به ټول وپوښتو، له هغه څه چي دوی کول.

(۸۹-۹۳)- د دې مبارکو آيتونو په اړه لاندي خبري په پام کي ولرئ:

- دلته د (مقتسمين) صحيح معنی وېشونکي ده نه قسم کوونکي، ځکه په ورپسي آيت کي دا مقتسمين داسي معرفي شوي چي قرآن وېشي.
- د آيت له الفاظو په ډېر صراحت سره معلومېږي چي دوی هغه مخکني قومونه دي چي د الله تعالی عذاب پرې نازل شوی، هغه تعبير او تفسير ناسم دئ چي بل څوك ترې مرادوي. رسول الله ته ويل شوي چي خپل امت ته ووايه: زه له داسي يوه الهي عذاب تاسو ته خبرداری درکوم چي په مخکنيو قومونو نازل شو.
- که څه هم قرآن د هغه کتاب نوم دئ چي پر رسول الله نازل شوی خو د معنی او مفهوم له پلوه پر نورو مخکنيو کتابونو هم د دې اطلاق کېدی شي، داسي لکه دلته چي ويل شوي: هغه مخکني قومونه چي قرآن ئې ووېشو او الهي عذاب پرې نازل شو.
- دوی ته يا په دې دليل مقتسمين ويل شوي چي: د الهي کتاب ځيني برخي ئې منلې او ځيني نه، يا ئې شرك کړی او الله تعالی ته مختص صفات او حقوق ئې پر نورو وېشلي، يا ئې يو کتاب منلی او بل نه، يا ئې پر يوه پيغمبر ايمان راوړی او پر بل نه. خو له وروستي (۹٤) آيت داسي معلومېږي چي د مقتسمين نوم د مشرکينو لپاره کارول شوی، دوی هم الهي کتاب وېشلی او هم ئې شرك کړی او د الله تعالی مختص صفات او حقوق ئې پر نورو وېشلي.

- الله تعالی پر خپل ذات لوړه کوي چي هرو مرو به داسي ورځ راولم چي له دوی ټولو سره محاسبه وکړم او له خپلو کړنو ئې وپوښتم.

فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٩٤﴾ إِنَّا كَفَيۡنَٰكَ ٱلۡمُسۡتَهۡزِءِينَ ﴿٩٥﴾
ٱلَّذِينَ يَجۡعَلُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۚ فَسَوۡفَ يَعۡلَمُونَ ﴿٩٦﴾

نو هغه څه په جهر سره څرګند کړه چي پرې ګمارل کېږې، او له مشرکانو اعراض وکړه، یقیناً موږ د دغو استهزاء کوونکو په وړاندي درته کفایت کوو، هغه چي له الله سره نور معبودان شریکوي، نو ژر به پوه شي.

(۹٤-۹٦)- دلته رسول اللهﷺ ته څو لارښووني شوې:

- په بشپړ ډاډ او اطمئنان سره او په لوړ ږغ او څرګنده توګه هغه څه خلکو ته ورسوه او د ابلاغ په اړه ئې خپل مأموریت ترسره کړه چي الله تعالی پرې ګمارلی يې.
- د دغو مشرکينو د مخالفتونو هيڅ پروا مه کوه، مطمئن اوسه چي د دوی د مخالفتونو، اذيتونو او استهزاء په وړاندي موږ درته کافي يو.
- دغو مشرکينو هم د مخکنيو مشرکينو او مقتسمينو په څېر له الله تعالی سره باطل او جعلي معبودان شريك کړي او د الله تعالی اختيارات ئې پر نورو وېشلي.
- له دوی سره به همغه معامله کېږي چي له مخکنيو سره وشوه، ډېر ژر به په دې حقيقت پوه شي.

وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدۡرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿٩٧﴾ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ
ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿٩٨﴾ وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ ﴿٩٩﴾

او يقيناً چي موږ په دې پوهېږو چي ستا سينه پر هغه څه تنګېږي چي دوی ئې وايي، نو د خپل رب له ستاينې سره (په تسبيح) لګيا اوسه، او تر هغه د خپل رب عبادت کوه چي يقين (مرګ) درته راشي.

(۹۷-۹۹)- په دې مبارکو آيتونو کي د څو سترو سترو لارښوونو شاهد يو:

- مشرکينو او مخالفينو د رسول اللهﷺ د دعوت او د ده د ذات په خلاف دومره شديد، ناروا او کرکجن تبليغات کړي چي ډېر ځلي به د رسول اللهﷺ سينه له ډېرو غمونو او اندېښنو تنګه شوه، دومره چي شکايت به ئې تر الله تعالی پوري ورسېد.
- په داسي سختو شېبو کي او د داسي شديدو مخالفتونو او زهرجنو تبليغاتو د زهرو له اغېز د خوندي پاته کېدو او د الله تعالی د مرستي او رعايت او عنايت ترلاسه کولو لپاره د دريو خبرو سپارښتنه ورته شوې:

١. د خپل مهربان رب تسبيح او تحميد، خپل رب له هر عيب او نقص منزه او د ټولو ستاينو وړ ګڼل، په هري پرېکړي ئې رضايت ښودل او د خېر طمعه ترې درلودل، په دې باور ساتل چي د الله تعالی هره پرېکړه

صحيح او عادلانه ده او د حقپالو په خير او ګټه.
۲. لمونځ او د الله تعالى په وړاندې خپل تندى پر زمكه اېښودل، خپلې اړيكي له الله تعالى سره ټينګې ساتل، او له دې لارې د خپل رب رعايت او عنايت ترلاسه كول.
۳. د ژوند تر پايه د الله تعالى د يوه مطيع، خاضع او خاشع عبد او بنده په څېر خپله دنده او مأمورت ترسره كول، دا انديښنه نه كول چې ستا پر عمل او كړنو به څه نتائج مرتب شي، نتائج خپل رب ته حواله كړه، ته په ښه او سمه توګه د خپل مأموريت ترسره كولو هڅه كوه، ټول اهتمام دې بايد دې لوري ته وي چې د ژوند په ټولو برخو كې او د ژوند تر پايه د يوه مطيع بنده په توګه عمل وكړې، د دې پروا مه كوه چې ستا كړنې به څه نتيجه وركړي، نه دا ستا دنده ده او نه ترې پوښتل كېږي.

عجيبه ده چې ځينې متصوفين د قرآن دا څرګنده او ځلانده لارښوونه غلطه تعبيروي او وايي: د (وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ) معنى دا ده چې د تصوف د لارې سالك تر هغه په عبادت مأمور دئ چې د يقين، شهود او وصل مقام ته ورسېږي، له هغه وروسته له عباداتو معاف دئ!! ډېر جاهلان د دغو ټګمارو دا غلطه او د قرآن خلاف خبره مني، خپل ټګمار مرشد له لمانځه، روژې او نورو عباداتو معاف ګڼئ، دا په داسې حال كې چې له يوې خوا په دې آيت كې الله تعالى د تسبيح، تحميد او سجدې تر څنګ د عبادت يادونه په ځانګړې او مستقله توګه كوي او دا ښيي چې د عبادت مفهوم تر تسبيح، تحميد او لمونځ عام او پراخ دئ، د انسان ټول ژوند احتوى كوي، معنى ئې دا ده چې په ټول ژوند او د ژوند په ټولو برخو كې بايد د يوه عبد (مربي) په توګه عمل وكړو، له بلې خوا دې ته پام نه كوي چې رسول اللهﷺ د ژوند په وروستيو كې تر لومړيو زيات د الله تعالى عبادت كاوو، په ټول مبارك ژوند كې ئې يوه شېبه داسې نه ده راغلې چې له فرائضو او عباداتو ځان معاف وګڼي، تر نورو ئې هم تسبيح، تحميد، استغفار، تهجد، نوافل، روژه او نور عبادات زيات وو او هم د الله تعالى په لار كې جهاد.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

النحل

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکې سورې نوم النحل دئ چې د سورې له ٦٨ آیت اخیستل شوی، دا د سورې د مضامینو لپاره عنوان نه بلکې یوازې نوم دئ، یو سل اته ویشت آیتونه لري، د سورې له مضامینو معلومېږي چې د مکې دور په هغو کلونو کې نازله شوې چې د مسلمانانو په ضد د قریشو ظلمونه انتهاء ته رسېدلي وو، له **(٤١-٤٢)** آیتونو معلومېږي چې دغه مهال د حبشې په لوري ځینو مسلمانانو هجرت کړی. **د آیتونو فواصل ئې دوه وزنه لري: د اکثرو آیتونو فواصل ئې د لومړي آیت (یشرکون) ته ورته دي او د لږو ئې د اوم آیت (رحیم) ته ورته.**

که تاسو د دې مبارکې سورې لومړي آیت ته ځیر شئ نو درې مطالب به ستاسو په وړاندې جوت شي:

- د مسلمانانو او مشرکینو تر منځ د مجادلې او مناقشې میدان ګرم وو.
- مشرکینو له رسول اللهﷺ څخه د عذاب راتلو غوښتنه کوله، په دې معنی چې که ته په رښتیا د الله تعالی رسول یې او واقعاً مونږ د الهي عذاب مستحق یو، نو دا عذاب تر ننه ولې رانه غی او کله به راځي؟! یعني دوی د الهي عذاب په راتلو کې ځنډ د داسې دلیل په توګه کارولو چې رسول اللهﷺ پرې تکذیب کړي. دوی ته ویل شوي چې د عذاب پرېکړه شوې، په خپل ټاکلي وخت به راځي، تلوار مه کوئ.
- الله تعالی له هغه څه ډېر لوړ او منزه دئ چې مشرکین ئې د ده په اړه وایې او شریکان ورته منسوبوي.

د دې مبارکې سورې ټول محوري او اساسي مضامین همدا درې مطالب دي، ډېره برخه ئې هغه مضبوط او قانع کوونکي دلائل دي چې د شرك په رد او د توحید په اثبات کې وړاندې شوي، دومره مضبوط چې هیڅ د عقل او ضمیر خاوند ترې انکار نشي کولی، دې برخې پر ټولې سورې سیوری غوړولی، د سورې په پای کې مسلمانانو ته د مجادلې آداب ښودل شوي او لارښوونه ورته شوې چې د مخاطب د بلنې او د دعوت په کار کې او له مقابل لوري سره د مناقشو او بحثونو په دوران کې کوم څه وکړي او له څه ځان وساتي .

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَتَىٰٓ أَمۡرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسۡتَعۡجِلُوهُۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿١﴾ يُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ بِٱلرُّوحِ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرُوٓاْ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱتَّقُونِ ﴿٢﴾

د الله فرمان رارسېدلی نو په تلوار سره ئې مه غواړئ، هغه لره پاکي ده او له هغه څه لوړ دئ چې دوی ئې ورسره شريکوي. ملائکې د خپل فرمان له وحې سره په خپلو بندګانو کې هغه چا ته کوز لېږي چې دی ئې وغواړي، په دې توګه چې دا خبرداری ورکړئ چې له ما پرته بل معبود نشته، نو له ما ووېرېږئ.

(۱-۲)- د دې مبارکو آيتونو په معنی د ښه پوهېدو لپاره بايد لاندې خبرې په پام کې ولرو:

- مخالفينو رسول اللهﷺ ته مکرر ويلې چې که ته رښتينی پيغمبر يې او ستا دا ادعاء رښتينې وي چې موږ د الهي عذاب مستحق يو؛ نو دا عذاب چېرې دئ او ولې تر اوسه نه راغی؟! په دې مبارك آيت کې دوی ته ويل شوي: د الله فرمان رارسېدلی، د عذاب پرېکړه صادره شوې، تلوار مه کوئ، دا عذاب په تلوار سره مه غواړئ، په خپل وخت به تحقق مومي.
- د دوی په اړه مزيد ويل شوي: الله تعالی هم له هغو عيبونو منزه او پاك دئ چې دا کافران ئې ده ته منسوبوي او وعد او وعيد ئې هسې او د حقيقت خلاف ګواښ بولي او هم له هغو شريکانو چې دوی ئې له الله تعالی سره شريکوي. د دوی دا ادعاء غلطه او بې بنسټه ده چې وايي: که زموږ مذهب ناسم وی او الله تعالی ته د تقرب لپاره چې موږ کوم معبودان غوره کړي دا د الله تعالی خوښ نه وی او دا کار د الهي عذاب وړ وی نو تر اوسه به دا عذاب پر موږ نازل شوی وو!! د دوی د دغې غلطې انګېرنې د ترديد لپاره ويل شوي چې الله تعالی له هغه څه ډېر لوړ دئ چې دوی ئې ورسره شريکوي.
- دا پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي چې ملائکې کله او چا ته د خپل فرمان له وحې سره ولېږي، لېږل ئې د هيچا له غوښتنې سره تړاو نه لري.
- دوی تل دا الهي پيغام له ځان سره وړی چې له ما پرته بل معبود نشته، او زما له عذاب او سرغړاوي ځان وساتئ.
- د دوهم آيت په دې فقره (بالروح من امره) کې يو خاص ترکيب تر سترګو کېږي چې د قرآن په ځينو نورو آيتونو کې هم کارول شوی، لکه دا آيتونه:

رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو ٱلۡعَرۡشِ يُلۡقِى ٱلرُّوحَ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوۡمَ ٱلتَّلَاقِ ﴿١٥﴾

غافر: ١٥

وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ رُوحٗا مِّنۡ أَمۡرِنَاۚ مَا كُنتَ تَدۡرِى مَا ٱلۡكِتَٰبُ وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلۡنَٰهُ نُورٗا نَّهۡدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَاۚ وَإِنَّكَ لَتَهۡدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٢﴾

الشورى:٥٢

باید وګورو چي دلته د روح معنی وحي ده، که جبرئیل، که ژوند، که په خپله د الله تعالی ذات؟ په تفسیرونو کي مختلف آراء ګورو، تر ټولو غوره او دقیق تعبیر دا دئ چي دلته د روح مراد وحي ده، د آیت معنی دا ده چي فرشتي د خپل امر او فرمان له وحي سره لاندي هغه چا ته لېږي چي دی ئې په خپله غواړي. د وحي لپاره د روح نوم د دې لپاره غوره شوی چي دا د غوره انساني ژوند لپاره د روح حیثیت لري، په دې سره انسان کولی شي د صالح او سم ژوند په لارو چارو پوه شي، د الانفال په سورې کي دې مطلب ته داسي اشاره شوې:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَجِيبُواْ لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمۡ لِمَا يُحۡيِيكُمۡۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَحُولُ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَقَلۡبِهِۦ وَأَنَّهُۥٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٢٤﴾

الانفال: ٢٤

اې مؤمنانو**!** کله چي الله او پیغمبر تاسو هغه څه ته بلي چي ژوند درپه برخه کوي، وئې منئ او په دې پوه شئ چي الله د سړي او د ده د زړه تر منځ حایل کېږي او دا چي د ده لوري ته به غونډ کړی شئ.

یعني د الله تعالی او د هغه پیغمبر بلنه ومنئ او په دې پوه شئ چي په دې بلني کي ستاسو د ژوند او بقا راز پروت دئ، په دنیا او آخرت کي غوره ژوند درپه برخه کوي.

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ تَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٣﴾ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِن نُّطۡفَةٖ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٞ مُّبِينٞ ﴿٤﴾

آسمانونه او زمکه ئې په حقه پیدا کړل، لوړ دئ له هغه څه چي ورسره شریکوي ئې، انسان ئې له نطفې پیدا کړ او هغه څرګند جګړمار شو.

(۳-٤)- دلته څو اساسي ټکي په پام کي ولرئ:

- الله تعالی آسمانونه او زمکه په سمه توګه او پر حق ولاړ پيدا کړي، د آسمانونو او زمکي هيڅ څه د باطل ملاتړ او تأييد نه کوي، په ټول عالم کي داسي څه نشته چي په خپله ناسم وي او د باطل ملاتړ وکړي.
- الله تعالی له دې ډېر لوړ دئ چي په خلقت، الوهيت، ربوبيت، مالکيت او حاکميت کي شريك ولري، د مشرکانو باورونه بې بنسټه او واهي دي او الله تعالی ته داسي څه منسوبوي چي د هغه د شأن او عظمت منافي دي.
- انسان ئې له نطفې پيدا کړی، خو همدا له وړې نطفې پيدا شوی انسان هغه مقام ته ورسېږي چي له ځان او خپلي رأيي د دفاع توان پيدا کړي او د خپلي مدعاء د اثبات لپاره استدلال کولی شي، او حتی دومره مغرور شي چي د الله تعالی او د هغه د حق دين په وړاندي د عناد او خصومت لار غوره کړي.
- د آسمانونو او زمکي له پيدايښت وروسته او متصل ئې د انسان پيدايښت ته اشاره کول ښيي چي دلته د انسان لومړني پيدايښت ته ګوته نيول شوي، نه اوسني او ورځني پيدايښت ته، يعني انسان ئې په لومړي سر کي له يوې نطفې پيدا کړی، نه هغسي لکه چي ځيني د محرف بايبل تر اغېز لاندي وايي: لومړی له خټي د انسان مجسمه جوړه شوې، بيا پر اور اېښودل شوې او پخه شوې او بيا روح په کي پو شوې!! حقيقت دا دئ چي الله تعالی انسان د پيدايښت په پيل کي داسي له نطفې پيدا کړی لکه نن چي ئې له نطفې پيدا کوي او په هغه کي ئې روح داسي پو کړې لکه نن چي په هغه کي روح پو کوي. د دې تفصيل د آل عمران، النساء، الاعراف او الحجر سورتونو په تفسير کي وګورئ.

وَٱلۡأَنۡعَٰمَ خَلَقَهَاۖ لَكُمۡ فِيهَا دِفۡءٞ وَمَنَٰفِعُ وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ۝٥ وَلَكُمۡ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسۡرَحُونَ ۝٦ وَتَحۡمِلُ أَثۡقَالَكُمۡ إِلَىٰ بَلَدٖ لَّمۡ تَكُونُواْ بَٰلِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ ٱلۡأَنفُسِۚ إِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٞ ۝٧ وَٱلۡخَيۡلَ وَٱلۡبِغَالَ وَٱلۡحَمِيرَ لِتَرۡكَبُوهَا وَزِينَةٗۚ وَيَخۡلُقُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ۝٨

او څاروي ئې پيدا کړل چي په هغوی کي درته د تودوخي توکي دي او نوري ګټې او له ځينو ئې خواړه کوئ، او په هغوی کي تاسو ته ښکلا ده هغه مهال چي بېرته ئې راولئ او هغه مهال چي بهر ئې بيايئ، او ستاسو درانه بارونه تر داسي ښارونو پر (خپلي) شا وړي چي وررسېدونکي نه يئ مګر د ځان په زحمت (کي اچولو) سره، يقيناً چي ستاسو رب مهربان رؤف دئ، او آسونه، کچري او خره ئې پيدا کړل چي پرې سپاره شئ او د

ښایست په توګه، او هغه څه پیدا کوي چې تاسو نه پرې پوهېږئ.

(۵-۸)- په دې مبارکو آیتونو کې د څاروو د پیدایښت مقاصدو او هغو ګټو ته اشاره شوې چې انسان ترې برخمن کېږي، په دې توګه:

- الله تعالی دا څاروي ستاسو لپاره پیدا او مسخر کړي.
- ستاسو د تودوخې ډېر پوښاك او وسایل د دوی له وړیو او پوستکو څخه دي، جامې، جورابې، بنیانونه، کوټونه، خولۍ، پکولونه، بوټونه، موزې، شړۍ، کېږدۍ، ګېلمونه، غالۍ، لمځي او ډېر نور، له ځینو د کرنې په چارو کې کار اخلئ، یوې پرې کوئ او ارهټ پرې چلوئ، او ځیني درته خوندور خواړه درکوي، لکه شیدې، مستې، کوچ، پوڅه، غوښه، له ښکلا ئې خوند اخلئ، هغه مهال هم چې بېرته ئې خپلو کورونه ته روالئ او هغه مهال هم چې بهر ئې د څرېدو لپاره بیایئ، ستاسو درانه بارونه تر داسې سیمو پر خپلې شا وړي چې تاسو ئې په خپله نشئ وړلی، مګر دا چې ځان په زحمت کې واچوئ. دا هر څه ستاسو د مهربان رب پېرزوینې دي، یقیناً چې هغه ذات ډېر زړه سواند او مهربان دئ چې د انسان لپاره ئې دا نعمتونه پیدا کړي.
- آسونه، کچرې او خره ئې پیدا کړل چې پرې سپاره شئ، تاسو ته تابع او رام او سپرېدو ته مو چمتو، داسې ئې پیدا کړي چې له ښایست ئې خوند اخلئ، رنګونه ئې ښایسته، جوړښت ئې ښکلی او حرکات ئې په زړه پورې.
- **ستاسو د سورلۍ لپاره ئې ډېر نور داسې شیان پیدا کړي چې لا تر اوسه ئې تاسو نه پېژنئ، ډېر نور داسې څاروي شته چې ستاسو په سیمې کې نه تر سترګو کېږي او تاسو نه دي لیدلي، همداراز د داسې وسایلو جوړولو امکانات ئې په دې عالم کې ایښې چې ورو ورو به ئې جوړول زده کړئ، د سورلۍ او حمل و نقل ټول هغه وسایل په دې لړ کې راځي چې انسانانو تر نن پورې جوړ کړي او یا له دې وروسته به ئې جوړ کړي، د یسن سورې په ۴۱- ۴۴ آیتونو کې هم دې مطلب ته په دې توګه اشاره شوې:**

وَءَايَةٞ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقۡنَا لَهُم مِّن مِّثۡلِهِۦ مَا يَرۡكَبُونَ ﴿٤٢﴾

وَإِن نَّشَأۡ نُغۡرِقۡهُمۡ فَلَا صَرِيخَ لَهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنقَذُونَ ﴿٤٣﴾ إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ﴿٤٤﴾

او دا ورته یوه څرګنده نښه ده چې د دوی اولاد مو په ډکې کښتۍ کې سپاره کړل (د نوح علیه السلام د طوفان په مهال مو وژغورل)، او دې ته ورته مو ورته پیدا کړي چې پرې سپرېږي، او که وغواړو نو غرق به ئې کړو بیا به نه کوم چیغې اورېدونکی ورته وي او نه به وژغورل شي، مګر زمونږ له لوري کومه پېرزوینه او تر یوې مودې برخمن کول.

دلته دوه لارښووني شوې: ۱- کښتۍ د لومړي ځل لپاره د نوح علیه السلام په لاس او د الله تعالی د وحې او لارښوونې له مخې جوړه شوه او په دې سره ئې د نوح علیه السلام ملګري له هغه ستر طوفان وژغورل، ۲- الله تعالی انسان ته د کښتۍ په څېر د نورو داسې وسایلو جوړولو استعداد او توفیق ورکړی چې له یوه ځای بل ته د دوی تګ ممکن او آسان کړي. ټول هغه

وسایل چي انسان تر نن پوري جوړ کړي او یا له دې وروسته به ئې جوړوي د دې آیتونو مظهر او مصداق ګڼل کېږي.
د آسونو، کچرو او خرو په ارتباط د دې خبري وضاحت هم ضروري برېښي چي آیا د دوی غوښه حلاله ده که حرامه؟ قرآن دوی د څارویو په ضمن کي یاد کړي، د څارویو په څېر واښه او دانه خوري، د هغو ځناورو په ضمن کي د دوی یادونه نه ده شوې چي غوښه خوري، داړي او منګولي لري، په روایاتو کي له یوې خوا داسي روایات مومو چي د دوی د غوښي پر تحریم دلالت کوي او له بلي خوا داسي چي پر حلال والی ئې دلالت کوي، لکه دا روایات:
عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنْ لُحُومِ الْخَيْلِ وَالْبِغَالِ وَالْحَمِيرِ. (وَكُلِّ ذِى نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ) . **رواه** النسائي و ابن ماجه
عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ - رضى الله عنهما - قَالَ نَهَى النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ ، وَرَخَّصَ فِى لُحُومِ الْخَيْلِ . رواه البخاري
عَنْ جَابِرٍ قَالَ أَطْعَمَنَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- لُحُومَ الْخَيْلِ وَنَهَانَا عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ. رواه مسلم
عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- نَهَى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الأَهْلِيَّةِ وَأَذِنَ فِى لُحُومِ الْخَيْلِ. مسلم

د ځینو صحابه وو په اړه ویل شوي چي د آس غوښه ئې خوړلي، لکه ابْنُ الزُّبَيْرِ، فَضَالَةُ بْنُ عُبَيْدٍ، أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، أَسْمَاءُ ابْنَةُ أَبِى بَكْرٍ، سُوَيْدُ بْنُ غَفَلَةَ اوعَلْقَمَةُ او دا هم ویل شوي چي قریشو به د اهلي خرو غوښه خوړله: وَكَانَتْ قُرَيْشٌ فِى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- تَذْبَحُهَا.

خو د ابن عباس په اړه ویل شوي چي له دې ئې ډډه کوله.

دغو متعارضو روایاتو ته په پام سره ځینو فقهاوو د دریو واړو غوښه حرامه ګڼلې، هغه روایات ئې نه دي منلي چي آس ترې مستثنی کوي، امام ابوحنیفه رېل همدا رأیه لري، ځینو آس ترې مستثنی کړی او غوښه ئې حلاله ګڼي، امام شافعي، امام محمد او امام ابویوسف رحمهم الله له دې ډلي څخه دي، ځینو ویلي چي د خیبر د فتحي په ورځ د خره د غوښي له خوړو له دې کبله ممانعت وشو چي هغه مهال دا د سورلۍ او حمل و نقل مهمه وسیله وه، نه دا چي په دې اړه همدا مهال کومه وحي نازله شوې وي، داسي وحي په قرآن کي نه مومو.

وَعَلَى ٱللَّهِ قَصۡدُ ٱلسَّبِيلِ وَمِنۡهَا جَآئِرٞۚ وَلَوۡ شَآءَ لَهَدَىٰكُمۡ أَجۡمَعِينَ ٩

او سیده لار پر الله ده، او ځیني ئې کږې دي او که ئې غوښتي وی نو تاسو ټول به ئې هدایت کړي وئ.

(۹)- د دې مبارك آیت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- باید وګورو چي د آیت د لومړۍ فقرې معنی څه ده، آیا معنی ئې دا ده چي الله تعالی انسان

ته د سمي او مستقيمي لار ښودل په خپله ذمه اخيستي او دا ئي پر ځان لازمه کړې چي د دوی د لارښوونې لپاره به مناسب انتظامات کوي، د پيغمبرانو بعثت او د دوی په لاس د وحې لېږل د همدې ذمې مظهر دئ؟ او که ئې معنی دا ده چي سمه او مستقيمه لار هغه ده چي د الله تعالی په لور درومي، پاته نوري لارې کږې دي؟ که څه هم ځينو درنو مفسرينو لومړۍ رأيه غوره ګڼلې خو حقيقت دا دئ چي دوهمه رأيه په څو دلائلو غوره ده: ۱- دا تعبير د آيت له الفاظو سره په بشپړه توګه اړ خ لګوي، په آيت کي داسي نه دي ويل شوي چي علی الله بيان قصد السبيل: د سمي لارې بيان د الله پر ذمه دئ، دا صحيح نه ده چي د قرآن په اصلي الفاظو کي لاسوهنه وکړو، د ژباړې او تعبير په ترڅ کي څه پرې زيات يا څه ترې حذف کړو. ۲- د الحجر د سورې په يو څلوېښتم آيت کي دې ته ورته الفاظ راغلي چي وايي: **قَالَ هَـٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ ﴿٤١﴾** وئې ويل: همدا تر ما پوري (رسېدونکې) مستقيمه لار ده، په دغو دواړو آيتونو کي يوه مطلب ته اشاره شوې او په دواړو کي (علی) په يوه معنی راغلی، دا صحيح نه ده چي يو ځای ئې يو ډول تعبير کړو او بل ځای بل ډول. که د فقرې لومړۍ برخه داسي تعبير شي چي سمه لار ښودل د الله پر ذمه ده نو ورپسې فقره (و منها جائر) ورسره اړخ نه لګوي، يوازې په هغه صورت کي ورسره اړخ لګوي چي په لومړۍ فقرې کي هم د لارې مواصفات بيان شوي وي، نو په بشپړ يقين سره ويلی شو چي دقيق تعبير دا دئ: او سيده لار پر الله ده، او ځينې ئې کږې دي، يعني مستقيمه لار هغه ده چي د الله تعالی پر لور درومي او مخامخ پر الله تعالی منتهي کېږي.

- که الله تعالی غوښتي وی نو ټول خلك به ئې دغې مستقيمي لارې ته هدايت کړي وو، خو دا د الله تعالی سنت نه دئ چي خلك په خپل قاهره قوت سره هدايت کړي او پر سمي لارې تلو ته ئې اړ کړي.

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗۖ لَّكُم مِّنۡهُ شَرَابٞ وَمِنۡهُ شَجَرٞ فِيهِ تُسِيمُونَ ﴿١٠﴾ يُنۢبِتُ لَكُم بِهِ ٱلزَّرۡعَ وَٱلزَّيۡتُونَ وَٱلنَّخِيلَ وَٱلۡأَعۡنَٰبَ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١١﴾

او دی هغه ذات دئ چي له آسمانه ئې اوبه نازلې کړې، چي يوه برخه ئې ستاسو څښاك او يوه برخه ئې ونې او بوټي دي چي تاسو (څاروي په کي) څروئ، په همدې سره تاسو ته نباتات، زيتون، د خرما ونې، او انګوراو د مېوو ډول ډول راشنه کوي، يقيناً چي په دې کي هغو وګړو ته څرګنده نښه ده چي تفکر کوي.

(۱۰-۱۱)- په دې مبارکو آیتونو کي د مهربان رب د سترو سترو نعمتونو څو بېلگي زموږ مخي ته اېښودل شوې:

- له آسمانه د اوبو ورېدا، اوبه په خپله تر ټولو ستر نعمت دئ چي د انسان، حیوان او نبات ژوند ورپوري تړلی دئ، له بره ئې ورېدا یوه بله الهي پیرزوینه ده، څکه په همدې ورېدا سره ئې له یوې خوا په غرونو کي د هغې ذخیره کېدا او په ویالو، کاریزو او چینو کي ئې بهېدا ممکنه شوې او له بلې خوا زموږ د زمکي د فضاء د تصفیې او له میکروبونو، لوخړو او تاواني گازونو ئې پاکېدا ترسره کېږي، که دا نظام نه وی نو د زمکي پر سر ژوند ممکن نه وو.
- دا اوبه دي چي د څښاك تر څنگ زموږ د رزق او روزي ټول توکي ورپوري تړلي دي، هغه بوټي او وني په همدې خړوبه کېږي چي موږ ته داني او مېوې راکوي. په همدې سره نباتات، زیتون، د خرما وني، او انگوراو د مېوو ډول ډول راشنه کېږي.
- څوك چي دې دقیق او پر حکمت ولاړ الهي نظام ته لږ ځیر شي او د آسمان او زمکي تر منځ دې تنسیق ته پام وکړي، له بره د اوبو ورېدا او لاندې د ونو او بوټو زرغونېدا او د داسي دانو او مېوو راپیدا کېدا چي انسان ته رزق او رزي شي او د هغوی د ژوند دوام تأمین کړي؛ که په دې اړه لږ غور وکړي نو یقیناً چي په دې ټولو کي به داسي څرگندي او ځلاندي نښي وموميي چي د رب العالمین لوري ته د ده لارښوونه وکړي او په دې ئې پوه کړي چي دا هر څه د هغه مهربان ذات پیرزویني دي چي دا عالم او د هغه هر څه ئې پیدا کړي او د ټولو پالنه کوي.

وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ وَٱلنُّجُومُ مُسَخَّرَٰتُۢ بِأَمۡرِهِۦٓۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿١٢﴾

او شپه، ورځ، لمر او سپوږمی ئې درته مسخر او تابع کړل، او ستوري د ده په حکم مسخر او تابع دي، یقیناً چي په دې کي هغو وگړو ته ښکاره نښي دي چي تعقل کوي.

(۱۲)- دا مبارك آیت د الله تعالی هغه پیرزویني زموږ مخي ته ږدي چي د آسمان په غېږ کي ځلېږي او زموږ سوکالي او زموږ د زمکي بقا او دوام ورپوري تړلي دئ، یو ئې موږ ته تودوخه او رڼا راکوي او زموږ ورځي روښانه کوي او د هر څه د لیدو او ښه پېژندو سبب گرځي، بله ئې زموږ تیارې شپې روښانه کوي، یوه نه پرېږدي چي زمکه ډېره سړه شي او بله ئې نه پرېږدي چي ډېره توده او د انسان له زغم او تحمل لوړه شي، شپه، ورځ، لمر او سپوږمی په پر له پسي او منظمه توگه ځي راځي، د داسي دقیق او حکیمانه نظام مطابق چي که دا نه وی او یا معمولي تغییر په کي راشي نو د زمکي پر سر ژوند ممکن نه دئ، نه گورئ چي دا ستر او پراخ آسمان له څومره ستورو ډك دئ، هر ستوری په خپل ځای کي ساتل شوی، په خپل مسیر کي درومي، یو بل نه جذبوي، یو له بل سره ټکر نه کوي، که کوم یو د زړښت یا چاودني په وجه له خپل مسیر منحرف شي له زمکي سره د تصادم مخه نیول کېږي، زمکه او فضاء ئې

داسي جوړه شوې چي له داسي تصادماتو خوندي وي، آيا په دې دقيق الهي نظام کي د هغو وګړو لپاره ښکاره نښي نه دي چي تعقل کوي؟!! مګر زموږ عقل دا حکم نه کوي چي دا منظم پراخ عالم د يوه ځواکمن مدبر ذات له لوري اداره کېږي؟!! آيا ممکنه ده چي د عقل خاوند به د عالم له دې دقيق نظم او د عالم د هر څه له هدفمنې څخه له دې پرته بله انتباه ولري؟!!

وَمَا ذَرَأَ لَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مُخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهُۥٓ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣﴾

او هغه څه چي رنګونه او ډولونه ئې بېل بېل دي؛ په زمکي کي ئې تاسو ته خواره کړل، بې شکه چي په دې کي د هغو وګړو لپاره ښکاره نښه ده چي پند اخلي.

(۱۳)- دلته د الهي قدرت د نښو يوه بل مظهر ته اشاره شوې چي هغه د عالم د اشياوو بېل بېل ډولونه او رنګونه دي، ته چي هر لوري ته مخ واړوې، ډول ډول شيان دي تر سترګو کېږي، هر يو ئې بېل بېل رنګ لري، په ځينو کي يوازې يو رنګ کارول شوی او په ځينو کي ډېر، هر رنګ په خپل خپل ځای کي ډېر ښکلی او زړه راښکونکی، هر رنګ په مناسبه توګه او په ډېر ظرافت سره کارول شوی، له خوا ته رنګ سره ئې مناسبت ډېر موزون او مناسب، داسي چي په ګډه ئې هغه شي ته په زړه پوري ښايست او ښکلی هيئت او انځور ورکړی، دومره چي که د نړۍ ټول ماهر او متخصص انځورګران راغونډ شي نو د يوه صحرايي ګل د يوې پاڼي په څېر رنګونه او انځورَنه نه شي کولی، موږ په خپلو سترګو ګورو چي د مخلوقاتو د رنګ په غوراوي کي د ظرافت او لطافت کمال او انتهاء تر سترګو کېږي، هر څه ته ښايسته او ښکلی رنګ ورکړی شوی، په يوه شي کي د بېلو بېلو رنګونو تر منځ ډېر دقيق توازن او تعادل مراعات شوی، رنګوَنه په دومره دقت تر سره شوې چي په هغه کي معمولي تغيير د شيانو ښايست او ښکلا ته تاوان رسوي، په ګلانو، مرغانو، مېوو، بوټو، حيواناتو او انسانانو کي څومره ښايست ګورو، څنګه هر رنګ په خپل خپل ځای کي او له همځنګ رنګ سره په ډېره متوازنه توګه غوره شوی، له يوه رنګ بل ته تګ په تدريجي توګه ترسره شوی، د يوه ګل منځنی رنګ د پاڼو د سر له رنګ سره توپير لري خو دا توپير د ګل د منځنۍ برخي له پاخه او غليظ رنګ؛ د پاڼو د سر تر خفيف رنګ پوري په تدريجي توګه بدل شوی او ګل ته ئې په مجموع کي زړه راښکونکی رنګ، ښه او انځور ورکړی، د دې معنی دا ده چي د هر څه په ښايست کي ډېر دقيق تناسب، عميق نظم، ژوره انځورنه او رنګوَنه مراعات شوې، د رنګونو انتخاب او مناسب رنګونه يو د بل خوا کي ايښودل ئې هم يو اهم عنصر دئ، که دا انتخاب او تناسب مراعات نشي ښايست له منځه ځي. دا رنګوَنه او انځورنه د چا کار دئ؟ آيا د نړۍ تر ټولو ماهر انځورګر کولی شي د يوه ګل د پاڼي په څېر انځورنه او رنګوَنه وکړي؟!! زموږ دا پراخ عالم د داسي ښکلو او ښايسته رنګونو او انځورنو مجموعه ده چي هر يو ئې د يوه او حساس انسان عجب او حيرت راپاروي، آيا کېدی شي سترګور انسان دا ځلانده ښکلا او ښايست او دا بې انتهاء رنګوَني او انځورني له پامه وغورځوي او هغه د تصادف نتيجه وګڼي؟!! په ټول عالم کي داسي رنګ او انځور نشئ موندلی چي په هغه کي د دقت، ظرافت، توازن او تعادل نښي له ورايه نه بربښي، يقيناً چي په دې کي د هغو سترګورو لپاره څرګنده نښه ده چي د پند اخيستو استعداد ئې نه وي ځپل شوی او د ښايست پېژندو ملکه او له هغه د خوند اخيستو ذائقه ئې نه وي مړه شوې. که طبيعت ښايسته وي او په هغه کي د ښکلا بې شمېره مظاهر زموږ د ذهن زېږنده نه وي نو دا ښايست چا ورکړی؟ دا د طبيعت په

پراخي لمني كي، هر لوري ته او په هر گام كي د ښكلا او ښايست بې شمېره مظاهر د څه نښه ګڼلی شو او موږ ته څه پيغام لري؟ كه زه د يوه ښكلي ماشوم له تورو وېښتانو، سرو شونډو، ښكلو سترګو، وروځو او باڼوګانو، خندا، موسكا، غبږ، لاس پښو خوځېدا دومره خوند اخلم چي زړه مي راتخنوي، ما هڅوي چي په غېږ كي ئې واخلم او پر مخ او تندي ئې ښكل كړم، دا هر څه ئې چا زړه راښكونكي پيدا كړي، دا انځورنه او رنګَونه د چا د لاس هنر دئ؟ په ما او هر ليدونكي كي څه دي چي له دې رنګونو خوند اخلو؟ دا د ليدل شوي ځانګړتيا ده كه زما د سليقې او مينې تقاضاء؟ دی ښكلی دئ كه ما ته ښكلی ښكاري؟ په ده كي داسي څه شته چي زما مينه راپاروي كه زه په زړه كي داسي مينه لرم چي د خړوبولو لپاره ئې ده ته ورنږدې كېږم؟ آيا دا مينه دې ته ورته ده چي كله زه تږی وم نو له اوبو خوند اخلم خو كه تږی نه وم همدا خوندوري اوبه راته بې خونده ښكاري؟!! كه داسي نه وي، چي يقيناً داسي نه ده، نو د ده د ښكلا او زما د مينې تر منځ دا تناسق او تړاو څنګه رامنځته كېږي او چا رامنځته كړی؟ دا د نړۍ په هر څه كي زه د ښكلا مظاهر او نښي څنګه احساسوم او ما ته څه لارښوونه كوي؟ آيا له دې پرته بل ځواب لرو چي ووايو: دا ډول ډول ښايسته او ښكلي مخلوقات په دې شهادت وركوي چي دا عالم يو عليم او حكيم رب لري؟!

عجيبه ده چي څوك په دې عالم كي (ښكلا) او (ښايست) احساسولی شي، خوند ترې اخلي، ستاينه ئې كوي او مينه ورسره كوي خو سره له دې له هغه ذات انكار كوي چي دا ښايست او ښكلا ئې په طبيعت كي پيدا كړې!! نه پوهېږو چي ستا "عقل" څنګه مني چي دا تولّه هستي، په دې كي بې شمېره ښكلي او ښايسته مخلوقات، په هري برخي كي ئې د "علم"، "هنر"، "دقت" او "هدف والي" خورې نښي، له "عليم"، "قدير" او "حكيم" خالق پرته پيدا شوي؟! په يوه "مصنوع" او "جوړ شوي" شي كي د "علم" او پوهې نښي موږ دې ته اړ باسي چي ووايو: جوړوونكی ئې پوه دئ، د "دقيق" او "ظريف" انځورني نښي موږ ته وايي: پيداكوونكی ئې ماهر رسام دئ، په ظرافت پوه دئ، كه څه هم موږ نه د دې توكي "جوړوونكی" ليدلی او نه د دې ښكلي انځور "رسام"، فقط د ده په "جوړ كړي" شي كي مو د ده د لاس آثار ليدلي، زموږ عقل له آثارو د خالق، صانع، رسام او مصور په شته والي باور كوي. آيا دا هري خوا ته تر سترګو كېدونكي ښكلا او ښايست، كمال او جمال، نظم او دقت، ډول ډول رنګونه او دا چي ګورئ هر څه داسي سم او ښكلی پيدا شوي چي د هغه په رنګ او جوړښت كي معمولي تغيير د هغه ښكلا او ښايست ته تاوان رسوي، آيا دا تول په دې شهادت نه وركوي چي د دې عالمونو (رب)، (صانع) او (مصور او انځورګر) د ستاينو وړ او له هر عيب او نقص منزه او پاك ذات دئ؟!!

وَهُوَ ٱلَّذِى سَخَّرَ ٱلۡبَحۡرَ لِتَأۡكُلُواْ مِنۡهُ لَحۡمًا طَرِيًّا وَتَسۡتَخۡرِجُواْ مِنۡهُ حِلۡيَةً تَلۡبَسُونَهَا وَتَرَى ٱلۡفُلۡكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿١٤﴾

او دی همغه دئ چي بحر ئې درته مسخر كړ چي تازه غوښه ترې وخورئ او داسي

ګانې ترې راوباسئ چې اغوندی ئې، او په هغه کې کښتۍ ګورې چې (وړاندې درومې په داسې حال کې چې) څیروونکې (د اوبو) دي، او دا د دې لپاره چې فضل ئې ولټوئ او د دې لپاره چې شکر وکړئ.

(١٤)- په دې مبارك آیت کې هغو الهي پېرزوینو ته د انسان توجه اړول شوې چې په سیندونو او بحرونو کې د انسان په برخه شوې، په دې توګه چې ویل شوي: الله تعالی همغه ذات دئ چې بحرونه ئې داسې درته مسخر کړي چې ډول ډول ګټې ترې اخلئ، ځینې ګټې ئې دا دي:

- د خوراك لپاره تازه غوښه ترې ترلاسه کوئ، چې په دې اړه دوه خبرې باید په پام کې ولرو: ١- نن او د علمي څېړنو په ترڅ کې ثابته شوې چې سیندونه انسان ته د خوراك او په ځانګړې توګه د غوښو ورکولو ستره منبع ده، که د زمکې ټول ژوي په شلو برخو ووېشو نو نولس ئې په اوبو کې او یوه برخه ئې په وچې کې ژوند کوي. ٢- دلته کب او د سیند ژوي د تازه غوښې په نامه یاد شوي، او په دې سره هغې پوښتنې ته ځواب ویل شوی چې وایي: په قرآن کې یوازې هغه غوښه حلاله ګڼل شوې چې د ذبحې پر مهال ئې د الله تعالی نوم یاد شي، خو کب (ماهي) بې له ذبحې حلال دئ، آیا د دې استثناء وجه د قرآن کوم آیت دئ که د پیغمبر علیه السلام کوم حدیث؟ ځینې ادعاء کوي چې د دې استثناء لپاره په قرآن کې کوم شاهد نه مومو!! دا خبره هغه خلك کوي چې وایي: قرآن کافي نه دئ، ځینې احکام داسې دي چې منشأ ئې په قرآن کې نه مومو، دوی په همدې خبرې استناد کوي خو دې ته ئې پام نه دئ چې دلته قرآن کب (ماهي) د لحماً طرياً یعنې تازه غوښې په نامه یاد کړی او دا ښیي چې ماهي د تازه او پاکې غوښې حکم لري، پیغمبر علیه السلام ځکه ویلي چې ماهي له ذبحې پرته حلال دئ.
- له سیندونو داسې توکي ترلاسه کوئ چې د ګاڼو په توګه ترې استفاده کوئ، په دې بیان سره څو حقایق زموږ مخې ته ځلېږي: ١- له ګاڼو غالباً ښځې کار اخلي، خو دلته د ښځو یادونه نه ده شوې او دا ښیي چې د قرآن په هر عام خطاب کې دواړه (نارینه او ښځینه) شامل وي، مګر هغه مهال چې د یوه په اړه په ځانګړې توګه بحث کوي، دلته د مؤنث صیغه نه ده کارول شوې خو مقصد ترې ښځې دي. په یاایهاالذین آمنوا کې صیغه د نارینه وو ده خو دواړه مؤمنین او مؤمنات په کې مخاطب دي. ٢- په سیندونو او بحرونو کې نه یوازې مرغلرې او مرجان موندل کېږي بلکې نورې قیمتي تیږې هم موندل کېږي، علمي تحقیقات ښیي چې قیمتي ډبرې د زمکې په هغې ننۍ برخې کې جوړېږي چې د حرارت او فشار درجه ئې ډېره لوړه وي، دغه توکي د چاودنو او اورشیندو په وسیله د زمکې له زړه بهر راغورځېدلي، نو ځکه د غرونو په لوړو کې موندل کېږي، د غرونو له لوړو د نهرونو له لارې لاندې سیمو ته رارغړي، هغه مهال چې خلکو د کانونو د کیندلو پرمختللي وسائل نه درلودل نو دا قیمتي تیږې ئې په سیندونو کې لټول او موندل. یقیناً چې دا هم د قرآن یو بل علمي اعجاز دئ چې د قیمتي ډبرو یوه منبع ئې سیندونه ښودلي.
- الله تعالی په طبیعت کې داسې سنن ایښې او داسې توکي ئې پیدا کړي چې انسان کولی شي له هغوی په استفادې سره کښتۍ جوړه کړي، اوبه ئې داسې جوړې کړې چې ځینې توکي پر خپل سر وړي او له ډوبولو ئې ډډه کوي، انسان ته ئې د داسې کښتیو جوړولو استعداد او توفیق

ورکړ چې د بحر اوبه خيري او مخکي درومي، له همدغو کښتيو په استفادې سره له يوې سيمي بلي ته ځي، تجارتي اموال وړي راوړي، په بحرونو کي د ماهيانو ښکار کوي، نن په دې يوه ويشتمي پيړۍ کي د انسان د انتقالاتو تر ټولو مهمه، ارزانه او خوندي ذريعه همدا کښتۍ دي، يقيناً چې په دې سره الله تعالی خپل ستر فضل د انسان په برخه کړی.

- الله تعالی دا نعمتونه د دې لپاره پر تاسو پيرزو کړي چې د خپل منعم رب شکر وکړئ، خو عجيبه ده چې تاسو د شکر پر ځای د کفر، عصيان او طغيان لار نيسئ!!

وَأَلْقَىٰ فِي ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ وَأَنْهَٰرًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥﴾ وَعَلَٰمَٰتٍ ۚ وَبِٱلنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴿١٦﴾

او په زمکي کي ئې لنګرونه (غرونه) واچول چې تاسو ونه لړزوي، او نهرونه او داسي لاري چې (له يوې سيمي بلي ته) لار پيدا کړئ. او نښې، او په ستورو سره خو دوی لار مومي.

(۱۵-۱٦)- د دې مبارکو آيتونو په ژورو مطالبو د ښه پوهېدا لپاره دا مطالب په پام کي ولرئ:

- دلته د غرونو د پيدايښت په اړه د (ألقی: واچول) صيغه کارول شوې، ولي د جوړولو او پيدا کولو پر ځای دا صيغه راغلي؟ ولي د غرونو لپاره د جبال پر ځای د (رواسي: لنګرونه) نوم راوړل شوی؟ آيا د غرونو تر پيدايښت وړاندي زمکه خوځېده؟ غرونو څنګه د هغې خوځښت له منځه يووړ؟ ولي نهرونه او لاري څنګ په څنګ ذکر شوې آيا د نهرونو او لارو تر منځ کوم تړاو شته؟ دې پوښتنو ته بايد دقيق او علمي ځوابونه ولټوو.

- علمي څېړني ښيي چې غرونه د زمکي له زړه راټوکېدلي، ډېره برخه ئې د زمکي په زړه کي وي او لږ ئې بهر راوتلي وي، دا غرونه هغه مهال راوټوکېدل چې د زمکي بهرنی قشر سوړ او د ډبري په څېر کلك شو، خو نازك وو او د زمکي په سينه کي د متراکمي انرژۍ د فشار په وړاندي ئې مقاومت نشو کولی او په پر له پسي توګه چاودېدو، له دغو چاودونو ويلي مواد بهر شيندل کېدل او همدا ورو ورو په غرونو بدلېدل، اوس هم دا لړۍ روانه ده او د اورشيندو په ترڅ کي غرونه د جوړېدو په حال کي دي خو په لږ پيمانه، دا ښيي چې د غرونو لپاره د (القی) صيغه کارول ډېر ستر علمي حقيقت افاده کوي او د قرآن يو ځلانده علمي اعجاز زموږ مخي ته ږدي. د زمکي پر سر د غرونو د جوړېدو څرنګوالی له دې سره شباهت لري چې څوك هګۍ په جوش اوبو کي کېږدي، د هګۍ زېړ او سپين ورو ورو ګرم شي او وپړسېږي، د داخلي فشار له کبله د هګۍ پوستکی وچوي، د هګۍ سپين له چاودونو بهر راووځي او د چاودونو په امتداد لوړ پاته شي، غرونه د زمکي پر سر همداسي جوړ شوي.

- د علمي څېړنو په ترڅ کي دا حقيقت هم ثابت شوی چې زمکه د پيدايښت په لومړيو مراحلو کي او هغه مهال چې بهرنی قشر ئې لا مضبوط او پرېړ شوی نه وو او غرونه لا نه

وو پيدا شوي، د دغو چاودنو له کبله له شديدو او پر له پسې زلزلو سره مخامخ وه، دا غرونه د دې باعث شول چې د زمکې بهرنی قشر مضبوط او درووند شي، بېلې بېلې ټوټې ئې سره وصل او ويلډينګ شي او د زلزلو مخه ونيول شي، دا داسې وګڼئ لکه چې د يخو اوبو پر سر د مات کنګل ټوټې له کوم لوی او درووند او ډېر سوړ کنګل سره ونښلي او په دې توګه ئې ماتېدا او خوځېدا متوقف شي. د غرونو لپاره د لنګر نوم غوره کول په حقيقت کې دغه ستر علمي حقيقت ته اشاره کوي او يقيناً چې دا د قرآن يو بل قاطع او ښکاره علمي اعجاز دئ.

● د علمي څېړنو په ترڅ کې دا حقايق هم ثابت شوی چې د زمکې د سر نهرونه د غرونو په وجه راپيدا شوي، دغه نهرونه د دې باعث شوي چې خوړونه او درې رامنځته شي، د اوبو د مسير ډېرې وسولېږي او خوړونه او درې په کې جوړ شي، او بيا په همدغو درو کې انسان ته له يوې سيمې بلې ته د تلو لارې پرانيستل شي، تاسو که دا نن د لويو غرونو په سيمو کې تېرې شوو لارو ته ځير شئ نو وبه ګورئ چې ټولې لارې د نهرونو په ژۍ کې او په هغو درو کې تېرې شوې چې دغو نهرونو رامنځته کړې دي. او دا له شکه پرته د قرآن بل ستر علمي اعجاز دئ چې غرونه، نهرونه او لارې ئې څنګ په څنګ ياد کړي.

● زمکه داسې جوړه شوې چې هرې خوا ته علائم او نښې زمونږ مخې ته ځلېږي، د همدغو علائمو له مخې موږ د خپل سرمنزل لوری او د تګ سمت ټاکلی او پېژندلی شو، که دا علائم نه وی نو انسان ته به ګرانه او حتی محال وه چې له يوې سيمې بلې ته د سفر په دوران کې د خپل هدف لوری او د تګ مسير تعيين کړي او لار ترې غلطه نشي. کله د غرونو څوکې ورته نښه شي، کله نهر، کله وچ خوړ، کله ځنګل، کله يوه ستره ونه، په لويو بيدياوو، بحرونو او فضاء کې هم د دغو علائمو له مخې خپل مسير تعينوي، که دا د زمکې د سر نښې ئې له سترګو غائبې شي نو بيا د ستورو له مخې خپل لوری او سمت ټاکي او لار مومي، لکه دا چې د شمالي قطب په ستوري سره د شمال او غرب لوری داسې ټاکي چې ښی اوږه د دې ستوري لوري ته برابره کړي، همدا لوري ئې شمال شي او مخامخ ئې غرب.

أَفَمَن يَخۡلُقُ كَمَن لَّا يَخۡلُقُۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٧﴾ وَإِن تَعُدُّواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١٨﴾

نو آيا هغه چې پيدايښت کوي د هغه په څېر دئ چې څه نشي پيدا کولی؟ نو آيا پند نه اخلئ؟!! او که د الله پېرزويني وشمارئ نو شمېرنه به ئې بشپړه نه کړی شئ، يقيناً چې الله مهربان بخښونکی دئ.

(۱۷-۱۸)- دا مبارك آيتونه د مخکني مبحث لپاره د يوې ښکلې او جامع تتمې او نتيجې په توګه څو لارښووني راته کوي:

● دا مخکنې نعمتونه د يوه حکيم او عليم خالق د قدرت او خلاقيت مظاهر دي، د دې عالم هر څه موږ ته په جګ غږ وايي چې ډېر پوه او قادر خالق لري، له ده پرته داسې څوك په ټول عالم

کي نشئ موندلی چي د يوې وړې ذرې د پيدا کولو توان ولري، څنګه له هغه خالق انکار کوئ چي د عالم هر څه د هغه په شته والي او خلاقيت ګواهي ورکوي؟! ولي د مخلوقاتو لپاره داسي خالق لټوئ چي د پيدا کولو قدرت او توان نه لري؟ ولي هغه دروغجن معبودان مو له الله تعالی سره شريکوئ چي نه يوازي څه پيدا کولی نشي بلکي په خپله پيدا شوي؟!! ولي پند نه اخلئ او خپل خالق نه پېژنئ؟!

• د انسان په اړه د الله پېرزويني دومره زياتي او له شمېره وتلې دي چي که د هغوی د شمېرلو هڅه وکړئ هيڅکله به ئې شمېرنه بشپړه نه کړی شئ.

• خپل خالق رب ته راوګرځئ چي مهربان بخښونکی دئ، ستاسو له نا شکريو، ناسپاسيو، عصيانونو او ګناهونو سره سره رزق درکوي، د توبې دروازه ئې ستاسو پر مخ پرانيستې پرېښې.

وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعۡلِنُونَ ﴿١٩﴾ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ ﴿٢٠﴾ أَمۡوَٰتٌ غَيۡرُ أَحۡيَآءٖۖ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ ﴿٢١﴾

او الله په هغه څه هم پوهېږي چي پټوی ئې او په هغه څه هم چي څرګندوی ئې، او هغه چي له الله پرته ئې (مرستي ته) وربلې هيڅ څه نشي پيدا کولی او دوی په خپله پيدا کړی شوي، مړه او ناژوندي دي او په دې نه پوهېږي چي کله به راپاڅول شي.

(۱۹-۲۱)- په دې مبارکو آيتونو کي لاندي ستر ستر ارشادات ځلېږي:

• سره له دې چي الله تعالی ستاسو په ټولو پټو او ښکاره کړنو پوه دئ، نه مو څرګند بغاوتونه له هغه پټ دي او نه مو پټه ناشکري، بيا هم تاسو ته روزي درکوي او دا هر څه درته راپيدا کوي، له آسمانه اوبه وروي او له زمکي دانه او مېوه درته پيدا کوي.

• مشرکان چي له الله تعالی پرته د کومو دروغجنو او جعلي معبودانو عبادت کوي او مرستي ترې غواړي دا معبودان ئې نه يوازي هيڅ څه نشي پيدا کولی بلکي دوی په خپله پيدا کړی شوي، دوی يا داسي معبودان لمانځي چي مړه دي او له مړو تيږو او لرګيو جوړ شوي، يا مړه شوي او اوس ژوندي نه دي، يعني ځيني ئې د مړو بتانو عبادت کوي او ځيني ئې په قبرونو کي د پرتو مړو، دا په داسي حال کي چي دا مړي له خپل مستقبل بې خبره دي، نه پوهېږي څه به ورسره کېږي؛ حتی په دې هم نه پوهېږي چي کله به له قبرونو بېرته راپاڅول کېږي، دا خو لري پرېږده چي د بل له حالت او وضعيت خبر شي او مرسته ورسره وکړي.

• د آيت له الفاظو په ډېر صراحت سره معلومېږي چي له دې دروغجنو معبودانو څخه نه فرشتې مراد دي، نه شيطانان او نه له ډېرو او لرګيو جوړ شوي بتان، ځکه فرشتو او شيطان ته

د مړو خطاب نشي کېدی، او د بتانو په اړه دا نشي ویل کېدی چي دوی نه پوهېږي کله به بیا راژوندي کېږي، له دغو څخه فقط هغه معبودان مراد دي چي په قبرونو کي پراته دي، مړه شوي، پر قبرونو ئې دنګي دنګي ګنبدي او زیارتونه جوړ شوي او مشرکین ئې د معبود په څېر لمانځي، د قبرونو طواف ئې کوي، په درشل کي ئې دعاګاني کوي، مرستي ترې غواړي، شفیع ئې ګڼي، د حاجتونو پوره کولو او مشکلاتو حلولو طمع ترې لري.

إِلَـٰهُكُمۡ إِلَـٰهٞ وَٰحِدٞۚ فَٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ قُلُوبُهُم مُّنكِرَةٞ وَهُم مُّسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٢٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡتَكۡبِرِينَ ﴿٢٣﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُم مَّاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡ قَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾ لِيَحۡمِلُوٓاْ أَوۡزَارَهُمۡ كَامِلَةٗ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَمِنۡ أَوۡزَارِ ٱلَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٢٥﴾

ستاسو اله یوازنی معبود دئ، نو هغه چي پر آخرت ایمان نه راوړي زړونه ئې منکر دي او دوی لویي غوښتونکي دي، یقیناً چي الله هرومرو په هغه څه هم پوهېږي چي دوی ئې پټوي او په هغه څه هم چي دوی ئې څرګندوي، بې شکه چي الله لویي غوښتونکي نه خوښوي، او کله چي دوی ته وویل شي: ستاسو رب څه رالیږلي؟ وایي: د لومړنیو افساني!! په دې سره به دوی د قیامت په ورځ هم خپل پېټي پر شا وړي او هم د هغو ځیني پېټي چي دوی په ناپوهی سره بې لاري کړي، خبردار چي بد دئ هغه څه چي دوی ئې پر شا وړي.

(۲۲-۲۵)- د دې مبارك آیت لارښووني دا دي:

- پورتني حقایق هر چا ته دا مدعاء ثابتوي چي الله تعالی یوازنی معبود دئ، له ده پرته بل اله او معبود نشته.
- هغه څوك به د دې څرګند او ځلانده حقیقت په وړاندي د انکار دریځ خپلوي چي په آخرت ایمان راوړو ته چمتو نه وي، د تېرو ګناهونو بد اغېز او د نورو ګناهونه بده اراده ئې دې ته نه پرېږدي چي په آخرت باور وکړي، لویي غوښتونکي دا حقیقت نه مني او مغرور زړونه ئې د انکار پرېکړه کوي، الله تعالی د دوی پر ټولو پټو او څرګندو ګناهونو پوه دئ، ښه پوهېږي چي د دوی د انکار وجه دا نه ده چي قانع کوونکي دلائل ئې نه دي اورېدلي بلکي وجه ئې فقط دا ده چي د دوی پټ او څرګند ګناهونه په دې حقیقت د اعتراف مانع ګرځي، څوك چي کبرجن او په

ګناهونو کې غرق وي د ايمان توفيق ئې نه په برخه کېږي، دا ځکه چې الله تعالى کبرجن او لويې غوښتونکې نه خوښوي.

- د حق په وړاندې د دغو لويې غوښتونکو منکرينو چلن داسې دئ چې کله ورته ووېل شي: ستاسو رب څه رالېږلي؟ وايي: د لومړنيو افسانې!! د قرآن په څېر باعظمته او له دلائلو او علمي اعجازونو ډک کتاب ته د اساطير الاولين په سترګه ګوري، چې د قرآن په دلائلو څوک قانع نشي په بل څه به څنګه قانع شي؟ د ګناهونو په ګنده ډنډ کې د غرق شوو مستکبرينو برخليک دا دئ چې د قيامت په ورځ به په داسې حال کې د الله تعالى په وړاندې ودرېږي چې هم به ئې د خپلو ګناهونو دروند پېټي پر شا وي او هم د هغو ځيني پېټي چې دوی په ناپوهۍ سره بې لارې کړي، د خپلو اتباعو د هغو ګناهونو پېټي به هم پر دوی بار وي چې سبب ئې دوی او د دوی غلط تلقينات ول.
- بايد متوجه وئ چې د دوی دروند پېټی د بدو بدو ګناهونو پېټی دئ، دغو ګناهونو دوی نه پرېښودل چې پر الله تعالى او د آخرت پر ورځې ايمان راوړي.

قَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى ٱللَّهُ بُنْيَـٰنَهُم مِّنَ ٱلْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ ٱلسَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ يُخْزِيهِمْ وَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تُشَـٰٓقُّونَ فِيهِمْ ۚ قَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ إِنَّ ٱلْخِزْىَ ٱلْيَوْمَ وَٱلسُّوٓءَ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٢٧﴾ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ ظَالِمِىٓ أَنفُسِهِمْ ۖ فَأَلْقَوُا۟ ٱلسَّلَمَ مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِن سُوٓءٍ ۚ بَلَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾ فَٱدْخُلُوٓا۟ أَبْوَٰبَ جَهَنَّمَ خَـٰلِدِينَ فِيهَا ۖ فَلَبِئْسَ مَثْوَى ٱلْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٢٩﴾

يقيناً چې هغو هم پټ تدبيرونه وکړل چې تر دوی مخکې ول، او الله د دوی ماڼيو ته د بنسټونو له لورې ورغی؛ نو چتونه پر دوی د پاسه پرېوتل، او عذاب له هغه لورې ورته راغی چې تصور ئې نشو کولی. بيا به ئې د قيامت په ورځ سپك او رسوا کړي او (ورته) وبه وايي: زما هغه شريکان چېرې دي چې د هغوی په اړه مو شخړې کولې، هغه چې علم ئې په برخه شوی وبه وايي: بې شکه چې نن پر کافرانو سپکاوی او بد حالت

(مسلط) دئ. هغه چي ملائكي ئي په داسي حال كي وفات كوي (روح ئي باسي) چي پر ځان ظلم كوونكي ول، نو سلام به اچوي (د تسليمئ اعلان به كوي او وايي به) موږ هيڅ بد كار نه كولو، داسي نه ده بلكي الله په يقيني توگه په هغه څه ښه پوهېږي چي تاسو كول. نو د دوزخ په دروازو ورننوځئ؛ تلپاته په هغه كي، نو څومره بد دئ د تكبر كوونكو مېشت ځی!!

(۲٦-۲۹)- په دې مباركو آيتونو كي دا لارښووني زموږ په وړاندي ايښودل شوي:

- كه ۲٦ آيت د مخكنيو او وروستنيو په رڼا كي وڅېړو نو راته جوته كېږي چي د منكرينو انكار په اصل كي د دوی له هغو تدبيرونو څخه يو تدبير وو چي د خپلي لويي د بقاء او دوام لپاره ئي كاوو، دوی د شرك سرداران ول، شرك ځپلي ټولني او شرك لړلو افكارو او عقايدو ډېر امتيازات د دوی په لمن كي غورځول، د همدې لپاره ئي له الله تعالی او د قيامت له ورځي انكار كولو او قرآن ته ئي اساطير الاولين ويل، نو ځكه دلته ورته ويل شوي: تر تاسو مخكي ډېرو دې ته ورته پټ تدبيرونه وكړل، الله تعالی د دوی تدبيرونه شنډ او د دوی د اقتدار مانۍ ړنگي كړې، داسي چي د زوال او نسكورېدا الهي پرېكړه د دوی له نظره پټه، د دوی د مانيو د بنسټونو لوري ته متوجه شوه؛ مانۍ ئي نسكوري او چتونه ئي د دوی د پاسه راپرېوتل، او الهي عذاب له هغه لوري ورته راغی چي دوی ئي تصور هم نشو كولی. دلته په (فَأَتَى ٱللَّهُ بُنْيَـٰنَهُم مِّنَ ٱلْقَوَاعِدِ: نو الله د دوی مانيو ته د بنسټونو له لوري ورغی) كي د الله تعالی په اړه داسي د اتيان او ورتگ لفظ راغلي چي په مجازي توگه كارول شوی، مقصد ئي دا دئ چي الله تعالی اراده وكړه د دوی مانۍ له بيخه ونړوي او چتونه ئي پرې رانسكور كړي، په داسي حال كي چي دوی غافل وي او په هغه څه نه پوهېږي چي د دوی د اقتدار مانۍ له بنسټه نړوي او بنيادونه ئي شړوي.
- الله تعالی به د قيامت په ورځ دا متكبرين سپك او رسوا كړي او ورته وبه وايي: زما هغه شريكان چېري دي چي د هغوی په اړه مو شخړي كولې؟! له دې آيت په ډېر وضاحت او صراحت سره معلومېږي چي انكار كوونكي متكبرين د شرك مدافعين او سرداران ول، نه عام او عادي خلك، د توحيد په خلاف د جنگ مشري او زعامت د دوی په لاس كي وو، دوی د پيغمبر عليه السلام په ضد د مخالفتونو او شخړو اور بل كړی وو. دوی ته به د قيامت په ورځ وويل شي: هغه جعلي معبودان مو چېري دي چي دفاع مو ترې كوله؟
- دوی به له ځواب ويلو عاجز وي، د دوی په ځای به د علم او ايمان خاوندان ووايي: بې شكه چي نن پر كافرانو سپكاوی او بد حالت مسلط دئ. هغه كافران چي ملائكي ئي په داسي حال كي روح ترې باسي چي پر ځان ظلم كوونكي ول، د ژوند تر پايه ئي پر خپل كفر او شرك ټينگار كړی، او په ظالمانه توگه ئي له حقايقو انكار كړی.
- په دغه ورځ به له لويي او تكبر لوېدلي وي، د تسليمئ غاړه به كږه كړي او په خوله به د تسليمئ اعلان كوي او وايي به: موږ هيڅ بد كار نه كولو!! لكه څنگه چي تر دې د مخه ئي د

قیامت له ورځې انکار کولو په هغه ورځ به له خپلو بدو کارونو انکار کوي، خو هغه انکار به هیڅ ګټه ورونه رسوي او ورته وبه ویل شي: انکار مو خوشې او بې ګټې دئ، دا ځکه چې الله تعالی په یقیني توګه په هغه څه ښه پوهېږي چې تاسو کول. نو اوس ستاسو هره ډله د دوزخ له اړوند یوې دروازې ورننوځئ؛ ستاسو تلپاتې هستوګنځی به همدا دوزخ وي.

● د تکبر کوونکو او لویې غوښتونکو بد مېشت ځی دغه تلپاتې دوزخ دئ، څومره بد مېشت ځی!!

وَقِيلَ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ مَاذَآ أَنزَلَ رَبُّكُمۡۚ قَالُواْ خَيۡرٗاۗ لِّلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٞۚ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞۚ وَلَنِعۡمَ دَارُ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٣٠﴾ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ يَدۡخُلُونَهَا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۖ لَهُمۡ فِيهَا مَا يَشَآءُونَۚ كَذَٰلِكَ يَجۡزِي ٱللَّهُ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٣١﴾ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴿٣٢﴾

او کله چې هغو ته وویل شي چې تقوی ئې کړې: ستاسو رب څه نازل کړي؟ وایي: یو خیر (له ښېګڼو ډك غوره پیغام)، هغو ته چې ښېګڼې کوي په دې دنیا کې ښېګڼه ده، او د آخرت کور خو ډېر غوره دئ، او څومره غوره دئ د دغو متقیانو هستوګنځی، داسې تلپاته جنتونه چې دوی به ورننوځي، ترې لاندې ویالې بهېږي، دوی ته به په هغوی کې هر هغه څه وي چې دوی ئې غواړي، الله دغو متقیانو ته په دې توګه بدله ورکوي. هغه چې ملائکې ئې په داسې حال کې روح قبضوي چې پاك دي، (ورته) وایي به: سلام پر تاسو، جنت ته ننوځئ د هغه څه له امله چې تاسو کول.

(۳۰-۳۲)- دلته د مخکنۍ ډلې په مقابل کې د متقیانو د ډلې حالت په دې توګه بیان شوی:

● کله چې له هغو خلکو د قرآن په اړه پوښتنه وشي چې له ګناهونو ئې ځان ساتلی، او ورته وویل شي: ستاسو رب څه نازل کړي؟ د دوی ځواب به دا وي: له خیر او ښېګڼو ډك غوره پیغام.

● دا متقیان هغه دي چې نه یوازي له ګناهونو ئې ځان ساتنه کړې بلکې د خیر او ښېګڼې کارونه ئې کړي، د الله تعالی له لوري د دوی د ښېګڼو بدله ښېګڼې دي، هم په دې دنیا کې او هم په آخرت کې، او دا خو څرګنده ده چې د آخرت کور به ئې تر دې ډېر غوره وي، د متقیانو دا غوره هستوګنځی داسې تلپاته جنتونه دي چې دوی به ورننوځي، تر بنګلو او ونو لاندې به ئې

ویالي بهیږي، په هغوی کي به د دوی لپاره هر هغه څه وي چي د دوی زړه ئې غواړي، د الله تعالی له لوري به دغو متقیانو ته الهي بدله داسي وي.

- دا متقیان هغه دي چي ملائکي به د دوی روح په داسي حال کي قبضوي چي هر څه ئې پاك وي، تن ئې، روح ئې او اخلاق ئې، له بدو کارونو او ګناهونو ئې خپله لمن پاکه ساتلې، له حرامو ئې ډډه کړې، له ګنده افکارو ئې خپل زړه او دماغ پاك ساتلي، له بدو اخلاقو او ګنده عاداتو ئې اجتناب کړی.
- د جنت په دروازو کي به فرشتي د دوی هر کلی کوي او ورته وايي به: سلام پر تاسو، جنت ته ننوځئ د هغه څه له امله چي تاسو کول.

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِيَ أَمْرُ رَبِّكَ ۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ وَمَا ظَلَمَهُمُ ٱللَّهُ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٣٣﴾ فَأَصَابَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا عَمِلُوا۟ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٣٤﴾

آیا له دې پرته د بل څه انتظار نه کوي چي فرشتې ورشي یا د الله امر، هغو هم داسي وکړل چي تر دوی د مخه ول، او الله پر دوی ظلم ونه کړ بلکي دوی پر خپل ځان ظلم کاوو، نو د لاسته راوړنو بده پایله ئې په برخه شوه، او هغه عذاب پرې محقق شو چي ملنډې ئې پرې وهلې.

(۳۳-۳٤)- اوس او له هغو ټولو دلائلو وروسته چي په دې سورې کي او د قرآن د نورو لارښوونو په ترڅ کي دوی ته وړل شوي، بل داسي دلیل پاتې نه دئ چي د دوی د جهل او عناد سترګي ورپرانیزي او ایمان راوړو ته ئې چمتو کړي، له دې پرته د بل څه انتظار نه شي کولی چي یا فرشتې ورشي یا الهي عذاب سیوری پرې وغوړوي، د دوی سلف کافرانو هم دې ته ورته دریځ غوره کړ او د پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت په وړاندي ئې همداسي چلن اختیار کړ، تر هغه ئې له مخالفت او دښمنۍ لاس وانه خیست چي الهي عذاب پرې نازل شو او کرغېړن برخلیك سره مخامخ شول، د دې سترو عذابونو په نازلولو سره الله تعالی پر دوی ظلم نه دئ کړی بلکي دوی پر خپل ځان ظلم وکړ، همغه څه ئې په برخه شول چي د دوی د کړنو عادلانه سزا وه، د بدو عملونو بده پایله، او همغه عذاب پرې نازل شو چي دوی به ملنډې پرې وهلې او هغه به ئې تش ګواښ او د حقیقت خلاف ګاڼو.

وَقَالَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدْنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَىْءٍ نَّحْنُ وَلَآ

ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ فَعَلَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ فَهَلۡ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٣٥﴾

او هغو چي شرك ئې كړی وويل: كه الله غوښتی نو نه به موږ له ده پرته د بل څه عبادت كړی وو او نه زموږ پلرونو، او نه به مو له ده پرته په خپل سر كوم شی حرام كړی وو، تر دوی مخكنيو همداسي وكړل، نو آيا پر پيغمبرانو له ښكاره (پيغام) رسولو پرته بله ذمه والي شته؟!

(۳۵)- د دې مبارك آيت لارښووني په دې توګه دي:

~~● رسول الله ته د قريشو مشركينو وويل: هغه مذهبي طريقه او كړنلاره چي موږ غوره كړې~~
د الله تعالی د رضاء مطابق ده، كه الله تعالی پرې راضي نه وی او نه ئې غوښتی چي زموږ په څېر غوره قوم او د ابراهيم عليه السلام اولاد دا كړنلاره غوره كړي نو هرومرو به ئې زموږ مخنيوی كړی وو، نه به مو بتان لمانځلی شو او نه به مو كوم څه په خپل سر حرام ګرځولي وو، ته هم وايي چي هيڅوك د الله تعالی د مشيت او غوښتني خلاف د څه كولو او ويلو توان نه لري، ستا د خبري معنی دا ده چي زموږ هر څه د الله تعالی د مرضي مطابق دي!!

● د دوی په ځواب كي ويل شوي: ۱- ستاسو مخكنيو هم د پيغمبرانو عليهم السلام د دعوت په وړاندي دې ته ورته كړنلاره درلوده او همدا وينا ئې وكړه، كه دوی د دغي كړنلاري له كبله په الهي عذاب اخته شول نو ستاسو برخليك به هرو مرو دوی ته ورته وي. ۲- كه خبره داسي وی لكه چي تاسو ئې وايئ نو الله تعالی به پيغمبران عليهم السلام ولي له څرګندوونكو الهي پيغامونو سره لېږل چي خلكو ته روښانه كړي څه حرام دي او څه حلال، په څه الله تعالی راضي كېږي او په څه ناراض، څه وكړئ او څه مه كوئ، بيا خو به ئې هر څوك خپلي مخي ته پرېښی وو، نه به ئې پيغمبران لېږل او نه عذابونه، آيا مخكنيو رسولانو له دې پرته بل كار كړی چي د الله تعالی مبين او د حق او باطل بيانوونكی پيغام تر خلكو ورسوي؟ آيا هغه خلك په الهي عذابونو اخته نشول چي د الهي مبين پيغام او پيغمبرانو مخالفت ئې كړی؟

وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ فَمِنۡهُم مَّنۡ هَدَى ٱللَّهُ وَمِنۡهُم مَّنۡ حَقَّتۡ عَلَيۡهِ ٱلضَّلَٰلَةُۚ فَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ﴿٣٦﴾

او يقيناً چي په هر امت او ډلي كي مو يو پيغمبر مبعوث كړی (له دې پيغام سره چي) د

الله عبادت وکړئ او له طاغوتانو ډډه وکړئ، نو د دوی ځیني داسي وو چي الله هدایت کړل او ځیني ئي هغه چي ضلالت پرې محقق شو، نو په زمکي کي وګرځئ او وګورئ چي د تکذیب کوونکو پایله څنګه وه!!

(۳٦)- دا مبارك آیت د مخکني شرح او تفصیل زموږ مخي ته ږدي او وایي: الله تعالی په هر امت او ولس کي یو پیغمبر مبعوث کړی، خپل خپل ولس ته د هر پیغمبر الهي پیغام دا وو چي د الله عبادت وکړئ او له طاغوتانو ډډه وکړئ، د طاغوتانو له غلامۍ او بندګۍ ځان آزاد کړئ، هر هغه څوك او هر هغه څه طاغوت دئ چي له الله تعالی پرته د هغه عبادت کیږي، انسان د هغه په وړاندي سر ټیټوي، حکم ته ئي غاړه ږدي، د حاکم او قاضي په توګه ئي مني او خپلي شخړي د حل و فصل لپاره هغه ته راجع کوي. د هر پیغمبر له امت څخه ځینو ایمان راوړی، الهي لارښوونه، سعادت، فلاح او بریا ئي په برخه شوې او له الهي عذابونو ژغورل شوي، او ځیني ئي داسي چي د ضلالت لار ئي غوره کړې، د الهي معیارونو له مخي لارورکي ګڼل شوي او په الهي عذابونو اخته شوي. د تاریخ پاڼي واړوئ، د مخکنیو امتونو برخلیك ته ځیر شئ، په زمکي کي وګرځئ او وګورئ چي تکذیب کوونکي له کومو بدو پایلو سره مخامخ شوي او عاقبت ئي څومره تریخ او دردناك وو!! وګورئ فرعون او فرعونیان له کوم برخلیك سره مخامخ شوي او موسی علیه السلام او مؤمن پلویان څنګه ژغورل شوي او بریا ئي په برخه شوې، له نوح علیه السلام او مؤمنو پلویانو سره الهي مرسته څنګه وه او د ده مکذبین په کوم برخلیك اخته شول، د تاریخ په هري پاڼي او د زماني په هر موړ کي به دغه حقیقت ستاسو په وړاندي وځلیږي چي د شرك او کفر څواکونو پایله تیاره او سپیره ده.

إِن تَحْرِصْ عَلَىٰ هُدَىٰهُمْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى مَن يُضِلُّ ۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ 

که د دوی د لارښووني حرص او تلوسه وکړې نو (پوه شه چي) یقیناً الله هغه څوك نه هدایتوي چي بې لاري کوي ئې، او دوی هیڅ مرستندویان نه لري.

(۳۷)- دا مبارك آیت له یوې خوا د رسول الله ﷺ هغه تنده او تلوسه په ګوته کوي چي د خپل امت د هدایت او نجات په اړه ئي درلوده، زړه سوی او تلوسه ئي دومره وه چي قرآن ئي د حرص په صیغه تمثیلوي، له بلي خوا د خلکو د لارښووني په اړه د الله تعالی ثابت او تغییر نه منونکی سنت زموږ مخي ته ږدي او وایي: الله تعالی هغه څوك نه هدایتوي چي الله تعالی ئي د هدایت وړ وړ نه مومي او د هغه د بې لاري کېدو پرېکړه کوي، دا هغه خلك دي چي نه یوازي په خپله د لارموندو تلوسه نه لري او هڅه نه کوي، بلکي له سمي لاري مخ اړوي او په کږو لارو درومي. نه الله تعالی دوی ته لارښوونه کوي او نه بل څوك توانېدی شي چي دوی پر سمه لار تلو ته چمتو کړي، دوی هیڅ مرستندوی نه لري.

وَأَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ ۙ لَا يَبْعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُ ۚ بَلَىٰ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِى يَخْتَلِفُونَ فِيهِ وَلِيَعْلَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمْ كَانُواْ كَـٰذِبِينَ ﴿٣٩﴾

او په خپلو کلکو قسمونو سره ئي د الله په نامه لوړه وکړه چي الله به هیڅلکه هغه څوك راژوندی نه کړي چي مري!! داسي نه ده بلکي دا د الله پر ذمې یوه رښتیني وعده ده، خو ډېری خلك نه پوهېږي، دا د دې لپاره ده چي دوی ته هغه څه څرګند کړي چي په هغه کي ئي اختلاف کاوو او تر څو کافران وپوهېږي چي دوی دروغجن ول.

(۳۸-۳۹)- په دې مبارکو آیتونو کي د قیامت د ورځي له راتلو د مشرکینو کلك انکار او د دوی په ځواب کي څو مضبوطو دلائلو ته په دې توګه اشاره شوې:

- دوی د الله تعالی په نامه کلك کلك قسمونه کول چي الله تعالی به هیڅلکه هغه څوك بیا راژوندی نه کړي چي ومري!! د دې معنی یا دا ده چي بیاژوندون ورته محال او ناممکن برېښېدو، او یا ئې معنی دا ده چي د دوی مذهبي مشرانو دوی ته په درواغو قسمونه خوړل او ویل ئې: الله تعالی هیڅکله نه دي ویلي چي زه به مړي بیاراژوندي کوم، نه په مخکنیو کتابونو کي دا خبره شوې او نه مخکنیو پیغمبرانو دا خبره کړې!! خو د ۳۹ آیت له فحوی معلومېږي چي دا دوهم تعبیر صحیح دئ، ځکه هلته ویل شوي: تر څو کافران وپوهېږي چي دوی دروغجن ول، یعني دا یوه دروغجنه وینا وه چي غوښتل ئې عوام پرې وغولوي.
- د قیامت راوستل، له بندګانو سره محاسبه او د دوی مکافات او مجازات داسي مسئله ده چي الله تعالی پر خپلې ذمې اخیستې، دا له بندګانو سره د الله تعالی ژمنه ده، رښتیني ژمنه چي تحقق ئې حتمي دئ، خو ډېری خلك نه پوهېږي، نه خپل رب پېژني او نه په دې پوهېږي چي د عادل مهربان رب له شأن سره همدا ښایي چي د قیامت ورځ راولي، کامل او بشپړ عدالت تأمین او هر چا ته د خپلو عملونو مناسبه بدله ورکړي. څنګه ومنو چي هغه مهربان رب به قیامت نه راولي چي رحمن دئ او پر خپلو بندګانو سخت مهربان، هغه مهربان رب چي د انسان په اړه د ده پېرزویني بې انتهاء دي، آیا منلی شو چي دا مهربان رب به د هغه مظلوم بنده پوښتنه نه کوي چي حق ئې تلف شوی، ظلم پرې شوی، په ناحقه وژل شوی، پر سر، مال او عزت ئې تېری شوی؟!! دا انګېرنه نه د الله تعالی له پېرزوینو او مهربانیو سره اړخ لګوي او نه له عدالت سره، د دې لپاره هم د قیامت راتګ یو ضرورت دئ چي حقایق څرګند شي او په ټولو هغو قضایاوو کي عادلانه او پر حق ولاړه پرېکړه وشي چي خلکو په کي اختلاف کولو، چا د حق پلوي کوله او چا د باطل. د انسان د پیدایښت له ورځي دا لړۍ پیل شوې چي چا یوه څه ته حق ویلي او چا بل ته، چا یوه تګلاره سمه ګڼلې او چا بله، چا دې عالم ته په یوه سترګه کتلي او چا په بله سترګه، چا یو دین او مذهب د بریا او نجات وسیله ګڼلی او چا بل دین او مذهب، د همدې اختلافاتو له کبله په انسانانو کي شخړي راولاړي شوې، جګړي رامنځته شوې او د ډېرو ویني توی شوې، له الهي عدالت سره دا ښایي چي د دغو شخړو او جګړو په اړه عادلانه پرېکړه وشي، حق او باطل، ظالم او مظلوم څرګند شي او مکافات او مجازات ترسره شي.

إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَىْءٍ إِذَآ أَرَدْنَـٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٤٠﴾

كله چي د يوه څه اراده وكړو نو زموږ وينا يوازي دا وي چي ورته وايو: وشه! نو (هغه له ځنډه پرته) وشي.

(٤٠)- دا مبارك آيت كه له يوې خوا موږ ته وايي: د الله تعالى شأن داسي دئ چي كله د كوم كار د كولو او د كوم څه د پيدا كولو اراده وكړي نو يوازي د يوه امر په صادرولو سره هغه كار ترسره شي، يوازي دومره وايي چي وشه، نو هغه كار له ځنډه پرته ترسره كيږي، له بلي خوا په دې سره د هغو منكرينو ځواب وايي چي د قيامت راتګ او د مړو بيا راژوندي كېدا ورته محال او ګران برېښي، د الله تعالى او د هغه د شأن په اړه د دوى غلطه انګېرنه د دې باعث شوې چي د ټولو انسانانو بياراژوندي كول، له هر يوه سره محاسبه او هر چا ته د خپلو تګلارو او كړنو مناسبه سزا او بدله وركول ورته ګران او ناممكن كار برېښي، دې ته ئې پام نه دئ چي الله تعالى دا پراخ عالم څنګه پيدا كړى، ولي به هغه چا ته د انسان بيا پيدا كول ګران وي چي انسان ئې د لومړي ځل لپاره له مړې خاورې راپيدا كړ!!

وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ فِي ٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْ لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗۖ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٤١﴾ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٤٢﴾

او هغو چي د الله په لار كي ئې له هغه وروسته هجرت كړى چي ظلم پرې شوى، هرومرو به ئې په دنيا كي په غوره توګه ځاى پر ځاى كړو او د آخرت اجر خو تر ټولو ستر دئ، كاش پوهېدى. همغه چي صبر ئې وكړ او پر خپل رب توكل كوي.

(٤١-٤٢)- دا آيت د مخكنيو لپاره شرحه او د مطالبو لپاره ئې يوه عملي او څرګنده بېلګه ده، هلته په عامه توګه ويل شوي چي الله تعالى به قيامت د دې لپاره راولي چي د خلګو د خپلمنځيو اختلافاتو په اړه وروستى عادلانه پرېكړه وكړي، دلته د همدغو اختلافاتو يوه عملي بېلګه وړاندي شوې، دا دئ ګورئ چي پر ځينو ظلم وشي، د ظالمانو ظلم ئې هجرت او د خپل كور، كلي او پټي پرېښودو ته اړ كړي، آيا د عدل تقاضاء او د عقل وينا دا نه ده چي د دغه مظلوم مهاجر پوښتنه وشي، آيا ستاسو زړه دا نه غواړي چي د هغه ظالم په خلاف د دې مظلوم مهاجر مرسته وكړئ، كه مو له وسه پوره وي نو آيا ستاسو زړه سوى او عدالت غوښتنه به تاسو دې ته ونه هڅوي چي هغه ظالم ته مناسبه سزا وركړئ او دا مظلوم مهاجر په خپل كور كلي كي ځاى پر ځاى كړئ؟!! كه تاسو دا كار كوئ نو هغه الله تعالى به ئې څنګه نه كوي چي ستاسو او ستاسو د ټولو عواطفو او مشاعرو خالق دئ او په تاسو كي ئې دا زړه سوى او عدالت غوښتنه ايښي ده، يقيناً چي هغه تر تاسو زيات مهربان او د عدالت پلوي دئ او هرومرو به دا مهاجرين ترخپل مخكني ټاټوبي په لازيات غوره مېشت ځاى كي مستقر كوي او كه ئې د ځينو عواملو له كبله د دنيا نېكه بدله په برخه نشوه نو قيامت ئې د همدې لپاره د محاسبې ورځ ټاكلې چي دوى ته خپله نېكه بدله وركړى شي. ناپوه او بې عقله وګړي به له دې حقيقته انكار كوي.

• دا الهي ژمنه له هغه مهاجر سره ده چي د حق په لار كي ئې صبر وكړ، په نيمي لار كي بې حوصلې نشو، له سمي لاري يوه او بل لوري ته كوږ نشو، او تر پايه پرخپل دريځ ټينګ پاته شو، هغه چي پر خپل رب توكل كوي، هر څه خپل رب ته حواله كوي، د ځان په اړه د هري پرېكړي اختيار خپل رب ته سپاري او هره پرېكړه ئې په ورين تندي مني.

• له دې مبارك آيت په وضوح سره معلومېږي چي دا مباركه سوره د مكي دور په هغي مرحلې كي نازله شوې چي ځينو مؤمنانو د حبشې په لوري هجرت كړی. له مهاجرينو سره د الله تعالى دغه ژمنه ترسره شوه چي دوی ته په دنيا كي غوره مېشت ځی وركوي، الله تعالى نه يوازي په حبشه او مدينه كي دوی ته پناه ځی برابر كړ بلكي مكه د دوی په لاس فتحه شوه او همغه د پرون ورځي ظالمان دوی ته تسليم شول، او دا د قرآن يوه وړاندوينه وه چي ترسره شوه.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۚ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٤٣﴾ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلزُّبُرِۗ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾

او تر تا د مخه مو نه دي لېږلي مګر هغه سړي چي وحي مو ورته كوله، نو كه نه پوهېږئ اهل الذكر وپوښتئ. له څرګندو نښو او كتابونو سره، او تا ته مو دا ذكر او پند درلېږلی ترڅو خلكو ته روښانه كړې چي څه ورته نازل شوي او د دې لپاره چي تفكر وكړي.

(٤٣-٤٤)- په دې مباركو آيتونو كي څو لارښووني مومو:

• كه څه هم خطاب رسول الله ﷺ ته متوجه دئ خو په حقيقت كي دا د مشركينو د يوه اعتراض ځواب دئ، هغوی ويل چي الله تعالى ولي يو انسان او زموږ په څېر يو سړی د پيغمبر په توګه غوره كړی، څنګه ومنو چي دا د الله تعالى له لوري رالېږل شوی استازی دئ، د الله تعالى رسول او استازی خو بايد په هر څه كي له نورو توپير ولري، د دوی په ځواب كي ويل شوي: تر محمد عليه السلام مخكي ډېر پيغمبران لېږل شوي، ټول د نورو په څېر انسانان او سړي ول، له نورو ئې توپير يوازي په دې كي وو چي وحي مو ورته كوله، د څرګندو نښو او كتابونو حامل مو ګرځولي ول.

• كه له دې حقيقته خبر نه يئ نو اهل الذكر وپوښتئ، د اهل الذكر مراد يا اهل تورات دي چي قرآن د ذكر په نامه هم نومولی او يا مراد تاريخ پوهان او له مخكنيو پېښو باخبر وګړي دي، ځكه د آيت په سر كي ويل شوي چي تر تا مخكي مو له سړيو پرته بل څوك (فرشته يا بل څه) د پيغمبر په توګه نه دي لېږلي، كه په دې نه پوهېږئ نو اهل الذكر (له مخكنيو واقعاتو مطلع خلك)

ویپوښتئ. د اهل الذکر معنی په هیڅ توګه هغه نه ده چي ځيني مرضي او غرضي کړی ئي تعبيروي او د ذاکرينو او اوراد ويونکو په معنی ئي تعبيروي، هيڅ عاقل او د شفاف ذهن خاوند انسان به له دې اهل الذکر د ذاکرينو معنی وانه خلي؟!!

• په دې مبارك آيت کي د پيغمبر د بعثت موخه او دنده په دې توګه ښودل شوې: ته د مخکنيو پيغمبرانو په څېر د دې الهي تذکار او ذکر حامل ګرځول شوی يې، ستا دنده دا ده چي خلك په دې حقيقت پوه کړې چي د الله تعالی له لوري د لېږل شوو ارشاداتو حقيقي معنی او تفصيل څه دئ، يعني د پيغمبر وينا او عمل د الهي ارشاداتو عيني تجسم، تشريح او تفصيل دئ، الله تعالی ځکه خپل کتاب د يوه پيغمبر په لاس خلکو ته لېږي چي د کتاب د محتوی په اړه خلك بېل بېل تعبيرونه ونه کړي، د اصلي حامل په وينا او کړنو کي د هغه تعبير او تأويل ولټوي، د پيغمبر دنده دا ده چي الهي پيغام تر خلکو ورسوي او سم، صحيح او حقيقي تعبير ئي د هغوی په وړاندي کېږدي او په دې توګه هم د الله تعالی د کتاب په اړه د شك هر مجال له منځه يوسي او هم د اختلاف عوامل او اسباب.

• د آيت په پای کي ويل شوي: ترڅو تفکر وکړي، بايد وګورو چي د دې معنی څه ده او ارتباط ئي له مخکنيو مطالبو سره څنګه دئ، تر دې د مخه ويل شوي چي الهي کتابونه د پيغمبرانو په لاس لېږل شوي، رسول اللهﷺ د مخکنيو رسولانو په څېر د الهي وحي حامل او شارح دئ، يعني الهي کتابونه حامل او شارح ايجابوي، د دوی له لاري د وحي شرح او تفصيل خلکو ته وړاندي کېږي، خو دا الهي کتابونه داسي دي چي د پيغمبر، حامل او شارح ترڅنګ تفکر ايجابوي، هغه څوك پرې پوهېدی شي چي په مضامينو کي ئي غور او تفکر وکړي، د سطحي فکر خاوندان او هغه چي په مسائلو کي د غور او دقت استعداد نه لري د دې الهي کتابونو د مطالبو په پراخو ابعادو نشي پوهېدی، د کافرانو د انکار اصلي وجه دا ده چي هغوی د ړوند تعصب او تعنت لار غوره کړې، دا تعصب او تعنت ئي نه پرېږدي چي د قرآن په مطالبو کي غور وکړي او ايمان راوړي.

أَفَأَمِنَ ٱلَّذِينَ مَكَرُواْ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَخۡسِفَ ٱللَّهُ بِهِمُ ٱلۡأَرۡضَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ مِنۡ
حَيۡثُ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٤٥﴾ أَوۡ يَأۡخُذَهُمۡ فِي تَقَلُّبِهِمۡ فَمَا هُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٤٦﴾ أَوۡ
يَأۡخُذَهُمۡ عَلَىٰ تَخَوُّفٖ فَإِنَّ رَبَّكُمۡ لَرَءُوفٞ رَّحِيمٌ ﴿٤٧﴾

نو آيا هغه چي بد بد مکرونه ئي کارولي له دې ئي ځان خوندي کړی چي الله ئي په زمکي کي ښخ کړي يا په داسي توګه عذاب پرې راشي چي تصور ئي نشي کولی، يا ئي د تګ راتګ په دوران کي ونيسي په داسي توګه چي برلاسي کېدونکي نه وي، يا ئي پر وېرولو سربېره ونيسي، نو بې شکه چي ستاسو رب مهربان رؤف دئ.

(٤٥-٤٧)- په دې مباركو آيتونو كې د هغو مخالفينو او معارضينو په اړه چې د حق خلاف او له باطل د دفاع په موخه ناروا او ناوړه تدبيرونه كاروي، له هيڅ بد، پليت او كركجن تدبير او له هيڅ جرم او جنايت ډډه نه كوي، ويل شوي: آيا دوى داسې انګېري چې د الله تعالى له مؤاخذې خوندي دي؟ كوم تضمين ئې ترلاسه كړى؟ آيا دا ګمان نه كوي چې الله تعالى كولى شي دوى په زمكې كې ښخ كړي، كه الله تعالى دا پرېكړه وكړي نو څوك به ئې مخنيوي وكړي؟ آيا كوم تضمين لري چې كه الهي عذاب له داسې لورې او په داسې توګه پرې راشي چې دوى ئې تصور هم نشي كولى، د دوى كوم تدبير به د داسې عذاب مخه ونيسي يا به ئې ترې وژغوري؟ دا ضمانت چا وركړى چې الهي عذاب به په داسې حال كې پر دوى سيورى نه غوړوي چې د ورځني ژوند په چارو كې بوخت او په ښارونو كې دتګ راتګ په حال كې وي؟ او كه دا عذاب راشي نو دوى به ئې مخه ونيسي او پر خپلې ځان ژغورنې به برلاسي شي؟ آيا داسې انګېري چې الله تعالى به ئې داسې نه نيسي چې لومړى ئې ووېروي او بيا عذاب پرې نازل كړي؟ مګر خبر نه دي چې الله تعالى له ډېرو سره داسې معامله كړې چې لومړى ئې تنبيه كړي، د عذاب نښې ئې له لرې ورښودلې او په مهلك عذاب ئې هغه مهال اخته كړي چې تنبيهاتو ګټه نه ده وررسولې. الله تعالى دا هر څه كولى شي خو د دې لپاره خپلو بندګانو ته مهلت وركوي او ژر ئې نه نيسي چې مهربان رؤف دئ.

أَوَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَىٰ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَىْءٍ يَتَفَيَّؤُا۟ ظِلَـٰلُهُۥ عَنِ ٱلْيَمِينِ وَٱلشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِّلَّهِ وَهُمْ دَٰخِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ مِن دَآبَّةٍ وَٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٩﴾ يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴿٥٠﴾ 

آيا هر هغه څه ته ئې نه دي كتلي چې الله پيدا كړي، هغه چې سيوري ئې الله ته د سجدې په توګه له ښي او كيڼ لوري راتاوېږي، په داسې حال كې چې دوى الله ته انقياد كوونكي وي. او الله ته هم د آسمانونو او زمكې هر څه سجده كوي، كه دا كوم خوځېدونكى وي او يا فرشتې، په داسې حال كې چې دوى تكبر نه كوي، له ځانه بر خپل رب څخه وېرېږي او همغه څه كوي چې پرې ګمارل كېږي.

(٤٨-٥٠)- دلته يو ځل بيا د كافرانو پام دې خبرې ته رااړول شوى چې د عالم هر څه، د آسمانونو او زمكې ټول مخلوقات، كه دا جمادات دي، يا ژوي يا فرشتې، الله تعالى ته منقاد دي او همغه څه كوي چې الله تعالى پرې ګمارلي، دوى هم او سيوري ئې هم، په دې ټول پراخ عالم كې يوازنى مخلوق چې د خپل رب په وړاندې ئې د عصيان او بغاوت لار خپله كړې هغه

کافر او مشرك انسان دئ چي پر الله او آخرت ايمان نه لري او د پيغمبرانو مخالفت کوي!! آيا دوی د دې عالم په هر لوري کي خورو شيانو ته پام نه دئ کړی، هغه چي سيوري ئې له الهي سننو سره سم او په منظمه توگه ښي او کيڼ لوري ته تاوېږي، په هر څه کي د خپل رب حکم ته تابع، نه په خپلي دندي کي اهمال کوي، نه خپل مسير بدلوي، نه د خپل فطرت خلاف گام اخلي، نه عصيان او بغاوت کوي او نه کبر او لويي، **په داسي حال کي چي هيڅ گناه نه کوي خو سره له دې د الله تعالی عظمت او خپل قصور ته په پام سره وېرېږي!! آيا عجيبه نه ده چي تاسو د ټول عالم خلاف لار غوره کړې او په داسي حال کي له خپل رب وېره نه لرئ چي په گناهونو کي غرق يئ؟!!**

د عالم د ټولو شيانو او د دوی د سيوري د سجدې په اړه د الرعد د سورې د ١٥ آيت په تفسير کي تفصيلي بحث شوی، اميد دئ هلته مراجعه وکړئ.

وَقَالَ ٱللَّهُ لَا تَتَّخِذُوٓاْ إِلَٰهَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَإِيَّٰيَ فَٱرۡهَبُونِ ﴿٥١﴾ وَلَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلدِّينُ وَاصِبًاۚ أَفَغَيۡرَ ٱللَّهِ تَتَّقُونَ ﴿٥٢﴾

او الله وفرمايل: دوه گوني معبودان مه نيسئ، حقيقت دا دئ چي دی يوازنی معبود دئ، نو يوازي له ما ووېرېږئ، او څه چي په آسمانونو او زمکي کي دي د ده دي، او دا (په ټول عالم کي) ساري او جاري دين د ده دئ، نو آيا له الله پرته له بل چا وېرېږئ؟

(٥١-٥٢)- د دې مبارکو آيتونو څلانده لارښوونکي ارشادات دا دي:

- د الله تعالی وينا دا ده چي شرك مه کوئ، له ما پرته بل معبود مه نيسئ، له ما پرته بل معبود نشته، ستاسو طمعه او وېره دي يوازي له ما وي.
- د آسمانونو او زمکي هر څه د الله تعالی دي، د عالم هيڅ څه د بل چا په واك کي نه دي، هر څه له هغه وغواړئ، بل درشل ته لاس مه اوږدوئ، د بل په واك کي داسي څه نشته چي تاسو ته ئې درکړي.
- د دې عالم په پراخي غېږ کي پر هر څه او هر لوري د الله دين حاکم دئ، د عالم هر څه د همغو الهي سننو او ضوابطو مطابق عمل کوي چي د الله تعالی له لوري وضع شوي، هر څه الهي دين ته خاضع او خاشع دي، هر چا ته د دغه دين مطابق سزا او جزا ورکول کېږي، نو په کار ده چي له الله تعالی پرته له بل چا وېره ونه لرئ.

وَمَا بِكُم مِّن نِّعۡمَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فَإِلَيۡهِ تَجۡـَٔرُونَ ﴿٥٣﴾ ثُمَّ إِذَا كَشَفَ ٱلضُّرَّ عَنكُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنكُم بِرَبِّهِمۡ يُشۡرِكُونَ ﴿٥٤﴾ لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡۚ فَتَمَتَّعُواْۖ فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴿٥٥﴾ وَيَجۡعَلُونَ لِمَا لَا يَعۡلَمُونَ نَصِيبٗا مِّمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡۗ تَٱللَّهِ لَتُسۡـَٔلُنَّ

عَمَّا كُنتُمۡ تَفۡتَرُونَ ﴿٥٦﴾

او د نعمتونو کوم څه چې ستاسو په برخه شوي نو د الله له لوري دي، بیا چې کله کوم کړاو دروړسېږي نو ده ته زارۍ کوئ، بیا چې کله دا کړاو درڅخه دفع کړي ناڅاپه ستاسو یوه ډله د خپل رب په اړه شرك کوي، تر څو د هغه څه ناسپاسي وکړي چې موږ ورکړي، نو برخمن شئ، ژر به پوه شئ. او له هغه څه چې موږ درروزي کړي یوه برخه داسي چا ته ټاکي چې نه ئې پېژني، قسم په الله چې هرومرو به د هغه څه په اړه وپوښتی شئ چې افتراء کول مو (په دروغو مو له ځانه جوړول).

(٥٣-٥٦)- دلته د شرك او توحید په اړه ډېر جامع او ښکلی بحث شوی، چې اساسي او مهم ټکي ئې دا دي:

- کوم نعمتونه چې ستاسو په برخه شوي ټول ستاسو د رب او حقیقي منعم له لوري دي، په ورکړي کي ئې د بل چا اراده دخیله نه ده.
- کله چې کوم کړاو دروړسېږي نو له هر چا مخ واړوئ او یوازې الله تعالی ته زارۍ کوئ.
- خو کله چې الله تعالی دا کړاو درڅخه دفع کړي، د دې په ځای چې د دغې الهي پېرزویني مننه وکړئ ناڅاپه ستاسو یوه ډله د خپل رب په اړه شرك کوي، د کړاو دفع کېدا بل چا او بل څه ته منسوبوي، کله خپل تدبیر ته، کله د کوم واکمن او ځواکمن رعایت او عنایت ته، کله د کوم پیر، فقیر، قبر او زیارت نظر ته.

د دې فقرې لِيَكۡفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيۡنَٰهُمۡ : تر څو د هغه څه ناسپاسي وکړي چې موږ ورکړي،

دوه تعبیرونه کېدی شي: یا دا چې د شرك طبیعي پایله دا راوخېژي چې دوی د الهي نعمت ناسپاسي وکړي او د خپل منعم احسان هېر کړي. یا دا چې دوی د دې لپاره ناسپاسي کوي او اصلي منعم هېروي چې په خپلو شتمنیو او نعمتونو کي په خلاص لاس او له کوم قید او شرط پرته همغسي تصرف وکړي چې د دوی زړه ئې غواړي، که دا د الله تعالی له لوري او د هغه پېرزوینه وګڼي نو بیا خو به ناچار د تصرف په وخت کي محتاط وي او د منعم خوښي او رضاء ته به ګوري. له وروستي فقرې معلومېږي چې همدا دوهم تعبیر دقیق او صحیح دئ ځکه دوی ته ویل شوي: ځئ له دغو نعمتونو همغسي برخمن شئ چې ستاسو زړه ئې غواړي، خو په دې پوه شئ چې عمر ئې لنډ دئ، ژر به پوه شئ چې د دې ناسپاسۍ پایله او سزا به څه وي.

- دا مشرکان له هغه څه چې موږ درروزي کړي یوه برخه ئې د داسي چا په نامه مختص کړي او د هغوی په نامه نذراني او شکراني ورکوي چې په ناپوهۍ کي ئې له الله تعالی سره په الوهیت او ربوبیت کي شریکوي، په دې نه پوهېږي چې دا جعلي معبودان په هیڅ څه کي د الله تعالی شریکان نه دي.
- الله تعالی په خپل ذات لوړه کوي او دوی ته وایي: هرومرو به د هغه څه په اړه وپوښتی شئ چې په دروغو مو له ځانه جوړول، ستاسو دروغجن معبودان هم ستاسو د واهمو زېږنده وو او د دوی په اړه ستاسو عقاید او باورونه هم له ځانه جوړ شوي درواغ او د حقیقت خلاف خبري.

وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ ٱلۡبَنَٰتِ سُبۡحَٰنَهُۥ وَلَهُم مَّا يَشۡتَهُونَ ﴿٥٧﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلۡأُنثَىٰ

ظَلَّ وَجْهُهُۥ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٥٨﴾ يَتَوَارَىٰ مِنَ ٱلْقَوْمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓ ۚ أَيُمْسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُۥ فِى ٱلتُّرَابِ ۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٥٩﴾

او الله ته لوڼي ټاكي، په داسي حال كي چي ده ته (له دې عيبه) پاكي ده، او دوى ته هغه څه دي چي زړه ئې غواړي، او چي كله ئې كوم يوه ته د نجلۍ (د زېږېدو) زيرى وركړى شي نو مخ ئې تك تور شي په داسي حال كي چي غمونه به زغمي، د دې بد زېري په وجه له قوم څخه پټېږي، (او له ځان سره وايي:) آيا په سپكاوي سره ئې وساتي او كه ئې تر خاورو لاندي كړي!! څومره بده ده هغه پرېكړه چي دوى ئې كوي!!

(۵۷-۵۹)- دلته د مشركينو هغو خرافي او د انساني فطرت او عقل خلاف كړنو او عقائدو ته اشاره شوې چي شرك پرې اخته كړي:

- الله تعالى ته ئې د لوڼو نسبت كړى، فرښتي د الله لوڼي بولي، همدا راز د ښځو په نامه ئې ګڼ شمېر داسي بتان جوړ كړي چي د الله تعالى تر څنګ ئې لمانځي او داسي ئې ګڼي لكه د الله تعالى ځاى ناستي لوڼي، او دا په داسي حال كي چي ځان ته لوڼي نه خوښوي، زړه ئې نه غواړي چي د لوڼو خاوند شي او ځاى ناستي ئې لوڼي وي، زامن خوښوي، د دوى حال داسي دئ چي په خپلي كورنۍ كي د لور زېږېدا د پېغور خبره ګڼي، د كورنۍ مشر په دې خبري د خجالت او شرم احساس كوي چي په كورنۍ كي ئې لور زېږېدلي وي، د چا په كور كي چي به لور پيدا شوه نو له سيالانو سره به په لوړ سر نه شو مخامخ كېدى او په جګو سترګو به ئې هغوى ته نه شو كتلى، د مظلومي نجلۍ برخليك به يا په ذلت او سپكاوي كي ژوند وو او يا ژوندۍ تر خاورو لاندي كېدا، دواړه ئې مرګ، يو ئې تدريجي مرګ او بل ئې فوري او ناڅاپي، احتمالاً چي قرآن په دې آيت (باي ذنب قتلت: په كومي ګناه وژل شوې) سره دغو دواړو مرګونو ته ګوته نيولې.

د جاهلي نظام په ماهيت باندي د ښه پوهېدا لپاره د دغي يوې بېلګي وړاندي كول كافي دي، بې ګناه او معصومي نجوني به ئې فقط د دې لپاره ژوندۍ په خاورو كي ښخي كړې چي ولي نجلۍ پيدا شوې، چي سبا به د بل ښځه وي او دا ئې د پلار لپاره يو پېغور وو، چي په جګړو كي به په اسارت نيول كېږي او د كورنۍ سر به پرې ټيټ وي، چي په جګړو كي ئې ساتنه او حفاظت د كورنۍ د غاړي پېتى، ولي هغه يو هلك نه دئ پيدا شوى چي مضبوطي متې ئې وى، جنګيالى او توريالى، چي هم له خپله ځانه، هم له كورنۍ او هم له قومه دفاع كولى شي!! د دې پيدايښت به ئې ځان ته عار او ننګ ګاڼو، چي كله به په كورنۍ كي د لور د زېږېدا خبر وركړى شو نو تندى به ئې ګونځي ګونځي شو، غم او غصه به ئې په څېرې كي راڅرګنده شوه، د شرم او سپكاوي احساس به ئې كاوو، چا ته به ئې په جګو سترګو نه شو كتلى!! په پورتني آيت كي قرآن د دوى دا حالت څومره ښكلى او دقيق انځور كړى!! عجيبه ده!! جهل، په خرافاتو باور او د غلط مذهب او عقيدې په اړه ړوند تعصب انسان كوم ځاى ته ورسوي،

ځومره ئې بې رحمه او بې عاطفې کړي، تر وحشي ځناور ورواوړي، خپله لور وژني!! دا ځکه چې د لور پيدايښت ئې د ننګ او پيغور خبره ګڼله، دا خو لا څه کوئ چې همدا د ننګ او پيغور خبره به ئې الله تعالى ته منسوبوله او د ښځو په بڼې کې به ئې ځان ته معبودان جوړول!!!

د نجونو د ژوندۍ ښخولو تفصيل د التکوير د سورې د ٨-٩ آيتونو په تفسير کې وګورئ، خو دلته دومره ويل ضروري ګڼو چې نن او په دې يوه ويشتمه پېړۍ کې ډېر خلك له نجونو سره همغه څه کوي چې څوارلس پېړۍ مخکې د هغه جاهليت په دوران کې ورسره کېدل چې اسلام ئې تېغ ورټول کړ او ښځې ئې نه يوازې له دې ستر ظلم څخه وژغورلې بلکې هغوی ته ئې په ډېرو برخو کې تر نارينه زيات حقوق او امتيازات ورکړل. نن هم نجوني پلورل کېږي، پلار مور ئې د دې له خوښې او موافقې پرته ودوي، ولور پرې اخلي، په بدل کې ئې ورکوي، د تعليم، مَهر او ميراث له حقونو محرومې دي، جومات او مدرسې ته ئې پر تګ بنديز لګول کېږي، شاقه شاقه او د دوی له وس او توان لوړو لوړو کارونو ته اړ کېږي، دومره کارونه ئې په غاړه وي لکه د قريشو د وينزو، په غرب کې کله د خپل عفت پلورلو ته اړ کېږي او کله ئې پلورلو ته هڅول کېږي، په چين او هند کې د لور د زېږېدو مخنيوی کېږي، کله چې پلار او مور پوه شي چې مور په خپل رحم کې لور لري نو د سقط او ماشوم ضايع کولو دوا اخلي، په هند کې د دې لپاره دا کار کوي چې د لور ودول د نجنی له مور او پلار؛ د جهيز په نامه داسې ملاماتوونکي مصارف ايجابوي چې دوی ئې اکثراً له پوره کولو عاجز وي او په دې توګه لور د مېړه له پيدا کولو محرومه او د ژوند تر پايه ئې لګښتونه د پلار په غاړه وي، او په چين کې د دې لپاره چې دولت هرې ښځې او مېړه ته يوازې د دوو ماشومان د درلودو حق ورکوي، دربيم نشي زېږولی، نو کله چې مور او پلار پوه شي چې دوهم ئې هم لور ده نو هغه سقط کوي!! د قرآن له نظره دا دومره ستر جرم دئ چې د قيامت د ورځې د هيبتناکو او وېروونکو صحنو له انځورولو، د ټولو خلکو له راژوندي کېدو او په ډلو ډلو کې له راغونډېدو وروسته، تر ټولو د مظلوم انسان، د هغې نجلی د محاکمې جريان انځوروي چې له کومې ګناه او جرم پرته، په ډېره بې رحمی او قساوت ژوندۍ ترخاورو لاندې ښخه شوې، وايي: الهي محاسبه به لومړی او په سر کې په دې پيل شي چې د مظلومانو پوښتنه به کېږي، خو په دغو مظلومانو کې به تر هر چا د مخه (ژوندۍ ښخه شوې) راوړاندې کړی شي، د قيامت د ورځې محاسبه به له دې ځايه پيل شي، د دې صحنې د تمثيل الفاظ او د بيان څرنګوالی داسې دئ چې د صحنې هيبت او رعب او د هغې ورځې د عادل قاضي قهر او غضب څرګندوي. د دې صحنې د هيبت ستروالی هغه وخت لازياتېږي او په ليدونکي باندې لازيات رعب او وېره مسلطوي چې دا صحنه د لمر او ستورو د تياره کېدو، د غرونو د خوځېدو او ... او نورو سترو سترو حوادثو په ضمن کې ګوري.

له ښځو سره ظالمانه او له تبعيض او سپکاوي ډك چلن، د دوی انساني حقوق تر پښو لاندې کول او هغه له دې محرومول چې په ټولنې کې خپل انساني مقام ولري، خپل حيثيت ترلاسه او خپله دنده ترسره کړي، دا د ښځې له ژوندۍ ښخولو سره مترادف کار دئ، دا ځکه چې له هغې سره د يوه ژوندي او شريف انسان په څېر معامله نه کېږي، استعدادونه ئې خپل

کېږي، د خپلو ورتیاوو د تجلي مجال نه شي ترلاسه کولی او د یوه مړي او د نورو د غاړې د پېټي په څېر ګڼل کېږي.

لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْآخِرَةِ مَثَلُ ٱلسَّوْءِ ۖ وَلِلَّهِ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ 

بد صفت خو له هغو سره وړ دئ چې په آخرت ایمان نه راوړي، او الله لره لوړ لوړ صفتونه دي، او هغه باحکمته عزتمن دئ.

(٦٠)- دا آیت ښیي چې د آخرت د منکرینو دا بد بد خصلتونه د هغې غلطې عقیدې له کبله ول چې په آخرت له عدم ایمان څخه راوټوکېده، همدغې خرافي عقیدې دوی هغه پړاو ته رسولي ول چې یا له الله تعالی انکار وکړي او یا هغه ته ناوړه صفات منسوب کړي، په داسي حال کي چي الله تعالی په لوړو لوړو صفتونو متصف او باحکمته عزتمن دئ.

وَلَوْ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِظُلْمِهِم مَّا تَرَكَ عَلَيْهَا مِن دَآبَّةٍ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٦١﴾

او که الله خلك د دوی د ظلم په سبب نیولی نو پر (زمکي) به ئې هیڅ خزنده نه وو پرېښی، خو تر ټاکلې نېټې ئې ځنډوي، نو کله چې د دوی اجل راورسېږي نه یوه ګړۍ وروسته کېدی شي او نه وړاندې کېدی.

(٦١)- دا هم د کافرانو د هغه اعتراض ځواب دئ چي د الهي عذاب په راتګ کي د ځنډ په اړه ئې درلود او د هغه په اړه الهي وعیدونه ئې هسې ګواښونه بلل، خو دا ځل په بېلو الفاظو او په لازیاتي زړه راښکونکې بڼې او مزید وضاحت سره، فرمایي: او که الله خلك د دوی د ظلم په سبب فوراً او له ځنډ او تأخیر پرته مؤاخذه کولی، ظالم ته ئې مهلت نه ورکولی، د توبې او جبران فرصت ئې نه ورکولی، له بنده سره ئې د بخښني او غفران له مخې معامله نه کولی نو پر زمکي به ئې هیڅ خزنده نه وو پرېښی، انسانان به هم له منځه تلل او ټول ژوي هم چې الله تعالی د انسان لپاره پیدا کړي. خو د دوی مهربان رب ئې د دې لپاره تر ټاکلې نېټې ځنډوي چې د بیا کتنې، توبې، تجدید نظر او د غلطیو د جبران فرصت ورکړي، عجیبه ده چې د آخرت او الهي مکافات او مجازات منکرین پر هغه ځنډېدا اعتراض لري چې په حقیقت کي د الله تعالی له لوري پر دوی ستره پېرزوینه ده!! دوی دي پوه وي چې دا ځنډ پای لري، هغه نېټه به په خپل وخت راورسېږي چې دوی ئې په تلوار غواړي، دا ثابته نېټه نه یوه ګړۍ وروسته کېدی شي او نه وړاندې کېدی.

وَيَجۡعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكۡرَهُونَ وَتَصِفُ أَلۡسِنَتُهُمُ ٱلۡكَذِبَ أَنَّ لَهُمُ ٱلۡحُسۡنَىٰۖ لَا جَرَمَ أَنَّ لَهُمُ ٱلنَّارَ وَأَنَّهُم مُّفۡرَطُونَ ﴿٦٢﴾

او الله ته هغه څه منسوبوي چې دوی ترې کرکه لري، او ژبې ئې په درواغو (د ځان داسې) ستاینه کوي چې ګواکې ښه والى د دوی په برخه دئ، هرومرو اور دوی لره دئ او دوی به (تر نورو مخکې) ورووړاندې کړی شوې وي.

(٦٢)- د قریشو مشرکین د مخکنیو مشرکینو په څېر هغه څه الله تعالی ته منسوبوي چې په خپله ترې کرکه لري، زړه ئې نه غواړي داسې څه ځان ته منسوب کړي، سره له دې کرکجن جاهلانه چلن او د الله تعالی په اړه دا جسارت او بې باکي، په درواغو د ځان ستاینه کوي او وايي په حقه یو، سمه لار مو غوره کړې او مذهب مو صحیح او سم دئ!! دا په داسې حال کې چې د دوی د ویناوو، باورونو او کړنو سزا د دوزخ له اوره پرته بل څه نشي کېدی، هیڅ منصف قاضي به د دوی لپاره له اوره پرته بل څه تجویز نه کړي، نو هرومر به په داسې حال اور ته ننوځي چې د نورو دوزخیانو لپاره به مخکښان وي.

تَٱللَّهِ لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٖ مِّن قَبۡلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ ٱلۡيَوۡمَ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٦٣﴾

په الله قسم چې یقیناً تر تا مخکنیو امتونو ته مو استازي لېږلي، نو شیطان خپلې کړنې ورته ښایسته کړې، نو نن به ئې هغه متولي او همځنګی وي او دردناك عذاب به ئې په برخه وي.

(٦٣)- دا مبارك آیت وايي: الله تعالی شاهد دئ چې هغو ولسونو ته مو هم داسې پیغمبران لېږلي لکه چې ته مو اې محمده! دغه امت ته لېږلی يې، هغوی ته هم شیطان خپلې نادودې، کرکجنې کړنې، شرك، کفر، ظلم او فساد ښایسته کړی وو، هغه اوس هم د هغو کافرانو د کافر او مشرك خلف ولي او مشر دئ، او د دوی به هم د مخکنیو په څېر دردناك عذاب په برخه کېږي.

وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٦٤﴾ وَٱللَّهُ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَآۚ إِنَّ فِي

ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ ﴿٦٥﴾

او پر تا مو دا کتاب يوازي د دې لپاره نازل کړی چي دوی ته هغه څه څرګند کړې چي اختلاف ئې په کي کړی، او د هغو لپاره لارښوونه او رحمت چي ايمان راوړي. او الله له آسمانه داسي اوبه رانازلي کړي چي په هغې سره ئې زمکه له خپلې مړيني وروسته بيا راژوندۍ کړه، يقيناً چي په دې کي د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چي اوري.

(٦٤-٦٥)- دا آيت موږ ته لارښوونه کوي چي د پيغمبر عليه السلام د بعثت وجه او موخي دا دي:

• کوم پيغمبران چي تر تا د مخه لېږل شوي وو او د دوی په لاس کومي لارښووني مخکنيو ته لېږل شوې وې، هغوی د خپلو پيغمبرانو لارښووني شا ته وغورځولې، په اختلافاتو کي ونښتل، دا انحراف او اختلاف هغه پړاو ته رسېدلی چي د نوي پيغمبر له بعثت او د نوي کتاب له رالېږلو پرته ئې په بل څه علاج ممکن نه وو، الله تعالی ستا په بعثت او ستا په لاس د قرآن په لېږلو سره هغو کسانو ته لارښوونه کوي او له خپل رحمت او پېرزويني ئې برخمن کوي چي ايمان راوړي. دا داسي ده لکه چي الله تعالی له آسمانه باران وروي او په دې باران سره زمکه له خپلې مړني وروسته بيا راژوندۍ کوي، قرآن هم د انسان لپاره د ژوند تومنه ده، الله تعالی په همدې قرآن سره مړه زړونه راژوندي کوي، يقيناً چي په دې کي د هغو وګړو لپاره څرګنده نښه ده چي اوري.

په ورپسي آيتونو کي د الله تعالی د پېرزوينو نوري بېلګي زموږ مخي ته ايښودل شوې چي ټول د همدې پورتني آيت په څېر د همغه مطلب د اثبات لپاره وړاندي شوې.

وَإِنَّ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَنۡعَٰمِ لَعِبۡرَةٗۖ نُّسۡقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيۡنِ فَرۡثٖ وَدَمٖ لَّبَنًا خَالِصٗا سَآئِغٗا لِّلشَّٰرِبِينَ ﴿٦٦﴾

او يقيناً چي تاسو ته په څارويو کي د عبرت (درس) دئ، له هغو خالصو شيدو ئې تاسو ته څښاك درکوو چي څښونکو ته خوندوري دي، د دوی له نسه؛ د خوشايو او ويني له منځه.

(٦٦)- دا د مهربان رب د پېرزوينو بله بېلګه ده چي انسان ته ئې داسي څاروي پيدا کړي چي دوی ته خوندوري شيدې ورکوي، دا شيدې له ويښو جوړوي، وابښه ئې په ګېډي کي درې برخي شي، يوه برخه ئې د څاريو د بدن وينو ته ولاړه شي او د څاروي د غړو غذا شي، له بلې برخي ئې داسي خوندوري شيدې جوړي شي چي د نړۍ هيڅ خواړه د ګټي له پلوه ورسره برابري نشي کولی، درېيمه برخه ئې د فضله او اضافي موادو په توګه د هغه له بدنه دفع شي. که د نړۍ ټول ماهر ډاکټران، ساينس پوهان او د لابراتوارونو خاوندان راغونډ شي او د نړۍ ټولي کمپنۍ

ئې په واك کې ورکړی شي، هغه شيدې نشې جوړولي چې الله تعالی ئې د څارويو په بدن کې موږ ته جوړوي، آيا دا کافي نه دي چې پر الله تعالی ايمان راوړو او د هغه د بې انتهاء پېرزوينو شکر وکړو؟!! يقيناً چې انسان ته د څارويو په پيدايښت او د دوی په بدن کې د خوندورو او ګټورو شيدو جوړېدا او له دې لارې انسان ته د رزق ورکړې کې د عبرت ستر درس پروت دئ، د هغه انسان ضمير او عقل ته ژړا په کار ده چې د قدرت له دې سترې نښې پند او عبرت نه اخلي او پر الله تعالی ايمان نه راوړي.

دې ته مو بايد پام وي چې دلته له (بطن) څخه مراد يوازې خېټه نه ده، بطن د وجود ټولې هغه برخې احتوی کوي چې ناڅرګندې او د بدن منځ کې دي، د بطن اصلي معنی د (ظاهر) مقابل کې پټ دئ، د شيدو او وينو په پيدايښت کې د ژوو ټول غړي په يوه او بلې بڼې کې ونډه لري.

وَمِن ثَمَرَٰتِ ٱلنَّخِيلِ وَٱلۡأَعۡنَٰبِ تَتَّخِذُونَ مِنۡهُ سَكَرٗا وَرِزۡقًا حَسَنًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿٦٧﴾

او د خرما او انګورو له ميوو چې ترې شراب او غوره رزق ترلاسه کوئ، يقيناً چې په دې کې هغو خلکو ته نښه ده چې تعقل کوي.

(٤٧)- د دې مبارك آيت د لارښوونو په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- ځيني محققين په دې باور دي چې د شرابو د تقبيح په اړه لومړنی آيت همدا دئ، ځکه دا آيت تر نورو اړوند آيتونو مخکې نازل شوی او په دې کې تر نورو وړاندې د شرابو قباحت ته په دې توګه اشاره شوې چې دلته (سکر) د (طيب او غوره رزق) په مقابل کې راغلی او دا ښيي چې سکر او نېشه کوونکي توکي ناغوره توکي دي.
- ځيني لنډ نظره وګړي چې د وينا عمق او مقصد ته د پام پر ځای ظاهري الفاظو ته ګوري او د ظواهرو له مخې حکمونه کوي داسې ګمان کوي چې يوازې هغه شراب حرام دي چې له خرما او انګورو جوړېږي، حال دا چې دا آيت د خرما او انګورو شراب له دې کبله ناغوره توکی بولي چې د بې سده کېدو سبب ګرځي، هر هغه څه مضر توکی دئ چې انسان بې سده کوي، که دا له انګورو او خرما جوړ شوي شراب وي او که له وربشو، غنمو او نورو شيانو، او که دا چرس، ترياك، هيروئين، مورفين او نور مواد وي.
- د آيت په پای کې ويل شوي چې په دې **کې هغو خلکو ته نښه ده چې تعقل کوي، دلته د تعقل يادونه له (سکر) سره لطيف او ظريف مناسبت لري، شراب د انسان د بې سده کېدو باعث کېږي، د مستی او بې سدۍ په حالت کې د انسان عقل زائل شي، الهي لارښووني د انسان عقل هڅوي، مخاطب ئې عاقل انسان دئ، په ارزښت ئې هغه څوك پوهېږي چې تعقل کوي، د شيطان هڅوني او وسوسې داسې دي لکه شراب او مخدره توکي چې انسان تېرباسي او د عقل خلاف تګلاره او کړنلاره ورته ښايسته کوي.**

وَأَوۡحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحۡلِ أَنِ ٱتَّخِذِي مِنَ ٱلۡجِبَالِ بُيُوتٗا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعۡرِشُونَ

﴿ثُمَّ كُلِى مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ فَٱسۡلُكِى سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًاۚ يَخۡرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَأٓيَةً لِّقَوۡمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ ﴿٦٨﴾ ﴿٦٩﴾

او ستا رب موچۍ ته وحي وکړه چې په ځينو غرونو، ځينو ونو او ځينو هغو ځايونو کې کورونه جوړ کړه چې (خلك) ئې لوړ جوړوي، بيا هر ډول مېوې وخوره او د خپل رب پر لارو منقاد درومه، له ګېډې ئې داسې څښاك راوځي چې رنګونه ئې ډول ډول دي او په هغه کې د خلکو لپاره شفاء (درملنه) ده، يقيناً چې په دې کې هغو وګړو ته څرګنده نښه ده چې تفکر کوي.

(٦٨-٦٩)- د دې مبارکو آيتونو په اړه دا اساسي خبرې په پام کې ولرئ:

- وحي هغې خفي اشارې ته وايي چې په ترڅ کې ئې يو مطلب چا ته القاء شي، پيغمبرانو عليهم السلام ته د الله تعالى له لورې د فرښتې له لارې او يا له فرښتې پرته وحي، الهام او رؤيا ټول په دې لړ کې راځي، که دا پټه او خفي اشاره په وېښه وي او که په خوب کې، د وحي اطلاق پرې کېږي، دا آيت ښيي چې د مخلوق په فطرت او ختې کې اېښودل شوې لارښوونې هم د وحي په ضمن کې راځي، ځکه دلته هغې فطري لارښوونې ته د وحي نوم ورکړی شوی چې د موچيو په زړه او دماغ کې تعبيه شوې.
- الله تعالى موچيو ته په فطري توګه دا لارښوونه کړې او له داسې فطرت او جوړښته سره ئې پيدا کړې چې په غرونو، ونو، د خلکو کورونو او هغو صندوقونو کې چې خلك ئې د دوی لپاره جوړوي ځان ته کور غوره کړي.
- ټول ژوند او د ژوند ټولې کړنې ئې د هغې طريقې مطابق دي چې الله تعالى ورته غوره کړې، په بشپړ انقياد سره د خپل رب له لورې وضع شوې او غوره شوې لار او طريقې باندې درومي.
- په دې فطري لار د تلو ثمره او نتيجه ئې رنګ رنګ خوندور او ګټور شهد دي، د خلکو لپاره شفاء. د شاتو رنګ، ګټه او خوند ئې له يوه ګل تر بله توپير لري.

د آيت د دغې فقرې (**فَٱسۡلُكِى سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا** : او د خپل رب پر لارو منقاد درومه) يو بل تعبير هم په ځينو تفسيرونو کې موږ چې موزون نه برېښي او هغه دا (او د خپل رب پر منقادو لارو درومه)، دا تعبير په دوه دليله کمزوری دئ: لومړی دا چې دلته د بحث موضوع دا ده چې د عالم ټول مخلوقات د الله تعالى په وړاندې منقاد دي او همغه څه کوي چې الله تعالى پرې ګمارلي، تر دې د مخه د ځارويو يادونه وشوه او دلته په همدغه لړ کې د موچيو يادونه شوې چې هغوی هم د خپل رب په وړاندې په بشپړه توګه منقاد دي او په همغو لارو درومي چې الله تعالى ورته ټاکلي، دوهم دا چې د لارو لپاره د منقاد لفظ کارول موزون نه برېښي. غوره تعبير همغه لومړنی دئ.

• د موچيو ژوند هومره منظم دئ چي انسان په هيڅ توګه او په هيڅ برخي کي له هغوی سره برابري نشي کولی، د کور مشره ئي ملکه ده، په واقعي معنی د کور مشره ده، د هر امر اطاعت ئي کېږي، دوی ئي په خپله غوره کوي، **د هر کار لپاره ځان ته ټولګي لري، انجنيران ئي کورونه جوړو، څوکيداران ئي د کور حفاظت کوي، د پرديو د ننوتو مخنيوی کوي، ناولي موچی ننوتو ته نه پرېږدي، ګنده شوې موچی وژل کېږي، يوه ډله دا دنده لري چي د داسي موچيو سر غوڅ کړي، يوه ډله د هګيو ساتنه او پالنه کوي، کورونه ئي شپږ ضلعي وي، ټولي اضلاع ئي سره برابري وي، په داسي خاصو او خوندي ځايونو کي کورونه جوړوي چي هم پاك وي او هم له بارانه خوندي وي، کورونو له مومو څخه جوړوي**، داسي منظم کورونه جوړوي چي ستر انجنيران ئي له جوړولو عاجز دي، له داسي توکو ئي جوړوي چي شات په کي خوندي ساتل کېږي او انسان ته ئي خوراك تاوان نه رسوي، موچی د ګلانو رس او عصاره زبېښي، په خولي کي ئي داسي بدلون په کي راشي چي شات ترې جوړ شي، داسي شهد ترې جوړ شي چي انسان تر ننه د هغه له جوړولو عاجز دئ، د ډېرو بيماريو لپاره شفاء ده، تر کلونو کلونو له خوسا کېدو خوندي پاته کېږي، هغه شات لا تر څو کاله مخکي پوري روغ رمټ پاته وو چي څو زره کاله مخکي مصريانو د فرعون خوا ته په قبر کي ورسره ښخ کړي ول، د مصريانو عقيده دا وه چي مړي په خپلو قبرونو کي بېرته راژوندي کېږي نو ځکه ئي د هغوی خوا ته ځيني خوراکي توکي هم ږدول، انسان تر نن پوري نه نبات، دانه او مېوه جوړ کړې او نه د شيدو او شاتو په څېر خوراکي توکي، نه هغه شات جوړولی شي چي موچی ئي جوړوي او نه هغه موم چي موچی خپل کور ترې جوړوي، ټول کمال ئي دا دئ چي موجود خوراکي توکي په يوه او بله بڼه واړوي، له شيدو مستې، کورت، پوڅه او کوچ جوړ کړي، همدا توکي د لنډي مودې لپاره تر زمکي لاندي روغ رمټ نشي ساتلی او د خوسا کېدو مخه ئي نشي نيولی، موچی خپل مشر په خپله ټاکي، په زور تپل شوی مشر او ملکه نه مني، که د موچيو خاوند داسي ملکه ورته راوړي چي دوی ئي نه خوښوي نو ټول په ګډه پرې حمله کوي او هغه وژني، انسان لا تراوسه له دې محروم دئ چي په خپلي ټولني کي د خپلي خوښي صالح زعيم ولري، انتخابات ئي له ټګيو او برګيو ډك وي او همدا تقلبي انتخابات داسي خلك پرې مسلطوي چي پيسي او تبليغاتي وسايل لري، دومره حساسي دي چي څو ميله د ګلانو په لټه کي له خپله کوره لري ولاړې شي، بېرته سيده خپلو کورونو ته راستنې شي، د پراخي فضاء په غېږ کي د خپل کور لار نه ورکوي، دا واټن د دوی د بدن په تناسب دومره دئ لکه انسان چي څو زره کيلومتره له خپل کور لري ولاړ شي**!!** که د يوې موچی وزن په تخميني توګه پنځه ګرامه ونيسو، نو دوه سوه موچي يو کيلوګرام کېږي، که د انسان اوسط وزن اويا کيلوګرامه ونيسو نو د څوارلس زرو موچيو وزن د يوه انسان برابر کېږي، که يوه موچی له خپله کوره پنځه کيلومتره لري درومي او بېرته د خپل کور لار پيدا کوي او مخامخ ورځي، دا داسي ده لکه انسان چي له اويا زره کيلومتره (**٥x١٤٠٠٠= ٧٠٠٠٠**) لري واټن څخه په هوا کي خپل کور ته مخامخ ولاړ شي**!!** پرته له دې چي د بل دروازه وټکوي، پوښتنه وکړي او په کوم هوايي ميدان يا هوټل کي توقف وکړي**!!** د موچيو په کورنۍ کي د کارونو وېش دومره منظم او عادلانه دئ چي انسانان نه په وړې کورنۍ کي داسي وېش لري او نه د موچيو د سترو کورنيو په څېر په لويو لويو ټولنو کي،

انضباط ئې دومره جدي دئ چې هيڅ ګنده شوې او په ګندګيو لړل شوې موچې ځالي ته نشي ننوتی، فوراً وژل کيږي، له خپلې ځالې په دفاع کې دومره زړه وري او پياوړې دي چې د يږ په څېر لوی يرغلګر هم تېښتې ته اړ کوي او تر هغه ئې ځغلوي چې په اوبو کې ځان ترې غوټه کړي، که کومه کورنۍ چرګه کومه موچۍ په مښوکه ووهي، مړه ئې کړي يا ئې وخوري؛ ناڅاپي او د سترګو په رپ کې دومري موچۍ پر يرغلګري چرګې بريد وکړي چې له تېښتې پرته بله لار ورته پاته نشي!! ما ته ووايئ: آيا انسانان په کوم څه کې له دوی سره سيالي کولی شي.

• يقيناً چې په دې کې هغو وګړو ته څرګنده نښه ده چې تفکر کوي. يعني اې بدمغزو کافرانو! اې چې له تفکر او تعقل پرته په کږو لارو سر شوي يئ! ولې په هغه رب ايمان نه راوړئ چې د قدرت نښې ئې په هر ګام کې او هر لوري ته ستاسو په مخ کې ځليږي، ولې له دې څرګندو او ځلاندو نښو عبرت نه اخلئ، اې د حق منکرينو! که د خپل رب په هغه لار ولاړ شئ چې ستاسو د فطرت مطابق ده نو ژوند به مو د موچيو په څېر ستاسو لپاره بختور او د نورو لپاره ګټور شي.

وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ ثُمَّ يَتَوَفَّىٰكُمۡۚ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡ لَا يَعۡلَمَ بَعۡدَ عِلۡمٖ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٞ قَدِيرٞ ﴿٧٠﴾

او دا خو الله دئ چې تاسو ئې پيدا کړئ بيا مو وفات کوي، او ستاسو ځينې تر ټولو ناکاره عمر ته رد کړی شي، داسې چې له پوهې وروسته په څه نه پوهيږي، بې شکه چې الله قدرتمن پوه دئ.

(۷۰)- دا مبارك آيت له يوې خوا موږ ته وايي: چا چې تاسو پيدا کړي يئ او ستاسو د مرګ پرېکړه کوي هغه الله تعالی دئ، هغه ځينو ته دومره اوږد عمر ورکوي چې د کمزورۍ او کمعلمۍ داسې حالت ته ورسيږي چې هر څه ترې هېر شي، زده کړی علم هم هېر کړي، ولې نه شئ کولئ د خپل مرګ مخنيوی وکړئ؟ ولې له دې عاجز يئ چې د زړښت په ځانګړې توګه د داسې زړښت مخه ونيسئ؟ آيا دا نه ښيي چې د يوه قدرتمن ذات د ارادې په وړاندې خاضع او خاشع يئ او د پرېکړو مخالفت ئې نه شئ کولی؟!! ستاسو پوهه او علم هم د الله تعالی يوه عطيه او ورکړه ده، د هغو استعدادونو په طفيل د زده کړي او په څه د پوهېدا توان ترلاسه کوئ چې الله تعالی درکړي، دا دئ ګورئ چې زړښت درباندې راشي او هغه استعدادونه کمزوري شي نو شته پوهه او زده علم مو له لاسه ورکړئ او په هيڅ نه پوهيږئ، په دې ټولو امورو کې د خالق رب د علم بې شمېره مظاهر له ورايه ځليږي، ټول په دې ګواهي ورکوي چې د دې عالم خالق ښه پوه ذات دئ.

له بلې خوا په دې مبارك آيت کې د قرآن يو علمي اعجاز ځليږي، د علمي څېړنو په ترڅ کې ثابته شوې چې د عمر په زياتېدو سره د دماغ ځينې شرائين ورو ورو تنګيږي او خبره

داسي ځای ته ورسيږي چي دا شرائين د دماغ هغي برخي ته وينه نشي رسولی چي وظيفه ئي حفظ او په ياد ساتل دي، دغه مهال د انسان حافظه په بشپړه توگه له کاره ولوېږي. او تاسو گورئ چي قرآن دلته د (ينسی: هېروي) پر ځای لايعلم بعد علم شيئا الفاظ کارولي، که يوازي هېرول مراد وی نو د ينسی لفظ ورته کافي وو، خو قرآن د يوې لنډي صيغې پر ځای يوه فقره راوړې او په همدغي فقرې کي د قرآن يو ستر علمي اعجاز ځلېږي، ځکه د هېرولو دوه حالته دي: يو عام هېرول چي موقتاً د انسان حافظه يوه څه هېر کړي، دا هېرېدا موقتي وي، اعاده ئي ممکن وي، ځيني عوامل هم د دې باعث چي هېره شوې خبره بېرته ورپه ياد شي، خو بل حالت ئي هغه دئ چي قرآن په دغه آيت کي ورته اشاره کړې، او دا هغه حالت دئ چي حافظه په بشپړه توگه له کاره لوېږي!!

وَٱللَّهُ فَضَّلَ بَعۡضَكُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ فِي ٱلرِّزۡقِۚ فَمَا ٱلَّذِينَ فُضِّلُواْ بِرَآدِّي رِزۡقِهِمۡ عَلَىٰ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُمۡ فَهُمۡ فِيهِ سَوَآءٌۚ أَفَبِنِعۡمَةِ ٱللَّهِ يَجۡحَدُونَ ﴿٧١﴾

او الله ستاسو ځينو ته پر ځينو نورو د رزق له پلوه فضيلت ورکړی، نو هغه چي فضيلت ورکړی شوی هغو ته د خپل رزق ورکوونکي نه دي چي د دوی په واک کي (مريان يا وينزي) دي، داسي چي دوی په کي برابر وي، نو آيا د الله له نعمتونو انکار کوي؟!

(٧١)- د دې مبارك آيت په ارتباط دا مطالب په پام کي ولرئ:

- الله تعالی په رزق کي ځينو بندگانو ته پر ځينو نورو فضيلت ورکړی، په رزق کي د توپير عوامل يا د الله تعالی په وېش پوري اړه لري، يا د انسانانو خپلمنځي وېش پوري، د الله تعالی د وېش بېلگي دا دي چي يوه ته ئي يو ډول استعدادونه ورکړي او بل ته بل ډول، يوه سيمه ئي په يوه ډول بوټو او ونو شېرازه کړې او بله په بل ډول، په يوې سيمي کي بارانونه وروي او په بلي کي واوري، د الله تعالی وېش تر عدالت وراوښتی پر فضل ولاړ دئ، له هغه چا هم خپل رزق نه سپموي چي د عدالت له مخي د رزق وړ نه دئ، پر کافرانو هم د رزق دروازې نه تړي، او د انسانانو وېش کله عادلانه وي او کله ظالمانه، پام کوئ چي د رزق په اړه هر وېش الله تعالی ته منسوب نه کړئ، داسي نه چي د انسانانو ظالمانه وېش د الله تعالی وېش وگڼئ.
- په دې مبارك آيت کي د مشرکينو د هغي غلطي عقيدې او ناسم باور د ترديد لپاره يو ځلانده مثال وړاندي شوی چي د رزق په اړه ئي لري او خپل باطل او وهمي معبودان د رزق په ورکړي کي د الله تعالی شريکان گڼي، له يوه د باران ورولو طمعه کوي، له بل د فصلونو او کروندو د سمسورتيا او له بل په تجارت کي د گټي، په دې مثال کي هغوی ته ويل شوي: آيا په تاسو کي داسي څوك شته چي خپل غلام په خپلو شتمنيو کي داسي شريك کړي چي برخه ئي له ده سره برابره وي، همغسي تصرف په کي کولی شي چي دی ئي په خپله کوي؟!! که داسي څوك نه مومئ او داسي کار درته ناسم او بې ځايه برېښي، نو الله تعالی ته څنگه دا منسوبوئ چي له خپلو بندگانو او مخلوقاتو څخه ئي داسي شريکان ځان ته غوره کړي چي د ده په ملك کي

د مساويانه تصرف حق لري او کولی شي د دې ملك له شتمنيو يوه او بل ته څه ورکړي؟!! که تاسو خپل غلامان خپل شريکان نه ګرځوئ نو الله تعالی به څنګه خپل بندګان له ځان سره شريکوي؟! ولي د هغو نعمتونو درکړه له الله تعالی پرته بل چا ته منسوبوئ چي بل په کي د هيڅ ډول تصرف واك او اختيار نه لري او په دې توګه د الله تعالی له پېرزوينو انکار کوئ او د بل له لوري ئې ګڼئ؟!

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةٗ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِۚ أَفَبِٱلۡبَٰطِلِ يُؤۡمِنُونَ وَبِنِعۡمَتِ ٱللَّهِ هُمۡ يَكۡفُرُونَ ﴿٧٢﴾

او الله تاسو ته ستاسو له خپلي نوعي جوړې پيدا کړې او ستاسو له جوړو ئې اولاد او لمسي درته پيدا کړل، او پاکيزه رزق ئې درکړ، نو آيا دوی سره له دې په باطل ايمان راوړي او د الله د نعمتونو په اړه کفران کوي؟!!

(۷۲)- د انسان لپاره تر ټولو ستره پېرزوينه او لوی نعمت د ده پيدايښت، د ده د زوج او جوړې ~~پيدايښت، د ده د اولاد او لمسيانو پيدايښت او په زمکي کي د ده لپاره د پاکيزه رزق پيدايښت~~ دئ، او ښه پوهېږئ چي د دغو ټولو په پيدايښت کي هيڅوك له الله تعالی سره شريك نه دئ، نو په دې حقيقت له پوهېدا سره سره څنګه په داسي باطلي عقيدې باور کوي چي نعمتونه او ورکړه ئې له الله تعالی پرته بل ته منسوبوي؟!!

وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَهُمۡ رِزۡقٗا مِّنَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ شَيۡـٔٗا وَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴿٧٣﴾

او له الله پرته د هغه چا عبادت کوي چي نه د آسمانونو او زمکي د کوم رزق واك ورته لري او نه توانېدی شي.

(۷۳)- دلته څو ظريف ټکي زمونږ مخي ته ځلېږي چي دقت او غور غواړي:

- له الله تعالی پرته بل ته د نعمتونو ورکړه منسوبول او دا طمع ترې کول چي کولی شي چا ته له آسمانونو يا له زمکي رزق ورکړي، دا باور او عقيده د غير الله له عبادت سره مترادف او يو شاني ګڼل شوي.
- الله تعالی فرمايي: له ده پرته داسي څوك نشته چي له آسمانونو او زمکي د روزي ورکولو اختيار او توان ولري، نه الله تعالی بل ته څه سپارلي او نه بل په خپله د دې توان لري چي چا ته روزي ورکړي.

فَلَا تَضۡرِبُواْ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡثَالَۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٧٤﴾

الله تعالى ته مثالونه مه بيانوئ، يقيناً چي الله پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ.

(٧٤)- د قرآن دا مبارك آيت موږ ته لاربنوونه كوي چي الله تعالى د دې عالم له هيڅ څه سره تشبيه نه كړو او هيڅ څه د ده مثل او مثال ونه گڼو، موږ نه داسي شى پيژنو او نه ئي مومو چي د الله تعالى په څېر او هغه ته ورته وي، دا او د قرآن گڼ شمېر نور آيتونه په ډېر قاطعيت سره وايي چي په ټول عالم كي الله تعالى ته ورته شى نشته، نه كوم څه په خپل ذات كي الله تعالى ته ورته دئ، نه په صفاتو او افعالو كي، نه انسان په ذات، صورت، افعالو او صفاتو كي الله تعالى ته ورته دئ او نه الله تعالى انسان يا كوم بل مخلوق ته، الله تعالى اوري خو د دې اورېدو معنى دا نه ده چي خداى زموږ په څېر دوه غوږونه لري او په دغو غوږونو سره زموږ خبري اوري، الله تعالى عليم دئ خو د الله تعالى علم د انسان د علم په څېر نه دئ چي د زده كړي او تعليم او تعلم له لاري ئي ترلاسه كوي، موږ نه د ماضي له هغو پيښو خبر يو چي په خپله مو نه دي ليدلي او يا له بله مو نه دي اورېدلي، او نه د مستقبل په پيښو پوهيږو خو الله تعالى ته ماضي، حال او مستقبل برابر دي او پر ټولو يو شان پوهيږي، الله تعالى بصير دئ، هر څه ويني، هيڅ حجاب د ده د ليدو مانع كېدى نه شي، په مخلوقاتو كي هم ليدونكي شته، خو الله تعالى په دې صفت كي هم هيڅ مخلوق ته ورته نه دئ، كه انسان او ځيني حيوانات داسي دي چي دوې سترگي لري نو داسي هم شته چي يوه سترگه يا ډېري سترگي لري او داسي هم شته چي د خپل بدن په ټول پوستكي سره هره خوا ليدى شي!! خو بصير او ليدونكى خداى په خپل دغه صفت كي له هيڅ مخلوق سره ورته نه دئ، نو پام كوئ چي الله تعالى له كومه څه سره تشبيه نه كړئ.

دا لاربنوونه په داسي ځاى كي راغلې چي په مخكنيو آيتونو كي د رزق او روزي د وركړي په اړه بحث شوى، او له همدې موضوع سره ارتباط لري، په ارتباط ئي د پوهېدو لپاره دا غوره گڼم چي دلته د هغه چا وينا او ده ته زما ځواب رانقل كړم چي وايي: خداى معطي دئ او مصطفى مقسم، عطاء د خداى له لوري ده او تقسيم ئي د مصطفى له لوري!! دا د يوه مشهور پاكستاني بريلوي مبلغ او د دې ډلي د مشر وينا ده، ما ئي په ځواب كي يو مفصل ليك ورلېږلى وو چي د (تصوف او حقيقت ئي) په نامه د يوه كتاب په بڼي كي خپور شو، په اردو او عربي هم وژباړل شو، هغه د يوې ټلويزيوني خطبي په ترڅ كي د الله تعالى عطاء او وركړه د توربيلا له ډيم نه د برق له توزيع سره تشبيه كړه او وئي ويل: هر څوك بايد د خپل كلي له ټرانسميټر نه برق ترلاسه كړي نه دا چي مخامخ توربيلا ډيم ته ورشي!!! يعني د دې پر ځاى چي الله تعالى ته مراجعه كوي بايد په خپلي سيمي كي خپل نږدې مرشد او پير ته مراجعه وكړي!! هغه ته مي وليكل: ستا دې خبري ته تر نورو زيات حيران او حتى غصه شوى يم، زه گمان كوم چي څوك د دين له الف باء خبر وي او له ټول قرآن څخه يوازي د فاتحي په سورې پوه وي؛ هيڅكله به داسي غلطه او بېهوده خبره ونه كړي. د الله تعالى عطاء دومره عامه او بې واسطي او بې وسيلي ده چي د لمر له عطاء سره ئي نشو مقايسه كولى، توربيلا ډيم خو لري لري پرېږده، دا ستر لمر چي د نړۍ په گوټ گوټ كي هر چا ته له واسطي، وسيلي، اجورې او بدلي پرته

مخامخ ربا او تودوخه ورکوي، د دنيا هر گوټ ته په خپله درومي او خپله عطاء پرې وېشي، د ده عطاء د مهربان رب د بې انتهاء عطاء په وړاندي له هيڅ سره برابره ده، الله تعالى خو موږ ته فرمايي:

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لِى وَلْيُؤْمِنُوا۟ بِى لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾ البقرة:١٨٦

او چي کله زما بندگان زما په اړه درنه پوښتنه وکړي، نو زه يقيناً نږدې يم، چي کله دعاء کوونکی راته دعاء وکړي نو دعاء ئې قبلوم، نو زما بلنه دي ومني او پرما دي ايمان راوړي، تر څو رشد او کمال ته ورسي.

موږ ته خو اسلام ويلي چي په خپل هر رکعت لمانځه کي به د فاتحې سوره لولئ او له الله تعالى سره به په دې الفاظو ژمنه کوئ: اياك نعبد و اياك نستعين: يوازي ستا عبادت کوو او يوازي له تا مرسته غواړو، دا د عبادت او استعانت ژمنه او دعاء مخامخ ورته کوو، له واسطې او وسيلې پرته، دا دعاء او ورپسې شرحه ئې دومره جامع دعاء ده چي هر څه احتواء کوي، بلي هيڅ دعاء ته حاجت نه پاته کېږي.

قرآن خو په واضحو الفاظو موږ ته وايي چي: د ده هر پيغمبر د ده د وحي امين وي، دنده ئې يوازي دا چي د الله تعالى پيغام په امانت سره خلکو ته ورسوي، کار ئې دا نه دئ چي د الله تعالى فضل پر خلکو ووېشي، د الله تعالى فضل په خپله د الله په واك کي دئ، هغه چا ته ئې ورکوي چي په خپله ئې غواړي: **(قُلْ إِنَّ الْفَضلَ بِيَدِ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشاءُ وَ اللَّهُ وَسِعٌ عَلِيمٌ)** آل عمران: ٧٣، قرآن خو موږ ته وايي چي د عالم هر څه ده ته د حال او قال په ژبه سوال کوي او الله تعالى په خپله د دوی غوښتنو ته ځواب وايي، تل دا کار کوي او هره شېبه د يوه کار د ترسره کولو په حال کي وي: **يَسئَلُهُ مَن فى السمَوَتِ وَ الأَرْضِ كلَّ يَوْمٍ هُوَ فى شأْنٍ * الرحمن:٢٩**

يعني الله تعالى د زمکي او آسمانونو د ټولو مخلوقاتو اړتياوو ته په خپله ځواب وايي، دی ئې ضرورتونه رفع کوي او اړتياوي ئې پوره کوي. د دې عالم هر کار، هره شېبه، په خپله مالك الملك خدای ترسره کوي، الله تعالى داسي نه دئ چي د دنيا کارونه ئې خپلي مخي ته پرېښي وي او يا ئې نورو ته سپارلي وي او دی هيڅ تصرف په کي نه کوي، بلکي هر کار، که ستر وي او که ووړ، د ده په اراده، إذن، حکم، قدرت او مخامخ تصرف سره ترسره کېږي، هغه يوه شېبه هم د عالم د چارو له اداري، پالني او ساتني څخه نه غافله کېږي، قرآن موږ ته همدا وايي:

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ يُغْشِي ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾

الاعراف:٥٤

يقيناً چي ستاسو رب هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمكه ئي په شپږو ورځو كي پيدا كړل، بيا ئې پر عرش استوى وكړه، شپه پر ورځ راكاږي (پرې پټوي ئې)، داسي چي په تلوار ئې لټوي او لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې پيدا كړي چي امر ته ئې منقاد دي، په دې پوه شه چي هم خلقت (يعني پيدايښت) ده لره دئ او هم امر (چاري سمبالول)، د عالمونو پالونكی الله بركتناك دئ.

قرآن په دې مبارك آيت سره څو ډېري مهمي او اساسي لاربښووني د خپل مخاطب په وړاندي ږدي:

- ستاسو رب هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمكه ئې په شپږو ورځو (مرحلو) كي پيدا كړل.
- د دوى له پيدايښته وروسته ئې د ټول عالم د اداري، ساتني او پالني چاري په خپل اختيار كي واخيستې او د مطلق ټولواك په توگه ئې د عالم د سلطنت پر عرش استوى وكړه.
- دا د ده د ټولواكی نښه او بېلگه ده چي شپه پر ورځ راكاږي، داسي چي په تلوار ئې لټوي.
- دا هم د ده د ټولواكی بله بېلگه ده چي لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې امر ته منقاد دي، همغه كار كوي او په همغه لار درومي چي الله تعالی پرې گمارلي.
- په دې پوه شه چي هم خلقت يعني پيدايښت ده لره مختص دئ، په دې كي بل شريك نه لري او هم امر يعني چاري سمبالول چي په دې كي هم هيڅ شريك نلري.
- الله تعالی مبارك او د عالمونو پالونكی او ساتونكی دئ.

دا او دې ته ورته گڼ شمېر آيتونه موږ ته همدا وايي چي الله تعالی د عالم د چارو واگي بل چا ته نه دي سپارلي، امور ټول د ده په واك كي دي، خپل رزق په خپله وركوي او خپل فضل په خپله وېشي.

د قرآن په گڼ شمېر آيتونو كي دا مطلب توضيح شوى چي الله تاسو ته درنږدې دئ، ډېر نږدې، د غاړي تر رگ هم زيات درنږدې، كه دوه ياست درېيم مو الله دئ او كه درې وئ څلورم مو الله دئ، چي هر ځاى وئ الله درسره دئ، ستاسو دعاگاني اوري او قبلوي ئې، نه الله له تاسو لري دئ، نه ستاسو او د الله تر منځ پراوونه او حجابونه شته، نه الله ته د رسېدو او د خپلو دعاگانو د وړاندي كولو لپاره واسطي او وسيلي ته ضرورت شته، هره شېبه، په هر ځاى او هر حالت كي، مخامخ خپل مجيب الدعواة رب ته خپل عرائض وړاندي كولی شي او مطمئن اوسه چي الله ئې په خپله مخامخ اوري او قبلوي ئې. قرآن په دې سره د هغو شركي عقايدو جرړي ايستلي دي چي الله ته د دعاگانو په اورېدو او قبلېدو كي شريك ثابتوي او وايي: ستا دعاء او عبادت په هغه صورت كي تر خدايه رسي او قبلېدى شي چي د ده د نازولو له لاري وړاندي شي او هغوى ئې د قبلېدو سپارښتنه وكړي!! پيغمبر عليه السلام خو وايي چي كه د څپلی بند مو وشكېدو دا هم له الله تعالی وغواړئ.

ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا عَبْدًا مَّمْلُوكًا لَّا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَمَن رَّزَقْنَٰهُ مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَجَهْرًا ۖ هَلْ يَسْتَوُۥنَ ۚ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ



الله د هغه مملوك بنده مثال بيانوي چي پر هيڅ څه نتوانېږي، او هغه چي له خپل لوري مو غوره رزق ورکړی چي هغه په پټه او په ډاګه ترې انفاق کوي، آيا دا دواړه سره برابر دي؟ ستاينې ټولي الله لره دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

(۷۵)- په دې مبارك آيت كي د يوه ښكلي مثال په ترڅ كي مخكنی مطلب په مزيد وضاحت او تفصيل سره بيان شوی، يوې خوا ته داسي څوك انځور شوی چي مريي او د بل غلام دئ، نه څه په واك كي لري او نه په څه كولو توانېږي، كه څه ورسره وي د بل دي او كه څه كولی شي د بل په امر او اجازه ئې كوي او بل لوري ته داسي څوك انځور شوی چي الله تعالى غوره رزق وركړی او هغه له دې رزق څخه په پټه او ښكاره انفاق كوي، او بيا مخاطب پوښتي: آيا دا دواړه سره برابر دي؟!! كه دا سره برابر نه دي نو ته څنګه د الله تعالى يو بنده، د الله تعالى پېرزوينو ته محتاج بنده، چي هر څه ئې د الله تعالى دي، د الله تعالى له إذن پرته نه په خپله څه كولی شي او نه بل ته څه وركولی شي؛ له هغه الله تعالى سره برابروې چي د رزق ټولي خزانې د ده په واك كي دي، شپه ورځ ټول مخلوق ته رزق او روزي وركوي؟!! ته څنګه د كور د اصلي خاوند په ځای د هغه له غلام او مريي څه غواړې؟!! ته ولي د كائناتو د څښتن پر ځای داسي چا ته لاس او لمن اوږدوې چي د عالم هيڅ څه ئې په واك كي نه دي، نه د شپې او ورځې په تلو راتلو كي څه ونډه لري، نه د باران په ورېدو او نه د دانې او مېوې په پيدا كولو كي.

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا رَّجُلَيْنِ أَحَدُهُمَآ أَبْكَمُ لَا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَهُوَ كَلٌّ عَلَىٰ مَوْلَىٰهُ أَيْنَمَا يُوَجِّههُّ لَا يَأْتِ بِخَيْرٍ ۖ هَلْ يَسْتَوِى هُوَ وَمَن يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ ۙ وَهُوَ عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٦﴾

او الله د هغو دوو سړو مثال بيانوي چي يو ئې ګونګ دئ پر هيڅ څه نتوانېږي او هغه د خپل بادار د شا پېټی دئ، چي هر لوري ته ئې مخامخ كړی كوم خير (او ګټه) به رانه وړي،آيا دی او هغه څوك سره برابرېدی شي چي په انصاف سره امر كوي او هغه پر مستقيمي لاري برابر (روان) دئ.

(۷٦)- په دې مبارك آيت كې د بل ښكلي مثال په ترڅ كې د جعلي معبودانو ماهيت انځور شوى، او د الله تعالى د عظمت په وړاندې د دوى بې ارزښته او واهي حيثيت په ګوته شوى، دوه څېرې ئې زموږ مخې ته انځور كړې: يو ئې ګونګ دئ، نه څه اورې او نه څه ويلى شي، د څه كولو توان هم نه لري، نه يوازې خپل مالك ته كومه ګټه نشي رسولى بلكې په خپله د بادار د اوږو پېټى دئ، هرلورې ته چې ئې ولېږې او په هر كار چې ئې وګمارې كومه ګټه به په لاس رانه وړي او د خير كوم كار به ترسره نه كړي، بل ئې هغه څوك دئ چې عادل دئ، هر كار او پرېكړه ئې عادلانه ده، او پر مستقيمې لارې درومي، كړنلاره او تګلاره ئې مستقيمه او سمه ده، آيا دا دواړه سره برابر دي؟!! كه دا دواړه برابر نه ګڼئ نو څنګه هغه جعلي معبودان له الله تعالى سره برابروئ چې يا بتان دي، يا په قبرونو كې پراته دي، نه څه اورې، نه څه ويلى شي، تاسو ئې پر خپلو اوږو له يوه ځاى بل ته وړئ، د ښخولو پر مهال هم او هغه وخت هم چې ځلې ئې له يوې سيمې بلې ته وړئ، كوم لورې ته چې هغه مخامخ كړئ او ترې وغواړئ چې دغه كار درته وكړي او هغه حاجت مو ترسره كړي هېڅ خير ئې نه دررسېږي، نه ځواب دركوي، نه لارښوونه درته كوي، نه مو حاجت ترسره كوي، تاسو چې دغو خيالي معبودانو ته كوم كرامات منسوبوئ هغه په حقيقت كې ستاسو د ذهن زېږنده دي. تاسو دغه جعلي او دروغجن معبودان له هغه الله تعالى سره برابروئ چې هره پرېكړه ئې پر عدالت ولاړه پرېكړه ده، تاسو ته د عدالت كولو امر كوي، تاسو ته سمه لار ښيي، او ټولې لارښوونې ئې رښتينې، روښانه او سمې دي.

- له دې مبارك آيت په ضمني توګه دا خبره هم معلومېږي چې مړي داسې دي لكه ګونګيان؛ نه څه اوري او نه څه ويلى شي. ځكه دلته د مشركينو هغه معبودان له ګونګيانو سره تشبيه شوي چې په قبرونو كې دي.

وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَمَآ أَمْرُ ٱلسَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ ٱلْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٧٧﴾

او د آسمانونو او زمكې د پټو (امورو) علم له الله سره دئ، او د قيامت كار خو يوازې د سترګې د يوه رپ په څېر دئ او تر دې هم زيات لنډ، يقيناً چې الله پر هر څه قادر دئ.

(۷۷)- په دې مبارك آيت كې د هغو معاندينو او معارضينو ځواب ويل شوى چې د قيامت راتګ او د مړو بيا راژوندي كېدا محال ګڼي، په دې توګه:

- په آسمانونو او زمكې كې چې څه ستاسو له نظره پټ دي الله تعالى ته څرګند دي، تاسو نه پوهېږئ چې د دې پراخ عالم په غېږ كې ستاسو له سترګو پټ څه روان دي او دا عالم به له څه برخليك سره مخامخ كوي، الله تعالى ته هر څه څرګند دي، د دغې پوهې او علم له مخې وايي: قيامت راتلونكى دئ.
- تاسو ته دا كار ګران برېښي خو د الله تعالى په وړاندې د قيامت راوستل داسې دي لكه يو

کار د سترگو په یوه رپ او تر دې هم ډېري لنډي مودې کي تر سره کول. دا ځکه چي الله پر هر څه قادر دئ.

وَٱللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَـٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْـًٔا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَـٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾

او الله تاسو د خپلو میندو له ګېډي راوایستئ په داسي حال کي چي په هیڅ څه نه پوهېدئ، او تاسو ته ئې غوږ، سترګي او زړونه جوړ کړل، ښایي شکر وکړئ.

(۷۸)- دلته د انسان په اړه د الله تعالی د بې شمېرو پېرزوینو څو نوري ښېلګي زموږ مخي ته ځلېږي، چي د انسان په جوړښت او د ده په استعدادونو پوري مربوط دي:

- د مور له رحمه د یوه بشپړ ماشوم په بڼي کي دنیا ته راتګ.
- **د غوږونو، سترګو او زړه په څېر هغه مهم غړي ورکول چي د ده د ژوند ستري ستري اړتیاوي دي.** د انسان سترګي، غوږونه او دماغ دومره حساس او ظریف غړي دي او دومره مهم مهم کارونه ترسره کوي چي انسان ئې په لویو لویو پرمختللو کمپیوټرو د هغوی یوه وړه برخه نشي ترسره کولی، د انسان سترګي کولی شي تر لسو زرو رنګونه تشخیص کړي، هر لوري ته خوځي او په مختلفو زاویو لیدل کولی شي، که دا خوځېدا ئې نه وی نو په دغو مختلفو زاویو د لیدلو لپاره به زرګونو سترګو ته اړ وو، همغسي لکه موچی چي سترګي ئې ثابتي دي خو نږدې (۱۸۰۰) عدسیې لري، سترګي په لري او نږدې واټن کي د پرتو شیانو د لیدو، او د ډېري رڼا، لږ رڼا او تیارې په حالت کي د شیانو د سم لیدو لپاره ځان په خپله عیاروي، عدسیې ئې اتومات پراخي او تنګي کېږي او د مناسب مقدار نور تېرېدو ته ځان عیاروي، د دې اهمیت هغه چا ته جوتېږي چي د کامرو او دوربینونو له جوړولو سره تړاو لري یا عکاسي کوي، هغه پوهېږي چي دا کار څومره پېچلی دئ او څومره پر مختللې ټیکنالوژي ته ضرورت لري، یوازي دا نه بلکي سترګي له داسي حافظې سره تړلې دي چي نن یو څوك وګوري، څو کاله وروسته له هغه سره مخامخ شي او له ځنډه پرته ئې وپېژني او د سترګو خاوند ورته ووایي: که په یاد دي وي ما او تا څو کاله مخکي په فلاني ځای کي سره لیدلي وو، دا په داسي حال کي چي په دې اوږدې مودې کي هغه په زرګونو خلك او ده ته نږدې څېرې لیدلې دي، د انسان غوږ نه یوازي له لري فاصلې غږونه اوري بلکي د زرګونو غږونو د تشخیص توان لري، نن د چا غږ واوري، څو کاله وروسته همغه غږ د ټیلفون په لیکه واوري او له ځنډ پرته ئې تشخیص کړي او ورته ووایي: فلانی یې؟ د انسان دماغ هومره ظریف او پېچلی دئ چي که د نړۍ ټول کمپیوټرونه راغونډ کړئ او د کمپیوټرو یو ستر ښار ترې جوړ کړي هغه کارونه نشي کولی چي د انسان د دماغ یوه وړه برخه ئې کولی شي. **د انسان زړه هم له دې پلوه مهمه عضوه ده چي ټول بدن ته د وینو رسولو مهمه دنده په غاړه لري او هم له دې پلوه چي د انسان ځیني عواطف او مشاعر د زړه له لاري منعکس کېږي، د انسان د مغز لپاره د داسي حساس غړي په توګه عمل کوي چي له پرېکړو ئې انسان خبروي، انسان خپله مینه دلته احساسوي، کرکه دلته، وېره دلته، اطمئنان دلته او تصدیق او تردید دلته احساسوي.**
- کله چي انسان په لومړۍ ورځ دنیا ته راځي او سترګي پرانېزي په هیڅ نه پوهېږي، خو ورو ورو او د سترېدو تر څنګ؛ علم او پوهه ترلاسه کوي، دغه غړي ئې مرسته کوي، څه د اورېدو له لاري زده کړي، څه د لیدو له لاري او څه د تفکر او تعقل له لاري، همدا زده کړه او پوهه ده ته دا مجال برابر کړي چي ځان، خپل ماحول، ښه او بد، مفید او مضر شیان وپېژني او په دې توګه د ژوندي پاته کېدا امکان ترلاسه کوي.

- د دې الهي پېرزوينو او نعمتونو تقاضاء دا ده چې انسان خپل منعم رب وپېژني او شکر ئې پر ځای کړي. خو عجيبه ده چې کافر انسان دغو ځلاندو حقايقو ته شا کړي، دا نعمتونه له پامه وغورځوي، د کفر، انکار او ناسپاسۍ لار غوره کړي!!

أَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ مُسَخَّرَٰتٖ فِي جَوِّ ٱلسَّمَآءِ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا ٱللَّهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿٧٩﴾

آيا د آسمان په فضاء کې ئې دغو مرغانو ته پام نه دئ کړی چې مسخر کړی شوي، له الله پرته ئې هيڅوك نه تموي، يقيناً چې په دې کې د هغو وګړو لپاره څرګندي نښې دي چې ايمان لري.

(۷۹)- ته پوهېږې چې هوا ته د يوه شي الوزول څومره ګران کار دئ، څومره پوهې، تجربې، تخنيك، او پرمختللو وسائلو ته ضرورت لري، په ځانګړې توګه که دا الوتکه وړه وي او ته وغواړې چې سرعت ئې زيات، مصرف ئې لږ، يوې بلې خوا ته ئې خوځېدا سريع او د مانور قدرت ئې زيات وي!! خو نه ګورې چې الله تعالی څومره ډول ډول مرغان پيدا کړي، چا دوی ته د الوت او د آسمان په غېږ کې د سريع تګ او خوځېدا توان ورکړی؟ آسمان ښکالي په توره شپه کې کولی شي ماشي په هوا کې ونيسي!! باز کولی شي له لوړې فضاء په ونو کې د ونو همرنګه ووړ سوی ووينې او له همغې لوړې نيغ او سريع راکولې شي او وئې نيسي، ماشې د شپې په تياره کې کولی شي د انسان د بدن لوڅ ځای ومومي، پرې کښېني او وينې ئې وزبېښي. آيا د دوی په پيدايښت، په فضاء کې الوت، سريع تګ او تېز مانور کې د هغو وګړو لپاره څرګندې نښې نه دي چې په حقيقت اعتراف او ايمان راوړو ته چمتو وي او له ځان سره ئې د ايمان نه راوړو قطعي پرېکړه نه وي کړې؟!

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنۢ بُيُوتِكُمۡ سَكَنٗا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ ٱلۡأَنۡعَٰمِ بُيُوتٗا تَسۡتَخِفُّونَهَا يَوۡمَ ظَعۡنِكُمۡ وَيَوۡمَ إِقَامَتِكُمۡ وَمِنۡ أَصۡوَافِهَا وَأَوۡبَارِهَا وَأَشۡعَارِهَآ أَثَٰثٗا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ﴿٨٠﴾

او الله تاسو ته ستاسو له کورونو هستوګنځي جوړ کړي، او تاسو ته ئې د څارويو له پوستکو داسې کورونه (کيږدۍ) جوړې کړې چې هم ئې د خپل سفر په ورځو کې سپك مومئ او هم د خپل اقامت په ورځو کې، او د پسونو له وړيو، د اوښانو له وړيو او د وزو له وېښتانو (وزغنو) څخه اثاث (پوښاك او فرش) او تر يوې نېټې برخمن کېدا.

(۸۰)- انسان ته د کور جوړولو هنر وربښودل او په ده کي دا استعداد ږدول چي له ختي، ډبري، لرگي، ټوکر، پوستکي، وړيو او وزغنو ځان ته کور، کېږدۍ او خيمه جوړه کړی شي او کولی شي ځان ته جامې او نور ضروري سامان جوړي کړي، دا د الله تعالی هغه ستره پيرزوينه ده چي هر سترگور انسان اعتراف ته اړ کوي، عجيبه ده چي انسان دا هر څه گوري او پر الله تعالی ايمان نه راوړي!!

وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَٰلًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلْجِبَالِ أَكْنَٰنًا وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلْحَرَّ وَسَرَٰبِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ ﴿٨١﴾

او الله تاسو ته له هغه څه چي پيدا کړي ئې دي سيوري جوړ کړي، او له غرونو ئې تاسو ته سمڅي جوړي کړې دي، او داسي جامې ئې درته جوړي کړې دي چي له تودوخي مو ساتي او داسي جامې چي په جگړو کي مو ساتي، همداسي خپل نعمتونه درباندي بشپړوي چي مسلمان شئ (غاړه کېږدئ).

(۸۱)- دلته د الله تعالی څو نورو پيرزوينو ته اشاره شوې چي د انسان له هستوگنځي او د تودوخي، يخنی او د جگړو له ضرره د انسان له ساتنې سره تړاو لري، په سختي گرمی کي د لمر د وړانگو له خطره سيوري ته ضرورت لري، په غرونو کي د يخنيو په وړاندي سمڅو ته، د تودوخي او يخنی په وړاندي جامو ته، په جگړو کي د تورو، غشو او مرميو په وړاندي زغرو ته ضرورت لري، الله تعالی هم د دغو شيانو د جوړولو استعداد په ده کي ايښی او هم ئې اړوند توکي پيدا کړي. دا دئ گورئ چي نن انسان د دغو خطرونو په وړاندي څومره ډول ډول وسائل جوړ کړي، زغره وال گاډي، زغره والي چورلکي، د غرونو په ډډو کي د اټومي بټيو لپاره خوندي سمڅي، د جنگياليو لپاره سپکي او مقاومي زغري، داسي سپکي او تودې جامې چي له واورو ډکو لوړو لوړو غرونو کي ئې له سختي يخنی ساتي، داسي جامې چي د اور د لمبو په وړاندي کافي مقاومت کوي او اور مړوونکي له لمبو خوندي ساتي. الله تعالی دا نعمتونه د دې لپاره د انسان په برخه کړي چي هغه خپل رب ته غاړه کېږدي او له بغاوت او عصيان لاس واخلي، د دغو الهي پيرزوينو تقاضاء همدا ده، عجيبه ده که انسان د دې نعمتونو په مقابل کي د خپل منعم رب په وړاندي د کفران او عصيان لار غوره کړي.

د الله تعالی له لوري د نعمتونو د اتمام او بشپړولو معنی دا ده چي د انسان د ژوندانه د هري برخي اړتياوي په بشپړه توگه ورته برابروي، له سترو سترو ضروري شيانو نېولې بيا تر وړو وړو ضرورتونو، ټول هغه اړين شيان ئې ورته پيدا کړي او په مسلسله توگه ئې ورته پيدا کوي چي دی ورته ضرورت لري.

فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٨٢﴾

خو كه ئې مخ واړاوو نو پر تا له څرګند پيغام رسولو پرته بله ذمه والي نشته.

(۸۲)- كه ستا مخاطبين د دغو دلائلو له اورېدو وروسته بيا هم له حقيقته مخ واړوي او پر خپل كفر او انكار ټينګار وكړي نو ستا دنده او مسئوليت له دې پرته بل څه نه دي چې الهي پيغام په بشپړه توګه هغوى ته ورسوې، د دې پوښتنه له تا نه كېږي چې ولې ئې ايمان رانه وړ او حق ته تسليم نشول.

يَعۡرِفُونَ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُنكِرُونَهَا وَأَكۡثَرُهُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٨٣﴾

د الله نعمتونه پېژني خو بيا انكار ترې كوي، او د دوى ډېرى كافران دي.

(۸۳)- دوى نعمتونه پېژني، په اهميت ئې پوهېږي، په دې هم پوهېږي چې منعم ئې الله تعالى دئ، بل داسې ذات نه مومي چې د دغو نعمتونو په وركړي كي كومه ونډه ولري، خو هم له نعمته انكار كوي او هم له منعمه، وجه ئې دا ده چې د دوى ډېرى كافران دي، پر الله تعالى عدم ايمان د دې كركجن انكار په ډډ كي غورځولي.

وَيَوۡمَ نَبۡعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٖ شَهِيدٗا ثُمَّ لَا يُؤۡذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ﴿٨٤﴾

او هغه ورځ چې له هري ډلي يو ګواه راپاڅوو، بيا به نه هغو ته اجازه وركړى شي چې كفر ئې كړى او نه به له (الهي) عتاب د ځان ژغورني غوښتنه ترې كېږي.

(۸٤)- دوى پرېږده چې خپل انكار ته دوام وركړي، داسې ورځ راتلونكي ده چې د الله تعالى په وړاندي به ولاړ وي، نادم، پښېمانه، سرټيټى، زړه به ئې غواړي چې د بخښني او استغفار اجازت وركړى شي، څه مهلت ئې په برخه شي چې د نېكو كارونو په كولو له الهي عتاب وژغورل شي، خو نه به دا اجازت وركړى شي او نه به ترې وغوښتل شي چې چې ځئ اوس داسې څه وكړئ چې له الهي عتاب وژغورل شئ.

وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلۡعَذَابَ فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿٨٥﴾

او كله چې ظلم كوونكي عذاب وګوري نو نه به ترې سپك كړى شي او نه به مهلت وركول كېږي.

(۸۵)- كله چې له الهي عذاب سره مخامخ شي او له لري ئې په خپلو سترګو وګوري، نو بيا به

د داسي څه کولو مجال ورته پاته نه وي چي په کولو او ويلو سره ئې عذاب راکم شي او مهلت ورکړی شي، په دنيا کي هم الهي سنت همدا دئ او په آخرت کي هم. نو خبره هغه ځای ته مه رسوئ چي مهلت مو پای ته ورسي او الهي عذاب درباندي سيوری وغوړوي.

وَإِذَا رَءَا ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ شُرَكَآءَهُمۡ قَالُواْ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا ٱلَّذِينَ كُنَّا نَدۡعُواْ مِن دُونِكَۖ فَأَلۡقَوۡاْ إِلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلَ إِنَّكُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴿٨٦﴾ وَأَلۡقَوۡاْ إِلَى ٱللَّهِ يَوۡمَئِذٍ ٱلسَّلَمَۖ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٨٧﴾ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ زِدۡنَٰهُمۡ عَذَابًا فَوۡقَ ٱلۡعَذَابِ بِمَا كَانُواْ يُفۡسِدُونَ ﴿٨٨﴾

او کله چي مشرك شوي خپل شريکان (جعلي معبودان) وګوري وبه وايي: دا زموږ هغه شريکان ول چي له تا پرته مو رابلل (مرستي مو ترې غوښتې)، نو خبره به ورغبرګه کړي چي بې شکه تاسو دروغجن يئ، او الله ته به په دې ورځ (خپله) تسليمي وړاندي کړي او هغه څه به ترې ورك شي چي له ځانه ئې په درواغو جوړول، هغه چي کفر ئې کړی او د الله له لاري ئې مخنيوی کړی عذابونه به ئې يو د بل د پاسه ورته زيات کړو د هغو فسادونو له کبله چي دوی کول.

(۸۶-۸۸)- دلته د قيامت په ورځ او د الله تعالی په وړاندي د مشرکانو او د دوی د جعلي معبودانو تر منځ د مشاجرې يو زړه راښکونکی انځور زموږ مخي ته ځلول شوی، چي لاندي لارښووني لري:

- کله چي مشرکان خپل شريکان وګوري، له هغو جعلي معبودانو سره مخامخ شي چي په دنيا کي ئې لمانځل، مرستي ئې ترې غوښتې، د دوی ځلي او مجسمي ئې جوړې کړې وې، د دوی پر قبرونو ئې دنګ دنګ زيارتونه جوړ کړي وو، د دوی د ځلو او قبرونو طوافونه ئې کول، د دوی د زيارتونو په درشل کي ئې لمن غوړوله او دا طمع ئې ترې کوله چي مشکلات ئې ورته حل کړي او حاجتونه ئې تر سره کړي، نو الله تعالی ته به شکايت وکړي چي موږ پر دغو غولېدلي وو، دوی مو ستا شريکان ګڼل، ګمان مو دا وو چي تا د عالم ځيني چاري دوی ته سپارلې وې، د دوی له لاري زموږ دعاګاني تر تا پوري رسي، جعلي معبودان به خبره ورغبرګه کړي او وبه وايي: تاسو دروغجن يئ، موږ نه يئ غولولي، موږ دا ادعاء نه وه کړې چي د الله تعالی شريکان يو، ستاسو حاجتونه ترسره کولی شو او ستاسو دعاګاني پر الله تعالی منلی شو، په دې ورځ به ټول خپله تسليمي د الله تعالی په وړاندي اعلان کړي او هغه څه به ترې ورك شي چي له ځانه ئې په درواغو جوړول، افتراءات، د شرکي مذهب په تأييد کي د دوی بې بنسټه او غلط دلائل، په دروغو خپل ناچل او شرك لړلي عقايد د الله کتاب، پيغمبرانو او

صالحینو ته منسوبول، دا هر څه به ترې ورك شي. د دغو کافرانو چې هم په خپله د الله له لارې تېروتي او منحرف شوي ول او هم ئې د الله په لار د نورو د تلو مخنیوی کاوو، د دوی تابع او متبوع، کشر او مشر ته مضاعف عذابونه ورکول کېږي، د خپل شرك عذاب هم او د نورو د بې لارې کولو عذاب هم. دوی مفسدین ول او د دوی شرك د مفاسدو ستر عامل، له همدې کبله به په مضاعف عذاب اخته کېږي.

• دې ته مو پام وي چې دلته له جعلي معبودانو یوازې هغه شخصیتونه مراد دي چې مشرکینو ئې ځلي او پر قبرونو زیارتونه جوړ کړي ول، لکه نن چې شیعه وو د علي ﷻ او د ده د اولاد پر قبرونو ستر ستر قصرونه جوړ کړي او د ولاړېدو پر مهال وایي: یا علي!! او خپلې دعاء په وخت وایي: یا علي مدد، وهمي او له ځانه جوړ کړي امام زمان ته دعاګاني کوي او مرسته ترې غواړي، د کربلا له خاوري د سجدې کودري جوړوي، د دوی د قبرونو طواف کوي، د زیارتونو دروازې او زنځیرونه او د قبرونو پنجرې ئې ښکلوي، یا لکه بریلویان چې یوه ته د غوث الاعظم دستګیر نوم ورکوي، بل ته د ګنجبخش، پر قبرونو عرسونه جوړوي او د رسول الله ﷺ په اړه همغه عقیده لري چې مشرك مسیحیان ئې د عیسی علیه السلام په اړه لري. په دې آیت کې له جعلي معبودانو بتان مراد نه دي، ځکه ویل شوي چې مشرکین به د قیامت په ورځ د الله تعالی په وړاندې دغو جعلي معبودانو ته ګوته ونیسي او به وایي: دا همغه دي چې موږ له تاسره شریك کړي ول، او دوی به ووایي: تاسو دروغجن یئ، زموږ په اړه چې څه وایئ ټول دروغ دي. د دې معنی دا ده چې دوی بتان نه بلکه انسانان ول چې مشرکینو معبودان ترې جوړ کړي ول.

وَيَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ ۖ وَجِئْنَا بِكَ شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ۚ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿٨٩﴾

او کومه ورځ چې په هرې ډلې کې د دوی له منځه پر دوی یو ګواه راپاڅوو، او تا پر دغو خلکو د یوه ګواه په توګه راولو، او پرتا مو دا کتاب نازل کړی چې د هر څه لپاره څرګندونکی دئ او د مسلمانانو لپاره لارښود، رحمت او زېری.

(۸۹)- په دې مبارك آیت د ښه پوهېدا لپاره باید دا خبرې په پام کې ولرو:

• الله تعالی به د قیامت په ورځ د هر قوم او امت له منځه د دوی خپل خپل پیغمبر پر دوی د ګواه په توګه راوړاندې کړي، او رسول الله ﷺ به پر خپل امت ګواه کړي. هر یو به ووایي چې دوی ته ئې الهي پیغام رسولی وو، حق ئې ورته څرګند کړی وو، د الله تعالی لارښود کتاب ئې د دوی مخې ته ایښی وو.

• دلته پر رسول اللهﷺ نازل شوی قرآن د داسي کتاب په توګه معرفي شوی چي د دې عالم د هر څه بيانوونکی او د انسان ټولو پوښتنو ته ځواب ويونکی دئ، يعني هر څه ئې واضح کړي، سربېره پر دې هغه داسي لارښود کتاب دئ چي هر مسلمان ته سمه لار ښيي، دا کتاب د الله تعالى له لوري يوه ستره پېرزوينه ده، په دې کتاب د تمسك له لاري د الله تعالى د رحمتونو دروازه د انسان پر مخ پرانيستل کېږي، دا کتاب مسلمانانو ته د روښانه مستقبل زېری ورکوي، دلته دا پوښتنه راولاړېږي چي آيا د دې خبري معنی فقط همدا ده چي په دې کتاب کي د هر څه په اړه لارښووني شوې، هري پوښتني ته ئې ځواب ويلی، ټول حقايق ئې بيان کړي؟ د دې عالم توکي او اسرار خو بې انتهاء دي آيا دا ټول اسرار په قرآن کي راغلي؟ د انسان پوښتني خو بې شمېره دي او ستر ستر کتابونه ترې جوړېږي آيا د قرآن په دې واړه کتاب کي دې ټولو پوښتنو ته ځواب ويل شوی؟ او دا څنګه؟ د دې پوښتني په ځواب کي بايد ووايو: هو؛ د قرآن د دغه آيت او دې ته ورته نورو آيتونو وينا همدا ده، له دې پرته بل هر ځواب ناقص او د قرآن د دغو يناوو خلاف دئ، په قرآن کي د دې عالم په اړه ټول ضروري علوم او اړيني لارښووني زموږ مخي ته ايښودل شوي، په قرآن کي د هر هغه څه په اړه وضاحت شوی چي انسان ورته ضرورت لري، ځيني وضاحتونه دومره څرګند او ځلانده دي چي هر مخاطب پرې پوهېدی شي، په ځينو ئې د پوهي او بصيرت خاوندان پوهېدی شي، ځيني ئې داسي دي چي يوازي د رسول اللهﷺ د تشريح او تبيين له لاري پرې پوهېدی شو، دا ځکه چي په قرآن کي د عالم د ځينو برخو په اړه وضاحتونه په مجمله توګه او اختصار او ايجاز سره راغلي، او د ځينو په اړه په تفصيل سره، د ټولو په اړه تفصيلي او مشرح بحث داسي ستر او ضخيم کتاب ته ضرورت لري چي ډېری انسانان به ئې له لوستلو هم عاجز وي، د قرآن د بيان اسلوب داسي دئ چي انسان د خپل فهم او بصيرت په اندازه ترې برخمن کېږي، لکه هغه باران چي هره شېله او خوړ د خپل ظرفيت په اندازه ترې ډکېږي، هر څومره چي انسان له دې کتاب سره مزيد آشنا کېږي، همدومره به د هغه په ابعادو، اسرارو او رموزو باندي پوهېږي. په دې مو بايد بشپړ يقين او باور وي چي دا کتاب هومره اسرار او رموز لري چي په دې ټول عالم کي دومره رموز نشته، دا چي الله تعالى فرمايي: قرآن (تبيانا لکل شئ) دئ، دا به مبالغه نه ګڼو، دا بېله خبره ده چي موږ لدې کتاب سره دومره نه يو آشنا شوي چي له هغه نه د هر څه د تبيين او پېژندني رڼا تر لاسه کړو، دا کتاب هومره جامع او له اسرارو ډك دئ چي په جنت کي به هم د تل لپاره په هغه کي تحقيق او څېړنه کوئ، خو انتها به نه مومي او د اسرارو د عميق بحر تل ته به ئې نشئ رسېدلی، دا دنيا او ستا محدود عمر خو پرېږده چي هيڅکله ورته کفايت نه کوي، په آخرت کي به هم ستا د بحث او څېړني موضوع همدا کتاب وي چي تر پايه به د هغه اسرار او رموز نه ختمېږي.

إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ

وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾

يقيناً چي الله د عدل، احسان او خپلوانو ته د ورکړي امر کوي، او له فحشاء، منکراتو او بغاوت ممانعت کوي، تاسو ته د دې لپاره وعظ کوي چي ښايي پند واخلئ.

(٩٠)- په دې مبارك آيت کي د الله تعالى اوامر او نواهي په ښپږو برخو کي په ډې توګه راخلاصه شوي:

- الله تعالى په دريو کارونو تاسو ګماري: عدل، احسان او له خپلوانو سره مرسته، دا درې لارښووني دومره جامع دي چي د انسان ټول ژوند او د ژوند ټول فکري، اعتقادي، اخلاقي او عملي ابعاد احتوى کوي، د انسان د ژوند هيڅ اړخ د دغو لارښوونو له دائرې بهر نه پاته کېږي.
- الله تعالى له دريو کارونو تاسو منعه کړي يئ: ١- فحشاء، يعني هغه کارونه چي بدوالى ئې بربنډ وي او هر څوك ئې بد ګڼي، پر عمل کوونکي سربېره نورو ته هم د هغه بدي اغېزې سرايت کوي. ٢- منکر، يعني هغه بد او کرکجن کار چي د انسان سالم فطرت ترې کرکه کوي. ٣- بغاوت، د بل پر حقوقو تېرى او د خپل رب له اطاعته سرغړاوى. دا درې نواهي هم داسي دي چي د انسان ټول ژوند احتوى کوي او ټول هغه بد او ناروا کارونه رانغاړي چي د الله تعالى د لارښوونو او نېکو کارونو خلاف دي.

وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ إِذَا عَٰهَدتُّمۡ وَلَا تَنقُضُواْ ٱلۡأَيۡمَٰنَ بَعۡدَ تَوۡكِيدِهَا وَقَدۡ جَعَلۡتُمُ ٱللَّهَ عَلَيۡكُمۡ كَفِيلًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا تَفۡعَلُونَ ﴿٩١﴾ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّتِي نَقَضَتۡ غَزۡلَهَا مِنۢ بَعۡدِ قُوَّةٍ أَنكَٰثٗا تَتَّخِذُونَ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرۡبَىٰ مِنۡ أُمَّةٍۚ إِنَّمَا يَبۡلُوكُمُ ٱللَّهُ بِهِۦۚ وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ مَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ﴿٩٢﴾

او کله چي ژمنه کوئ نو په الهي ژمني وفا وکړئ او قسمونه د هغوى له ټينګښت وروسته مه ماتوئ، په داسي حال کي چي الله مو پر خپل ځان وکيل او ګواه نيولئ، يقيناً چي الله په هغه څه پوهېږي چي تاسو ئې کوئ. او د هغي ښځي په څېر مه کېږئ چي خپل ورېشلى تار ئې له مضبوطولو وروسته ټوټې ټوټې کړ، خپل قسمونه په خپلو منځونو کي د غولولو وسيله مه ګرځوئ، په دې موخه چي يوه ډله تر بلي زياته ګټونکي شي، يقيناً

چي الله تاسو پرې آزمويي، او يقيناً چي الله به هرومرو تاسو ته د قيامت په ورځ هغه څه ښکاره کړي چي اختلاف مو په کي کولو.

(۹۱-۹۲)- په دې مبارکو آيتونو کي څو لارښووني شوې:

• تاسو چي له الله تعالى سره کومي ژمني کړې دي، که دا د ايمان راوړو په ترڅ کي ژمني دي او که د ژوند په مختلفو پړاوونو کي او له کړاوونو سره د مخامخېدو پر مهال ژمني، په ټولو دغو الهي ژمنو وفا وکړئ.

• د الله تعالى په نامه چي کوم قسمونه کوئ، که دا له الله تعالى سره د کوم تعهد په بڼې کي وي او که له کوم انسان سره، له ماتولو ئې ډډه وکړئ.

• يقيناً چي الله په هغه څه پوهېږي چي تاسو ئې کوئ، پوهېږي چي تاسو په خپلو ژمنو په صادقانه توګه عمل کوئ که نه.

• د هغي ښځي په څېر مه کېږئ چي خپل ورېشلی تار له مضبوطولو وروسته ټوټې ټوټې کړي، د قسمونو ماتول دې ته ورته کار دئ.

• خپل قسمونه په خپلو منځونو کي د غولولو وسيله مه ګرځوئ، په دې موخه چي يوه ډله تر بلي زياته ګټونکي شي، د کومي ګټي ترلاسه کولو په موخه له خپلو قسمونو د غولولو وسيله او ذريعه مه جوړوئ.

• الله تعالى تاسو د خپلو ژمنو او قسمونو په ترڅ کي آزمويي، ګوري چي څه کوئ، پر خپلو ژمنو عمل کوئ که نه، د خپلو قسمونو درناوی کوئ که نه.

• په دې پوه شئ چي الله تعالى به هرومرو تاسو ته د قيامت په ورځ هغه څه ښکاره کړي چي اختلاف مو په کي کولو. که څوك د خپل باطل دريځ، ناسمي غوښتني او غلطي ادعاء د صحيح ثابتولو لپاره له دروغجنو او غولوونکو قسمونو استفاده وکړي، د خپلي ډلي د غلطي تګلاري د سم او صحيح ثابتولو په موخه له قسمونو د غولوونکي وسيلي په توګه کار واخلي، بايد پوه شي چي د قيامت په ورځ به الله تعالى ټول هغه حقايق ښکاره کړي چي د هغوی په اړه خلك په ډلو ډلو وېشل شوي وو او يوه به د بل پرولو لپاره دروغجنو قسمونو ته پناه وړه.

وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمۡ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُۚ
وَلَتُسۡـَٔلُنَّ عَمَّا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ۝٩٣

او که الله غوښتی نو تاسو به ئې واحد امت ګرځولي وئ خو ليکن هغه څوك بې لاري کوي چي دی ئې وغواړي او هغه هدايتوي چي دی ئې وغواړي، او هرومرو به له هغه څه وپوښتی شئ چي تاسو کولو.

(۹۳)- که الله تعالى غوښتی نو په خپله به ئې ستاسو تر منځ د اختلاف هيڅ مجال نه پرېښود، په ټولو قضاياوو کي به ستاسو نظر يو وو، متحد امت به ئې درنه جوړ کړی وو، خو داسي کار له

الهي سنت او د انسان له فطرت سره اړخ نه لګوي، د الله تعالی سنت دا دئ چې ځيني د خپل مشيت مطابق هدايت کړي او ځينو ته د لارموندو توفيق ورنه کړي، هغه هدايتوي چې د هدايت کېدو وړتيا ولري او هغه بې لارې کوي چې په خپله په سمې لار د تلو اراده نه لري او په ځان کې ئې د دې وړتيا نه وي راپيدا کړې. الله تعالی انسان ته دا اختيار ورکړې چې د هدايت او ضلالت له منځ يو غوره کړي، د الله تعالی توفيق د ده په انتخاب پورې تعلق نيسي، د همدې اختيار له امله انسان د خپلو کړو وړو مسئول دئ او پوښتنه به ترې کېږي، که دا واك او اختيار ئې نه وی په برخه شوی او د نورو بې اختياره مخلوقاتو په څېر وی نو الله تعالی به د خپلو کړنو پوښتنه نه ترې کوله، نو ځکه د آيت په پای کې ويل شوي: هرومرو به له هغه څه وپوښتی شئ چې کوی ئې.

وَلَا تَتَّخِذُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡ دَخَلَۢا بَيۡنَكُمۡ فَتَزِلَّ قَدَمُۢ بَعۡدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُواْ ٱلسُّوٓءَ بِمَا صَدَدتُّمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَلَكُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ۝٩٤ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلًاۚ إِنَّمَا عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ۝٩٥ مَا عِندَكُمۡ يَنفَدُۖ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ بَاقٖۗ وَلَنَجۡزِيَنَّ ٱلَّذِينَ صَبَرُوٓاْ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ۝٩٦

او خپل قسمونه په خپلو منځونو کې د غولولو وسيله مه ګرځوئ چې په نتيجه کې ئې کوم قدم له مضبوطېدا وروسته وښويږي، او د هغه څه له کبله د کړاو خوند وڅکئ چې د الله له لارې مو مخنيوی وکړ، او ستر عذاب مو په برخه شي. او پر الهي ژمنو لږکی بيعه (قيمت) مه پېرئ، يقيناً هغه څه چې د الله په خوا کې دي درته غوره دي که پوهېږئ، هغه څه چې له تاسو سره دي ختمېږي او هغه څه چې له الله سره دي پاته کېدونکي دي، او هرومرو به هغو ته چې صبر ئې وکړ د دوی د هغه غوره عمل له مخې بدله ورکړو چې کاوو ئې.

(٩٤-٩٦)- په دې مبارکو آيتونو کې دا لارښوونې شوې:

• خپل قسمونه په خپلو منځونو کې د غولولو وسيله مه ګرځوئ، داسې نه چې په دې کار سره د داسې چا د ښوېدا باعث شئ چې د ايمان په لورې يو ګام راوړاندې شوی، خو د دې په ځای چې دلته ئې ګامونه مزيد مضبوط شي ستاسو د دغو دروغجنو قسمونو او ټګماريو په ليدو سره ئې پښې وښويږي او بېرته د کفر لورې ته مخه کړي او له ځان سره ووايي: ما د ايمان د

مدعیانو او کافرانو تر منځ کوم توپير ونه ليد، توپير ئې فقط دا وو چي هغوی په قسمونو سره خلك دوكه كول. په دې كار سره به تاسو له بد برخليك سره مخامخ او د الله تعالى په سخت عذاب اخته شئ، له دې كبله چي خلك مو د الله له لاري په شا كول.

- پر الهي ژمنو لږكى قيمت مه پېرئ، د هر څه لپاره چي قسمونه مات او خپلي ژمني تر پښو لاندي كړئ قليله او بې ارزښته قيمت ئې وګڼئ، او څه چي د خپلو قسمونو د درناوي او په خپلو ژمنو د ودرېدا له لاري د الله تعالى په خوا كي ترلاسه كوئ ډېر درته غوره دي كه وپوهېږئ.
- هغه څه چي له تاسو سره دي ختمېږي او هغه څه چي له الله سره دي پاته كېدونكي دي.
- الله تعالى به هرومرو هغو ته چي صبر ئې وكړ، د نفس او شيطان وسوسو ته تسليم نشول، په خپلو ژمنو ټينګ پاته شول، د دوی د هغه غوره عمل له مخي بدله وركړي چي دوی كاوو، يعني الله تعالى به د دوی بدله د هغه عمل له مخي ټاكي چي تر ټولو غوره وو.

مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾

چا چي نېك كار وكړ، كه نارينه وي او كه ښځه، خو چي هغه مؤمن وي، نو پاكيزه ژوندون به ورپه برخه كړو او د دوی د هغه غوره عمل له مخي به بدله وركړو چي كاوو ئې.

(۹۷)- دا مبارك آيت موږ ته لارښوونه كوي چي څوك نېك عملونه وكړي، كه نارينه وي او كه ښځه، خو چي مؤمن وي، نو الله تعالى به په دنيا او آخرت كي پاكيزه ژوندون ورپه برخه كړي، او الله تعالى به د دوی بدله د هغه عمل له مخي ټاكي چي تر ټولو غوره وو. له دې آيت په ډېر صراحت سره معلومېږي چي ايمان او صالح عمل په پاكيزه ژوندون منتج كېږي، كوم څوك او كومه ټولنه چي له پاكيزه ژوندون محروم وي عوامل دې په خپلي عقيدې او عمل كي ولټوي.

فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾ إِنَّهُۥ لَيْسَ لَهُۥ سُلْطَٰنٌ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٩٩﴾ إِنَّمَا سُلْطَٰنُهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُۥ وَٱلَّذِينَ هُم بِهِۦ مُشْرِكُونَ ﴿١٠٠﴾

نو كله چي قرآن لولې الله ته له رټل شوي شيطان پناه يوسه، يقيناً چي هغه داسي دئ چي پر هغو كسانو هيڅ سلطه نه لري چي ايمان ئې راوړی او پر خپل رب توكل كوي. بې

شکه چې د ده سلطه یوازې پر هغو ده چې له ده سره دوستي پالي او هغه چې د ده له کبله مشرکان شوي.

(۹۸-۱۰۰)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- کله چې قرآن لولې نو الله تعالی ته له رټل شوي شیطان پناه یوسه، هم په ژبه د ده له شره له الله تعالی پناه غواړه او هم په زړه کې له ټولو هغو کړنو څخه برائت او بې زاري اعلانوه او الله تعالی ته پناه وړه چې شیطان د هغوی په سبب د الله تعالی له رحمته ورټل شو او هم د قرآن د تلاوت په دوران کې له داسې شیطاني وسوسو ځان ساته چې د قرآن د لارښوونو، وعد او وعید په اړه ئې ستا په زړه کې اچوي او شکوك او شبهات درته راولاړوي. باید د قرآن لوستل په صاف او شفاف ذهن سره پیل کړې، شخصي افکار او آراء لرې وغورځوه، د هغو آراءو لپاره د دلائلو موندلو لټه مه کوه چې ستا له هوسه راولاړ شوي یا شیطان درته تلقین کړې، باید د یوه داسې طالب په توګه د قرآن په وړاندې ودرېږې چې د ضمیر او ذهن صفحه ئې له هر راز ګرد او غبار پاکه وي.
- په دې باور اوسه چې شیطان پر هغو کسانو هیڅ سلطه نه لري چې ایمان ئې راوړی او پر خپل رب توکل کوي. دوی نشي بې لارې کولی او وسوسې ئې پر دوی اغېز نه لري.
- د ده سلطه یوازې پر هغو ده چې له ده سره دوستي پالي او هغه چې د خپل رب په اړه مشرك دي، شیطان ئې له الله تعالی سره شریك کړی. داسې خلك به د ده د وسوسو تر اغېز لاندې ځي او سمه لار به ورکوي.

وَإِذَا بَدَّلْنَآ ءَايَةً مَّكَانَ ءَايَةٍ ۙ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مُفْتَرٍۭ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٠١﴾ قُلْ نَزَّلَهُۥ رُوحُ ٱلْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ﴿١٠٢﴾

او کله چې یو آیت د بل پرځای بدل کړو، په داسې حال کې چې الله په هغه څه ښه پوه دئ چې نازلوي ئې، (هغوی) وایي: ته افتراء کوونکی یې، داسې نه ده؛ بلکې د دوی ډېری نه پوهېږي. ووایه: روح القدس هغه په حقه ستا د رب له لورې نازل کړی تر څو هغه وګړي پرې مضبوط کړي چې ایمان ئې راوړی او مسلمانانو ته لارښوونه او زېری وي.

(۱۰۱-۱۰۲)- د دې مبارك آیت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- که څه هم ځینو درنو مفسرینو دا وینا ناسخ او منسوخ آیتونو ته راجع کړې خو حقیقت دا دئ چې دلته د ناسخ او منسوخ آیتونو په اړه نه بلکې د هغو آیتونو تر منځ توپیرونو ته اشاره شوې چې د یوې موضوع په اړه خو په بېلابېلو الفاظو بحث کوي، دا ځکه چې دا سوره په مکه

کي نازله شوې او هغه مهال د احکامو اړوند آیتونه نه وو نازل شوي او پر ناسخ او منسوخ آیتونو د مشرکینو د اعتراض سوال نه راولاړیږي، دقیقه وینا دا ده چي په دې مبارك آیت کي د مشرکینو هغه اعتراض ته اشاره شوې چي د قرآن په ځینو آیتونو ئې له دې کبله درلود چي له نورو اړوند او ورته آیتونو سره په الفاظو کي توپیرونه لري، د یوې موضوع په اړه په یوه آیت کي یو ډول الفاظ او د هغوی ترکیب کارول شوی او په همدې موضوع په بل آیت کي په نورو الفاظو بحث شوی، ویل ئې: که دا آیتونه د الله تعالی له لوري وي نو نه به د یوې موضوع په اړه دوه ځلي او په بېلو بېلو الفاظو څه راتلل او نه به د آیتونو په ترکیب کي څه توپیر تر سترګو کېدو، داسي نه چي یو ځل په یوه آیت کي په مجمله توګه یوې موضوع ته اشاره کېږي او بیا په بل ځای کي د همدې موضوع په اړه تفصیلي بحث په نورو الفاظو سره کېږي. مشرکینو به پر دغو توپیرونو د اعتراض ګوته ایښوده او ویل به ئې چي دا آیتونه د الله تعالی له لوري نه دي نازل شوي بلکي محمد (علیه السلام) له ځانه جوړ کړي!! د دوی په ځواب کي ویل شوي: د دوی دا بې بنسټه او غلط اعتراض د دوی د ناپوهۍ له کبله دئ، الله تعالی ښه پوهېږي چي مخکي ئې څه نازل کړي او وروسته څه نازلوي، دا تکرار او په بېلو بېلو الفاظو د یوې موضوع یادونه د دې لپاره ده چي مؤمنان ښه پرې پوه شي، د زړونو په تل کي ئې ځای ونیسي، مزید ډاډه او مطمئن شي، د ایمان لار ورته لازیاته روښانه شي، دا خو د الله تعالی له لوري مؤمنانو ته زیری دئ، د روښانه او ځلانده مستقبل زیري، یو په بل پسي، کله په یوه صیغه او کله په بله صیغه. دا د محمد علیه السلام خپله وینا نه بلکي د روح القدس (جبرئیل علیه السلام) په لاس رسول اللهﷺ ته لیږل شوی ربښتینی الهي پیغام دئ، دلته جبرئیل علیه السلام د روح القدس (پاکه روح) په نامه یادول په خپله یو ظریف ټکي ته اشاره ده او هغه دا چي: د دې الهي پیغام هر جزء او هره فقره ښیي چي د دې حامل یوه پاکه روح ده، له هرراز ناوړو تمایلاتو پاکه، له غرض او مرض خوندي، د نفس او هوس له غوښتنو او د شیطان له وسوسو برئ او پاکه روح، ووایئ: په دې پیغام کي څه داسي په نظر درځي چي ښیي دا د کوم انسان له شخصي تمایلاتو او نفسي غوښتنو راټوکېدلی؟

وَلَقَدۡ نَعۡلَمُ أَنَّهُمۡ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٞۗ لِّسَانُ ٱلَّذِي يُلۡحِدُونَ إِلَيۡهِ أَعۡجَمِيّٞ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيّٞ مُّبِينٌ ﴿١٠٣﴾

او یقیناً په دې پوهېږو چي دوی وایي: خبره له دې پرته بله نه ده چي یو انسان ئې ورزده کوي، دا په داسي حال کي چي د هغه چا ژبه غیر عربي ده چي دوی ورته ګوته نیسي او دا خو څرګنده عربي ده.

(۱۰۳)- دا مبارك آیت د معارضینو یوې بلې افتراء ته اشاره کوي او هغه دا چي ویل به ئې: محمد (علیه السلام) ته دا خبري بل څوك ورښیي، دا د مخکنیو کتابونو خبري دي چي ده له بل چا زده کړې دي، د داسي کسانو نومونه به ئې اخیستل چي عربان نه ول، ژبه ئې اعجمي (غیر

عربي) وه، د اهل كتابو د مذهبي مشرانو نومونه به ئي اخيستل، دا په داسي حال كي چي نه د هغوی ژبه عربي وه او نه د تورات او انجيل ژبه، او رسول الله ﷺ دوی ته په څرګندي عربي ژبي كي قرآن وړاندي كړی وو!! دا يوازي د عربو مشركين نه ول چي د قرآن او رسول الله ﷺ په اړه ئي دا افتراء كوله، ډېرو مستشرقينو دي ته ورته افتراءات كړي، كه تاسو د هغو مستشرقينو كتابونه ولولئ چي د اسلام په اړه ئي د څېړنو او تحقيقاتو په نامه څه ليكلي، وبه ګورئ چي هر يوه ئي دا هڅه كړې چي په يوه او بل ډول دا ثابته كړي چي رسول الله ﷺ له بايبل (تورات او انجيل) اقتباسات كړي!! دا افتراء د هغو خلكو په زړونو كي شكوك او شبهات راولاړولی شي چي نه ئي قرآن لوستی او نه بايبل؛ او د دې خبري منل هم ورته ګران وي چي يو نالوستی انسان څنګه كولی شي د قرآن په څېر داسي بليغ، جامع او اغېزناك كتاب وړاندي كړي چي د يوه ستر فكري، اخلاقي، اجتماعي او سياسي انقلاب باعث شي او د منونكو شمېر ئي ملياردونو ته ورسېږي!! ډېره حيرانوونكي او عجيبه ده چي دغو غرضي او مرضي مستشرقينو څنګه دا جسارت كړی چي د رسول الله ﷺ او قرآن په اړه دا افتراء وكړي!! دا په داسي حال كي چي قرآن د بايبل په سلو كي لږ تر لږه د پنځه نوي ويناوو په قاطع او بشپړه توګه ترديد كوي او پاته پنځمه سلنه ئي تصحيح كوي. يو مهال ما هم داسي ګمان كاوو چي ښايي د قرآن او بايبل تر منځ به نږدې شباهتونه وي، بايبل به همغه تورات او انجيل وي چي پر موسی عليه السلام او عيسی عليه السلام نازل شوي، د همدغي غلطي انګېرني له كبله مي پر هغو درنو مفسرينو اعتراض نه درلود چي د بايبل پر ځينو ويناوو ئي استناد كړی، خو كله چي ما په بايبل كي تحقيق پيل كړ او هغه مي د قرآن په څنګ كي كېښود او ژورو توپيرونو ته ئي متوجه شوم، ومي ليدل چي قرآن په اصل كي د دې لپاره راغلی چي د دغه محرف بايبل خبري ترديد او تصحيح كړي، په دې هم پوه شوم چي الله تعالی هغه مهال نوی پيغمبر مبعوث كړی او نوی كتاب ئي رالېږلی چي د مخكني كتاب هيڅ برخه روغه، سالمه او له تحريف او لاسوهنو خوندي نه ده پاته شوې او د مخنكي پيغمبر د دعوت ټولي اغېزې په بشپړه توګه له منځه تللي، د رسول الله ﷺ د بعثت پر مهال د اصلي تورات او انجيل هيڅ برخه روغه نه وه پاته، په دې حقيقت هغه څوك ښه پوهېږي چي يا بايبل په دقت او غور سره ولولي او له قرآن سره ئي مقايسه كړي او يا د بني اسرائيلو د تاريخ هغي برخي ولولي چي پر دې قوم د سختو بدو ورځو هغه پېښي ئي څېړلي چي په ترڅ كي ئي د دوی ښارونه وران شوي، معبدونه ئي نسكور او له خاورو سره برابر شوي، ټول مذهبي كتابونه ئي سوزل شوي، د اسيرانو او غلامانو په توګه كله روم او يونان ته او كله فارس ته انتقال شوي، نه ئي د مذهب كومه ښه پاته شوې او نه ئي د تمدن. د تورات او انجيل موجودي عبراني نسخي له يوناني ژبي ژباړل شوې نسخي دي، اصلي عبراني نسخي ئي نشته، او دا ښيي چي په تورات او انجيل څه تېر شوي؟ حقيقت دا دئ چي اوسنی محرف بايبل د روميانو په وينا او د بني اسرائيلو په ضد ليكل شوی، په دې بايبل كي د بني اسرائيلو د ټولو پيغمبرانو داسي سپكاوی شوی او داسي بد بد تورونه پرې لګېدلي چي هيڅ مؤمن او شريف انسان ئي د ويلو جسارت نشي كولی. اميد دئ بايبل د قرآن په رڼا كي كتاب ولولئ چي په دې حقيقت لازيات ښه پوه شئ.

إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَا يَهۡدِيهِمُ ٱللَّهُ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٠٤﴾ إِنَّمَا
يَفۡتَرِي ٱلۡكَذِبَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰذِبُونَ


يقيناً هغه چي د الله پر آيتونو ايمان نه راوړي الله ئې لارښونه نه كوي او دوى ته دردناك عذاب دئ. يوازي هغه وګړي له ځانه درواغ جوړوي چي د الله پر آيتونو ايمان نه راوړي، او همدا دوى دروغجن دي.

(١٠٤-١٠٥)- دا مبارك آيتونه موږ ته وايي:

- ځوك چي د الله تعالى په مقروء او مشهود آيتونو ايمان نه راوړي؛ د هدايت دروازې ئې پر مخ تړل شوې پاته كيږي او الله تعالى دا توفيق نه وركوي چي په حقايقو د پوهېدا سعادت ئې په برخه شي، دوى ته په دنيا او آخرت كي دردناك عذاب انتظار كوي.
- يوازي هغه وګړي له ځانه درواغ جوړوي چي د الله پر آيتونو ايمان نه راوړي، او اصلي دروغجن وګړي همدا دوى دي. تاسو څنګه يو رښتيني انسان چي د الله تعالى پر آيتونو كلك او پوخ باور لري او تاسو ته مكرر بلنه دركوي چي د الله پر آيتونو ايمان راوړئ په دې تورنوئ چي دا قرآن ئې په دروغو له ځانه جوړ كړى؟!!

مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَٰكِن
مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ صَدۡرًا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٦﴾
ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ
ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿١٠٧﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ طَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ وَسَمۡعِهِمۡ وَأَبۡصَٰرِهِمۡۖ
وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡغَٰفِلُونَ ﴿١٠٨﴾ لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ


چا چي له خپل ايمان وروسته د الله په اړه كفر كړى، مګر هغه چي په زور اړ كړى

شوی؛ په داسي حال کي چي زړه ئې پر ایمان ډاډه دئ، خو هغه چي کفر ته ئې سینه پرانیستې، نو پر دوی د الله له لوري غضب دئ او دوی ته ستر عذاب دئ. دا له دې کبله چي دوی د دنیا ژوند پر آخرت غوره وګڼلو او د دې لپاره چي الله دا کافر وګړي نه هدایتوي. دا هغه وګړي دي چي الله د دوی پرزړونو، غوږونو او سترګو مهر لګولی او همدا دوی غافلان دي، شك نشته چي همدا دوی به په آخرت کي زیانمن وي.

(۱۰۶-۱۰۹)- د دې مبارکو آیتونو مهمي لارښووني دا دي:

- ځوك چي پر الله تعالی له ایمان راوړو وروسته د کفر لار غوره کړي، پرته له دې چي کفر ته اړ کړی شوی وي او چا داسي څه ویلو او کولو ته اړ کړی وي چي انسان پرې کافر کېږي، په خپله خوښه او له جبر او اکراه پرته کافر شي، هغه نه چي د مجبورت له مخي په ژبه د کفر کلمه وايي خو زړه ئې پر ایمان ډاډه وي، بلکي هغه چي کفر ته ئې خپله سینه پرانیستې، او په خپل زړه کي ئې ځای ورکړی، پر دوی د الله له لوري غضب دئ او ستر عذاب به ئې په برخه وي.
- دوی له دې کبله خپل ایمان ته شا کړه او بېرته ئې د کفر په لوري مخه کړه چي د دنیا ژوند ئې پر آخرت غوره وګڼلو، عقل نه بلکي هوس بېولي، د دلیل نشتوالي نه بلکي د لذتونو نشتوالي او د ایمان په لیکه کي پلیتو دنیوي اغراضو ته د نه رسېدا له کبله د کفر په رنګیني غېږ کي پرېوتي او خپل ایمان ئې په لته وهلی، عقل ئې ایمان ته بللي خو شهوت ئې کفر ته هڅولي، دوی د عقل وینا ته د رد ځواب ورکړی او د هوس د لمسون په لومي کي نښتي.
- د دې بله وجه دا ده چي دوی د کفر او انکار هغه پړاو ته رسېدلي او په دې ګنده ډنډ کي داسي نښتي چي د هدایت ټولي دروازې ئې پر مخ تړلې دي، ټولي هغه وړتیاوي ئې له لاسه ورکړېي چي له امله ئې الله تعالی د چا لارښوونه کوي او په سمي لار د تلو توفیق ورکوي، دوی داسي دي چي الله تعالی د دوی پرزړونو، غوږونو او سترګو مهر لګولی، په خپلو مستیو کي غرق دي، د هوی او هوس ځپانده سیند په سر اخیستي، ضمیر ئې ویده دئ، وجدان ئې ځپل شوی، د دوی هر لوري ته چي کوم ځلانده نښي دي او د الله تعالی په لوري بلنه ورکوي، له ټولو غافل دي او د هغوی په اړه د غور او فکر مجال او فرصت نه لري.
- شك نشته چي همدا دوی به په آخرت کي زیانمن وي.

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا فُتِنُواْ ثُمَّ جَٰهَدُواْ وَصَبَرُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١١٠﴾

بیا یقیناً چي ستا رب د هغو وګړو په اړه له شکه پرته ډېر مهربان بخښونکی دئ چي په آزمېښتونو کي له اچول کېدو وروسته ئې هجرت کړی، بیا ئې جهاد او صبر کړی.

(۱۱۰)- دا مبارك آیت د مخکني په تړاو مور ته وايي: که یوه لوري ته داسي ضعیف النفس او د

هوى او هوس غلامان ګورئ چې د دنيوي مال او متاع لپاره د خپل ايمان سودا کوي، بل لوري ته داسي خلك ګورئ چې د خپل ايمان په حکم هري قربانۍ ته چمتو دي، له سختو سختو آزموينو سره مخامخ کېږي، په عذابونو او کړاوونو ابتلاء کېږي، هجرت ته اړ کېږي، له کور، کلي، مال، دولت، خپلوانو، دوستانو لاس اخيستو او پرديو ملکونو ته په تلو آزمويل کېږي، خو هغه د خپل ايمان لپاره دا ټول مني، نه يوازي هجرت کوي بلکي د خپل ايمان په حکم جهاد ته ملا تړي، غواړي د ايمان رڼا د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوي او هغه خنډونه له منځه يوسي چې د دې رڼا د خورېدا مخه نيسي، او د هجرت او جهاد په دوران کي چې له کومو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کېږي په صبر سره او په سړه سينه ئې زغمي.

• الله تعالى د دغه مهاجر، مجاهد او صابر مؤمن په اړه له شکه پرته ډېر ډېر مهربان بخښونکى دئ، نه يوازي د ده له اشتباهاتو، قصور او خطاګانو تېرېږي او بخښنه ورته کوي بلکي د خپل پراخ رحمت سيورى پرې غوړوي.

يَوۡمَ تَأۡتِي كُلُّ نَفۡسٖ تُجَٰدِلُ عَن نَّفۡسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ ﴿١١١﴾

هغه ورځ چې هر څوك به په داسي حال کي راشي چې له ځانه د دفاع لپاره به مجادله کوي او هر چا ته به هغه څه په بشپړه توګه ورکړى شي چې کړي ئې وو او پر دوى به ظلم نه کېږي.

(۱۱۱)- داسي ورځ راتلونکي ده چې هر څوك به په داسي حال کي د الله تعالى په وړاندي حاضر شي چې له ځانه پرته به بل مدافع نه لري، بل څوك به ئې نه يوازي مرسته نشي کولى بلکي له ده به د دفاع کولو او د ده په ګټه د څه ويلو مجال او فرصت هم نه لري، هر څوك به په خپله له ځانه دفاع کوي، دا دفاع او مجادله به هيڅ ګټه نشي وررسولى او د ده سزا به نشي راکمولى، هر چا ته به هغه څه په بشپړه توګه ورکړى شي چې کړي ئې وو او پر دوى به هيڅ ظلم نه کېږي.

وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا قَرۡيَةٗ كَانَتۡ ءَامِنَةٗ مُّطۡمَئِنَّةٗ يَأۡتِيهَا رِزۡقُهَا رَغَدٗا مِّن كُلِّ مَكَانٖ فَكَفَرَتۡ بِأَنۡعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلۡجُوعِ وَٱلۡخَوۡفِ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ﴿١١٢﴾

او الله د هغه کلي مثال بيان کړ چې خوندي او ډاډه وو او رزق ئې له هر ځايه تازه او

پرېمانه ورته راتو، خو دوی د الله د نعمتونو ناشکري وکړه، نو الله د لوږې او وېرې په جامو د پټېدو خوند وروڅاکو، د هغه څه په سبب چې دوی کول.

(۱۱۲)- دلته الله تعالی د یوه ښکلي مثال په ترڅ کې یو ستر حقیقت انځور کړی او یوه جامع لاربښوونه ئې زموږ په وړاندې ایښې، دا حقیقت چې کله یو قوم د الله تعالی د نعمتونو ناسپاسي وکړي، د نعمتونو د شکر ادا کولو پر ځای د منعم په وړاندې د بغاوت لار غوره کړي نو له دوو سترو مصیبتونو سره مخامخ شي، دوه ستر نعمتونه ترې واخیستل شي: د (پراخ رزق) نعمت او د (امن نعمت)، په بدل کې ئې (لوږه) او (وېره) خپل تور وزر پرې وغوړوي. په پورتني مثال کې داسې کلی او کلیوال ئې انځور شوي چې په هغه کې امنیت او اطمئنان وو او رزق ئې له هر لوري ورته راروان، خو دوی کفران او ناسپاسي وکړه، چې د دې له کبله لومړی (فقر) پرې مسلط شو او بیا (خوف او وېرې) خپل تور وزر پرې وغوړاوو.

په دې مبارك آیت کې د انساني ټولنې دوو سترو سترو آفتونو ته اشاره شوې: (لوږه او وېره) چې دواړه ئې څنگ په څنگ او یو وخت راځي. کله ئې یو مخکې راشي او لاره بل ته پرانېزي او کله ئې بل، کله یو وځي او بل له ځان سره بیایي او کله ئې بل، کله گورو چې وېره او بې امنیتي پر ټولنې خپل تور وزر وغوړوي او له دې سره سم اقتصادي فعالیتونه متوقف شي، اقتصادي تأسیسات له منځه ولاړ شي، د تجارت بازار سوړ شي، تاجر او بډای له هېواده ووځي، خپلې شتمنۍ نورو ملکونو ته انتقال کړي، بندونه وران شي، نهرونه وچ شي، زراعتي زمکې شاړې او بائر پاته شي، فابریکې تخریب شي، بزگر خپل بېل لرې واچوي او کارگر خپل څټك او ټوپك ته لاس کړي، جگړه ئې کسب او پېشه شي او په دې ترتیب فقر او لوږه ټولنې ته مخه کړي او خپل سیورې پرې وغوړوي او کله بیا گورو چې لومړی فقر او لوږه ټولنې ته مخه کړي، غیرعادلانه او ظالمانه اقتصادي نظام پر ټولنې مسلط شي، د ټولنې ثروت او شتمنۍ د محدود شمېر بډایانو په لاس کې پرېوځي، د ټولنې اکثریت له فقر او محرومیت سره مخامخ شي، کله چې د ټولنې اکثریت دا گورې چې پر ټولنې د مسلط ظالمانه نظام تر سیورې لاندې هیڅکله آرام او سوکاله ژوند نه شي ترلاسه کولی، له اقتصادي ستونزو نه شي وتلی او که دا نظام وي نو دوی به تل په محرومیت کې ژوند کوي، ناچار د نورو لارو په لټه کې کېږي، د خپلې بقا لار، د دې نظام د ړنگولو لار، د هغو زندانونو د ړنگولو او د هغو زنځیرونو د شلولو لار چې د دې نظام بقا تضمینوي، د جنگ او مسلحانه قیام لار. همداراز په ټولنې کې فقر هغو داخلي او خارجي ځواکونو ته په ارزانه بیه د جنگیالیو د استخدام موقع په لاس ورکوي چې غواړي د جگړو له لارې خپل اهداف ترلاسه کړي او خپله لوېي او برلاسي پر نورو ومني.
قرآن په دې آیت کې امن او اطمئنان د رزق او روزۍ تر وفرت او کثرت مخکې یادوي د قریش په سوره کې لومړی له لوږې ژغورنه یادوي او ورپسې له وېرې او خوف نجات، تفصیل ئې د قریش د سورې په تفسیر کې ولولئ.

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْهُمْ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ وَهُمْ ظَـٰلِمُونَ ﴿١١٣﴾

او يقيناً چي دوی ته له دوی څخه يو پيغمبر ورغی، چي هغه ئي تكذيب كړ، نو ځكه په داسي حال كي عذاب ونيول چي ظالمان ول.

(۱۱۳)- دغو مخكنيو ولسونو ته خپل خپل پيغمبران ورغلل خو هغوی تكذيب كړل، نو ځكه په داسي حال كي په الهي عذاب اخته شول چي ظالمان ول، هم ئي د پيغمبرانو د تكذيب په اړه ظلم او تېری كولو او هم په خپل چلن كي ظالمان ول.

فَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلٗا طَيِّبٗا وَٱشۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ
تَعۡبُدُونَ ﴿١١٤﴾ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ
بِهِۦۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿١١٥﴾ وَلَا تَقُولُواْ لِمَا
تَصِفُ أَلۡسِنَتُكُمُ ٱلۡكَذِبَ هَٰذَا حَلَٰلٞ وَهَٰذَا حَرَامٞ لِّتَفۡتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۚ
إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ لَا يُفۡلِحُونَ ﴿١١٦﴾ مَتَٰعٞ قَلِيلٞ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ
﴿١١٧﴾ وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا مَا قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ مِن قَبۡلُۖ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن
كَانُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ يَظۡلِمُونَ ﴿١١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُواْ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ تَابُواْ
مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُوٓاْ إِنَّ رَبَّكَ مِنۢ بَعۡدِهَا لَغَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴿١١٩﴾

نو هغه حلال او پاك رزق وخورئ چي الله درروزي كړی، او د الله د نعمت شكروكړئ كه په رښتيني توګه د هغه عبادت كوئ. يقيناً خبره يوازي دا ده چي پر تاسو ئي مړزګه، وينه، د خوګ غوښه او هغه څه حرام كړي چي د غير الله نوم پرې اخيستل كېږي، نو كه څوك مضطر شو په داسي حال كي چي نه بغاوت كوونكی وي او نه تېری كوونكی، نو يقيناً چي الله مهربان بخښونكی دئ. او د هغه څه په اړه دروغ مه وايئ چي ستاسو ژبي ئي څرګوالی بيانوي، چي دا حلال دئ او دا حرام دئ، چي په دې توګه پر الله په درواغو له ځانه افتراء وكړئ، يقيناً هغه چي پر الله دروغجنه افتراء كوي فلاح (بريا) نشي موندلی. (حاصل ئي) يوه قليله متاع ده او دوی ته دردناك عذاب دئ، او پر هغو چي يهودان شوي وو هغه څه مو حرام كړل چي مخكي مو تاته بيان كړل، او موږ ظلم نه دئ

پرې کړې بلکې دوی پر خپلو ځانونو ظلم کاوو. یقیناً چې ستا رب د هغو وګړو په اړه چې په ناپوهۍ سره ئې بد کار کړي، بیا ئې له دې وروسته توبه کړې او سمونه ئې کړې (خپل عمل ئې اصلاح کړی)، یقیناً چې ستا رب تر دې وروسته حتماً ډېر مهربان بخښونکې دئ.

(۱۱٤-۱۲۰)- د دې مبارکو آیتونو لارښوونې دا دي:

- هغه حلال او پاك رزق وخورئ چې الله درروزي کړي او د الله د نعمت شکروکړئ که په رښتیني توګه د هغه عبادت کوئ. د خپل رب د رښتیني عبادت تقاضاء دا ده چې حلال او پاکیزه رزق وخورئ، د (حرام) او (ګنده او ناپاك) رزق له خوړلو ډډه وکړئ او دا چې د الله تعالی د نعمتونو شکر پر ځای کړئ، له الهي نعمتونو د استفادې په مهال هم د هغه د احسان مرهون وئ او د حمد او شکر له جذبې مو زړه ډك وي او هم دا نعمتونه په هغه توګه وکاروئ چې ستاسو منعم پرې راضي کېږي.
- الله تعالی پر تاسو مړزګه، وینه، د خوګ غوښه او هغه څه حرام کړي چې د ذبحې پر مهال ئې د غیر الله نوم پرې اخیستل کېږي، خو که څوك مضطر شو؛ په داسې حال کې چې نه بغاوت کوونکی وي او نه تېری کوونکی، نه ئې د الله تعالی له حکم د بغاوت او سرغړاوي په توګه خوري او نه د خپلې اړتیا له حده زیات خوري، نو یقیناً چې الله تعالی مهربان بخښونکی دئ، مضطر ته ئې د دې حرام خوراك اجازه ورکړې.
- د خوراکي توکو په اړه له خپله ځانه او دروغجنې فتواګانې مه ورکوئ، له دې ډډه وکړئ چې په خپل سر او په دروغو ووایئ: دا حلال دئ او دا حرام دئ. دا د الله تعالی په شأن کې افتراء ده. هغه څوك به هیڅکله بریالی نشي او د الله تعالی له عذابه به ونه ژغورل شي چې پر الله تعالی دروغجنه افتراء کوي. د دې افتراء پایله به ئې له دې پرته بل څه نه وي چې یوه قلیله متاع ئې په برخه شي، یا یو نس خوراك، یا د خپلې دروغجنې فتوی کومه ذلیله اجوره، د کوم حاکم او واکمن له لوري کوم شاباسی، کومه چینه، کومه پګړی، او په پای کې د الله تعالی له لوري دردناك عذاب.
- د الله تعالی له لوري چې پر یهودانو څه حرام شوي وو بیان ئې تر دې د مخه راغلی، هغه د دوی د ظلمونو سزا وه، الله تعالی پر دوی ظلم نه دئ کړی بلکې دوی پر خپلو ځانونو ظلم کاوو.
- څوك چې په ناپوهۍ سره بد کار وکړي، بیا له خپلې غلطۍ وروسته توبه وکړي او خپل غلط کار جبران کړي، خپل غلط کار اصلاح کړي، یقیناً چې له داسې چا سره ستا د رب معامله د بخښنې او پېرزوینې معامله ده، دا ځکه چې هغه ډېر مهربان بخښونکی دئ.

إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِّلَّهِ حَنِيفًا وَلَمْ يَكُ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٠﴾ شَاكِرًا لِّأَنْعُمِهِ ٱجْتَبَىٰهُ وَهَدَىٰهُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٢١﴾ وَءَاتَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٢٢﴾ ثُمَّ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ أَنِ ٱتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٢٣﴾

یقیناً چې ابراهیم (په یوازې سر) یو امت وو، الله ته مطیع، حق ته یومخیزه مائل او داسې

نه وو چې له مشركينو څخه شي، د نعمتونو ئې شاكر، غوره ئې كړ او مستقيمي لاري ته ئې هدايت كړ، او په دنيا كې مو ښېګڼه ورپه برخه كړه او هغه به په آخرت كې حتماً د صالحانو په ډلې كې وي، بيا مو تا ته وحي وكړه چې د حنيف ابراهيم د ملت متابعت وكړه او هغه له مشركينو څخه نه وو.

(۱۲۰-۱۲۳)- د دې مباركو آيتونو په اړه څو خبري په پام كې ولرئ:

- دلته ويل شوي چې ابراهيم عليه السلام په يوازې سر يو امت وو، يا په دې معنى چې د يوه ستر امت بنسټ ئې كېښود، د ده لار د يوه لوی امت لار شوه، او يا په دې معنى چې دومره ستر ستر كارونه ئې وكړل چې يو امت ئې له عهدې وتلی شي.
- ابراهيم عليه السلام الله تعالى ته مطيع وو، حق ته يومخيزه مائل وو، دې ته چمتو نه وو چې د مشركينو په څنګ كې ودرېږي او د دوی له ډلې څخه شي. د خپل رب د نعمتونو په وړاندې شاكر وو، الله تعالى د سترو سترو كارونو لپاره غوره كړی وو، د يوه موحد امت د باني او لاربنود په توګه غوره شوی وو، بيت الله د ده په لاس جوړه شوه، الله تعالى مستقيمي لاري ته هدايت كړ، په دنيا كې ئې ښېګڼه ورپه برخه كړه، ګڼ شمېر پيغمبران د ده په اولاد كې مبعوث شول، تر قيامته به د نړۍ موحدين پر ده درود وايي، په آخرت كې به د صالحانو په ډلې كې وي.
- رسول اللهﷺ او د ده له لاري اسلامي امت ته ويل شوي چې د ابراهيم د ملت متابعت وكړي، لكه چې هغه په هيڅ څه كې د مشركينو په څېر نه وو، تاسو به هم له شركي عقايدو ځان لري ساتئ.
- دلته د ابراهيم عليه السلام په ارتباط دا ارشادات د دې لپاره راغلي چې له يوې خوا معترضينو ته ځواب وركړی شي چې ويل ئې: څنګه ومنو چې محمد (عليه السلام) د الله له لوري د پيغمبر په توګه غوره شوی او قرآن د الله له لوري راغلی حال دا چې د ده دين له مخكنيو سره توپير لري، د ده په دين كې ډېر داسي څه مومو چې د حلالو اطلاق پرې شوی خو همدا شيان په مخكنيو اديانو كې حرام وو؟ دوی ته تر دې د مخه وويل شول چې پر يهودانو حرام شوي ځيني شيان د دوی لپاره يوه سزا وه، دوی په خپله دا شيان حرام كړي وو، د محمد عليه السلام دين همغه د ابراهيم عليه السلام او نورو پيغمبرانو دين دئ، رسول اللهﷺ په دې مأمور شوی چې د ابراهيم عليه السلام د ملت او مذهب متابعت وكړي، له بلې خوا قريشو ته ويل شوي چې تاسو هسي ځان ابراهيم عليه السلام ته منسوبوئ، ابراهيم عليه السلام له شرك او مشركينو بې زار وو، هغه حنيف او موحد وو، تاسو په شرك كې غرق يئ، نه مو عقايد د ابراهيم عليه السلام په څېر دي او نه مو اخلاق او عمل د هغه په څېر.

إِنَّمَا جُعِلَ ٱلسَّبْتُ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُواْ فِيهِ ۚ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٢٤﴾

يقيناً چې سبت (شنبه او په هغې پوري تړلي احكام) پر هغو (لازم) ګرځول شوی وو چې اختلاف ئې كړی وو، او يقيناً چې ستا رب به حتماً د دوی تر منځ په هغه څه كې پرېكړه كوي چې دوی په كې اختلاف كولو.

(۱۲٤)- په دې ځای كې د سبت د ورځې يادونه ښايي د دې لپاره راغلي وي چې دا هم د معاندينو اعتراض وو ~~چې رسول اللهﷺ ولې د سبت (شنبه) ورځې هغه ډول درناوی نه كوي چې يهودان ئې درناوی كوي او ولې له هغو~~ كارونو ډډه نه كوي چې يهودان په دې ورځ ترې ډډه كوي؟ سره له دې چې وايي: زما دين همغه دين دئ چې د

ابراهيم، موسى او عيسى عليهم السلام دين وو!! دوى ته په ځواب کي ويل شوي چي دا ورځ او اړوند احکام ئي د ځينو خاصو او ځانګړو عواملو له کبله پر دوى لازم شوي وو، ستر عامل ئي د دوى اختلاف وو. د همدې لپاره د آيت په پاى کي ويل شوي چي ستا رب به حتماً د دوى تر منځ په هغه څه کي پرېکړه کوي چي دوى په کي اختلاف کولو.

ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦۖ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١٢٥﴾

د خپل رب لاري ته په حکمت او نېکي موعظې سره بلنه ورکړه، او په داسي توګه مجادله ورسره کوه چي تر ټولو غوره وي، يقيناً چي ستا رب پر هغو ښه پوه دئ چي د ده له لاري تېروتي او هغه پر هدايت شوو هم ښه پوه دئ.

(۱۲۵)- په دې مبارك آيت کي مؤمن داعي ته څو مهمي لارښووني شوې:

- مخاطب ته په حکمت سره بلنه ورکړه چي ستا د رب په لاري تلو ته چمتو شي، ستا بلنه بايد حکيمانه وي، د مخاطب حالت ته په پام سره، په داسي الفاظو چي هغه ته د فهم وړ وي، په داسي توګه چي د هغه زړه ته لار ومومي او د زړه دروازه ئي ورته پرانيستل شي، په مناسب وخت او مناسب ځاى او حالت کي هغه ته بلنه ورکړه، بايد متوجه وي چي ستا بلنه په هغه درنه تمامه نشي، حساسيت ئي تحريك نشي او تا ته د رقيب او حريف په سترګه ونه ګوري، داسي ونه انګېري چي ته ځان تر ده لوړ ګڼې او هغه ته د حقارت په سترګه ګورې او موخه دي يوازي دا ده چي هغه پر کړې.
- ستا بلنه بايد د يوې نېکي موعظې بڼه ولري، مخاطب داسي احساس کړي چي ته ئي خواخوږى يې، د ده په اړه زړه سوى لرې، د ده د خير، سعادت او فلاح تلوسه لرې، ستا په الفاظو او لهجې کي بايد د يوه دردمن زړه جذبه او غږ احساس کړي. که مجادلې ته اړ شوې او د مخاطب له لوري پوښتنو سره مخامخ شوې نو په داسي توګه مجادله ورسره کوه چي تر ټولو غوره وي، په ښکلي او معقوله توګه ئي پوښتنو ته ځواب ووايه، له مجادلې نه ستا موخه او هدف بايد مخاطب قانع کول او د هغه تشويشونه رفع کول او پوښتني ځوابول وي نه د هغه پرځول، پېړول او ځړول، د يوه حريف او رقيب په سترګه مه ورته ګوره، داسي الفاظ مه کاروه چي يو غصه ناك انسان ئي د خپل دښمن په ضد کاروي.
- د هيڅ مخاطب له هدايته مه مأيوس کېږه، د هيڅ مخاطب په اړه دا پرېکړه مه کوه چي هغه داسي لارورکى دئ چي د هدايت امکان ئي نشته، د مخاطب په اړه داسي پرېکړه ستا د لاري خنډ ګرځي او له دعوت څخه دي لاس اخيستو ته اړباسي، دا پرېکړه الله تعالى ته پرېږده، يقيناً چي ستا رب لارورکي او هدايت کېدونکي ښه پېژني، که الله تعالى د لار ورکو له پېژندو سره سره پيغمبران ورلېږي او د دوى په لاس ئي سمي لاري ته بلي نو ته هم د دوى له دعوت او بلني لاس مه اخله.
- ځيني بې حکمته داعيان دغو الهي لارښوونو ته له پام پرته د دعوت داسي اسلوب غوره کوي چي دين ته د ګټي رسولو پر ځاى تاوان رسوي، د دې پر ځاى چي خلك دين ته راوبلي له دين ئي متنفر کوي، د دې پر ځاى چي کافر د قرآن لوستلو ته وهڅوي او د دين په حقيقت د پوهېدا هڅي ته ئي چمتو کړي هغه له دين سره سختي دښمني ته هڅوي، هر کافر ته د محارب دښمن په سترګه ګوري، ګمان کوي چي د هر کافر په وړاندي شدت، غضب، توندوالى او تريخوالى د ثواب کار دئ او ګواکي الله تعالى او د هغه رسول موږ پر همدې ګمارلي يو!! حال دا چي حقيقت په بشپړه توګه د دې خلاف دئ، برنى آيت ښيي چي په دې اړه الهي لارښوونه څنګه ده، د

اسلام لاربښوونه دا ده چي موږ خپل مخاطبين طبقه بندي کړو، محارب کافر، غير محارب کافر، د محاربو کافرانو زوړ، ووړ، ښځه، راهب، هغه کافر چي زموږ مخاطب دئ او اسلام ته ئي رابلو، هغه کافر چي له فکري پلوه يا د خپلوی له پلوه تر نورو موږ ته رانږدي دئ، هغه کافر چي له موږ سره د جنګېدو اراده نه لري، نه غواړي په هغو جګړو کي برخه واخلي چي د ده قوم زموږ په ضد پيل کړي، د دې ټولو ترمنځ بايد توپير وکړو، له هر يوه سره زموږ چلن بايد له بل توپير ولري. څوك چي له ټولو سره يو شان چلن کوي او ګمان کوي چي اسلام موږ ته د دوی په ضد د تشدد امر کړی؛ سخته اشتباه کوي، د قرآن لاربښوونه دا ده چي د ځينو په اړه به مضبوط دريځ لرو، د دوی په اړه به نه زموږ په تعامل کي نرموالی وي، نه په لهجې کي او نه په پيغامونو کي، د ځينو په اړه به هم زموږ تعامل په نرمښت ولاړ وي او هم زموږ لهجه خوږه او نرمه، هغه ته د ورور، دوست، محترم، د قدر وړ، ملګري، ګران زوی،... خطاب کولی شو، هغه مخاطب کافر ته چي اسلام ته ئي رابلو حتماً بايد له داسي مينه ناکو الفاظو کار واخلو، قرآن فرمايي چي زموږ پيغمبر رحمة للعلمين دئ، دا هسي نوم نه دئ، دا د عالمينو سره د رسول اللهﷺ او د هغه د امت د چلن څرنګوالی موږ ته انځوروي، او لاربښوونه راته کوي چي ستاسو دعوت بايد حکيمانه او مهربانی او رحمت ولاړ وي، د موعظې او پند ښه ولري او ستاسو مجادله بايد په ډېره غوره طريقه او خوږو او مؤدبانه الفاظو سره وي. څوك چي ګمان کوي رسول اللهﷺ نه د کافرانو د سلام ځواب په ښکلو او نرمو الفاظو ورکړی او نه ئي له دوی سره د مخامخېدو په دوران کي سلام ته ورته الفاظ ويلي سخته اشتباه کوي، رسول اللهﷺ په خپل چلن کي هومره خوږ او مهربان وو چي ډېر او حتی سخت سخت دښمنان ئي يوازي په همدې مؤدبانه او محترمانه چلن سره مسلمانان شوي. رسول اللهﷺ چي به کله کوم مجلس ته ننوتو نو اکثراً به ئي درې ځلي سلام ويلو، لومړی سلام له ننوتلو سره سم، بيا ښي او کيڼ لوري ناستو خلکو ته مخ اړول او سلام اچول، د يوه روايت له مخي کافر ته د سلام لفظ کارول صحيح نه دي ګڼل شوي، که دا روايت صحيح ومنو نو يوازي د دغه لفظ له کارولو به ډډه کوو او پر ځای به ئي نور مناسب او ښکلي الفاظ کاروو، دې ته مو هم بايد پام وي چي کله څوك موږ ته ووايي: السلام عليکم، او موږ يوازي دا ورته ووايو: وعليکم، نو دا په خپله هغه ته د سلام د کلمي کارول او د سلامتيا دعاء ګڼل کېږي.

- قرآن موږ ته لاربښوونه کوي چي کله څوك تاسو ته هرکلی وايي، سلام درباندي اچوي، کومه تحيه وايي، نو د ده تر الفاظو غوره الفاظ ورته ووايئ، لږ تر لږه د ده الفاظ وکاروئ:

وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّواْ بِأَحۡسَنَ مِنۡهَآ أَوۡ رُدُّوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَسِيبًا ﴿٨٦﴾

النساء: ٨٦

او که کله په کوم ښه سلام پر تاسو سلام وويل شو، نو يا تر دې غوره سلام ووايئ او يا همغه وروګرځوئ، بې شکه چي الله په هر څه ښه حساب کوونکی دئ.

يعني د سلام، ښه راغلاست او ژوندی دي وې، ځواب به يا تر دې په غوره کلماتو ورکوئ او يا به همدغه کلمات په ځواب کي وايئ، په دې پوه شئ چي الله تعالی حسيب دئ له بنده سره په هر څه کي حساب کوي.

نا مناسبه ئي مه ګڼئ چي دلته هغه قصه ستاسو مخي ته ږدم چي د يوه جاهل مبلغ په اړه ده، د داؤد د اقتدار په دوران کي او هغه مهال چي زه د دولت تر تعقيب لاندي وم، د کابل شمال کي د فرزې ولسوالی په يوې غرنی سيمي کي اوسېدم، د اختر لمانځه لپاره جومات ته ولاړو، خطيب وينا پيل کړه، داسي ناپېرتي، کچه او بې خونده خبري ئي له خولی وتلې چي له بازاري سړي سره هم نه ښايي، داسي د اخلاق او عفت خلاف خبري ئي کولې چي اورېدل ئي ګران وو، دومره ورته بې حوصلې شوم چي بې اختياره مي لاسونه اوچت او دا دعا مي سوکه په ژبه

راغله: اې خدایه! خپل عزيز دين د دغو ذليلو له منگولو وژغوره.

د قرآن لارښووني دا دي چي له محارب دښمن سره د نښتو په دوران کي بايد قاطع او جدي وو، دښمن ته مو عملي ځواب توند، تېز او پرېکنده وي، نه سنگر پرېږدو، نه تېښته وکړو او نه تسليم شو، تر پايه وجنگېږو، په خپله وژل کېدو ته چمتو وو او د دښمن په وژلو صرفه ونه کړو، کله چي له دښمن سره معاهده کوو نو پر خپلو ژمنو به صادقانه عمل کوو او له غدر او خيانت څخه به ډډه کوو، کله چي له دوی سره مجادلې ته اړ کېږو بايد په غوره توگه استدلال وکړو، نه مو تندی تريو وي او نه الفاظ سخت، رکيك، نامناسب او غضبناك، او کله چي هغوی اسلام ته رابلو بايد د يوه زړه سواند او حکيم دعوتگر او واعظ په څېر عمل وکړو، په دې پړاو کي کولی شو ټول ښکلي، زړه راښکونکي او له مهربانۍ ډك الفاظ وکاروو. له هر هغه حرکت او لفظ څخه بايد ډډه وکړو چي د مخاطب حساسيت پاروي. زموږ رؤف او زړه سواند پيغمبر هغه مهال چي د يوه يهودي جنازه ئې مخي ته تېرېده د درناوي يا همدردي ښودلو لپاره ودرېدو، او د هغه چا په ځواب کي چي دا کار ورته عجيب وبرېښېدو او پوښتنه ئې وکړه، وفرمايل: يو انسان دئ!

وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا۟ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِۦ ۖ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّٰبِرِينَ ﴿١٢٦﴾ وَٱصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِى ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿١٢٧﴾ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا۟ وَّٱلَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴿١٢٨﴾

او که تېری درباندي وشو (وځورول شوئ) نو همغسي تېری پرې وکړئ چي پر تاسو شوی، او که صبر وکړئ دا يقيناً صابرانو ته غوره دئ. او صبر وکړه، او صبر دي نه دئ مگر د الله په توفيق سره، او پر دوی مه غمجن کېږه، او له هغو پټو تدبيرونو ئې مه زړه تنگی کېږه چي دوی ئې کوي، يقيناً چي الله له هغو سره مل دئ چي تقوی (ځان ساتنه) ئې وکړه او هغه چي محسنين (احسان کوونکي) دي.

(۱۲۶-۱۲۸)- دا مبارك آيتونه د مخکنی موضوع په اړه مزيد لارښووني زموږ په وړاندي ږدي او يوه داعي ته څو نوري ارزښتناکي سپارښتني کوي:

- که د دعوت او مجادلې په دوران کي د مخاطب له لوري وځورول شوئ، داسي څه ئې درته وويل چي تاسو پرې وځورېږئ، نو يا خو صبر وکړئ، بالمثله ځواب ئې مه ورکوئ، بده خبره ئې وزغمئ، دا کار درته غوره دئ، د نتائجو له پلوه هم او د الله تعالی په خوا کي د ثواب له پلوه هم، او که ځواب ورکوئ نو يوازي بالمثله ځواب ورکړئ، همغه څه ورته ووايئ چي مخاطب درته ويلي، نه تر هغه زيات، دا په هغه صورت کي چي د صبر او زغم ماده مو کمزورې وي، د داسي کمزورۍ په حالت کي د دې رخصت درکړی شوی، خو د عزيمت کار دا دئ چي صبر وکړئ.
- الله تعالی تاسو ته د صبر سپارښتنه کوي، د دعوت په شمول په ټولو چارو کي، خو د صبر دا ښکلي او الله

تعالی ته مقبول صفت د هغه چا په برخه کېږي چي الهي توفيق ئې د لاري مل شي، هر څومره چي انسان الله تعالی ته نږدې او مقرب وي، د الله تعالی پېرزويني ئې په برخه وي، او الله تعالی ئې مل او مرستندوی وي همدومره به صابر او د لوی زغم خاوند وي.

- ستا د دعوت، زړه سوي، شفقت او حکيمانه بلني په وړاندي د مخاطب بد غبرګون، ناسم چلن، تريو تندی، بده وينا او پر جهالت او ناپوهی ولاړ درېځ دي تا غمجن نه کړي، او د دعوت په کار کي ستا شور، شوق او نشاط دي کمزوری او کمرنګی نه کړي.
- د دښمن له پټو تدبيرونو مه زړه تنګی کېږه، داسي نه چي د دوی بد چلن او شيطاني تدبيرونه ستا حوصله کمزورې کړي او داسي کار ته دي وهڅوي چي له بې صبری نشأت کوي، ډاډه اوسه چي الله تعالی به د دوی ټول تدبيرونه شنډوي.
- يقيناً چي الله له هغو سره مل دئ چي تقوی (ځان ساتنه) وکړي، له هغو ناسمو کارونو ډډه وکړي چي په پورتنيو آيتونو کي ورته اشاره وشوه: له بې صبری، زړه تنګی، غمجن کېدو، د دعوت په دوران کي له داسي ناسم چلن چي د حکمت، خوږې موعظې او غوره مجادلې خلاف وي، د تندي او غضبناکي لهجې له کارولو، دلته تقوی په همدې معنی راغلې. او الله تعالی له هغو سره مل دئ چي محسنين (احسان کوونکي) وي: د مخاطب د بد چلن په وړاندي نېك چلن کوي، د بدي وينا ځواب ئې په نېکي وينا سره ورکوي، تريو تندی ئې په ورين تندي ځوابوي.

د سورې وروستی آيت که له يوه پلوه د دې سورې د يوې درېيمي برخي بشکلی تتمه ده، له بله پلوه د سورې له لومړي آيت سره ډېر موزون تړاو لري، په لومړي آيت کي دې ته اشاره شوې چي قريشو جدل پيل کړی، د مجادلې لويه موضوع ئې دا ده چي وايي: هغه عذاب چېري دئ چي ته مو پرې ګواښې؟!! دا آيت د مجادلې په اړه د الهي لارښوونو وروستی آيت دئ او په ترڅ کي ئې مؤمنانو ته اطمئنان ورکړی چي که د مجادلو او مناقشو په دوران کي د (تقوی) او (احسان) لمن کلکه ونيسئ د الله تعالی معيت او تأييد به ترلاسه کړئ.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

الاسراء

د سورې پېژندنه:

دا مباركه سوره دوه مشهور نومونه لري: الاسراء او بني اسرائيل، چي له لومړي او څلورم آيتونو اخيستل شوي، دا دواړه د سورې د مضامينو لپاره عنوان نه بلكي يوازي نومونه دي، يو سل يولس آيتونه لري، د رواياتو له مخي دا سوره د بعثت يولسم كال په پاى يا د دولسم كال په لومړيو كي نازله شوې، كه څه هم ځيني په دې باور دي چي ځيني آيتونه ئې په مدينه كي نازل شوي، ٢٦، ٣٢، ٣٣، ٥٧ او له ٧٣ تر ٨٠ آيتونه مدني بولي، خو جمهور مفسرين ئې كاملاً مكي سوره گڼي، له لومړي آيت پرته چي په بصير پاى ته رسېدلى د نورو ټولو آيتونو فواصل ئې د دوهم او درېيم آيتونو (وكيلاً) او (شكوراً) ته ورته دي.
دا مباركه سوره په داسي آيت پيل شوې چي د رسول اللهﷺ د معراج سفر ئې په لنډه توگه څېړلى، وايي: پاكي ده هغه ذات ته چي يوه شپه ئې خپل بنده له مسجدالحرام تر مسجد الاقصى پوري بوت چي ځيني آيتونه وروښيي، د همدې سورې په شپېتم آيت كي ويل شوي چي دا يوه رؤيا او روحاني سفر وو، د لومړي آيت له الفاظو په وضاحت سره معلومېږي چي په دې روحاني سفر كي رسول اللهﷺ ته د قرآن د ځينو آيتونو حقيقت وربښودل شوى، د قرآن يوه برخه آيتونه د داسي شيانو په اړه دي چي په سترگو نه ليدل كېږي، لكه جنت، دوزخ، آسمانونه، فرشتې، تېر شوي پيغمبران او د هر يوه مقام او منزلت، الله تعالى د دغه روحاني سفر په ترڅ كي رسول اللهﷺ ته هم اوه آسمانونه وښودل، هم فرشتې د جبرائيل عليه السلام په شمول، هم جنت او دوزخ او هم په هر آسمان كي يو پيغمبر، ورپسې آيت ښيي چي رسول اللهﷺ ته آيتونه ښودل داسي دي لكه موسى عليه السلام ته چي الله تعالى د طور په غره كي ليكلى كتاب وركړ، له دوهم آيت تر اتم آيت پوري د موسى عليه السلام د قصې دا برخه راغلې چي الله تعالى ده ته داسي كتاب وركړ چي د بني اسرائيلو لپاره لاربښود وو او دوى ئې توحيد ته رابلل، په دې كتاب كي وړاندوينه شوې وه چي بني اسرائيل به دوه ځلي په ستر فساد لاس پوري كړي او هر ځل به خپله سزا وگوري، د جنگيالي او پياوړي دښمن تر بريدونو لاندي به راشي او هر

څه به ئې تباه شي، د بني اسرائيلو تاريخ شهادت ورکوي چي دا دواړه وړاندويني ترسره شوې، وروسته په نهم آيت کي د قرآن په اړه ويل شوي چي دا قرآن هغه څه ته لارښوونه کوي چي تر ټولو سمه او سيده ده، او هغو مؤمنانو ته زيرى ورکوي چي نېك عملونه کوي، (دا زيرى) چي ستر اجر به ئې په برخه شي. او دا چي هغو ته دردناك عذاب دئ چي پر آخرت ايمان نه راوړي. او دا همغه څه دي چي د موسى عليه السلام په تورات کي ويل شوي وو.

که د دې سورې ټولو آيتونو ته په غور سره ځير شئ نو وبه ګورئ چي په ټولي سورې کي د همدې لومړۍ رکوع مطالب په مشرح او مفصله توګه څېړل شوي، د سورې آخري رکوع هم د موسى عليه السلام او د ده د نهو معجزو او د فرعون د مخالفت يادونه کوي او وروسته قرآن ته راګرځي او د هغه ګڼ شمېر ځانګړتياوي بيانوي، او په دې پاى ته رسي چي:

- ستاينې ټولي الله لره دي.
- زوى او ځاى ناستى نه لري.
- په خپل ملك او واکمنى کي هيڅ شريك نه لري.
- د هيڅ کار په سرته رسولو کي د بل مرستي ته اړ نه دئ.
- په لوى لوى يادولو سره ئې ستر ګڼه.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ﴿١﴾

پاکي ده هغه ذات ته چي يوه شپه ئې خپل بنده له مسجدالحرام (محترم جومات) تر هغه مسجد الاقصی (لري جومات) پوري بوت چي موږ ئې شاو خوا ور برکتي کړې، تر څو ځيني خپل آيتونه وروښيو، يقيناً چي هغه ښه ليدونکی اورېدونکی دئ.

(۱)- د دې مبارك ايت په ارتباط لاندي خبري په پام کي ولرئ:

- ټول علماء په دې متفق دي چي په دې مبارك آيت کي د رسول الله ﷺ د معراج سفر ته اشاره شوې. د معراج دا سفر له مسجد الحرام پيل شوی او په سدرالمنتهی پای ته رسېدلی، له مسجدالحرام تر مسجد الاقصی پوري د اسراء په نامه ياد شوی او له مسجدالاقصی تر سدرة المنتهی پوري د معراج په نامه. په دې آيت کي يوازې يوې برخي (اسراء) ته اشاره شوې، نوري برخي ئې په نورو آيتونو او په رواياتو کي څېړل شوې.
- دا آيت وايي چي دا سفر د شپې له لوري تر سره شوی او موخه ئې دا وه چي الله تعالی غوښتل رسول الله ﷺ ته د خپل قدرت او عظمت ځيني څرگندي نښې او د قرآن د ځينو آيتونو مصداق وروښيي. دا پوښتنه راولاړېږي چي انسان خو په ويښه، د شپې له لوري او په تياره کي هيڅ نه ويني، نو آيا په دې سفر کي د رسول الله ﷺ بشري حالت بدل شوی او داسي حالت ئې په برخه شوی چي د شپې له لوري ئې هم د الله تعالی د قدرت نښې ليدی شوې؟ که ځواب مثبت وي د دې خبري دليل به څه وي؟ آيا دا خبره په قرآن کي راغلې که د رسول الله ﷺ په احاديثو کي؟ که داسي کوم آيت او حديث نه وي، چي نشته؛ نو دا خبره به څنگه منو؟
- انسان د شپې په تياره کي خو په خوب کي داسي ليدل کولی شي چي ډېر ځلي ئې د خوب ليدا تر ويښې ډېره دقيقه، پراخه او تېزه وي، په لنډ وخت کي دومره شيان وگوري چي په ويښه ئې په اوږدې مودې کي نشي ليدی، لکه هغه فيلم چي د يوه کس اوږد عمر په لنډ وخت کي زموږ په وړاندي انځور کړي. نو آيا دا سفر د عالم رؤيا او خوب سفر وو؟ که ځواب مثبت وي نو د دې دليل څه دئ؟ آيا په قرآن او سنت کي داسي دليل مومو چي ښيي دا يوه رؤيا وه او روحاني سفر وو؟ د دې پوښتني ځواب دا دئ چي هو، هم په قرآن کي په ډېر صراحت او وضاحت سره ويل شوي چي دا يوه رؤيا وه، هم په گڼ شمېر رواياتو کي، د همدې سورې په ٦٠ آيت کي داسي راغلي:

وَإِذۡ قُلۡنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا ﴿٦٠﴾

الإسراء:٦٠

او کله چې مو درته وويل: يقيناً چې ستا رب پر دغو خلکو احاطه کړې، او هغه رؤيا (خوب) چې تا ته مو دروښودل؛ هغه مو فقط د خلکو لپاره يوه آزموينه گرځولې، او په قرآن کې (ياده شوې) هغه لعنت شوې ونه او وېرووو ئې، نو (دغو خبرو) يوازې د دوی ستر طغيان لازيات کړ.

د دې سورې له لومړني او شپېتم آيتونو دا خبره ثابتېږي چې دلته د معراج اړوند بحث شوی او په ترڅ کې ئې دا لاربنوونې زموږ مخې ته ايښودل شوې:

- دا سفر په شپه کې ترسره شوی.
- له مسجدالحرام تر مسجد الاقصی پورې بېول شوی.
- د سفر موخه دا وه چې الله تعالی خپل آيتونه وروښيي.
- په دې اړه چې خلکو څه ويلي او دښمنانو کوم تبليغات کړي؛ الله تعالی اورېدلي.
- په دې سفر کې چې پر رسول اللهﷺ څه تېر شوي الله تعالی ليدلي. دا ځکه چې الله تعالی سميع او بصير دئ.
- دا هر څه فقط يوه رؤيا وه چې رسول اللهﷺ ته په خوب کې ښودل شوی.
- خلکو ته دا رؤيا يوه آزموينه وه، ځينو ته ئې منل گران وو، ځينو هغه له ځانه جوړه شوې قصه وگڼله، ځينو د تبليغاتو لپاره وکاروله او ويل به ئې دا دئ دا پيغمبر اوس ادعاء کوي چې په يوه شپه کې تر مسجدالاقصی پورې تللی، د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام امامت ئې کړی، تر اوم آسمان پورې رسېدلی، په هر آسمان کې ئې يو يو پيغمبر ليدلی، جنت او دوزخ ئې په خپلو سترگو ليدلي او... دا رؤيا د دوی لپاره داسې فتنه وه لکه په قرآن کې چې د دوزخيانو په اړه يادونه وشوه چې خوراك به ئې د زقوم هغه تريخ بوټی وي چې د دوزخ په تل کې به راټوکېږي، او کافرانو وويل: آيا د اور په منځ کې هغه هم د دوزخ د تېز اور په منځ کې؛ ونه راشنه کېدی شي؟!! يا د قرآن هغه وينا چې الله تعالی کافران احاطه کړي، داسې څه نشي کولی چې الله تعالی ئې د کولو توان او توفيق ورنه کړي، او يا د قرآن دا وينا چې الله تعالی به داسې څه وکړي چې ستا دښمنان به پرې ووېروي، لکه چې قريشو د قرآن پر دغو خبرو ملنډې وهلې او هغه ئې د منلو وړ نه گڼلې ستا د دغې رؤيا په اړه هم همدا کار کوي!!

- **شپېتم آيت په اصل کې د لومړي آيت شرح او تفسير دئ، ځکه په لومړي آيت کې دا سفر د شپې له لورې ښودل شوی او شپېتم آيت وايي چې دا يوه رؤيا وه، لومړی آيت په سبحان سره پيل شوی او دا لفظ په قرآن کې اکثراً هغه مهال کارول شوی چې الله تعالی ته د کوم عيب منسوبول نفي کوي، قريشو د رسول اللهﷺ دا سفر مهال گڼلی؛ قرآن د دوی په ځواب کې وايي: تاسو د ده رب سم نه دئ پېژندلی چې داسې سفر درته محال برېښي، تاسو الله تعالی ته ضعف او عجز منسوبوئ او الله تعالی له ضعف او ناتوانی منزه دئ. د لومړي آيت په پای کې د الله تعالی دوه صفاتو (سميع او بصير) ته اشاره شوې چې ارتباط ئې د آيت له لومړۍ فقرې سره داسې دئ: په دې اړه چې خلکو څه ويلي الله تعالی اورېدلي، په دې سفر کې چې پر رسول اللهﷺ څه تېر شوي الله تعالی ليدلي. شپېتم آيت همدا مطلب په تفصيل او پوره وضاحت سره بيانوي**

او وايي: دا رؤيا د خلكو لپاره يوه آزموينه وه، ځينو ته ئې منل گران وو، ځينو هغه له ځانه جوړه شوې قصه وگڼله.

• ځوك چې دا سفر يوه رؤيا نه گڼي د قرآن د دې آيت په اړه به څه وايي او څه تأويل به وړاندې كوي؟ متأسفانه ځينو داسې كمزوري تأويلونه كړي چې قطعاً د منلو وړ نه دي. ځينو ويلي چې دلته رؤيا د خوب په معنى نه بلكې په ويښه د څه ښودلو او ليدلو په معنى راغلې!! خو دا په بشپړه توگه غلطه خبره ده، ځوك چې رؤيا له خوب پرته په بله معنى تعبيروي او د ويښې ليدنه ئې گڼي لويه اشتباه حتى د قرآن په اړه جسارت كوي، ځكه قرآن اوه ځله دا كلمه (رءيا) راوړې چې په ټولو كې ئې معنى د خوب رؤيا ده، دا به ډېر جسارت او حتى د قرآن آيتونه د يوه ناسم تصور لپاره تحريفول وي چې ځوك د دې كلمې اصلي معنى پرېږدي او د ويښې رؤيا ئې وگڼي. دا په داسې حال كې چې له ډېرو رواياتو هم معلومېږي چې دا يو خوب وو او د دغو رواياتو په پای كې راغلي چې رسول اللهؐ له خوبه راويښ شو. د بخاري دوه روايتونه همدا خبره كوي. انسان داسې دئ چې په ويښه په تياره كې او د شپې له لوري څه نشي ليدلی خو په خوب كې ئې ليدی شي، كله كله ئې په خوب كې ليدنه دومره دقيقه، جامع او وسيع وي چې د ويښې ليدا ئې ورسره مقايسه كېدی نشي، په خوب كې په داسې اسرارو پوهېدی شي چې په ويښه ورته ممكنه نه وي، د خوب ليدا ډېره سريع وي، په لنډ وخت كې دومره څه ليدلی شي چې په ويښه ئې په اوږدې مودې كې هم نشي ليدلی، هغه خلك چې د رؤيا ليدنې ته په ټيټه سترگه گوري او خاص اهميت نه وركوي په دې خبرې باور كول ورته گران برېښي چې د رسول اللهؐ د معراج سفر د رؤيا سفر وگڼي، خو ځوك چې رؤيا ته د قرآن له مخې گوري هغه پوهېږي چې داسې سفر يوه انسان ته يوازې په رؤيا كې ممكن دئ نه په ويښه. كه دا د ويښې سفر وی نو حتماً به د ورځې له لوري وو، ځكه انسان په ويښه د شپې له لوري او په تياره كې څه نشي ليدلی، كله چې د انسان روح د كالبد په قيد كې وي نو د سترگو لري ليد ئې دومره كمزوری وي چې څو كيلو متره لرې لوی لوی شيان هم نشي ليدی، د نرۍ پردې له شا څه نشي ليدی، له رڼا پرته څه نشي ليدی، د شپې په تياره كې څه نه ويني، خو كله چې د كالبد له قيد او محدودې آزاده شي نو له پرېړو پرېړو حجابونو واوړي، هم د ماضي له پېښو خبرېږي او هم د مستقبل له اسرارو، نه ئې تياره مخه نيولی شي او نه حجابونه، هم د زمان له محدودې ووځي او هم د مكان، د شپې په تياره كې داسې ويني لكه د ورځې په رڼا كې.

• ځيني نور تر دې هم مخكې تللي او ويلي ئې دي چې د الاسراء په سوره كې له ياده شوې رؤيا څخه مراد د حديبيې د سفر اړوند رؤيا ده!! خو يقيناً چې دا خلك ډېره ستره غلطي كوي، دا ځكه چې د الاسراء سوره په مكه كې او د بعثت يولسم كال شاوخوا نازله شوې او د حديبيې پېښه تر دې نږدې اته كاله وروسته وه او اړوند خوب ئې د حديبيې له پېښې لږ د مخه ليدل شوی، او هغه خوب ته د الفتح په سورې كې اشاره شوې. په الاسراء كې ياد شوی خوب د معراج اړوند خوب دئ، دا قطعاً غلطه خبره ده چې دا د حديبيې اړوند خوب گڼي.

• د شپېتم آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دلته داسې يوې رؤيا ته اشاره شوې چې قريشو د هغې په اړه شديد تبليغات پيل كړي، او د رسول اللهؐ دوه خوبونه داسې وو چې دښمنانو د هغوی په اړه شديد تبليغات وكړل: يو د حديبيې د سفر اړوند خوب او بل دغه د معراج اړوند رؤيا، كه دا رؤيا د معراج رؤيا نه وي نو كومه رؤيا ده؟ قريشو د كومې رؤيا په اړه شديد تبليغات كړي؟ له دې آيت پرته بل هغه آيت دې ما ته راوښيي چې وايي د معراج په اړه قريشو تبليغات كړي، په ټول قرآن كې خو له دې پرته بل داسې آيت نه مومو چې د معراج په اړه د قريشو شديد تبليغات ترې معلوم شي. او كه دا رؤيا د معراج اړوند رؤيا وي چې يقيناً د معراج اړوند رؤيا ده نو په كوم جرأت سره به ئې د معراج له رؤيا پرته په بل څه تعبيروو؟!!

• ځيني وايي چې د لومړي آيت په دغې فقرې: (اسرى بعبده ليلا) كې د اسرى معنى همغسې ده لكه موسى عليه السلام ته چې ويل شوي: (اسري بعبادي ليلا)، يعني په دواړو كې جسماني بېول مراد دي نه روحاني او غير جسماني. په دې اړه دوه عرائض لرم: لومړی دا چې يوه ته ئې قرآن رؤيا ويلې موږ به څنگه او ولې هغه ته د جسماني سفر نوم وركوو؟!، دوهم دا چې د الله تعالى په اړه يو فعل په هغې متبادرې معنى نشو اخيستی چې د انسان په اړه ئې اخلو، اسرى د موسى عليه السلام په اړه په دې معنى ده چې بني اسرائيل د شپې له لوري داسې روان كړه چې دوی وړاندې او ته ئې شا ته، خو د الله تعالى په اړه ئې قطعاً په دې معنى نشو اخيستی، دا ځكه

چي موسی علیه السلام او بني اسرائیل په خپلو پښو او پر زمکه روان شوي او یقیناً د رسول اللهﷺ دا سفر داسي نه وو!! نو دا دواړه په هیڅ توګه یو ډول ببول نشو ګڼلی. که موږ د یوه انسان په اړه ووایو انزل الکتاب نو معنی ئي دا ده چي له بره ئي کتاب لاندي په خپل لاس کي راوړ، خو د الله تعالی په اړه انزل الکتاب په دغي متبادري معنی نشو اخیستی، الله تعالی خپل بنده رسول اللهﷺ د شپي له لوري له مسجدالحرام تر مسجدالاقصی او بیا تر سدرة المنتهی پوري ببولی، څنګه ئي ببولی؟!! په کیفیت ئي له الله تعالی پرته بل څوك نه پوهېږي خو دا ببول یقیناً داسي نه وو لکه موسی علیه السلام چي بني اسرائیل ببولي. نو څنګه وو؟ له دې پرته بل څه نشو ویلی چي دا سفر همغسي وو لکه چي قرآن وایي: یوه رؤیا وه!! له دې علاوه؛ هغه روایات به څنګه تعبیروو چي وایي دا یوه رؤیا وه؟!! وایي په داسي حال کي ئي دا خوب لیدلی چي سترګي ئي ویده وې او زړه ئي ویښ او د رؤیا په ډای کي له خوبه راویښ شوی!!

- زه نه پوهېږم چي موږ کوم ضرورت او مجبوریت دې ته اړه کوي چي دا جسماني سفر وګڼو؟ قرآن خو دا خبره نه ده کړې، په هیڅ آیت کي نه دي ویل شوي چي دا جسماني سفر وو، په کوم صحیح او معتبر روایت کي هم دا خبره نه ده شوې، په مقابل کي ئي ګورو چي قرآن دې ته د رؤیا نوم ورکړی، او ګڼ شمېر روایات وایي چي دا یوه رؤیا وه او رسول اللهﷺ په داسي حال کي دا سفر کړی چي سترګي ئي ویده وې او زړه ئي ویښ، یعني دا یوه رؤیا وه. نو ضرورت څه چي دې ته د جسماني سفر نوم ورکړو؟!!
- که تاسو د معراج اړوند روایات په دقت سره له نظره تېر کړئ، نو وبه ګورئ چي په هغوی کي کافي تعارض، ژور توپیرونه او جدي تضاد تر سترګو کېږي، د مثال په توګه په دې اړه ابن عباس **رسول** ته دوه متضاد اقوال منسوب شوي: یو ئي وایي چي ابن عباس دا رؤیا مکي ته د رسول اللهﷺ د ننوتلو اړوند رؤیا بولي او بل ئي وایي چي دا د اسراء اړوند رؤیا ده!! په یوه کي دا رؤیا د خوب په معنی نیول شوې او په بل کي د ویني لیدا!! په دغو متضادو او متعارضو روایاتو کي به هغه غوره کوو چي له قرآن سره اړخ لګوي، قرآن په هیڅ ځای کي رؤیا د ویني لیدا په معنی نه ده راوړې، دا رؤیا په هیڅصورت کي هغه رؤیا نشو ګڼلی چي د حدیبیې په سفر پوري ارتباط لري، دا ځکه چي دغه آیت نږدې اته کاله د حدیبیې تر سفر وړاندي نازل شوی.
- د الاسراء په سوره کي د معراج د سفر په اړه مزید وضاحت نه دئ شوی خو د النجم په سوره کي په دې اړه داسي راغلي:

أَفَتُمَـٰرُونَهُۥ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ ﴿١٢﴾ وَلَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ﴿١٣﴾ عِندَ سِدْرَةِ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴿١٤﴾ عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ ﴿١٥﴾ إِذْ يَغْشَى ٱلسِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ﴿١٦﴾ مَا زَاغَ ٱلْبَصَرُ وَمَا طَغَىٰ ﴿١٧﴾ لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ ءَايَـٰتِ رَبِّهِ ٱلْكُبْرَىٰٓ ﴿١٨﴾

النجم: ۱۲- ۱۸

نو آیا د هغه څه په اړه ورسره شخړه کوئ چي دی ئي ویني؟!! په داسي حال کي چي هغه ئي یو ځل بل هم لیدلی وو، د سدرة المنتهی (وروستی بېري) خوا ته، چي هغي ته څېرمه جنت المأوی (د جنت هستوګنځی) دئ، هغه مهال چي سدرة المنتهی ځانګړي شي پوښلي وه، نه سترګي کاږه لیدل کړي او نه تېروتي، یقیناً د خپل رب ځیني ستر ستر آیتونه ئي ولیدل.

دا آیتونه ښیي چي:

- قریشو د دغې رؤیا له امله له رسول اللهﷺ سره سخته شخړه او مجادله پیل کړې. هغه څه ئې نه منل چې رسول اللهﷺ په دې رؤیا کې لیدلي وو.
- رسول اللهﷺ په دې رؤیا کې جبرئیل علیه السلام په خپلې اصلي بڼه کې لیدلی او دا د ده دوهم ځل لیدل وو.
- دا لیدنه په سدرة المنتهی کې شوې، د سدرة المنتهی له نامه معلومېږي چې دا د آسمانونو پای او انتهاء ده، له دې آخوا نه لوړه شته او نه مخلوق شته، دا داسي وګڼئ لکه چې د یوه جګ غره په ډډه کې د ونو ځنګل وي، دا وني تر هغه ځایه راټوکېدلې وي چې تر هغه لوړ د هوا د سوړوالي او د آکسیجن د کموالي له امله نه بوټي راشنه کېږي او نه ونې، د دې ځنګله د وروستی ونې په یادولو سره همدا مطلب افاده کېږي چې تر دې آخوا نوري ونې نشته، سدرة المنتهی همداسي ده.
- د قرآن د وینا له مخې جنت المأوی هم دلته دئ، نو رسول اللهﷺ هم اوه آسمانونه لیدلي او هم جنت المأوی. رسول اللهﷺ تر دغه ځایه تللی او همدلته ئې دا روحاني سفر پای ته رسېدلی.
- سدرة المنتهی داسي څه پوښلي وه چې د انسان په قاموس کې د هغه د تشریح لپاره الفاظ نشته.
- په دې رؤیا کې ئې د الله تعالی نور ستر ستر آیتونه هم لیدلي.
- د قرآن صریح آیتونه موږ ته لارښوونه کوي چې پیغمبر علیه السلام دوه ځلې جبرئیل علیه السلام په خپلې اصلي څېرې کې لیدلی، یو ځل داسي چې د آسمان افق پرې ډک وو، خو ده ته ډېر (د قاب قوسین په اندازه) ورنږدې شوی او د الله تعالی وحي ئې وررسولې، او بل ځل په سدرة المنتهی کې او د معراج په شپه. هغه روایات او آراء قطعاً بې بنسټه دي چې وایي رسول اللهﷺ په دې سفر کې یا بل وخت الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی.
- د مفسرینو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چې له جنت المأوی نه مراد همغه جنتونه دي چې په آخرت کې به د مؤمنانو په برخه کېږي که هغه جنت چې اوس او تر آخرت مخکې د شهداوو ارواح په کې اوسي، په سلف کې هم ځیني یوه رأیه لري او ځیني بله، قتاده رحمه الله په دوهمې رأیې دئ او ابن عباس **رسول** هم دغه رأیه لري او دا پرې اضافه کوي چې د آخرت جنت به په زمکې کې وي نه په آسمان کې، حسن بصري رحمه الله وایي چې جنت المأوی همغه جنت دئ چې مؤمنان به په آخرت کې ورننوځي.

راشئ وګورو چې د معراج په اړه په روایاتو کې څه راغلي، دې ته مو باید پام وي چې د معراج د څرنګوالي په اړه په امت کې د شدید اختلاف شاهد یو، دا اختلاف له متعارضو روایاتو راولاړ شوی، د معراج په اړه روایات متعدد او تر ډېره حده متعارض دي. یو روایت دا دئ:

عن أمّ هانئ بنت أبي طالب، في مسرى النبيّ صلى الله عليه وسلم ، أنها كانت تقول: ما أُسري برسول الله صلى الله عليه وسلم إلا وهو في بيتي نائم عندي تلك الليلة، فصلى العشاء الآخرة، ثم نام ونمنا، فلما كان قُبيل الفجر، أهبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم فلما صلى الصبح وصلينا معه قال: "يا أمّ هانِئ لَقَدْ صَلَّيْتُ مَعَكُمُ العِشاءَ الآخِرَةَ كَمَا رأيْت بِهَذَا الوَادِي، ثُمَّ جِئْتُ بَيْتَ المَقْدِسِ فَصَلَّيْتُ فِيهِ، ثُمَّ صَلَّيْتُ صَلاةَ الغَدَاةِ مَعَكُمُ الآنَ كَمَا تَرِينَ".

ام هاني صلی وایي چې رسول اللهﷺ د معراج په شپه زما په کور کې وو، د ماخستن لمونځ ئې وکړ، ویده شو، له فجر لږ وړاندې پاڅېد، موږ ئې راپاڅولو، لمونځ ئې وکړ، موږ هم لمونځ ورسره وکړ، بیا ئې وفرمایل: اې ام هاني! لکه چې ودې لیدل د ماخستن لمونځ مې دلته له تاسو سره وکړ، بیا بیت المقدس ته ولاړم او هلته مې لمونځ وکړ بیا مې دا دئ لکه چې ګورئ د سحر لمونځ له تاسو سره وکړ. له دې روایت څو خبرې معلومېږي:

- لمونځونه د معراج تر سفر مخکې فرض شوي وو، ځکه په دې روايت کې د ماخستن او سحر د لمانځه يادونه شوې. او دا ټول هغه روايات ردوي چې وايي: لمونځونه، د رکعتونو تعداد او وختونه ئې د معراج په سفر کې فرض شوي!!
- د معراج روحاني سفر په هغه شپه تر سره شوی چې رسول اللهﷺ د ام هاني صلى په کور کې ويده شوی، په همدې شپه ئې دا خوب ليدلی چې له مسجدالحرامه مسجدالاقصی ته او له هغه ځايه د آسمانونو په لور بېول شوی. په دې توجيه سره هغه تعارض هم له منځه ځي چې آيت وايي د معراج سفر له مسجد الحرام څخه د مسجد الاقصي په لوري وو او ځيني روايات وايي چې دا د رسول اللهﷺ له کور څخه پيل شوی.

د بخاري ځيني روايات وايي چې دا سفر په خوب کې او په داسې حال کې ترسره شوی چې سترګې ئې پټې او زړه ئې ويښ وو، او د سفر په پای کې رسول اللهﷺ له خوبه راويښ شوی، خو له نورو رواياتو ئې داسې معلومېږي چې دا سفر په ويښه کې ترسره شوی!! امام بخاري رحمه الله نه دي ويلي چې کوم روايت ئې تر نورو غوره، دقيق او صحيح دئ، هغه له بېلو بېلو راويانو چې څه اورېدلي په امانت سره ئې رانقل کړي، له دې پرته بله چاره نه لرو چې له دغو متعارضو رواياتو په يو غوره کوو.

د بخاري يو روايت دا دئ:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِﷺ قَالَ " فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِى وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِى، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهُ فِى صَدْرِى ثُمَّ أَطْبَقَهُ، ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِى فَعَرَجَ بِى إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ. قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ. قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِى مُحَمَّدٌﷺ. فَقَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ. فَلَمَّا فَتَحَ عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا، فَإِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ، إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَسَارِهِ بَكَى، فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالاِبْنِ الصَّالِحِ. قُلْتُ لِجِبْرِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا آدَمُ. وَهَذِهِ الأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ، فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ، وَالأَسْوِدَةُ الَّتِى عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ، فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى، حَتَّى عَرَجَ بِى إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ. فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الأَوَّلُ فَفَتَحَ ". قَالَ أَنَسٌ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِى السَّمَوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ- صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ- وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ، غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، وَإِبْرَاهِيمَ فِى السَّمَاءِ السَّادِسَةِ. قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِالنَّبِيِّﷺ بِإِدْرِيسَ قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ. فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ. ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى. ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا عِيسَى. ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالاِبْنِ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُﷺ ". قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِى ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الأَنْصَارِىَّ كَانَا يَقُولاَنِ قَالَ النَّبِيُّﷺ " ثُمَّ عُرِجَ بِى حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوَى أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الأَقْلاَمِ ". قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ النَّبِيُّﷺ " فَفَرَضَ

اللَّهُ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلاَةً، فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى فَقَالَ مَا فَرَضَ اللَّهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ خَمْسِينَ صَلاَةً. قَالَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ. فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى قُلْتُ وَضَعَ شَطْرَهَا. فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ، فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ، فَرَاجَعْتُهُ. فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهْىَ خَمْسُونَ، لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَىَّ. فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ. فَقُلْتُ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي. ثُمَّ انْطَلَقَ بِي حَتَّى انْتَهَى بِى إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى، وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لاَ أَدْرِى مَا هِيَ، ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ، فَإِذَا فِيهَا حَبَايِلُ اللُّؤْلُؤِ، وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ ". (بخاري:٣٤٩)

له انس بن مالک ﷺ نه روایت دئ چي وايي: ابوذر ﷺ به ويل چي رسول اللهﷺ وفرمايل: (په داسي حال کي چي زه په مکه کي وم؛ د کور چت مي پرانيستل شو، جبريل (عليه السلام) راکوز شو، زما سينه ئي پرانيسته، او د زمزم په اوبو ئي ومينځله، بيا ئي د سرو زرو طشت راوړ چي له حکمت او ايمان نه ډک وو او زما په سينه کي ئي تش کړ، بيا ئي سينه راته بنده کړه، بيا ئي له لاسه ونيولم او لومړي آسمان ته ئي وخېژولم، کله چي لومړي آسمان ته ورسېدم، جبريل (عليه السلام) د آسمان خازن (ساتونکي) ته وويل: دروازه پرانېزه، هغه وويل: څوک يي؟ وئي ويل: زه جبريل يم، هغه وويل: آيا بل څوک درسره شته؟ جبريل (عليه السلام) وويل: هو، محمدﷺ راسره دئ. هغه (خازن) وويل: آيا په هغه پسي څوك لېږل شوی (بلل شوی)؟ جبريل (عليه السلام) وويل: هو، او کله چي ئي دروازه پرانيستله نو لومړي آسمان ته پورته شوو، گورو چي يو سړی ناست دئ، ښي اړخ ته ئي سړي دي او کيڼ اړخ ته ئي هم سړي دي، کله چي ښی خوا ته وگوري وخاندي او چي کيڼ اړخ ته وگوري نو وژاړي، ما ته ئي وويل: صالح پيغمبر او صالح زوی ته هرکلی وايم، ما جبريل (عليه السلام) ته وويل: دا څوک دئ؟ هغه وويل: دا آدم (عليه السلام) دئ او دا چي ښي او کيڼ اړخ ته ئي گوري دا ئي د اولاد ارواح دي، هغه چي ښي اړخ ته ئي دي هغوی جنتيان دي او هغه چي کيڼ اړخ ته ئي دي هغوی دوزخيان دي، نو کله چي ښی خوا ته گوري خاندي او چي کيڼی خوا ته گوري ژاړي، بيا ئي دوهم آسمان ته پورته کړم، خازن ته ئي وويل: پرانېزه! دې خازن هم د لومړي خازن په څېر خبره وکړه، بيا ئي دروازه پرانيستله. انس ﷺ وايي چي ابوذر ﷺ وويل: رسول اللهﷺ په آسمانونو کي آدم، ادريس، موسی، عيسی او ابراهيم (عليهم السلام) ليدلي، خو د هغوی ځايونه ئي نشوی تثبيتولی، يوازي دومره ئي په ياد وو چي رسول اللهﷺ په لومړي آسمان کي آدم (عليه السلام) او په شپږم آسمان کي ابراهيم (عليه السلام) وليد. انس ﷺ وايي: کله چي محمدﷺ له جبريل (عليه السلام) سره ادريس (عليه السلام) ته ورسېد، هغه ورته وويل: صالح پيغمبر او صالح ورور ته هرکلی وايم. محمدﷺ وايي: (ما وويل: دا څوک دئ؟) جبريل (عليه السلام) وويل: دا ادريس (عليه السلام) دئ بيا موسی (عليه السلام) ته ورغلم، هغه وويل: صالح نبي او صالح ورور ته هرکلی وايم، ما وويل: (دا څوک دئ؟) جبريل (عليه السلام) وويل: دا موسی (عليه السلام) دئ. بيا عيسی (عليه السلام) ته ورسېدم، هغه وويل: صالح ورور او صالح نبي ته هرکلی وايم. ما وويل: (داڅوک دئ؟) جبريل (عليه السلام) وويل: دا عيسی (عليه السلام) دئ. بيا ابراهيم (عليه السلام) ته ورغلم هغه وويل: صالح نبي او صالح زوی ته هرکلی وايم. ما وويل: (دا څوک دئ؟) جبريل (عليه السلام) وويل: دا ابراهيم (عليه السلام) دئ.

ابن شهاب وايي چې ابن حزم راته ويلي: ابن عباس رسول او ابو حبة انصاري ﷺ به ويل: رسول الله وفرمايل: (بيا لوړ بېولی شوم او هغه آوار ځای ته پورته شوم چې د (ملائکو) د قلمونو آواز مي اورېدو). انس بن مالک ﷺ وايي: رسول الله وفرمايل: (بيا الله تعالی زما پر امت (هره ورځ) پنځوس لمونځونه فرض کړل، زه له همدې حکم سره راوګرځېدم، ترهغه چې موسی (عليه السلام) ته ورسېدم، هغه راته وويل: الله تعالی ستا پر امت څه فرض کړل؟ ما وويل: پنځوس لمونځونه ئي فرض کړل. موسی (عليه السلام) وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ستا امت د دې توان نلري، زه بېرته وروګرځېدم، نو يوه برخه ئي ترې کم کړل، بېرته چې موسی (عليه السلام) ته ورغلم، ورته ومې ويل: الله تعالی يوه برخه ترې ساقطه کړه، موسی (عليه السلام) وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ستا امت د دې توان نلری، زه بېرته وروګرځېدم، الله تعالی ئي يوه برخه راته ساقطه کړه، بيا موسی (عليه السلام) ته ورغلم، هغه راته وويل: بېرته خپل رب ته رجوع وکړه، ستا امت د دې توان او وس نلري، ما بيا الله تعالی ته مراجعه وکړه، هغه راته وفرمايل: دا پنځه دي خو پنځوس شمېرل کېږي، (په شمېر پنځه او ثواب ئي د پنځوسو)، لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ: زما خوا ته وينا بدلېدونکي نه ده، زه بيا موسی (عليه السلام) ته ورغلم هغه راته وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ما وويل: زه له خپل رب نه حياء کوم، بيا جبريل (عليه السلام) روان کړم تر هغه چې (سدرة المنتهی) ته ئي بوتلم، او دا ځای داسي رنګونو پوښلی وو چې توصيف ئي نه شم کولی، بيا جنت ته داخل کړی شوم، په جنت کې د ملغلرو مزي ول او خاوره ئي له مشکو وه).

دا روايت په بخاري کې په دغو شمېرو اوه ځلي نور په تکرار سره راغلی: ١٦٣٦، ٣٣٤٢، ٣٥٧٠، ٤٩٦٤، ٥٦١٠، ٦٥٨١، ٧٥١٧، چې په هغوی کې دا توپيرونه تر سترګو کېږي: دوه روايتونه وايي چې دا عروج په خوب کې وو، په٣٥٧٠ روايت کې راغلي حَتَّى جَاءُوا لَيْلَةً أُخْرَى، فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ، وَالنَّبِيُّ نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلاَ يَنَامُ قَلْبُهُ وَكَذَلِكَ الأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلاَ تَنَامُ قُلُوبُهُمْ، فَتَوَلاَّهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ او په ٧٥١٧ روايت کې راغلي وَاسْتَيْقَظَ وَهُوَ فِي مَسْجِدِ الْحَرَامِ په نورو کې ئې دا برخه نه ده راغلي او پر ځای ئې د دې خلاف دوه خبري شوې: يوه دا چې د مسجد الحرام پر ځای په مکه کې د رسول الله د کور يادونه شوې ګواکي له خپل کور بېول شوی او بل دا چې دا د ويښې بېول وو!!

د احاديثو په نورو کتابونو کې هم په دې اړه ګڼ شمېر روايات راغلي، ټول پنځه ويشت روايات دي، خو تر منځ ئې ډېر توپيرونه او ژور تعارض تر سترګو کېږي، د دغو متعارضو رواياتو له ليدو سره به تاسو ته دغه پوښتني راولاړېږي: آيا معراج په ويښه وو که په خوب کې؟ پر براق که بې له براقه؟ د رسول الله له کور څخه که له مسجدالحرام څخه؟ مستقيماً د آسمان په لور که لومړی بيت المقدس ته او بيا له هغه ځايه آسمان ته؟ آيا لمونځ تر دې د مخه فرض شوی وو که له دې وروسته؟ په آسمانونو کې د رسول الله ليدنه له پيغمبرانو عليهم السلام سره په کوم ترتيب ترسره شوې، په لومړي، دوهم، درېيم، څلورم، پنځم، شپږم او اوم آسمان کې ئې څوک څوک ليدلي؟ په لومړي آسمان کې ئې آدم عليه السلام ليدلی که عيسی عليه السلام؟ ابراهيم عليه السلام ئې په شپږم آسمان کې ليدلی که په اوم کې؟ موسی عليه السلام ئې په اوم کې ليدلی که ابراهيم عليه السلام؟ هارون عليه السلام ئې ليدلی که نه؟ په دغو متعارضو رواياتو کې کوم يو صحيح دئ؟ سدرة المنتهی چېرې ده؟ هلته ئې جبريل عليه السلام ليدلی که الله تعالی؟ الله تعالی ئې په خپلو سترګو ليدلی که نه؟ په هرې مراجعې کې

پنځه پنځه لمونځونه کم شوي که لس لس او که ځيني؟ ځکه د دغو متعارضو رواياتو ځيني يوه خبره کوي او ځيني بله، همدا راز دا پوښتنه به درسره پيدا شي چي د دې معنى څه ده چي هر ځل د الله تعالى په پرېکړې کي بدلون راغلى خو سره له دې ويل شوي: ما يبدل القول لدى؟ آيا دا آيت په قرآن کي په همدې ارتباط راغلى؟ قرآن د معراج په اړه څه وايي؟ آيا په قرآن کي د دې رواياتو لپاره څه شاهد موندلى شو؟ د معراج په اړه د متعارضو رواياتو له منځ نه به يو څنګه انتخابوو؟ کوم يوه ته به په کوم دليل صحيح وايو او بل به يوې خوا ته ږدو؟ دا هغه پوښتني دي چي نه امام بخاري رحمه الله ځواب ورته ويلى، نه ئې د بخاري په رواياتو کي ځواب موندلى شو او نه په نورو رواياتو کي. له دې پرته بله چاره نه لرو چي دا روايات به د قرآن په تله تلو او هغه به ئې صحيح ګڼو چي له قرآن سره تطابق ولري يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري. په دې اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- د قرآن د وينا له مخي د معراج سفر يو روحاني سفر وو نه جسماني سفر، يوه رؤيا وه نه د ويښي ليدا، نو هغه روايات د قرآن له دې وينا سره اړخ نه لګوي چي وايي دا سفر په ويښه ترسره شوى او جسماني سفر وو.
- قرآن وايي چي په دې روحاني سفر کي رسول الله ﷺ ته ستر ستر آيتونه ښودل شوي، جبريل عليه السلام ئې يو ځل بيا په خپلې اصلي بڼي کي ليدلى، سدرة المنتهى ته رسېدلى، په سدرة المنتهى کي ئې جنت المأوى ليدلى، نو رسول الله ﷺ هم اوه آسمانونه ليدلي او هم جنت. هغه روايات صحيح نه دي چي وايي: رسول الله ﷺ دلته الله تعالى په خپلو سترګو ليدلى، دا خبره هم له قرآن سره په بشپړه توګه تعارض لري او هم له ګڼ شمېر هغو رواياتو سره چي وايي: انسان نشي کولى په دنيا کي او په دغو سترګو الله تعالى وګوري، پيغمبر عليه السلام د يو چا په ځواب کي فرمايي چي الله تعالى نور دئ نو څنګه به ليدل کېږي؟! جبريل عليه السلام د رسول الله ﷺ د دې پوښتني چي آيا الله تعالى دي ليدلى؟ په ځواب کي وايي: زما او الله تعالى تر منځ د نور اويا زره حجابونه دي، که لاندني حجاب ته ورنږدې شم وزرونه مي سوزي!! قرآن دلته وايي چي هغه ئې يو ځل مخکي هم ليدلى وو، له دې په صراحت سره معلومېږي چي دا جبريل عليه السلام وو چي تر دې د مخه ئې هم ليدلى وو چي دې ليدني ته د التکوير د سورې په۲۳ آيت کي داسي اشاره شوې: وَلَقَدْ رَءَاهُ بِٱلْأُفُقِ ٱلْمُبِينِ: او بې شکه چي هغه ئې په افق کي په څرګنده توګه ليدلى. دې دوهم ځل ليدني ته په احاديثو کي هم اشاره شوې چي په خپل ځاى کي به ئې وګورئ. عائشه ﵂ وايي: که چا درته وويل: رسول الله ﷺ خپل رب ليدلي نو پوه شه چي هغه دروغ وايي.
- هغه روايات له قرآن سره تعارض لري چي وايي لمونځونه او اوقات ئې د معراج په سفر کي فرض شوي، ځکه چي د الاسراء سوره له ډېرو هغو سورتونو وروسته نازله شوې چي په هغوى کي هم د لمانځه امر راغلى او هم د لمانځه وختونو ته اشاره شوې، خو له دې رواياتو داسي معلومېږي چي ګواکي لمونځونه د معراج په سفر کي فرض شوي!! دا خبره له قرآن سره قطعاً اړخ نه لګوي، په ډېر يقين سره ويلى شو چي د معراج له سفر ډېر وړاندي هم لمونځونه فرض شوي وو او هم ئې اوقات ټاکل شوي وو. د کوثر، المدثر، المزمل، هود، طه، العنکبوت، الانعام، الحجر، الحج، الروم، په سورتونو کي د لمانځه امر شوى، دا سورتونه ټول تر الاسراء وړاندي نازل شوي، د هود په سوره کي داسي راغلي:

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ ۚ إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾: او د ورځي په دواړو خواوو کي او (ورپسي نږدې) د شپې ځيني برخي کي لمونځ کوه، يقيناً چي ښېګڼې بدي له منځه وړي، دا د پند اخستونکو لپاره پند دئ.

د دې آيت له الفاظو داسې معلومېږي چې له (طرفي النهار) څخه مراد د ورځې دواړه خواوې دي، له غرمې مخکې او وروسته برخې ئې، چې په دې سره د ګهيځ، ماسپښين او مازديګر لمونځونو ته اشاره شوې او له (زلفا من الليل) نه مراد د شپې هغه لومړنى برخه مراد ده چې ورځې ته نږدې وي، چې په دې سره د ماښام او ماخستن لمونځونو ته اشاره شوې.

د الاسراء په سوره کې هم د لمانځه او اوقاتو په اړه ئې لاربنوونه شوې او وايي:

أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا ﴿٧٨﴾ وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةٗ لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامٗا مَّحۡمُودٗا ﴿٧٩﴾

الاسراء: ٧٨- ٧٩

په دغو مبارکو آيتونو کې رسول الله ﷺ ته د پنځه وخته فرض لمونځ او د تهجد د لمونځ سپارښتنه شوې، که د الاسراء تر سورې وړاندې په نورو سورتونو کې د لمانځه او د هغه د وختونو هيڅ يادونه نه وى شوې نو ويلى مو شوى چې لمونځ د معراج د روايت له مخې فرض شوى، خو خبره د دې عکس ده، تر معراج ډېر د مخه هم لمونځ فرض شوى وو او هم ئې اوقات ټاکل شوي وو. د ام هاني ﷺ روايت خو ستاسو له نظره تېر شو چې وايي رسول الله ﷺ د معراج په شپه د ماخستن او سحر لمونځونه له موږ سره يو ځاى وکړل، نه پوهېږم څوك چې د لمانځه او د هغه د اوقاتو په اړه ګڼ شمېر داسې آيتونه ګوري چې د معراج تر شپې ډېر کلونه د مخه نازل شوي او د ام هاني ﷺ روايت هم ګوري، هغه څنګه داسې روايات مني چې له قرآن او دغه روايت سره په بشپړه توګه تضاد او تعارض لري؟!!

د بخاري په رواياتو کې دا خبره هم تر سترګو کېږي چې ګواکي رسول الله ﷺ د موسى عليه السلام په سپارښتنه پنځه، يا نه يا څو ځلې بېرته د الله تعالى حضور ته ورغلى او په هر ځل کې د فرض لمونځونو شمېره راکمه شوې خو په پاى کې الله تعالى فرمايلي: ما يبدل القول لدي: زما وينا بدلون نه لري... بايد واضح کړو چې دا د (ق) د سورې د ۲۹ آيت يوه فقره ده، چې د قيامت په ورځ د دوزخيانو تر منځ د شخړې په اړه راغلې او مطلب ئې دا دئ چې د الله تعالى پرېکړې پرېکنده او تغيير نه منونکې دي او هغه پر خپلو بندګانو ظلم نه کوي، هر چا ته به عادلانه سزا ورکوي، دا آيت له يوې خوا د معراج له سفر سره هيڅ تړاو نه لري له بلې خوا د روايت له هغې برخې سره په بشپړه توګه تعارض لري چې وايي الله تعالى د لمانځه په اړه خپله پرېکړه څو څو ځلې بدله کړې ده!!

دا هم بايد واضح کړو چې په رواياتو کې په دې اړه هم شديد تعارض ترسترګو کېږي چې رسول الله ﷺ په هر آسمان کې کوم کوم پيغمبر ليدلى، په دې اړه هغه روايات د اعتبار وړ ګڼلى شو چې له قرآن سره تطابق لري، که د پيغمبرانو عليهم السلام مقام او منزلت ته د قرآن په رڼا کې ځير شو نو ويلى شو چې په دوى کې پنځه پيغمبران عليهم السلام تر ټولو لوړ مقام

لري: محمد علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، موسی علیه السلام، عیسی علیه السلام او نوح علیه السلام، د یوسف علیه السلام او ادریس علیه السلام مقام او منزلت تر دوی رالاندي دئ، نو ویلي شو چي په آسمانونو کي د پیغمبرانو علیهم السلام د لیدو ترتیب به داسي وو چي په لومړي آسمان کي آدم علیه السلام، بیا ادریس، یوسف، نوح، عیسی، موسی او ابراهیم علیهم السلام، هغه روایت دقیق ګڼلی شو چي دا ترتیب په کي مراعات شوی.

نه پوهېږم په هغو خلکو څه شوي چي د قرآن دا صراحتونه له پامه غورځوي، هغو روایاتو ته هم اعتناء نه کوي چي د معراج په اړه ئې وینا قرآن ته ورته ده او یوه رؤیا ئې ګڼي، خو دوی د معراج په اړه داسي څه وایي چي په بشپړه توګه له قرآن او دغو روایاتو سره تعارض لري؟ د دوی مجبوریت څه دئ ؟ ولي دا کار کوي؟ ځیني دا کمزوری عقلي دلیل وړاندي کوي چي که دا یوه رؤیا وی نو مخالفینو به داسي شدید اعتراضات نه کول!! دوی ته وایو: جنابانو! قرآن مکرر وایي چي د رسول اللهؐ د رؤیا په اړه ئې اعتراضات کول، دا خبره هم د الاسراء په سوره کي کوي او هم د النجم په سوره کي، او ته جسارت کوې او وایي: که دا رؤیا وه نو خلکو به اعتراض نه کولو!!

دې ته مو پام وي چي شیعه هم د معراج په اړه ځانته روایات لري، چي هم له قرآن سره تعارض لري، هم له صحیح روایاتو سره او هم له عقل او درایت سره، د دوی د روایاتو څرنګوالی له دې قیاس کولی شئ چي وایي: فاطمه صلی د هغي جنتي مېوې له نطفې څخه پیدا شوې چي رسول اللهؐ ته د معراج په سفر کي جبرئیل علیه السلام ورکړه، هغه څلوېښت ورځي له ځان سره وساتله، په دې مودې کي ئې له خدیجې صلی سره نږدېکت ونه کړ، او په څلوېښتمه شپه ئې دا مېوه وخوړه او بیا ئې له هغې سره نږدېکت وکړ او په همدې سره او همغه شپه د فاطمې صلی نطفه خلق شوه!! دا په داسي حال کي چي د معراج واقعه له هجرت نه یو کال مخکي او هغه مهال شوې چي خدیجه صلی لا څو کاله د مخه وفات شوې وه او فاطمه صلی پېغلتوب ته رسېدلې وه!! دغسي مسخره روایاتو په امت کي د خرافي افکارو او غلطو مذاهبو راولاړېدو ته لار آواره کړې او امت ئې ټوټې ټوټې کړی.

نامناسبه ئې مه ګڼئ که دلته خپله داسي یوه رؤیا ستاسو په وړاندي کېږدم چي د خوب اهمیت او پراخ ابعاد تمثیلوي:

د داؤد د اقتدار په دوران کي او هغه مهال چي زه د رژیم په ضد د یوې نظامي کودتا په تور تر تعقیب لاندي وم او زما د اعدام غیابي پرېکړه شوې وه او زما د نیولو لپاره زما عکسونه په ټول هېواد کي خواره شوي وو، په ارګون کي د یوه ورور قابل صدیقي کور ته ولاړم، څو شپې مي هلته تېري کړې، ده ته یو بل مېلمه هم راغلی وو چي نوم ئې حاجي آدم خان او د زرمت اوسېدونکی وو، ډېر عابد او صالح انسان معلومېدو، ویل ئې چي ما تر نن پوري بې جماعته لمونځ نه دئ کړی، تل الله تعالی د لمانځه په وخت کي په جمعي برابر کړی یم، ما هغه شپه یو خوب ولید، دا خوب مي نږدې دیارلس کاله مکرر لیدلی وو، هر کال څو څو ځلي، په خوب کي یوه داسي زیارت ته ولاړ شم چي د یوې غونډۍ پر سر جوړ شوی، خوا ته ئې جومات دئ، یوه چینه ئې په څنګ کي بهېږي، پر چینې یوه تیاره خونه جوړه شوې چي په منځ کي ئې د دې چینې د اوبو ډنډ دئ، خلك په کي غسل کولی شي، له دې کوټې اوبه بهر راوځي او د څو غسلخانو مخي ته تېرېږي، د زیارت یوې خوا ته باغ دئ، د

توتانو وني لري، لاندي كلي دئ، پټي داسي جوړ شوي لكه چي معمولاً د غرونو په ډډي كي جوړيږي، چي ديوالونه ئي د ډبرو وي، دي زيارت ته په وار وار په خپلو خوبونو كي تللى يم، كله مي هلته غسل كړى، كله مي توتان خوړلي، كله مي د كلي په دكان كي څه اخيستي او ... دغه شپه مي بيا دا خوب وليد، سحر مي قابل صديقي او د ده مېلمه ته وويل چي ما نن شپه داسي خوب ليدلى چي دومره كاله ئي مسلسل ګورم، حاجي آدم خان راته وويل څنګه خوب دئ، ما ورته تېر كړ او د زيارت ټول تفصيلات مي ورته بيان كړل، هغه له خندې پرته او په تأكيد سره وويل: دا خو د روحاني صاحب زيارت دئ، ما هملته تصميم ونيولو چي هلته به ځم او په دې به ځان پوه كوم چي دا دومره كلونه ما دا زيارت د څه لپاره په خوب كي ليدو او په دې خوب كي ما ته څه پيغام مضمر دئ، د زرمت په لوري روان شوم، سفر مي په يوې لارې كي وو، په پوښتنه پوښتنه د روحاني صاحب تر زيارت پوري ورسېدم، په الله تعالى قسم چي ما ټول هغه شيان په زيارت كي په وينه او په خپلو سترګو وليدل چي په وار وار مي په خوب كي ليدلي وو، ثابت شيان خو څه كوئ حتى په اوبو كي مي داسي شى روان وليد چي همغه مي څو كاله وړاندي په خوب كي د اوبو پر سر روان ليدلى وو، تصميم مي ونيو چي څو ورځي دلته پاته كېږم، د جومات په شاتنى كوټي كي مي واړول، له كټملو (خسكو) ډكه وه، خوب ته ئي نه پرېښودم، په دې دوران كي مي د خپلو خوبونو په څېر د چيني خوا ته غسل كړى، د باغ توتان مي خوړلي، د كلي له دوكانه مي سودا اخيستي او ... په دغو ورځو كي د قرآن په تلاوت مشغول وم او غوښتل مي پوه شم چي زما په دغو خوبونو كي څه رمز او سر او څه پيغام پروت وو، له يوې اونى تېرولو وروسته دې نتيجې ته ورسېدم چي په دې خوبونو كي ما ته د تقدير او برخليك په اړه دا ستر درس مضمر وو چي انسان په خپل ژوند كي له داسي پېښو سره مخامخ كېږي چي الله تعالى لادمخه هغه ته ليكلي دي، دغه زيارت ته د راتګ خبر ما ته نږدې ديارلس كاله مخكي راكړ شوى وو، همدا حالت ما ته مقدر شوى وو، دا دئ ورته راغلم او هر څه مي همغسي وموندل چي په خوب كي مي ليدلي وو. له همدې باور او اعتقاد سره له دې ځايه روان شوم او بيا مي هغه خوب نه دئ ليدلى، او يقيناً چي په هغو سختو ورځو كي زه داسي يوې لارښووني ته سخت اړ وم او ډاډه ئي كړم چي له تصادفي پېښو سره نه مخامخ كېږم، همغه څه راته انتظار كوي چي زما رب لا دمخه زما لپاره مقدر كړي دي.

وَءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلۡنَٰهُ هُدًى لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَلَّا تَتَّخِذُواْ مِن دُونِي وَكِيلاً ﴿٢﴾ ذُرِّيَّةَ مَنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٍۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَبۡدًا شَكُورًا ﴿٣﴾

او موسى ته مو هغه كتاب وركړ او هغه مو بني اسرائيلو ته لارښود وګرځاوو، (له دې لارښووني سره) چي له ما پرته هيڅ وكيل مه نيسئ، د هغو اولاد چي له نوح سره مو (په بېړۍ كي) سپاره كړل، يقيناً چي هغه يو شاكر بنده وو.

(٢-٣)- په دې مباركو آيتونو كي لاندي لارښووني شوي:

- موسى عليه السلام ته داسي كتاب وركړ شوى وو چي بني اسرائيلو ته لارښود وو، د دې لارښود كتاب لومړى او اساسي لارښوونه دا وه چي له الله تعالى پرته هيڅ بل وكيل مه نيسئ.
- بني اسرائيل د هغو خلكو اولاد دي چي له نوح عليه السلام سره يو ځاى په كښتى كي ژغورل شوي وو، د دې معنى دا ده چي د بايبل دا ادعاء غلطه ده چي وايي: له نوځ عليه السلام وروسته ټول انسانان د ده له څلورو

زامنو پيدا شوي، ښه زوی ئي د بني اسرائيلو جد دئ او بد زامن ئي د نورو قومونو اجداد!! دا ځکه چي دا آيت وايي: دوی د نوح عليه السلام د ملګرو اولاد دي، نه يوازي د نوح عليه السلام اولاد.

- اې بني اسرائيلو! که تاسو ځان نوح عليه السلام ته منسوبوئ نو هغه خو يقيناً چي د الله تعالى يو شاکر بنده وو، تاسو خو د بغاوت او ناشکرئ لار غوره کړې!!

له مخکني آيت سره د دې آيت په ارتباط پوهېدا لږ غور غواړي، په ظاهر کي داسي معلومېږي چي ګواکي دا دواړه دوو بېلو بېلو قضاياوو ته اشاره کوي او تر منځ ئې کوم تړاو نشته، خو په حقيقت کي دا آيت د ښلي موضوع د څېړني تر څنګ د هغو معترضينو ځواب هم وايي چي د معراج او اسراء په اړه ئې غلط او خصمانه تبليغات کول، دوی ته ويل شوي: آيا موسی عليه السلام ته د هغه ميقات په ترځ کي تورات نه وو ورکړی شوي چي څلوېښت شپې ئې احتوی کړې، او هغه هم داسي کتاب چي په لوحو کي ليکل شوی وو او د بني اسرائيلو لپاره لارښود وو؟!! که يوه پيغمبر ته د ډېرو پر مخ د ليکل شوي کتاب ورکړه منلی شئ نو د رسول الله ﷺ هغه رؤيا ولي نشئ منلی چي په ترځ کي ئې هغه روحاني سفر تر سره شو؟!!

دا کتاب نه يوازي لارښود وو، بلکي د بني اسرائيلو په اړه ئې داسي وړاندويني کړې وې چي تر سره شوې او دا وړاندويني په وروستيو آيتونو کي توضيح شوې دي.

وَقَضَيْنَآ إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ فِى ٱلْكِتَٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِى ٱلْأَرْضِ مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا
كَبِيرًا ﴿٤﴾ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ أُو۟لِى بَأْسٍ شَدِيدٍ
فَجَاسُوا۟ خِلَٰلَ ٱلدِّيَارِ ۚ وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا ﴿٥﴾ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ ٱلْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ
وَأَمْدَدْنَٰكُم بِأَمْوَٰلٍ وَبَنِينَ وَجَعَلْنَٰكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ﴿٦﴾ إِنْ أَحْسَنتُمْ أَحْسَنتُمْ
لِأَنفُسِكُمْ ۖ وَإِنْ أَسَأْتُمْ فَلَهَا ۚ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ ٱلْءَاخِرَةِ لِيَسُۥٓـُٔوا۟ وُجُوهَكُمْ
وَلِيَدْخُلُوا۟ ٱلْمَسْجِدَ كَمَا دَخَلُوهُ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَلِيُتَبِّرُوا۟ مَا عَلَوْا۟ تَتْبِيرًا ﴿٧﴾

په دې کتاب کي مو بني اسرائيلو ته پرېکړه واوروله چي دوه ځلي به په زمکي کي فساد کوئ او ستره لويي او کبر به کوئ، نو کله چي د دوی دواړو لومړی وعده راورسېږي؛ خپل داسي بندګان به درباندي راولېږو چي شديد او پياوړي جنګيالي دي، چي (ستاسو) کورونو ته به ننوځي، او دا يوه ترسره کېدونکې وعده ده. بيا به تاسو ته پر دوی برې درکړو او په مالونو او اولادونو سره به ستاسو مدد وکړو او تاسو به د شمېر له پلوه زيات کړو. که مو ښېګڼه وکړه د خپل ځان لپاره به مو کړې وي او که مو بد وکړل د

ځان لپاره به مو وي، نو كله چې دوهمه وعده راشي (موخه به ئې دا وي چې) ستاسو مخونه سپېره كړي، او مسجد الاقصى ته همغسې ننوځي لكه چې په لومړي ځل ننوتلي ول او هر هغه څه بنه نسكور كړي چې پرې برلاسي شي.

(٤-٧)- په دې مباركو آيتونو كې دا لارښووني ځلېږي:

- موسى عليه السلام ته چې كوم كتاب وركړى شوى وو په هغه كې بني اسرائيلو ته دا الهي پرېكړه اورول شوې وه چې دوه ځلې به په زمكې كې فساد كوئ او ستره لويي او كبر به كوئ، كله چې د دوى دواړو لومړۍ وعده راورسېږي؛ الله تعالى به داسې بندګان دربانديې مسلط كړي چې مضبوط او پياوړي جنګيالي به وي، ستاسو كورونو ته به ننوځي، او دا يوه ترسره كېدونكې وعده ده. دا وړاندوينه ترسره شوه.
- دوهمه وړاندوينه دا وه چې الله تعالى به بيا تاسو ته پر دوى برى دركړي او په مالونو او اولادونو سره به ستاسو مدد وكړي او تاسو به د شمېر له پلوه زيات كړي. كه مو ښېګڼه وكړه د خپل ځان لپاره به مو كړې وي او كه مو بد وكړل د ځان لپاره به مو وي، دا الهي ژمنه هم ترسره شوه.
- كله چې د دوهمې وعدې نېټه راورسېږي، موخه به ئې دا وي چې ستاسو مخونه سپېره كړي او مسجد الاقصى ته همغسې ننوځي لكه چې په لومړي ځل ننوتلي ول او هر هغه څه بنه نسكور كړي چې لوړ وي. دا الهي وړاندوينه هم ترسره شوه، بني اسرائيل له همداسې برخليك سره مخامخ شول.

دلته د دښمنانو په لاس د يهودو دوو سترو سترو او وحشتناكو تباهيو ته اشاره شوې، چې په ترڅ كې ئې دښمن هم د دوى كورونو ته ننوتى او هم ئې معبدونو ته، هر څه ئې له خاورو سره برابر شوي، كورونه ئې، ښارونه ئې، قصرونه ئې، ځلي ئې او معبدونه ئې، دواړه ځله دوى ته د بغاوت سخته سزا وركړى شوې، هر څه ئې د دښمن لاس ته ورغلي، يا د اسيرانو په توګه كله د فارسيانو بابل ته او كله د روميانو تر سلطې لاندې سيمو ته لېږدول شوي، تفصيل ئې په (بايبل د قرآن په رڼا كې) ولولئ. د الله تعالى په كتاب كې د دغو پېښنو وړاندويني شوې وې چې تولې ترسره شوې.

عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يَرْحَمَكُمْ ۚ وَإِنْ عُدتُّمْ عُدْنَا ۘ وَجَعَلْنَا جَهَنَّمَ لِلْكَافِرِينَ حَصِيرًا ﴿٨﴾

ښايي ستاسو رب رحم دربانديې وكړي، او كه بېرته وګرځېدئ موږ هم راګرځو، او دوزخ مو د كافرانو لپاره حصاروونكى (زندان) ګرځولى.

(٨)- كه له مخكنيو بدو عملونو توبه وكړئ نو اميد دئ چې الله تعالى پر تاسو رحم وكړي او له بدو ورځو مو وژغوري، خو كه بېرته د عصيان او بغاوت لوري ته وګرځېدئ الله تعالى به بيا ستاسو د تعذيب پرېكړه كوي، په دنيا كې به له دردناك الهي عذاب سره مخامخ كېږي او په آخرت كې به د دوزخ په هغه زندان كې پرېوځې چې د وتلو ټولې لارې ئې بندې دي، كلك حصار ترې راتاو دئ.

إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ

ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَبِيرٗا ﴿٩﴾ وَأَنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡتَدۡنَا لَهُمۡ
عَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٠﴾

يقيناً چې دا قرآن هغه څه ته لاربنوونه کوي چې تر ټولو سمه او سيده ده، او هغو مؤمنانو ته زېرى ورکوي چې نېك عملونه کوي، (دا زېرى) چې ستر اجر به ئې په برخه شي. او دا چې هغو ته دردناك عذاب دئ چې پر آخرت ايمان نه راوړي.

(۹-۱۰)- په دې مبارك آيت كي د عظيم الشأن قرآن څو ځانګړتياوي بيان شوې:

- هغې سمې او روغې لارې ته لاربنوونه کوي چې تر ټولو غوره ده. د ژوند په هر اړخ کي او د هرې قضيې په اړه داسې لاربنوونه کوي چې تر هغې آخوا د سمې او سيده لاربنوونې تصور نشي کېدی.
- هغو مؤمنانو ته چې نېك عملونه کوي، دا زېرى ورکوي چې په دنيا او آخرت کي به ستر اجر ترلاسه کړي.
- دا حقيقت څرګندوي چې په دنيا او آخرت کي دردناك عذاب هغو ته انتظار کوي چې پر آخرت ايمان نه راوړي.

وَيَدۡعُ ٱلۡإِنسَٰنُ بِٱلشَّرِّ دُعَآءَهُۥ بِٱلۡخَيۡرِۖ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ عَجُولٗا ﴿١١﴾

او انسان د شر په اړه داسې دعاء کوي لکه د خير په اړه ئې دعاء، او انسان ډېر عجول (تلواري) دئ.

(۱۱)- دا مبارك آيت د انسان يوه فطري نقص او عيب ته ګوته نيسي او وايي: انسان عجول دئ، د شر په غوښتلو کي همغسې تلوار کوي لکه د خير او ښېګڼو په غوښتلو کي، که ګوته ئې په درد شي نو غواړي هغه قطع شي چې له درده وژغورل شي، کله د عادي ستونزې او کړاو په وړاندې صبر له لاسه ورکړي او ځان ته به مرګ غواړي. دلته دا وينا د هغو خلکو په ارتباط شوې چې پيغمبر عليه السلام ته به ئې ويل: که دا د الهي عذاب ګواښ حقيقت لري نو ولې ځنډ کوي، ولې تر اوسه نه راغئ؟ دوی ته ويل شوي چې تاسو د يوه عجول انسان په څېر د شر په غوښتلو کي عجله او تلوار کوئ!!

وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ ءَايَتَيۡنِۖ فَمَحَوۡنَآ ءَايَةَ ٱلَّيۡلِ وَجَعَلۡنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ مُبۡصِرَةٗ
لِّتَبۡتَغُواْ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكُمۡ وَلِتَعۡلَمُواْ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلۡحِسَابَۚ وَكُلَّ شَيۡءٖ فَصَّلۡنَٰهُ
تَفۡصِيلٗا ﴿١٢﴾

او شپه او ورځ مو دوه ځرګندي نښي وګرځولې، نو د شپې نښه مو له منځه يووړه او ورځ مو ليد مهال وګرځوله، د دې لپاره چي د خپل رب فضل ولټوئ او د دې لپاره چي د کلونو په شمېر او حساب پوه شئ، او هر څه مو په تفصيل سره بيان کړي.

(۱۲)- د دې مبارک آيت لارښووني دا دي:

- تلوار او عجله مه کوئ، د الله تعالی هر څه د دقيق نظم او محاسبې له مخي په خپل خپل وخت ترسره کېږي، لکه دا شپه او ورځ چي هره يوه ئې په خپل خپل وخت راځي په داسي دقيقه او منظمه توګه چي تاسو د هغې له مخي د کلونو شمېر او حساب معلومولی شئ.
- دلته د شپې په اړه ويل شوي چي د شپې نښه مو محوه کړه خو د ورځي په اړه ويل شوي چي د ورځي نښه مو د هر څه د ليدو او پېژندو وسيله وګرځوله چي په ترڅ کي ئې د خپل رب فضل ولټوئ، د بيان له فحوی معلومېږي چي دلته کفر له شپې سره تشبيه شوی، او ايمان له رڼا او ورځي سره، کافرانو ته ويل شوي چي الله تعالی د رسول الله ﷺ په بعثت سره د کفر تياره شپه پای ته رسوي او د ايمان په رڼا روښانه شوې ورځ راولي، په دې کي تاسو د خپل رب فضل او پېرزوينه ترلاسه کوئ، عجيبه ده چي تاسو د رڼا پر ځای په تياره کي پاته کېدا خوښوئ او د الله تعالی له ستر فضل او پېرزويني ځان محروموئ.
- خو دا خبره لږ دقت او غور ايجابوي چي ولي دلته د (محونا آية الليل) الفاظ راغلي، که محو د نابودي او له منځه تلو په معنی واخلو نو شپه خو له منځه نه ځي، تل د زمکي پر سر وي، له يوې سيمي ئې پېڅي بلي ته ورو ورو خوځېږي، نو يقيناً چي معنی ئې له منځه وړل نه بلکي تياره کول دي، ځکه په ورپسې فقره کي ورځي ته مبصرة ويل شوي نو معنی ئې دا شوه چي شپه مو تياره کړه او ورځ مو ليد مهال، خو دا پوښتنه راولاړېږي چي دلته د ليل پر ځای آية الليل راغلي يعني ويل شوي چي آية الليل مو تياره کړ!! د دې ځواب دا دئ چي د الفاظو په دغه ترکيب کي د قرآن يو ستر علمي اعجاز مضمر دئ، تاسو پوهېږئ چي لمر د ورځي نښه ده او سپوږمۍ د شپې نښه، نو د دې آيت دقيقه معنی دا ده چي الله تعالی د شپې دغه نښه (سپوږمۍ) تياره کړه!! او د ورځي نښه (لمر) ئې د ليدو وسيله وګرځوله، او دا هغه ځلانده حقيقت دئ چي ساينسپوهان په شلمي پېړۍ کي پرې پوه شول او وئې ويل: سپوږمۍ په سر کي د لمر په څېر ځلانده وه او خپله رڼا ئې درلوده خو ورو ورو ئې دا رڼا له لاسه ورکړې او اوسنی حالت ئې غوره کړی.

علي ؓ او عبدالله بن عباس ؓ ته منسوب ګڼ شمېر روايات لرو چي د محونا آية الليل په اړه ئې همدا تفسير وړاندي کړی او ويلي ئې دي چي په سپوږمۍ کي تور تور تپونه د همدې نښه ده، او تاسو پوهېږئ چي د سپوږمۍ دا تور تور تپونه په حقيقت کي هغه ځايونه دي چي د لمر رڼا نه وررسېږي او کوم سيوری پرې غوړېدلی وي، که سپوږمۍ له ځانه رڼا درلودی نو داسي تور تپونه به نه په کي تر سترګو کېدل.

وَكُلَّ إِنسَٰنٍ أَلۡزَمۡنَٰهُ طَٰٓئِرَهُۥ فِي عُنُقِهِۦۖ وَنُخۡرِجُ لَهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ كِتَٰبٗا يَلۡقَىٰهُ مَنشُورًا ﴿١٣﴾ ٱقۡرَأۡ كِتَٰبَكَ كَفَىٰ بِنَفۡسِكَ ٱلۡيَوۡمَ عَلَيۡكَ حَسِيبٗا ﴿١٤﴾

او هر انسان ته مو د ده بختليک د ده په غاړه کي غوټه کړی او د قيامت په ورځ به ئې ده ته د يوه داسي پرانيستي کتاب په توګه راوباسو چي ورسره مخامخ به شي، خپل کتاب دي ولوله، نن ستا خپل نفس پر تا باندي د حسابوونکي په توګه کافي دئ.

(۱۳-۱٤)- دلته هم مخکني عجول انسان ته ویل شوي: د هر چا عملونه لیکل کېږي، د همدې عملونو له مخې ئې برخلیك ټاکل کېږي، بختور او بې بخته د همدې له مخې پېژندل کېږي، هر انسان ته خپل بختلیك د ده په غاړه کې غوټه کېږي، د قیامت په ورځ به ده ته د داسې پرانیستې کتاب په توګه راوایستل شي چې دی به ئې په خپلو سترګو وګوري او ورته وبه ویل شي: خپل کتاب دې ولوله، نن ستا د ملامتولو لپاره بل ګواه، شاهد او محاسب ته ضرورت نشته، ستا خپل نفس پر تا باندې د حسابوونکي په توګه کافي دئ.

مَّنِ ٱهۡتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهۡتَدِي لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَاۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰۗ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّىٰ نَبۡعَثَ رَسُولٗا ﴿١٥﴾

څوك چې په سمه لار ولاړ شي نو د ځان لپاره په سمه لار درومي او څوك چې بې لارې شي نو د ځان په ضرر بې لارې کېږي، او هيڅ پېټي ‌وړونکی د بل پېټی نه پورته کوي، او موږ تر هغه تعذيبوونکي نه يو چې کوم پيغمبر مبعوث کړو.

(۱۵)- دا مبارك آیت موږ ته لارښوونه کوي چې د هر چا د ښه او بد عمل پایله په خپله ده ته ورګرځي، که په ~~سمه لار ولاړ ګټه ئې ده ته رسي او که له سمې لارې منحرف شو تاوان ئې ده ته رسي، الله تعالی یو د بل په ګناه~~ نه نیسي، هر څوك به د قیامت په ورځ د خپلو کړنو پېټی په شا وړي، نه پلار د زوی پېټی سپکولی شي او نه زوی د پلار پېټی، نه نسبي اړیکې څوك ژغورلی شي او نه د چا سپارښتنه او لاس نیوی. دا او دې ته ورته آیتونه او ګڼ شمېر روایات ښیي چې نه د کافر ماشوم د پلار د کفر له کبله دوزخ ته درومي او نه د مؤمن ماشوم د خپل پلار او مور د ایمان له امله جنت ته درومي، ټول ماشومان به جنت ته درومي دا ځکه چې دوی داسې عمل نه دئ کړی چې سزا ئې دوزخ ته تګ وي. په دې مبارك آیت کې چې د مجازات په اړه کومه عادلانه ضابطه او په حق او انصاف ولاړ قانون تر سترګو کېږي چې وایي جرم یو داسې شخصي عمل دئ چې له مجرم پرته هیڅوك نشي پرې مؤاخذه کېدی، دا هغه څه دي چې نړۍ وال اوس د هغه په اهمیت پوه شوي او د نړۍ په ټولو مدني او اساسي قوانینو کې د هغه یادونه کېږي!!!

د دې مبارك آیت بله مهمه لارښوونه دا ده چې الله تعالی تر هغه یوه قوم ته د سزا ورکولو پرېکړه نه کوي چې دوی ته ئې پیغمبر نه وي لېږلی، د پیغمبر له لېږلو وروسته الهي حجت بشپړ کېږي او الله تعالی وروستی پرېکړه کوي او هغه چا ته سزا ورکوي چې له دې وروستي فرصت ګټه وانه خلي او د کفر، شرك او عصیان لار پرې نږدي. د آیت له دې فقرې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې الله تعالی د زماني په هر پړاو او د نړۍ په هر ګوټ کې، هر قوم ته پیغمبر لېږلی او تر هغه ئې کوم قوم ته سزا نه ده ورکړې چې د کوم پیغمبر بلنه او دعوت نه وي وررسېدلی.

دې ته مو پام وي چې په مسلمانانو کې دا یوه اختلافي مسئله ده چې د مؤمنانو او کافرانو ماشومان به جنت ته درومي که دوزخ ته، دوی خو نه ښه عمل کړی او نه بد، او نه پر ایمان مکلف شوي، له بلوغ مخکې د مړینې په حالت کې به ولې دوی مکافات یا مجازات

کېږي؟! د مؤمنانانو د ماشومانو په اړه خو زيات اختلاف نشته، خو په دې اړه اختلاف زيات دئ چې د کافرانو ماشومان به دوزخ ته درومي که به جنت ته او که د جنت او دوزخ تر منځ درېيم ځای ته؟! راشئ په دې اړه رواياتو ته ځير شو او وګورو چې سمه او د قرآن او حديث مطابق عقيده کومه يوه ده. د بخاري دې روايت ته ځير شئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ- رسول- قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ- عَنْ أَوْلاَدِ الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ « اللَّهُ إِذْ خَلَقَهُمْ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ ». (بخاری:۱۳۸۳)

له ابن عباس **رسول** روايت دئ چې وايي: له رسول الله د مشرکينو د اولادونو په اړه پوښتنه وشوه، نو وئې فرمايل: (کله چې الله تعالی هغوی پيدا کول په هغه ښه پوه وو چې دوی به ئې کوونکي وي).

دا روايت چې په بخاري کې له ځينو توپيرونو سره دوه ځلي راغلی، د سند له مخې داسې دئ چې په درېيو طبقو کې يو يو راوي لري، د متن له پلوه له هغو رواياتو سره توپير لري چې په همدې اړه راغلي، له ابوهريره ﷺ هم دې ته ورته روايت راغلی، ځينې روايات وايي چې د مشرکينو اولاد به له دوی سره په دوزخ کې وي، ځينې وايي چې الله تعالی ښه پوهېږي چې دوی به د ژوندي پاته کېدو په صورت کې څه کول يعنې د همدغه الهي علم له مخې به جنت يا دوزخ ته درومي!! ځينې روايات داسې دي چې وايي دوی به په جنت کې وي، هغه محققين چې دغو رواياتو ته ترجيح ورکوي، د پورتني روايت په اړه وايي چې له (اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ) څخه دا نه معلومېږي چې دوی به دوزخ ته ځي. د مقابل لوري په ځواب کې څو دلايل وړاندې کوي:

- د دې مطلب لپاره چې د مشرکينو اولاد به دوزخ ته ځي نه يوازې په قرآن کې کوم شاهد نشو موندلی بلکې د قرآن له ډېرو صريحو لارښوونو سره تعارض لري. په هيڅ آيت کې نه دي راغلي چې د مشرکانو کمعمره اولاد به دوزخ ته ځي. قرآن وايي چې هر چا ته به د هغه د عمل له مخې بدله ورکول کېږي، ليس للانسان ألا ما سعی، ماشوم که ئې والدين مؤمن وي يا کافر داسې عمل ئې نه وي کړی چې د عذاب مستحق وګڼل شي، نو ولې به دوزخ ته ځي؟!
- قرآن فرمايي چې د هر بني آدم (که کافر وي که مسلمان) اولاد له داسې فطري جوړښت سره پيدا کېږي چې پر الله تعالی ايمان ئې په خټه کې اېښودل شوی وي، له دې پلوه د مؤمن او کافر اولاد سره ورته دي، ولې به د مؤمن اولاد جنت ته درومي او د مشرك اولاد دوزخ ته؟!
- رسول الله فرمايلي چې هر ماشوم له روغ فطرت سره دنيا ته راځي، وروسته ئې والدين بې لارې کړي، د روغ فطرت خاوند به ولې دوزخ ته ځي؟!

همداراز په بل روايت کې راغلي:

عن خنساء بنت معاوية بن صريم عن عمتها قالت قلت يا رسول الله من في الجنة قال النبي في الجنة والشهيد في الجنة والمولود في الجنة والوئيد في الجنة. رواه احمد إسناده حسن

خنساء بنت معاويه له خپلې ترور روايت کوي چې وايي: رسول الله ته مې وويل: يا رسول الله! څوك به په جنت کې وي؟ وئې فرمايل: نبي به په جنت کې وي، شهيد به په جنت کې وي، ماشوم به په جنت کې وي، ژوندی ښخه شوې ماشومه به په جنت کې وي.

بل روایت وایي:

عن أنس مرفوعا سألت ربي اللاهين من ذرية البشر أن لا يعذبهم فأعطانيهم. رواه أبو يعلى إسناده حسن.

له انس ﷺ نه مرفوع حدیث دئ چې وایي: رسول اللهﷺ فرمایلي: له خپل رب څخه مي وغوښتل چې د بشر ماشومان تعذیب نه کړي نو دا ئي راپه برخه کړل (زما دا دعاء ئي قبوله کړه).

د یوه بل روایت په ترڅ کې داسې راغلي:

فنهى رسول اللهﷺ، عن قتل الأطفال، ثم قال: « الله أعلم بما كانوا عاملين. معجم الاوسط للطبراني

نو رسول اللهﷺ د ماشومانو له وژلو ممانعت وکړ او وئي فرمایل: الله تعالی په هغه څه ښه پوهېږي چې دوی به ئي کوي.

د دې معنی دا ده چې د مشرکینو ماشومان له دې امله مه وژنئ چې ګواکي دوی به د خپلو پلرونو په څېر مشرك ستر شي، الله تعالی ښه پوهېږي چې دوی به څه کوي، له دې معلومېږي چې د دې وينا موخه د دوی نه وژل دي نه دا چې په دوزخ کي د دوی د پرېوتو وجه او توجیه وي.

په بل روایت کي ویل شوي چې رسول اللهﷺ په خپل خوب کي ابراهیم علیه السلام له بې شمېره ماشومانو سره په جنت کي لیدلی، بیا ئې وفرمایل چې دا د مؤمنانو او کافرانو ماشومان ول.

دغو خبرو ته په پام سره په قاطع توګه ویلی شو چې ټول ماشومان به جنت ته ځي. ډېره عجیبه ده چې څوك د صریح آیتونو په شته والي کي داسي روایات مني چې له قرآن سره په واضح توګه تعارض لري!!! څوك چې په قرآن ایمان لري او هغه د الله تعالی د داسي کتاب په توګه مني چې هر څه ئې په تفصیل سره بیان کړي، هغه باید د هري رأیي او د هر روایت په اړه قرآن ته مراجعه وکړي او یوازي په هغه صورت کي ئې ومني چې له قرآن سره تعارض ونه لري.

وَإِذَآ أَرَدۡنَآ أَن نُّهۡلِكَ قَرۡيَةً أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا فَفَسَقُواْ فِيهَا فَحَقَّ عَلَيۡهَا ٱلۡقَوۡلُ فَدَمَّرۡنَٰهَا تَدۡمِيرٗا ﴿١٦﴾

او کله چې د کوم کلي د تباه کولو اراده وکړو نو مترفینو ته ئې امر وکړو، او هغوی هلته سرغړاوی وکړي، نو د دوی په اړه (د عذاب) وینا محققه شي او په ځانګړې ورانېدو سره ئې وران کړو.

(۱٦)- په دې مبارك آیت كې د باغي ولسونو د هلاكت په اړه د الله تعالی دائمي او نه بدلېدونكی سنت بیان شوی چې تفصیل ئې داسې دئ:

الله تعالی هغه مهال د يوه ملت د تباه كولو اراده كوي چې مترفینو ته ئې د ده اوامر ورسېږي، د پیغمبرانو علیهم السلام او زړه سواندو داعیانو له خوا د حق لوري ته وبلل شي، د بغاوت، كفر او شرك له بدو پایلو ئې ووېروي خو هغوی له فساد، بغاوت او سرغړاوی لاس وانه خلي، مهلت ئې پای ته ورسېږي او په بشپړه توگه جوته شي چې دوی د سزا وړ دي او مزید مهلت وركول بې گټې، په دې توگه د دوی په اړه د عذاب پرېكړه محققه شي، كلی ئې وران او كلیوال ئې هلاك شي.

د دې مبارك آیت له لاربنوونو معلومېږي چې د ملتونو د تباهی اصلي عاملین هغه مترفین، د شتمنیو خاوندان، له سوكالی برخمن او د ناز او نعمت په جامو كې نښتي دي چې د ټولني حاكم سیاسي، اجتماعي او اقتصادي نظام دوی ته بې شمېره او بې حسابه امتیازات وركړي، په ولس كې شرك لړلي عقاید، جهل او خرافات د دوی واكمني تأمین كړي او جاهل عوام ئې د دوی پښو ته غورځولي، دوی د پیغمبرانو او زړه سواندو داعیانو په ضد د مخالف ملاتړلی، په ټولني كې ئې فساد خور كړی او د الهي عذاب د راتلو اسباب ئې رامنځته كړي.

وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِنَ ٱلْقُرُونِ مِنۢ بَعْدِ نُوحٍ ۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرًا ﴿١٧﴾

او له نوح وروسته مو څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) هلاك كړل، او ستا رب د خپلو بندگانو پر گناهونو د باخبر او لیدونكي ذات په توگه كافي دئ.

(۱۷)- آیا تاسو ته هغه ستري ستري تاریخي پېښې كافي نه دي چې په ترڅ كې ئې گڼ شمېر مفسد، ظالم، كافر او مشرك قومونه په سختو سختو الهي عذابونو اخته شوي او د دوی ښارونه نسكور شوي، له نوح علیه السلام وروسته تر نن پوري په تېرو څو پېړیو كې څومره د زر او ځواك خاوندان د فساد او طغیان له كبله هلاك شوي؟!! آیا دا پېښې نه ثابتوي چې دلته د خبیر او بصیر ذات له لوري د مجازات لړۍ روانه ده، د دې عذابونو پرېكړې د هغه رب له لوري شوې چې د خپلو بندگانو پر گناهونو ښه باخبر او د دوی د وضعیت ښه لیدونكي دئ، همغه چا ته ئې سزا وركړې چې د سزا وړ ئې موندلی.

مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُۥ جَهَنَّمَ يَصْلَىٰهَا مَذْمُومًا مَّدْحُورًا ﴿١٨﴾ وَمَنْ أَرَادَ ٱلْـَٔاخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ

فَأُوْلَـٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُم مَّشْكُورًا ﴿١٩﴾ كُلًّا نُّمِدُّ هَـٰٓؤُلَآءِ وَهَـٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ۚ
وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا ﴿٢٠﴾ ٱنظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ
وَلَلْـَٔاخِرَةُ أَكْبَرُ دَرَجَـٰتٍ وَأَكْبَرُ تَفْضِيلًا ﴿٢١﴾

څوك چي عاجله (ژر ترلاسه كېدونكې) غواړي، د دوى هغه چا ته چي اراده مو ورته وشي په دنيا كي هغه څه وركوو چي موږ ئې غواړو، بيا ئې جهنم په برخه كړو، چي د بدګڼل شوي او رټل شوي په توګه به ورننوځي، او چا چي آخرت وغوښت او له هغه سره وړ سعي او هڅه ئې ورته وكړه، په داسي حال كي چي مؤمن وي، نو دوى هغه وګړي دي چي د سعي قدرونه ئې كېږي. هر يوه ته دا (نعمتونه) ورپه برخه كوو، او دا ټول ستا د رب له وركړي څخه دي، او ستا د رب د وركړي مخنيوى نشي كېدى، وګوره چي څنګه مو ځينو ته پر ځينو نورو فضيلت وركړى، او آخرت خو هم د درجو له پلوه ستر دئ او هم د فضيلت له پلوه ستر.

(۱۸-۲۱)- په دې مبارك آيت كي د وركړي او عطاء په اړه د الله تعالى سنت په دې توګه توضيح شوى:

- څوك چي د خپلو هڅو او عملونو بدله يوازي په دنيا كي غواړي، هم او غم ئې دا وي چي بدله ئې ژر او په عاجله توګه په همدې دنيا كي وركړى شي، له نړدې دنيوي اغراضو آخوا بل مقصد او هدف نه لري، نو الله تعالى دا پرېكړه كوي چي د دوى كوم يوه ته څه او څومره په دنيا كي وركړي، داسي نه ده چي دوى به هرو مرو خپلو ټولو موخو ته رسي او ټول اهداف او اغراض به ترلاسه كوي، خو د دغو عجولو او غرضي دنياپالو وروستى تم ځى دوزخ دئ، دغه بيماري به په پاى كي جهنم ورپه برخه كړي، له سپكاوي او ذلت سره به مخامخ شي او دوزخ ته به په داسي حال كي ننوځي چي مذموم (بدګڼل شوى) او مدحور (رټل شوى) به وي.
- څوك چي د اخروي بريا او سعادت په لټه كي وي او دې هدف ته د رسېدو لپاره هغه سعي او هڅه كوي چي په آخرت باندي ايمان او اخروي سعادت او بريا ئې غوښتنه كوي، دا سعي د خپل ايمان په حكم كوي نو الله تعالى به د ده د عملونو او هڅو قدرونه كوي او تر هغه به لازياته غوره بدله وركوي.
- د نعمتونو د وركړې پرېكړه د الله تعالى له لوري كېږي، د الله تعالى د وركړي او عطاء مخه هيڅوك نشي نيولى، هيڅوك نشي كولى د الله تعالى د هغي پرېكړي د تحقق خنډ او مانع شي چي غواړي كوم بنده په كومي پېرزويني او نعمت سره ونازوي.
- لكه چي ګورئ الله تعالى په دنيا كي د خپلو پېرزوينو او نعمتونو له پلوه ځينو ته پر ځينو نورو فضيلت وركړى، په آخرت كي به دا فضيلت لازيات څرګند او پراخ وي، په آخرت كي به د خلكو مقام او مرتبه هم د درجې له پلوه ستر توپيرونه لري او هم به ئې يو پر بل فضيلت ستر توپيرونه لري.

لَّا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَـٰهًا ءَاخَرَ فَتَقْعُدَ مَذْمُومًا مَّخْذُولًا ﴿٢٢﴾

د الله تر څنګ بل څوك معبود مه ګرځوه كه نه نو سپېره ګڼل شوى او يوازي پاته شوى

به شي.

(۲۲)- دا مبارك آيت څواساسي لارښووني لري:

- له الله سره بل معبود ځان ته مه جوړوه، داسي نه چي د ده تر څنګ بل څوك او څه هم ولمانځي، په لمانځني كي سر ورته ټيټ كړي او په دعاء كي لاس ورته اوږد كړي.
- كه بل ته سر ټيټ او لاس اوږد كړې او په دعاء او عبادت كي ئې له الله تعالى سره شريك كړې نو هم به مذموم او كركجن وګڼل شي او هم به مخذول او بې مرستندويه پاته شي، داسي څوك به ونه مومي چي ستا مرسته وكړي شي.

وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنًاۚ إِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ ٱلۡكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوۡ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفّٖ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوۡلٗا كَرِيمٗا ﴿٢٣﴾ وَٱخۡفِضۡ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرٗا ﴿٢٤﴾

او ستا رب پرېكړه كړې چي له ده پرته د هيڅا عبادت مه كوئ او له والدين (مور او پلار) سره ښېګڼه كوئ، كه د دوى يو يا دواړه ستا خوا ته زړښت ته ورسيږي نو اُف هم مه ورته وايه، او مه ئې رټه، او محترمانه وينا ورته كوه. او د پېرزويني او مهربانۍ ټيټ وزر ورته غوړوه او وايه: اې زما ربه! داسي رحم پرې وكړه لكه چي زه ئې په وړكتوب كي (په مهربانۍ سره) وپاللم.

(۲۳-۲٤)- دا مبارك آيت د الله تعالى څو پرېكړي او اوامر زموږ مخي ته ږدي:

- ~~له الله تعالى پرته د هيڅا عبادت مه كوئ.~~
- له مور او پلار سره ښېګڼه كوئ.
- كه د دوى يو يا دواړه ستا خوا ته زړښت ته ورسيږي نو اُف هم مه ورته وايه، كه د دوى له كومي خبري يا كړني په تنګ شوئ نو نه يوازي صبر پرې وكړئ بلكي بايد د اُف لفظ هم ستاسو له خولې ونه وځي.
- په هيڅ كار او وينا ئې مه رټئ، مه ورته وايئ چي ولې دي داسي وكړل يا داسي دي وويل.
- په هر حالت كي بايد دوى ته ستاسو وينا له درناوي او احترام ډكه وي.
- ځان تر دوى لوړ مه ګڼئ، داسي څه مه وايئ چي ښيي ځان تر دوى ستر او مهم ګڼئ، چلن مو بايد داسي وي چي ښيي پر دوى مهربان او زړه سواند يئ او دوى تر ځان لوړ ګڼئ، د پېرزويني او مهربانۍ ټيټ وزر ورته غوړوئ.
- دا دعاء ورته كوئ: اې زما ربه! داسي رحم پرې وكړه لكه چي دوى هغه مهال پر ما مهربان ول چي زه ووړ وم او دوى په مهربانۍ سره پاللم.

رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمۡۚ إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ فَإِنَّهُۥ كَانَ لِلۡأَوَّٰبِينَ غَفُورٗا



ستاسو رب په هغه څه ښه پوه دئ چي ستاسو په زړونو کي دي، که صالح وئ نو يقيناً چي هغه د ورگرځېدونکو (توبه کونکو) لپاره بخښونکی دئ.

(٢٥)- د هر عمل او چلن تر شا چي ستاسو په زړونو کي کومه تلوسه، اراده او نيت دئ، کوم احساس چي تاسو کوم کار ته هڅوي، الله تعالی ښه پرې پوهېږي، که د مور او پلار په اړه ستاسو سلوك سم او عمل او نيت مو د صالح انسان په څېر وي او احياناً د کوم بشري ضعف او کمزورئ له کبله کومه غلطي او اشتباه وکړئ خو ژر متوجه شئ او بېرته سمي لاري ته راوگرځئ، توبه وکړئ او خپله غلطي جبران کړئ نو يقيناً چي الله تعالی د داسي توبه کونکو لپاره بخښونکی دئ.

وَءَاتِ ذَا ٱلۡقُرۡبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلۡمِسۡكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرۡ تَبۡذِيرًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ
ٱلۡمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخۡوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِۖ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورٗا ﴿٢٧﴾

او خپلوانو ته خپل خپل حق ورکړه، او مسکين او مسافر ته هم، او خوشي خوشي لگښتونه مه کوه، يقيناً چي خوشي لگښت کوونکي د شيطان ورونه دي او شيطان د خپل رب په وړاندي ناشکره دئ.

(٢٦-٢٧)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- ستا خپلوان ستا په شتمنيو کي ځانگړي حقوق لري، هر يوه ته خپل خپل حق ورکړه.
- مسکين او مسافر هم ستا په شتمنيو کي ځانگړي حقوق لري، دوی ته هم خپل خپل حق ورکړه.
- خوشي خوشي لگښتونه مه کوه، يقيناً چي خوشي لگښت کوونکي د شيطان ورونه دي، همغه کار کوي چي شيطان ئې کوي او شيطان ئې خوښوي، د دوی عزائم او احساسات شيطانانو ته ورته دي. او شيطان د خپل رب په وړاندي ناشکره دئ. يعني تبذير او د الله تعالی په نعمتونو کي شيطاني تصرف د نعمتونو ناسپاسي ده، د يوه نعمت شکر ادا کول دې ته وايي چي په هغه نعمت کي د منعم د رضا او خوښي مطابق تصرف وشي، په هغه توگه او په هغه لاره ولگول شي چي منعم پرې راضي کېږي. هر هغه تصرف چي د منعم د رضاء خلاف وي د نعمت ناسپاسي ده.

وَإِمَّا تُعۡرِضَنَّ عَنۡهُمُ ٱبۡتِغَآءَ رَحۡمَةٖ مِّن رَّبِّكَ تَرۡجُوهَا فَقُل لَّهُمۡ قَوۡلٗا مَّيۡسُورٗا ﴿٢٨﴾

او که له دوی دي اعراض کاوو (له څه ورکولو دي مخ اړاوو) د خپل رب د يوې پېرزويني په لټه کي چي هيله ئې کوې، نو دوی ته پسته خبره وکړه.

(۲۸)- كه له دغو مستحقينو سره د مرستې لپاره څه درسره نه وو، خو دا تلوسه دې په زړه كې وه چې كاش الله تعالى څه دركړي وى چې له دغو محتاجانو سره دې مرسته كړې وى، نو دوى ته پسته خبره وكړه. داسې چې مأيوس او ناهيلي ولاړ نشي، ورته ووايه: كه مې په لاس كې څه وى نو له تاسو مې نه سپمول او كه كله هم الله تعالى فضل وكړ او څه مې لاس ته راغلل هرو مرو به ستاسو مرسته كوم.

د دې مبارك آيت يو بل تعبير هم كېدى شي او هغه دا چې كه له دغو خپلوانو او محتاجانو دې كومه ستوغه خبره واورېده خو تا د الله تعالى د رحمت او پېرزوينې په طمعه ځواب ورنه كړ، صبر دې وكړ او مخ دې ترې واړاوو نو پسته خبره ورته وكړه.

وَلَا تَجۡعَلۡ يَدَكَ مَغۡلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبۡسُطۡهَا كُلَّ ٱلۡبَسۡطِ فَتَقۡعُدَ مَلُومٗا مَّحۡسُورًا 

مه دې لاسونه تر خپلې غاړې تړلي ساته (له وركړې لاس مه راتموه) او مه ئې په بشپړ پرانستو سره پرانېزه، داسې چې (سبا ته) ملامت وګڼل شې او حسرت درباندې وشي.

(۲۹)- د وركړې او له بل سره د مرستو په دوران كې اعتدال مراعات كړه، مه بخل كوه دومره چې له مستحقينو سره له لازمي او ضروري مرستو هم لاس راتم كړې او مه اسراف كوه، داسې چې له مستحق او غير مستحق سره په خلاص لاس دومره مرستې وكړې چې سبا په خپله د بل مرستې ته اړ شې او هر څوك دې ملامتوي او ستا په حال تأسف كوي.

إِنَّ رَبَّكَ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرَۢا بَصِيرٗا ﴿٣٠﴾

يقيناً ستا رب چې چا ته وغواړي رزق پراخوي او (چا ته چې وغواړي) تنګوي ئې، يقيناً چې هغه د خپلو بندګانو په حال ښه خبر او ښه ليدونكى دئ.

(۳۰)- دا مبارك آيت موږ ته لارښوونه كوي چې بندګانو ته د رزق پراخولو او تنګولو په اړه الله تعالى د خپل جامع او بشپړ علم له مخې پرېكړه كوي، د بندګانو حالت ته په پام سره كله هغه پراخ كړي او كله ئې محدود او تنګ، هغه د خپلو بندګانو په حال ښه خبر او ښه ليدونكى دئ، كله دا مناسب بولي چې د آسمان او ځمكې د بركتونو دروازې د خپلو بندګانو پر مخ پرانېزي او كله دا چې دا دروازې پر دوى نيم بندې كړي، نه آسمان په پراخ زړه خپل نعمتونه پرې ووروي او نه ځمكه په ورين تندي او پراخ لاس هر څه ورته راوټوكوي. تاسو هم د وركړې او له محتاجانو سره د مرستې په دوران كې د پوهې او بصيرت له مخې عمل وكړئ، د لږ او زيات مستحق، د ډېر او كم محتاج تر منځ توپير وكړئ، مه اسراف او تبذير كوئ او مه بخل.

وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَوۡلَٰدَكُمۡ خَشۡيَةَ إِمۡلَٰقٖۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُهُمۡ وَإِيَّاكُمۡۚ إِنَّ قَتۡلَهُمۡ كَانَ خِطۡـٔٗا كَبِيرٗا ﴿٣١﴾ وَلَا تَقۡرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةٗ وَسَآءَ سَبِيلٗا ﴿٣٢﴾ وَلَا تَقۡتُلُواْ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّۗ وَمَن قُتِلَ مَظۡلُومٗا فَقَدۡ جَعَلۡنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلۡطَٰنٗا فَلَا يُسۡرِف فِّي ٱلۡقَتۡلِۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورٗا ﴿٣٣﴾

او خپل زامن د لوږې له وېرې مه وژنئ، موږ دوی ته هم روزي ورکوو او تاسو ته هم، بې شکه چې د دوی وژل لویه ګناه او خطا ده، زنا ته مه نږدې کېږئ چې دا یوه بې حیایي او کرکجنه طریقه ده، او هغه څوك مه وژنئ چې الله ئې وژل حرام کړي مګر په حقه سره، او څوك چې په مظلومیت سره ووژل شو نو موږ د ده خپلوانو ته (د قصاص) واك ورکړی، نو هغه دې په وژلو کې تېری نه کوي، ځکه (د الله له لوري ئې) مرسته شوې،

(۳۱-۳۳)- د دې مبارکو آیتونو لارښووني دا دي:

- خپل زامن د لوږې له وېرې مه وژنئ، الله تعالی هم د دوی د روزي ضامن دئ او هم ستاسو د روزي. څوك چې د لوږې له وېرې خپل ماشومان له پیدا کېدو وروسته یا مخکې وژني، سقط جنین کوي، یا داسې څه کوي چې اولاد ئې په برخه نشي، دوی ټول له دې پلوه سره برابر دي چې په زړونو کې ئې په دې اړه شك دئ چې الله تعالی د خپلو بندګانو د رزق او روزي ضامن دئ، دغه شك ئې له لوږې وېروي او د اولاد وژلو ته ئې چمتو کوي. که په مخکنیو جهل ځپلو او شرك وهلو ټولنو کې بې رحمو او سخت زړو مشرکینو خپل اولاد له پیدایښت وروسته وژل، شرك او جهل دې قساوت او بې رحمۍ ته چمتو کول، د نن زمانې په ظاهر کې متمدنې او په حقیقت کې د جهل، شرك، خرافاتو او مفاسدو په ګنده ډنډ کې تر ستوني غرقې ټولنې همغه پرونی کار کوي، هغوی د لوږې له وېرې خپل ماشومان وژل او دوی کله د اقتصادي مشکلاتو تر نامه لاندې، کله د ښځې د صحت او روغتیا په بهانه او کله د دې لپاره چې ښځه د اولاد په پیدا کولو سره خپل پیغلتوب او ښایست له لاسه ورنه کړي، او په ډېرو نورو بهانو او پلمو سره د اولاد پیدا کېدو مخه نیسي، هغوی له پیدا کېدو وروسته وژل، دوی ئې د مور په رحم کې وژني، هغوی دنیا ته له راتلو وروسته ژوندی ښخول او دوی ئې نه پرېږدي چې د دنیا مخ په سترګو وګوري، نه هغوی دې ته کتل چې الله تعالی د ماشوم له پیدایښت مخکې د ده د مور په تیو کې د داسې شیدو په بڼې کې روزي تعبیه کوي چې د ده ټولو اړتیاوو ته ځواب وایي او د داسې مهرباني او زړه سواندې مور په لاس ئې ده ته رسوي چې د ده لپاره د هر کړاو ګاللو ته چمتو وي او نه دا بې رحمه متمدن انسان دې ته اعتناء کوي چې دا ماشوم د ژوند همغسې حق لري لکه دی چې ئې لري.
- هغه څوك چې خپل اولاد وژني ستره ګناه کوي او لوی خطاکار دئ، دا کار ئې له دې کبله ګناه ده چې د الله تعالی د حکم مخالفت ئې کړی او له دې کبله لویه اشتباه ده چې باعث ئې د الله تعالی په اړه یو غلط باور او یوه غلطه انګېرنه ده.
- زنا ته مه نږدې کېږئ چې دا یوه بې حیایي او کرکجن کار دئ، زنا پلیت او ناپاك عمل دئ، د پاکیزه او قانوني جنسي اړیکو مغایر عمل دئ، د بل پر حق ستر او تر ټولو بد تېری دئ، هغه فطري قانون تر پښو لاندې

کول دي چې د انساني نسل سالمه بقا وړپوري تړلې ده، هر سالم الفطرت انسان له دې کرکه لري چې د ده پر ناموس او عزت تېری وشي او د ژوند همسفر او ملګری ئې خائن او بې وفا وخېژي.

- هغه ژوی مه وژنئ چې الله ئې وژل حرام کړي مګر په حقه سره.
- څوك چې په مظلوميت سره ووژل شي نو الله تعالی د ده خپلوانو ته د قصاص واك او حق ورکړی، د مقتول ورثه دي د قاتل په قصاص کې تېری نه کوي، له اصلي قاتل پرته دي بل څوك په بدل کې نه وژني، د قصاص په اخيستو کې دي له هر هغه کار ډډه کوي چې تېری ګڼل کېږي. د الله تعالی د دې حکم درناوی دي وکړي چې د مقتول ورثه ته ئې د قصاص واك او توان ورکړی.

وَلَا تَقْرَبُواْ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ ۚ وَأَوْفُواْ بِٱلْعَهْدِ ۖ إِنَّ ٱلْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔولًا ﴿٣٤﴾

او د يتيم مال ته مه نږدې کېږئ، مګر په هغه توګه چې ترټولو غوره وي، تر څو خپل پوخوالي ته ورسېږي، او په ژمنو وفا وکړئ، دا ځکه چې د ژمنو خامخا پوښتنه کېږي.

(٣٤)- دا مبارك آيت له يوې خوا د يتيم په اړه سپارښتنه کوي او وايي: د يتيم مال ته مه نږدې کېږئ، مګر په داسې توګه چې ترټولو غوره وي، د يتيم له مال سره احتياط کوئ، تر خپل مال زيات احتياط، داسې تصرف په کې وکړئ چې يتيم ته ئې ګټه ورسېږي، تر هغه ئې مال ورته وساتئ او په ښه او غوره توګه تصرف په کې وکړئ چې دا يتيم د خپل عمر پوخوالي ته ورسېږي او د خپل مال د ساتلو او پاللو جوګه شي. له بلې خوا موږ ته لارښوونه کوي چې په خپلو ژمنو وفا وکړو، دا ځکه چې د ژمنو خامخا پوښتنه کېږي، الله تعالی به حتماً د ژمنو پوښتنه کوي، که څه هم د آيت دوهمه لارښوونه بېله او مستقله لارښوونه برېښي خو په حقيقت کې له لومړنۍ سره ژوره اړيکه لري، دا ځکه چې کله انسان د يتيمانو پالنه او ساتنه په غاړه اخلي، يا د ټولنې د دود دستور مطابق يا د شرعي ضوابطو له مخې د مړو خپلوانو يتيمان ده ته پاتې کېږي نو دا په حقيقت کې له الله تعالی او له دغو يتيمانو سره يوه ژمنه ده، الله تعالی به هرو مرو د دې ژمنې په اړه له ده پوښتنه کوي.

وَأَوْفُواْ ٱلْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُواْ بِٱلْقِسْطَاسِ ٱلْمُسْتَقِيمِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا 

او کله چې څه پيمانه کوئ نو پيمانه بشپړه کړئ او په سمې تلې تلل وکړئ، دا غوره دئ او د پايلې له مخې ډېر ښه.

(٣٥)- دا مبارك آيت موږ ته لارښوونه کوي چې په تلې او پيمانې کې صادق وو او له غدر او خيانت ډډه وکړو، که څه هم پيمانه او تله په حقيقي معنی په تجارتي معاملاتو او پېر پلور کې کارول کېږي، خو په مجازي توګه د انسان د معنوي قضاوتونو په اړه هم کارول کېږي، د چا په اړه دا قضاوت چې دروند يا سپك سړی دئ، درنې يا سپکې خبرې ئې وکړې، تلل او پيمانه کول ګڼل کېږي، نو ويلی شو چې د آيت مفهوم عام دئ او د پېر پلور تر څنګ د انسان ټول قضاوتونه احتوی کوي. په تلې او پيمانې کې صداقت، په سمې او صحيح تلې تلل او له څه

کمولو ډېره کول؛ او په قضاوتونو کي د حقیقت او عدالت مراعات د ستاینې او قدر وړ عمل دئ او پایله ئې ښه او غوره ده.

وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡبَصَرَ وَٱلۡفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَـٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡـُٔولٗا ﴿٣٦﴾

او په هغه څه پسي مه ځه چي پرې نه پوهېږې، دا ځکه چي غوږ، سترګي او زړه داسي دي چي د هر یوه پوښتنه کېږي.

(۳٦)- په دې مبارك آیت کي هم یوه ستره او ځلانده الهي لارښوونه زموږ په وړاندي ځلېږي: موږ ته ویل شوي چي له غور او دقت پرته هیڅ خبره ونه منو، د غوږ دړه د هري خبري اورېدو ته داسي پرانیستې پرې نږدو چي د زړه تل ته مو لار وموميء؛ پرته له دې چي زموږ عقل ئې وڅېړي او د صحت او سموالی پرېکړه ئې وکړي، یوازي هغه مهال باید یوې خبري ته په خپل زړه کي ځای ورکړو چي پرې پوه شوي یو، که د کوم شي په اړه څه اورو نو هغه مهال ئې ومنو چي یا ئې په خپلو سترګو وګورو او یا زموږ عقل او زړه ګواهي ورکړي چي دا خبره رښتیا ده. الله تعالی موږ ته غوږونه، سترګي او زړه د دې لپاره راکړي چي د سم او ناسم په پېژندو کي ترې استفاده وکړو، د قیامت په ورځ پوښتل کېږو چي دا د معرفت او پېژندو استعدادونه مو څنګه کارولي، مهمل او بې استفادې مو پرېښي وو او که مو سمه استفاده ترې کړې وه. الله تعالی به پوښتنه کوي چي ولي مو غلطي خبري ته غوږ کېښود، له تحقیق پرته مو ومنله، عمل مو پرې وکړ او بل ته مو وکړه. هغه خبره ومنه چي په حقانیت ئې پوه شوی یې، له تحقیق وروسته په یوې خبري باور کوه، په پټو سترګو په هري خبري پسي مه دروه.

وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ ٱلۡأَرۡضَ وَلَن تَبۡلُغَ ٱلۡجِبَالَ طُولٗا ﴿٣٧﴾

او په زمکي کي په کبر او نخرو مه دروه، ځکه ته خو نه زمکه سورې کولی شې او نه په خپل لوړوالي کي د غرونو څوکو ته رسېدی شې.

(۳۷)- کبر او لويي مه کوه، ځان تر نورو لوړ مه ګڼه، نورو ته په سپکه سترګه مه ګوره، په زمکي کي په کبر او نخرو مه دروه، ځکه ته خو نه د ځواك او قوت له پلوه دومره ځواکمن یې چي زمکه دي تر پښو لاندي سورې شي او نه د جسامت له پلوه دومره ستر او لوړ چي سر دي د غرونو څوکو ته رسي!! دا مبارك آیت یو کمعقله مغرور او کبرجن انسان ډېر ښکلی انځوروي: داسي به دروميږ لکه چي زمکه ئې له وړلو عاجزه وي، لکه زمکه چي د ده د دروندوالی په وړاندي تاب نشي راوړی، نږدې ده سورې شي، لکه چي سر ئې د لوړو لوړو غرونو له

ځوكو هم اوښتی وي!! پښتانه هم بې عقله مغرور انسان له هغه چرگ سره تشبيه کوي چې د بام پر سر داسې درومي چې ته به وايې وېربږي بام ئې تر پښو لاندې ړنگ نشي!!

كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكۡرُوهٗا ﴿٣٨﴾

د دې هر يوه بدوالی ستا د رب په خوا کې کرکجن دئ.

(۳۸)- ټول هغه کرکجن خويونه او کړنې چې په پورتنيو مبارکو آيتونو کې ورته اشاره وشوه؛ د الله تعالى په وړاندې منفور او د غندلو وړ کارونه دي. الله تعالى هغه خلك نه خوښوي چې په دغو گنده او کرکجنو خويونو اخته وي. هغه کرکجن کارونه دا دي: شرك، د غير الله عبادت، مور او پلار ځورول، تبذير (خوشې لگښتونه)، بخل او اسراف، د اولاد وژنه، زنا، ناحقه قتل، له تحقيق پرته څه منل او عمل پرې کول، کبر او لويي.

ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوۡحَىٰٓ إِلَيۡكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلۡحِكۡمَةِۗ وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلۡقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومٗا مَّدۡحُورًا ﴿٣٩﴾

دا د حکمت هغه برخې دي چې ستا رب درته وحې کړې، او له الله سره بل معبود مه گرځوه که نه نو په دوزخ کې به ملامت شوی او رټل شوی وغورځول شې.

(۳۹)- له (۲۲) تر ((۳۸) آيت پورې چې کومې ستړې ستړې لارښوونې زموږ په وړاندې ايښودل شوې، د قرآن له نظره د پوهې او حکمت اساسي خبرې همدا دي، الله تعالى خپل پيغمبر ته د دغو خبرو لارښوونه کړې، دا همغه څه دي چې رسول الله ﷺ ته ئې وحې شوې. لکه چې گورئ د دې لارښوونو په پيل او پای کې پر توحيد او يوازې د يوه الله په عبادت ترکيز شوی او ويل شوي (وَلَا تَجۡعَلۡ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ: او له الله سره بل معبود مه گرځوه)، د دې خبرې معنی دا ده چې توحيد د حکمت او پوهې اساسي بنسټ دئ او پر ټولو ښېگڼو ئې احتوی کړې، د انسان ټول ښه اخلاق او نېك اعمال له دغې چينې خړوبه کېږي، نه پر وران بنسټ مانۍ جوړېدی شي او نه وچه او خوسا چينه تږی خړوبولی شي.

راشئ د حکمت په اړه د بايبل وينا د قرآن د دغو مبارکو آيتونو په خوا کې کېږدو او وگورو چې د دوی تر منځ توپير څومره ژور او پراخ دئ، د بايبل د امثال کتاب چې د متلونو مجموعه ده، او مواعظ او نصائح د متلونو په ژبه وړاندې کوي، د دې کتاب په مقدمه کې راغلي: د امثال د کتاب دېرې برخې د سليمان، د نړۍ تر ټولو باحکمته انسان، لخوا ليکل شوې، د کتاب اصلي موضوع کولی شو په خلاصه توگه په اووم، اتم او نهم آيتونو کې ومومو چې وايي: د حکمت او پوهې د ترلاسه کولو لپاره لومړی گام له خدای وېره ده، څوك چې حکمت او ادب خوار گڼي احمق دئ، اې ځوانه! د پلار نصيحت واوره او د مور له لارښوونو

مخ مه اړوه، ځکه د دوی خبرې به د ملغلرو په څېر ستا تاج ښايسته کړي... د امثال کتاب ډېرې برخې د حکيمانو او پوهانو د کارونو په اړه بحث کوي او د ناپوهانو له کړو وړو سره ئې مقايسه کوي، لکه دا: ناپوه انسان داسې فکر کوي چې د ده هر کار سم دئ، د چا نصيحت ته ضرورت نه لري، خو پوه انسان د نورو نصيحت ته غوږ نيسي، د امين او چغلګر په هکله وايي: چغلګر انسان چې هر چېرې ولاړ شي د نورو اسرار افشاء کوي او امين انسان اسرار په خپل زړه کې ساتي، ... دا کتاب دوه ډوله انسانان موږ ته معرفي کوي: هغه چې د خپل نفس د ارضاء په لټه کې وي او هغه چې د خدای رضاء لټوي... د دې کتاب په اړه دومره ويلی شو چې د بايبل تر نورو کتابونو ئې ګټه ورې برخې ډېرې دي، خو اهميت ئې ښايي دومره وي لکه د پښتو د متلونو يوه مجموعه!!

خو تاسو د حکمت په اړه د قرآن جامع او زړه راښکونکي لارښوونې هم وليدې او مو ليدل چې قرآن څه ته د (حکمت) نوم ورکړی او کوم کوم کارونه د حکمت کارونه ګڼي؟ د حکمت په اړه د بايبل انګېرنه داسې ده لکه هوا ګزول، لکه د باد په سر مانۍ جوړول، لکه له هغه چا د ښېګڼې او نېکۍ طمعه درلودل چې نه ئې زړه ورته چمتو دئ او نه ذهن، له ښوره زمکې د ښېرازه فصل طمع، څوك چې خدای نه پېژني له هغه دا انتظار درلودل چې له خدای وويرېږي او له ګناه ځان وساتي، بې ځايه توقع ده، بايبل د خدای په اړه واضح تصور نه لري، د قيامت او حساب و کتاب، مکافات او مجازات په اړه واضح خبره نه کوي، د بيا ژوندون د اثبات لپاره هيڅ دليل نه وړاندې کوي، برعکس وايي چې مسيح زموږ د ګناهونو فديه ورکړې، نو د بايبل منونکي ته دا خبره کول چې له خدای وېره د حکمت سرچينه ده، يوه بابېزه خبره ده، خو د بايبل په مقابل کې د قرآن وينا نه يوازې داسې ده چې د انسان له عملي ژوند سره ژور ارتباط لري، انسان ته لارښوونه کوي چې خپل ژوند او له نورو سره خپلې اړيکې څنګه تنظيم کړي، چې هم په دنيا کې له حسرت او ندامت خوندي وي او هم په آخرت کې، بلکې لومړی خدای ورمعرفي کوي، داسې معرفي چې هم د انسان ژور محبت ورسره راپيدا شي او هم ژوره وېره، رحمت ته ئې اميدوار او له مواخذې ئې په وېرې کې، د اثبات لپاره ئې مضبوط دلايل مخې ته ږدي، بياژوندون او مکافات او مجازات ورته ثابتوي، ... له دې وروسته ورته وايي چې څه به کوي او له څه به ځان ساتي.

أَفَأَصْفَاكُمْ رَبُّكُم بِالْبَنِينَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِنَاثًا ۚ إِنَّكُمْ لَتَقُولُونَ قَوْلًا عَظِيمًا 

نو آيا خپل رب (تاسو) په زامنو سره ستايلي يئ او له فرشتو ئې (ځان ته) لونې نيولې دي؟!! يقيناً چې تاسو ستره (غلطه) خبره کوئ!!

(٤٠)- آيا عجيبه نه ده چې تاسو د خپل رب په اړه دا غلطه انګېرنه لرئ چې تاسو ته ئې زامن درکړي او ځان ته ئې د فرشتو په بڼې کې لونې غوره کړې؟!! دا په داسې حال کې چې په خپله د لونو له درلودو کرکه لرئ او ځان

ته ئې پېغور گڼئ!! يقيناً چي په دې كركجني وينا سره د الله تعالى په اړه ستر جسارت كوئ او ستره بده او غلطه وينا په خوله راوړئ، الله تعالى نه اولاد لري او نه ئې فرشتې لوڼې دي.

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لِيَذَّكَّرُواْ وَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا نُفُورٗا ﴿٤١﴾

او يقيناً چي په دې قرآن كي مو د دې لپاره پوره وضاحت وكړ چي پند واخلي خو قرآن دوى ته له كركي پرته بل څه ورزيات نه كړ.

(٤١)- په قرآن كي دوى ته كافي او شافي وضاحتونه وشول، حقايق په وار وار او بېلو بېلو بڼو كي څرگند شول، په دې موخه چي عقل ئې سر ته راشي او پند واخلي، خو د دې پر ځاى چي د قرآن له دغو ځلاندو او پرله پسې څرگندونو پند واخلي، د باطل ملگرتيا پرېږدي او د حق لوري ته مخه كړي؛ په خلاف د دې ئې د حق رڼا ته شا كړه او له حقيقته د تېښتي او كركي لار ئې غوره كړه، نفرت او كركه ئې تر مخكي لازياته شوه!!

قُل لَّوۡ كَانَ مَعَهُۥٓ ءَالِهَةٞ كَمَا يَقُولُونَ إِذٗا لَّٱبۡتَغَوۡاْ إِلَىٰ ذِي ٱلۡعَرۡشِ سَبِيلٗا ﴿٤٢﴾
سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوّٗا كَبِيرٗا ﴿٤٣﴾ تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ
وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۚ إِنَّهُۥ
كَانَ حَلِيمًا غَفُورٗا ﴿٤٤﴾

ووايه: كه له الله سره نور معبودان وى، همغسي چي دوى ئې وايي؛ نو هرومرو به ئې د عرش وال په لور لتيه كوله، پاك والى ئې دئ او له هغه څه ډېر ډېر لوړ دئ چي دوى ئې وايي، اوه آسمانونه او زمكه او څه چي په دوى كي دي؛ ده ته تسبيح وايي، داسي څه نشته چي له ستايني سره د ده په تسبيح لگيا نه وي، خو تاسو ئې په تسبيح نه پوهېږئ، بې شكه چي هغه بخښونكى حليم دئ.

(٤٢-٤٤)- په دې مبارك آيت كي څو ستر ستر مطالب زموږ مخي ته ځلېږي:

- ~~كه داسي چي مشركان ئې وايي له الله تعالى سره نور معبودان هم وى، نو هر يوه به غوښتل چي تر عرش~~ ځان ورسوي، د عرش له اصلي خاوند سره په نزاع لاس پوري كړي او د آسمانونو او زمكي واكمني په خپل لاس كي ونيسي، او يا د جوړ جاړي لار غوره كړي او د عرش واكمني په خپلو منځونو كي سره ووېشي، په دواړو صورتونو كي به هغه نظم او يووالى چي د عالم په ټولو برخو كي تر سترگو كېږي په بشپړه توگه له منځه تلو، په عالم كي دا كامل او بشپړ يو والى، نظم او تنسيق ښيي چي دلته هر څه د يوه ځواكمن، عليم او حكيم ذات تر واك او سلطې لاندي دي، دا عالم گواهي وركوي چي خالق، پالونكى او ساتونكى ئې يو دئ، له دې عيب پاك او منزه دئ چي شريك ولري او له هغه څه ډېر ډېر لوړ دئ چي مشركان ئې الله تعالى ته منسوبوي.

- اوه آسمانونه او زمکه او څه چي په دوی کي دي، د الله تعالى په عبادت لګيا دي، د حال او قال په ژبه د الله تعالى تسبيح وايي، هم هر ليدونکي ته دا ثابتوي چي الله تعالى له هر عيب منزه او د ټولو ستاينو وړ دئ، هم عملاً د الله تعالى اوامرو ته منقاد دي او همغه څه کوي چي الله تعالى پرې ګمارلي او هم په داسي توګه د الله تعالى حمد او تسبيح وايي چي موږ پرې نه پوهېږو.
- دا چي الله تعالى مشرکانو ته د دوی د شرك، الله تعالى ته د شريکانو او لونو منسوبولو او د الله تعالى په اړه کرکجنو ويناوو فوري سزا نه ورکوي، دا ښيي چي الله تعالى بخښونکى حليم دئ.

وَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُورًا ﴿٤٥﴾ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَإِذَا ذَكَرْتَ رَبَّكَ فِى ٱلْقُرْءَانِ وَحْدَهُۥ وَلَّوْا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِمْ نُفُورًا ﴿٤٦﴾

او کله چي قرآن لولې ستا او د هغو خلکو تر منځ پټوونکې پرده رامنځته کوو چي پر آخرت ايمان نه راوړي. او پر زړونو ئې داسي غلاف جوړوو چي پرې پوه نشي او غوږونو کي ئې درونډوالى، او کله چي په قرآن کي خپل رب په يووالي سره ياد کړې نو هغوی له کرکي سره په شا واوړي.

(٤٥-٤٦)- دا مبارك آيتونه په پرېکنده توګه وايي چي پر آخرت د عدم ايمان پايله او نتيجه دا ده چي د انسان زړه د حقيقت له درك او پېژندو عاجز شي او منل ئې ورته ګران، د زړه دره ئې د حق په وړاندي وتړل شي، پر حقيقت ايمان د ده زړه ته لار نه مومي، د ده او هغه داعي تر منځ پربړ پربړ حجابونه رامنځته شي چي دی د حق لوري ته بلي، غوږونه ئې درانه شي او هغه حساسيت له لاسه ورکړي چي د حق په اورېدو سره څك شي او زړه ته د باور کولو او منلو پيغام ولېږي، کار ئې هغه پړاو ته ورسېږي چي نه يوازي د قرآن په څېر جذاب، اغېزناك او زړه راښکونکي کلام په وړاندي ئې نه زړه درېږي، نه ئې غوږونه څك کېږي او نه ئې ضمير او وجدان ويښېږي، بلکي د الله تعالى د نامه په وړاندي حساسيت ښيي او کله چي هغه په يووالي سره ياد شي نو دا تور زړی او مړضميره انسان په داسي حال کي مخ اړوي چي زړه ئې له کرکي ډك وي.

نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَسْتَمِعُونَ بِهِۦٓ إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ وَإِذْ هُمْ نَجْوَىٰٓ إِذْ يَقُولُ ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٤٧﴾ ٱنظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا۟ لَكَ ٱلْأَمْثَالَ فَضَلُّوا۟ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ﴿٤٨﴾

موږ په هغه څه ښه پوه يو چي دوی هغه مهال پرې اورېدا کوي چي تا ته غوږ نيسي، او هغه مهال چي دوی نجوی کوي، هغه وخت چي دا ظالمان وايي: تاسو فقط د يوه

مسحور (جادو وهلي) سړي متابعت کوئ، وګوره چي څنګه مثالونه درته بيانوي! نو په همدې سره تېروتي، او هيڅ لار نه مومي.

(٤٧-٤٨)- دا آيتونه د معاندينو او د آخرت د منکرينو هغه روحي حالت او کيفيت انځوروي چي د رسول الله د دعوت اورېدو پر مهال او په خپلو منځونو کي د پټو غونډو په وخت کي به ئې درلود، په مخکني آيت کي د رسول الله په مجلس کي، د قرآن د اورېدو او توحيد ته د بلني په وخت کي د دوی روحي کيفيت توضيح شو، چي د زړونو دړي به ئې تړلي وې، غوږونه به ئې درانه او د دوی او رسول الله تر منځ به پرېړ پرېړ حجابونه ول، شرك او پر آخرت عدم ايمان دا حجابونه رامنځته کړي ول، د دوی زړونه ئې مړه او غوږونه ئې درانه کړي ول، خو په خپلو پټو غونډو کي بيا د دوی حالت داسي وو چي د مؤمنانو په اړه به ئې ويل: تاسو له دې پرته بل څه نه کوئ چي د يوه جادو وهلي سړي متابعت کوئ!! الله تعالی ښه پوه دئ چي د قرآن اورېدو پر مهال د دوی روحي کيفيت څنګه وي او په پټو غونډو کي د دوی قضاوت څنګه.

- د دوی دغه حالت، دا غلط قضاوتونه او د حقيقت خلاف تبصرې او خيالات د دې باعث شوي چي تېروتنه وکړي او سمه لار ونشي موندلی.

وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا عِظَٰمٗا وَرُفَٰتًا أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ خَلۡقٗا جَدِيدٗا ﴿٤٩﴾ قُلۡ كُونُواْ حِجَارَةً أَوۡ حَدِيدًا ﴿٥٠﴾ أَوۡ خَلۡقٗا مِّمَّا يَكۡبُرُ فِي صُدُورِكُمۡۚ فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَاۖ قُلِ ٱلَّذِي فَطَرَكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖۚ فَسَيُنۡغِضُونَ إِلَيۡكَ رُءُوسَهُمۡ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هُوَۖ قُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ قَرِيبٗا ﴿٥١﴾ يَوۡمَ يَدۡعُوكُمۡ فَتَسۡتَجِيبُونَ بِحَمۡدِهِۦ وَتَظُنُّونَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٥٢﴾

او وئې ويل: کله چي موږ هډوکي شو او وراسته شو، آيا موږ به بيا په يوه نوي خلقت او پيدايښت کي راپاڅېدونکي يو؟ ورته ووايه! تيږي شئ يا اوسپنه او يا بل داسي څه چي ستاسو په سينو کي درته ستر برېښي، ژر ده چي وبه وايي: څوك مو بېرته راپيدا کوي؟ ورته ووايه! هغه ذات چي د لومړي ځل لپاره ئې تاسو راپيدا کړئ، خو ډېر ژر ده چي دوی به خپل سرونه تاته خوځوي او وايي به: دا "دوهم ځلي پيدايښت" به کله وي؟ ورته ووايه: ښايي نږدې وي. هغه ورځ چي تاسو به وربلي، نو د ده له ستايني سره به د منني ځواب ورکوئ او ګمان به کوئ چي يوازي لنده موده ځنډېدلي يئ.

(٤٩-٥٢)- ګورئ چي دوی د بيا ژوندون په اړه څو پوښتني او اعتراضات لري: کله چي زموږ غوښي توی شي، په هډوکو بدل شو، د بدن ټول اجزا مو وراسته شي، بيا به څنګه په يوه نوي هيئت او جوړښت کي راژوندي

کېږو؟ دا خبره ورته محال برېښي چي انسان دي په ورستو هډوکو بدل شي او هر څه دي تجزيه شي، بيا دي بېرته راژوندی شي!! په ځواب کي ورته ويل شوي: تاسو خو د هغو سننو او ضوابطو مطابق مرئ چي الله تعالی وضع کړي، د همدې ضوابطو په حکم په هډوکو، ورستو اجزاوو او خاورو بدلېږئ او له همدې خاورې پيدا شوي يئ، ولي له دغي خاوري بيا راپيدا کېدل درته محال برېښي؟!! آيا اوس مو له همدې خاوري نه پيدا کوي؟ آيا نه گورئ چي د همدې خاوري اجزاء په دانې او مېوی بدلېږي او له هغه څخه د انسان نطفه جوړېږي. تاسو خو له مرگه وروسته نه په اوسپنه بدلېږئ او نه په بل داسي څه چي له هغه څخه د انسان پيدايښت محال او ناممکن وي!! په دې قاطع او روښانه دليل ئې سر نه خلاصيږي؛ بيا هم پوښتنه کوي چي څوك به مو بيا راژوندي کوي؟ اوس خو له ميندو پيدا کېږو، د قيامت په ورځ به څنگه او له څه پيدا کېږو؟ د دوی په ځواب کي ويل شوي: کوم ذات چي تاسو د لومړي ځل لپاره له خاوري پيدا کړئ، هغه به مو بيا راپيدا کوي. ولي له مور او پلار پرته او مخامخ له خاوري بيا پيدايښت درته محال او گران برېښي؟!! دوی به د دې روښانه او قانع کوونکي دليل له اورېدو وروسته بيا هم خپل سرونه د انکار په توگه خوځوي او وايي به: دا "دوهم ځلي پيدايښت" به کله وي؟ ولي تر اوسه نه دئ راغلی او تر ننه مو داسي څوك نه دئ ليدلی چي بيا راژوندی شوی وي؟ د دوی په ځواب کي رسول الله ﷺ ته ويل شوي: ورته ووايه: ښايي نږدې وي، هغه ورځ به ژر راشي چي الله تعالی به مو وربلي، نو په داسي حال کي به د ده بلنه منئ چي ستاينه به ئې کوئ او گمان به کوئ چي يوازي لنډه موده ځنډېدلي يئ. که نن دا موده درته ډېر اوږده ښکاري هغه ورځ به ئې ډېره لنډه گڼئ.

وَقُل لِّعِبَادِى يَقُولُواْ ٱلَّتِى هِىَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ يَنزَغُ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلۡإِنسَٰنِ عَدُوّٗا مُّبِينٗا ﴿٥٣﴾

او زما بندگانو ته ووايه: هغه څه ووايي چي تر ټولو غوره وي، يقيناً چي شيطان د دوی تر منځ د شخړو باعث وسوسې راولاړوي، يقيناً چي شيطان د انسان څرگند دښمن دئ.

(٥٣)- په دې مبارك آيت کي مؤمنانو ته لارښوونه شوې چي له خپل او پردي، دوست او دښمن، مخاطب او مجادل سره ئې خبري او وينا په غوره توگه وي او ښکلي الفاظ وکاروي، له بدي وينا، غلطو خبرو، پاروونکو الفاظو او ستغو او سپورو الفاظو ډډه وکړي، داسي الفاظ ونه کاروي چي شيطان ئې خوښوي او شيطان ترې استفاده کوي او ستاسو او مخاطبينو تر منځ منازعات او شخړي راولاړوي، شيطان ستاسو څرگند دښمن دئ، په کمين کي درته ناست دئ، له يوې خوا تاسو پاروي چي تندی ترېو کړئ او له کرکي او غصې ډك الفاظ وکاروئ او له بلي خوا ستا مخاطب هڅوي چي په خپل نامناسب او ناښايسته چلن سره تا بې صبره کړي او په دې توگه ستاسو تر منځ تريخوالی او دښمني راولاړه کړي.

رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ بِكُمۡۖ إِن يَشَأۡ يَرۡحَمۡكُمۡ أَوۡ إِن يَشَأۡ يُعَذِّبۡكُمۡۚ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ عَلَيۡهِمۡ

وَكِيلاً ﴿٥٤﴾

ستاسو رب ډېر ښه درباندي پوه دئ، که وغواړي پېرزوينه به درباندي وکړي او که وغواړي په عذاب به مو اخته کړي، او ته مو پر دوی وکيل او ذمه وال نه يې لېږلی.

(٥٤)- دا مبارك آيت هم د مخکني موضوع اړوند پوه بله لارښوونه کوي او د الله د لارې دعوتگرانو ته دا سپارښتنه کوي چې د مخاطب په اړه دا پرېکړه مه کوه چې د الله تعالی د رحمت وړ دئ که د عذاب، د ايمان راوړو امکان ئې شته که نه، الله تعالی به خپل رحمت ورپه برخه کړي او د ايمان راوړو سعادت به ئې په نصيب شي که نه، دا ستا کار نه دئ، کېدی شي هغه څوك د الله تعالی د پېرزوينې او رحمت وړ وګرځي چې ته ترې مأيوس يې او د همدې يأس له کبله تونډ او تريخ چلن ورسره کوې!! د هيڅ مخاطب له هدايته مه مأيوس کېږه، د هيڅ مخاطب په اړه دا پرېکړه مه کوه چې هغه داسې د الله تعالی له رحمته محروم دئ چې د هدايت امکان ئې نشته، د مخاطب په اړه داسې پرېکړه ستا د لارې خنډ ګرځي او له دعوت څخه دې لاس اخيستو ته اړباسي، دا پرېکړه الله تعالی ته پرېږده، يقيناً چې ستا رب د ټولو په حال ښه پوه دئ، د رحمت او نقمت پرېکړه الله تعالی په خپله کوي، که وغواړي پېرزوينه به درباندي وکړي او که وغواړي په عذاب به مو اخته کړي، ته د نورو وکيل او ذمه وال نه يې، ستا دنده دا ده چې د الله تعالی دين تر نورو ورسوې، حق ته بلنه ورکړې او په دې اړه خپل الهي مسئوليت اداء کړې.

دا لارښوونه همغسې ده لکه د النحل د سورې په ١٢٥ آيت کې چې راغلي: ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦۖ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١٢٥﴾ النحل: ١٢٥

وَرَبُّكَ أَعۡلَمُ بِمَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۗ وَلَقَدۡ فَضَّلۡنَا بَعۡضَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ عَلَىٰ بَعۡضٍۖ وَءَاتَيۡنَا دَاوُۥدَ زَبُورًا ﴿٥٥﴾

او ستا رب په هغو چې په آسمانونو او زمکې کې دي ښه پوه دئ، او يقيناً چې ځينو پيغمبرانو ته مو پر ځينو نورو فضيلت ورکړی، او داؤد ته مو زبور ورکړ.

(٥٥)- له مخکنيو آيتونو سره د دې مبارك آيت د تړاو او ارتباط په اړه د مفسرينو بېل بېل تعبيرونه او توجيهات موږ، په ځينو تعبيرونو کې ډېر تکلف شوی او داسې تعبير ئې وړاندې کړی چې لوستونکو ته لازياتې پوښتنې راولاړوي، خو دا مبارك آيت له يوه پلوه له ورپسې آيتونو سره ژور ارتباط لري او له بله پلوه د دې سورې له يوې اساسي موضوع سره چې د اسراء او معراج سفر دئ دقيق ارتباط لري، له ورپسې آيتونو سره ئې تړاو

داسي دئ: څوك چي د پيغمبرانو په شمول د لويو لويو او الله تعالى ته د مقربو شخصيتونو په نامه زيارتونه، ځلي او حتى مجسمي او بتان جوړوي، له هغوى مرسته غواړي، ګمان كوي چي هغوى اوس په آسمان كي؛ د الله تعالى خوا ته، د عرش شا و خوا او حتى پر عرش ناست دي، د خپلو محبانو په اړه الله تعالى ته سپارښتني كوي او هغه ئي سپارښتني له ځنډه پرته مني، په دې آيت كي دوى ته ويل شوي: څوك چي په آسمانونو كي دي الله تعالى پرې ښه خبر دئ، الله تعالى دا فضيلت وركړى، دا د دوى ذاتي كمال نه دئ، د الله تعالى عطاء او پېرزوينه ده، نه يوازي دا چي پيغمبرانو عليهم السلام ته ئي پر نورو انسانانو فضيلت وركړى بلكي د دوى تر منځ ئي هم يوه ته پر بل فضيلت وركړى، خو الله تعالى تاسو ته وايي: كه تاسو له الله تعالى پرته هر څوك، كه په زمكي كي وي كه په آسمان كي، انسان وي او كه فرشته، پيغمبر وي كه د الله تعالى كوم بل مقرب بنده، مرستي ته دروبلئ او په درشل كي ئي د دعاء لاسونه لوړ كړئ، نه تاسو ته كومه ګټه دررسولى شي او نه كوم ضرر دفع كولى شي، د الله تعالى مقرب بندګان په خپله الله تعالى ته د مزيد نږدې كېدو اسباب لټوي. د معراج له قضيې سره ئي تړاو داسي دئ: پيغمبر عليه السلام ويلي وو چي د معراج په سفر كي مي له فلان فلان پيغمبر سره په فلان فلان آسمان كي وليدل، د غوره او تر ټولو صحيح روايت له مخي، له اوو پيغمبرانو سره ليدنه شوې، په لومړي كي له آدم عليه السلام سره او په اوم كي له ابراهيم عليه السلام سره، په دوى كي د داؤد عليه السلام يادونه نه ده شوې، يهود او مسيحيان د داؤد عليه السلام مقام تر ډېرو نورو پيغمبرانو لوړ ګڼي، د معراج په اړه چي معاندينو كوم اعتراضات لرل يو ئي همدا وو چي ولي د داسي جليل القدره پيغمبر نوم ئي نه دئ اخيستى او له هغه سره ئي د ملاقات وينا نه ده كړې؟!! دوى ته ويل شوي: الله تعالى ښه پوهېږي چي په آسمانونو كي څوك دي، د پيغمبرانو د فضيلت مراتب څنګه دي، هو؛ داؤد عليه السلام ته دا فضيلت وركړى شوى وو چي د زبور په څېر الهي كتاب پرې نازل شوى وو، خو دا پوښتنه څه ارزښت لري چي ولي د معراج په سفر كي د ده يادونه نه ده شوې؟!! د ډېرو نورو پيغمبرانو يادونه هم نه ده شوې، يوازي د اوو نومونه اخيستل شوي.

قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِهِۦ فَلَا يَمۡلِكُونَ كَشۡفَ ٱلضُّرِّ عَنكُمۡ وَلَا تَحۡوِيلًا ﴿٥٦﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحۡذُورًا ﴿٥٧﴾

ووايه: له الله تعالى پرته چي "پر هر چا او هرڅه د ملجأ او مرجأ" ګمان كوئ؛ "خپلي مرستي ته" ئې دروبلئ، هغوى نه له تاسو د ضرر دفع كولو توان لري او نه ئې د بدلولو، هغه چي مشركان ئې مرستي ته وربلي؛ هر يو ئې چي الله ته ډېر نږدې وي په خپله د الله دربار ته د تقرب وسيله لټوي، د هغه رحمت ته ئې سترګي دي او له عذابه ئې وېره لري، بې شكه چي ستا د رب عذاب د دې وړ دئ چي وېره ترې وشي.

(٥٦-٥٧)- قرآن د دغو مباركو آيتونو په ترڅ كي خپلو مخاطبينو ته لارښوونه كوي چي له شرك څخه ځان وساتئ، او له الله تعالى پرته بل چا ته د مرستي لاس مه اوږدوئ، يوازي له الله تعالى مرسته او مدد وغواړئ او د الله لوري ته ورلنډ شئ. مشركان چي له الله تعالى پرته په بل درشل كي لمن غوړوي او د الله تعالى مقرب بندګان

د ملجأ او مرجع په توګه نيسي او له هغوی غواړي د دوی حاجتونه تر سره او دعاګاني قبولي کړي، په دې نه پوهېږي چې دا مقرب بندګان نه يوازې د چا مرسته نشي کولی، نه ئې حاجت ترسره کولی شي او نه ضرر او کړاو ترې دفع کولی شي بلکې په خپله هڅه کوي چې د الله تعالی لوري ته د تقرب وسيله ترلاسه کړي. لکه چې ګورئ دا مبارك آيت وايي چې د الله تعالی او بنده تر منځ اشخاص نشي وسيله کېدی، که دا اشخاص هر څومره د الله تعالی مقرب بندګان وي، د الله تعالی په وړاندې د تقرب وسيله کوم نازولی شخصيت نه بلکې د انسان خپله هڅه او عمل دئ، مقرب بندګان هم الله تعالی ته د مزيد تقرب لپاره دغه وسيله لټوي. په داسې حال کې چې دا مبارك آيت د شرك د نفی لپاره راغلی او په ډېر صراحت سره وايي چې هيڅ مقرب بنده نشي کولی د بل لپاره د الله تعالی په وړاندې وسيله او واسطه شي، خو متأسفانه عوام غولوونکي او ټګماران دا آيت تحريفوي او داسې معنی ترې راباسي چې د دوی شرك توجيه کړي او له ماسوی الله مرسته غوښتل جائز وګڼي، وايي: دا دئ په قرآن کې د وسيلې يادونه شوې نو په کار ده چې موږ د الله تعالی د مقربو بندګانو لمن ونيسو، دوی الله تعالی ته شفيع کړو، د دوی له لارې خپلې دعاګاني الله تعالی ته وړاندې کړو، له دوی وغواړو چې زموږ حاجتونه ترسره کړي!! عجيبه ده!! داسې څرګند آيت چې شرك او ماسوی الله ته لاس اوږدول او مرسته ترې غوښتل په پرېکنده او قاطع الفاظو نفي کوي؛ ټګماران ئې داسې تحريفوي چې له ماسوی الله د مرستې غوښتلو د جواز دليل ترې راوباسي!! د اهل سنت و جماعت ټول علماء او معتبر تفاسير؛ وسيله يا د تقرب يعني نږديوالي په معنی اخلي او يا د هغه عمل په معنی چې د تقرب موجب ګرځي، په احاديثو کې چې چېرې د وسيلې کلمه راغلې نو مطلب ترې تقرب (نږدېوالی) او د الله په وړاندې لوړ مقام دئ.

وَإِن مِّن قَرْيَةٍ إِلَّا نَحْنُ مُهْلِكُوهَا قَبْلَ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ أَوْ مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا شَدِيدًا ۚ كَانَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْكِتَٰبِ مَسْطُورًا ﴿٥٨﴾

او هيڅ کلی داسې نه دئ چې يا ئې موږ د قيامت له ورځې وړاندې هلاکوونکي نه يو او يا په شديد عذاب سره تعذيبوونکي، دا په کتاب کې ليکل شوي.

(٥٨)- په دې مبارك آيت کې معاندينو ته ويل شوي: تاسو هسې دوکه شوي يئ او ګمان کوئ چې دا موجود حالت به همداسې د تل لپاره دوام کوي، نه به ستاسو اقتدار او واکمني پای ته رسي، نه به دا نظام نسکورېږي چې تاسو ته ئې له هره پلوه بې شمېره امتيازات درپه برخه کړي او نه به د هغو ګناهونو، بغاوتونو او ظلمونو سزا درکول کېږي چې تاسو ئې کوئ، د الله تعالی ليکلی او تغيير نه منونکی سنت دا دئ چې هيچا ته تلپاتې ژوند نه ورکوي، هيڅ ظالم د تل لپاره په اقتدار کې نه پرېږدي، تر قيامت مخکې ئې ټغر ورټولوي، يا په طبيعي توګه او يا په شديد عذاب سره.

وَمَا مَنَعَنَآ أَن نُّرْسِلَ بِٱلْءَايَٰتِ إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا ٱلْأَوَّلُونَ ۚ وَءَاتَيْنَا ثَمُودَ ٱلنَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوا۟ بِهَا ۚ وَمَا نُرْسِلُ بِٱلْءَايَٰتِ إِلَّا تَخْوِيفًا ﴿٥٩﴾

او له دې پرته بل څه موږ د ځرګندو نښو (معجزو) له لیږلو منع نه کړو چې مخکنیو هغه تکذیب کړې، او ثمودیانو ته مو اوښه د لیدونکې نښې په توګه ورکړه چې ظلم ئې پرې وکړ، او ځرګندې نښې نه لیږو مګر د وېرولو لپاره.

(٥٩)- قریشو له رسول اللهﷺ څخه د داسې معجزو وړاندې کول غوښتل چې مخکنیو پیغمبرانو ته ورکړی شوې وې، ویل ئې: ځنګه ومنو چې ته د الله تعالی پیغمبر یې حال دا چې یوه داسې معجزه دې وړاندې نه کړه چې مخکنیو پیغمبرانو لرلې، د دې مبارك آیت په ترڅ کې دوی ته ویل شوي: معجزې د الله تعالی له لوري ښودل کیږي، د معجزې ښودل د پیغمبر ذاتي کار نه وي، الله تعالی له دې کبله رسول اللهﷺ ته هغه معجزې نه دي ورکړې چې مخکنیو پیغمبرانو ته ئې ورکړې وې چې مخکنیو قومونو هغه تکذیب کړې، که مخالفینو د معجزو په لیدو سره ایمان راوړلی نو پر مخکنیو پیغمبرانو به ئې ایمان راوړی وو او د دوی معجزې به ئې نه تکذیبولې، آیا ثمودیانو داسې یوه ستره معجزه تکذیب نه کړه چې له ورایه ئې په خپلو سترګو لیدله، د یوې اوښې په بڼې کې معجزه، نه یوازې دا چې دا معجزه ئې ونه منله بلکې تېری ئې پرې وکړ، د هغې لاس پښې ئې پرې کړل!! چا چې د عیسی علیه السلام سترې سترې معجزې ونه منلې نورې معجزې به ځنګه ومني؟!! تاسو چې معجزې غواړئ آیا دې ته هم متوجه یئ چې معجزې د هغه چا لپاره د الهي عذاب پېلامه وي چې په لیدو سره ئې ایمان رانه وړي، الله تعالی ټول هغه قومونه هلاك کړي چې د معجزو له لیدو سره سره ئې ایمان نه دئ راوړی، آیا غواړئ له تاسو سره همداسې وشي؟!! خو ستاسو مهربان رب دا نه غواړي، دې پیغمبر ته ئې د مخکنیو پیغمبرانو معجزې نه دي ورکړې، غواړي د ده امت تر قیامته پورې پاته شي، ده ته ئې داسې تلپاتې معجزه ورکړې چې تر قیامته پورې د ټولو قومونو او نسلونو لپاره ستره معجزه ده، دا قرآن د ده معجزه ده، د ده د نبوت د اثبات لپاره دا معجزه کافي ده، څوك چې د قرآن په اورېدو سره او د قرآن د سترو سترو دلائلو په اورېدو سره قانع نه شي او ایمان رانه وړي هیڅ څه ئې نشي قانع کولی.

له دې او دې ته ورته آیتونو په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومیږي چې رسول اللهﷺ د مخکنیو پیغمبرانو په څېر معجزې نه لرلې.

وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ وَمَا جَعَلْنَا ٱلرُّءْيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيْنَٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلْمَلْعُونَةَ فِي ٱلْقُرْءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلَّا طُغْيَٰنًا كَبِيرًا 

او کله چې مو درته وویل: یقیناً چې ستا رب پر دغو خلکو احاطه کړې، او هغه رؤیا (خوب) چې تا ته مو دروښود؛ هغه مو فقط د خلکو لپاره یوه آزموینه ګرځولې، او په قرآن کې (یاده شوې) هغه لعنت شوې ونه او وېروو ئې، نو (دغو خبرو) یوازې د دوی ستر طغیان لازیات کړ.

(٦٠)- د دې مبارك آیت په ټولو فقرو د ښه پوهېدو لپاره دا مطالب په پام کې ولرئ:

- د دې آيت په څلورو فقرو کې داسې څلورو خبرو ته ګوته نيول شوې چې د مخالفينو عناد، دښمني او طغيان ئې لازيات کړ.
- لومړۍ خبره ئې د قرآن دا وينا وه چې الله تعالى پر خلکو احاطه کړې، داسې څه نشي کولی چې الله تعالى ئې د کولو توان او توفيق ورنه کړي، مخالفينو ويل: موږ خو په خپلې شاوخوا کې داسې څوك نه ګورو چې موږ ئې احاطه کړي يو!! موږ خو ډېر داسې څه کوو چې ته وايې الله تعالى ئې نه خوښوي، ستا د رب احاطه چېرې ده؟
- دوهمه خبره د رسول اللهﷺ هغه رؤيا وه چې د اسراء او معراج په نامه ياده شوه، خلکو ته دا رؤيا يوه آزموينه وه، ځينو ته ئې منل ګران وو، ځينو هغه له ځانه جوړه شوې قصه وګڼله، ځينو د تبليغاتو لپاره وکاروله او ويل به ئې دا دئ دا پيغمبر اوس ادعاء کوي چې په يوه شپه کې تر مسجدالاقصى پورى تللی، د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام امامت ئې کړی، تر اوم آسمان پورې رسېدلی، په هر آسمان کې ئې يو يو پيغمبر ليدلی، جنت او دوزخ ئې په خپلو سترګو ليدلي او...
- درېيمه خبره د قرآن دا وينا وه چې د دوزخيانو خوراك به د زقوم هغه تريخ بوټی وي چې د دوزخ په تل کې به راټوکېږي، او کافرانو ويل: آيا د اور په منځ کې هغه هم د دوزخ د تېز اور په منځ کې؛ ونه راشنه کېدی شي؟!!
- څلورمه خبره د قرآن دا وينا وه چې الله تعالى به ستا د دښمنانو د تنبيه لپاره داسې څه وکړي چې دوی پرې ووېروي، مخالفينو ويل: دا تنبيه او تهديد ولې ځنډېدلی، ولې د دومره کلونو له تېرېدو وروسته هم دا ګواښونه ترسره نشول؟
- د آيت خلاصه دا ده: لکه څنګه چې قريشو د قرآن پر دغو دريو خبرو ملنډې وهلې او هغه ئې د منلو وړ نه ګڼلې ستا د دغې رؤيا په اړه هم همدا کار کوي!!

له دې مبارك آيت څخه دوه خبرې په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

- د معراج سفر يوه رؤيا وه.
- قريشو د ملنډو او شديدو تبليغاتو موضوع ګرځولې وه.

د دغې رؤيا په اړه ابن عباس **رسول** ته دوه متضاد اقوال منسوب شوي: يو ئې وايي چې ابن عباس دا رؤيا مکې ته د رسول اللهﷺ د ننوتلو اړوند رؤيا بولي او بل ئې وايي چې دا د اسراء اړوند رؤيا ده!! په يوه کې دا رؤيا د خوب په معنى نيول شوې او په بل کې د ويښې ليدا!! په دغو متضادو او متعارضو رواياتو کې به هغه غوره کوو چې له قرآن سره اړخ لګوي، قرآن په هيڅ ځای کې رؤيا د ويښې ليدا په معنى نه ده راوړې، دا رؤيا په هيڅصورت کې هغه رؤيا نشو ګڼلی چې د حديبيې په سفر پورې ارتباط لري، دا ځکه چې دغه آيت نږدې اته کاله د حديبيې تر سفر وړاندې نازل شوی.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ قَالَ ءَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقْتَ طِينًا ﴿٦١﴾ قَالَ أَرَءَيْتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِى كَرَّمْتَ عَلَىَّ لَئِنْ أَخَّرْتَنِ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَأَحْتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٢﴾ قَالَ ٱذْهَبْ فَمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَإِنَّ

جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمۡ جَزَآءٗ مَّوۡفُورٗا ﴿٦٣﴾ وَٱسۡتَفۡزِزۡ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتَ مِنۡهُم بِصَوۡتِكَ وَأَجۡلِبۡ
عَلَيۡهِم بِخَيۡلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَوۡلَٰدِ وَعِدۡهُمۡۚ وَمَا يَعِدُهُمُ
ٱلشَّيۡطَٰنُ إِلَّا غُرُورًا ﴿٦٤﴾ إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَٰنٞۚ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ
وَكِيلٗا ﴿٦٥﴾

او كله چي مو فرشتو ته وويل: آدم ته سجده وكړئ؛ نو له ابليس پرته نورو (ټولو) سجده وكړه، (هغه) وويل: آيا هغه چا ته سجده وكړم چي له خټي دي پيدا كړی؟! وئې ويل: آيا پوهېږې چي كه تر قيامته مي وځنډوې نو دغه چي پر ما دي غوره والی وركړ؛ زامن به ئې له لږو پرته ټول هرومرو تباه كړم، (ورته) وئې ويل: ځه؛ د دوی هر څوك چي ستا متابعت وكړي جهنم به ستاسو سزا وي، پوره او وافره سزا. په خپل غږ سره د دوی هغه څوك وښويوه چي له وسه دي پوره وي، او خپل سپاره او پلي پرې وهڅوه، او په مالونو او اولادونو كي ئې ورسره شريك شه، او ژمني ورسره وكړه، شيطان خو يوازې غولوونكې ژمني ورسره كوي. يقيناً چي زما پر بندګانو دي هيڅ برلاسی او سلطه نشته، او ستا رب د وكيل په توګه كافي دئ.

(٦١-٦٥)- دا مبارك آيتونه چي په مجموع كي د مخالفينو د هغه اعتراض جامع ځواب دئ چي ويل ئې: په الهي عذاب كي ځنډ د څه لپاره دئ او ولي تر اوسه رانه غی؟ دوی ته ويل شوي: د انسان د پيدايښت پر مهال الله تعالی دا پرېكړه كړې وه چي شيطان ته به مهلت وركوي، دا ځنډ د هغه مهلت له كبله دئ، مشرح مطالب ئې دا دي:

• هغه مهال چي الله تعالی فرشتو ته وويل: آدم ته سجده وكړئ؛ نو له ابليس پرته نورو ټولو سجده وكړه، هغه وويل: آيا هغه چا ته سجده وكړم چي له خټي دي پيدا كړی؟! څنګه هغه چا ته سجده وكړم چي زه ترې غوره يم.

• شيطان نه يوازې له سجدې ډډه وكړه بلكي په تأكيد سره ئې وويل: كه ما ته تر قيامته مهلت راكړې نو دغه انسان چي پر ما دي غوره والی وركړ؛ زامن به ئې له لږو پرته ټول هرومرو تباه كړم، څنګه هغه چا ته سجده وكړم چي زه ئې په آسانی سره غولولی او بې لارې كولی شم، داسي كارونه پرې كولی شم چي د هلاكت كندې ته ئې وغورځوي، آيا داسي كمعقله او غولېدونكی د دې وړ دئ چي زه ورته سجده وكړم؟!!

• الله تعالی هغه ته وفرمايل: ځه؛ د قيامت تر ورځې مهلت دركوم، د دوی هر څوك چي ستا متابعت وكړي نو جهنم به ستا او د دوی سزا وي، پوره او وافره سزا. په خپل غږ، بلني او وسوسو سره د دوی هغه څوك وښيوه چي له وسه دي پوره وي، خپل ټول فوځ؛ سپاره او پلي دي د دوی په ضد بريدونو ته وهڅوه، په مالونو كي ئې ورسره شريك شه، چي ستا د خوښې له لارې ئې ترلاسه كړي او ستا د خوښې په لارو ئې ولګوي، اولادونو كي ئې ورسره شريك شه، چي ستا د خوښې په كارونو ئې وګماري، ژمني ورسره وكړه، هيلي او اميدونه ئې په زړونو كي راپيدا كړه، د شيطاني تګلارو او كړنلارو پايلې ورته ښايسته وبرېښوه، ته خو يوازې غولوونكې ژمني ورسره كولی شې چي نه حقيقت لري او نه ئې ته ترسره كولی شې، يقيناً چي زما پر بندګانو دي هيڅ برلاسی او سلطه نشته، نه مي ته داسي پيدا كړی يې چي پر انسانانو مسلط وې او نه مي دوی داسي پيدا

كړي چې ستا تر سلطې لاندې وي، الله تعالى د وكيل په توگه كافي دئ، كه څوك پر الله تعالى توكل وكړي نو الله تعالى د شيطان د وسوسو او بريدونو په شمول د هر څه په وړاندې ورته كافي دئ. .

رَّبُّكُمُ ٱلَّذِى يُزۡجِى لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ فِى ٱلۡبَحۡرِ لِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ
بِكُمۡ رَحِيمٗا ﴿٦٦﴾

ستاسو رب هغه دئ چې كښتۍ په بحر كې درته خوځوي، چې فضل ئې ولټوئ، يقيناً چې هغه پر تاسو ډېر مهربان دئ.

(٦٦)- ستاسو رب هغه دئ چې په څپانده سيند كې ئې د كښتيو د تلو انتظام درته كړی، د دې لپاره چې فضل ئې ولټوئ، هم ئې په وچې كې ستاسو لپاره د رزق او روزي اسباب تعبيه كړي او هم په اوبو كې، په كښتيو سره له يوې خوا د اوبو له منځه خپله روزي ترلاسه كوئ او له بلې خوا له يوې سيمې بلې سيمې ته تگ كولی شي او تجارتي توكي انتقالولی شئ. چې هرې خوا ته سترگې وغړوئ د مهربان رب د بې شمېرو پېرزوينو آثار به مو تر سترگو شي. ولې د دغو څلاندو نښو له ليدو سره سره پر خپل مهربان رب ايمان نه راوړئ.

وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِى ٱلۡبَحۡرِ ضَلَّ مَن تَدۡعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ أَعۡرَضۡتُمۡۚ
وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾ أَفَأَمِنتُمۡ أَن يَخۡسِفَ بِكُمۡ جَانِبَ ٱلۡبَرِّ أَوۡ يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ
حَاصِبٗا ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمۡ وَكِيلًا ﴿٦٨﴾ أَمۡ أَمِنتُمۡ أَن يُعِيدَكُمۡ فِيهِ تَارَةً أُخۡرَىٰ
فَيُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ قَاصِفٗا مِّنَ ٱلرِّيحِ فَيُغۡرِقَكُم بِمَا كَفَرۡتُمۡ ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمۡ عَلَيۡنَا
بِهِۦ تَبِيعٗا ﴿٦٩﴾

او كله چې په بحر كې كوم ربړ دروررسېږي؛ له ده (الله) پرته ټول هغه ورك شي چې (مرستې ته ئې) دربلئ، خو چې كله مو وچې ته وژغوري نو اعراض او ډډه كوئ او انسان ډېر ناسپاسه دئ، آيا له دې خوندي شوي يئ چې د وچې په ژۍ كې مو ښخ كړي او يا تونده سيلۍ درباندې راولېږي، بيا هيڅ وكيل درته ونه مومئ او آيا له دې خوندي شوي يئ چې يو ځل بيا مو بېرته وروگرځوي او ستاسو د كفر او ناسپاسۍ په وجه د باد تونده سيلۍ درباندې راولېږي او غرق مو كړي او بيا د دغې سزا په وجه پر مونږ كوم نيوونكی ونه مومئ.

(٦٧-٦٩)- په دغو مباركو آيتونو كي د شرك او توحيد حقيقت په ډېره ښايسته او ښكلې توګه انځور شوى او د دواړه څرنګوالى او مقتضيات په دې توګه زموږ مخې ته ږدي:

- توحيد يعني دا چي انسان له الله تعالى پرته هيچا ته طمع او اميد ونه لري او بل چا ته د دعاء لاس اوږد نه كړي، حالت ئې هغه چا ته ورته وي چي په كښتۍ كي سپور دئ، د طوفان هيبتناكو څپو احاطه كړى، هيچا او هيڅ څه ته د اميد سترګي نشي غړولى او د مرستي غږ نشي كولى، له الله تعالى پرته هره بله مرجع او ملجأ هېره كړي او يوازې له ده مرسته غواړي.
- شرك يعني له دې پرته هر هغه حالت چي د الله تعالى تر څنګ بلې مرجع ته د طمعي او اميد سترګي واوړي، يعني هغه حالت چي د احتياج لاسونه د بل په درشل كي لوړ شي او له كړاو ژغورنه بل ته منسوب شي. دا د قرآن له نظره هم شرك دئ او هم د الله تعالى د پېرزوينو ستره او كركجنه ناسپاسي.
- دغو ناسپاسه مشركينو ته ويل شوي: آيا له دې ځان خوندي ګڼئ چي د بحر په ژۍ كي مو ښخ كړي؟ چا دا ضمانت دركړى؟ چا درته ويلي چي كه د طوفان له هيبتناكو څپو وژغورل شوى نو د بحر په ژۍ كي به له هر خطر او ګواښ خوندي وئ؟ آيا داسي څوك شته چي تضمين كړي تونده سيلۍ به نه دربانديې راځي او هر څه به نه دربانديې نسكوروي؟!! آيا داسي كوم تضمين مو ترلاسه كړى چي بيا به د سيند له هيبتناكو څپو سره نه مخامخ كېږئ، او الله تعالى به ستاسو د كفر او ناسپاسۍ له كبله د باد تونده سيلۍ نه دربانديې رالېږي او په سيند كي به مو نه غرقوي؟!! كه داسي وشي آيا داسي څوك موندلى شي چي له تاسو څخه د دفاع په موخه د الله تعالى پر پرېكړي نيوكه وكړي؟

په قرآن كي به ګڼ شمېر آيتونه دې ته ورته ومومئ، په ټولو دغو آيتونو كي دا حقيقت ستاسو مخې ته راځي چي انسان هغه وخت الله تعالى ته مخه كوي، دعاء ورته كوي او عبادت ته ئې چمتو كېږي چي د احتياج او اړتيا احساس وكړي، د "عبادت" اراده ئې د "نيازمندۍ له احساسه" راولاړېږي، خو چي د استغناء او بې نيازۍ احساس وكړي نو له الله تعالى مخ واړوي او د عصيان او طغيان لار غوره كړي، په دې ترتيب ګورئ چي د الله په اړه د انسان معرفت او د ده د ربوبيت په اړه د ده علم او پوهه په انسان كي د نيازمندۍ احساس راولاړوي، د ده دعاء له هغه "معرفته" څروبه كېږي چي د رب العالمين په اړه ئې لري.

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِىٓ ءَادَمَ وَحَمَلْنَٰهُمْ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلْنَٰهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴿٧٠﴾

او يقيناً چي موږ د آدم اولادې ته كرامت ور په برخه كړ او په وچه (زمكه) او بحر كي مو حمل كړ (د حمل وسايل مو ورته پيدا كړل)، پاكيزه رزق مو وركړ او دوى ته مو په ډېرو هغو فضيلت وركړ چي موږ پيدا كړي.

(٧٠)- دا آيت موږ ته لارښوونه كوي چي الله تعالى انسانانو ته عزت او كرامت ورپه برخه كړ، د دوى لپاره ئې د حمل وسائل پيدا كړل، په وچه كي د آس او اوښ په څېر حيوانات، او د موټرو ګاډو په څېر وسايل، په بحركي كښتۍ، لكه څنګه چي په بحر كي كښتۍ ترې مراد دي، همدغسي په وچه كي دا د حمل ټول وسائل ترې مراد دي، د دغو وسايلو اړوند مواد، ضوابط، سنن او قواعد هم الله تعالى پيدا كړي، كوم مواد چي له هغوى څخه په استفادې سره انسان موټرې، طيارې او كښتۍ جوړوي، ټول الله تعالى پيدا كړي او په انسان كي له دغو امكاناتو د

استفادې استعداد هم د الله تعالى پيرزوينه ده، الله تعالى د دوى لپاره د رزق او روزي انتظام هم کړى، په دنيا کي دغه پاکيزه رزق چي تاسو ئې ګورئ، دغه مېوې چي الله ئې د زمکي له مړو اجزاوو، له ختيځ او خاوري راپيدا کوي، په دومره پاکيزګى سره، له ظرافت، لطافت او نظافت سره، ښايسته او خوندور، داسي چي ته ئې له خونده لذت اخلې، له بوى او رنګ ئې خوند اخلې، هغه ته ئې پوستکي ور اغوستي او د دې انتظام ئې کړى چي پاك او ستره وي، الله جل شأنه د دوى لپاره د داسې پاك رزق او روزي انتظام وکړ، دوى ته ئې پر ډېرو هغو مخلوقاتو فضيلت ورکړى چي الله تعالى پيدا کړي، له هره پلوه ئې دوى ته فضيلت ورکړ: د صورت له پلوه، د عقل او پوهې له پلوه، د ګڼ شمېر استعدادونو له ناحيې، دا چي هغه ئې په زمکه کي خپل خليفه وګرځولو، د دنيا هر څه ئې هغه ته مسخر کړل، د زمکي او آسمانونو هر څه د هغه په خدمت کي دي او الله جل شأنه ده ته رام او مسخر کړي او په دې ترتيب ئې د ټولو مخلوقاتو په نسبت دوى ته فضيلت او لوړوالى ورکړى.

يَوْمَ نَدْعُوا۟ كُلَّ أُنَاسٍۭ بِإِمَـٰمِهِمْ ۖ فَمَنْ أُوتِىَ كِتَـٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ يَقْرَءُونَ كِتَـٰبَهُمْ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧١﴾ وَمَن كَانَ فِى هَـٰذِهِۦٓ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ أَعْمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٧٢﴾

هغه ورځ چي هره ډله خلك به د خپل مشر په نامه راوبلو، نو چا ته چي خپل کتاب (عملپاڼه) په ښي لاس کي ورکړى شي نو دوى به خپل کتاب لولي او پر دوى به د (خرما د زړي د) نري تار په اندازه هم ظلم نه کېږي. او څوك چي دلته "په دې دنيا کي" ړوند وو، هغه به په آخرت کي هم ړوند او تر دې زيات تېروتى او لاروركى وي.

(۷۱-۷۲)- د قيامت په ورځ به هره ډله خلك د خپل خپل زعيم او امام په نامه د محاسبې لپاره وبلل شي، ځيني به بريالي وګڼل شي، دوى ته به خپلې عملپاڼي په ښي لاس کي ورکړى شي، خپلې عملپاڼي به لولي، نورو ته به ئې اوروي، بدله به ئې په بشپړه توګه ورکړى شي. ځيني نور به له خپلو قبرونو ړانده راپاڅي، دا هغه خلك دي چي په دنيا کي ئې په پټو سترګو ژوند کړى وو، له خپل بصيرت او سترګو ئې هغه کار نه وو اخيستى چي ورسره ښايي، نه ئې د دنيا له پېښو او حوادثو عبرت او پند اخيستى وو او نه ئې په عالم کي د عبرت نښو ته اعتناء کړې وه، د ټولو هغو نښو له خوا د ړندو په څېر تېر شوى وو چي انسان ته د خپل رب په لوري بلنه ورکوي او په آخرت ايمان ته ئې بلي، په دنيا کي ئې د ړانده په څېر ژوند وکړ، په آخرت کي به هم ړوند حشر کېږي، څوك چي په دې دنيا کي له بصيرته محروم وي، د دنيا له عبرتناکو پېښو او صحنو پند او عبرت وانه خلي، په عالم کي دا دقيق نظم، يووالى او هدفمني ئې د الله لوري ته هدايت نه کړي، ړوند پاته شي، د ړندو په شان ژوند وکړي، هغه به په آخرت کي ړوند حشر کېږي، لکه په دنيا کي چي تېروتى او لاروركى وو، د سمي لاري له پېژندو عاجز او په سمي لاري له تلو بې زاره وو هلته به تر دې زيات تېروتى او لاروركى وي، د جنت په لوري به لار نشي موندلى، د دوزخ په لوري به درومي او د جهنم په کندو کي به لوېږي، لکه څنګه چي هغه په دنيا کي لار ورکه کړې وه، په آخرت کي به هم لار ترې ورکه وي، لکه څنګه چي هغه په دنيا کي د ړندو په څېر ژوند کړى، په آخرت کي به هم ړوند وي.

دا مطلب د طه په سورې کې په دې الفاظو سره راغلی:

وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتۡكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَاۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمَ تُنسَىٰ ﴿١٢٦﴾

طه: ١٢٤-١٢٦

او چا چې زما له ذکره اعراض او ډډه وکړه نو یقیناً چې تنګ او ضیق ژوند به ئې په برخه وي او د قیامت په ورځ به ئې ړوند حشر کړو. هلته به وایي: اې زما ربه! ولې دې ړوند حشر کړم په داسې حال کې چې سترګه ور وم، الله تعالی به وفرمايي: همدا راز زما آيتونه درغلل خو تا هېر کړل "هغه دې ونه منل" نو همداسې به نن هېر کړی شې.

یعنې چا چې په دنیا کې د الله تعالی له ذکر او يادولو او د الهي کتاب له پند او لارښوونو ډډه وکړه، الله جل شأنه ئې هېر کړ، د ړندو په څېر ئې ژوند وکړ، د هغه دنيايي ژوند به له تنګی، اضطراب، پريشانی او تشويش سره توأم وي، هغه به د واقعي اطمئنان او آزادۍ مخ ونه ګوري، په اختناق او وحشت کې به ژوند کوي، که څه هم له زياتو امکاناتو برخمن وي، ډېر وسائل، ذرايع او امکانات ئې په واک کې وي، خو زړه به ئې داډه نشي، تل به مضطرب او پريشانه وي. د انسان ترټولو لويه شتمني د زړه ډاډ او اطمئنان دئ، هغه به له دې شتمنۍ محروم وي، وسائل، بنګلې، مال، دولت او شتمني انسان ته د زړه اطمئنان نشي ورکولی، دا د الله تعالی ذکر او يادونه ده چې انسان ته اطمئنان ورکوي او زړه ئې ډاډه کوي، چا چې د الله له ذکر او ياده ډډه وکړه، په دې معنی چې الله ورپه ياد نشو او کوم کتاب چې الله تعالی نازل کړی هغه ئې خپل لارښود نکړ، د هغه په رڼا کې ئې ژوند ونه کړ، هغه د ده د لارې ډېوه او د ژوند په ټولو برخو کې لارښود نه وو او د هغه له منلو ئې ډډه وکړه، د دې اجتناب په وجه به په دنيا کې مضطرب او پريشانه ژوند لري او د قيامت په ورځ به ړوند حشر کېږي. ورته وبه ويل شي: لکه څنګه چې تا د الله آيتونه هېر کړل، پند او عبرت دې ترې وانه خيست، همداسې به الله تعالی نن تا ته التفات نه کوي، تا ته به توجه او اعتناء نه لري، دا ځکه چې تا د هغه آيتونو ته اعتناء او توجه ونه کړه.

وَإِن كَادُواْ لَيَفۡتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ لِتَفۡتَرِيَ عَلَيۡنَا غَيۡرَهُۥۖ وَإِذٗا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلٗا ﴿٧٣﴾ وَلَوۡلَآ أَن ثَبَّتۡنَٰكَ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا ﴿٧٤﴾

إِذًا لَّأَذَقۡنَٰكَ ضِعۡفَ ٱلۡحَيَوٰةِ وَضِعۡفَ ٱلۡمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيۡنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾

او نږدې وه په فتنه کي دي واچوي او له هغه څه دي واړوي چي تا ته مو دروحي کړي، په دې توګه چي د وحي خلاف خبره له ځانه موږ ته منسوب کړې او هغه مهال به ئې ته نږدې دوست نیولی، او که مو مضبوط کړی نه وی نو یقیناً چي نږدې وه لږ شانته د دوی لوري ته متمایل شې، چي په هغه صورت کي به مو په ژوند کي هم دوه برابره عذاب درڅکلی وو او له مرګه وروسته هم دوه برابره، بیا به دي زمونږ په خلاف کوم ملاتړی نه شو موندلی.

(۷۳-۷۵)- په دې آیتونو کي داسي له عتابه ډکي صیغي مومو چي نظیر ئې په ټول قرآن کي نشو موندلی!! رسول الله ﷺ ته ویل شوي: که د دښمن دا غوښتنه دي منلې وی چي په الهي وحي کي د لږ قدري تغییر مطالبه ئې کوله او له ځانه دي څه ویلي وی نو هم به مو په دنیا کي تا ته دوه برابره عذاب درڅکلی وو او هم په آخرت کي!! خو د الله تعالی د پېرزویني له امله پر خپل دریځ ثابت او ټینګ پاته شوې او د دوی غلطي غوښتني ته تسلیم نشوې!! دا آیت د قریشو هغو مسلسلو غوښتنو ته اشاره کوي چي رسول الله ﷺ ته به ئې په وار وار او په بېلو بېلو الفاظو ویل: زموږ د معبودانو په ضد له څه ویلو ډډه وکړه، داسي څه ووایه چي ټول پرې راغونډ شو، د تلفیق او روغي جوړي کوم مناسب صورت راپیدا کړه، لږ ته راکوز شه او لږ به موږ او په دې سره به د دښمنیو او مخالفتونو دا لړۍ پای ته ورسوو!! خو ګورئ چي رسول الله ﷺ ته په دې اړه الهي لارښوونه څنګه وه او په کومو الفاظو ئې له داسي روغي جوړي منع کړی!! ګورئ چي د پیغمبرانو علیهم السلام دنده څومره حساسه ده او په دې درووند الهي مأموریت کي د معمولي اشتباه پایله څومره جدي او هیبتناکه!! ګورئ چي د دښمن د خوشحالولو او ارضاء لپاره معمولي تنازل څنګه د الله تعالی د سخت غضب سبب ګرځي!! همدا راز ګورئ چي که د دښمن لوري ته ډېر لږ تمایل دومره جدي نیول کېږي او د داسي سختي مؤاخذې وړ ګڼل کېږي، له دښمن سره د مصالحې او سازش عاقبت به څنګه وي؟!!

وَإِن كَادُواْ لَيَسۡتَفِزُّونَكَ مِنَ ٱلۡأَرۡضِ لِيُخۡرِجُوكَ مِنۡهَاۖ وَإِذًا لَّا يَلۡبَثُونَ خِلَٰفَكَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٧٦﴾ سُنَّةَ مَن قَدۡ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ مِن رُّسُلِنَاۖ وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحۡوِيلًا ﴿٧٧﴾

او تلوار ئې کاوو چي له دې زمکي دي پښې سپکي کړي او ترې ودې باسي، او په دې صورت کي به دوی هم له تا وروسته نه وو ځنډېدلي مګر لنده موده. دا زموږ د هغو پیغمبرانو په اړه (الهي) سنت دئ چي تر تا د مخه مو لېږلي ول او زموږ سنت ته هیڅ بدلون نشې موندلی.

(۷٦-۷۷)- دښمنانو په تلوار سره هڅه کوله چې د مکې زمکه درته انګار کړي او وتلو ته دې اړ کړي، دې ته ئې نه کتل چې په دې ظلم سره به په الهي عذاب اخته شي او ستا له ایستلو وروسته به دوی ته هم زیات مهلت ورنه کړی شي، هغه تغییر نه منونکي الهي سنت ته ئې پام نه وو چې له مخکنیو پیغمبرانو سره د مخالفت له کبله تېر قومونه په سخت الهي عذاب اخته شوي. مطمئن اوسه چې د پیغمبرانو په اړه الهي سنت همدا دئ او الهي سنت ته هیڅ بدلون نشي موندلی.

أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِدُلُوكِ ٱلشَّمۡسِ إِلَىٰ غَسَقِ ٱلَّيۡلِ وَقُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِۖ إِنَّ قُرۡءَانَ ٱلۡفَجۡرِ كَانَ مَشۡهُودٗا ﴿٧٨﴾

د لمر له زواله د شپې تر پخېدو پورې لمونځ کوه او په سباوون کې د قرآن قرائت، یقیناً چې د سباوون قرآن وینه مشهوده وي.

(۷۸)- د دې مبارك آیت لارښووني دا دي:

- د آیت په لومړۍ فقرې کې ویل شوي چې د لمر له زواله د شپې تر پخېدو پورې لمونځ کوه او په سباوون کې د قرآن قرائت، په دې سره پنځو لمونځونو ته اشاره شوې: د ماپښین، مازدیګر، ماښام، ماخستن او سحر لمونځونه.
- د سحر لمانځه ته د قرآن الفجر: د سباوون قرآن وینه نوم ورکړی شوی، او له دې معلومېږي چې همدا د قرآن تلاوت د دې لمانځه یو امتیازي ځانګړتیا ده، د رسول اللهﷺ د سنت په رڼا کې هم معلومېږي چې د سحر په لمانځه کې به ئې تر نورو زیات قرآن لوستلو. له دې وینا دا هم معلومېږي چې په لمانځه کې قرآن لوستل د رکوع او سجدې په څېر ضروري دئ، د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې لمونځ په داسې نومونو یاد شوی چې هر یو ئې د لمانځه یو جزء دئ، لکه سجده، رکوع او دلته قرآن الفجر، رسول اللهﷺ د دغو آیتونو په رڼا کې د لمانځه هیئت او څرنګوالی او بېلې بېلې برخې مونږ ته راښودلې.
- د آیت په پای کې ویل شوي: یقیناً چې د سباوون قرآن وینه مشهوده وي. یا په دې معنی چې فرشتې ئې لیدو ته راغونډېږي او یا په دې معنی چې د دې قرآن ویني آثار او اغېز د ورځنې ژوند په ټولو چارو کې تر سترګو کېږي، د سحر په لمانځه سره نوې ورځ پیلول او په دې لمانځه کې د قرآن قرائت ته ځانګړې پاملرنه او اهتمام د دې باعث کېږي چې انسان په سم لوري تګ پیل کړي، خپل تګلوری د ایمان او قرآن په رڼا کې غوره کړي، د ورځې په اوږدو کې ئې هغه ژمنې په یاد وي چې د سحر په لمانځه کې ئې له خپل رب سره کړې دي، هغه حالت ئې مسلسل مخې ته ودرېږي چې سحر د الله تعالی په وړاندې د مطیع بنده په څېر درېدلی، رکوع او سجده ئې کړې، د لمانځه په پیل کې ئې لاسونه لوړ کړي وو او په دې سره ئې د الله تعالی په وړاندې خپله تسلیمي او له بغاوت او سرغړاوي لاس اخیستل اعلان کړي وو، طبیعي ده چې دا روحي او معنوي حالت او کیفیت به د ده پر ټول ورځني ژوند سیوری غوړوي او اغېز به ئې په هر ګام او هر کار کې راځرګندېږي.
- دې ته مو پام وي چې ځینې ګمان کوي پنځه وخت لمونځونه د همدې آیت له مخې فرض شوي او ګواکې لمونځ د معراج په سفر کې فرض شوی او شمېر او اوقات ئې د همدې سفر په دوران کې ټاکل شوي!! خو دا انګېرنه نه له قرآن سره اړخ لګوي او نه له ګڼ شمېر هغو روایاتو سره چې وایي رسول اللهﷺ تر دې د مخه او حتی د بعثت په لومړیو کې لمونځ کړی. د قرآن په ګڼ شمېر هغو سورتونو کې د لمانځه یادونه شوې چې د الاسراء تر سورې د مخه نازل شوي، په ګڼ شمېر آیتونو کې د لمانځه سپارښتنه شوې او په ډېرو کې د لمانځه اوقاتو ته هم اشاره شوې، د کوثر، المدثر، المزمل، هود، طه، العنکبوت، الانعام، الحجر، الحج، الروم، په

سورتونو کي د لمانځه امر شوی، دا سورتونه ټول تر الاسراء وړاندي نازل شوي، د هود په سوره کي داسي راغلي:

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾: او د ورځي په دواړو خواوو کي او (ورپسي نږدې) د شپې ځيني برخي کي لمونځ کوه، يقيناً چي ښېګني بدي له منځه وړي، دا د پند اخستونکو لپاره پند دئ.

له شك پرته او په بشپړ يقين سره ويلی شو چي لمونځ او اوقات ئې د معراج تر سفر دېر د مخه او د الاسراء د سورې له نزول دېر وړاندي فرض شوي.

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَتَهَجَّدۡ بِهِۦ نَافِلَةٗ لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامٗا مَّحۡمُودٗا ﴿٧٩﴾

او د شپې په يوې برخي کي تهجد کوه (پر لمانځه بې خوبي ګاله) ستا لپاره اضافي (کار)، هيله ده چي ستا رب دي په ستايل شوي مقام راپاڅوي.

(۷۹)- په دې مبارك آيت کي رسول اللهﷺ ته د تهجد لمانځه سپارښتنه شوې، دا د ده لپاره يو اضافي مکلفيت ګڼل شوی، پايله ئې ستايل شوی مقام ترلاسه کول ښودل شوي، د تهجد لغوي معنی بې خوبي ګالل دي، دلته ويل شوي چي پر لمانځه او د قرآن پر تلاوت بې خوبي ګاله. که څه هم د دې آيت لومړنی مخاطب رسول اللهﷺ دئ، خو د المزمل سورې له آيتونو معلومېږي چي صحابه وو د تهجد په لمانځه کي د خپل لاربنود ملګرتيا کوله، د المزمل د سورې لومړي آيتونه د تهجد په اړه وايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ ﴿١﴾ قُمِ ٱلَّيۡلَ إِلَّا قَلِيلٗا ﴿٢﴾ نِّصۡفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصۡ مِنۡهُ قَلِيلًا ﴿٣﴾ أَوۡ زِدۡ عَلَيۡهِ وَرَتِّلِ ٱلۡقُرۡءَانَ تَرۡتِيلًا ﴿٤﴾ إِنَّا سَنُلۡقِي عَلَيۡكَ قَوۡلٗا ثَقِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيۡلِ هِيَ أَشَدُّ وَطۡـٔٗا وَأَقۡوَمُ قِيلًا ﴿٦﴾

المزمل: ۱-٦

اې په جامو کي نغښتيه!! د شپې پاڅه پرته له لږ (برخي ئې). نيمايي ئې يا لږ ترې راکم کړه. يا پرې زيات کړه او قرآن لوله په صفا لوستلو سره. بې شکه چي ژر به پر تا درنه وينا نازله کړو. بې شکه چي تر پېښو لاندي کولو کي د شپې پاڅېدونکی مضبوط وي او په وينا کي تکړه.

دلته د قرآن مخاطب د مزمل په لفظ سره ياد شوی او په دې توګه خطاب عام شوی، هر

مخاطب احتوى كوي، د پيغمبر عليه السلام صحابه وو له دې آيته همدا مطلب اخيستى، د همدې لپاره ئې په قيام ليل كې د خپل لاربنود ملگرتيا كوله، د دې سورې په شلم آيت كي د دې رأيي په تائيد كي څرگندي نښي مومو، هلته لولو چي نه يوازي پيغمبر عليه السلام د شپې دوه برخي، نيمايي او دريمه برخه په قيام ليل او د قرآن په تلاوت تېروله بلكي د ده يارانو هم په دې سنت عمل كاوو، او په هماغه آيت كي لولو چي اوس ئې درته عفوه وكړه او دا اجازه ئې دركړه چي په دې كي تخفيف وكړئ او هومره تلاوت وكړئ چي درته آسانه وي، كه په لومړني آيت كي خطاب عام نه وى او ټول مخاطبين ئې نه احتوا كولى نو بايد په شلم آيت كي د جمعي د صيغې (فتاب عليكم) په ځاى د مفرد صيغه (فتاب عليك) او د (فاقرءوا) په ځاى (فاقرأ) راغلې وى.

- د الاسراء د سورې په پورتني آيت كي د تهجد پايله او نتيجه مقام محمود ترلاسه كول ښودل شوي او د المزمل په سوره كي ويل شوي چي د (قيام ليل) گټه دا ده چي په دې سره ته په قول ثقيل (درنه وينا) د پوهېدو جوگه كېږې، كوم دراك استعداد او حساس ذهن چي د ثقيل قول، درنې وينا او ژور كلام په پېچلو، پراخو او ظريفو ابعادو د ښه او دقيق پوهېدا لپاره ضروري دئ، هغه د همدې قيام ليل په ترڅ كي د انسان په برخه كېږي او په هغه كي وده كوي. له (قول ثقيل) څخه مراد قرآن مجيد دئ چي د آيتونو محتوى او مفهوم ئې لوړ او ژور، وعدې ئې گراني، انسان ته چي كوم مسئوليتونه سپاري هغه ډېر ستر ستر او درانه، عمل پرې گران او د لوړ همت او عزم غوښتونكى، د قرآن له القاء نه مراد يا دا دئ چي خطاب متوجه پيغمبر عليه السلام ته دئ او هغه ته ويل شوي چي په قيام ليل او د قرآن تلاوت سره به د قرآن د نورو درنو درنو برخو ترلاسه كولو ته لازيات چمتو شې، دا درنې برخي به ډېر ژر پر تا نازلې كړو، او يا ئې مراد دا دئ چي د شپې په زړه كي د قرآن په تلاوت سره به ته د قرآن د آيتونو په ژورو او پراخو معانيو او مفاهيمو لا ښه پوه شې، د قرآن د اسرارو دروازې به ستا پر مخ پرانيستى شي. همدا راز ويل شوي چي د شپې پاڅېدا انسان ته دا وړتيا ورپه برخه كوي چي وينا ئې اقوم او ډېره سمه مضبوطه وي، كولى شي خپل ما في الضمير په اغېزمنو الفاظو او مؤثره ښه كي وړاندي كړي.

وَقُل رَّبِّ أَدۡخِلۡنِى مُدۡخَلَ صِدۡقٍ وَأَخۡرِجۡنِى مُخۡرَجَ صِدۡقٍ وَٱجۡعَل لِّى مِن لَّدُنكَ
سُلۡطَٰنًا نَّصِيرًا ﴿٨٠﴾ وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴿٨١﴾

او ووايه: اې زما ربه! په ربښتيني ننوتو سره مې ننباسه او په ربښتيني وتو سره مې وباسه، او له خپل لوري مرستندويه واك را، او ووايه: حق راغى او باطل له منځه ولاړ، يقيناً چي باطل له منځه تلونكى دئ.

(۸۰-۸۱)- خپل رب ته دا دعاء كوه: اې زما ربه! كوم ځاى ته چي ما ننباسې له صدق او ربښتينولۍ سره مې ~~ننباسه او له كومه ځايه چي مي باسي له صدق سره مي وباسه، له خپل لوري داسي واك او ځواك راپه برخه كړه~~ چي د حق او صدق په لار كي زما مرستندوى وي، پر دې حقيقت بشپړ باور لره او تل ئې وايه: حق راغى او باطل له منځه ولاړ، يقيناً چي باطل له منځه تلونكى دئ.

د دې مباركو آيتونو له فحوى معلومېږي چي دا برخه د رسول اللهﷺ له هجرت لږ مخكي نازله شوې، په دې كي وتلو او ننوتلو ته اشاره شوې، د مدخل صدق او مخرج صدق الفاظ

راغلي، رسول الله ﷺ ته لارښوونه شوې چي خپل رب ته دا دعاء وکړي چي له يوه ځايه وتل او بل ته ننوتل ئې له ربښتينولى سره مل وي او هيڅكله د صداقت لمن پرې نږدي. د دغو مباركو آيتونو په ترڅ كي چي رسول الله ﷺ ته د كومو دعاګانو لارښوونه شوې وه ټولي به بشپړه توګه ترسره شوې، له مكي ئې سالم او روغ وتل او مدينې منورې ته ئې عزتمن ننوتل په برخه شول، الله تعالى له خپل لوري په مدينې منورې كي د صادقو او مخلصو انصارو داسي مجاهد لښكر په واك كي وركړ چي د حق په لار كي هري قربانى ته چمتو وو، د دوى په مباركو لاسونو د الله د دين بيرغ د نړى په ګوټ ګوټ كي ورپېيدو، د دوى د سرښندونو او قربانيو په نتيجه كي دا الهي شعار محقق شو چي: حق راغى او باطل له منځه ولاړ، يقيناً چي باطل له منځه تلونكى دئ.

له دې دعاء د اسلام او د رسول الله ﷺ د رسالت يوه مهمه ځانګړتيا څرګندېږي، ښيي چي دا دين د دعوت او بلني تر څنګ داسي (سلطان او نصير) ته ضرورت لري چي پلى ئې كړي، د انساني ژوند په ټولو برخو ئې حاكم كړي، هغه ځواكونه وځپي چي د دې دين د غلبې او سلطې مانع كېږي، هغه خنډونه له منځه يوسي چي د الله پر زمكي د الله د دين د پلي كېدو مخه نيسي، د شر او فساد د هغو ځواكونو مقابله وكړي چي مظلومان په خپلي غلامى كي ساتي او نه پرېږدي چي خلك يوازې د يوه الله بندګي وكړي ، دا دين داسي ولي او نصير ايجابوي چي دا ځلانده ډېوه بله وساتي او د طوفانونو په وړاندي ئې تتبدو ته پرې نږدي. دا دعاء او د قرآن ګڼ شمېر نوري دعاګاني ښيي چي د پيغمبرانو عليهم السلام رسالت يوازې په تبليغ، وعظ او نصيحت كي نه راخلاصه كېږي، د دعوت او تبليغ تر څنګ د هجرت، جهاد او شهادت مطالبه كوي، دا دئ ګورئ چي الله تعالى خپل وروستي پيغمبر؛ رسول الله ﷺ ته لارښوونه كړې چي هجرت او وتلو ته چمتو شه، د دښمن مهجر او مرستندوى سلطان په لټه كي خپل رب ته د دعاء لاسونه اوچت كړه. د هر چا له دعاګانو معلومېږي چي هغه په خپل ژوند كي كوم اهداف ځان ته غوره كړي، تګلورى ئې كوم دئ، دوست او دښمن ئې څوك دئ، د چا په دعاګانو كي چي پر كافرانو د بري دعاء شامله نه وي، وانصرنا على القوم الكافرين: پر كافرانو برى را؛ واجعل لنا سلطانا نصيرا: مرستندويه ځواك را په برخه كړه؛ او دې ته ورته دعاء نه كوي، مه په هغه پسي لمونځ كوه، مه ئې له اسلام او رسول الله ﷺ سره د مينې پر دروغجني دعوى باور كوه. دا قرآني دعاګاني موږ ته ښيي چي د هغه چا په صداقت كي شك ولرو او دا ادعاء ئې ونه منو چي وايي د رسول الله ﷺ په سنت عمل كولو ته چمتو يم، له هغه سره مينه لرم، هغه او رسالت ته ئې اخلاص او وفا لرم خو په دعاګانو كي ئې دا مهمې برخې نشته. دا د يوه معيار او ملاك په توګه په پام كي ساته، كله چي كوم جومات ته ولاړ شې، كوم خطيب د منبر د پاسه وګورې چي د خداى، قرآن، پيغمبر او د هغه د سنت نوم اخلي خو نه د دين د غلبې او حاكمولو په اړه څه وايي، نه د ظالم په خلاف او د مظوم په دفاع كي، يوه شه چي دا خطيب نه د دين له حقيقته خبر دئ او نه له الله تعالى، د هغه له كتاب او پيغمبر سره اخلاص او وفا لري، كه څوك په محراب كي وګورې چي لاسونه ئې د دعاء لپاره لوړ كړي، اوږدې اوږدې دعاګاني كوي خو په دعاګانو كي ئې دا نشته چي خدايه! موږ ته پر كافرانو برى را، يوه شه چي دا امام

د دې وړ نه دئ چي په هغه پسې لمونځ وکړې، مه د داسې خطيب خبرو ته غوږ نيسه او مه په داسې امام پسې لمونځ کوه.

وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا



او د قرآن داسې څه نازلوو چي هغه مؤمنانو ته درملنه او پېرزوينه ده، او ظالمانو ته له تاوان پرته بل څه نه زياتوي.

(۸۲)- دلته د قرآن څو ځانګړتياوو ته اشاره شوې: قرآن داسې لارښووني لري چي له يوې خوا د مؤمنانو لپاره داسې روحي او معنوي شفاء او درملنه ده چي ټولې فردي، اجتماعي، اخلاقي او روحي بيماري معالجه کوي، له بلې خوا ئې الهي رحمتونه او پېرزويني په برخه کوي، څوك چي پر قرآن ايمان راوړي او د قرآن له لارښوونو سره سم خپل فردي او اجتماعي ژوند عيار کړي، له ټولو هغو بيماريو به ژغورل کېږي چي فرد او ټولنه پرې اخته کېږي، خو هغه چي د تېري او ظلم لار ئې غوره کړې او د قرآن مخالفت ته ئې ملا تړلې دوی به له زيات تاوان پرته بل څه ترلاسه نه کړي.

وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ ۖ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ كَانَ يَـُٔوسًا ﴿٨٣﴾

قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِۦ فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ أَهْدَىٰ سَبِيلًا ﴿٨٤﴾

او کله چي پر انسان (د کوم نعمت) پېرزوينه وکړو اعراض کوي او خپل څنګ اړوي، او چي شر (کړاو) وروررسېږي نو ناهيلي (مأيوس) وي، ووايه: هر څوك پر خپلې کړنلارې عمل کوي، او ستاسو رب پر هغه چا ښه پوه دئ چي لار ئې تر ټولو سمه ده.

(۸۳-۸٤)- انسان داسې دئ چي کله الله تعالی کوم نعمت ورپه برخه کړي نو له خپل منعم مولا اعراض کوي او مخ اړوي او کله چي له کړاو سره مخامخ شي نو بيا ئې حالت د يوه ناهيلي او مأيوس په څېر وي. دغو کمظرفو انسانانو ته ووايه: هر څوك پر خپلې هغې کړنلارې عمل کوي چي ورته غوره بريښي او خپل نفس ورته ښايسته کړې، بخيل ته بخل ښه ښکاري او هغه څوك کمعقله ګڼي چي سخاوت کوي، منافق ته نفاق ښه بريښي او هوښياري ئې ګڼي او هغه مجاهد ته د سفيه او ناپوه په سترګه ګوري چي د ايمان په لار کي ستونزې ګالي او له خطرونو سره ډغرې وهي، هغو ته چي خپلې غلطې کړنلارې ورته ښايسته بريښي ووايه: ستاسو رب پر هغه چا ښه پوه دئ چي لار ئې تر ټولو سمه ده.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِ ۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا



د روح په اړه تا پوښتي، ورته ووايه چې روح زما د رب كار دئ او تاسي ته (پدې اړه ډېره) كمه پوهه دركړل شوې.

(۸۵)- د دې مبارك آيت په اړه لاندې خبرې په پام كې ولرئ:

- ځينو مفسرينو ويلي چې دلته د قريشو هغې پوښتنې ته اشاره شوې چې رسول الله ﷺ څخه ئې د روح د كيفيت او څرنګوالي په اړه كوله، دوى ته په ځواب كې ويل شوي: د روح حقيقت يوازې الله تعالى ته معلوم دئ، تاسو دومره علم نه لرئ چې د روح په حقيقت پوه شئ، دې ته مو بايد پام وي چې د قرآن الفاظ دا دي (وَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا) د دې الفاظو دقيقه معنى دا ده چې ستاسي علم دومره نه دئ چې د روح حقيقت پرى درك كړى شئ، معنى ئې دا نه ده چې تاسي ته د روح په اړه لږ علم دركړل شوى، دلته د (مِن علمِها) الفاظ نه دي راغلي بلكه ويل شوي (من العلم) د دې دواړو تعبيرونو ترمنځ زيات توپير شته.
- ځيني نور مفسرين په دې نظر دي چې دا پوښتنه د روح د كيفيت په اړه نه ده، د هغې وحي په اړه ده چې د قرآن په بڼه كې پر رسول الله ﷺ نازله شوې، د دې لپاره دوه مضبوط دلائل وړاندې كوي: لومړى ئې دا چې دلته په مخكنيو او وروستنيو آيتونو كې د بحث موضوع روح، د روح كيفيت او دا چې الله تعالى څنګه مړي ژوندي كوي او روح ورپه برخه كوي؛ نه ده، بلكې تر دې وروسته هم د وحي په اړه خبره شوې او تر دې مخكې هم د قرآن په اړه خبره شوې، تر دې آيت وړاندې ويل شوي چې قرآن د مؤمنانو لپاره شفاء او رحمت دئ، تر دې وروسته ويل شوي: كه وغواړو هغه څه به له منځه يوسو چې تا ته مو وحي كړي... كه دلته روح د وحي په معنى تعبير نشي نو بيا خو د آيتونو تر منځ مناسبت او ارتباط په بشپړه توګه له منځه ځي. دوهم دليل ئې دا دئ چې په قرآن كې روح د وحي په معنى راغلي، لكه دا آيتونه: رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو ٱلۡعَرۡشِ يُلۡقِى ٱلرُّوحَ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوۡمَ ٱلتَّلَاقِ ﴿١٥﴾ غافر: ۱۵ او وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ رُوحٗا مِّنۡ أَمۡرِنَاۚ ... الشورى: ۵۲

دغو دلائلو ته په پام سره دا نتيجه ترلاسه كوو چې دا وروستى تعبير صحيح او دقيق دئ.

وَلَئِن شِئۡنَا لَنَذۡهَبَنَّ بِٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ بِهِۦ عَلَيۡنَا وَكِيلًا ﴿٨٦﴾
إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّن رَّبِّكَۚ إِنَّ فَضۡلَهُۥ كَانَ عَلَيۡكَ كَبِيرٗا ﴿٨٧﴾

او كه وغواړو هغه څه به له منځه يوسو چې تا ته مو وحي كړي بيا به زموږ په خلاف ځان ته كوم وكيل ونه مومې، مګر ستا د رب له لورې كومه پېرزوينه، يقيناً پر تا باندې د هغه فضل ډېر ستر دئ.

(٨٦-٨٧)- په دې مبارك آيت كې ويل شوي چې د رسول اللهﷺ له لوري وړاندي شوى قرآن د ده د ذاتي افكارو او نظرياتو مجموعه نه ده، دا هغه الهي كتاب دئ چې د الله تعالى له لوري ده ته وحي شوى، كه الله تعالى وغواړي هم به د وحي لړۍ متوقف كړي او هم به هغه څه د رسول اللهﷺ له ذهنه وباسي چې تر دې وړاندي ده ته وحي شوي، داسي څوك به ونه مومي چې د الله تعالى د دې پرېكړي په خلاف د ده مرسته وكړى شي، خو حقيقت دا دئ چې رسول اللهﷺ د خپل رب د پراخ رحمت تر سيوري لاندي دئ او پر ده باندي د الله تعالى فضل ډېر ستر دئ.

قُل لَّئِنِ ٱجْتَمَعَتِ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأْتُواْ بِمِثْلِ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ فَأَبَىٰٓ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٨٩﴾

ووايه: كه ټول انسانان او پيريان پر دې راغونډ شي چې د دې قرآن په څېر (كوم كتاب) راوړي، هغه ته ورته (كتاب) نشي راوړلى كه څه هم ځيني ئې د ځينو نورو ملاتړي شي. او يقيناً چې په دې قرآن كي مو خلكو ته هر راز مثالونه بيان كړي، خو ډېرى خلك يوازي له له ناسپاسى ډډه نه كوي.

(٨٨-٨٩)- دا مبارك آيتونه د هغې موضوع وروستى برخه ده چې د قرآن د عظمت او د انسان په لاربښووني او د ده د ژوند په ښه سمبالولو كي د هغه د ژور اغېز په اړه له ٧٨ آيت پيل شوى، دلته ويل شوي: كه ټول انسانان او پيريان د دې لپاره سره راغونډ شي چې د دې قرآن په څېر كوم كتاب راوړي، په هيڅ توګه نشي كولى هغه ته ورته كتاب راوړي؛ كه څه هم ځيني ئې د ځينو نورو ملاتړي شي. په دې قرآن كي خلكو ته هر راز مثالونه بيان شوى؛ خو ډېرى خلك داسي دي چې د الله تعالى د دغه ستر نعمت د قدروني پر ځاى ناسپاسي كوي، حالت ئې داسي دئ چې ښيي له كفران او ناسپاسى پرته د بل څه كولو اراده نه لري.

ځيني د دې مبارك آيت په اړه داسي څه وايي چې ښيي قرآن يوازي د ادبي لوړ او اغېزناك تركيب له پلوه معجز كتاب دئ او هيڅوك نشي كولى دې ته ورته كتاب وړاندي كړي، حال دا چې قرآن تر دې زيات له نورو زاويو يو معجز كتاب دئ، د هغو مطالبو له پلوه چې قرآن څېړلي، د احكامو او لاربښوونو له پلوه، د پرېكړو او قضاوتونو له پلوه، د الله تعالى، انسان او ټول عالم د جامع او دقيقي معرفي له پلوه، د داسي پراخو علمي اعجازونو له پلوه چې انسان ورو ورو او د خپلو علمي پرمختګونو په تناسب پرې پوهېږي او حقيقت ئې ورته څرګندېږي، د خپلو وړاندوينو له پلوه، د هغو سترو سترو سياسي، فكري، اخلاقي بدلونو له پلوه چې قرآن رامنځته كړل، د هغه جامع نظام له پلوه چې قرآن وړاندي كړ او ... له پلوه داسي معجز كتاب دئ چې هيڅوك ئې مثل نشي وړاندي كولى.

وَقَالُواْ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفْجُرَ لَنَا مِنَ ٱلْأَرْضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوْ تَكُونَ لَكَ
جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ ٱلْأَنْهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفْجِيرًا ﴿٩١﴾ أَوْ تُسْقِطَ ٱلسَّمَآءَ كَمَا
زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا أَوْ تَأْتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا ﴿٩٢﴾ أَوْ يَكُونَ لَكَ بَيْتٌ مِّن
زُخْرُفٍ أَوْ تَرْقَىٰ فِي ٱلسَّمَآءِ وَلَن نُّؤْمِنَ لِرُقِيِّكَ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَٰبًا نَّقْرَؤُهُۥ ۗ قُلْ
سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٣﴾ وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤْمِنُوٓاْ إِذْ جَآءَهُمُ
ٱلْهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٤﴾ قُل لَّوْ كَانَ فِي ٱلْأَرْضِ
مَلَٰٓئِكَةٌ يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ لَنَزَّلْنَا عَلَيْهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُولًا ﴿٩٥﴾

او وئې ويل: تر هغه درباندې ايمان نه راوړو چې له زمكې كومه چينه راته ونه بهوې. او يا دې د خرما او انگورو داسې باغ نه وي چې په منځ كې ئې ويالې رواني كړې. او يا لكه څنگه چې گمان كوې دا آسمان پر موږ ټوټې ټوټې راپرې باسې او الله او ملائكې موږ ته مخامخ راحاضر كړې او يا دې د سرو سپينو زرو كور وي او يا آسمان ته وخيژې او ختل دې هم تر هغه نه منو چې كوم داسې ليكلى كتاب راته راوړې چې موږ ئې لوستى شو، ورته ووايه: سبحان الله! مگر زه له يوه لېږل شوي انسان پرته بل څه يم؟! او د هدايت له راتلو وروسته، خلك له دې پرته بل څه له ايمان راوړلو منع نه كړل چې ويل ئې: آيا الله يو انسان د پيغمبر په توگه مبعوث كړى؟ ورته ووايه: كه په زمكې كې ملائكې اوسېدى او ډاډمنه گرځېدى، نو هرومرو به مو له آسمانه پر دوى يوه ملائكه د پيغمبر په توگه لېږلې وه.

(۹۰-۹۵)- دا مبارك آيتونه څو مهمې او اساسي لارښووني زموږ مخې ته ږدي:

- منكرينو نه د رسول الله ﷺ د دعوت او بلني محتوى ته كتل، نه د ده دلائلو ته، نه د ده لارښوونو ته، نه د ده شخصيت ته، نه د ده ويناوو او كړنو ته، نه د قرآن اغېزناكو او ځلاندو څرگندونو او روښانه لارښوونو ته او نه هغو شخصيتونو ته چې د قرآن په غېږ كې او د رسول الله ﷺ په لاس وروزل شول او هر يو ئې د يوه ځلانده ستوري په څېر وو، له رسول الله ﷺ څخه ئې داسې معجزې غوښتې چې خارق العاده او حيرتناكې وي، لكه: له زمكې كومه روانه چينه راوخوټوه، ځان ته د خرما او انگورو داسې باغ راپيدا كړه چې په منځ كې ئې ويالې رواني كړې، لكه څنگه چې ته گمان كوې دا آسمان به پر موږ ټوټې ټوټې راپرېوځي دا كار همدا اوس زموږ په

وړاندې ترسره کړه، الله او ملائکې مونږ ته مخامخ راحاضر کړه، ځان ته د سرو سپینو زرو کور جوړ کړه، آسمان ته وخیژه، ختل دې هم تر هغه نه منو چې کوم داسې لیکلی کتاب راته راوړې چې مونږ ئې لوستی شو!! د دې مبارکې سورې په ۵۹ آیت کې د دوی د داسې غوښتنو په اړه ویل شوي: له دې پرته بل څه مونږ د معجزو له لیږلو منع نه کړو چې مخکنیو هغه تکذیب کړې، دلته رسول الله ﷺ ته ویل شوي چې د دوی د دغو غوښتنو په ځواب کې ورته ووایه: سبحان الله! مګر زه له یوه لیږل شوي انسان پرته بل څه یم؟!

• ګورئ چې (خلك) دغې خبرې له ایمان راوړلو منع کړي چې پیغمبر ئې د نورو انسانانو په څیر یو انسان موندلی، داسې چې حیرتناك او خارق العاده کارونه نشي کولی، د ده په خوا کې نه څوك خدای په څرګنده ګوري او نه د فرشتو لښکرې، آسمان ته نشي ختلی، له زمکې چینې نشي راخوټولی، سره او سپین زر ئې په لاس کې نشته، د باغونو او بنګلو خاوند نه دئ!! د یهودانو مذهبي مشرانو د خپلو پیغمبرانو په اړه خلکو ته همدا ویلي وو چې دوی دغه ټول کارونه کولی شو، نو ځکه ئې د عیسی علیه السلام په څیر په هغه پیغمبر هم ایمان رانه ووړ چې معجزې ئې تر ټولو پیغمبرانو زیاتې وې!!

• مشرکینو هم له دې کبله پر پیغمبر علیه السلام له ایمان راوړو ډډه کړې چې هغه ئې د ځان په څیر یو انسان موندلی، د دوی انګېرنه او انتظار دا وو چې د الله تعالی پیغمبر باید له انسانانو په هر څه کې توپیر ولري او داسې ستر ستر او خارق العاده کارونه وکړی شي چې عادي انسانان ترې عاجز وي!! د دوی په اړه ویل شوي: کله چې خلکو ته د الله تعالی له لوري او د کوم پیغمبر په لاس هدایات راغلي نو دوی له ایمان راوړلو بل څه منع نه کړل مګر دې خبرې چې ویل ئې: آیا الله یو انسان د پیغمبر په توګه مبعوث کړی؟ ورته ووایه: که په زمکه کې ملائکې اوسېدی او ډاډه په کې ګرځېدی نو مونږ به حتماً له آسمانه یوه فرشته د پیغمبر په توګه رالیږلې وه. دا ځکه چې فرشتې د فرشتې په ژبه پوهېدی شي او انسان د انسان په ژبه.

• که الله تعالی غوښتی چې پیغمبر علیه السلام داسې معجزې وښیي نو دغو کافرانو ته به ئې ورښودلې وې، ځکه معجزه په اصل کې د مخالفینو د عاجزولو او پر کولو لپاره وي، د همدې لپاره د پیغمبرانو علیهم السلام خارق العاده کارونو ته د معجزې نوم ورکړی شوی. د موسی علیه السلام د عصا په یوه ګوزار سره له تیږې دولس چینې راوخوټېدې، خو هغه معجزه د همغه وخت لپاره وه، اوس هغه چینې نشته، که رسول الله ته داسې معجزې ورکول کېدی نو دا به تر قیامته پورې تلپاته وې، ځکه د ده دعوت تلپاته دئ او تر قیامته دوام کوي. که الله تعالی غوښتی چې رسول الله ته د مخکنیو پیغمبرانو علیهم السلام په څیر معجزې ورکړې نو دا معجزې به هم تر مخکنیو سترې وې او هم تلپاته، دا ځکه چې د رسول الله رسالت د همدې تقاضاء کوي، دا معجزې باید تر قیامته لیدل کېدی، که ئې غوښتی چې د موسی علیه السلام په څیر معجزه ورکړي نو له یوې ډبرې به ئې داسې چینه ورته راخوټولې وه چې تر قیامته به اوبه ترې راخوټېدې، له آسمانه به ئې داسې لیکلی قرآن پرې نازل کړی وو چې د خلکو په وړاندې به په فضاء کې ولاړ وو، هر چا به په خپلو سترګو لیدو، دا کار الله تعالی ته ډېر آسان دئ، که لمر، سپوږمۍ او دا ټول بې شمېره ستورې په فضاء کې ساتلی شي د یوه کتاب ساتل به څه ګران کار وي!! که ئې غوښتي وی چې د عیسی علیه السلام په څیر کومه معجزه ورکړي او مړي ورته راژوندي، ړانده سترګور او بیماران روغ کړي نو د قرآن په لوستلو سره به ئې په حقیقي معنی ټل مړي راژوندي کول، او ناروغان به ئې روغول، الله تعالی ته دا ټول کارونه آسان دي، څوك چې رسول الله ته وړې وړې معجزې ثابتوي هغوی په حقیقت کې د هغو خلکو د تبلیغاتو تر اغیز لاندې تللي چې ویل ئې: ولې رسول الله ته د مخکنیو پیغمبرانو په څیر معجزې نه دي ورکړی شوي؟ خو دې ته ئې پام نه دئ چې الله تعالی د کافرانو د دغې غوښتنې څه ځواب ورکړی؟ ځواب دا دئ: که له آسمانه مو داسې کتاب درباندې نازل کړی وی چې کافرانو په خپل لاس لمس کولی شوی، مړي پرې راژوندي شوي وی، بیا هم دوی ایمان نه راوړ.

• له دې مبارکو آیتونو معلومېږي چې د مشرکینو او اهل کتابو ټګمارو او دوکه مارو مذهبي مشرانو خلکو ته ویل: مخکنیو پیغمبرانو، د الله مقربو بندګانو او اولیاء کرامو دغسې خارق العاده او حیرتناك کارونه کولی شو، هغه څوك د پیغمبر په توګه مه منئ چې دا کارونه ونه کړی شي. د دوی په ځواب کې ویل شوي: معجزه د پیغمبر په خوښه نه رامنځته کېږي، د ده په واك کې نه وي، د الله تعالی په إذن او هغه مهال رامنځته کېږي چې

الله تعالى ئې وغواړي او پيغمبر ته ئې د ښودلو امر، اجازه او واك وركړي.

• د دوی ځيني نور بيا داسي ول چي د خپلو پيغمبرانو په اړه به ئې همداسي ګمانونه كول، ويل به ئې چي زموږ پيغمبر په غيب پوه وو، د امورو متصرف وو، الله ورته خاص خاص اختيارات وركړي وو، موږ هغه پيغمبر نه منو چي دغه ځانګړتياوي ونلري!!

بيمار ذهنيتونه دغسي وي، خدای په (اعجازونو)، (خارق العاده پېښو) او (فوق طبيعي اسرارو) كې لټوي، او پيغمبر د خارق العاده معجزو له مخي مني، پر الله تعالى د ايمان راوړو لپاره دا په طبيعت كې خواره بې شمېره نښي او شواهد ورته كافي نه وي، دا د الله له لوري نه ګڼي، طبيعي پېښي ئې بولي، غواړي خدای د داسي پېښو له مخي ثابت كړي چي غيرطبيعي وي، په (رازونو) او (رموزونو) سره نه په (ښكاره وو) او (ځرګندو) سره!! او پر پيغمبر د ايمان لپاره د هغه (لارښود كتاب)، (ځلانده پيغام)، (لوړ شخصيت)، (صالح ملګري)، (پر حق او عدالت ولاړ دعوت)، (د ظلم، فساد او بې عدالتئ په خلاف د هغه مسلسل جهاد)، (له ظالمانو او مفسدينو سره د هغه عدم مصالحت او له هر راز تمايل، نږدې والي او جوړ جاړی ډډه كول)، كافي نه ګڼي، له هغه داسي معجزې غواړي چي انسان ئې له وړاندي كولو عاجز وي!!! خو د قرآن اسلوب بېل دئ، قرآن د هستي هرڅه او هر حركت د الله تعالى د ذات او صفاتو نښه او مظهر ګڼي، په همدغو ځرګندو شيانو استناد كوي او په دې سره خپله مدعا ثابتوي، په همدې ځرګندو، په طبيعت كې خورو ورو شيانو باندي لوړه كوي او د خپلي مدعا لپاره ئې د شاهد په توګه وړاندي كوي. د پيغمبر د حقانيت ثابتولو لپاره هغه كتاب شاهد ګڼي چي دی ئې خلكو ته وړاندي كوي: فرمايي: وَٱلْقُرْءَانِ ٱلْحَكِيمِ ﴿٢﴾ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٣﴾ عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٤﴾ : له حكمته ډك قرآن شاهد دئ چي ته (ای محمده!) د پيغمبرانو له ډلي څخه يې، په مستقيمي لاري برابر.

قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرًۢا بَصِيرًا ﴿٩٦﴾ وَمَن يَهْدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلْمُهْتَدِ ۖ وَمَن يُضْلِلْ فَلَن تَجِدَ لَهُمْ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِهِۦ ۖ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا ۖ مَّأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَـٰهُمْ سَعِيرًا ﴿٩٧﴾ ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُم بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا وَقَالُوٓا۟ أَءِذَا كُنَّا عِظَـٰمًا وَرُفَـٰتًا أَءِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ﴿٩٨﴾

ووايه: الله زما او ستاسو تر منځ د شاهد په توګه كافي دئ، يقيناً چي هغه د خپلو

بندگانو په اړه ښه باخبره او ليدونکی دئ. او الله چي څوك هدايت کړي هدايت شوی همدا دئ، او څوك چي بې لاري کړي نو له ده پرته به هيڅ اولياء ورته ونه مومي، او د قيامت په ورځ به ئې پر خپلو مخونو (پراته) ړانده، گونگي او کاڼه راغونډ کړو، تم ځی به ئې جهنم وي، هر کله چي تت شي لمبې به ورته زياتي کړو، دا د دوی سزا ده له دې کبله چي زما له آيتونو ئې انکار کاوو او ويل ئې: کله چي هډوکي او وراسته شو آيا بيا به په نوي پيدايښت کي راپاځول کېږو؟!

(۹۶-۹۸)- که دا جاهل، لجوج او د شرك او خرافاتو په ډنډ کي نښتي مخاطبين ټولو دغو څرگندو او ځلاندو دلائلو ته اعتناء نه کوي، نو هغوی ته ووايه: الله زما او ستاسو تر منځ د شاهد په توگه کافي دئ، يقيناً چي هغه د خپلو بندگانو په اړه ښه باخبره او ليدونکی دئ. هغه څوك په سمه لار روان دئ او حقيقي لارښوونه ئې په برخه شوې چي د الهي لارښوونو ځلانده مشعل ئې په لاس کي دئ او په رڼا کي ئې درومي، هغه څوك بې لاري دئ او په کږو لارو سر شوی چي له الهي لارښوونو محروم پاته شوی، داسي لارورکي انسان ته هيڅ ولي او مرستندوی نشي موندلی، هيڅوك نشي کولی هغه له بدو پايلو وژغوري او د هدايت بله سمه لار ورته پرانېزي. الله تعالی به ئې د قيامت په ورځ په داسي حال کي ړانده، گونگي او کاڼه راغونډ کړي چي پر خپلو مخونو به پراته وي، تم ځی به ئې جهنم وي، د دوزخ په سرو او سرکښو لمبو کي به سوزي، نه به ئې اور تت کېږي او نه لمبې کمېږي، دا د دوی سزا ده له دې کبله چي د الله تعالی له آيتونو ئې انکار کاوو او ويل ئې: کله چي هډوکي او وراسته شو آيا بيا به په نوي پيدايښت کي راپاځول کېږي؟! دوی په دنيا کي د ړندو، گونگيانو او کاڼو په څېر ژوند کړی، د قيامت په ورځ به ئې سزا عمل ته ورته وي، ړانده، گونگيان او کاڼه به حشر کېږي، دوی په دې پراخ عالم کي په هر لوري او هر گام بې شمېره نښو او آيتونو ته اعتناء ونه کړه، د قيامت په ورځ به ئې سزا گناه ته ورته وي پر مخي به حشر کېږي، دوی له آخرت، بياژوندون، جنت او دوزخ، مکافات او مجازات انکار کاوو، د قيامت په ورځ به دوزخ او د هغه سرې لمبې په خپلو سترگو وگوري.

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۡ وَجَعَلَ لَهُمۡ أَجَلٗا لَّا رَيۡبَ فِيهِ فَأَبَى ٱلظَّٰلِمُونَ إِلَّا كُفُورٗا ﴿٩٩﴾

آيا دې ته ئې ونه کتل چي هغه الله چي آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړي پر دې قادر دئ چي دوی ته ورته راپيدا کړي، او دوی ته ئې داسي اجل ټاکلی چي هيڅ شك په کي نشته، نو ظالمانو يوازي له کفران څخه ډډه ونه کړه.

(۹۹)- آيا د قيامت او بياژوندون منکرين دې ته نه گوري چي د آسمانونو او زمکي پيدا کوونکی الله پر دې قادر دئ چي د دوی په څېر خلك بيا راپيدا کړي، همغه الله چي دوی ته ئې داسي اجل ټاکلی چي هيڅ شك په کي نشته، هغه نېټه حتماً راتلونکې ده، د دوی په ژوند کي د اجل گڼ شمېر انکار نه منونکې ښېلگي شته، پيدايښت ئې، د مور په رحم کي پاته کېدا ئې، مرگ ئې، ټول د ثابت الهي اجل له مخي وو، بياژوندون به ئې هم دې ته ورته په خپلې نېټې وي، خو دغو ظالمانو د انکار لار غوره کړې او له دې پرته له بل هر څه ډډه کوي!!

قُل لَّوۡ أَنتُمۡ تَمۡلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحۡمَةِ رَبِّيٓ إِذٗا لَّأَمۡسَكۡتُمۡ خَشۡيَةَ ٱلۡإِنفَاقِۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ قَتُورٗا ﴿١٠٠﴾

ووایه: که تاسو زما د رب د رحمت خزانو واکمن وی نو د انفاق له وېرې به مو بخل کولو، او انسان ډېر کنجوس دئ.

(۱۰۰)- د دې مبارك آیت په مطلب او له مخکنیو سره تړاو باندې هغه مهال صحیح پوهېدی شو چې دې ته ورته آیات په پام کې ولرو، داسې آیات په هغو ځایونو کې راغلي چې د مخالفینو په دې چلن نیوکه شوې چې ویل ئې: الله تعالی ولې زموږ له منځه بل څوك د پیغمبرۍ لپاره نه دئ غوره کړی؟ ولې ئې دا دنده داسې چا ته نه ده سپارلې چې د نوم، شهرت، وجاهت او دولت خاوند وي؟ د دوی په ځواب کې ویل شوي: الله تعالی خپل فضل په خپله وېشي، دا وېش ئې بل چا ته نه دئ سپارلی، هغه پوهېږي چې څوك ئې د فضل مستحق دئ او وړتیا ئې لري، دلته هم د آیت مطلب همدا دئ، دوی د کوم معقول دلیل له مخې د رسول اللهﷺ د رسالت او دعوت مخالفت نه کوي، مخالفت ئې له دې کبله دئ چې دا فضیلت ئې پر نورو نه لوربېږي، نه غواړي د قوم زعامت او مشري د دوی له لاسه ووځي او د بل لاس ته ورشي، که څه هم دوی ئې وړتیا نه لري او بل ئې مستحق دئ، د دوی حالت داسې دئ چې که د الله تعالی د پراخو خزانو واك وروسپارل شي نو له دې وېرې چې د دوی برخه کمه نشي هیچا ته به څه ورنه کړي، دا د رسول اللهﷺ مخالف انسان سخت کنجوس دئ، د مخالفت اصلي وجه ئې همدا ده. په ورپسې آیت کې د موسی علیه السلام او د فرعون قصه د همدې پورتني مطلب لپاره د یوې تاریخي بېلګې په توګه وړاندې شوې، الله تعالی موسی علیه السلام د بني اسرائیلو د مظلوم ولس له منځه انتخاب کړ، څرګندې نښې او معجزې ورسره وې، خو فرعون د دې لپاره د هغه مخالفت ته کلکه ملا وتړله چې موسی علیه السلام او د ده دعوت ئې د خپل اقتدار لپاره ګواښ ګڼلو، د قریشو مشران د رسول اللهﷺ په اړه همغه څه کوي چې فرعون کول.

د دې یو مثال په لاندې آیت کې لیدلی شئ:

وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنَ ٱلۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيمٍ ﴿٣١﴾ أَهُمۡ يَقۡسِمُونَ رَحۡمَتَ رَبِّكَۚ نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُم مَّعِيشَتَهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ ... الزخرف: ۳۱-۳۲

او وئې ویل: ولې دا قرآن د دواړو کلیو په یوه ستر سړي نازل نشو، آیا ستا د رب رحمت دوی وېشي، په دنیا کې خو دا موږ یو چې د دوی تر منځ مو د دوی معیشت وېشلی...

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ تِسۡعَ ءَايَٰتِۭ بَيِّنَٰتٖۖ فَسۡـَٔلۡ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِذۡ جَآءَهُمۡ فَقَالَ لَهُۥ

فِرْعَوْنُ إِنِّي لَأَظُنُّكَ يَـٰمُوسَىٰ مَسْحُورًا ﴿١٠١﴾ قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ أَنزَلَ هَـٰٓؤُلَآءِ إِلَّا
رَبُّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَـٰفِرْعَوْنُ مَثْبُورًا ﴿١٠٢﴾ فَأَرَادَ أَن
يَسْتَفِزَّهُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ فَأَغْرَقْنَـٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ جَمِيعًا ﴿١٠٣﴾ وَقُلْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ لِبَنِيٓ
إِسْرَٰٓءِيلَ ٱسْكُنُوا۟ ٱلْأَرْضَ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ ٱلْـَٔاخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا ﴿١٠٤﴾

او يقيناً چي موسى ته مو نه ځرګندوونكي آيتونه (نښې) وركړل، نو له بني اسرائيلو وپوښته، چي كله ورغى نو فرعون ورته وويل: اې موسى! زه په كوډو د اخته شوي ګمان درباندې كوم، وئې ويل: ته ښه پوهېدلى يې چي دا د بصيرت رڼا د آسمانونو او زمكي له پالونكي رب پرته بل چا نه ده رالېږلې، او اې فرعونه! زه درباندې ګمان كوم چي تباه شوى يې، نو وئې غوښتل چي له زمكي ئې پښې ورسپكې كړي نو دى او ټول هغه مو غرق كړل چي ورسره ول، او تر ده وروسته مو بني اسرائيلو ته وويل: په دې زمكي كي مېشت شئ، نو كله چي د آخرت وعده راورسېږي ټول به په ګډه راولو.

(١٠١-١٠٤)- له پيغمبرانو عليهم السلام سره د اقتدار د خاوندانو د نه پخلا كېدونكي مخالفت يوه ځرګنده بېلګه له موسى عليه السلام سره د فرعون مخالفت دئ، هغه ته يوه نه بلكي نه (٩) ځلانده او انكار نه منونكې معجزې وركړى شوې وې، له بني اسرائيلو پوښتنه وكړه چي د ده په وړاندې د فرعون دريځ څنګه وو، آيا د ده پر ټولو معجزو ئې سترګې پټې نه كړې؟ آيا تر پايه ئې د موسى عليه السلام مخالفت ته دوام ورنه كړ؟ آيا موسى عليه السلام ته ئې د جادوګر، د جادوګرانو استاد او په جادو مبتلا خطاب ونه كړ؟ آيا موسى عليه السلام ورته ونه ويل: ته ښه پوهېدلى يې چي زما دا معجزې د هغه الله له لوري دي چي د آسمانونو او زمكي خالق او پالونكى دئ، داسي معجزې چي د بصيرت خاوندانو ته حقايق ځرګندوي؟ آيا فرعون ونه غوښتل چي موسى عليه السلام او بني اسرائيل د زمكي له سره ورك كړي؟ اې د قريشو مشرانو! دا همغه څه دي چي نن ئې تاسو له رسول اللهﷺ سره كوئ، خو په دې پوه شئ چي ستاسو پايله به هرو مرو همغسې وي چي فرعون ورسره مخامخ شو، دى او د ده پلويان مو غرق كړل او د فرعون تر واك او سلطې لاندې زمكه مو بني اسرائيلو ته په ميراث وركړه. لكه چي رسول اللهﷺ تاسو ته وايي چي د قيامت په ورځ به ټول له خپلو قبرونو راپاڅئ او د الله تعالى په وړاندې به راغونډ كړى شئ، بني اسرائيلو ته همدا خبره د موسى عليه السلام له لوري شوې وه.

وَبِٱلْحَقِّ أَنزَلْنَـٰهُ وَبِٱلْحَقِّ نَزَلَ ۗ وَمَآ أَرْسَلْنَـٰكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿١٠٥﴾ وَقُرْءَانًا فَرَقْنَـٰهُ
لِتَقْرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكْثٍ وَنَزَّلْنَـٰهُ تَنزِيلًا ﴿١٠٦﴾

او په حقه مو نازل کړی او په حقه نازل شوی، او ته مو یوازي یو زېری ورکوونکی او خبرداری ورکوونکی لیږلی یې، او قرآن مو ټوك ټوك کړ، ترڅو ئی په ځنډ ځنډ سره پر خلکو ولولې او په ځانګړي کوزولو سره مو راکوز کړ.

(۱۰۵-۱۰٦)- د دې مبارکو آیتونو په اړه دا خبري په پام کي ولرئ:

- ځینو درنو مفسرینو دا دواړه (انزلناه) او (نزل) قرآن ته راجع کړي، ځینو مخکني آیت ته په پام سره د موسی علیه السلام کتاب (تورات) ته راجع کړي، خو د کلام له فحوی داسي معلومېږي چي په دوی کي یو قرآن ته راجع دئ او بل تورات ته، یعني هغه مو هم په حقه نازل کړی وو او دا هم په حقه نازل شوی، څکه تر دې وړاندي لومړی د قرآن یادونه شوې، بحث ئی له ۸۸ آیت پیل شوی، د بحث په پای کي د موسی علیه السلام یادونه د یوه تاریخي مثال په توګه شوې.
- پیغمبر علیه السلام ته د مبشر: زېری ورکوونکی او نذیر: خبرداری ورکوونکی، القاب ورکړی شوي، چي دا ښیي د رسول اللهﷺ په دعوت کي هم زېري شته او هم ګواښونه او تهدیدونه، صالحانو ته زېري لري، په دنیا او آخرت کي د ښه ژوند او روښانه مستقبل، او بدانو ته په دنیا او آخرت کي د بدو پایلو انذار او خبرداری، د پیغمبرانو علیهم السلام اساسي دندي دا دي چي نېکانو ته په دنیا او آخرت کي د ښې او روښانه راتلونکي زېری ورکړي او بدان د خپلو ګناهونو له بدو پایلو ووېروي، پیغمبر هم بشیر وي او هم نذیر، د ده د دعوت وارثان به هم بشیر او هم نذیر وي، د بدانو او ظالمانو مخي ته به ودرېږي او د ظلم او فساد له بدو پایلو به ئي وېروي او مظلومانو ته به د حق لار ښیي او په سمه لار د تلو د نېکو پایلو زېری به ورکوي. که پیغمبرانو یوازي نېکانو ته د جنت زېری ورکولی، فضایل ئي بیانولی، په بدانو ئي غرض نه درلودی، دوی ئی د ظلم او فساد له بدو پایلو نه وېرولی، په دوی ئي نیوکي نه کولی، له ظلم او فساده لاس اخیستو ته ئي نه رابللی، نو هیڅکله به د دوی له مخالفتونو سره نه مخامخ کېدل. د پیغمبرانو علیهم السلام د ورثه وو دنده هم دا ده چي بشیر او نذیر به وي، چا چي هغه کار وکړ او دا نه، رښتینی وارث نه دئ، څوك چي د ظالمانو او بد کارانو له مخالفت سره مخامخ نه وو، د پیغمبرانو علیهم السلام په لار روان نه دئ.
- قرآن تدریجي او ټوك ټوك نازل شوی، د خلکو حالت او هغو پېښو ته په پام سره چي د ژوند په مختلفو پړاوونو کي ورسره مخامخ شوي، د تدریجي نزول یوه موخه دا وه چي خلك ئي په ځنډ ځنډ سره ترلاسه کړي او د هري برخي د پوهېدا او پلي کېدا لپاره مناسب وخت ورکړی شي، د نزول څرنګوالی ئي ډېر دقیق او حکیمانه وو. د قرآن په نورو آیتونو کي هم دې تدریجي نزول ته اشاره شوې ده، لکه دا آیت:

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلۡقُرۡءَانُ جُمۡلَةٗ وَٰحِدَةٗۚ كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَۖ وَرَتَّلۡنَٰهُ تَرۡتِيلٗا ﴿٣٢﴾

فرقان : ۳۲

او کافرانو وویل: ولي دا قرآن په یوه وار ټول یو ځای پر ده نه دئ نازل شوی؟ داسي مو وکړل تر څو ستا زړه پرې مضبوط کړو او ورو ورو ئي ولولو.

دا آیتونه په ډېر وضاحت سره ښیي چي د قرآن (نزول) تدریجي، ټوك ټوك، ورو ورو او له ځنډ او وقفې سره توأم وو او دا د هغو خلکو په رأیې د بطلان کرښه راکاږي چي پر پیغمبر علیه السلام د قرآن په یو وار او یو ځای نزول باور لري. شیعه او بریلویان په دې عقیده دي،

دا ځکه چي دواړه د قرآن د صريح او محکمو آيتونو خلاف په دې باور دي چي پيغمبران، ائمه او اولياء الله په غيب پوهيږي، دا انګېرنه د قرآن له تدريجي نزول سره مغايرت لري، د تدريجي نزول معنى دا ده چي رسول اللهﷺ د هري وحي له نزول مخکي نه پوهېدو چي راتلونکې وحي به څه مهال راځي او ده ته به څه لاربښووني له ځان سره لري، د دغو دواړو ډلو غلطه انګېرنه ښيي چي هغه له لومړۍ ورځي په ټولو اسرارو خبر وو او پوهېدو چي هره وحي به کله راځي او ده ته به څه لاربښوونه کوي!! دا په داسي حال کي چي الله تعالى رسول اللهﷺ ته فرمايي:

وَكَذَٰلِكَ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ رُوحٗا مِّنۡ أَمۡرِنَاۚ مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلۡنَٰهُ

نُورٗا نَّهۡدِي بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَاۚ وَإِنَّكَ لَتَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٢﴾

الشورى:٥٢

او همداسي مو تا ته له خپل لوري د يوه خاص امر وحي وکړه، ته نه پوهېدې چي کتاب څه دئ او نه د ايمان (په معنى او حقيقت) پوهېدې، خو موږ داسي نور وګرځاوو چي له خپلو بندګانو هغه څوك پرې هدايتوو چي غواړو ئې، او بې شكه چي ته د مستقيمي لاري خوا ته لاربښوونه کوې.

دا آيت په صراحت سره او په پرېکنده توګه وايي چي رسول اللهﷺ له بعثت مخکي نه د کتاب له څرنګوالي خبر وو او نه د ايمان په معنى او حقيقت پوهېدو. د رسول اللهﷺ ټول ژوند پر دې ګواهي ورکوي چي هغه نه په غيب پوهېدو او نه د راتلونکې وحي له وخت او څرنګوالي خبر وو، د قرآن ګڼ شمېر آيتونه همدغه خبره کوي.

هغه څوك چي اورېدلي ئې دي يا ګمان کوي او يا په تکلف سره هڅه کوي چي ثابت کړي؛ د انزال او تنزيل تر منځ توپير شته، يو ئې تدريجي راکوزېدل او بل ئې يو ځايي راکوزېدل افاده کوي، اشتباه ئې کړې او دا ځکه چي قرآن په ځای ځای کي د باران د ورېدو لپاره د (انزلنا) صيغه کارولې، چي په ټولو کي تدريجي وربښت ترې مراد دئ نه د ټولو اوبو يو ځايي راتوييدل. د دوی اصلي مشکل دا نه دئ چي د لغت په کوم کتاب کي ئې دا قاعده لوستلې، اصلي مشکل ئې دا دئ چي پيغمبرعليه السلام او ائمه عالم الغيب ګڼي او دا خبره د دوی له غلطي عقيدې سره سمون نه خوري چي پيغمبر عليه السلام په سر کي او د وحي په لومړۍ ورځ د قرآن له هغو برخو خبر نه وو چي وروسته وروسته پرې نازلي شوې. د غلطي عقيدې په نسبت جاهلانه تعصب دغسي وي، د دې په ځای چي خپله غلطه عقيده د سمي خبري په اورېدو سره تصحيح کړي برعکس سمه خبره غلطه توجيه کوي، حتى د قرآن خبره.

قرآن په دې خبري شهادت ورکوي چي پر پيغمبر عليه السلام باندي د وحي د نزول پيل د روژې په مبارکي مياشت کي او د ده د بعثت په لومړي شپه شوی، لکه چي فرمايي:

شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ ...

البقرة: ۱۸۵

د روژې مياشت هغه ده چې قرآن په کې نازل شوی، د خلکو لارښود، څرګندې لارښوونې او فرقان (د حق او باطل تر منځ د تفريق او توپير ذريعه).

او قرآن موږ ته وايي چې نږدې ۲۳ کاله وروسته او هغه مهال د قرآن نزول بشپړ شو چې رسول الله د حجة الوداع له سفره راستنېدو:

... ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ ... المائده: ۳

... نن مې ستاسو دين درته مکمل کړ، خپل نعمت مې درباندې بشپړ کړ او اسلام مې د دين په توګه درته غوره کړ...

آيا د قرآن دا صريح آيتونه کافي نه دي چې هغه خبره په دېوال ووهو چې وايي قرآن يو ځايي نازل شوی او پيغمبر په غيب پوه وو او پوهېدو چې وحي کله راځي او څه ورته راوړي!!

قُلۡ ءَامِنُواْ بِهِۦٓ أَوۡ لَا تُؤۡمِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ مِن قَبۡلِهِۦٓ إِذَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ يَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ سُجَّدٗا ﴿١٠٧﴾ وَيَقُولُونَ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِن كَانَ وَعۡدُ رَبِّنَا لَمَفۡعُولٗا ﴿١٠٨﴾ وَيَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ يَبۡكُونَ وَيَزِيدُهُمۡ خُشُوعٗا ۩ ﴿١٠٩﴾

ووايه: يا ايمان پرې راوړئ يا ايمان مه راوړئ (ستاسو خپله خوښه) يقيناً هغه چې تر دې وړاندې علم ورکړی شوی کله چې پرې ولوستل شي د سجدې په توګه زنو ته ټيټېږي، او وايي: زموږ رب ته پاکوالی دئ يقيناً چې زموږ د رب وعده حتماً ترسره کېدونکې ده، په داسې حال کې زنو ته نسکورېږي چې ژاړي، او ترهه ئې زياتوي.

(۱۰۷-۱۰۹)- ستاسو خپله خوښه چې ايمان پرې راوړئ او که ئې نه راوړئ، داسې د علم او پوهې خاوندان شته چې د دې کتاب د لارښوونو او موعظو په اورېدو سره نه يوازې ايمان راوړي بلکې داسې حالت پرې طارئ شي: سرونه ټيټ کړي، زنې ئې له سينو سره ولګېږي، اوښکې ئې بهېږي، زړه ئې له وېرې او خشوع درېږي، په خوله ئې دا وينا وي: سبحان الله، يقيناً چې زموږ د رب هغه وعدې حتماً ترسره کېدونکې دي چې په دې کتاب کې راغلې دي.

كه څه هم ځينو درنو مفسرينو په ډېر تكلف سره يخرون للاذقان سجداً پر زمكه تندى ايښودل ګڼلي خو دا تعبير له الفاظو سره اړخ نه لګوي، سجده په هر ځاى كي په دې معنى نشو نيولى. كه دلته له سجدې نه مراد تندى پر زمكه ايښودل وى نو د اذقان راوړلو ته څه ضرورت نه وو.

قُلِ ٱدۡعُواْ ٱللَّهَ أَوِ ٱدۡعُواْ ٱلرَّحۡمَٰنَۖ أَيّٗا مَّا تَدۡعُواْ فَلَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَٱبۡتَغِ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلٗا ﴿١١٠﴾

ووايه! يا الله دروبولئ يا رحمن ته دعاء وكړئ، په هر يوه چي ئې دربولئ، ده لره ښايسته او غوره نومونه دي او مه دي دعاء په لوړ آواز كوه او مه ئې پټوه، (بلكي) د دواړو ترمنځ وسط لاره غوره كړه.

(۱۱۰)- په دې مبارك آيت كي څو مهمي مهمي لارښووني زموږ په وړاندي ځلېږي چي د تفصيلي بحث غوښته كوي:

- موږ ته لارښونه كوي چي د دعاء په وخت كي بايد الله تعالى په خپلو غوره نومونو سره ياد كړو، الله تعالى نېك او غوره نومونه لري، بايد په همدغو نومونو ياد شي او دعاء ورته وشي، په هري دعاء كي ئې هغه نوم ياد شي چي زموږ له دعاء او غوښتني سره مناسبت ولري، د مثال په توګه يا رحمن ارحمني: اې مهربانه ربه پر ما رحم وكړې، ياحفيظ احفظني: اې ساتونكي ربه ما وساتې.
- د الله تعالى په وړاندي دعاء كي بايد هغه طريقه غوره كړو چي په دغه مبارك آيت كي ئې موږ ته لارښوونه شوې: نه به په ډېر لوړ غږ دعاء كوو او نه په ډېر ټيټ، بلكي د دواړو ترمنځ به متوسطه لاره غوره كوو. په دې اړه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

أيها الناس أربعوا على أنفسكم، فإنكم ما تدعون أصم ولا غائباً، إنما تدعون سميعاً بصيراً إن الذي تدعون أقرب إلى أحدكم من عنق راحلته. رواه احمد

اې خلكو! پرخپل ځان نرمي وكړئ "او په لوړ غږ د دعاء لپاره پر ځان زياتى مه كوئ" ځكه تاسي نه كوڼ ته دعاء كوئ او نه غائب ته، بلكي هغه چا ته دعاء كوئ چي اورېدونكى او ليدونكى دئ، تاسي چي كوم ذات ته سوال كوئ هغه ستاسو هر يوه ته د خپلي سورلى تر غاړي ډېر درنږدې دئ.

قرآن موږ ته لارښوونه كوي چي نه يوازي د دعاء په وخت كي به د دعاء ضروري آداب مراعاتوو بلكي الله تعالى به په ښكلو نومونو يادوو او د الله په نوموني كي به له انحراف او له ځانه د اسماوو او صفاتو له ايښودلو ډډه كوو.

وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١٨٠

الاعراف: ۱۸۰

او الله لره غوره نومونه دي نو په دغو نومونو سره ئي دروبلئ او هغه کسان پرېږدئ چي د ده په نومونو کي الحاد کوي (په کږه ځي)، حتماً به د خپلو کړنو له امله سزا ورکړی شي.

مخکي له دې چي د دې آيت د تفسير په اړه څه ووايو بايد دا واضح کړو چي ځيني خلك دا ادعاء کوي چي الله تعالی به يوازي په هغو نومونو يادوو چي په قرآن او حديث کي راغلي، له عربي نومونو پرته په نورو نومونو ئې يادول جائز نه دي!! دا نومونه نورو ژبو ته ژباړل هم جائز نه ګڼي!! راشئ وګورو چي آيا الله تعالی د خدای په نامه يادول جائز دي؟ آيا له آدم عليه السلام تر نن پوري په ټولو الهي کتابونو کي خدای د الله په نامه ياد شوی؟ آيا له آدم عليه السلام تر عيسی عليه السلام پوري ټولو پيغمبرانو او د دوی امتونو خدای د الله په نامه ياد کړی؟ آيا د دوی ژبه عربي وه، او پر دوی نازل شوي کتابونه په عربي ژبي نازل او الله تعالی ئې په همغو نومونو ياد کړی چي په قرآن کي ياد شوی؟ دې پوښتنو ته د ځواب لپاره بايد ووايو:

- هر پيغمبر چي په کوم قوم کي مبعوث شوی نو پر هغه نازل شوی کتاب او صحيفه هم د ده د قوم په ژبه وو او الله تعالی په هغو نومونو ياد شوی چي دغو خلکو د الله تعالی لپاره د کتاب له نازلېدو مخکي وضع کړي وو او په دغو کتابونو کي الله تعالی په هغو صفاتو ستايل شوی چي دا قوم پرې پوهېدو او په دوی کي معمول ول، نه د الهي کتاب کوم لفظ ورته نامأنوس او پردی وو او نه د الله تعالی کوم نوم او صفت.
- آدم عليه السلام او تر ده وروسته ټولو پيغمبرانو لکه: نوح، ابراهيم، اسحاق، يعقوب، يوسف، موسی، هارون، يونس، داؤد، سليمان او عيسی عليهم السلام هيڅ يوه خدای جل شأنه د الله په نامه نه دئ ياد کړی، او په هغو صفاتي نومونو ئې نه دئ ستايلی چي الله تعالی په قرآن کي پرې ستايل شوی. بلکي هم ئې الله تعالی د خپل خپل قوم د ژبي په نومونو ياد کړی او هم ئې د الله تعالی صفتونه او صفاتي نومونه د خپلي ژبي له قاموس نه غوره کړي.
- که الله تعالی په پښتنو کي کوم پيغمبر مبعوث کړی وی او پر هغه ئې کتاب نازل کړی وی نو دا کتاب به پښتو وو او الله تعالی به د خدای په نامه يادېدو او صفتونه به ئې دې ته ورته ول: پالونکی، ساتونکی، څارونکی، بخښونکی، خاوند، څښتن، او ټول هغه نومونه به په پښتو کي وو چي اوس په عربي کي ورته راغلي. که دا کار شوی وی، هم پيغمبر پښتون وی او هم د الله له لوري لېږل شوی کتاب او هم د الله تعالی نومونه، او بيا چا ويلي وی چي خدای به يوازي د پښتو په نومونو يادوو او په پښتو صفتونو به ئې ستايو او خدای د الله په نامه يادول او په هغو صفاتو ئې ستايل چي اوس په عربي کي پرې ستايل کېږي حرام او ناروا کار دئ!! نو ووايئ چي د دې کس وينا به څومره صحيح وه؟! او ديني او علمي ارزښت به ئې څومره وو؟ په دې کي هيڅ شك نشته چي دا ادعاء خوشي، بې بنسټه او له خپله ځانه جوړه شوې ده، يوازي کمعقله او کمعلمه خلك به دا خبره کوي چي الله تعالی د خدای په نامه يادول حرام دي!! له عربو پرته هيڅ قوم، هيڅ پيغمبر او هيڅ الهي کتاب خدای د الله په نامه نه دئ ياد کړی. الله تعالی د خدای په نامه يادول نه يوازي جائز دي بلکي د الله تعالی ټول نومونه او صفات له عربي ژبي بلي ژبي ته ژباړل ضروري دي او له دې پرته بله چاره نشته، که دا کار ونه شي نو له عربو پرته به

هيڅوك نه خداى پيژندى شي او نه د هغه صفات. څنگه به يوه چينايي، روسي، انگريز او نورو ته ښيو چي الله يعني څه، د رب، مالك، غفار، قهار، رحمان، رحيم، كريم،... معنى څه ده؟ آيا له ژباړي پرته بله چاره شته؟! كه څوك ووايي چي خداى د الله په نامه يادول غوره دي، په دې خبري هيڅ اعتراض نه لرو، خو كه ووايي چي الله د خداى په نامه يادول حرام دي نو دا د هغه چا خبره گڼو چي ډېر كمعقله او بې علمه وي او له خانه حلال او حرام جوړوي، كه څوك ووايي چي مأثوره دعاگاني غوره دي؛ ورسره موافق يو، خو كه ووايي چي په پښتو او له عربي پرته په بله ژبه دعاء كول ناروا دي؛ خبره ئې واهي او چټي ده او هيڅ ارزښت نه لري. څوك چي په عربي نه پوهېږي نو په خپلي ژبي ئې دعاء كول تر دې ډېر غوره دي چي په هغو الفاظو دعاء وكړي چي په معنى ئې نه پوهېږي.

قرآن موږ ته هغه نومونه راښودلي چي بايد خپل رب پرې ياد كړو، د الله تعالى هر نوم د يوه الهي صفت ښوونه كوي، موږ د الله تعالى نومونه او صفات د هغه كتاب له لارى پيژندلى شو چي الله تعالى نازل كړى او رسولﷺ ته ئې د هغه علم وركړى، له دې پرته د الله تعالى د نومونو او صفاتو د پيژندلو بله صحيح لاره نشته. خو تاسو پوهېږئ چي الهي كتابونه د مختلفو قومونو په ژبه نازل شوي او په هر يوه كي الله تعالى په بېلو بېلو نومونو ياد شوى، كه څه هم په دغو الهي كتابونو كي د الله تعالى د نومونو الفاظ مختلف دي، خو معنى او مفهوم ئې يو دئ، دا نومونه په قرآنكريم، تورات، انجيل او زبور كي په يوه ډول الفاظو ندي ياد شوي، لدې معلومېږي چي پدغو نومونو كي ترټولو د پام وړ خبره هغه صفات دي چي دا نومونه ئې په گوته كوي.
په قرآنكريم كي له ذكر شوو نومونو علاوه، الله تعالى نور نومونه هم لري چي يا ئې په نورو آسماني كتابونو كي ذكر كړي دي او يا ئې له ځان سره ساتلي او هيڅ څوك ئې ندئ پرى خبر كړى، لكه چي رسول اللهﷺ فرمايي:... اَسْأَلُكَ بِكُلِ اسم هوَ لك سميْتَ به نفسك اوعلمْته احداً مِنْ خلقك اوانزلْته في كتابك اوْ اسْتأثرتَ به في عِلمِ الغيْب عندك* رواه احمد
الهي! په هر هغه نوم دي سوال درته كوم چي ځان دي پرې نومولى، يا دي خپل كوم مخلوق ته وربښودلى او يا دي په خپل كتاب كي نازل كړى او يا دي په خپل علم غيب كي چي له تاسره دئ ځانته ځانگړى او خاص كړى.

لدې مبارك حديث څخه دا څرگندېږي چي د الله تعالى نومونه محدود نه دي، يو شمېر ئې پدې كتاب كي ذكر شوي او نور ئې په نورو كتابو كي راغلي دي، ځيني ئې پيغمبرانو عليهم السلام ته وربښودلي او ځيني ئې الله تعالى له خپل ځان سره ساتلي او هيچا ته يې نه دي ښودلي، دا ټول نېك او پاك نومونه داسي صفات په گوته كوي چي الله تعالى ورباندي متصف دئ. د مثال په توگه السميع، يعنى هغه ذات چي اورېدونكي دئ، البصير: هغه ذات چي ليدونكي دئ، الرحمن: هغه ذات چي ډېر مهربان دئ. خو هغه نومونه چي د ده په علم غيب پوري منحصر بلل شوي دا نومونه د الله تعالى داسي صفات افاده كوي چي انسان پرې نه پوهېږي.
خو دا چي د الله تعالى په نوموني كي له كوږوالي نه مراد څه دئ؟ آيا په قرآن او حديث كي له راغلو عربي نومونو پرته په بل نامه د الله تعالى يادول الحاد دئ؟ ځيني خلك په دې اړه زياته غلو كوي او الله تعالى له عربي نومونو پرته په بل نامه يادول او بلي ژبي ته د الله تعالى د نومونو ژباړه حرام او ناروا گڼي!! حال دا چي الله تعالى په داسي نومونو يادول حرام دي

چې له ده سره نه ښايي، د ده صفت نشي منعكس كولى، غلطه او ناقصه معنى وركوي، په غلطو مواردو كې كارول كېږي لكه: معشوق، جانان، نګار، صنم، ساقي، پيرمغان او دې ته ورته نومونه، هغه نومونه چې مختلف قومونه ئې د الله تعالى لپاره كاروي لكه خداى او GOD، او له عربي نه نورو ژبو ته د الله تعالى د نومونو ژباړه لكه د مالك په ځاى څښتن يا خاوند، د رب په ځاى پالونكى، د حفيظ په ځاى ساتونكى؛ نه يوازې څه مانع نه لري بلكې د الله تعالى د نومونو او صفاتو په حقيقي معنى د ښه پوهېدو لپاره ضروري او ګټور دي، الله تعالى په خپله دا كار كړى، په تورات، زبور او انجيل كې چې كوم نومونه راغلي وو، په قرآن كې ئې هغه موږ ته په عربي ژبې كې بيان كړي. كه قرآن په پښتو نازل شوى وى نو د الله تعالى ټول نومونه به په پښتو كې وو، بيا به پښتنو اهل ظاهرو ويل: له پښتو څخه عربي ته د الله تعالى نومونه ژباړل او څښتن تعالى د الله او مالك په نامه يادول منعه دي!!

وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلِيّٞ مِّنَ ٱلذُّلِّۖ وَكَبِّرۡهُ تَكۡبِيرَۢا ﴿١١١﴾

او ووايه: ستايني هغه الله ته دي چې نه ئې زوى نيولى، نه په ملك كې كوم شريك ورته شته، او نه د ناتوانۍ له كبله كوم ولي او مرستندوى ورته شته، او په لوى يادولو سره ئې ستر ګڼه.

(١١١)- دا مبارك آيت چې د سورې وروستى آيت او د ټولو مضامينو لپاره ئې ډېره ښكلې او موزونه تتمه ده؛ د قرآن هر مخاطب ته د څو خبرو كولو او پر هغوى باور لرلو لارښوونه كوي:

- ستايني ټولې الله لره دي.
- زوى او ځاى ناستى نه لري.
- په خپل ملك او واكمنۍ كې هيڅ شريك نه لري.
- د هيڅ كار په سرته رسولو كې د بل مرستې ته اړ نه دئ.
- په لوى لوى يادولو سره ئې ستر ګڼه.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

الکهف

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکي سورې نوم الکهف دئ چي له نهم آيت اخيستل شوی، دا د سورې د مضامينو لپاره عنوان نه بلکي يوازې نوم دئ، يو سل لس آيتونه لري، د ټولو آيتونو فواصل ئې سره ورته او د عوجاً، حسناً او ولداً په څېر دي. د سورې له مضامينو داسي معلومېږي چي دا د مکي دور په هغو کلونو کي نازله شوې چي قريشو د رسول الله ﷺ او د ده د يارانو په ضد د تشدد لار غوره کړه، دومره چي ځيني مجبور شول مکه پرېږدي او هجرت وکړي، په دې سورې کي د اصحاب کهف قصه په همدې مناسبت راغلې.

په دې مبارکي سورې کي پنځه قصې زموږ مخي ته راځي، يوه ئې د اصحاب کهف د مؤمنو زلميانو او د دوی د مشرك او ظالم قوم تر منځ د مبارزې قصه، بله ئې د يوه مشرك شتمن او مؤمن نيستمن د عبرتناکي مرکې او محاورې قصه، بله ئې د خضر عليه السلام او موسی عليه السلام د ګډ سفر قصه، بله ئې د ذوالقرنين د سترو سترو فتوحاتو قصه او پنځمه ئې د انسان د پيدايښت هغه قصه چي ملائکو د ده په وړاندي سجده وکړه او ابليس سرغړاوی وکړ؛ په حقيقت کي دا سوره د همدې پنځو قصو مجموعه ده، خو لنډي لنډي، ډېرښکلې، اغېزناکي او عبرتناکي قصې، الفاظ ئې جامع، اسلوب ئې ډېر جذاب او جالب، په هري يوې کي ګڼ شمېر مهم مهم درسونه او ګټوري لارښووني، دا قصې د دې سورې د محوري او اساسي موضوعاتو لپاره د تاريخي بېلګو په توګه وړاندي شوې، د سورې محوري موضوعات په لومړيو آيتونو کي په اجمال سره په دې توګه راغلي:

- الله تعالی پر خپلو بندګانو ستره پېرزوينه وکړه چي پر خپل پيغمبر ئې دا کتاب راولېږو، د دې ستري پېرزوينې تقاضاء دا ده چي د الله تعالی شکر پر ځای کړئ او ستاينه ئې وکړئ.
- دا کتاب قيم دئ، ويناوې ئې سمي او پخې دي، له کږو او خامو خبرو خوندي دئ.
- موخه ئې دا ده چي له يوې خوا نېك عمله مؤمنانو ته دا زېری ورکړي چي غوره اجر به ئې په برخه شي، تر ابده به په هغه کي پاته کېدونکي وي، او له بلې خوا هغه وګړي ووېروي او د شديد عذاب خبرداری ورکړي چي وايي: الله زوی او ځای ناستی ځان ته غوره کړی، دا خبره يا په ناپوهۍ سره کوي، نه دوی پری څه علم لري او نه ئې پلرونه، يا ئې له ځانه په دروغو جوړه کړې، او دا ستره غلطه او دروغجنه وينا ده چي له خولو ئې وځي.

- **دا د اهل کتابو اړوند قصې دي او د هغوی په مذهبي او تاريخي کتابونو کې ئې يادونه شوې، او قريشو د يوه شرارت په موخه له رسول اللهﷺ په دې اړه پوښتنې کړې او غوښتل ئې رسول اللهﷺ د دغو قصو په اړه داسې څه ووايي چې د اهل کتابو له ويناوو او تاريخي څرګندونو سره توپير ولري چې بيا ئې د يوې تبليغاتي حربې په توګه وکاروي او خلکو ته ووايي: دا دئ محمد (عليه السلام) د دغو تاريخي قصو په اړه د مخکنيو الهي کتابونو خلاف خبرې کوي!! د دې سورې له ۸۳ آيت چې وايي:** وَ يَسئَلُونَكَ عَن ذِى الْقَرْنَينِ قُلْ سأَتْلُوا عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكراً* **همدا خبره معلوميږي.**

ځينې وايي چې رسول اللهﷺ د دوی د پوښتنو په ځواب کې ويلي: سبا به د دې پوښتنو ځواب درکړم، ګواکې انتظار ئې دا وو چې د وحي له لارې به د دغو قصو تفصيل وروښودل شي خو داسې ونشول او څو ورځې وحي وځنډېده، خو د دې رأيې لپاره نه يوازې کوم واضح شاهد نه مومو بلکې د همدې سورې له پورتني آيت سره تعارض لري. ځکه په دې آيت کې رسول اللهﷺ ته ويل شوي: ژر به د هغه په اړه ځينې يادونې دروواوروم.

د دغو قصو په ترڅ کې د مکې د هغه مهال حالت، د رسول اللهﷺ او د ده د يارانو وضعيت، د قريشو دريځ او د مؤمنانو په ضد د دوی کړنې په داسې حکيمانه، جالبې او جامع بڼې کې انځور شوي چې نه يوازې حقايق د هر مخاطب مخې ته ږدي او د قريشو ټول غلط عقايد او بې بنسټه انګېرنې ترديدوي بلکې دوی او د دوی باورونه، تګلارې او کړنلارې د دغو قصو له هغو لوريو سره ورته ثابتوي چې د باطل پلوي ئې کړې وه او له بدو پايلو سره مخامخ شوي وو.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ﴿١﴾ قَيِّمٗا لِّيُنذِرَ
بَأۡسٗا شَدِيدٗا مِّن لَّدُنۡهُ وَيُبَشِّرَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمۡ
أَجۡرًا حَسَنٗا ﴿٢﴾ مَّٰكِثِينَ فِيهِ أَبَدٗا ﴿٣﴾ وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدٗا ﴿٤﴾
مَّا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٖ وَلَا لِأٓبَآئِهِمۡۚ كَبُرَتۡ كَلِمَةٗ تَخۡرُجُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡۚ إِن

يَقُولُونَ إِلَّا كَذِبًا ﴿٥﴾

ستايني هغه الله ته دي چي پر خپل بنده ئي دا کتاب نازل کړ چي سم او پوخ دئ او هيڅ کوږوالی ئي نه دئ ورته پرېښی، تر څو د خپل شديد عذاب خبرداری ورکړي او هغو مؤمنانو ته چي نېك عملونه کوي د دې زېری ورکړي چي غوره اجر به ئي په برخه شي، تر ابده په هغه کي پاته کېدونکي، او هغه وګړي ووېروي چي وايي: الله زوی نيولی، په داسي حال کي چي نه دوی پرې څه علم لري او نه ئې پلرونه، ستره (غلطه) وينا ده چي له خولو ئې وځي، دوی له درواغو پرته بل څه نه وايي.

(١-٥)- دا مبارك آيتونه د دې سورې محوري او اساسي موضوعات په دې توګه زموږ مخي ته ږدي:

- الله تعالی پر خپلو بندګانو ستره پېرزوينه وکړه چي پر خپل پيغمبر ئي دا کتاب راولېږو، د دې ستري پېرزويني تقاضاء دا ده چي د الله تعالی شکر پر ځای کړئ او ستاينه ئي وکړئ.
- دا کتاب قيم دئ، ويناوي ئي سمي او پخي دي، له کږو او خامو خبرو خوندي دئ.
- موخه ئي دا ده چي له يوې خوا نېك عمله مؤمنانو ته دا زېری ورکړي چي غوره اجر به ئي په برخه شي، تر ابده به په هغه کي پاته کېدونکي وي، او له بلې خوا هغه وګړي ووېروي او د شديد عذاب خبرداری ورکړي چي وايي: الله زوی او ځای ناستی ځان ته غوره کړی، دا خبره يا په ناپوهی سره کوي، نه دوی پرې څه علم لري او نه ئي پلرونه، يا ئي له ځانه په دروغو جوړه کړې، او دا ستره غلطه او دروغجنه وينا ده چي له خولو ئي وځي.

فَلَعَلَّكَ بَـٰخِعٌ نَّفۡسَكَ عَلَىٰٓ ءَاثَـٰرِهِمۡ إِن لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ بِهَـٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَسَفًا ﴿٦﴾ إِنَّا جَعَلۡنَا مَا عَلَى ٱلۡأَرۡضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبۡلُوَهُمۡ أَيُّهُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلاً ﴿٧﴾ وَإِنَّا لَجَـٰعِلُونَ مَا عَلَيۡهَا صَعِيدًا جُرُزًا ﴿٨﴾

نو ښايي ته به په دوی پسي د دې انديښني او تأسف له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوونکی شې، چي پر دې وينا (قرآن) ايمان نه رواړي، يقيناً چي موږ ټول هغه څه چي پر زمکه دي د هغې سينګار ګرځولي، تر څو دوی پرې وآزمويو چي کوم يو ئي د عمل له پلوه غوره دئ، او موږ له ټولو هغو شيانو تش ډاګ جوړوونکي يو چي د پاسه ئي دي.

(٦-٨)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- رسول اللهﷺ د داسي زړه سواند او مهربان داعي په توګه معرفي کوي چي په ډېر تلوار او تلوسي سره د خلکو د هدايت هڅه کوي، ګام په ګام ورپسي دئ، د دوی له بدي وضعي دومره پرېشان او په ايمان نه راوړو ئي دومره خفه او متأسف دئ چي نږدې ده زړه ئي وچوي.
- خو د ده ناپوه مخاطبين داسي دي چي د دنيا مال او متاع مشغول کړي، همدا ئي وروستی هدف دئ، د هغه

څه په اړه بې باکه او بې پروا دي چې الله تعالى، د هغه پيغمبر او د دوی فطرت ئې ترې غواړي، دوی له وسيلې هدف جوړ کړی، دا په داسي حال کي چې الله تعالى د زمکي پر سر هر څه د دې لپاره پيدا کړي چې دوی د ژوند په امتحان کي بريالي شي، دا ثابته کړي چې د الله تعالى نېك بندګان او غوره مخلوق دي.

- له هغي ورځي غافل دي چې د زمکي د سينګار اسباب به الله تعالى له منځه يوسي، زمکه به په داسي تش او سپېره ډاګ بدله کړي چې نه بوټی ورباندي وي، نه ونه او نه د دوی بنګلې.

أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ وَٱلرَّقِيمِ كَانُوا۟ مِنْ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا ﴿٩﴾ إِذْ أَوَى
ٱلْفِتْيَةُ إِلَى ٱلْكَهْفِ فَقَالُوا۟ رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا
﴿١٠﴾ فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ فِى ٱلْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا ﴿١١﴾ ثُمَّ بَعَثْنَٰهُمْ لِنَعْلَمَ أَىُّ
ٱلْحِزْبَيْنِ أَحْصَىٰ لِمَا لَبِثُوٓا۟ أَمَدًا ﴿١٢﴾

آيا ګمان دي کړی چې اصحاب کهف او رقيم زموږ له عجيبو نښو څخه ول؟ هغه مهال چې دغو زلميانو هغي سمڅي ته پناه يووړه او وئې ويل: اې زموږ ربه! له خپل لوري رحمت راباندي وکړه او زموږ په کار کي لارښوونه راپه برخه کړه. نو څو کاله مو په سمڅي کي د دوی غوږونه دپ کړل، بيا مو راپاڅول چې وګورو له دواړو ډلو کومه يوه ئې د دوی د پاته کېدا د مودې ښه شمېرونکې ده!!

(۹-۱۲)- د دې آيتونو په اړه لاندي خبري په پام کي ولرئ:

- ~~تول مفسرين پر دې متفق دي چې (کهف) د يوه غره هغه سمڅه ده چې د مؤمنو ځوانانو يوه تولګي پناه~~ ورووړې وه، ګڼ شمېر کالونه ئې په خوب ويده تېر کړي، داسي مهال ببرته راويښ شوي چې نه د دوی د پېړۍ خلك تر سترګو کېدل او نه هغه سکې چې مخکي چلېدې. دوی څو کسان ول، څومره کلونه ئې په ويدو تېر کړي، دا ځای چېري دئ، د رقيم معنى څه ده؟ په دې اړه بېل بېل آراء وړاندي شوي.
- د رقيم په اړه عبدالله بن عباس ﷺ ته درې متعارض اقوال منسوب شوي: دا د کلي نوم وو، دا د درې نوم وو او دا چې زه نه پوهېږم چې د کوم کتاب نوم دئ که د کوم بنيان!! غوره رأيه دا ده چې دا پر ډبري ليکل شوې کومه ليکنه (رقيم) وه، چې د همدې سمڅي (کهف) په خوله کي نصب شوې وه. کېدی شي د سمڅي خوا ته کلی يا هغه دره وروسته وروسته د دې ليکني له کبله د رقيم په نامه ياده شوې وي.
- مه دا ګمان کوه چې اصحاب کهف په خپله د الله تعالى کوم عجيب غوندي مخلوقات ول او مه د دوی اړوند قصه عجيبه او ناشونې ګڼه.
- دوی څو زلميان ول، د ايمان له کبله له ستونزو سره مخامخ شوي وو، د خپل ولس له دين او نظام په بغاوت تورن شوي ول، مجبور شول خپل کلی کور پرېږدي او د يوه غره سمڅي ته پناه يوسي، او خپل رب ته داسي دعاء وکړي: اې زموږ ربه! له خپل لوري رحمت راباندي وکړه او زموږ په کار کي لارښوونه راپه برخه کړه. د آيتونو له فحوی او د دعاء له الفاظو معلومېږي چې دوی له يوې خوا غوښتي چې الله تعالى پرې رحم وکړي او ستونزي ئې ورته حل کړي او له بلي خوا ئې ترې غوښتي چې د دعوت په کار کي د دوی مزيد

لارښوونه وکړي او هدف ته د رسېدو لار ورته پرانېزي.

• الله تعالی د دوی دعاء قبوله کړه، څو کاله ئي په هغي سمڅي کي په داسي ژور خوب ويده کړل چي غوږونو ئي هيڅ نه اورېدل، بيا ئي راپاڅول چي معلومه کړي له دوارو ډلو کومه يوه ئي د دوی د پاته کېدا د مودي ښه شمېرونکي ده!! له دي الفاظو څو خبري معلومېږي: ١- د دوی قوم آخرت او بيا ژوندون نه منلو، له دې مؤمنو ځوانانو سره ئي په دې اړه مخالفت کولو، او ورته ويل ئي چي انسان به له مړيني وروسته او په داسي حال کي چي اوږده موده پرې تېره شوې وي څنګه بيا راژوندی کېږي؟!! د دغو ځوانانو دا اوږد خوب او په داسي حال کي بېرته راپاڅېدل چي د دوی د پېږی هيڅوك ژوندی نه وو پاته، د بياژوندون لپاره د څرګند دليل په توګه وړاندي شوی. ٢- قريشو هم له رسول اللهﷺ او هغو زلميانو سره چي پر ده ئي ايمان راوړی وو دې ته ورته مخالفت کولو او همغه څه ئي ورسره کول چي د اصحاب کهف قوم له هغوی سره کول. دوی هم آخرت او بياژوندون نه منلو، دوی هم مسلمانان دومره تنګ کړي ول چي مجبور ول مکه پرېږدي او کوم داېمن پناه ځی ته پناه يوسي او د هجرت لار غوره کړي. ٣- قريش بايد پوه شي چي الله تعالی به مسلمانان همداسي ژغوري لکه اصحاب کهف چي ئي وژغورل. ٤- مسلمانان دي مطمئن وي چي الله تعالی به خپل رحمت پرې نازلوي، هدف ته د رسېدو لاري به ئي پر مخ پرانېزي، او پر دښمنانو به برې ورپه برخه کوي. ٥- له دوو ډلو څخه مراد اصحاب کهف او د دوی مخالفين دي، يوه د مرګ په خوب ويده شوې او بله په داسي ښکلي ژور خوب چي بېرته راپاڅېدلي، خو نه پوهېږي چي څومره موده پرې تېره شوې او دا د دې لپاره چي الله تعالی غوښتل د دوی د قوم او د آخرت او بياژوندون د ټولو منکرينو دا پوښتنه ځواب کړي چي بياژوندون ئي نه منلو، د همدي لپاره ئي دوی په اوږده خوب ويده کړل، اوږده موده وروسته ئي بيا راپاڅول، يوه بل ته ويل: دلته څومره وځنډېدو؟ ځواب ئي ورکړ: نه پوهېږم، ښايي يوه ورځ يا څو د يوې ورځي يوه برخه، يوه ئي وويل: الله تعالی ښه پوهېږي چي څومره ځنډېدلي يو، او تاسو پوهېږئ چي يوه له هغو خبرو چي د بيا ژوندون په اړه د انسان ذهن تر خپل سيوري لاندي نيسي او باور کول ورته ګرانوي، د اوږدې زماني تېرېدل دي، که په يوه مړي يوه دوه ورځي تېري شوې وي بياژوندی کېدل ئي ورته دومره ګران نه برېښي لکه د هغه چي اوږده موده ورباندي تېره شوې وي، د د غي قصي په ترڅ کي ويل شوي چي زمانه نسبي امر دئ، له يوه تر بل او له يوه حالت تر بل ئي وضع بدلېږي، ويښ او ويده، مړ او ژوندی، لټ او تېز ته يو شان نه وي، دا دئ ګورئ چي پر يوې ډلي کلونه کلونه په خوب کي تېر شوي خو هم روغ رمټ پاته شوي او هم نه دي پوهېدلي چي څومره وخت پرې تېر شوی، قرآن دغه حقيقت ته په څو نورو مواردو کي هم اشاره کړي او فرمايي: د الله لپاره يوه ورځ هومره ده لکه ستاسو پنځوس زره کاله، دا تاسو يئ چي کلونه او پېړی درته اوږده زمانه برېښي او په واړه ذهن مو د دې سيوری پروت دئ چي په مړو باندي د اوږدې مودي له تېرېدو وروسته به څنګه بيا راژوندی کېږي. دوهم څه چي په دې اړه د انسان ذهن ته راځي هغه دا دئ چي په مرګ سره د انسان ټول بدن په خاورو بدل شي، د اوږدې زماني په تېرېدو سره ئي له غوښي او هډوکو هيڅ اثر پاته نشي، دا به څنګه بېرته راژوندی کېږي؟ په دې قصي کي ښودل شوې چي الله تعالی ته هم د انسان د وجود روغ رمټ ساتل ممکن او آسان دي او هم د ده روح، که اصحاب کهف د اوږدې مودي لپاره د خوب په حالت کي ژوندي ساتلی شي نو د مړو د روح ژوندی ساتل به هغه ته څه ګرانه وي؟!! په دې اړه د مزيد معلومات لپاره د البقره د سورې ٢٥٩ آيت تفسير ته مراجعه وکړئ. ٦- له دغو آيتونو دا هم معلومېږي چي د انسان د ډېر ژور خوب حالت هغه دئ چي غوږونه ئي له اورېدو ولوېږي، په سطحي خوب کي د انسان غوږونه په نسبي توګه ويښ وي او د غږ په وړاندي عکس العمل ښيي، هر څومره چي خوب ژور کېږي د غوږونو حساسيت هم کمېږي، او دا هم هغه حقيقت دئ چي علم اوس پرې پوه شوی، او دا ښيي چي قرآن د خپلو مطالبو په بيانولو کي څومره دقيق دئ!! يقيناً چي دا د قرآن يو علمي اعجاز دئ.

نَّحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ نَبَأَهُم بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى ﴿١٣﴾

وَرَبَطۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ إِذۡ قَامُواْ فَقَالُواْ رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ لَن نَّدۡعُوَاْ مِن
دُونِهِۦٓ إِلَٰهٗاۖ لَّقَدۡ قُلۡنَآ إِذٗا شَطَطًا ﴿١٤﴾ هَٰٓؤُلَآءِ قَوۡمُنَا ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗۖ
لَّوۡلَا يَأۡتُونَ عَلَيۡهِم بِسُلۡطَٰنِۭ بَيِّنٖۖ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا ﴿١٥﴾ وَإِذِ
ٱعۡتَزَلۡتُمُوهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأۡوُۥٓاْ إِلَى ٱلۡكَهۡفِ يَنشُرۡ لَكُمۡ رَبُّكُم مِّن
رَّحۡمَتِهِۦ وَيُهَيِّئۡ لَكُم مِّنۡ أَمۡرِكُم مِّرۡفَقٗا ﴿١٦﴾

موږ د دوی قصه په رښتیني توګه درته بیانوو، دوی یوه داسي ډله وه چي په خپل رب ئې ایمان راوړ او لازیات مو هدایت کړل او د دوی زړونه مو ورمضبوط کړل، هغه مهال چي پاڅېدل او وئې ویل: زموږ رب همغه دئ چي د آسمانونو او زمکي رب دئ، له ده پرته به هیڅ معبود ونه لمانځو (مرسته به ترې ونه غواړو) یقیناً چه هغه مهال به مو خوشې او پوچه خبره کړې وي، زموږ دغه قوم خو له ده پرته نور معبودان غوره کړي! ولي کوم څرګند دلیل نه پرې وړاندي کوي؟! نو تر هغه چا به ستر ظالم څوك وي چي پر الله دروغجنه افتراء کوي؟! او که له دوی او هغه څه چي دوی ئې له الله پرته لمانځي ګوښه او بېل شئ نو هغي سمڅي ته پناه یوسئ چي ستاسو رب خپل رحمت درباندي خور کړي او ستاسو په کار کي د آسانتیا اسباب درته مهیا کړي.

(۱۳-۱۶)- دا مبارك آیتونه موږ ته دا لارښووني کوي:

- د اصحاب کهف رښتیني قصه همدا ده چي په قرآن کي راغلې، چا چي له دې پرته بل څه ویلي، له ځانه ئې ویلي او حقیقت نه لري.
- دوی د مؤمنو زلمیانو یوه داسي ډله وه چي په خپل رب ئې ایمان راوړ او الله تعالی د هدایت دروازې د دوی پر مخ پرانیستې، لازیات ئې هدایت کړل او د دوی زړونه ئې مضبوط او عزم او اراده ئې کلکه کړه. دا الهي پېرزوینې ئې هغه مهال په برخه شوې چي پاڅېدل، جهاد ته ئې ملا وتړله او وئې ویل: زموږ رب همغه دئ چي د آسمانونو او زمکي رب دئ، له ده پرته به هیڅ معبود ونه لمانځو، که له الله تعالی پرته بل چا ته د بندګۍ سر ټیټ کړو او د الله تر څنګ ئې ولمانځو خوشې او ناپېریته خبره به مو کړې وي. د دوی دغه الفاظ ښیي چي د خپل قوم له دین او مذهب او د خپلي ټولني له حاکم نظام ئې بغاوت کړی، پرېکړه ئې کړې چي نه دا دروغجن معبودان منو او نه دا حاکم نظام.
- وئې ویل: زموږ قوم خو له الله تعالی پرته نور معبودان غوره کړي! په داسي حال کي چي هیڅ څرګند دلیل ورته نه لري، دوی هم ظالمان دي او هم دروغجن، داسي دروغجن چي خپل غلط مذهب په درواغو الله تعالی ته منسوبوي او وایي: دا همغه څه دي چي الله تعالی ئې خوښوي او د خپلو پیغمبرانو په لاس ئې موږ ته رالیږلي، دوی داسي ظالمان دي چي د الله تعالی په حق کي له ظلم او تېري ډډه نه کوي، تر هغه چا به ستر ظالم څوك وي

چي پر الله دروغجنه افتراء كوي؟!!

• دوى پرېکړه وکړه چي هم له خپل مشرك او ظالم قوم او هم د دوى له مذهب او دين سره خپلي اړيکي وشلوي او هم له دې سيمي ووځي، يوه ئي دوى ته وړانديز کړى چي راځئ هغي سمځي ته پناه يوسو، اميد دئ الله تعالى د رحمت وزر راباندي وغوړوي او زموږ په كار كي د آسانتيا اسباب راته مهيا كړي.

دې ته مو پام وي چي د اصحاب كهف د شمېر، وطن، د كهف موقعيت، د هغه دور د پاچا نوم، دا چي دوى څومره موده ويده پاته شوي، د كوم واكمن د اقتدار په دوران كي راويښ شوي او دې ته ورته نورو مسائلو په اړه چي څه زموږ په تفسيرونو كي راغلي ټول ئي له مسيحي منابعو او په ځانگړې توگه د عيسايي كشيش جيمس سروجي د مواعظو له كتاب اخيستل شوي، هغه د اصحاب كهف له وفاته څو كاله وروسته په ٤٥٢ ميلادي كال كي زېږېدلى او د ٤٧٤ميلادي كال شاوخوا كي ئي دا كتاب په سرياني ژبي كي ليكلى. دا په داسي حال كي چي قرآن نه يوازي مسلمانانو ته لاربښوونه كړې چي په دغو قضاياوو له بحث او مناقشي ډډه وكړي، او آرام ترې تېر شي بلكي وايي په دې اړه څه ويل داسي دي لكه په تياره كي غشي ويشتل!! كه په دې اړه څه ويل ضروري او گټور وى نو الله تعالى به حتماً په قرآن كي له بشپړ تفصيل سره موږ ته ښودلي ول، او كه په دې اړه څه ويل مضر نه وى نو الله تعالى به موږ له څه ويلو نه منع كولو، قصه خوښي خلك دا غواړي چي پوه شي د قصي اتل څه نومېدو، د پلار نوم ئي څه وو، قوم ئي څه نومېدو، كله پيدا شوى او كله وفات شوى، ملگري ئي څه نومېدل، د كوم وطن وو، پاچا ئي څه نومېدو.... د قصي تر موخي او هدف دغو خبرو ته زيات اهميت وركوي، همدا راز په دې خبرو بحث له اصلي موضوع توجه بل لوري ته اړوي او هسي د وخت د ضياع باعث كېږي.

وَتَرَى ٱلشَّمۡسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهۡفِهِمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقۡرِضُهُمۡ ذَاتَ ٱلشِّمَالِ وَهُمۡ فِي فَجۡوَةٖ مِّنۡهُۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِۗ مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ فَهُوَ ٱلۡمُهۡتَدِۖ وَمَن يُضۡلِلۡ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ وَلِيّٗا مُّرۡشِدٗا ﴿١٧﴾ وَتَحۡسَبُهُمۡ أَيۡقَاظٗا وَهُمۡ رُقُودٞۚ وَنُقَلِّبُهُمۡ ذَاتَ ٱلۡيَمِينِ وَذَاتَ ٱلشِّمَالِۖ وَكَلۡبُهُم بَٰسِطٞ ذِرَاعَيۡهِ بِٱلۡوَصِيدِۚ لَوِ ٱطَّلَعۡتَ عَلَيۡهِمۡ لَوَلَّيۡتَ مِنۡهُمۡ فِرَارٗا وَلَمُلِئۡتَ مِنۡهُمۡ رُعۡبٗا ﴿١٨﴾

او لمر به گورې چي كله راختېژي د دوى له سمځي ښي لوري ته كږېږي، او چي پرېوځي دوى كيڼ لوري ته پرېږدي، او دوى د سمځي په پراخي برخي كي ول، دا د الله آيتونه دي، الله چي څوك هدايت كړى نو همدا هدايت شوى دئ، او څوك چي بې لاري كړي نو هيڅ لاربښود دوست به ورته ونه مومې. او ويښ به ئي بولې په داسي حال كي

چي دوی ويده دي، او په ښي لوري او کيڼ لوري ئي اړوو رااړوو، او سپی ئي په درشل کي (داسي پروت دئ چي) ځنګلي ئي غوړولي دي، که پرې ورښکاره شوې (ودي ليدل) نو په تېښته به له دوی مخ اړوې او د دوی له هيبته به ستا زړه ډك شوی وو.

(۱۷-۱۸)- د دې مبارکو آيتونو مطالب دا دي:

- د دوی د سمڅي موقعيت داسي وو چي لمر به د راختو پر مهال له سمڅي ښي لوري ته کږېدو او د پرېوتو پر مهال به ئي دوی کيڼ لوري ته پرېښودل، دوی د سمڅي په منځنی پراخي برخي کي او د لمر له وړانګو خوندي ول.
- د دوی په اړه چي دلته څه ويل شوي دا د الله د کتاب آيتونه دي، حقيقت همدا دئ چي په دې آيتونو کي ئي ګورئ، په حقايقو هغه څوك پوه، سمه لار ئي موندلي او هدايت ئي په برخه شوي چي الهي لارښووني ئي د لاري مشعل شي، او څوك چي له الهي لارښوونو محروم شي، لارورکی دئ، داسي څوك به ورته ونه مومي چي د لارښود دوست په توګه د ده مرسته وکړي او په سمه لار ئي برابر کړي.
- په سمڅي کي د خوب په دې اوږدې مودې کي د دوی حالت داسي وو چي که چا ليدلي وی نو د وېښو ګمان به ئي پرې کاوو، حال دا چي دوی ويده ول.
- الله تعالی به په ښي او کيڼ لوري اړول رااړول، او په دې توګه ئي د دوی د بدن له زخمي کېدو او شړېدو مخنيوی کاوو.
- سپی ئي د سمڅي په درشل کي داسي پروت وو چي ځنګلي ئي غوړولي وې.
- د دوی حالت او د سمڅي مجموعي وضعه داسي وه چي که چا دوی ليدلي وی نو په تېښته به له تر شا کېدو او زړه به ئي له وېري ډکېدو.

په دې مبارکو آيتونو کي ځيني هغه دلائل په ګوته شوي چي له امله ئي له يوې خوا اصحاب کهف د خلکو له مزاحمت، لاسوهني او مداخلي خوندي پاته شوي او له بلي خوا د دومره اوږدې مودې په تېرېدو سره د دوی بدنونه له شړېدو ژغورل شوي، لکه د لمر له تېزو وړانګو خوندي والی، د سمڅي پراخوالی، د سمڅي د خولي پرانيسته، په ښي او کيڼ پلو د دوی اړول رااړول، د سمڅي داسي هيبتانکه فضاء چي په هر چا کي ئي وېره راولاړوله او تېښتي ته ئي اړ کولو.

د دغو ويناوو په اهميت او حقيقت يا هغه څوك ښه پوهېدی شي چي ماهر ډاکټر وي، دفلج او ځای پر ځای پرتو ناروغانو معالجه ورپه غاړه وي او نرس ته کلکه سپارښتنه کوي چي ناروغ وخت په وخت په يوه او بل اړخ واړوي، د لمر له تېزو وړانګو ئي وساتي او د اطاق هوا ئي تازه کړي. او يا هغه مجاهدين چي په غرونو کي اوسېدلي، شپنو ليدلي خو له وېري ئي هيچا ته د دوی په اړه د څه ويلو جرأت نه دئ کړی او له همدې کبله تر اوږدې مودې په سيمي کي پاته شوی خو دښمنان نه دي پرې خبر شوي.

وَكَذَٰلِكَ بَعَثْنَٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُواْ بَيْنَهُمْۚ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ لَبِثْتُمْۖ قَالُواْ لَبِثْنَا
يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍۚ قَالُواْ رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ فَٱبْعَثُوٓاْ أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمْ

هَٰذِهِۦٓ إِلَى ٱلۡمَدِينَةِ فَلۡيَنظُرۡ أَيُّهَآ أَزۡكَىٰ طَعَامٗا فَلۡيَأۡتِكُم بِرِزۡقٖ مِّنۡهُ وَلۡيَتَلَطَّفۡ وَلَا يُشۡعِرَنَّ بِكُمۡ أَحَدًا ﴿١٩﴾ إِنَّهُمۡ إِن يَظۡهَرُواْ عَلَيۡكُمۡ يَرۡجُمُوكُمۡ أَوۡ يُعِيدُوكُمۡ فِي مِلَّتِهِمۡ وَلَن تُفۡلِحُوٓاْ إِذًا أَبَدٗا ﴿٢٠﴾

همداسي مو راپاځول چې په خپلو منځونو کې يو بل وپوښتي؛ د دوی يوه ويونکي وويل: څومره (دلته) تم شوئ، (ځينو) وويل: يوه ورځ او يا د ورځې يوه برخه تم شوي يو، (نورو) وويل: ستاسو رب په هغې مودې ښه پوه دئ چې تم شوي يئ، نو يو کس مو له دغو سکو سره ښار ته ولېږئ او هغه څوك دې ولټوي چې د خوراکي توکو له پلوه ډېر پاکيزه وي، نو تاسو ته دې له هغه خواړه راوړي او حتما دې دقت او احتياط کوي او هيڅوك بايد پر تاسو خبر نشي، که دوی درباندې برلاسي شي نو يا به مو رجم کړي (د ډبرو په ويشتلو سره به مو ووژني) او يا به مو خپل مذهب ته ورواړوي او په دې صورت کې به هيڅکله بريا درپه برخه نه شي.

(۱۹-۲۰)- په دې مبارکو آيتونو کې دا مطالب زموږ مخې ته ايښودل شوي:

- الله تعالی په دې توگه او له دغو الهي تدبيرونو سره سم دوی د اوږدې مودې لپاره ژوندي وساتل او په خاص وخت کې ئې راپاځول. داسي چې دوی هم نه پوهېدل چې څومره موده ئې په خوب تېره کړې.
- له راپاځېدو سره سم ئې په خپلو منځونو کې يوه بل پوښتلې؛ يوه ئې وويل: دلته څومره تم شوئ، ځينو وويل: يوه ورځ او يا د ورځې يوه برخه تم شوي يو، ښايي يوه شپه او ورځ به راباندې تېره شوې وي، او يا څو څو گنټې، نورو وويل: ستاسو رب په هغې مودې ښه پوه دئ چې تم شوي يئ. د آيت له الفاظو معلومېږي چې د اوږدې مودې لپاره د اصحاب کهف ويده کولو او بېرته راپاځولو په دې خارق العاده پېښې کې د الله تعالی يو ستر حکمت مضمر وو، غوښتل ئې خلکو ته وښيي چې د مړي په اړه اوږده زمانه داسي ده لکه د دغو ويده شوو په اړه چې څو پېړۍ ئې يوه ورځ يا د ورځې يوه برخه گڼله، ستاسو دا انگېرنه غلطه او بې بنسټه ده چې مړي به له اوږدې مودې تېرېدو وروسته څنگه راژوندي کېږي!! زمان نسبي مفهوم دئ نه مطلق، ژوندي ئې لنډ او اوږد گڼي، مړي او ويده نه پرې پوهېږي، الله تعالی ته اوږده او لنډه موده، ماضي او مستقبل هيڅ توپير نه لري.
- د لوږې احساس ئې کړی، پرېکړه ئې کړې چې يو کس د سپينو زرو له څو سکو سره ښار ته ولېږي، هغه ته ئې ويلي: داسي څوك ولټوه چې پاکيزه خوراکي توکي پلوري، داسي نه چې حرام او ناپاك خواړه درباندې وپلوري،
- ده ته توصيه شوې چې په احتياط سره ښار ته ننوځي، په تلو راتلو کې دې محتاط وي، داسي چې نه څوك پرې شك وکړي او نه زموږ له موقعيته څوك خبر شي، او دا ښيي چې دوی له کوم ستر ښار تښتېدلي وو نه له کوم واړه کلي.
- په خپلو منځونو کې ئې ويلي: که دوی راباندې خبر شي او پر نيولو مو برلاسي شي نو يا به مو رجم کړي او يا به مو دومره تعذيب کړي چې خپل مذهب ته مو ورواړوي او که خدای مه کړه داسي وشول او د عذابونو په وړاندې مو صبر ونه کړی شو او د دوی دين ته ورواوښتو نو هيڅکله به بريا او سعادت ترلاسه نه کړو. او دا له يوې خوا ښيي چې د دوی دښمنان ډېر بې رحمه او سخت زړي ول، ډېر ئې تر دې د مخه يا رجم کړي ول او يا په سختو عذابونو سره تعذيب کړي، له بلې خوا ښيي چې د ښار واکمني د کومي مذهبي ډلې په لاس کې وه، او له

بلي خوا دا حقيقت په گوته كوي چي دا مؤمن ټولی په خپل ايمان كلك ولاړ وو او د هر خطر او گواښ منلو ته چمتو وو. هم او غم ئې فقط دا وو چي پر خپل ايمان كلك پاته شي.

د ځينو تاريخي اسنادو له مخي معلومېږي چي دا شهر د افسس په نامه يادېدو، هغه مهال د نړۍ ستر مذهبي ښار گڼل كېدو، هلته د ډائنا په نامه يو ستر معبد وو چي شهرت ئې په ټولي نړي كي خور شوی وو او له لرو لرو سيمو خلك ورته راتلل، د كوډگرو، فال نيوونكو، تعويذ ليكونكو او نجوميانو بازار په كي گرم وو، په دې چارو كي د يهودانو هم لوی لاس وو او د شكرانو او نذرانو په زړه پوري برخه ئې ترلاسه كوله.

وَكَذَٰلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوٓاْ أَنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَآ
إِذْ يَتَنَٰزَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ ۖ فَقَالُواْ ٱبْنُواْ عَلَيْهِم بُنْيَٰنًا ۖ رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ ۚ قَالَ
ٱلَّذِينَ غَلَبُواْ عَلَىٰٓ أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا ﴿٢١﴾ سَيَقُولُونَ ثَلَٰثَةٌ
رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ كَلْبُهُمْ رَجْمًۢا بِٱلْغَيْبِ ۖ وَيَقُولُونَ
سَبْعَةٌ وَثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ قُل رَّبِّىٓ أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ ۗ فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ
إِلَّا مِرَآءً ظَٰهِرًا وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا ﴿٢٢﴾

او همداسي مو (خلك) پرې خبر كړل، تر څو پوه شي چي د الله وعده ريښتيني ده او دا چي په (راتلو د) قيامت كي هيڅ شك نشته، هغه مهال چي په خپلو منځونو كي ئې د خپل كار په اړه شخړه كوله نو (ځينو ئې) وويل: كومه مانۍ پرې جوړه كړئ، د دوی رب ښه پرې پوهېږي، هغو چي د دوی اړوند كار كي برلاسي شول وئې ويل: حتماً كوم مسجد پرې جوړوو، وايي به: درې وو څلورم ئې د دوی سپی وو او وايي به: پنځه وو شپږم ئې د دوی سپی وو، دا هسي په تياره كي كاڼي ويشتل دي او وايي به: اوه وو او اتم ئې د دوی سپی وو!! ووايه: زما رب د دوی له شمېره ښه خبر دئ، يوازي لږ كسان ئې پېژني، د دوی (د شمېر) په اړه له سر سري بحثه پرته له چا سره شخړه مه كوه او د دغو خلكو له هيچا څخه د دوی په اړه پوښتنه مه كوه.

(٢١-٢٢)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- د آيت له الفاظو معلومېږي چي ښار ته د همدې يوه كس له ننوتلو سره سم خلك پرې راغونډ شوي، د ده وضع او جامې ئې داسي موندلې چي پرې راغونډ شي، وئې پوښتي، د مخكنيو زمانو سكې ورسره وموميې، شك

ئې لازيات شي، د ښار ساتونكي پرې خبر شي، او په دې توگه هر څه ښكاره شي.

- الله تعالى غوښتل چي همداسي وشي، تر څو خلك پوه شي چي د الله وعده رښتيني ده او دا چي د قيامت په راتلو كي هيڅ شك نشته، دا دئ خلك په خپلو سترگو د داسي عجيبي صحنې شاهد دي چي ښيي د قيامت او بياژوندون په اړه د الله تعالى هغه وعده رښتيني ده چي د انبياوو له لاري ئې له دوى سره كړې ده، د دوي مخي ته داسي انكار نه منونكي شاهدان ولاړ دي چي هر څه ئې د همدې وعدې د رښتينولى شهادت وركوي، يو كس نه بلكي يوه ډله زلميان ئې مخي ته ولاړ دي چي څو سوه كاله په خوب كي ژوندي پاته شوي، همزولي او له هغوى وروسته څو نسلونه ئې مړه شوي، هډوكي ئې وراسته شوي خو دوى ژوندي دي، جامې ئې د څو نسله مخكنيو خلكو او په لاس كي ئې د هغې زمانې سكې!!
- د آيت له فحوى دا هم معلومېږي چي كله خلكو دا صحنه په سترگو وليده او ټولو ته ثابته شوه چي د قيامت او بياژوندون په اړه د الله تعالى هغه وعده رښتيني ده، نو اصحاب كهف همغه شپېه په دائمي خوب ويده او وفات شوي. همدا مهال خلكو په خپلو منځونو كي دا شخړه پيل كړې چي د دوى په اړه څه وكړي. ځينو ئې ويلي: كومه مانۍ او خونه پرې جوړوو، همداسي ئې پرېږدو چي خلك راځي او دا حيرتناكه صحنه په خپلو سترگو گوري.
- د آيت له دې فقرې (ربهم اعلم بهم: د دوى رب ښه پرې پوهېږي) معلومېږي چي الله تعالى نه غوښتل د دغو خلكو له غوښتني او پرېكړې سره سم دوى همداسي ژوندي او ويده پرېږدي، ځكه دا د همدغې پېړۍ خلكو لپاره يوه فوق العاده او استثنايي پېښه او د اتمام حجت لپاره وه، نه د دې لپاره چي تر قيامته پوري ئې همداسي پرېږدي.
- وروستۍ فقره وايي چي برلاسي او ځواكمني ډلي د اصحاب كهف له قبرونو زيارت او معبد جوړ كړى، او دا ښيي چي دا مهال د ملك واگي د داسي مذهبي ډلي په واك كي وې چي د مخكنيو شخصيتونو پر قبرونو ئې معبدونه او زيارتونه جوړول. او دا هغه انحراف دئ چي له توحيد، حقيقي خداى پالني او د الهي دين له څرگندو لارښوونو سره تضاد لري او د قومونو د انحراف او د شرك په ډنډ كي د لوېدو لړۍ له همدې ځايه پيل كېږي. رسول الله ﷺ د همدې لپاره تر رحلت لږ وړاندي وفرمايل: پر يهودو او نصاراوو دي د الله تعالى لعنت وي چي د خپلو پيغمبرانو پر قبرونو ئې مسجدونه (معبدونه) جوړ كړل. دې ته مو پام وي چي نبوي جومات د رسول الله ﷺ له رحلت مخكي جوړ شوى وو، نه پر قبر جوړ شوى او نه د قبر خوا ته، قبر ئې د عائشې صلى په كور كي وو، د جومات او قبر تر منځ دېوال حائل وو، په كور كي د دفنولو يو حكمت دا وو چي نه خلك گنبده پرې جوړه كړى شي او نه معبد ترې جوړ شي، ډېر وروسته جاهلو امراوو دا حائل دېوال له منځه وړى چي په دې سره قبر د جومات منځ كي راغلى. په اسلام كي نه د قبرونو پر سر د گنبدو، زيارتونو او قصرونو جوړولو جواز موندى شو او نه په جومات كي د قبرونو جوړولو جواز. مسجد د الله تعالى په وړاندي د سجدې ځاى دئ، په مسجد كي د هر هغه څه راوړل او جوړول حرام دي چي له الله تعالى پرته بل ته د سجدې شائبه راولاړه كړي.
- وروستى آيت هغو ويناوو ته اشاره كوي چي د اصحاب كهف د شمېر په اړه ويل كېدې يا به وروسته تر دې وويل شي، ځينو به ويل: درې ول څلورم ئې د دوى سپى وو، ځينو ويل: پنځه ول شپږم ئې د دوى سپى وو، الله تعالى د دوى په ځواب كي فرمايي: دا هسي په تياره كي كاڼي ويشتل دي، يعني د دوى ادعاء د بې بنسټه حدس او گمان له مخي ارقام وړاندي كولو سره مترادف دي. ځينو ويل: اوه ول او اتم ئې د دوى سپى وو!! الله تعالى د دوى په ځواب كي رسول الله ﷺ ته لارښوونه كوي چي ورته ووايه: زما رب د دوى له شمېره ښه خبر دئ، يوازي لږ كسان ئې پېژني. د دې الهي لارښووني معنى له دې پرته بل څه نه ده چي دا ادعاء هم غلطه ده، حقيقي شمېر ئې له الله تعالى پرته بل چا ته معلوم نه دئ، دا ځكه چي يوازي لږو كسانو دوى پېژندل او د دوى په اړه ئې څه علم او پوهه لرله، او د دې معنى دا ده چي اصحاف كهف داسي زلميان نه وو چي ټولو خلكو پېژندل، او كله چي غره ته ختل او سمڅي ته ئې پناه وړله نو ډېر خلك پرې خبر شوي وي، يوازي د دوى نږدې خپلوانو پېژندل او يوازي دوى پوه شوي وو چي پټ شوي، خو هغوى هم داسي نه ول چي ټول پټ شوي زلميان ئې پېژندل او له شمېره ئې خبر ول، كله چي راويښ شول بيا هم ټولو خلكو نه بلكي لږو كسانو دا صحنه په سترگو لېدلې او ښايي د سمڅي خوا ته ټولو راغونډ شوو خلكو نه بلكي ځينو ئې ټول زلميان يا ځيني ئې ليدلي وي، طبيعي ده چي له

دوی خوله په خوله انتقال شوې شمېرې د اعتبار وړ نشي ګڼل کېدی، دا بېل بېل ارقام په خپله ګواهي ورکوي چي د اعتبار وړ نه دي. که څه هم ځينو درنو مفسرينو داسي ګمان کړی چي ښايي دا وروستی شمېره به (اوه ول او اتم ئې د دوی سپی وو) صحيح شمېره وي!! دا په داسي حال کي چي له يوې خوا د مخکنيو آيتونو الفاظ د دې رأيي ترديد کوي او له بلي خوا ورپسي آيت په ډېر صراحت سره وايي: د دوی د شمېر په اړه له سر سري بحثه پرته له چا سره شخړه مه کوه او د دغو خلکو هيڅوك د دوی په اړه مه پوښته. يعني نه دا د بحث او مناقشي وړ موضوع ده او نه د شمېر په اړه د دغو خلکو ادعاء د اعتناء او منلو وړ. د قصې اصلي خبري دا دي: قيامت راتلونکی دئ، مړي به بيارااژوندي کېږي، مؤمنان بايد د اصحاب کهف په څېر له الله تعالی پرته بل چا ته سر ټيټ نه کړي، له شرك ځېلې تېولني ووځي او له شرك لړلي مذهبه بغاوت وکړي، پر الله تعالی توکل وکړي، الله تعالی د داسي مؤمنانو ساتونکی او د دوی د بريا او نجات ضامن دئ.

وَلَا تَقُولَنَّ لِشَاْىۡءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَهۡدِيَنِ رَبِّي لِأَقۡرَبَ مِنۡ هَٰذَا رَشَدًا ﴿٢٤﴾

او د هيڅ څه په اړه مه وايه چي زه ئې سبا کوونکی يم، مګر دا چي (ووايې) که الله وغواړي، او که دي هېره شوه نو خپل رب ياد کړه، او ووايه: هيله ده زما رب مي تر دې لازيات رشد او هدايت ته نږدې (کار ته) هدايت کړي.

(۲۳-۲٤)- د دې مبارکو آيتونو په اړه دا خبري په پام کي ولرئ:

- ~~دلته رسول اللهﷺ او د ده له طريق ټولو مؤمنانو ته لارښوونه شوې چي د راتلونکو چارو په~~

اړه همدومره احتياط کوئ لکه چي د مخکنيو پېښو په اړه د څه ويلو په ارتباط ئې بايد وکړئ، لکه چي د اصحاب کهف د شمېر، نومونو، په سمڅي کي د پاته کېدو موده ئې او نورو خبرو په اړه بايد د هر چا خبرو ته اعتناء ونه کړئ او داسي څه ونه وايئ چي بشپړ علم پرې نه لرئ همدا راز د راتلونکې په اړه په قاطع توګه مه وايئ چي حتماً به دا او دا کوم، مګر دا چي إن شاء الله ورسره ووايئ، دا ځکه چي معلومه نه ده تاسو دا کار کولی شئ که نه، نن چي کوم کار درته غوره برېښي ښايي سبا بل کار تر دې درته غوره معلوم شي، نو حتماً د راتلونکو چارو په اړه په احتياط سره پرېکړه وکړئ، له قاطع او پرېکنده پرېکړو ډډه وکړئ، که احياناً د إن شاء الله ويل درنه هېر شول له رايادولو سره سم خپل رب ياد کړه، او ووايه: هيله ده زما رب مي داسي کار ته هدايت کړي چي تر دې لازيات غوره او رشد او هدايت ته نږدې وي.

ځينو درنو مفسرينو داسي انګېرلې چي ګواکي قريشو له رسول اللهﷺ د دريو قضيو په اړه پوښتنه کړې وه: د اصحاب کهف، ذوالقرنين او روح په اړه، ده وعده ورسره کړې وه چي سبا ئې ځواب درکوم، خو تر پنځلسو ورځو پوري وحي رانه غله، ځواب وځنډېدو او په دې سره قريشو ته فرصت په لاس ورغی چي د ده په خلاف ډول ډول تبليغات پيل کړي، ګواکي پنځلس ورځي وروسته دغه سوره د دوی په ځواب کي نازله شوه!! په دې اړه بايد ووايو: د دې تعبير لپاره نه يوازي په قرآن کي واضح شاهد نه مومو، بلکي دا د دغي سورې د ۸۳ آيت خلاف دئ چي وايي: د ذي القرنين په اړه تا پوښتي، ووايه: ژر به ئې څه يادونه درواوروم.

ځوك چي په دې اړه په مخكني آيت استناد كوي دا كمزورى استناد دئ، له بله پلوه په دې سوره كي د روح په اړه څه نه دي ويل شوي، د روح په ارتباط په مخكنۍ سوره كي بحث شوى خو هلته هم له روح څخه مراد وحي ده نه د روح ځرنګوالى، (اميد دئ تفصيل ئې د بني اسرائيل سورې د ۸۵ آيت په تفسير كي وګورئ)، همدا راز ډېره بعيده معلوميږي چي رسول اللهﷺ به دوى ته ويلي وي چي ستاسو د پوښتنو ځواب به سبا دركړم، ځكه هغه ښه پوهېدو چي د وحي نزول د الله تعالى په خوښه وي نه د ده په خوښه.

دې ته مو هم پام وي چي شيعه د هري دعاء په پاى كي وايي: إن شاء الله، خداى دي وبخښه إن شاء الله، بريالى شې إن شاء الله او دې ته ورته دعاګاني، او دا ښيي چي دوى د إن شاء الله د ويلو وخت او محل هم نه پېژني، دعاء بايد له بشپړ تأكيد سره توأم او له هر راز شك او تردد فارغه وي، همدا د رسول اللهﷺ لارښوونه ده او همدا د دعاء تقاضاء ده، د پورتني آيت معنى دا نه ده چي تاسو په خپلو دعاګانو كي هم إن شاء الله ووايئ!! معنى ئې دا ده چي كله په راتلونكې زمانه كي د كوم كار كولو پرېكړه كوئ نو إن شاء الله ورسره ياده كړئ.

وَلَبِثُواْ فِي كَهۡفِهِمۡ ثَلَٰثَ مِاْئَةٍ سِنِينَ وَٱزۡدَادُواْ تِسۡعٗا ﴿٢٥﴾ قُلِ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا لَبِثُواْۖ
لَهُۥ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ أَبۡصِرۡ بِهِۦ وَأَسۡمِعۡۚ مَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِيّٖ
وَلَا يُشۡرِكُ فِي حُكۡمِهِۦٓ أَحَدٗا ﴿٢٦﴾

او (وئې ويل) په خپلي سمڅي كي درې سوه كاله پاته شول او نه ئې پرې زيات كړل، ووايه: الله په هغې (مودې) ښه پوه دئ چي (هلته) پاته شول، د آسمانونو او زمكي د غيبو (علم) له ده سره دئ، ښه ليدونكى ئې او ښه اورېدونكى، نه دوى ته له ده پرته كوم ولي (ملاتړى) شته او نه ئې په خپل حكم (حاكميت) كي ځوك شريك كړى.

(۲۵-۲٦)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

- ~~معارضينو د مخكنيو خبرو په لړ كي دا هم وويل چي اصحاب كهف په خپلي سمڅي كي~~ درې سوه كاله پاته شول او ځينو نورو نه كاله پرې علاوه كړل او درې سوه نه ئې ترې جوړ كړل، يعني درې سوه نه كاله ويده پاته شول، الله تعالى د دې ادعاء ترديد كوي او رسول اللهﷺ ته فرمايي: ووايه: الله په هغې مودې ښه پوه دئ چي هلته پاته شول، هغه الله چي د آسمانونو او زمكي د غيبو علم له ده سره دئ، د هر څه ښه ليدونكي دئ او د هر غږ ښه اورېدونكى، يعني تاسو د داسي څه په اړه قضاوت او حكم كوئ چي ستاسو له سترګو پټ دي، نه مو هغوى په خپلو سترګو ليدلي او نه مو د هغوى غږ اورېدلى، نو ستاسو ادعاء، حكم او قضاوت به د اصحاب كهف په اړه څه ارزښت ولري؟!
- د اصحاب كهف په ارتباط د دوى دا تبليغات يوه ځانګړې منشأ لري، هغوى ئې په الوهيت

او ربوبیت کې له الله تعالی سره شریك کړي، د دوی د قبر خوا ته ئې معبد جوړ کړی، په درشل کې ئې دعاګاني کوي او مرستې ترې غواړي، حال دا چې له الله تعالی پرته نه کوم ولي او ملاتړی شته او نه الله تعالی په خپل حاکمیت او د عالم په ساتنې او پالنې کې څوك له ځان سره شریك کړی.

ځینو داسې ګمان کړی چې د ۲۵ آیت لومړی فقره د الله تعالی وینا افاده کوي او ګواکې الله تعالی ویلې چې دوی په خپلې سمڅې کې درې سوه نه کاله پاته شول، دا انګېرنه په څو دلائلو کمزورې ده او د آیتونو له الفاظو او ترکیب سره قطعاً اړخ نه لګوي: ۱- په ورپسې فقره کې ویل شوي چې ووایه: الله په هغې مودې ښه پوه دئ چې هلته پاته شول، یعنې د دوی ادعاء غلطه ده، ورته ووایه چې الله تعالی ښه پوهېږي چې څومره ویده پاته شوي. ۲- قرآن په داسې مواردو کې د ارقامو وړاندې کول قطعاً نه خوښوي، څرګنده بېلګه ئې د دوی د شمېر په اړه مخکنې آیتونه دي. ۳- دا ترکیب چې درې سوه کاله پاته شول او نه ئې پرې زیات کړل په خپله ښیي چې دا د مقابل لوري ادعاء ده او قرآن په داسې ښې کې رااخیستې چې سست والی او شکمنوالی ئې په ګوته کوي او ښیي چې ځینو وویل: درې سوه کاله تم شول ځینو نه کاله نور پرې علاوه کړل.

وَٱتْلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيْكَ مِن كِتَابِ رَبِّكَ ۖ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلْتَحَدًا ﴿٢٧﴾

هغه څه تلاوت کړه چې ستا د رب له کتاب څخه تا ته وحي شوي، د ویناوو ئې بدلوونکی نشته او له ده پرته به هیڅ پناځی ونه مومې.

(۲۷)- د دې آیت په اړه څو خبرې ضروري بریښي:

- دا آیت په داسې حال کې چې د نوي مبحث پیل دئ، له مخکنی موضوع سره خاص ارتباط لري، ارتباط ئې داسې دئ چې د اصحاب کهف په اړه خلکو ته د قرآن دغه وینا واوروه، نه کم نه زیات، له هر راز تغییر او تبدیل پرته، او د نوي مبحث په ارتباط ئې معنی دا ده چې قریشو له رسول الله ﷺ څخه دوه اساسي مطالبې درلودې: ۱- زموږ د معبودانو او مذهب په ضدو له خصمانه تبلیغاتو لاس واخله، د روغې جوړې او تلفیق کوم صورت راپیدا کړه، لږ ته راکوز شه او لږ به موږ درکوز شو او په دې توګه به دا د دښمنیو لړۍ پای ته ورسوو. ۲- ستا خوا ته د ټولنې هغه خلك راغونډ شوي چې یا زموږ غلامان دي او یا بې وزلي او پرېوتي خلك، خو ته ئې له نورو سره برابر ګڼې، د ټولنې له دود دستور سره سم باید له دوی او د مکې له اشرافو سره چلن وکړې. په دې آیت کې د دوی د لومړۍ غوښتنې په ځواب کې ویل شوي: ستا دنده دا ده چې هغه څه خلکو ته واوروې چې ستا د رب له لوري ئې وحي درته شوې، الله تعالی هیڅا ته دا حق نه دئ ورکړی چې د ده په کتاب کې لاسوهنه وکړي، څه تبدیلي او تغییر په کې راولي، که احیاناً ته دا کار وکړې نو د الله تعالی له سختې مؤاخذې به د نجات هیڅ پناځی ونه

مومې. او د دوی د دوهمي غوښتني په اړه ئې په وروستنیو آیتونو کې په دې توگه رسول اللهﷺ ته لارښوونه کړې.

وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ رَبَّهُم بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥۖ وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ عَنۡهُمۡ تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا قَلۡبَهُۥ عَن ذِكۡرِنَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ وَكَانَ أَمۡرُهُۥ فُرُطٗا ٢٨

د هغو خلکو په څنگ کې صبر وکړه چې خپل رب ته سبا او ماښام دعا کوي، په داسي حال کې چې رضاء ئې لټوي او له دوی دې ستا سترگې بل پلو وانه وړي، د دنیوي ژوند د زینتونو په لټه کې، او د هغه چا متابعت مه کوه چې د ده زړه مو له خپل ذکر غافل کړی او د خپل نفس او هوس متابعت کوي او کار ئې زیاتی او افراط دئ.

(۲۸)- دا مبارك آیت د قریشو د دوهمي جاهلانه مطالبي په ځواب کې رسول اللهﷺ ته دا لارښووني کوي:

- د هغو خلکو په څنگ کې صبر وکړه چې خپل رب ته سبا او ماښام دعا کوي، په داسي حال کې چې رضاء ئې لټوي، که د دوی په ملگرتیا کې له کوم کړاو او ستونزي سره مخامخ شوې وئې گاله، د مشکلاتو له کبله د دوی له ملگرتیا لاس مه اخله، ستا د ملگرتیا لپاره تر ټولو غوره خلك همدا دي، یوازي دوی کولی شي په دې سفر کې ستا ډاډمن همسفري وي، د مغرورو جاهلانو دې غوښتني ته اعتناء مه کوه چې دوی له خپلې خوا لري کړه او په څنگ کې دې د ټولنې شتمنو، واکمنو، د جاه او جلال خاوندانو ته ځای ورکړه، دوی ستا ملگرتیا نشي کولی.
- پام کوه چې د دنیوي ژوند د زینتونو په لټه کې دې سترگې له دوی بل پلو وانه وړي، داسي نه چې د دوی په اړه بې اعتنائي وکړې او هغه چا ته ترجیح ورکړې چې د مال، دولت او قدرت خاوند دئ.
- د هغه چا متابعت مه کوه، وینا ئې مه منه او غوښتنو ته ئې مه تسلیمېږه چې زړه ئې د الله تعالی له ذکر غافل دئ او د خپل نفس او هوس متابعت کوي او کار ئې زیاتی او افراط دئ. یعني دا غوښتنه د هغه چا له لوري شوې چې الله تعالی ئې هېر کړی، د نفس او هوس بنده دئ، او له هر چا سره ئې معامله او چلن پر تېري او افراط ولاړه ده.

وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا ٢٩ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ

ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ مَنۡ أَحۡسَنَ عَمَلًا ﴿٣٠﴾ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَيَلۡبَسُونَ ثِيَابًا خُضۡرٗا مِّن سُندُسٖ وَإِسۡتَبۡرَقٖ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِۚ نِعۡمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتۡ مُرۡتَفَقٗا ﴿٣١﴾

او ووايه: دا ستاسو د رب له لوري يو حقيقت دئ، نو څوك چې غواړي ايمان دې راوړي او د چا چې خوښه وي كافر دې شي، بې شكه چې مونږ د ظالمانو لپاره داسې اور تيار كړى چې دېوالونه به ئې پرې راتاو وي او چې كله د مرستې لپاره غږ كړي نو په داسې اوبو به ئې غږ ته ځواب ويلى شي چې خوټېدونكي، توري او بويناكې دي او مخونه وريتوي، څومره بد څښاك او څومره بد ټاټوبى او بې شكه هغو چې ايمان ئې راوړى او صالح عملونه ئې كړي، مونږ د هغه چا اجر نه ضايع كوو چې د عمل له مخې ښه وي. دوى هغه وګړي دي چې داسې تلپاته جنتونه به ئې په برخه وي چې ترې لاندې ويالې بهيږي، د سرو زرو په لاس وندو به سينګار كړى شي او د نريو او پريړو وريښمو شنې جامې به اغوندي په داسې حال كې چې پر تختونو به تكيه كوونكي وي، څومره غوره ثواب او ښايسته تكيه ځى!!

(۲۹-۳۱)- د دې مباركو آيتونو مهمې مهمې لارښوونې دا دي:

- دلته د (الحق من ربكم) مراد يا هغه ويناوې دي چې تر دې د مخه راغلي او يا ټول قرآن، مطلب ئې دا دئ چې دا ستاسو د رب له لوري او حقيقت دئ، نه د رسول الله ذاتي افكار او وينا وې دي او نه په هغه كې د حق او حقيقت خلاف څه ښنه موندى شئ.
- د هر چا خپله خوښه ده چې ايمان راوړي او كه كافر كيږي، دا واك او اختيار انسان ته وركړى شوى چې د ايمان او كفر ترمنځ يو ئې غوره كړي، الله تعالى ئې نه ايمان راوړو ته اړ باسي او نه ئې كفر او انكار ته.
- څوك چې له دې اختيار او آزادي غلطه استفاده وكړي، د ظلم او تيري لار غوره كړي نو الله تعالى دغو ظالمانو ته داسې اور تيار كړى چې دېوالونه به ئې پرې راتاو وي او كله چې له ډېرې تندې چيغې كړي او په چيغو چيغو سره مرسته وغواړي نو په داسې اوبو به ئې غوښتنه ځوابيږي چې خوټېدونكي، توري او بويناكې دي او مخونه وريتوي، څومره بد څښاك او څومره بد ټاټوبى.
- او چا چې ايمان راوړى او صالح عملونه ئې كړي، نو الله تعالى د هغه چا اجر نه ضايع كوي چې عمل ئې صالح وي. نه په دنيا كې او نه په آخرت كې، هم به د خپل ايمان او صالح عمل غوره نتائج په دنيا كې ترلاسه كوي او هم په آخرت كې.
- په آخرت كې به ئې داسې تلپاته جنتونه په برخه شي چې ترې لاندې ويالې بهيږي، د سرو زرو لاس وندې به ورواغوستل شي او د نريو او پريړو وريښمو شنې جامې به اغوندي؛ په داسې حال كې چې پر تختونو به ئې تكيه كړې وي، څومره غوره ثواب او ښايسته تكيه ځى!! په جنت كې د سپينو زرو لاس وند ته اشاره هم د انسان دې تمايل ته اشاره ده چې غواړي د سپينو زرو لاس وند ئې په لاس وي، مګر نه ګورئ چې اوس اكثر لاسونه، كه د نارينه دي كه د ښځو، په لاس وند مخصوصاً د ګړى بند سره ښايسته شوي، او اكثراً ګورو چې سپينو زرو ته ورته تر نورو زيات خوښوي. ګورئ چې په جنت كې به د انسان دغه تمايل ته هم ځواب ويل كيږي، د زړه دا

غوښتنه به ئي هم ترسره کېږي، چا ته د سرو زرو او چا ته د سپينو زرو لاس وندي به ورواغوستل شي او د نريو او پړېړو وريښمو شني جامي به اغوندي!! که لږ ځير شئ دلته د انسان يوه بل تمايل ته هم اشاره شوې، شين رنګ او نرم لباس، که دا نرى وي او که پړېړ، دا اوس د نړى د ډېرى خلکو لباس شين بخون دئ، د اکثرو هېوادو د فوځيانو لباس دغه رنګ دئ، د انسان هغه سيمه خوښېږي چي ډول ډول شنو بوټو او ونو پوښلي وي، په داسي ځاى کي دا خوښوي چي د ده جامه هم د سيمي له رنګ سره نږدې والى ولري.

- له دې او دې ته ورته ګڼ شمېر آيتونو په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي چي انسان ته دا اختيار او واك ورکړى شوى چي په خپله خوښه يا د ايمان او صالح عمل لار غوره کړي او يا د کفر او ظلم لار، د همدې واك او اختيار له امله او د خپل انتخاب د څرنګوالي له مخي به سزا ګوري، دا مطلب د النبأ په سوره کي په دې الفاظو سره راغلى:

ذَلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ فَمَن شَاءَ اتَّخَذَ إِلَى رَبِّهِ مَآبا* النباء : ٣٩

دا ريښتيني ورځ ده، نو څوك چي غواړي، د خپل رب په لوري دي د ورتګ لار غوره کړي.

يعني دا هم د انسان په انتخاب پوري اړه لري چي د خپل رب لوري ته د ورتلو لار اختيار کړي او د صالح عمل په نتيجه کي د الله خوا ته غوره مقام ترلاسه کړي.

خو دا چي د دې آيتونو تر څنګ په قرآن کي داسي آيتونه هم مومو چي د انسان مشيت او اراده د الله تعالى د ارادې تابع بولي او داسي ترې معلومېږي چي انسان د ثابتو او تغيير نه منونکو مقدراتو تابع دئ او د هغوى مخالفت نشي کولى، نو دا دواړه به څنګه تلفيقوو او د مقدراتو او اختيار تر منځ به وسط لار څنګه پېداکوو؟ لکه چي قرآن فرمايي: و ماتشاءون الا ان يشاء الله: تاسو غوښتى نه شئ تر څو د عالمونو رب الله نه وي غوښتي. دا مطلب به څنګه د انسان له نسبي آزادۍ او اختيار سره متصادم نه ګڼو او څنګه به دا آيتونه سره همغږي ثابتوو، ځواب ئي دا دئ:

که دا آيت او دې ته ورته آيتونه، مستقل او له نورو بېل نه بلکي د ټولو هغو آيتونو ترڅنګ وڅېړو او ټول هغه آيتونه په پام کي ولرو چي د قضاء، قدر، اراده، مشيت او اختيار مفاهيم په کي راغلي، نو په مطلب ئي پوهېدل آسانه او له خبط او خطا خوندي پاته کېدى شو، متأسفانه بادي الرأى کسان او د لنډ نظر خاوندان دا آيت يوازي او نورو ته له پامه پرته څېړي، له همدې امله په مطلب پوهېدل ورته ګران شي او ګمان کوي چي دا آيت د انسان په بې وسى، مجبوريت او عدم اختيار دلالت کوي، دوى دې ته نه دي متوجه چي په دې آيتونو کي د دې موضوع يوه څنده څېړل شوې او نورې برخي ئي په نورو آيتونو کي، په کار ده په موضوع د ښه پوهېدو لپاره ټول اړوند آيتونه په پام کي ونيسو، د دغي غلطى له کبله ځينو کسانو د قضاءاو قدر په اړه داسي څه ويلي چي په موضوع د پوهېدو په ځاى ئي هغه مزيد ګرانه کړې، خلکو ته ئي شکوك او شبهات راپيدا کړي او دېنمنانو ته ئي د دې خبري کولو موقع ورکړې چي وواييږ په قرآن کي تعارض تر سترګو کېږي، قرآن له يوې خوا انسان بې اختياره او مجبور مخلوق ګڼي او په عين حال کي ئي کړه وړه د محاسبې وړ بولي، په داسي حال کي چي مجبور مخلوق د خپلو کړو وړو په اړه هيڅ مسئوليت نه لري، د مجبور مخلوق د ټولو کړنو مسئوليت د هغه چا په غاړه وي چي دى ئي ورته مجبور کړى!! او له بلي خوا

وايي چي انسان ته له دوو بديلونو د يوه د انتخاب واك او اختيار ورکړی شوی، دوی ته بايد حقيقت توضيح شي او پوښتنو ته ئې قانع کوونکی ځواب وويل شي، قرآن دا ځواب ورکړی، په کار ده چي د قرآن دا ځواب د دوی مخي ته کېږدو، ځيني داسي دي چي په دې اړه هم له څه ويلو ډډه کوي او هم ممانعت، او په دې ئې ټينګار وي چي د قضاءاو قدر موضوع بايد مجمل ومنو او تفصيل ته ئې له ننوتو ډډه وکړو!! په داسي حال کي چي دا يوه مهمه اعتقادي موضوع ده او ايمان پرې ضروري، ايمان له علم او پوهي پرته نه شي کېدی، ايمان په حقيقت کي د پوهي انتهاء او پايله ده، قرآن د ګڼ شمېر آيتونو په ترڅ کي او په ډېر تفصيل سره دا موضوع څېړلې. که په قضاءاو قدر پوري مربوط ټول آيتونه د يوه بل څنګ ته کېږدو، د يوه لپاره بل له پامه ونه غورځوو او د ټولو په رڼا کي نتيجه راوباسو، نو نه به په اصل مطلب پوهېدل راته ګران وي او نه به له کوم مشکل سره مخامخ کېږو.

دې ته مو بايد پام وي چي قرآن که له يوې خوا دا ويلي چي دلته تغيير نه منونکي قضاء او قدر شته، هر کار د قضاء او قدر مطابق او له هغو سننو او ضوابطو سره سم ترسره کېږي چي الله تعالی د دې عالم لپاره وضع کړي، د الهي مقدراتو په محدوده کي او د الله تعالی په اراده او إذن ترسره کېږي، له بلي خوا ئې دا هم ويلي چي انسان ته نسبي واك او اختيار ورکړی شوی، هغه کولی شي له دوو لارو يوه غوره کړي، کولی شي له دوو کارونو د يوه د کولو اراده وکړي، پر قرآن د ايمان غوښتنه دا ده چي مونږ به په دواړو خبرو ايمان لرو، نه دا چي يوه ئې ومنو او پر هغې ټينګار وکړو او له بلي سترګې پټې کړو او له پامه ئې وغورځوو. هغه چا ته چي په قرآن کي لږ غور وکړي، د دې دواړو خبرو تلفيق ګران کار نه دئ او په ډېره آسانۍ سره دې نتيجې ته رسېږي چي انسان ته د نسبي اختيار او واك ورکول او له دوو بديلونو څخه د يوه د انتخاب قدرت او صلاحيت ورکول، د همدې الهي (قضاء) او (قدر) يوه برخه ده، الله تعالی دا سنت وضع کړی چي انسان کولی شي په ځينو مواردو کي او د يوې خاصې محدودې په انګړ کي د خپل مشيت او غوښتني مطابق اقدام وکړي، که دا الهي سنت نه وی او د ده دا اختيار د قضاء او قدر جزء نه وی نو انسان به د جماداتو په څېر په کامله توګه محکوم او بې اختياره وو، هيڅ څه به ئې په خپله خوښه نه شو ترسره کولی!! خو د الله تعالی مشيت داسي تللی، الله تعالی داسي اراده کړې، الله تعالی داسي غوښتي چي انسان دي نسبي واك او اختيار ولري، د همدې لپاره وايو چي انسان هر څه کوي د الله په اراده، إذن او اجازه ئې کوي، الله تعالی ورته د يوې پرېکړي عزم او د يوه کار د کولو توفيق ورکوي. د (قضاء) او (قدر) معنا دا نه ده چي انسان بې اختياره او بې ارادې مخلوق دئ، چي نه د انتخاب اختيار لري او نه په خپل تقدير او برخليك کي د ده اراده او عزم څه اغېز لري. دا د قضاء او قدر ډېر غلط او ناسم تعبير دئ، (قدر) يعني دا چي دلته د هر څه لپاره خاصه او تغيير نه منونکي اندازه ټاکل شوې او (قضاء) يعني دا چي دلته هرڅه د ثابتو سننو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي، انسان ته د همدغو سننو او مقدراتو په محدودې کي د انتخاب واك او اختيار ورکړی شوی، په سم انتخاب ئې سم نتائج مرتب کېږي او خراب انتخاب ئې خراب نتائج ورکوي.

اهل سنت و جماعت په دې عقيده دي چي انسان نه مجبور مطلق دئ او نه مختار مطلق،

بلکي په یوې محدودې کي د اختیار خاوند دئ، د دوی له نظره د انسان په اړه دا عقیده درلودل چي هغه په مطلقه توګه محکوم او مجبور دئ هم د واقع خلاف خبره ده، هم له څرګندو نصوصو سره متصادم، او هم د الهي عدالت خلاف، عملاً ګورو چي انسان نه د جماداتو په څېر بې واکه او محکوم دئ، او نه داسي فعال مایشاء چي هر څه ئې زړه وغواړي وئې کړی شي، خبره داسي نه ده بلکي د ځینو کارونو د کولو واك او اختیار لري او د ځینو له کولو عاجز او ناتوانه، د همدغه واك او اختیار له امله له هغه سره محاسبه کېږي، ده ته چي د کومو کارونو کول ممکن دي د هغوی له منځه یو غوره کولی شي، خو د ده په دې انتخاب چي کوم نتایج مرتب کېږي، دی ئې په خپله نه بلکي الله تعالی ئې پرې مرتب کوي، په دې لار کي چي دی له کومو لوړو ژورو سره مخامخ کېږي دا ټول د ده له واکه بهر شیان دي، که هغه مجبور او بې اختیاره وی نو نه محاسبه ورسره صحیح وه او نه ئې مجازات، دا څکه چي د هغه چا مجازات او تعذیبول د عدالت خلاف کار دئ چي د اختیار او واك خاوند نه وي او د هر کار په کولو اړ شوی وي، الله تعالی په خپلو بندګانو ظلم نه کوي، څنګه به هغه څوك تعذیبوي چي بل ګناه ته اړ کړی وي، الله تعالی خو د مجبوریت او اضطرار په وخت کي حرام کار هم انسان ته روا کړي. د دې مزید تفصیل د التکویر سورې د ۲۹ آیت په تفسیر کي وګورئ.

وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلٗا رَّجُلَيۡنِ جَعَلۡنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيۡنِ مِنۡ أَعۡنَٰبٖ وَحَفَفۡنَٰهُمَا
بِنَخۡلٖ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمَا زَرۡعٗا ﴿٣٢﴾ كِلۡتَا ٱلۡجَنَّتَيۡنِ ءَاتَتۡ أُكُلَهَا وَلَمۡ تَظۡلِم مِّنۡهُ شَيۡـٔٗاۚ
وَفَجَّرۡنَا خِلَٰلَهُمَا نَهَرٗا ﴿٣٣﴾ وَكَانَ لَهُۥ ثَمَرٞ فَقَالَ لِصَٰحِبِهِۦ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَنَا۠ أَكۡثَرُ
مِنكَ مَالٗا وَأَعَزُّ نَفَرٗا ﴿٣٤﴾ وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ وَهُوَ ظَالِمٞ لِّنَفۡسِهِۦ قَالَ مَآ أَظُنُّ أَن
تَبِيدَ هَٰذِهِۦٓ أَبَدٗا ﴿٣٥﴾ وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةٗ وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيۡرٗا
مِّنۡهَا مُنقَلَبٗا ﴿٣٦﴾ قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرۡتَ بِٱلَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٖ
ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلٗا ﴿٣٧﴾ لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّي وَلَآ أُشۡرِكُ بِرَبِّيٓ أَحَدٗا ﴿٣٨﴾
وَلَوۡلَآ إِذۡ دَخَلۡتَ جَنَّتَكَ قُلۡتَ مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ إِن تَرَنِ أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ

مَالاً وَوَلَدًا ﴿٣٩﴾ فَعَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يُؤۡتِيَنِ خَيۡرًا مِّن جَنَّتِكَ وَيُرۡسِلَ عَلَيۡهَا حُسۡبَانًا مِّنَ
ٱلسَّمَآءِ فَتُصۡبِحَ صَعِيدًا زَلَقًا ﴿٤٠﴾ أَوۡ يُصۡبِحَ مَآؤُهَا غَوۡرًا فَلَن تَسۡتَطِيعَ لَهُۥ طَلَبًا
﴿٤١﴾ وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ فَأَصۡبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيۡهِ عَلَىٰ مَآ أَنفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ
عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُشۡرِكۡ بِرَبِّيٓ أَحَدًا ﴿٤٢﴾ وَلَمۡ تَكُن لَّهُۥ فِئَةٌ يَنصُرُونَهُۥ مِن
دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مُنتَصِرًا ﴿٤٣﴾ هُنَالِكَ ٱلۡوَلَٰيَةُ لِلَّهِ ٱلۡحَقِّۚ هُوَ خَيۡرٌ ثَوَابًا وَخَيۡرٌ عُقۡبًا


او د هغو دوو سړيو مثال ورته تېر کړه چې يوه ته ئې موږ دوه د انګورو داسې باغونه ورکړي وو چې د خرما په ونو مو احاطه کړي وو او د باغونو په منځ کې مو کرونده ورته برابره کړې وه، دواړو باغونو به خپله بشپړه مېوه ورکوله او هيڅ څه به ئې نه ترې کمول، او د دوی په منځ کې مو نهرونه وبهول، او مېوې (حاصل) ئې په برخه وې، نو په داسې حال کې چې له خپل ملګري سره ئې خبرې کولې هغه ته ئې وويل: زه تر تا د مال او پلويانو له پلوه وړاندې يم، او خپل باغ ته په داسې حال کې ننوت چې پر خپل ځان ئې ظلم کولو، وئې ويل: ګمان نه کوم چې دا به کله هم له منځه ولاړ شي، او ګمان نه کوم قيامت به راشي او که د خپل رب لوري ته وروګرځول شم نو حتماً به تر دې غوره منقلب (د ورګرځېدو ځای) وموم. ملګري ئې د خبرو په ترڅ کې ورته وويل: آيا د هغه چا په اړه کافر شوی يې چې له خاورې، بيا ئې له نطفې پيدا کړې او بيا ئې د يوه بشپړ سړي په څېر برابر کړې؟! خو زه داسې يم چې همغه الله مې رب دئ او له خپل رب سره هيڅوك نه شريکوم، هغه مهال چې خپل باغ ته ننوتې ولې دې ونه ويل (ما شاء الله لا قوة الا بالله:) دا همغه څه دي چې الله غوښتي، هيڅ توان د الله له مرستې پرته نشته، که ته مې د مال او اولاد له پلوه تر ځان کم ګڼې نو هيله ده چې زما رب ستا تر باغ غوره شی راته راکړي، او کېدی شي ستا پر باغ له آسمانه داسې آفت نازل کړي چې په نتيجه کې ئې ښوی ډاګ شي، يا ئې اوبه (په ځمکې کې) ژورې ننوځي او ته ئې هيڅکله د ترلاسه کولو توان ونه مومې، او مېوه ئې (په آفت) مبتلا شوه، نو داسې شو چې په خپل هغه لګښت ئې لاسونه سره موښل چې پر باغونو ئې کړی وو، او (اوس ئې باغونه داسې ليدل چې) پر خپلو څپريو او چجو رانسکو شوي او ويل ئې: کاش له خپل

رب سره مي هيڅوك نه وی شريك كړی، او نه ئې له الله پرته داسي ډله درلوده چي ملاتړ او مرسته ئې وكړي او نه ئې په خپله د ځان مرسته كولی شوی. همدلته څرګنده شوه چي ولايت او مرسته حقيقي الله ته مختص ده، هغه هم د ثواب وركولو له پلوه غوره دئ او هم د پايلو ټاكلو له پلوه غوره.

(۳۲-٤٤)- په دې مباركو آيتونو كي يوه بله اغېزناكه او لارښوونكي قصه زموږ مخي ته ايښودل شوې او ټول هغه مطالب په كي انځور شوي چي د سورې اساسي مضامين دي او د دې سورې په قصو كي په بېل بېل انداز او اسلوب توضيح شوي. دلته دوه شخصيتونه يو د بل څنګ كي درول شوي، د دواړو باورونه او د دې باورونو پايلي د دوی په ژوند او اغېز ئې د دوی پر كړنو زموږ مخي ته ځلېږي، يو ئې شتمن او د مال او دولت خاوند دئ، اولاد او پلويان ئې زيات دي، دوه سمسوره او شېرازه باغونه لري چي هر كال ډېر حاصل وركوي، خو مشرك دئ، پر آخرت ايمان نه لري، ګمان كوي چي قيامت نه راځي، الله تعالی له بنده سره محاسبه نه كوي، په الهي مكافات او مجازات باور نه لري، ګمان ئې دا دئ چي كه احياناً قيامت راشي او الهي محاسبه ترسره شي نو هلته به هم ده ته غوره مقام ورپه برخه شي، همغسي لكه په دنيا كي چي ورپه برخه شوی، بل ئې نيستمن دئ، مال او دولت نه لري، خو پر الله تعالی او آخرت ايمان لري، باور ئې دا دئ چي د انسان هر څه د الله تعالی عطيه او وركړه ده، قرآن د دوی دواړو ترمنځ يوه محاوره او مركه په ډېر اغېزناك او خوندور اسلوب او ډېرو ښكلو الفاظو سره داسي وړاندي كوي:

مشرك شتمن چي د انګورو دوه سمسور باغونه لري له خپل مؤمن نيستمن ملګري سره يو ځای خپل باغ ته ننوځي، باغ ئې د خرما په ونو سره احاطه شوی، په منځ كي ئې كرونده ده، د اوبو وياله په كي بهېږي، كله چي خپل باغ سمسور او ونې له مېوو ډكي ګوري نو خپل ملګري ته مخ اړوي او له غرور او تكبر ډكي لهجې سره هغه ته وايي: زه تر تا د مال او پلويانو له پلوه وړاندي يم، ګمان نه كوم چي دا سمسور باغ به كله هم له منځه ولاړ شي، او ګمان نه كوم چي قيامت به راشي او كه د خپل رب لوري ته وروګرځول شم نو حتماً به هلته تر دې هم غوره مقام او منزلت راپه برخه شي. ملګري ئې د خبرو په ترڅ كي ورته وويل: آيا د هغه رب په اړه كافر شوی يې چي ته ئې له خاوري، بيا له نطفې پيدا كړې او بيا ئې د يوه بشپړ سړي په څېر برابر كړې؟! ته تر دې د مخه يوه وړه نطفه وې، دا نطفه له هغو مېوو او دانو جوړه شوې چي له خاوري راټوكېږي، ونو او بوټو له خاورو جوړي كړې، الله تعالی له هغې خاوري بشپړ انسان درنه جوړ كړ، آيا د الله تعالی دا پېرزوينه دي هېره كړې؟! خو زه داسي يم چي همغه الله مي رب دئ او له خپل رب سره هيڅوك نه شريكوم، هغه مهال چي خپل باغ ته ننوتې ولي دي ونه ويل (ما شاء الله لا قوة الا بالله:) په كار خو دا وه چي د الله تعالی د نعمت شكر دي ادء كړی وی او دا اعتراف دي كولی چي هم وركړه د الله تعالی له لوري ده او هم په كوم كار د برلاسي توفيق د الله تعالی له لوري، كه ته مي د مال او اولاد له پلوه تر ځان كم ګڼې نو هيله ده چي زما رب ستا تر باغ غوره شی راته راكړي، په دنيا يا په آخرت كي، او كېدی شي ستا پر باغ له آسمانه داسي آفت نازل كړي چي په نتيجه كي ئې ښوی ډاګ شي، يا ئې اوبه په زمكي كي ژوري ننوځي او ته ئې هيڅكله د ترلاسه كولو توان ونه مومې، آيا څوك كولی شي د الله تعالی د داسي پرېكړو مخنيوی وكړی؟ همداسي وشول، باغونه او مېوه ئې په

الهي آفت مبتلا شول، ليدل ئې چې د انگورو څېرې او چجې ئې رانسکورې شوې، مېوه او کروندہ ئې تباه شوې، نو لاسونه ئې سره موښل او په هغو لگښتونو ئې تأسف کولو چې پر باغونو ئې کړي ول، ويل ئې: کاش له خپل رب سره مې هيڅوك نه وى شريك کړى، او حالت ئې داسې وو چې هيڅا ئې مرسته نشوى کولى، د خپلوانو او پلويانو هغه ډله هم د ده خوا ته نه راتله او د ده مرسته ئې نشوى کولى چې دى پرې مغرور وو، او په خپله ئې هم د ځان مرسته نشوى کولى، له الله تعالى پرته ئې بله ملجأ او مرجأ نه موندله. همدلته څرگنده او ثابته شوه چې ولايت او مرسته حقيقي الله ته مختص ده، هغه هم د ثواب ورکولو له پلوه غوره دئ او هم د پايلو ټاکلو له پلوه غوره.

وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا كَمَآءٍ أَنزَلۡنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخۡتَلَطَ بِهِۦ نَبَاتُ ٱلۡأَرۡضِ فَأَصۡبَحَ هَشِيمٗا تَذۡرُوهُ ٱلرِّيَٰحُۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ مُّقۡتَدِرًا ﴿٤٥﴾ ٱلۡمَالُ وَٱلۡبَنُونَ زِينَةُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱلۡبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيۡرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابٗا وَخَيۡرٌ أَمَلٗا ﴿٤٦﴾

د دنيايي ژوند مثال ورته تېر کړه چې داسې دئ لکه هغه اوبه چې موږ ئې له آسمانه راوورو او په همدې سره د زمکې بوټي ګڼ ګڼ راوټوکېږي، او (ژر) داسې مات مات شي چې باد ئې الوځوي، او الله په هر څه توانمن دئ، دا مال او اولاد د دنيايي ژوند زينت او ښايست دئ او پاته شوي صالح عملونه ستا د رب په وړاندې هم د ثواب له پلوه غوره دي او هم د طمعې او هيلې له پلوه.

(٤٥-٤٦)- په دې مبارکو آيتونو کې د طبيعت په غېږ کې او د طبيعي حوادثو په استناد د هغو مطالبو د اثبات لپاره دلائل وړاندې شوي چې تر دې د مخه په تاريخي قصو کې وړاندې شول، زموږ پام د هغه باران لورې ته اړوي چې له آسمانه وورېږي، په همدې سره له زمکې ډول ډول بوټي راوټوکېږي، د زمکې مخ شين کړي، داسې چې د هر چا توجه ځان ته راکاږي، خو همدا شنه او زړه راښکونکي بوټي ډېر ژر وچ شي، ټوټې ټوټې شي او گورې به چې سيلۍ ئې يوې خوا بلې خوا ته الوځوي!! د دنيا مال او متاع، اولاد، خپلوان او پلويان همداسې دي، جالب، جاذب، غولوونکي، موقتي او ژر فنا کېدونکي، خو په مقابل کې ئې د انسان صالح او نېك عملونه داسې دي چې بقا او دوام ئې په برخه شي، الله تعالى غوره ثواب او بدله پرې مرتب کړي او د نېکو پايلو طمعه او هيله ئې کېدى شي.

وَيَوۡمَ نُسَيِّرُ ٱلۡجِبَالَ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ بَارِزَةٗ وَحَشَرۡنَٰهُمۡ فَلَمۡ نُغَادِرۡ مِنۡهُمۡ أَحَدٗا ﴿٤٧﴾

وَعُرِضُواْ عَلَىٰ رَبِّكَ صَفًّا لَّقَدۡ جِئۡتُمُونَا كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةِۭۚ بَلۡ زَعَمۡتُمۡ أَلَّن نَّجۡعَلَ لَكُم مَّوۡعِدٗا ﴿٤٨﴾ وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُشۡفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ وَوَجَدُواْ مَا عَمِلُواْ حَاضِرٗاۗ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدٗا ﴿٤٩﴾

او هغه ورځ چي غرونه روان کړو او زمکه به بربنده ګوري، او دوی به راغونډ کړو، داسي چي هيڅ يو ئې پرې نږدو، او ليکه ليکه به ستا رب ته وروړاندي کړی شي، يقيناً چي موږ ته همغسي راغلئ لکه چي په لومړي ځل مو پيدا کړي وئ، خو تاسو ګمان کولو چي هيڅکله به د وعدې تر سره کېدو کومه نېټه درته ونه ټاکو، او کتاب به کېښودی شي، نو مجرمين به ګورې چي له هغه څه وېرېدونکي دي چي په دې (کتاب) کي دي، او وايي به: افسوس پر موږ! دا څنګه کتاب دئ! نه ئې ووړ (عمل)پرېښی او نه ستر مګر هغه ئې درج کړی، او هر هغه څه به حاضر ومومي چي کړي ئې ول، او ستا رب به پر هيچا ظلم نه کوي.

(٤٧-٤٩)- په دې مبارکو آيتونو کي د قيامت دوه پړاوونه په مجمله خو ډېري جامع بڼي کي انځور شوي، داسي:

- هغه ورځ به راشي چي دا غرونه له ځپل ځپل ځايه وخوزوو، يوې بلي خوا ته ئې روان کړو، زمکه له غرونو بربنده شي، خور او پراخ ډاګ ترې جوړ شي.

- ټول انسانان راژوندي کړو، داسي چي هيڅ يو ئې مړ او تر خاورو لاندي پاته نشي، ټول په دې پراخ بربنډ ډاګ کي راغونډ کړو، ليکه ليکه ستا رب ته وروړاندي کړی شي.

- دوی ته به وويل شي: نن د الله تعالی په وړاندي همغسي راغلئ لکه چي په لومړي ځل ئې پيدا کړي وئ، دا دئ بيا ئې د لومړي ځل په څېر راپيدا کړئ، همغسي بربنډ لکه چي له خپلو مېندو بربنډ پيدا کېدئ. تاسو ګمان کولو چي هيڅکله به د وعدې تر سره کېدو کومه نېټه درته ونه ټاکو، خو دا دئ هغه نېټه راغله او هغه وعده ترسره شوه.

- محاسبه به پيل شي، د هر چا په وړاندي به د ده خپل کتاب او عملپاڼه کېښودی شي، مجرمين به ګورې چي د خپلي عملپاڼي په ليدو سره وېرې اخيستي او په پرېوتي او له تأسف ډك غږ سره وايي: افسوس پر موږ! دا څنګه کتاب دئ! نه ئې زموږ ووړ عمل پرېښی او نه ستر، هر څه په کي درج شوي، هر هغه څه به حاضر ومومي چي کړي ئې ول.

- ستا رب به هر چا ته مناسبه او عادلانه سزا ورکړي او پر هيچا به ظلم نه کوي.

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ كَانَ مِنَ ٱلۡجِنِّ فَفَسَقَ عَنۡ

أَمۡرِ رَبِّهِۦٓۗ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِي وَهُمۡ لَكُمۡ عَدُوُّۢۚ بِئۡسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلٗا ﴿٥٠﴾

او هغه مهال چي ملائکو ته مو وويل: د آدم لپاره سجده وکړئ، نو ټولو سجده وکړه پرته له ابليس، چي هغه له پېريانو څخه وو او د خپل رب له امر ئې سرغړاوی وکړ، نو آيا تاسو هغه او اولاد ئې له ما پرته اولياء او مرستيالان نيسئ، حال دا چي هغه مو دښمن دئ؟!! د ظالمانو څومره کرغېړنه او بده بدلونه.

(٥٠)- د دې مبارك آيت مهمي مهمي لاربښووني دا دي:

• انسانانو ته ويل شوي: الله تعالی تاسو ته ستر کرامت درپه برخه کړ، ملائکو ته ئې امر وکړ چي ستاسو جد آدم عليه السلام ته سجده وکړي، ټولو سجده وکړه، د دوی د سجدې معنی دا وه چي د عالم هر څه انسان ته مسخر او تابع وي، همداسي وشول، خو په ټول عالم کي يوازي يوه مخلوق (ابليس) له دې ډډه وکړه چي انسان ته مسخر او تابع وي، دا ځکه چي هغه له پېريانو څخه وو، پېريان د انسانانو په څېر بااختياره دي، الله تعالی داسي پيدا کړي چي کولی شي له دوو لارو او دوو چارو يوه غوره کړي، د ايمان يا کفر لار، اطاعت يا عصيان، نېك يا بد عمل، د فرشتو او نورو مخلوقاتو په څېر نه دي چي د الله تعالی له امر او حکم څخه عصيان او سرغړاوی نشي کولی، نو شيطان له همدې واك او اختيار په استفادې سره د خپل رب له امر څخه سرغړاوی وکړ، عصيان ئې هغه پړاو ته ورسېد چي د الله تعالی په لوري د ببرته گرځېدو ټولي دروازې ئې پر مخ وتړلې او د ده له رحمته سخت مأيوس او ناهيلی (ابليس) شو، نو اې انسانانو! آيا تاسو همغه ابليس او اولاد ئې له الله تعالی پرته اولياء او مرستيالان نيسئ، حال دا چي هغه مو دښمنان دي؟!! دا څومره ظالمانه، بده او کرغېړنه بدلونه ده، خپل رب پرېږدئ او خپل دښمن ته پناه ورځئ او هغه خپل ولي او پالونکی گرځوئ!!!

د دې مبارك آيت له څرگندو لاربښوونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي د قرآن له نظره له الله تعالی پرته د بل چا متابعت شرك او د الله تعالی پر ځای بل د ولي په توگه نيول دي.

مَّآ أَشۡهَدتُّهُمۡ خَلۡقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَا خَلۡقَ أَنفُسِهِمۡ وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ ٱلۡمُضِلِّينَ عَضُدٗا ﴿٥١﴾ وَيَوۡمَ يَقُولُ نَادُواْ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُمۡ فَدَعَوۡهُمۡ فَلَمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَهُمۡ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُم مَّوۡبِقٗا ﴿٥٢﴾ وَرَءَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٱلنَّارَ فَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مُّوَاقِعُوهَا وَلَمۡ يَجِدُواْ عَنۡهَا مَصۡرِفٗا ﴿٥٣﴾

نه مو د آسمانونو او زمکي د پيدايښت پر مهال شاهدان گرځولي ول او نه په خپله د دوی د پيدايښت پر مهال، او نه موږ لاروركي مرستندوی نيسو، او هغه ورځ چي وايي: زما

هغه شریکان دروبلئ چې (همدا) ګمان (مو پرې) کولو، نو وروبه ئې بلې خو اجابت به ئې نشي کولی او د دوی تر منځ به د دوزخ دائمي کنده حائل کړو، او مجرمان به اور وګوري او ګمان به وکړي چې په کې لوېدونکي دي، او له هغه به د څنګ ته کېدا ځای ونه مومي.

(۵۱-۵۳)- دا مبارك آيت د مخکني مزيد وضاحت کوي او وايي: تاسو څنګه د شيطان متابعت کوئ، څنګه ئې په متابعت کې د الله تعالی شريك او ند ګرځوئ، حال دا چې هغه نه د آسمانونو او زمکې د پيدايښت پر مهال حاضر او شاهد وو او نه د خپل پيدايښت پر مهال، څوك چې د عالم د پيدايښت له څرنګوالي خبر نه وي، د خپل ځان د پيدايښت له څرنګوالي خبر نه وي هغه به ځنګه ستاسو لارښوونه وکړی شي؟!! څنګه ګمان کوئ چې الله تعالی به د شيطان په څېر لار ورکي د ځان شريکان او مرستيالان ګرځوي. د دغو وهمي او دروغجنو شريکانو او مرستيالانو ماهيت به هغه ورځ ښه برېنډ شي او دوی ته د دعاء کولو او له دوی د مرستې غوښتلو پايله به ښه جوته شي چې ټول انسانان، پېريان د ابليس په ګډون او دروغجن معبودان د الله تعالی په وړاندې راغونډ شي او الله تعالی ورته ووايي: زما هغه شريکان دروبلئ چې همدا ګمان مو پرې کاوو، زما شريکان مو ګڼل، په هغوی پسې روان وئ او د هغوی په درشل کې مو دعاګاني کولې، مشرکان به هغوی وروبلي خو هغوی به نه ځواب ورکولی شي او نه به ئې مرسته کولی شي، د دوزخ لمبې به ئې تر منځ حائل شي، ټول مجرمان به د دوزخ په ليدو سره پوه شي چې همدا ئې ځای دئ او په همدې کندې کې لوېدونکي دي او هيڅ پناه ځی به ترې ونه مومي.

وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِي هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لِلنَّاسِ مِن كُلِّ مَثَلٖۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ أَكۡثَرَ شَيۡءٖ جَدَلٗا ﴿٥٤﴾

او يقيناً چې په دې قرآن کې مو د خلکو لپاره ډول ډول مثالونه وړاندې کړل، او انسان تر هر څه زيات جګړاوو (جدل کوونکی) دئ.

(۵۴)- دا مبارك آيت وايي چې په قرآن کې ټول هغه مثالونه راغلي چې د خلکو د لارښوونې او پوهاوي لپاره ضروري دي، څوك چې د قرآن د مثالونو، دلائلو او لارښوونو له اورېدو سره سره په حقيقت پوه نشي او ايمان رانه وړي نو هيڅ مثال، دليل او لارښوونه ئې نشي پوهولی او ايمان راوړو ته ئې نشي چمتو کولی، د قرآن د دغو لارښوونو او مثالونو له منلو به يوازې هغه انسان ډډه کوي چې سخت جګړاوو او جدل کوونکی وي. تاسو وليدل چې د دې سورې له پيل تر دې ځايه څومره ښکلي، جامع او اغېزناك مثالونه زموږ مخې ته کېښودل شول، همداسې به د قرآن په نورو برخو کې وګورئ چې خپل مطالب ئې د لارښوونکو مثالونو په ترڅ کې توضيح کړي او د مخاطب هره پوښتنه ئې ځواب کړې او هر تشويش ئې رفع کړی.

وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰ وَيَسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّهُمۡ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمۡ

سُنَّةُ ٱلۡأَوَّلِينَ أَوۡ يَأۡتِيَهُمُ ٱلۡعَذَابُ قُبُلٗا ﴿٥٥﴾

او دا خلك يوازي دې خبري له ايمان راوړلو او له خپل رب بخښني غوښتلو څخه منع کړل چي د مخکنيو سنت (دود دستور) ورته راشي او يا عذاب مخامخ ورته راشي.

(٥٥)- دلته د مشرکينو د ايمان نه راوړلو او له خپل رب د بخښني نه غوښتلو دوه وجهي بيان شوې: ١- دوی له خپل پيغمبر داسي دين او مذهب غوښتو چي د دوی له پلرني مذهب او قومي دود دستور سره ورته وي، نوی دين او له هغه مذهب سره مخالف دين چي دوی ته له خپل پلار او نيکه په ميراث پاته دئ نه مني، يعني دلته سنت د مذهب او دود دستور په معنی راغلی، نه د عذاب په معنی، که دا د عذاب په معنی ونيول شي بيا خو غير ضروري تکرار راځي ځکه د عذاب يادونه ورپسې شوې ده. ٢- پيغمبرانو ته ئې ويلي چي هغه الهي عذاب چېري دئ چي ته موپرې ګواښې، په هغه صورت کي دي منو چي دا عذاب مخامخ په خپلو سترګو وګورو.

دې ته مو پام وي چي د دې آيت د تفسير په اړه د مفسرينو تر منځ ډېر او ژور اختلاف تر سترګو کېږي، ځينو اوږده اوږده بحثونه پرې کړي، ځينو درنو مفسرينو دا آيت په داسي توګه ژباړلی او تعبير کړی چي د آيت له الفاظو سره اړخ نه لګوي او په ډېر تکلف سره د دوی تعبير ترې راوځي. چا ما استفهاميه ګڼلې او آيت ئې داسي ژباړلی: څه شي خلك له دې منع کړل چي ايمان راوړي او .... خو دا تعبير د آيت له وروستۍ برخي سره اړخ نه لګوي، ځينو سنة الاولين پر مخکنيو قومونو راغلی عذاب ګڼلی خو دا تکلف ئې کړی چي ووايي: اوس نو دوی له دې پرته د بل څه انتظار نشي کولی چي همغه پر مخکنيو قومونو نازل شوي عذابونه پرې راشي!! خو د آيت په الفاظو کي د دې خبري لپاره کوم شاهد او مؤيد نه مومو. بل لوري ته د قرآن ګڼ شمېر آيتونو په تکرار سره او په ښېلو ښېلو الفاظو موږ ته ويلي چي د پيغمبرانو عليهم السلام د مخالفينو د ايمان نه راوړلو همدا دوه سببونه وو چي په دې آيت کي ورته اشاره شوې: د دوی دعوت ئې د خپل پلار نيکه له دود دستور سره مخالف موندلی او د عذاب وعيد ئې هسي تش ګواښونه ګڼلي. وروستني آيتونه هم په واضح توګه ښيي چي همدا تعبير دقيق او صحيح دئ.

وَمَا نُرۡسِلُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَۚ وَيُجَٰدِلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ
لِيُدۡحِضُواْ بِهِ ٱلۡحَقَّۖ وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِي وَمَآ أُنذِرُواْ هُزُوٗا ﴿٥٦﴾ وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ
بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ فَأَعۡرَضَ عَنۡهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتۡ يَدَاهُۚ إِنَّا جَعَلۡنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ أَكِنَّةً
أَن يَفۡقَهُوهُ وَفِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَقۡرٗاۖ وَإِن تَدۡعُهُمۡ إِلَى ٱلۡهُدَىٰ فَلَن يَهۡتَدُوٓاْ إِذًا أَبَدٗا ﴿٥٧﴾

وَرَبُّكَ ٱلۡغَفُورُ ذُو ٱلرَّحۡمَةِۖ لَوۡ يُؤَاخِذُهُم بِمَا كَسَبُواْ لَعَجَّلَ لَهُمُ ٱلۡعَذَابَۚ بَل لَّهُم مَّوۡعِدٞ لَّن يَجِدُواْ مِن دُونِهِۦ مَوۡئِلٗا ۝٥٨

او پيغمبران يوازي د مبشرينو او منذرينو په توګه لېږو، او هغه چي كفر ئې كړى د باطل په مرسته جدل كوي د دې لپاره چي حق پرې راوپرځوي، او زما آيتونه او هغه څه ئې تر ملنډو لاندي نيولي چي خبرداری پرې وركول كېږي، او تر هغه به لوى ظالم څوك وي چي د خپل رب په آيتونو سره پند وركړى شي او هغه ډډه ترې وكړي او هغه څه هېر كړي چي لاسونو ئې وړاندي كړي، يقيناً چي موږ د دوى پر زړونو پرده غوړولې چي پرې پوه نشي او په غوږونو كي ئې درندوالى، او كه د هدايت لوري ته ئې وبلې نو په دې حالت كي به تر ابده هيڅكله هدايت نشي، او ستا رب د رحمت خاوند بخښونكى دئ، كه ئې دوى د خپلو كړنو له كبله نيولى نو ژر به ئې عذاب ورپه برخه كړى وو، خو د دوى لپاره د وعدې (د تحقق) داسي ځاى ټاكل شوى چي له هغه پرته كومه ملجأ نشي موندلى.

(٥٦-٥٨)- د دې مباركو آيتونو لارښووني دا دي:

• پيغمبران د الله تعالى له لوري لېږل شوي، د الله تعالى پيغام خلكو ته رسوي، د دغه پيغام په رڼا كي د ايمان ~~خاوندانو ته زېرى وركوي او كافران د خپل كفر له بدو پايلو وېروي، له دوى څخه دا مطالبه چي ستاسو پلرني~~ مذهب تأييد كړي يا د هغه خلاف له څه ويلو ډډه وكړي او يا الهي عذاب مخامخ دروښيي؛ خوشې او بې بنسټه غوښتنه او مطالبه ده.

• كافرانو له باطل مذهب او غلطي تګلاري او كړنلاري د دفاع لپاره ملاتړلې، د همدې باطل مذهب په مرسته او ګټه جدل كوي، موخه ئې دا ده چي حق راوپرځوي، دوى د الله تعالى آيتونه او هغه څه تر ملنډو لاندي نيولي چي خبرداری پرې وركول كېږي.

• تر هغه چا به لوى ظالم څوك وي چي كله پند وركړى شي، هغه هم د ده د رب په آيتونو سره، خو هغه نه يوازي مخ واړوي او له منلو ئې ډډه وكړي بلكي خپل ټول هغه ګناهونه، ظلمونه، فسادونه، كفر او شرك هېر كړي او بې اهميته او عادي ئې وګڼي چي تر دې د مخه ئې كړي؟!!

• دوى د شرك، كفر، جهل او ړوند تعصب په ډډ كي داسي نښتي چي راوتل ورته ګران شوي، پر زړونو ئې داسي پرېړي پرېړي پردې غوړېدلي چي د حق وړانګي ترې تېرېدى نشي، په غوږونو كي ئې داسي درندوالى دئ چي د حق له اورېدو ئې عاجز كړي، نو په دې حالت كي كه څوك هغوى د هدايت لوري ته وبلي نو يقيناً چي تر ابده به هدايت نشي.

• په الهي عذاب كي د ځنډ وجه دا ده چي ستا رب د رحمت خاوند بخښونكى دئ، كافر او مشرك ته هم مهلت وركوي، د توبې دروازه ورته پرانيستي پرېږدي، په نيولو او تعذيب كي ئې تلوار نه كوي، كه ئې دوى د خپلو كړنو له كبله نيولى نو لاډير د مخه به ئې عذاب ورپه برخه كړى وو. خو د دوى لپاره ئې د وعدې د تحقق داسي ځاى ټاكلى چي له هغه پرته كوم بله ملجأ او منجأ نشي موندلى.

دې ته مو پام وي چي ځينو درنو مفسرينو دلته موعد د اسم زمان صيغه ګڼلې او په (من

دونه) کي ضمير الله تعالی ته راجع بولي، ويلي ئې دي چې "الله تعالی کافرانو ته د وعدې د تحقق ثابته نېټه ټاکلي او له الله تعالی پرته بل پناځی نشي موندلی، دا تعبير دقيق نه برېښي او د فقرو تر منځ تړاو او ارتباط نشي تأمينولی، اصولاً بايد ضمير نږدې اسم ته راجع شي، دلته نږدې اسم موعد دئ نه د الله نوم، غوره تعبير همدا دئ چې دلته موعد اسم مکان دئ او په دې سره دوزخ ته اشاره شوې او په (دونه) کي اشاره همدې موعد ته شوې. او په ورپسې آيت کي د اسم زمان په معنی راغلی، دا تعبير هغه تکرار هم منتفي کوي چې د کلام بلاغت ته تاوان رسوي. په ټول قرآن کي د الله تعالی لپاره د موئل صيغه نه ده راغلې، دا صيغه له الله تعالی سره نه ښايي، له موعداً سره ښايي.

وَتِلۡكَ ٱلۡقُرَىٰٓ أَهۡلَكۡنَٰهُمۡ لَمَّا ظَلَمُواْ وَجَعَلۡنَا لِمَهۡلِكِهِم مَّوۡعِدٗا (٥٩)

او دا هغه کلي دي چې هلاك مو کړل، هغه مهال چې ظلم ئې وکړ او د دوی د هلاکت لپاره مو خاصه نېټه ټاکلې وه.

(٥٩)- دا مبارك آيت د مخکنی مضمون بشکلي او جامع تتمه ده او دا لارښووني په کي ځلېږي:

- دا د هغو کليو قصې دي چې الله تعالی هلاك کړي.
- د هلاکت وجه ئې ظلم وو.
- د هر يوه د هلاکت لپاره ځانګړې ثابته نېټه ټاکل شوې وه، او همدا د الله تعالی ثابت او نه بدلېدونکی سنت دئ.

تر دې ځايه د سورې اساسي مضامين د دريو تاريخي قصو په ترڅ کي انځور شول، يوه ئې د اصحاب کهف د مؤمنو زلميانو او د دوی د مشرك او ظالم قوم تر منځ د مبارزې قصه، بله ئې د يوه مشرك شتمن او مؤمن نيستمن د عبرتناکي مرکې او محاورې قصه، بله ئې د انسان د پيدايښت هغه قصه چې ملائکو د ده په وړاندې سجده وکړه او ابليس سرغړاوی وکړ، خو اوس موږ ته د دوو سترو سترو شخصيتونو د ملاقات او ګډ سفر قصه رااوروي، د موسی عليه السلام او خضر عليه السلام، يو ئې د پنځو اولوالعزمو پيغمبرانو له ډلي او بل ئې د الله تعالی داسي نېك او عالم بنده چې موسی عليه السلام ترې زده کړه کړې او له هغه سره ئې د ملاقات په موخه د اوږده او ستونزمن سفر لپاره ملا تړلې وه. د دې قصې په هر پړاو او هري برخي کي ګڼ شمېر عبرتناك درسونه او ځلانده لارښووني زموږ په وړاندې ځلېږي، قصه داسي پيل شوې:

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَىٰهُ لَآ أَبۡرَحُ حَتَّىٰٓ أَبۡلُغَ مَجۡمَعَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ أَوۡ أَمۡضِيَ حُقُبٗا



او کله چې موسی خپل زلمکي ته وويل: تر هغه به له تلو تم نشم چې مجمع البحرين (د

دوو سيندونو يو ځای کېدو سيمي) ته ورسېږم يا به تر اوږدې مودې (کالونه کالونه) درومم.

(٦٠)- په دې مبارکو آيتونو کې څو لارښووني زموږ مخې ته اېښودل شوې:

- موسی عليه السلام په يوه اوږد سفر وتلی، غوښتل ئې مجمع البحرين (د دوو سيندونو د يو ځای کېدو سيمي) ته ورسېږي، په ورپسې آيتونو کې به درته جوته شي چې د دې سفر موخه ئې له يوه عالم او مجاهد شخصيت سره ملاقات او له هغه څه زده کول وو، د آيتونو له فحوی معلومېږي چې ده ته د دې شخصيت يادونه شوې، د اوسېدو ځای ئې مجمع البحرين ښودل شوی، ده اراده کړې چې دا کس حتماً وګوري، څه وخت ورسره پاته شي او څه ترې زده کړي. په همدې موخه خوزېدلی.
- يو کس ئې د خادم او ساتونکي په توګه له ځان سره کړی. دلته د موسی عليه السلام د سفر ملګری د (فتا: غلام او خادم) په نامه ياد شوی او له دې معلومېږي چې دا د هغه وخت قصه ده؛ او دا سفر هغه مهال ترسره شوی چې موسی عليه السلام د فرعون په کور کې او د شاهي کورنۍ د يوه غړي په توګه اوسېدو او ساتونکي او غلامان ئې په خدمت کې ول، دا ځکه چې قرآن د يوسف عليه السلام ساتونکي او خدمتګاران هم په دغه نامه يادکړي.
- دا سفر اوږد او ستونزمن وو، د ده دا وينا چې يا به مجمع البحرين ته رسم او يا خو به همداسې تر اوږدې مودې درومم، همدا مطلب افاده کوي. د هغو خلکو انتباه صحيح نه ده چې وايي: موسی عليه السلام سحر خوزېدلی، د غرمې شاوخوا مهال داسې ځای ته رسېدلی چې ستړی او وږی شوی، هملته پوخ ماهي ترې ورک شوی او خضر عليه السلام ئې همدلته موندلی!!
- که د مصر نقشې ته ځير شو نو وبه ګورو چې په ټول مصر کې داسې ځای نشته چې دوه سيندونه سره يو ځای شوي وي، مصر په حقيقت کې داسې هېواد دئ چې د نيل دواړو خواوو ته آباد شوی، د نيل له دواړو خواوو آخوا ټوله صحراء ده، نيل له دوو سترو سيندونو جوړ شوی (نيل الابيض او نيل الازرق)، دا دواړه د سودان په مرکز خرطوم کې سره يو ځای شوي، له مصر تر خرطوم پورې بل مجمع البحرين نه ترسترګو کېږي، او دا تر دوو مياشتو زيات پلې مزل غواړي، د موسی عليه السلام له وينا معلومېږي چې دی په اوږده سفر وتلی وو، د ده له دې وينا چې يا به د دوو سيندونو د يوځای کېدو ځای ته رسېږم او يا خو به تر اوږدې مودې همداسې درومم، همدا خبره معلومېږي، په لنډ سفر کې هيڅوك دا خبره نه کوي چې يا به آخري مزل ته رسېږم او يا خو به همداسې تر اوږدې مودې روان يم. د هغو مفسرينو رأيه دقيقه ده چې له مجمع البحرين څخه د نيل د دوو څانګو د يوځای کېدا محل اخلي، دلته له بحرين څخه مراد دوه روان سيندونه اخلي نه دوه ولاړې اوبه، د ولاړو اوبو لپاره د (مجمع بينهما) الفاظ کارول مناسب نه برېښي.
- ځينو مفسرينو داسې انګېرلې چې ښايي دا سفر به د موسی عليه السلام له بعثت وروسته او هغه مهال ترسره شوی وي چې دی د سينا په بېديا کې اوسېدو او ګمان کوي چې له مجمع البحرين به مراد د خليج عقبه او خليج سويس يا د بحرالروم او بحر القلزم يوځای کېدا وی، خو دا انګېرنه ځکه کمزورې ده چې له يوې خوا دا ځايونه کومې نښې ته ضرورت نه لري، حال دا چې موسی عليه السلام ته کب د نښې په توګه ټاکل شوی وو او ورته ويل شوي وو چې دا به په مجمع البحرين کې له تا غائب شي، له بلې خوا دا ځايونه داسې نه دي چې له موسی عليه السلام څخه ئې دومره اوږد سفر غوښتو چې ووايي: يا به مجمع البحرين ته رسېږم يا به کلونه کلونه (حقبا) مزل کوم.
- همدا راز دا آيتونه وايي چې موسی عليه السلام له هغه پوه او مجاهد سړي څه زده کول غوښتل، او دا ښيي چې دغه سفر د ده له بعثت مخکې وو، ځکه له بعثت وروسته هغه د نورو لپاره ستر لارښود وو، تر ده بل پوه او عالم کس په نړۍ کې نه وو.
- قرآن وايي چې موسی عليه السلام له بعثت وروسته يوازې څلوېښت ورځې له خپل قوم څخه لرې شوی چې د ده په غياب کې سامري وغولول، که دا سفر له بعثت وروسته وی نو حتماً به ئې قرآن وضاحت کړی وو.

له بعثت وروسته هغه د سينا په صحرا كي وو، هلته نه سيندونه وو او نه مجمع البحرين.

- دې ته مو بايد پام وي چې دا قصه د مخكنيو په څېر قريشو ته اورول شوې او په ترڅ كي ئې هغوی ته ويل شوي: موسی عليه السلام له يوه داسي عالم څخه چې الله تعالی څه علم وركړی وو، د څه زده كولو لپاره دومره اوږد او ستونزمن سفر وكړ او پرېكړه ئې كړې وه چې كه دا سفر كلونه كلونه هم ونيسي دوام وركوم، خو تاسو كمبختان د رسول اللهﷺ په څېر د داسي ستر عالم شخصيت څخه چې الله تعالی د پيغمبر په توگه غوره كړی او د قرآن په څېر كتاب ئې وركړی، نه يوازي د څه زده كولو هڅه نه كوئ بلكي د هغه مخالفت ته مو ملا تړلې!!

فَلَمَّا بَلَغَا مَجۡمَعَ بَيۡنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلۡبَحۡرِ سَرَبٗا ﴿٦١﴾ فَلَمَّا
جَاوَزَا قَالَ لِفَتَىٰهُ ءَاتِنَا غَدَآءَنَا لَقَدۡ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبٗا ﴿٦٢﴾ قَالَ
أَرَءَيۡتَ إِذۡ أَوَيۡنَآ إِلَى ٱلصَّخۡرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ ٱلۡحُوتَ وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ إِلَّا ٱلشَّيۡطَٰنُ أَنۡ
أَذۡكُرَهُۥۚ وَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ فِي ٱلۡبَحۡرِ عَجَبٗا ﴿٦٣﴾ قَالَ ذَٰلِكَ مَا كُنَّا نَبۡغِۚ فَٱرۡتَدَّا عَلَىٰٓ
ءَاثَارِهِمَا قَصَصٗا ﴿٦٤﴾

نو كله چې د دواړو يوځای كېدو سيمي ته ورسېدل؛ نو دواړو خپل كب هېر كړ، چې په سيند كي ئې خپله لار ونيوله او ولاړ. نو كله چې تېر شول خپل زلمكي ته ئې وويل: غرمنی (خوراك) مو راته راوړه؛ په رښتيا چې له دې سفره مو ستړيا په برخه شوه (دې سفر ډېر ستومانه كړو)، وئې ويل: په ياد دي دي كله چې هغې لويې ډبرې ته مو پنا يووړه؛ نو ما كب هېر كړ، هسې شيطان رانه هېر كړ چې يادونه ئې (درته) وكړم، او په عجيبه توگه ئې په سيند كي خپله لار ونيوله. وئې ويل: همدا هغه څه دئ چې موږ ئې غواړو، پر خپلو پلونو گام په گام په شا وگرځېدل.

(٦١-٦٤)- په دې مباركو آيتونو كي لاندي مطالب زموږ مخې ته ځليږي:

- د دې آيتونو له فحوی معلومېږي چې دا سفر د دوبي په گرميو كي ترسره شوی، د سفر اوږدوالي له يوې خوا او تودوخي له بلې خوا دومره ستومانه كړي وو چې موسى عليه السلام وويل: دې سفر ډېر ستومانه كړو، همدا راز د تودوخي له امله ئې د غرمې مهال د يوې لويې ډبرې سيوري ته پنا وړې وه.
- دلته ويل شوي چې كله مجمع البحرين ته ورسېدل نو دواړو هغه كب هېر كړ، چې په عجيبه توگه ئې په سيند كي خپله لار ونيوله او ولاړ. له دې الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا كب په سيند كي روان كب وو، چې په مجمع البحرين كي ئې خپله لار بدله كړې او په بل لوري تللی، دلته ويل شوي چې دواړو خپل كب هېر كړ، د دې معنی دا ده چې دواړو دا خبره هېره كړې وه چې كب به تر نظر لاندي نيسي، دې ته ئې پام نه وو چې د كب د غائبيدو ځای همغه مجمع البحرين دئ چې دوی ئې په لټه كي ول، له دې پرته بل تعبير صحيح نه دئ ځكه په آيت كي ويل شوي چې زلمكي تر دې وړاندي او په مجمع البحرين كي هغه كب ليدلی وو چې په

بل لوري ولاړ، خو دا خبره ئي هېره شوې وه او موسى عليه السلام ته ئي وروسته وكړه.

• نو كله چي له دې ځايه تېر شول موسى عليه السلام خپل زلمكي ته وويل: غرمنى خوراك مو راوړه؛ هغه ورته وويل: په ياد دي دي كله چي هغې لويي ډبري ته مو پنا يووړه؛ نو ما كب هېر كړ، هسي شيطان رانه هېر كړ چي يادونه ئي درته وكړم، او په عجيبه توگه ئي په سيند كي خپله لار ونيوله. د زلمي له دې وينا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي ده ته دا وظيفه وركړى شوې وه چي په بحر كي روان كب به تر نظر لاندي نيسي، كه ترې ورك شو نو ده ته به اطلاع وركوي، ده كب ليدلى چي خپله لار ئي بدله كړې او په بلي لاري تللى، خو له ياده ئي وتلي چي دا خبره موسى عليه السلام ته وكړي، هغه مهال ئي موسى عليه السلام ته كړې چي هغه د خوراك غوښتنه ترې كړې.

• ځينو ويلي چي دا وريت شوى كب وو چي دغه مهال ژوندى شوى او سيند ته ئي ټوپ كړي!! حال دا چي كه دا د وريت شوي كب ژوندي كېدا وى نو د داسي پېښي هېرول محال برېښي، د موسى عليه السلام ملگري به د داسي پېښي له ليدو سره سم چيغه كړې وه او همغه مهال به ئي موسى عليه السلام پرې خبر كړى وو.

• ځينو له دې خبري چي موسى عليه السلام غرمنى خوراك غوښتى او زلمكي ورته ويلي: كب هغه مهال په بله لار ولاړ چي موږ لويي ډبري ته پناه وړې وه خو شيطان رانه هېره كړه چي تا ته ئي ووايم، دا انتباه اخيستي چي گواكي موسى عليه السلام وريت كب ترې غوښتى او هغه ورته ويلي چي هغه ژوندى شو او سيند ته ئي ټوپ كړل او ولاړ!! دا په داسي حال كي چي نه يوازي د آيت په الفاظو كي داسي څه قطعاً نشته، نه اشارتاً او نه صراحتاً، نه دلته او نه په كوم بل آيت كي دا خبره شوې چي دا وريت شوى كب وو، بلكي د آيت الفاظ په بشپړه توگه دا رأيه ردوي، كه دا وريت شوى او پوخ كب وو او د دوى لپاره د نښي په توگه ټاكل شوى وو نو موسى عليه السلام به څنگه خپل خادم ته ويل چي هغه د خوراك لپاره راوړه؟!! په دې صورت كي خو به ئي تل له ځان سره خوندي ساتو او له خوړلو به ئي ډډه كوله. ځيني بيا د دې كمزوري رأيي په تأييد كي په داسي رواياتو استناد كوي چي هم د سند له پلوه كمزوري دي او هم د متن له پلوه له نورو رواياتو سره تعارض لري، او هغه روايات ئي له پامه غورځولي چي وايي دا ژوندى او په سيند كي روان كب وو. د دې تفصيل به إن شاء الله د دې بحث په پاى كي وگورئ. حقيقت دا دئ چي دا ژوندى او په سيند كي روان كب وو، تاسو پوهېږي چي الله تعالى كبان داسي پيدا كړي چي په ژمي كي تودو سيمو ته كوزېږي او په دوبي كي بېرته خپلو اصلي سړو سيمو ته درومي، كله كله د دوى دا ژمنى او دوبنى سفر سلگونه كيلومتره اوږد وي، د نيل كبان په ژمي كي د مصر په لوري تودو سيمو ته راكوزېږي او د دوبي (اوړي) په موسم كي بېرته له مصر د سودان او په يوگندا او ايتوپيا كي د نيل د سرچينو په لوري درومي، موسى عليه السلام ته داسي كب د نښي په توگه ښودل شوى چي د دوبي په موسم كي د سودان په لوري ځي، په مجمع البحرين كي كيڼ لوري ته خپله لار بدلوي او د نيل هغې څانگې ته درومي چي سرچينه ئي د ايتوپيا په غرونو كي ده (چي البحر الازرق نومېږي)، دا هم ضروري نه ده چي څوك ووايي دا به حتماً كوم خاص كب وو، دقيقه خبره دا ده چي دا يو ډول كب وو، همغه چي پلرنى ټاټوبى ئي د ايتوپيا په غرونو كي وو، دا داسي ده لكه چا ته چي ووايي: دا برگ كب ستا لپاره نښه ده، دا به د دوو سيندونو د يو ځاى كېدو په سيمي كي خپله لار بدلوي او د سيند هغې څانگې ته به درومي چي له كيڼ لوري راغلي، همدغه ځاى مجمع البحرين دئ. له برگ كب څخه ستا مراد د كبانو يو ډول دئ نه خاص كب.

• كله چي زلمي د ماهي د وركېدو خبره موسى عليه السلام ته كړې نو هغه ويلي: دا همغه مجمع البحرين دئ چي موږ ئي په لټه كي وو، پر خپلو پلونو گام په گام په شا وگرځېدل او هملته ئي خضر عليه السلام وموند. دلته د زلمي دا وينا راغلي چي د كب په اړه ئي وويل: په عجيبه توگه ئي په سيند كي خپله لار ونيوله. حقيقتاً چي دا د ډېر حيرت او تعجب وړ خبره ده چي كبان څنگه كولى شي په ژمي كي له خپل اصلي ټاټوبي څو سوه كيلومتره لري تودو سيمو ته ولاړ شي، په دوبي كي بېرته ستانه شي پرته له دې چي لار وركه كړي او په بل لوري ولاړ شي، حتى په هغه ځاى كي چي څو سيندونه سره يو ځاى كېږي دوى؛ خپل لورى نه غلطوي او په بل لوري نه درومي. دا دئ گورئ چي دوى له نښو پرته خپله لار موندله او د موسى عليه السلام په څېر ستر شخصيت نښي ته اړ وو.

- دې ته مو هم باید پام وي چې هغه پلي نابلد مسافر ته چې د لوی سیند په ژۍ برې خوا ته روان وي، دا ډېره ګرانه وي چې د دوو سیندونو د یو ځای کېدو ځای په دقیقه توګه تشخیص کړي، دا ځکه چې ډېر ځلې لوی سیندونه په یوه ځای کې ووېشل شي او په بل ځای کې ئې وېشل شوې څانګې بېرته سره یو ځای شي، نو ځکه موسی علیه السلام د مجمع البحرین موندلو لپاره یوې نښې ته ضرورت درلود.

فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ ءَاتَيْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا ﴿٦٥﴾

نو زما له بندګانو ئې داسې یو بنده وموند چې له خپل لوري مو پېرزوینه ورپه برخه کړې وه او له خپل لوري مو څه علم ورزده کړی وو.

(٦٥)- د دې مبارک آیت مهمې مهمې لاربښوونې دا دي:

- له راستنېدو سره سم ئې هغه څوك موندلی چې دوی ئې په لټه کې ول او الله تعالی ئې داسې معرفي کوي: زما یو داسې بنده چې له خپل لوري مې پېرزوینه پرې کړې وه او له خپل لوري مې څه علم ورزده کړی وو.

د دې آیت د (وَعَلَّمْنَٰهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا) له فقرې څخه ځینو متصوفینو د (لدني علم) اصطلاح رااېستلې او وایي چې دا علم د تعلیم، تعلم، لیك او لوست له لارې نه ترلاسه کېږي، آناً او له مقدمې پرته انسان ته القاء کېږي، دا اصلي او حقیقي علم بولي او هغه علم ته د پوستکي او ظاهري علم په سترګه ګوري چې د تعلیم او تدریس له لارې او په لیك لوست ترلاسه کېږي!! د دغو جنابانو په ځواب کې وایو: ۱- دا له ځانه جوړه شوې بې بنسټه اصطلاح ده. ۲- د دې الفاظو نه دا معنی ده چې خاص علم ورکړی شوی وو او نه دا چې دا کوم ځانګړی علم (علم لدني) وو، بلکې دقیقه معنی ئې دا ده چې الله تعالی له خپل لوري څه علم ورکړی وو، دلته مزید وضاحت د دې لپاره ضروري ګڼم چې متصوفینو له دغې قصې او په ځانګړې توګه له دغې فقرې داسې له خرافاتو ډك باورونه رااېستلي چې د قرآن له څرګندو لاربښوونو سره په بشپړه توګه تضاد لري. دوی وايي: خضر علیه السلام په غیب پوهېدو!! دا په داسې حال کې چې د قرآن په لسګونه آیتونه په قاطع توګه او په واضح الفاظو وایي چې له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي، پدې قصې کې هیڅ داسې دلیل نشته چې د موسی علیه السلام ملګري ته علم غیب ترې ثابت شي، قرآن ندي ویلي چې دی په غیب پوهېدو، نه پوهېږو څوك چې هڅه کوي د دې قصې له کومې برخې خضر علیه السلام ته علم غیب ثابت کړي څنګه دا جسارت کوي؟! د قصې له کومې برخې او د اړوند آیتونو له کوم لفظ ئې دا انتباه اخیستې ده او دلیل ئې څه دئ؟! موسی علیه السلام له خضر علیه السلام کوم علم غیب زده کړی؟ موږ ته خو قرآن په همدې سوره کې او څو آیته وروسته وایي چې ده له خضر علیه السلام څو کارونه زده کړل:

۱. د یوه ظالم پاچا له منګولو د مسکینو او بې وزلو جاله والو ژغورل؛ هغه هم په داسې بنې

کي چي جاله وال تريې خبر نشول، د لږ ضرر په مقابل کي ئي دوی له ستر تاوانه وژغورل.
۲. د يوه مفسد، کافر او بې رحمه زلمي وژل او مؤمن مور پلار ئي له شره ژغورل.
۳. تر نړېدونکي دېوال لاندي د دوو يتيمانو لپاره ښخه شوې خزانه له غارت کېدو خوندي کول.
موسی عليه السلام له خپل عالم او مجاهد استاد څخه همدا لارښووني زده کړي وې، د همدې لارښوونو په رڼا کي هغه دغو دريو کارونو ته ورته کارونه وکړل: ۱- له يوه مظلوم بني اسرائيلي د دفاع په موخه ئي يوه ظالم قبطي ته داسي گوزار ورکړ چي پرې مړ شو، ۲- د مدين د کوهي غاړي کي ئي په داسي حال کي د دوو بې وزلو نجونو رمه خړوبه کړه چي د اوږده سفر له کبله ډېر ستړی او ستومانه وو، ۳- د بني اسرائيلو د نجات لپاره له مدين څخه مصر ته لاړ او د فرعون مقابلي ته ئي ملا وتړله. خضر عليه السلام نه کوم لاهوتي او ناسوتي علم موسی عليه السلام ته ورښودلی، نه کوم لدني علم، نه کوم باطني علم او نه د طريقت مسلك، درې جهادي لارښووني ئي ورته کړې او په عملي توگه ئي ورښودلې. د ظالمانو په ضد د مظلومانو ملگرتيا، د بې رحمه مفسد وژل او د يتيمانو مرسته.
جاهل متصوفين لدني علم د داسي علم په توگه معرفي کوې چي له تعليم او تدريس پرته ترلاسه کېږي او مرشد ئي په يوه نظر مريد ته القاء کوي، دوی دا عقيده له محرف بايبل اقتباس کړې، بايبل وايي: آدم او حوا د معرفت د وني مېوه وخوړه، معرفت ئي په برخه شو، سترگي ئي پرانيستل شوې او يوه شول چي بربنډ دي، تر دې د مخه په خپل بربنډتوب نه پوهېدل، بايبل وايي چي اسحاق (عليه السلام) يعقوب (عليه السلام) ته برکت ورکړ او په همدې سره ئي د پيغمبرۍ مقام په برخه شو، خو وايي چي يعقوب عليه السلام خپل پلار دوکه کړ، او دا برکت ئي د دې دوکې په نتيجه کي ترلاسه کړ، اسحاق(عليه السلام) غوښتل چي عيسو ته برکت ورکړي خو يعقوب (عليه السلام) ځان د عيسو په څېر جوړ کړ، اسحاق (عليه السلام) ونه پېژندو او د عيسو گمان ئي پرې وکړ او برکت ئي ورکړ!! **له مسيحيانو پوښتنه کوو: دا څنگه برکت وو چي يعقوب په دوکې ترلاسه کړ او پلار بېرته ترې اخيستی نه شو؟ په کار خو دا وه چي پلار نه يوازي هغه برکت بېرته له يعقوبه اخيستی وی چي په دوکې ئي ترلاسه کړی وو بلکي مزيد ئي هغه رټلی وی!! د دې برکت پرېکړه الله تعالی کوي که بنده؟ الله تعالی خو نه غولېږي، مستحق او غير مستحق پېژني، هغه به څنگه د هغه چا د غلطي دعاء په اساس پرېکړه کوي چي غولېدلی؟**دوی هم د بايبل خبره کوي او وايي چي علم لدني د پير او مرشد په يوې دعاء او وينا سره مريد ته ورکول کېږي، تعليم او تعلم ته ضرورت نه لري!! هغوی ته وايو: لومړی بايد د دغه آيت په معنی ځان پوه کړو او وگورو چي الله تعالی هغه عالم بنده ته کوم علم ورکړی وو، هغه علم چي ته ئي ادعاء کوې که بل علم؟! قرآن په خپله د دې پوښتني ځواب موږ ته راکوي او د هغو دريو پېښو په ترڅ کي ئي موږ ته راښيي چي له موسی عليه السلام سره د سفر په دوران کي رامنځته شوې. د قرآن له آيتونو خو دا حقيقت جوتېږي چي خضر عليه السلام يو مجاهد وو، د بې وزلو او مظلومانو ملگرتيا ئي کوله، موسی عليه السلام ته ئي د جهاد درس ورکړ، اوس تاسو موږ ته ووايئ چي د دغوڅرگندو او واضحو آيتونو له کومي برخي او له کوم لفظ مو د (لدني علم) اصطلاح راايستلې؟!! او غواړئ له قرآن بې خبرو مريدانو ته ووايئ چي که ستاسو پير او

مرشد نه قرآن لوستلی شي، نه د پیغمبر علیه السلام له احادیثو خبر دئ، نه په لیك پوهېږي او نه لوست کولی شي، د هغه په اړه شك مه کوه او لمن ئې کلکه ونیسه، دا خبري باید ستا اخلاص کم نکړي، هغه ته د مخکني مرشد له لوري (لدني علم) ورکړی شوی او د دین په ټولو رموزو او پټو اسرارو د مرشد د یوې دعاء له امله پوه شوی!! هغه په یوې مراقبې سره کولی شي د اسرارو دروازې پرانېزي او په پټو حقایقو پوه شي!!

ډېره عجیبه ده، د قرآن له داسي قصې او مضمون چي هر مخاطب ته د سري مبارزي درس ورکوي، غرضي او مرضي خلکو داسي افسانه جوړه کړې چي د مخاطب ذهن تخدیروي او له سره تر پایه غلط افکار القاء کوي، چېري د خضر علیه السلام هغه درې جهادي کارونه او چېري دې ته د لدني علم نوم ورکول او دا ادعاء کول چي هغه په غیب پوهېدو او کارونه ئې غیرعادي ول.

دوی دې ته هم متوجه نه دي چي د همدغي (و علمناه من لدنا علما) فقرې ته ورته الفاظ د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کي راغلي، او په ترڅ کي ئې قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د انسان هر څه د الله تعالی پېرزوینه ده، ژوند ئې، استعدادونه ئې، رزق ئې، علم او معرفت ئې، قرآن دا ټول الله تعالی ته منسوبوي او د الله تعالی پېرزوینه ئې ګڼي، په ټولو هغو آیتونو کي چي دا حقیقت په کي بیان شوی همدا د (لدن) لفظ راغلی؛ الله تعالی د قرآن ورکړه، د اولاد او رزق ورکړه، له خپل لوري د ولي او نصیر لېږل او ... د لدن په لفظ سره یادوي، که هلته د (لدني رزق)، (لدني ولي و نصیر)، (لدني اولاد)، (لدني قرآن) اصطلاح نشئ راایستلی؛ نو دلته څنګه د لدني علم اصطلاح راباسئ، موږ ته ووایه چي له (لدني علم) نه ستاسو مراد څه دئ؟ مراد مو (ذاتي علم) دئ، که د (الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم)؟ که آناً او له تعلیم او لیك لوست پرته ترلاسه شوی علم؟ ذاتي علم خو له الله تعالی پرته هیڅوك نه لري، د انسان علم خو اکتسابي دئ، انسان د وحي، تعلیم، تدریس، لیك او لوست له لاري علم ترلاسه کوي، قرآن د رسول اللهﷺ په اړه فرمایي چي تر بعثت مخکي نه په کتاب پوهېدو او نه د ایمان په حقیقت او معنی:

وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ۚ مَا كُنتَ تَدْرِى مَا ٱلْكِتَـٰبُ وَلَا ٱلْإِيمَـٰنُ وَلَـٰكِن جَعَلْنَـٰهُ نُورًا نَّهْدِى بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا ۚ وَإِنَّكَ لَتَهْدِىٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٢﴾
الشوری:۵۲

همداسي مو تا ته له خپل لوري د یوه خاص امر وحي وکړه، ته نه پوهېدې چي کتاب څه دئ او نه د ایمان (په معنی او حقیقت) پوهېدې، خو موږ داسي نور وګرځاوو چي له خپلو بندګانو څخه هغه څوك پرې هدایتوو چي غواړو ئې، او بې شکه چي ته د مستقیمي لاري خوا ته لارښوونه کوې.

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د هر انسان علم په حقیقت کي د الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم دئ، د پوهي او معرفت وسایل او استعدادونه هم الله تعالی ورکړي او په یوه څه د پوهېدو مجال او شرایط هم الله تعالی ورته برابروي. دا الله تعالی دئ چي هر چا ته علم او

پوهه ورکوي، سترګي، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښيي او د ښه او بد، مفيد او مضر په پېژندلو کې ئې مرسته کوي، په هر څه چې انسان علماً احاطه کوي او په کوم څه د پوهېدو توفيق ترلاسه کوي نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد کې وي چې الله ئې وغواړي. د انسان پر مخ چې د معرفت هره دروازه پرانيستل کېږي او په هرې نوې خبري چې د پوهېدو توفيق ترلاسه کوي، د ده هر(کشف) او په هر سِر او راز پوهېدل ئې په حقيقت کې د الله تعالى يوه پېرزوينه ده، دا دروازه د ده له لوري ورته پرانيستل کېږي، په دغو حقايقو د پوهېدو توفيق دى ورکوي او د دغو اسرارو د کشف توان دى ورکوي، چې حقيقت همداسي دئ نو ته ما ته ووايه چې ولې د خضر عليه السلام علم استثنايي علم ګڼې او د (لدني علم) نوم ورکوې؟!!

پيغمبرانو عليهم السلام ته چې د وحي له لاري کوم علم ورکړى شوى دا هم په تدريجي توګه او د کتاب او صحيفې په بڼه کې ورکړى شوى، نه دا چې په يو ځل او په بشپړه توګه ټول علوم د هغوى زړه او دماغ ته القاء شوي، قرآن پر پيغمبر عليه السلام په تدريجي توګه نازل شوى، دا د ټولو فقهاوو او علماوو متفقه قول او د قرآن د صريحوآيتونو مطابق نظر دئ، يوازې غلات شيعه او جاهل متصوفين ورسره مخالفت لري، پيغمبر عليه السلام د هرې قضيې او پېښې په اړه د وحي نزول ته انتظار کړى، د وحي له راتلو مخکې نه پوهېدو چې څه حکم وکړي.

قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰ هَلۡ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰٓ أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمۡتَ رُشۡدٗا ﴿٦٦﴾ قَالَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ﴿٦٧﴾ وَكَيۡفَ تَصۡبِرُ عَلَىٰ مَا لَمۡ تُحِطۡ بِهِۦ خُبۡرٗا ﴿٦٨﴾ قَالَ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ صَابِرٗا وَلَآ أَعۡصِي لَكَ أَمۡرٗا ﴿٦٩﴾ قَالَ فَإِنِ ٱتَّبَعۡتَنِي فَلَا تَسۡـَٔلۡنِي عَن شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ أُحۡدِثَ لَكَ مِنۡهُ ذِكۡرٗا ﴿٧٠﴾

موسى ورته وويل: آيا کېدى شي د دې لپاره ستا متابعت او ملګرتيا وکړم چې د هغه رشد او پوهې څه رازده کړې چې تا ته ئې علم درکړى شوى؟ هغه ورته وويل: ته زما په ملګرتيا کې صبر نشې کولى، څنګه به په هغه څه صبر وکړې چې پرې خبر نه يې؟ وئې ويل: إن شاء الله ما به صابر ومومې او په هيڅ کار کې به له تا سرغړاوى ونه کړم. وئې ويل: نو که زما متابعت کوې نو د هيڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چې په خپله ئې يادونه درته وکړم.

(٦٦-٧٠)- د دې مبارک آيت مهمي مهمي لارښووني دا دي:

- موسى ورته وويل: آيا کېدى شي ستا متابعت او ملګرتيا وکړم او د علم او رشد هغه څه

رازده کړي چي تا ته ئې علم درکړی شوی؟ دا آيت له يوې خوا ښيي چي موسى عليه السلام د علم ترلاسه کولو لپاره دا اوږد مزل کړی، او له بلي خوا د آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دا عملي علم وو نه نظري علم، د خضر عليه السلام په متابعت او ملګرتيا کي ئې ترلاسه کولی شو نه د درس په کومي ناستي حلقې کي، که تاسو د قصې پاته برخو ته په دقت سره ځير شئ نو وبه ګورئ چي خضر عليه السلام خپل شاګرد له ځان سره په سفر روان کړی او د همدې سفر په دوران کي ئې هغه ته څو ستر ستر درسونه ورکړي. او دا هغه څه دي چي د التوبې د سورې په ۱۲۲ آيت کي راغلي، ﴿وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا۟ كَآفَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا۟ فِى ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُوا۟ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓا۟ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾﴾: او مؤمنان داسي نه دي چي ټول (د جهاد لپاره) ووځي، ولي دي د دوی له هري ډلي يو ټولګي ونه وځي، چي په دين کي پوهه ترلاسه کړي او هغه مهال چي خپل قوم ته بېرته ستنېږي انذار ئې کړی، ترڅو ځان ساتنه وکړي.

په دې مبارك آيت کي هم عملي زده کړي ته اشاره شوې نه نظري زده کړي ته، د نفير په حالت کي زده کړه، نه د قعود حالت کي زده کړه.

• خضر عليه السلام د موسى عليه السلام د غوښتني په ځواب کي دوه خبري ورته کړې: ۱- ته زما په ملګرتيا کي صبر نشې کولی، ښايي د ده حالت ته په پام سره ئې دا خبره ورته کړې، هغه ئې په سوکالۍ او رفاه کي ستر شوی زلمی موندلی او د ځان د ستونزمنو او خطرناکو سفرونو د ملګرتيا جوګه ئې نه دی ګڼلی؛ نو ځکه ئې دا خبره ورته کړې. يا دا چي هغه ته ئې ويلي: زه مخکي له مخکي تا ته نه وايم چي څه به کوم، د کار په پای کي به درته وايم چي د څه لپاره مي دا کار کړی او مقصد مي څه وو، نو تا ته به ګرانه وي چي پوښتنه ونه کړې او د کار تر پايه صبر وکړې او نتيجې ته ئې انتظار وکړې. له ورپسې آيتونو همدا مطلب معلومېږي. ۲- او که سره له دې زما متابعت کوې نو د هيڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چي په خپله ئې يادونه درته وکړم. له دې معلومېږي چي خضر عليه السلام ډېر محتاط شخصيت وو، خپل نږدې د سفر ملګری ئې هم له خپلو اسرارو نه خبراوو، پر موسى عليه السلام ئې دا شرط ومنلو چي د اسرارو پوښتنه به نه ترې کوي، مګر هغه مهال چي دی ئې په خپله يادونه وکړي. له دې څخه دا هم معلومېږي چي خضر عليه السلام په سرې مبارزې بوخت وو، د دې خبري حقيقت هغه مهال موږ ته لاښه جوت کېږي چي د دوی دواړو د ملګرتيا درې پېښې په دقت سره له نظره تېري کړو. د موسى عليه السلام مخکنی د سفر ملګري له ځان سره نه بېول هم دغه مطلب په ګوته کوي. موسى عليه السلام شرط مني او د صبر او اطاعت ژمنه کوي.

• موسى عليه السلام ورته وويل: إن شاء الله ما به صابر ومومې او په هيڅ کار کي به له تا سرغړاوی ونه کړم. خضر عليه السلام ورته وويل: نو که زما متابعت کوې نو د هيڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چي په خپله ئې يادونه درته وکړم. په همدې خبري دواړو توافق کړی او سفر پيل شوی.

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِى ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَا ۖ قَالَ أَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْـًٔا إِمْرًا ﴿٧١﴾ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ مَعِىَ صَبْرًا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِى

بِمَا نَسِيتُ وَلَا تُرۡهِقۡنِي مِنۡ أَمۡرِي عُسۡرٗا ﴿٧٣﴾

نو دواړه وخوزېدل، حتی چي په هغي کښتۍ کي سپاره شول چي سورۍ ئې کړه، وئې ویل: آیا د دې لپاره دي سورۍ کړه چي سپرلی ئې غرق کړې، یقیناً چي په ستر (نادر) کار دي لاس پوري کړ، وئې ویل: آیا نه مي وو ویلي چي ته زما په ملګرتیا کي صبر نشې کولی؟ وئې ویل: ما پر خپلې هېرېدا مه نیسه، او زما په کار کي سختي مه راسره کوه.

(۷۱-۷۳)- د دې مبارکو آیتونو مهم مهم مطالب دا دي:

- دا وینا چي دواړه وخوزېدل ښیي چي خضر علیه السلام یوازي موسی علیه السلام له ځان سره روان کړی او د ده ملګری ئې پرېښی.
- په یوې کښتۍ کي سپاره شوي، خضر علیه السلام دا کښتۍ سورۍ کړې، په همدې سره کښتۍ ښېرته ستنه شوې، موسی علیه السلام پدې کار اعتراض وکړ چي ولي ئې د مسکینانو کښتۍ تخریب کړه او سورلی ئې له سفره پاته کړل، نږدې وه کښتۍ او سورلی ئې غرق شي.
- خضر علیه السلام ورته ویلي: ما لادمخه درته ویلي وو چي ته زما په ملګرتیا کي صبر نشې کولی.
- موسی علیه السلام ورته ویلي: ما پر خپلې هېرېدا مه نیسه، او زما د دې اشتباه له کبله سختي مه راسره کوه.
- خضر علیه السلام د سفر په پای کي موسی علیه السلام ته د دې کار اصلي وجه ښیي او ورته وایي: دا کښتۍ د څو مسکینانو وه، په همدې سیند کي په کار بوخت ول، مخي ته یو داسي غاصب او جابر پاچا ورته په کمین کي وو چي هره کښتۍ ئې غصبوله، ومي غوښتل چي کښتۍ له تګ ولوېږي او له مخکي تلو پاته شي او په دې توګه د هغه غاصب پاچا په لاس کي پرې نه وځي. موسی علیه السلام له دې خبر نه وو چي څو قدمه وړاندي دې کښتۍ او مالکانو ته ئې خطر متوجه دئ، هلته د یوه ظالم پاچا پلویانو کمین نیولی، هره کښتۍ چي مومي غصبوي ئې! د موسی علیه السلام ملګری پدې خبر وو، د دې لپاره چي دا کښتۍ او غریب مالکان ئې له خطر سره مخ نه شي یو تدبیر ئې وسنجاوو، کښتۍ ئې سورۍ کړه، ترڅو له سفره پاته شي، دا کار چي د موسی علیه السلام لپاره د توجیه وړ نه وو په حقیقت کي د کښتۍ د مالکانو لپاره لوی خدمت وو او په همدې کي د موسی علیه السلام لپاره یو لوی درس پروت وو او هغه دا چي یوه چا ته د ډېري ګټې لپاره لږ ضرر رسول د ستاینې وړ دئ نه د اعتراض وړ. دا موسی علیه السلام ته لومړنی عملی درس وو.
- د خضر علیه السلام له هغي وینا چي وروسته راځي په ډېر صراحت سره معلومېږي چي دا پېښه له مصر او د فرعون له واکمنۍ بهر شوې، په داسي سیمې کي چي په کښتۍ کي د سپرېدو په سیمې کي یو پاچا او د دې کښتۍ د مزل په پای کي بل پاچا حکومت کولو، ځکه خضر علیه السلام ویلي: وړاندي ئې داسي پاچا وو چي هره کښتۍ غصبوي.

متأسفانه ځیني تورزړي د دې پر ځای چي د قصې له دغي لاربښوونکي او روزونکي برخي د همداسي مبارزې درس واخلي داسي ئې تعبیروي چي ګواکي خضر علیه السلام په غیب پوهېدو، د غاصب پاچا په اړه د ده معلومات علم غیب تعبیروي، نه دې ته ګوري چي داسي تعبیر د قرآن له ډېرو ډېرو آیتونو سره تعارض لري، نه دې ته چي ولي به د ظالم پاچا په اړه د چا معلومات علم غیب ګڼو او نه دې ته چي د قصې اصلي موخه موسی علیه السلام ته څه ښودل دي نه د خضر علیه السلام علم غیب ثابتول.

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا لَقِيَا غُلَٰمًا فَقَتَلَهُۥ قَالَ أَقَتَلۡتَ نَفۡسًا زَكِيَّةَۢ بِغَيۡرِ نَفۡسٖ لَّقَدۡ
جِئۡتَ شَيۡـٔٗا نُّكۡرٗا ﴿٧٤﴾ قَالَ أَلَمۡ أَقُل لَّكَ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرٗا ﴿٧٥﴾ قَالَ إِن
سَأَلۡتُكَ عَن شَيۡءِۭ بَعۡدَهَا فَلَا تُصَٰحِبۡنِيۖ قَدۡ بَلَغۡتَ مِن لَّدُنِّي عُذۡرٗا ﴿٧٦﴾

نو وخوزېدل، تر هغه چې له يوه ځوانكي سره مخامخ شول، نو هغه ئې ووژلو، وئې ويل: آيا يو بې ګناه كس دي ووژلو، پرته له دې چې د كوم كس په بدل كې وژل شوى وي، يقيناً چې ډېر ناآشنا كار دي وكړ، وئې ويل: آيا نه مې وو درته ويلي چې ته زما په ملګرتيا كې صبر نشې كولى؟ وئې ويل: كه مې له دې وروسته د كوم څه پوښتنه درنه وكړه نو بيا مې په ملګرتيا او مصاحبت كې مه درسره نيسه، يقيناً چې (په دې صورت كې به) زما له لوري د معذورتيا پړاو ته رسېدلى يې.

(٧٤-٧٦)- د دې مباركو آيتوونو اساسي مطالب دا دي:

- بيا وخوزېدل، تر هغه چې له يوه ځوانكي سره مخامخ شول، نو خضر عليه السلام هغه ځوانكى ووژلو.
- موسى عليه السلام ورته وويل: آيا يو بې ګناه كس دي ووژلو، پرته له دې چې د كوم كس په بدل كې وژل شوى وي، يقيناً چې ډېر ناآشنا كار دي وكړ!!
- خضر عليه السلام بيا هم ورته وويل: آيا نه مې وو درته ويلي چې ته زما په ملګرتيا كې صبر نشې كولى؟ د دې كار وجه د سفر په پاى كې ورته ښيي، ښه به وي چې تفصيل ئې هملته وګورو.
- موسى عليه السلام ورته وويل: كه مې له دې وروسته د كوم څه پوښتنه درنه وكړه نو بيا مې په ملګرتيا او مصاحبت كې مه درسره نيسه، يقيناً چې په دې صورت كې به زما له لوري د معذورتيا پړاو ته رسېدلى يې. خضر عليه السلام له دې وينا سره توافق كوي، د موسى عليه السلام عذر قبلوي او سفر ته دوام وركوي.

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَيَآ أَهۡلَ قَرۡيَةٍ ٱسۡتَطۡعَمَآ أَهۡلَهَا فَأَبَوۡاْ أَن يُضَيِّفُوهُمَا فَوَجَدَا
فِيهَا جِدَارٗا يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ فَأَقَامَهُۥۖ قَالَ لَوۡ شِئۡتَ لَتَّخَذۡتَ عَلَيۡهِ أَجۡرٗا ﴿٧٧﴾ قَالَ
هَٰذَا فِرَاقُ بَيۡنِي وَبَيۡنِكَۚ سَأُنَبِّئُكَ بِتَأۡوِيلِ مَا لَمۡ تَسۡتَطِع عَّلَيۡهِ صَبۡرًا ﴿٧٨﴾

نو وخوزېدل، تر هغه چې د يوه كلي اوسېدونكو ته ورغلل، له كليوالو ئې د خوراك غوښتنه وكړه، هغوى له دې ډډه وكړه چې مېلمانه ئې كړي، بيا دواړو هلته يو داسې دېوال وموند چې غوښتل ئې نسكور شي، نو هغه ئې ټينګ ودراوو، وئې ويل: كه دې غوښتې وى نو پر دې كار به دې اجوره ترلاسه كړې وه، وئې ويل: همدا زما او ستا تر

منځ د بېلتون سبب دئ، ژر به د هغو كارونو په حقيقت تا پوه كړم چې صبر دې پرې ونه كړى شو.

(۷۷-۷۸)- د دې مباركو آيتونو خلاصه مطالب داسې دي:

- دواړه وخوزېدل، د يوه كلي اوسېدونكو ته ورغلل، له كليوالو ئې د خوراك غوښتنه وكړه، هغوى له دې ډډه وكړه چې مېلمانه ئې كړي.
- بيا دواړو هلته يو داسې دېوال وموند چې غوښتل ئې نسكور شي، نږدې وه نسكور شي، خضر عليه السلام هغه مضبوط ودراوو او د نسكورېدو مخه ئې ونيوله.
- موسى عليه السلام ووېل: كه دې غوښتې وى نو پر دې كار به دې اجوره ترلاسه كړې وه. دې كليوالو د يوې ګولې وچې مړۍ له راكولو ډډه وكړه او تا ئې نسكورېدونكى دېوال ورته ورغاوو، كېدى شو د ډوډۍ په بدل كې دې دا كار كړى وى!
- خضر عليه السلام ورته ووېل: همدا زما او ستا تر منځ د بېلتون سبب دئ، تا همداسې ويلي وو، ستا له دې درېيم ځل پوښتنې معلومېږي چې زما او ستا ګډ سفر بايد همدلته پاى ومومي. اوس به دې ژر د هغو كارونو په حقيقت پوه كړم چې صبر دې پرې ونه كړى شو.

أَمَّا ٱلسَّفِينَةُ فَكَانَتۡ لِمَسَٰكِينَ يَعۡمَلُونَ فِي ٱلۡبَحۡرِ فَأَرَدتُّ أَنۡ أَعِيبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُم مَّلِكٞ يَأۡخُذُ كُلَّ سَفِينَةٍ غَصۡبٗا ﴿٧٩﴾

اما هغه كښتۍ چې وه نو هغه د ځينو مسكينانو وه چې په سيند كې به ئې كار كولو، نو ما وغوښتل چې عيبجنه ئې كړم، او (دا ځكه چې) ترې وړاندې داسې پاچا وو چې هره كښتۍ ئې غصبوله.

(۷۹)- دلته خضر عليه السلام د سفر د لومړۍ پېښې په اړه موسى عليه السلام ته ويلي:

- هغه كښتۍ د څو مسكينانو وه چې په سيند كې به ئې كار كولو، د دې لپاره مې هغه عيبجنه كړه چې له مخكې تلو پاته او ببرته راستنه شي چې ترې وړاندې داسې پاچا او د هغه پلويان په كمين كې ول چې هره كښتۍ ئې غصبوله.
- په دې كې موسى عليه السلام ته څو ستر ستر درسونه وركړى شو: ۱- له مظلوم سره مرسته كوه او د ظالم له منګولو ئې ژغوره، ۲- يوازې په وينا، وعظ او نصيحت اكتفا مه كوه عملاً داسې كار وكړه چې مظلوم د ظالم منګولو ته ورنشي، ۳- كه دا كار په پټه وكړې لا به غوره وي، ٤- كه احياناً داسې څه كولو ته اړ شوې چې د ډېرې ګټې لپاره او يا د ډېر تاوان د مخنيوې لپاره مظلوم ته لږ تاوان ورسېدو باك نه لري دا كار كولى شي. همغسې لكه خضر عليه السلام چې په كښتۍ كې د يوه واړه سورې په رامنځته كولو سره د هغو مسكينانو ټوله كښتۍ وژغورله.

وَأَمَّا ٱلۡغُلَٰمُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤۡمِنَيۡنِ فَخَشِينَآ أَن يُرۡهِقَهُمَا طُغۡيَٰنٗا وَكُفۡرٗا ﴿٨٠﴾

فَأَرَدْنَآ أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكَوٰةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا ﴿٨١﴾

او هغه ځوانکی داسې وو چې پلار مور ئې مؤمنان ول، نو مونږ (خضر او د هلك پلار او مور) ووېرېدو چې داسې نه په خپل کفر او طغيان سره دوی دواړه تنگ کړي، نو اراده مو وکړه چې د دوی دواړو رب تر ده د پاکوالي له پلوه غوره او د پېرزوينې له پلوه نږدې په عوض کې ورکړي.

(۸۰-۸۱)- دا مبارك آيتونه داسې دي چې تشريح ئې د مزيد دقت غوښتنه کوي او دا نه د دې لپاره چې په الفاظو او ترکيب کې ئې څه ابهام او اغماض شته او پوهېدل ئې گران دي، بلکې د دې لپاره چې غرضي او مرضي کړيو غلط تعبير کړي او د غلطو باورنو بنسټ ئې ترې جوړ کړی. په مطلب ئې د ښه پوهېدا لپاره دا خبرې په پام کې ولرئ:

- که د دې آيتونو په الفاظو کې لږ غور وکړو نو په ډېر وضاحت سره راته جوته کېږي چې د دې وژل شوي ځوانکي مور او پلار مؤمنان ول، له خضر عليه السلام سره ئې پېژندگلوي وه، د خپل زوی د کفر، قساوت او فساد په اړه ئې ده ته شکايت کړی، درې سره په دې صلاح شوي چې هغه ووژل شي، دا ځکه چې دلته د (فخشينا: مونږ ووېرېدو) او ورپسې د (أردنا: مونږ اراده وکړه) صيغې راغلې، په دواړو کې د (نا) ضمير د هلك مور، پلار او خضر عليه السلام ته راجع دئ، دوی د هلك په اړه وېرېدلي او د هغه د وژلو پرېکړه ئې کړې.
- ځوك چې د (خشينا) او (أردنا) په اړه له دې پرته بل تعبير وړاندې کوي ستره غلطي کوي، او ځوك چې په دې کې د الله تعالى نوم شاملوی هم ستره غلطي کوي او هم ستره گناه، دا له دې کبله چې له نحوي پلوه په دې کې اصلاً د الله نوم نشو شاملولی، په (خشينا) کې ضمير يوازې خضر عليه السلام او د ماشوم مور او پلار ته راجع کېدی شي نه بل چا ته، دا ځکه چې تر دې د مخه د الله تعالى نوم نه دئ ياد شوی. اصولاً بايد ضمير نږدې اسم ته راجع شي، دلته د (نا) لپاره نږدې نومونه دوی درې دي، په خشينا او اردنا کې نه يوازې له نحوي او ادبي پلوه ضمير الله تعالى ته نشو راجع کولی، بلکې له اعتقادي پلوه هم الله تعالى ته د وېرې نسبت کول حرام دي، وېره عيب ده او الله تعالى له هر عيبه منزه دئ. الله تعالى ته د وېرېدو نسبت کول ناجائز دي، په قرآن کې د دې شاهد نه مومو. همداراز که په (اردنا) کې ضمير الله تعالى او خضر عليه السلام ته راجع شي د دې معنى داسې راوځي چې دوی دواړو په گډه د هغه هلك د وژلو پرېکړه وکړه، حال دا چې الله تعالى د پرېکړو په صادرولو کې له هيچا سره مشوره نه کوي او ځوك له ځان سره نه شريکوي!! ځوك چې په اردنا کې (الله او خضر) مرادوي دې ته ئې پام نه دئ کړی چې په دې صورت کې بايد په (خشينا) کې هم دوی دواړه مراد کړي!! چې دا کاملاً غلطه خبره ده، الله تعالى په ټول قرآن کې هيڅ ځای د خشي صيغه ځان ته نه ده منسوب کړې، دلته هم د (خشينا) يعني ووېرېدو صيغه د هلك مور، پلار او خضر عليه السلام ته راجع ده او هم د اردنا يعني اراده مو وکړه صيغه، له دې پرته بل تعبير ته هيڅ مجال نه تر سترگو کېږي؟ خشينا او اردنا د خضر عليه السلام وينا ده، ولې به ئې الله تعالى ته راجع کوو؟

له دې آيتونو دا هم جوته کېږي چې د هغو خلکو دا ادعاء صحيح نه ده چې وايي: خضر

عليه السلام يو معصوم ماشوم وژلی، د هغه ځوانکي په اړه د موسی عليه السلام وينا په دې معنی نه ده چې هغه وژل شوی ځوان يو معصوم ماشوم وو، موسی عليه السلام هغه نه پيژاندو، د اعتراض مقصد ئې دا وو چې هغه داسې جرم نه دئ کړی چې د وژلو مستحق وي، د دې ځوانکي په اړه د خضر عليه السلام وينا معيار ده، د ده له وينا معلوميږي چې هغه په داسې کفر، طغيان، فساد او بې رحمۍ کې غرق وو چې نږدې وه خپله کورنۍ تباه کړي. د قرآن الفاظ په ټول صراحت سره وايي چې د دې ځوانکي کفر، طغيان، فساد او د مور او پلار په اړه د ده بې رحمي او قساوت دې حد ته رسيدلي وو چې پلار او مور ئې خضر عليه السلام ته شکايت کړی او درې واړو په ګډه دا پريکړه کړې چې ووژل شي او له الله تعالی ئې دا طمعه کړې چې د دې کافر او مفسد زوی په عوض کې داسې اولاد ورکړي چې د پاکوالي له پلوه تر ده غوره او د پيرزويني او مهربانۍ له پلوه تر ده د مور او پلار په اړه ډېر مهربان او نږدې وي.

- په دې کې موسی عليه السلام ته څو اساسي درسونه ورکړی شوي: له مؤمنانو سره مرسته کوه، که مؤمنه کورنۍ او ټولنه د کوم شرير او مفسد انسان له لوري تهديد کېده نو د هغه په وژلو صرفه مه کوه، دا ځکه چې شرير انسان په يوې صالح او مؤمني ټولني او کورنۍ کې داسې وي لکه په روغ بدن کې په سرطان اخته داسې عضو او غړی چې له جراحي او قطع کولو پرته بله چاره نه لري، که نه نو ټول بدن ته ئې تاوان رسيږي، د دې فاسد او خطرناک غړي قطع کول په واقع کې لدې مؤمني کورنۍ سره مرسته ده. د موسی عليه السلام پوه او عالم ملګري هغې مؤمني کورنۍ ته لوی خدمت وکړ، د يوه شرير انسان له شره ئې وژغورله او موسی عليه السلام ته ئې دا درس ورکړ چې: په سالم بدن کې د فاسد غړي جراحي ممانعت نه لري، له سالم بدن څخه د هغه غړي قطع کول ضروري دي چې د اصلاح او جوړيدو امکان ئې نه وي. که اسلامي ټولني ته د يوه شرير او فاسد انسان له خوا ګواښ او تهديد متوجه شي او تر خطر لاندې راشي چې له تصفيې او منځه وړلو پرته بله چاره ونلري، نو د دا ډول غړي له منځه وړل د اعتراض نه بلکه د توجيه او ستايني وړ عمل دئ.

وَأَمَّا ٱلْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَٰمَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِى ٱلْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُۥ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَٰلِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَآ أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلْتُهُۥ عَنْ أَمْرِى ۚ ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ تَسْطِع عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿٨٢﴾

او هغه دېوال چې وو نو هغه په ښار کې د دوو يتيمو هلکانو وو او ترې لاندې د دوی خزانه وه، پلار ئې صالح انسان وو، ستا رب وغوښتل چې دواړه ستر شي او خپله خزانه راوباسي، دا ستا د رب له لوري يوه پيرزوينه وه، ما دا کار د ځان له پلوه نه دئ کړی، دا د هغه څه حقيقت وو چې تا پرې صبر ونشو کړی.

(۸۲)- د دې مبارك آيت اساسي لارښووني دا دي:

- د هغه دېوال په اړه خضر عليه السلام موسى عليه السلام ته وويل: هغه دېوال په ښار كي د اوسېدونكو دوو يتيمو هلكانو وو او ترې لاندي د دوى خزانه وه، پلار ئې صالح انسان وو، ستا رب وغوښتل چي دواړه ستر شي او خپله خزانه راوباسي، دا ستا د رب له لوري يوه پېرزوينه وه، ما دا كار د ځان له پلوه نه دئ كړى، دا د هغه څه حقيقت وو چي تا پرې صبر ونشو كړى.
- دا د موسى عليه السلام د درېيم اعتراض ځواب وو، هغه ويلي وو چي ولي دي له يوه بخيل قوم سره د كاړه دېوال په جوړولو او له غورځېدا مخنيوى كي مرسته وكړه، له داسي قوم سره چي دومره بخيل او بې احساسه دئ چي اړ او مجبور انسان ته يوه مړى ډوډئ هم نه وركوي او ولي دي دې خلكو ته مفت او مجاني كار وكړ؟ موسى عليه السلام د خپل ملگري پدې عمل له دې كبله انتقاد وكړ چي له دې حقيقته خبر نه وو چي تردې دېوال لاندي د هغو دوو يتيمانو خزانه ده چي له مؤمنو والدينو په ميراث ورته پاته ده، د موسى عليه السلام ملگري په خپل دې مفت او بې اجورې كار سره هغو يتيمانو ته غټ خدمت وكړ او په عين وخت كي ئې موسى عليه السلام ته دا لارښوونه وكړه چي انسان ته نه ښايي تل بالمثله معامله وكړي، مناسبه نده چي د ټولني د اكثريت بدكړه او ناسمه معامله تا له كمزوري اقليت سره له نېكي كولو منع كړي.
- كه لږ غور وكړو نو دا خبره راته جوته كېږي چي د هغو يتيمانو پلار خضر عليه السلام يو امين او صالح كس گڼلى، ورته ويلي ئې وو چي د زامنو لپاره مي تر دېوال لاندي سكي ښخوم، كله چي ستر شي نو ترې خبر ئې كړه، ده ورسره ژمنه كړې، د همدې ژمني په وجه دې كلي ته راغلى چي د دېوال حالت وگوري، هغه ئې د ړنگېدو په حال كي موندلى نو ځكه ئې رغولى. هيڅ عقلمن انسان دا خبره نشي منلى چي د يتيمانو پلار دي په داسي حال كي د دوى لپاره تر دېوال لاندي سكي ښخي كړې وي چي هيڅوك ئې نه وو پرې خبر كړى، له داسي نامعقول كار څخه به د ده زامنو ته څه گټه رسېده؟ زامن به ئې څنگه خبرېدل چي پلار ئې دلته د دوى لپاره سكي ښخي كړي دي؟ او دا هم په داسي حال كي چي هغوى په ښار كي اوسېدل او دا دېوال له ښاره بهر وو!! طبيعي او معقوله خبره دا ده چي د دوى پلار خضر عليه السلام ته دا خبره كړې وه.
- د آيت له الفاظو دا هم معلومېږي چي خضر عليه السلام د دېوال دې حالت ته په پام سره چي نږدې وو رانسكور شي ويلي: دا د الله تعالى اراده او خوښه وه چي زه ئې په دغسي يوه مناسب او حساس وخت كي دلته راوستم او د دېوال د نسكورېدو مخه ئې ونيوله، كه لږ نور ځنډېدلى وى نو دېوال به نسكور شوى وو او خزانه به د نورو خلكو په لاس كي پرېوتې وه. د خضر عليه السلام د وينا دا الفاظ (ستا رب وغوښتل چي دواړه ستر شي او خپله خزانه راوباسي، دا ستا د رب له لوري يوه پېرزوينه وه، ما دا كار د ځان له پلوه نه دئ كړى) په ډېر صراحت او وضاحت سره همدا مطلب افاده كوي. د هغو خلكو تعبير او ادعاء بې بنسټه ده چي وايي: خضر عليه السلام يا له دې كبله دا كار كړي چي په غيب پوهېدو او يا له دې امله چي الله تعالى د وحي له لاري ده ته د داسي كولو سپارښتنه كړې وه، په څو دلائلو: د دې لپاره نه عقلي

دليل لرو او نه نقلي، كه دا كار ئې د وحې له مخې كړی وي نو بيا خو د موسی عليه السلام لپاره په هغه كې د درس او سبق مجال ختمېږي، بيا خو به موسی عليه السلام په هغه صورت كې داسې كار كوي چې د الله تعالی له لوري په مشخصه توګه پرې وګمارل شي!!

• ځيني خلك د خضر عليه السلام دا وينا چې وئې ويل: (و ما فعلته عن امري: ما (د خپل زړه) په حكم دا كار نه دئ كړی) داسې تعبيروي چې ګواكې ده ته د الله تعالی له لوري په مشخصه توګه د دغه دېوال د رغولو او يا د هغه ځوانكي د وژلو امر شوی وو، خو په آيتونو كې په لږ دقت سره پوهېدی شو چې دا غلط تعبير دئ، د خضر عليه السلام دا وينا د دېوال رغولو په اړه دئ، او معنی ئې دا ده: ما دا كار د خپل نفسي غوښتنو په حكم نه دئ كړی، كوم ذاتي غرض مې په كې نه وو، كه احياناً دا د هغه زلمي وژلو ته هم وغځوو نو معنی ئې دا ده چې د الله دين د داسې څه كولو اجازه راكړې، په الهي دين كې د هغه چا وژل مانع نه لري چې صالح ټولنه په كفر او طغيان ګواښي، ما د ده د پلار او مور په مشوره دا كار كړی، يوازې دغسې تعبير موسی عليه السلام ته يو مهم درس ګڼل كېدی شي، نه دا چې ګواكې د الله تعالی له لوري خضر عليه السلام ته په مشخصه توګه د دغه ځوانكي د وژلو حكم شوی وو!!

• د خپلو خبرو په پای كې خضر عليه السلام خپل حساس او جلالي شاګرد ته وويل: دا د هغه څه حقيقت وو چې تا پرې صبر ونشو كړی.

• دې ته مو بايد پام وي چې خضر عليه السلام خپل شاګرد موسی عليه السلام ته د ملګرتيا په دوران كې درې عملي درسونه وركړي وو: ۱- د يوه ظالم پاچا له منګولو د مسكينو او بې وزلو بېړۍ والو ژغورل؛ هغه هم په داسې بڼې كې چې بېړۍ وال پرې خبر نشول، ۲- د يوه مفسد، كافر او بې رحمه زلمي وژل او مؤمن مور پلار ئې له شره ژغورل، ۳- تر نړېدونكي دېوال لاندې د دوو يتيمانو لپاره ښخه شوې خزانه له غارت كېدو خوندي كول. موسی عليه السلام د همدې لارښوونو په رڼا كې دغو دريو كارونو ته ورته كارونه وكړل: ۱- له يوه مظلوم بني اسرائيلي د دفاع په موخه ئې يوه ظالم قبطي ته داسې څپېړه وركړه چې پرې مړ شو، ۲- د مدين د كوهي خوا ته ئې په داسې حال كې د دوو بې وزلو نجونو رمه خړوبه كړه چې د اوږده سفر له كبله ډېر ستړی او ستومانه وو، ۳- د بني اسرائيلو د نجات لپاره له مدين څخه مصر ته ولاړ او د فرعون مقابلې ته ئې ملا وتړله. او دا په ډېر وضاحت سره ښيي د موسی عليه السلام دا تربيتي سفر له بعثت مخكې او هغه مهال ترسره شوی چې دی لا ځوان وو، په مصر كې د فرعون په قصر كې اوسېدو او مدين ته ئې هجرت نه وو كړی.

دې ته مو پام وي چې دا برخه او دا قصه هغه برخه ده چې د كږو او خيرنو زړونو خاوندانو او په خرافاتو كې تر ستوني غرق ډلو له هغې سره ستره جفا كړې ده، غلط تعبيرونه ئې ترې كړي، داسې غلط تعبيرونه چې د شرك لړولو عقايدو په تأييد كې ترې استفاده وكړي، دوی د دغې قصې له څو برخو خپل شرك لړلي باورونه په دې توګه اخيستي دي او وايي:

• موسی عليه السلام پيغمبر وو او خضر يو ولي، پيغمبر ته شريعت وركړی شوی او ولي ته طريقت، د شريعت علم پر ظواهرو ولاړ دئ او د طريقت علم پر باطن، ولي ته د باطن علم وركړی شوی او پيغمبر ته د ظاهر علم!!

- خضر په غيب پوهېدو، د غاصب پاچا، وژل شوي ماشوم او تر دېوال لاندي خزانې په اړه د ده علم د علم غيب بېلګې دي!!
- د طريقت لاروي د شريعت په احكامو ملزم نه وي، كولى شي د شريعت خلاف عمل وكړي!! د ماشوم وژل د شريعت له مخي حرام دي خو خضر همدا كار وكړ. پر اولياء الله به دا اعتراض نه كوئ چي ولي ئې د شريعت خلاف عمل وكړ.

خو تاسو ته هم د موسى عليه السلام او خضر عليه السلام د قصې حقيقت معلوم شو او هم د دې قصې د اړوند آيتونو حقيقي تفسير او اصلي معنى، او يقيناً چي د دې تفسير په رڼا كي تاسو ته د دغو پوچو او غلطو ادعاګانو ماهيت هم جوت شوى او اوس په دې پوهېږئ چي دا خبري څومره وزن لري او څومره د حقيقت مطابق يا خلاف دي؟ او دا چي آيا له دې قصې دا مطالب رااېستل او د خپلو عقايدو بنسټ ئې ګرځول صحيح دي كه نه؟

كه څوك له شفاف ذهن سره، پرته له دې چي كوم خاص مخكنى فكر ورسره وي، د موسى عليه السلام او خضر عليه السلام د قصې اړوند آيتونو باندي غور وكړي نو په بشپړ يقين او ډاډ سره ويلى شي چي په دغو آيتونو كي هيڅ داسي څه صراحتاً او اشارتاً نه تر سترګو كېږي چي د دغي بې لاري ډلي د انګېرنو او غلطو تصوراتو لپاره كوم مستمسك ترې جوړ شي. يوازي هغه به دا غلطه انتباه ترې اخلي چي په غرض او مرض مبتلا وي او د دې پروا نه لري چي د الله تعالى په كلام كي تحريف وكړي. كه تاسو د دغي ډلي افكارو او دلايلو ته ځير شئ نو وبه ګورئ چي د قرآن په كوم آيت يا د كوم آيت په كوم لفظ د استناد پر ځاى پر داسي كمزورو رواياتو استناد كوي چي هم له قرآن سره په څرګنده توګه تعارض لري او هم په خپلو منځونو كي!! راشئ هغه روايات هم وڅېړو چي د دې قصې په اړه ئې د رواياتو په كتابونو كي مومو. يو روايت دا دئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ تَمَارَى هُوَ وَالْحُرُّ بْنُ قَيْسِ بْنِ حِصْنٍ الْفَزَارِيُّ فِي صَاحِبِ مُوسَى قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هُوَ خَضِرٌ. فَمَرَّ بِهِمَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، فَدَعَاهُ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ إِنِّي تَمَارَيْتُ أَنَا وَصَاحِبِي هَذَا فِي صَاحِبِ مُوسَى الَّذِي سَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَى لُقِيِّهِ، هَلْ سَمِعْتَ النَّبِيَّ ـ يَذْكُرُ شَأْنَهُ قَالَ نَعَمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ـ يَقُولُ " بَيْنَمَا مُوسَى فِي مَلإٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ هَلْ تَعْلَمُ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْكَ قَالَ مُوسَى لاَ. فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَى مُوسَى بَلَى، عَبْدُنَا خَضِرٌ، فَسَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَيْهِ، فَجَعَلَ اللَّهُ لَهُ الْحُوتَ آيَةً، وَقِيلَ لَهُ إِذَا فَقَدْتَ الْحُوتَ فَارْجِعْ، فَإِنَّكَ سَتَلْقَاهُ، وَكَانَ يَتَّبِعُ أَثَرَ الْحُوتِ فِي الْبَحْرِ، فَقَالَ لِمُوسَى فَتَاهُ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ، وَمَا أَنْسَانِيهِ إِلاَّ الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ. قَالَ ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي، فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا، فَوَجَدَا خَضِرًا. فَكَانَ مِنْ شَأْنِهِمَا الَّذِي قَصَّ اللَّهُ- عَزَّ وَجَلَّ- فِي كِتَابِهِ ". بخاري: ٧٤

له عبدالله بن عباس **رسول** روايت دئ چي وايي: د ده او حر بن قيس تر منځ د موسى عليه السلام د ملګري په اړه مناقشه رامنځته شوه، ابن عباس وويل چي دا خضر وو، أبى بن كعب د دوى دواړو خوا ته تېر شو، نو ابن عباس ورغږ كړ او وئې ويل: زما او دغه ملګري تر منځ د موسى عليه السلام د هغه ملګري په اړه مناقشه راغله چي موسى له هغه سره د ملاقات د لاري موندو پوښتنه كړې وه، آيا له رسول اللهـ دي د ده په اړه څه اورېدلي؟ وئې ويل: هو؛ له رسول

ﷺ مي واورېدل چي ويل ئې: كله چي موسى عليه السلام د بني اسرائيلو په يوې غونډې كي وو يو سړی ورته راغی او وئې ويل: آيا داسي څوك پېژنې چي تر تا زيات پوه وي؟ موسى عليه السلام وويل: نه، نو الله تعالى موسى عليه السلام ته وحي وكړه چي ولي نه، زموږ بنده خضر (عليه السلام)، نو موسى له هغه سره د ملاقات د لاري په اړه پوښتنه وكړه، نو الله تعالى كب ورته د نښي په توګه وټاكو او ورته وويل شو: كله چي دي كب ورك كړ نو راوګرځه او هملته به ئې وګورې، او هغه به په نهر كي د روان كب تر شا (په استقامت) تلو، نو موسى ته خپل ځوانكي وويل: آيا پام دي وو چي كله مو هغه لوی كمر ته پنا يووړه نو ما كب هېر كړ، فقط شيطان رانه هېر كړ چي يادونه ئې وكړم، موسى عليه السلام وويل: دا همغه څه دي چي لټولو مو، نو پر خپلو پلونو بېرته راستانه شول، نو خضر ئې وموند، او بيا د دوی دواړو خبره همغسي ده چي الله تعالى ئې قصه په خپل كتاب كي راوړې.
دا روايت څو خبري زموږ مخي ته ږدي: دا عالم او پوه شخص خضر عليه السلام وو. له موسى عليه السلام پوښتنه شوې وه: آيا داسي څوك پېژنې چي تر تا زيات پوه وي؟ موسى عليه السلام وويل: نه، نو الله تعالى موسى عليه السلام ته وحي وكړه چي ولي نه، زموږ بنده خضر (عليه السلام)، موسى عليه السلام غوښتي له خضر عليه السلام سره وګوري، د لاري نښه ئې غوښتې، ورته ويل شوي چي په اوبو كي روان ژوندي ماهي پسي دروومه، په هر ځای كي چي ترې ورك شو هملته به خضر وومې. موسى عليه السلام د سفر ملګری په دې ګمارلی وو چي په سيند كي روان كب به تر نظر لاندي نيسي، كله چي ترې ورك شي نو ده ته به خبر وركوي، دوی د سفر په دوران كي د كوم كمر سيوري ته پنا وړې، په همدې وخت كي كب خپله لار بدله كړې او د هغه ځوانكي له سترګو غائب شوی، كله چي بيا خوزېدلي، له څه مزل وروسته موسى عليه السلام له هغه څخه غرمنى خوراك غوښتی، په همدې وخت كي هغه ته د كب د غائبېدو خبره ورپه ياد شوې او موسى عليه السلام ته ئې يادونه كړې، موسى عليه السلام ورته ويلي چي موږ د همدې ځای په لټه كي وو، بېرته راستانه شوي او خضر عليه السلام ئې هملته موندلی.
دا روايت په بخاري كي دولس ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ٧٨، ١٢٢، ٢٢٦٧، ٢٧٢٨، ٣٢٧٨، ٣٤٠٠، ٣٤٠١، ٤٧٢٥، ٤٧٢٦، ٤٧٢٧، ٦٦٧٢، ٧٤٧٨، په دې كي درې ئې د پورتني روايت په څېر دي، له عادي توپيرونو سره او په دې شمېرو: ٧٨، ٣٤٠٠، ٧٤٧٨، او پنځه ځلي په دغو شمېرو ١٢٢، ٣٤٠١، ٤٧٢٥، ٤٧٢٦، ٤٧٢٧ كي داسي راغلی چي له پورتني سره ژور تعارض لري، او په كي راغلي چي موسى عليه السلام ته ويل شوي وو چي وريت شوی كب په ټوكرۍ كي ورسره واخلي، په دغو پنځو كي هم ژور توپيرونه تر سترګو كېږي، دا په داسي حال كي چي د ټولو ديارلسو روايتونو راوي يو دئ! امام بخاري رحمه الله نه دي ويلي چي كوم روايت ئې تر نورو غوره، دقيق او صحيح دئ، هغه له بېلو بېلو راويانو چي څه اورېدلي په امانت سره ئې رانقل كړي، له دغو متعارضو رواياتو به يو غوره كوو، يا هغه چي وايي موسى عليه السلام ته په سيند كي روان كب د نښي په توګه ټاكل شوی وو يا هغه چي وريت شوی كب نښه ګڼي، د اسنادو له مخي دا پرېكړه نشي كېدی، ځكه كه دا كار ممكن وی نو امام بخاري رحمه الله به هرومرو ويلي وو چي كوم ئې ضعيف دئ او كوم ئې صحيح. مجبور

يو د قرآن په رڼا کي او د درايت له مخي ارجح روايت تشخيص کړو، راشئ د وريت شوي کب اړوند روايت ته ځير شو، روايت داسي دئ:

عن سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لاِبْنِ عَبَّاسٍ إِنَّ نَوْفًا الْبِكَالِيَّ يَزْعُمُ أَنَّ مُوسَى لَيْسَ بِمُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ، إِنَّمَا هُوَ مُوسَى آخَرُ. فَقَالَ كَذَبَ عَدُوُّ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ ـ قَالَ " قَامَ مُوسَى النَّبِيُّ خَطِيبًا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ، فَسُئِلَ أَيُّ النَّاسِ أَعْلَمُ فَقَالَ أَنَا أَعْلَمُ. فَعَتَبَ اللَّهُ عَلَيْهِ، إِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ إِلَيْهِ، فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ أَنَّ عَبْدًا مِنْ عِبَادِي بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ. قَالَ يَا رَبِّ وَكَيْفَ بِهِ فَقِيلَ لَهُ احْمِلْ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ فَإِذَا فَقَدْتَهُ فَهْوَ ثَمَّ، فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقَ بِفَتَاهُ يُوشَعَ بْنِ نُونٍ، وَحَمَلاَ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ، حَتَّى كَانَا عِنْدَ الصَّخْرَةِ وَضَعَا رُءُوسَهُمَا وَنَامَا فَانْسَلَّ الْحُوتُ مِنَ الْمِكْتَلِ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا، وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا، فَانْطَلَقَا بَقِيَّةَ لَيْلَتِهِمَا وَيَوْمِهِمَا فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا، لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا، وَلَمْ يَجِدْ مُوسَى مَسًّا مِنَ النَّصَبِ حَتَّى جَاوَزَ الْمَكَانَ الَّذِي أُمِرَ بِهِ. فَقَالَ لَهُ فَتَاهُ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ، قَالَ مُوسَى ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي، فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا، فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَى الصَّخْرَةِ إِذَا رَجُلٌ مُسَجًّى بِثَوْبٍ ـ أَوْ قَالَ تَسَجَّى بِثَوْبِهِ ـ فَسَلَّمَ مُوسَى. فَقَالَ الْخَضِرُ وَأَنَّى بِأَرْضِكَ السَّلاَمُ فَقَالَ أَنَا مُوسَى. فَقَالَ مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالَ نَعَمْ. قَالَ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِي مِمَّا عُلِّمْتَ رَشَدًا قَالَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا، يَا مُوسَى إِنِّي عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللَّهِ عَلَّمَنِيهِ لاَ تَعْلَمُهُ أَنْتَ، وَأَنْتَ عَلَى عِلْمٍ عَلَّمَكَهُ لاَ أَعْلَمُهُ. قَالَ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ صَابِرًا، وَلاَ أَعْصِي لَكَ أَمْرًا، فَانْطَلَقَا يَمْشِيَانِ عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ لَيْسَ لَهُمَا سَفِينَةٌ، فَمَرَّتْ بِهِمَا سَفِينَةٌ، فَكَلَّمُوهُمْ أَنْ يَحْمِلُوهُمَا، فَعُرِفَ الْخَضِرُ، فَحَمَلُوهُمَا بِغَيْرِ نَوْلٍ، فَجَاءَ عُصْفُورٌ فَوَقَعَ عَلَى حَرْفِ السَّفِينَةِ، فَنَقَرَ نَقْرَةً أَوْ نَقْرَتَيْنِ فِي الْبَحْرِ. فَقَالَ الْخَضِرُ يَا مُوسَى، مَا نَقَصَ عِلْمِي وَعِلْمُكَ مِنْ عِلْمِ اللَّهِ إِلاَّ كَنَقْرَةِ هَذَا الْعُصْفُورِ فِي الْبَحْرِ. فَعَمَدَ الْخَضِرُ إِلَى لَوْحٍ مِنْ أَلْوَاحِ السَّفِينَةِ فَنَزَعَهُ. فَقَالَ مُوسَى قَوْمٌ حَمَلُونَا بِغَيْرِ نَوْلٍ، عَمَدْتَ إِلَى سَفِينَتِهِمْ فَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا قَالَ لاَ تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ. فَكَانَتِ الأُولَى مِنْ مُوسَى نِسْيَانًا. فَانْطَلَقَا فَإِذَا غُلاَمٌ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ، فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلاَهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ. فَقَالَ مُوسَى أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا ـ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ وَهَذَا أَوْكَدُ ـ فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا، فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا، فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ. قَالَ الْخَضِرُ بِيَدِهِ فَأَقَامَهُ. فَقَالَ لَهُ مُوسَى لَوْ شِئْتَ لاَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا. قَالَ هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وَبَيْنِكَ ". قَالَ النَّبِيُّ ـ "يَرْحَمُ اللَّهُ مُوسَى، لَوَدِدْنَا لَوْ صَبَرَ حَتَّى يُقَصَّ عَلَيْنَا مِنْ أَمْرِهِمَا". بخاري: ١٢٢

د دې روايت په اړه ډېري داسي پوښتني راولاړېږي چي ځواب ئې نشي ويل کېدی، پوښتني دا دي:

- د روايت په سر کي راغلي چي عبدالله بن عباس **رسول** د نَوْفًا الْبِكَالِيَّ په اړه وويل: كَذَبَ عَدُوُّ اللَّهِ: د خدای دې دښمن دروغ ويلي! د عبدالله بن عباس غوندي له شخصيت څخه لري خبره ده چي د يوه کس د ادعاء له مخي د بل چا په اړه داسي وينا وکړي او هغه د خدای دښمن وبولي. شريعت نه داسي بنکنځل جائز ګڼي او نه داسي قضاوت چي د يوې لانجي د دواړو خواوو د ويناوو له اورېدو مخکي وي.
- دا روايت وايي چي موسی عليه السلام له بعثت وروسته دا سفر کړی، حال دا چي له بعثت

وروسته هغه د نورو لپاره ستر لاربنود وو، تر ده بل پوه او عالم کس په نړۍ کي نه وو، ولي به الله تعالی د دې خبري په کولو تر عتاب لاندي نیولو چي د یو چا په ځواب کي ئی ویلي وو: تر ما بل پوه کس نشته؟! یقیناً چي هغه مهال تر ده پوه کس په ټولي نړۍ کي نه وو. پیغمبر علیه السلام په وار وار صحابه وو ته ویلي چي تر تاسو ټولو ښه پوه یم، او صحابه وو هم ویلي چي الله او د هغه رسول تر ټولو زیات پوه دي.

• قرآن د موسی علیه السلام دا سفر او موخه ئی د یوه ستر او ستاینې وړ کار په توګه د قریشو په وړاندي یږدي او ورته وایي: موسی علیه السلام د علم او زده کړي لپاره دومره اوږد او ستونزمن سفر ته ملا وتړله خو تاسو له خپل ستر معلم او مرشد د څه زده کولو پر ځای د هغه مخالفت او دښمنی ته ملا تړلی. هغه تعبیر د قصې له روح او مقصد سره اړخ نه لګوي.

• قرآن وایي چي موسی علیه السلام له بعثت وروسته یوازي څلوېښت ورځي له خپل قوم څخه لري شوی چي د ده په غیاب کي سامري وغولول، که دا سفر له بعثت وروسته وی نو حتماً به ئي قرآن وضاحت کړی وو او دا به ئې ویلي وو چي په دې مودې کي پر بني اسرائیلو څه راغلل. له بعثت وروسته هغه د سینا په صحرا کي وو، هلته نه سیندونه وو او نه مجمع البحرین.

• که وریت شوی او پوخ ماهي د دوی لپاره نښه وو نو موسی علیه السلام به څنګه خپل خادم ته ویل چي هغه د خوراك لپاره راوړه؟!! په دې صورت کي خو به ئې تل له ځان سره خوندي ساتو او له خوړلو به ئی ډډه کوله.

• نه قرآن ویلي چي د موسی علیه السلام د سفر ملګری یُوشَعَ بْنِ نُونٍ وو او نه نورو روایاتو دا خبره کړې او نه دا ضروري ده چي نوم ئي په ګوته شي، که ضروري وی قرآن به حتماً د ده نوم اخیستی وو! یوشع بن نون د سینا په سفر کي د موسی علیه السلام ملګری شوی نه په مصر کي د هغه بل سفر په دوران کي.

• دا روایت وایي چي وریت شوی کب ژوندی شو او سیند ته ئي ټوپ کړل او دا موسی علیه السلام او ملګري ته ئي د حیرانتیا سبب شو، حال دا چي قرآن وایي چي په سیند کي د کب ورکېدا یوازي د موسی علیه السلام ملګري لیدلي او موسی علیه السلام دا صحنه نه وه لیدلې نو ځکه ئی له خپل ملګري څخه د دغي خبري په اورېدو سره وویل: موږ د همدې ځای په لټه کي وو چي کب به په خپله مخه درومي او له موږ څخه به غایب کېږي. د روایت الفاظ دا دي: فَانْسَلَّ الْحُوتُ مِنَ الْمِكْتَلِ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا، وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا او دا د قرآن له وینا سره په ښکاره توګه تعارض لري، ځکه قرآن د موسی علیه السلام د ملګري له خولې وایي:... وَ مَا أَنسانِيهُ إِلا الشيْطنُ أَنْ أَذْكُرَهُ وَ اتخَذَ سبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عجَباً.

• همداراز دا روایت وایي چي موسی علیه السلام او ملګري ئي د کمر خوا ته سرونه کېښودل او ویده شول، که داسي وو نو د کب ژوندي کېدا او سیند ته لوېدا ئي څنګه ولیده؟! دا پوښتنه ډېره پر ځای پوښتنه ده، ځکه قرآن د ډبري خوا ته د ویده کېدو خبره نه کوي بلکي د پناه وړلو خبره کوي او ښیي چي د تودوخي له امله ئی د کمر سیوري ته پناه وړې او څو شیبې ئی هلته دمه کړې ده، خو دا روایت وایي چي هلته دواړه ویده شوي!!

- دا روایت وایي چي خضر علیه السلام د موسی د سلام په اورېدو سره حیران شو او وئي پوښتل چي ستا په سیمي کي سلام له کومه شو، هغه ورته وویل: زه موسی یم، پوښتنه ئي تري وکړه چي د بني اسرائیلو موسی؟ وئي ویل: هو؛ د دې معنی دا ده چي هغه په غیب نه پوهېدو او موسی ئي ونه پېژندو، خو د دې روایت له ځینو نورو الفاظو د دې خلاف داسي معلومېږي چي ګواکي هغه په غیب پوهېدو، حال دا چي قرآن وایي له الله تعالی پرته هیڅوك په غیب نه پوهېږي.
- پوښتنه دا ده چي خضر علیه السلام څنګه د موسی علیه السلام په څېر یوه پیغمبر ته وایي: ما ته داسي علم راکړی شوی چي تا ته نه دئ درکړی شوی یا په بل روایت له تا سره نه ښایي، او تا ته داسي علم درکړی شوی چي ما ته نه دئ راکړی شوی او په بل روایت کي له ما سره نه ښایي؟! کوم علم ده ته ورکړی شوی وو؟ علم غیب خو نشي کېدی!! ځکه چي هغه د ملاقات پر مهال موسی علیه السلام ونه پېژندو، پوښتنه ئي تري وکړه چي څوك یې؟ چي ورته وئي ویل موسی، نو پوښتنه ئي وکړه چي د بني اسرائیلو موسی؟! له دې خو معلومېږي چي هغه په غیب نه پوهېدو، نو ده کوم علم درلودو چي موسی علیه السلام له بعثت وروسته نه درلود؟ څوك چي دا روایت صحیح ګڼي څنګه خضر علیه السلام ته علم غیب هم منسوبوي؟!! له دې روایته خو معلومېږي چي په هغو دریو مواردو کي هم د ده علم؛ خاص علم او په غیب پوهېدا نشو ګڼلی. دې ته مو باید پام وي چي د قرآن له وینا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي خضر علیه السلام هغه مفسد ځوانکی د ده د مور او پلار په مشوره وژلی.
- همداراز د قرآن له وینا معلومېږي چي خضر علیه السلام د هغه یتیمانو دېوال د هغي ژمني له مخه رغولی چي د دوی له پلار سره ئي کړې وه، دا ځکه چي هیڅوك د اولاد لپاره په داسي حال کي خزانه نه ښخوي چي هیڅوك پرې خبر نه کړي، له داسي کار نه به د ده اولاد ته څه ګټه ورسېږي؟!! کېدی شي دېوال ړنګ شي او خزانه د بل چا په لاس کي پرېوځي.
- په دې روایت کي د خضر علیه السلام په لاس د کافر او مفسد ځوانکي د وژل کېدو په اړه دا الفاظ راغلي چي منل ئي ګران دي: فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلاَهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ: نو خضر د سر له لوړي ونیو او په خپل لاس سره ئي سر تري وایست!!
- په کومو آیتونو کي چي د کب یادونه شوې له هیڅ لفظ څخه ئي نه صراحتاً او نه اشارتاً داسي معلومېږي چي وریت شوی کب ژوندی شوی او له تږکری ئي سیند ته ټوپ کړي؟ که دا کار شوی وی نو قرآن به په صریحو الفاظو هغه ته اشاره کړې وه، او که د موسی علیه السلام ملګري داسي صحنه په سترګو لیدلې وی نو له ډېري حیرانتیا به ئي یا داسي چیغه له خولې وتلې وه چي موسی علیه السلام به ئي له خوبه راویښ کړی وی او که ئي ډېر صبر کړی وی نو د ده له ویښېدو وروسته به ئي فوراً دا خبره ورته کوله، لږ تر لږه هغه مهال خو به ئي دا خبره کړې وه چي تښه تږکرئ ئي له ځان سره وړله، دا داسي خبره نه ده چي څوك ئي هېره کړي، او څو ساعته وروسته ورپه یاد شي، قرآن وایي چي دواړو خپل کب هېر کړ (نسیا حوتهما)؛ یعني دواړو دې خبري ته نه وو پام چي کب به تر نظر لاندي نیسي، قرآن ورپسي د موسی علیه السلام د ملګري دا وینا راوړې: شیطان رانه هېره کړه چي یادونه ئي وکړم، کب په

عجيبه توګه پر خپله مخه ولاړ، د دې خبرې معنی دا ده چې يوازې د موسی عليه السلام ملګرې دا صحنه ليدلې وه، نه موسی عليه السلام.

- دغو خبرو ته په پام سره په يقيني توګه ويلی شو چې دا روايت ډېر اشکالات لري او قطعاً د منلو وړ نه دئ، هغه بل له هره پلوه ارجح او غوره دئ او ډېرې برخې ئې د قرآن له وېناوو سره اړخ لګوي.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا ﴿٨٣﴾

د ذو القرنين په اړه تا پوښتي، ووايه: ژر به ئې څه يادونه درواوروم.

(٨٣)- په دې مبارك آيت سره يوه بله اغېزناكه او عبرتناكه تاريخي قصه پيل کېږي چې د يوه ځواكمن او فاتح زعيم په اړه ده او په ترڅ کې ئې د دې سورې محورې او اساسي مضامين په نوې اغېزمني بڼې کې انځور شوي. دا ځل يو مؤمن بنده د داسې اقتدار او واکمنۍ په حالت کې ښيي چې د ملك لمن ئې د وچې له ختيزه تر لوېدزه غزېدلې، د شمال او جنوب په لورې خوره شوې، هيڅوك ئې مخې ته ودرېدی نشي او د مقابلې توان ئې نه لري، ډول ډول وسائل او امکانات ئې په واك کې دي، خو دې زور او ځواك؛ نه مغرور کړی، نه ئې له خپل رب عصيان او بغاوت ته هڅولی او نه ئې د نورو په حق کې ظلم او تېرې ته تشويق کړی، د مظلوم مرسته کوي، د ظالم له شره ئې ژغوري، د مفتوحه سيمو له هستوګنو سره نېك او عادلانه چلن کوي او يوازې ظالمانو ته سزا ورکوي، فتوحات ئې د دې لپاره نه دي چې د جاه طلبۍ شوق پوره کړي، نورو ته خپل زور او ځواك وښيي او د نورو سيمو په نيولو سره د خپلې واكمنۍ لمن پراخه کړي، بلکې د يوه سپېڅلي هدف لپاره دي، غواړي خلك پر الله تعالی او آخرت ايمان راوړي او د ظالمانو له منګولو وژغورل شي. د دې آيت لاندې مطالب توجه غواړي:

- دلته ويل شوي چې: او د ذوالقرنين په اړه له تا پوښتني کوي، له دې وينا معلومېږي چې د نورو پوښتنو په ضمن کې دا هم يوه پوښتنه وه، او دا ښيي چې د اصحاب کهف او خضر عليه السلام په اړه مخکني وضاحتونه هم د دوی د پوښتنو په ځواب کې وړاندې شوي. د آيت له دې فقرې (قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا : ووايه: ژر به ئې څه يادونه درواوروم) معلومېږي چې رسول الله ﷺ د دې وحې له راتلو وروسته هغوی ته دغه وينا کړې، هغه رأيه صحيح نه برېښي چې وايي: رسول الله ﷺ لومړی له هغوی سره وعده کړې او بيا څه موده وروسته دا آيتونه نازل شوي.
- دلته د ذوالقرنين نوم راغلی چې لغوي معنی ئې د دوو ښکرانو خاوند ده، نه په قرآن کې د دې مزيد وضاحت شوی چې دا څوك وو، نه په احاديثو کې او نه د تاريخ په کتابونو کې، ځينو ويلي چې دا يوناني سکندر اعظم وو او ځينو ويلي چې دا خورس (خسرو) د فارس واکمن وو، په دې اړه په يقين سره څه ويل ګران دي، دا هم يوه بله پوښتنه ده چې ولې د ذوالقرنين په نامه ياد شوی؟ آيا دا له دې کبله چې ده او فوځيانو به ئې داسې خولونه پر سر ږدول چې دوه ښکرونه به ئې ول، که د دې لپاره چې ده حقيقتاً په خپلې کوپړۍ کې د ښکرو په څېر دوه راوتلي غوټې درلودې؟ په دې اړه هم څه واضح ځواب نشو موندلی، خو د قرآن له وينا دومره معلومېږي چې قريش له دې نوم سره آشنا ول او د همدې ذوالقرنين په اړه ئې له رسول الله ﷺ پوښتنه کړې، د قريشو د دې معرفت مرجع يهودان ول، بايد د يهودانو په مذهبي او تاريخي کتابونو کې دا ولټول شي چې دوی د

ذوالقرنين نوم چا ته ورکړی وو. په بایبل کي د دانیال یوه جعلي او سر تر پایه بې بنسټه قصه مومو چي په ضمن کي ئې د دانیال داسي خوب ته اشاره شوې چي وايي: خوب مي ليد چي د شوش په سيمي کي (دا سيمه اوس د ایران یوه برخه ده)؛ د نهر خوا ته ولاړ یم، یو مړ ګورم چي دوه جګ جګ ښکرونه ئې دي، د نهر په ژئ کي ولاړ دئ، ناڅاپه ګورم چي یو ښاخ ئې ستر او تر بل جګ شو، دې مړ د مغرب، شمال او جنوب لوري ته ښکرونه وهل، هیڅ ځناور ئې مقابله نشوی کولی او روغ نشو ترې خلاصېدی، څه چي ئې غوښتل همغسې ئې کول او ستربدو، په داسي حال کي چي لګیا وم د دې صحنې په اړه مي فکر کولو ناڅاپه له لوېدیزه یو وز راڅرګند شو، داسي تېز راروان وو چي پښې به ئې د منډي په حال کي پر زمکه نه لګېدې، دې وز چي یو ښکر ئې د دواړو سترګو تر منځ درلود په شدت سره د دوه ښکري مړ په لور ورغی، له ډېر غضب سره ئې پرې برید وکړ، دواړه ښکرونه ئې ورمات کړل او هغه ئې رانسکور کړ... ورپسې د جبرئیل له قوله چي دانیال ته په خوب کي راڅرګند شوی دا خوب داسي تعبیروي: هغه دوه ښکری مړ د ماد او فارس پاچايي ده، هغه وز چي د دواړو سترګو منځ کي ئې یو ښکر وو د یونان پاچايي ده، ښکر ئې د همدې ملك لومړی پاچا دئ، د ښکر ماتېدا او پر ځای ئې د څلورو ښکرونو راپیدا کېدا په دې معنی ده چي دا پاچايي به په څلورو برخو ووېشل شي او هره برخه به یو پاچا لري خو هیڅ یو به ئې د لومړي پاچا په څېر ځواکمن نه وي....

- که تاسو د بایبل دغه برخه په دقت سره ولولئ نو یقیناً چي ډېر ژر به درته جوته شي چي (دانیال) یو جعلي نوم دئ، او په ده پوري تړل شوې خبري جعلي، له ځانه جوړي شوې خبري او له سره تر پایه غلطي او بې بنسټه دي، خو عجیبه ده چي دانیال ته منسوب دغه قصې، خوبونه او تعبیرونه ئې په مسلمانانو کي خورې شوې، دانیال د یوه معروف معبر په نامه پېژني او حتی ځینو مفسرینو په خپلو تفسیرونو کي د ده خبري نقل کړې دي، دا په داسي حال کي چي عمر رضي الله عنه یو کس د دې لپاره سخت تنبیه کړ چي دانیال ته دغه منسوب خبري ئې تبلیغ کړې وې او ورته وئې ویل چي زه پیغمبر علیه السلام د اهل کتابو د آثارو له لوستلو په کلکه منعه کړی وم. د دې تفصیل د (بایبل د قرآن په رڼا کي) کتاب کي وګورئ، خو یهودان د بایبل دغي جعلي برخي ته تر نورو زیات ارزښت ورکوي، د همدې لپاره دا دوه ښکری (ذوالقرنین) په دوی کي پېژندل شوی او معروف نوم وو او د فارس یو ستر واکمن ئې په همدې نامه یاداوو.
- **قرآن په راتلونکو آیتونو کي د دې ستر فاتح مواصفات زموږ مخي ته ږدي او هغه د یوه مؤمن او عادل واکمن او زعیم په توګه معرفي کوي.**

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَءَاتَيۡنَٰهُ مِن كُلِّ شَيۡءٖ سَبَبٗا ﴿٨٤﴾ فَأَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا
بَلَغَ مَغۡرِبَ ٱلشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَغۡرُبُ فِي عَيۡنٍ حَمِئَةٖ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوۡمٗاۗ قُلۡنَا
يَٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمۡ حُسۡنٗا ﴿٨٦﴾ قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ
فَسَوۡفَ نُعَذِّبُهُۥ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِۦ فَيُعَذِّبُهُۥ عَذَابٗا نُّكۡرٗا ﴿٨٧﴾ وَأَمَّا مَنۡ ءَامَنَ وَعَمِلَ

صَٰلِحٗا فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَسَنَقُولُ لَهُۥ مِنۡ أَمۡرِنَا يُسۡرٗا ﴿٨٨﴾

يقيناً چي موږ هغه ته په زمكي كي تمكين وركړى وو او ډول ډول اسباب مو وركړي ول، نو د يوه (اقدام اړوند) سبب پسي شو، تر هغه چي د لمر لوېدو حد ته ورسېدو، هغه ئې داسي وموند چي په تور رنګه ختېنه چينه كي پرېوځي، او د هغې خوا ته ئې يو قوم وموند، ومو ويل: اې ذو القرنينه! يا ئې تعذيب كړه يا د دوى په اړه نېك چلن غوره كړه، وئې ويل: اما هغه چي ظلم ئې كړى نو حتماً به ئې تعذيب كړو بيا به د خپل رب لوري ته ګرځول كېږي او هغه به ئې په ځانګړي بد عذاب اخته كړي. او هغه چي ايمان ئې راوړى او نېك عمل ئې كړى نو هغه ته غوره بدله ده او حتماً به هغه ته د خپلي سپارښتني آسانه وينا وكړو.

(٨٤-٨٨)- په دې مباركو آيتونو كي دا لارښووني مومو:

• **ذوالقرنين د نړۍ يو پياوړى او مضبوط واكمن وو، الله تعالى ډول ډول اسباب او امكانات وركړي ول، له خپلو وسائلو او امكاناتو په استفادې سره ئې لومړى د لوېديز په لوري مخه كړه، تر هغه ځايه مخكي ولاړ او سيمي ئې يوه په بلې پسي فتح كړې چي د لمر لوېدو حد ته ورسېدو، داسي ځاى ته چي پراخه ختېنه چينه ئې مخې ته حائل شوه، داسي ورته معلومېده چي لمر د همدې ختېني چينې په وروستۍ (غربي) ژۍ كي پرېوځي، د قرآن له وينا معلومېږي چي د دې چينې شرقي ژۍ ختېنه ده، د غرب په امتداد دومره اوږده پرته ده چي آخوا ته ئې هيڅ لوړه نه تر سترګو كېږي، د لمر د پرېوتو پر مهال داسي معلومېږي لكه چي لمر په همدې چينې كي پرېوځي. د قرآن له وينا دا هم معلومېږي چي دا كوم ستر بحر او سمندر نه وو بلكي چينې ته ورته بحيره وه، دغو لارښوونو ته په پام سره ويلى شو چي دا فاتح زعيم د يونان كوم پاچا نشي كېدى، ځكه د يونان په غرب كي داسي بحيره نه تر سترګو كېږي، د كوچنى آسيا په غربي ساحل كي پرتې جزېرې او مديترانه داسي دي چي د قرآن د الفاظو مصداق ګڼل كېدى شي، نو د دې فاتح زعيم پلازمېنه به د دې سيمي ختيځ كي پرته وه، او دا د خورس په اړه تر سكندر اعظم زيات صدق كوي.**

• **دې فاتح زعيم د دغې چينې خوا ته يو قوم وموند، داسي چي الله تعالى ده ته هم د دې قوم د تعذيب قدرت او توان وركړى وو او هم له دوى سره د نېك چلن توان، خو ده دا پرېكړه وكړه: چا چي ظلم كړى يا له دې وروسته ظلم وكړي مناسبه سزا وركوم، بيا به د خپل رب لوري ته درومي او الله تعالى به سخته سزا وركوي، او هغه چي ايمان ئې راوړى او نېك عمل ئې كړى يا له دې وروسته ايمان راوړي او نېك عمل وكړي نو هغه ته به په دنيا او آخرت كي غوره بدله وركول كېږي او موږ به نه له هغه سره سختي كوو او نه به ئې پر سختو كارونو ګمارو.**

• **له دې وينا په ډېر صراحت سره معلومېږي چي دا يو مؤمن او عادل زعيم وو، د مفتوحه سيمو له هستوګنو سره ئې عادلانه چلن كولو، ظالمانو ته ئې سزا وركوله، له مؤمنانو او**

نېكانو سره ئې نېك چلن كاوو، هدف ئې د زمكو لاندې كول او د نورو شتمني لوټل نه وو، د تاريخي شواهدو له مخې سكندر دا مواصفات نه درلودل، هغه چنگيز ته ورته فاتح وو، له تاريخي شواهدو دا معلومېږي چې خورس تر ډېره حده د همدې مواصفاتو خاوند وو.

ثُمَّ أَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٨٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطۡلِعَ ٱلشَّمۡسِ وَجَدَهَا تَطۡلُعُ عَلَىٰ قَوۡمٖ لَّمۡ نَجۡعَل
لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتۡرٗا ﴿٩٠﴾ كَذَٰلِكَۖ وَقَدۡ أَحَطۡنَا بِمَا لَدَيۡهِ خُبۡرٗا ﴿٩١﴾

بيا (د بل كار لپاره) په اسبابو پسې شو، تر هغه چې د لمر د ختو حد ته ورسېد، هغه ئې داسې وموند چې پر يوه داسې قوم راخېژي چې له هغه مو هيڅ حجاب او پرده نه ده ورته جوړه كړې، همداسې وو، او موږ يقيناً په هغه څه د خبرېدو له پلوه احاطه كړې چې له ده سره ول.

(۸۹-۹۱)- دا مبارك آيتونه د دې زعيم بل فاتحانه اقدام څېړي او وايي:

- بيا ئې د بل اقدام لپاره تيارى ونيو، د ختيځ په لور وخوزېدو، داسې سيمې ته ورسېدو چې د هستوگنو او لمر تر منځ نه چت حائل كېدو، نه كېږدۍ او نه جامې، نه ئې خونې او سمڅې درلودې، نه ئې كېږدۍ او نه جامې، د حيواناتو په څېر بربنډ ول.
- له الفاظو داسې معلومېږي چې دا سيمه هم د كوم بحر په غربي ژۍ كې پرته وه، لمر به له راڅرگندېدو سره سم ترسترگو كېدو، او وړانگې به ئې مخامخ او له كومې مانع پرته پر سيمې او هستوگنو ئې لگېدې. داسې معلومېږي چې دا به د هند هغه شرقي سيمه وي چې له بحر سره متصل پرته ده.
- دا آيتونه مسلمانانو ته اطمئنان وركوي چې د ذوالقرنين په اړه د قرآن دا وينا د هغه جامع او كامل علم له مخې ده چې الله تعالى ئې د ده او د ده د امكاناتو او وسائلو په اړه لري.

ثُمَّ أَتۡبَعَ سَبَبًا ﴿٩٢﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيۡنَ ٱلسَّدَّيۡنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوۡمٗا لَّا
يَكَادُونَ يَفۡقَهُونَ قَوۡلٗا ﴿٩٣﴾

بيا (د بل كار لپاره) په اسبابو پسې شو، تر هغه چې د دوو غرونو منځ ته ورسېد، تر هغو وړاندې ئې داسې قوم وموند چې دې ته نږدې نه وو چې په كومې وينا وپوهېږي.

(۹۲-۹۳)- دلته د ذوالقرنين بل سفر ته اشاره شوې خو لوري ئې نه دئ په گوته شوى، دومره ويل شوي چې د دوو غرونو منځ ته ورسېد، د دغو غرونو خوا ته ئې داسې قوم موندلى چې په خبرو د پوهېدا وړتيا ئې دومره كمزورې وه چې په هيڅ وينا نه پوهېدو ته نږدې وو. په وروستيو آيتونو كې داسې اشارې مومو چې په مرسته ئې دا سيمه او ولس ئې پېژندى شو.

قَالُواْ يَـٰذَا ٱلۡقَرۡنَيۡنِ إِنَّ يَأۡجُوجَ وَمَأۡجُوجَ مُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَهَلۡ نَجۡعَلُ لَكَ
خَرۡجًا عَلَىٰٓ أَن تَجۡعَلَ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَهُمۡ سَدّٗا ﴿٩٤﴾

وئې ويل: اې ذوالقرنينه! يقيناً چي ياجوج او ماجوج په دې زمکي کي فساد خوروونکي دي، آيا کېدی شي چي تا ته څه خراج (ماليه) د دې لپاره درکړو چي زموږ او دوی تر منځ کوم سد او مانع جوړ کړې.

(٩٤)- له دې مبارك آيت څو خبري معلومېږي:

- دا سيمه د ياجوج او ماجوج قوم ته نږدې پرته وه. دوی به د دوو غرونو له منځه راتېرېدل او د سيمي پر خلکو به ئې بريدونه کول، فساد او بې امني به ئې خوروله.
- د ياجوج او ماجوج تر بريدونو او ګواښونو لاندي خلکو له ذوالقرنين غوښتي چي دا ناو بند کړي او د دې دواړو لوړو غرونو تر منځ داسي سد جوړ کړي چي د دغو بريدونو مخنيوی وکړي.
- دا ئې هم ورته ويلي چي د دې په بدل کي به موږ تا ته ماليه درکوو.

د ياجوج او ماجوج نومونه هم بايد د يهودو په مذهبي کتابونو او تاريخي اسنادو کي ولټوو، ځکه دا نومونه د ذوالقرنين د قصې په ارتباط راغلي، د دوی په مذهبي کتابونو کي د دې يادونه شوې، دوی هغه قومونه د ياجوج او ماجوج په نامه ياد کړي چي د آسيا په شمال ختيزي برخو کي مېشت ول، بايبل وايي چي ياجوج او ماجوج د نوح عليه السلام د زوی يافث اولاد او هستوګنځی ئې د آسيا شمال ختيزه سيمه ده، (دې ته مو پام وي چي د قومونو د شجرو په اړه د بايبل وينا او ادعاء خوشي او بې بنسټه ادعاء ده او قرآن ئې ردوي)، له دې خبري معلومېږي چي د ذوالقرنين دا سفر د شمال په لوري وو، له تاريخي اسنادو دا هم جوتېږي چي د ققفاز په جنوب کي د دربند او داريال په نامه دوه سدونه ترسترګو کېږي چي ويل کېږي د تاتاري، منګولي، هن او سيتهين قومونو د يرغلونو د مخنيوي لپاره جوړ شوي وو،

قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيۡرٞ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجۡعَلۡ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهُمۡ رَدۡمًا ﴿٩٥﴾ ءَاتُونِي
زُبَرَ ٱلۡحَدِيدِۖ حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ بَيۡنَ ٱلصَّدَفَيۡنِ قَالَ ٱنفُخُواْۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ نَارٗا
قَالَ ءَاتُونِيٓ أُفۡرِغۡ عَلَيۡهِ قِطۡرٗا ﴿٩٦﴾ فَمَا ٱسۡطَٰعُوٓاْ أَن يَظۡهَرُوهُ وَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ لَهُۥ نَقۡبٗا
﴿٩٧﴾ قَالَ هَٰذَا رَحۡمَةٞ مِّن رَّبِّيۖ فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ رَبِّي جَعَلَهُۥ دَكَّآءَۖ وَكَانَ وَعۡدُ رَبِّي

حَقًّا ﴿٩٨﴾ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَجَمَعْنَاهُمْ
جَمْعًا ﴿٩٩﴾

وئې ویل: زما رب چې څه زما په واك كې راكړي هغه (ډېر او) غوره دي، نو په افرادي قوت سره زما ملتیا وكړئ چې ستاسو او د دوی تر منځ بند جوړ كړم، د اوسپنې ټوټې راته راوړئ، تر دې چې د دواړو لوړو څوكې ئې سره (وصل او برابرې كړې)؛ وئې ویل: (اور) پو كړئ، تر دې چې هغه ئې اور (ته ورته سرې) وګرځولې، وئې ویل: ما ته ویلې شوې زېړ (مس) راوړئ چې پرې توی ئې كړم، نو نه په دې توانېدل چې پرې وخېژي او نه ئې په سوري كولو توانېدل. وئې ویل: دا زما د رب له لوري یوه پېرزوینه ده، نو كله چې زما د رب وعده راورسي له خاورو سره به ئې برابر كړي، او زما د رب وعده رښتینې ده، او په دې ورځ به پرېږدو چې ځیني ئې د ځینو نورو (په لیكو) كې د څپو په څېر ننوځي، او په شپېلۍ كې به پو شي نو ټول به یو ځای راغونډ كړو.

(۹۵-۹۹)- د دې مباركو آیتونو مهمې لارښوونې دا دي:

- ذوالقرنین په ځواب كې ورته وویل: ستاسو مالیه نه غواړم، تر دې مالیې هغه څه ډېر غوره دي چې زما رب راكړي، همدا راته كافي دي. او دا ښیي چې د ذوالقرنین فتوحات د یوه سپېڅلي مقصد لپاره وو نه د مفتوحه سیمو او قومونو د غارت او لوټلو لپاره.
- له ما سره د دې كار په بشپړولو او ترسره كولو كې د خپل وس مطابق مرسته وكړئ، چې ستاسو او د دوی تر منځ بند جوړ كړم، د اوسپنې ټوټې او دړې راته راوړئ.
- دا د اوسپنې ټوټې او دړې ئې د دواړو غرونو تر منځ داسې سر په سر ودرولې چې د دواړو له څوكو سره برابرې شوې.
- بیا ئې د اوسپنې خوا ته سكاره كېښودل او اور ئې پرې بل كړ، خلكو ته ئې وویل چې اوس سكروټو ته د اړوند وسائلو په مرسته پو كړئ، تر دې چې اوسپنه دومره سره شوه چې د اور په څېر شوه، نو خلكو ته ئې وویل: ما ته ویلې شوې زېړ (مس) راوړئ چې پرې توی ئې كړم، په دې توګه د اوسپنې داسې مضبوط دېوال جوړ شو چې یاجوج او ماجوج نه پرې رااوښتی شو او نه ئې سوری كولی شو.
- په دې وخت كې ذوالقرنین د خپل رب شكر اداء كړ او وئې ویل: دا زما د رب له لوري یوه پېرزوینه ده، الله تعالی موږ ته د دې توفیق راكړ چې دا كار ترسره كړو، دا سد به تر هغه ولاړ وي چې الله تعالی ئې غواړي، خو كله چې زما د رب وعده راورسي مات مات او له خاورو سره به ئې برابر كړي، او زما د رب وعده رښتینې ده، هرومرو ترسره كېږي. دلته د الهي وعدې معنی یا د هغه سد د نسكورېدو نېټه ده او یا هغه نېټه ده چې الله تعالی د هر څه د

مرگ او فنا کېدو لپاره تاکلی.

• دا باید واضح کړو چې د قرآن په دوو آیتونو کې د یأجوج او مأجوج یادونه شوې یو همدا د الکهف ۹٤ آیت او بل د الانبیاء د سورې ۹٦ آیت چې له مخکني او وروپسي آیتونو سره یو ځای داسي راغلی:

وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَآ أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿٩٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ ﴿٩٦﴾ وَٱقْتَرَبَ ٱلْوَعْدُ ٱلْحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ أَبْصَارُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يَٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِى غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا بَلْ كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٩٧﴾

الانبیاء: ۹۵-۹۷

او پر یوه داسي کلي چې موږ هلاك کړی حرامه ده چې بېرته به نه راګرځي، تر هغه چې یأجوج او مأجوج پرانیستل شي او دوی به له هري لوړي راکوزېږي. او هغه ربښتیني وعده رانږدې شوې ده، نو ناڅاپه به د هغو وګړو سترګي رډي رډي پاته شي چې کفر ئې کړی (وایي به) افسوس زموږ په حال؛ یقیناً چې موږ له دې غافل وو؛ بلکي ظالمان وو.

د دې آیتونو معنی دا ده چې هغه خلك به هم د الله تعالی په لور درومي چې په الهي عذاب اخته او هلاك شوي، دوی به هم د قیامت په ورځ بیاراژوندي کېږي، په دنیایي عذاب ئې اکتفا نه کېږي، د الله تعالی په لوري نه ګرځېدا پرې حرامه ده. دا ثابته او نه بدلېدونکې الهي پرېکړه ده، دوی به هغه مهال له نورو سره یو ځای د الله تعالی په وړاندي ودرېږي چې قیامت راشي، د قیامت تر راتلو وړاندي به د یأجوج او مأجوج هغهستره فتنه راڅرګنده شي چې د فساد او تباهي خورولو لپاره به له هري لوړي راکوزېږي. تر هغه به دوی په خپلو قبرونو کي پراته وي چې یأجوج او مأجوج بیا د فساد خورولو مجال ترلاسه کړي، دا لار یو ځل بیا ورته پرانیستل شي، هغه مهال به بیا پر نورو سیمو د دوی یرغل پیل شي، یرغل به ئې داسي وي چې له هري لوړي به راکوزېږي او بریدونه به کوي، خو دا به هغه مهال وي چې قیامت به ډېر رانږدې شوی وي، او د الله تعالی په وړاندي د دوی ودرېدا به ډېر ژر ترسره شي.

ځینو له دغي فقرې (حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ : تر هغه چې یأجوج او مأجوج پرانیستل شي،

دا انتباه اخیستي ده چې ښایي د ذوالقرنین هغه سد به د قیامت تر رانږدې کېدو پوري همداسي روغ پاته وي او د یأجوج او مأجوج د راتېرېدا مخه به نیسي، خو هغه مهال به نسکور شي او دوی ته به د تېرېدا او پر نورو د یرغلونو مجال په لاس ورشي. خو دا انګېرنه له یوې خوا د آیت له الفاظو سره اړخ نه لګوي؛ ځکه آیت وایي چې هغه مهال به دوی له هري لوړي راکوزېږي، یوازي د هغه یوه بند له لوري د راکوزېدا خبره نه کوي، له بلي خوا دا جوته ده چې دلته د دوی د شمېر زیاتوالي ته اشاره شوې او د دومره زیاتو خلکو مخنیوی په یوه ووړ بند، هغه هم د یوې وړې سیمي په یوه ناو او خوړ کي نه ممکن دئ او نه ئې عقل مني، له بلي خوا دا انګېرنه له الهي سننو سره اړخ نه لګوي، قومونه مري، ستر ستر او مضبوط مضبوط بندونه د وخت په تېرېدو سره شړېږي او

نسکورېږي، د انسان وسائل او امکانات وده کوي، یو وخت په اوبو کي تګ، له غرونو اوښتل، په هوا کي الوتل ورته محال وو، خو اوس په لویو لویو سمندرونو کي اوږده اوږده سفرونه کولی شي، له غرونو او بندونو تېرېدا څه چي له یوې وچي بلي ته د هوا له لاري درومي، فضاء ته سفرونه کوي او پر سپوږمۍ کوزېږي. د قرآن د یوه آیت داسي تعبیر چي له واقعیتونو سره اړخ نه لګوي نه یوازي صحیح تعبیر نه دئ بلکي د دې ستر او عظیم الشأن الهي کتاب په اړه بې ځایه شکونه راولاړوي. قرآن د هغه الله تعالی کتاب دئ چي دا ټول عالم ئې پیدا کړی او له ټولو اسرارو ئې خبر دئ، په دې کتاب کي یوه کلمه داسي نشته چي د واقعیتونو خلاف وي او د انسان عقل ئې نشي منلی. یأجوج او مأجوج د نورو انسانانو په څېر انسانان دي، ژوند او مرګ لري، د دوی په اړه به همغه څه وایو چي په بل هر انسان ئې اطلاق کېدی شي، د قرآن له نظره دا یو مفسد قوم وو، په زمکي کي ئې فساد او تباهي خوروله، د دوی خوا ته پراته خلك تري تنګ ول، تل به ئې پر دوی غلچکي بریدونه کول او بېرته به تښتېدل، دوی ذو القرنین ته شکایت وکړ، هغه د دغو بریدونو د مخنیوي لپاره په یوه ناو کي داسي اوسپنیز بند او سد جوړ کړ چي د هغوی بریدونه ئې تم کړل. دا د هغه مهال یو مؤثر تدبیر وو، د دې معنی دا نه ده چي همدا سد به تر قیامته پوري د دوی مخنیوی کوي.

د قرآن له وینا معلومېږي چي دا سد دیوه غره په خوړ کي جوړ شوی، د دې غره یوې خوا ته مېشت قوم نسبتاً متمدن قوم وو، ذوالقرنین ته د دوی دا وړاندیز چي د بند جوړولو په بدل کي مالیه (خراج) درکوو همدا مفهوم افاده کوي، یأجوج او مأجوج د دې غره په شمال کي اوسېدل، خو وحشي قوم وو، د دې خوړ له لاري راتېرېدل او پر دغو قومونو ئې غلچکي بریدونه کول او له تالان وروسته بېرته تښتېدل، د سد له جوړېدو وروسته د دوی دا غلچکي بریدونه متوقف شوي، له دې وروسته برید، تالان او بېرته تښتېدا ورته ګرانه شوې، دا رأیه دقیقه نه ده چي ګواکي دوی ستر ستر بریدونه کول او دا سد د دوی د داسي بریدونو مخنیوی کړی. داسي بند د لویو پلي بریدونو مخه نشي نیولی، لوی پلی فوځ په غرونو رااوښتی شي، که د دوی بریدونه ستر ستر وی نو دا نسبتاً متمدن قومونه به هلته نه پاته کېدل او لادمخه به نورو سیمو ته کډه شوي وو، هغو چي دا رأیه ئې وړاندي کړې ښایي د دې سورې د (۹۹) آیت په اړه ئې دا ګمان کړی وي چي دا د یأجوج او مأجوج په اړه دئ، حال دا چي دا آیت د قیامت د ورځې په اړه دئ، له (یومئذٍ) نه مراد د بند د ماتېدا ورځ نه ده، دا د قیامت ورځ ده، په دې ورځ به ټول خلك د بحر د څپو په څېر د محشر په لوري درومي، دا ځکه چي په (۱۰۰) آیت کي همدغه د (یومئذٍ) کلمه بیا تکرار شوې او ویل شوي چي په دې ورځ به په صور کي پو شي او دوزخ به کافرانو ته وښودل شي.

د دې احتمال هم شته چي ځینو خلکو به د شمال له لوري د چنګیزیانو هغه ستر ستر او ورانوونکي بریدونه د همدې آیت مصداق ګڼلي وي چي له چین څخه پیل او تر مدیترانې او هند پوري وغزېدل، په دې ټولې پراخې سیمې کي ئې دومره ویني توی کړې، دومره انسانان ئې ووژل او دومره ښارونه ئې وسوزول چي په بشري تاریخ کي ئې نظیر نه مومو. اسلامي خلافت ئې نسکور کړ، په بلخ او بغداد کي ئې دومره تباهي وکړه چي جبران ئې محال وو. ښایي د **الانبیاءد سورې په ۹۵-۹۶** آیتونو کي دغه حالت ته اشاره شوې وي او دا د قرآن یوه دقیقه وړاندوینه وي چي ترسره شوه، او ښایي دا وړاندوینه به تر قیامت وړاندي ترسره شي؛ هغه

مهال به دا قوم يو ځل بيا په همداسي ستر شرارت لاس پوري کړي.
دا مطلب هم په يادولو ارزي چي ولي د ذوالقرنين د سفرونو په لړ کي د جنوب يادونه نه ده شوې؟ ما ته داسي معلومېږي چي د ذوالقرنين د پلازمېني په جنوب کي بل هېواد نه وو، د ده هېواد په جنوب کي له سمندر سره نښتی وو او له دې معلومېږي چي پلازمېنه به ئې په خراسان کي وه او هېواد به ئې په جنوب کي تر سمندر پوري غزېدلی وو.
راشئ وګورو چي په رواياتو کي د يأجوج و مأجوج په اړه څه راغلي:
د بخاري په دولسو رواياتو کي د دوی يادونه شوې، په دې کي يو روايت داسي دئ چي وايي يوه سړي رسول اللهﷺ ته وويل: ما د يأجوج او مأجوج سد وليد، د سد مواصفات ئې ورته بيان کړل، رسول اللهﷺ وفرمايل: هغه دي (په خپلو سترګو) وليد؟ که دا روايت صحيح وي نو څو خبري ترې معلومېږي: ١- د رسول اللهﷺ تر زماني دا سد په مکمله توګه موجود وو يا ئې ځيني برخي موجودي وې، ٢- دا کوم خارق العاده سد نه وو، لکه هغسي چي ځيني ګمان کوي، ٣- له عربو ډېر لري پروت نه دئ بلکي دومره نږدې دئ چي يو کس توانېدلی هلته ولاړ شي او په خپلو سترګو ئې وګوري.
د بخاري بل روايت ئې دا دئ:

٣٣٤٦ - حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ زَيْنَبَ ابْنَةَ أَبِى سَلَمَةَ حَدَّثَتْهُ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ بِنْتِ أَبِى سُفْيَانَ عَنْ زَيْنَبَ ابْنَةِ جَحْشٍ - رضى الله عنهن أَنَّ النَّبِىَّ - صلى الله عليه وسلم - دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا يَقُولُ « لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ ، وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ » . وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِى تَلِيهَا . قَالَتْ زَيْنَبُ ابْنَةُ جَحْشٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ « نَعَمْ ، إِذَا كَثُرَ الْخُبْثُ » .

له زينب بنت جحش صلى روايت دئ چي رسول اللهﷺ زموږ خوای ته په داسي حال کي راننوت **چي وېږي اخيستی وو وئې ويل: لا إله إلا الله، افسوس د عربو په حال له هغه شر چي يقيناً رانږدې شوی، نن د يَأْجُوجَ او مَأْجُوجَ په بند کي دومره سوری جوړ شو، بټه ګوته او ورپسي ئې سره وصل کړې، زينب وايي: ما ورته وويل: يا رسول الله! آيا په داسي حال کي به هم هلاك کېږو چي په موږ کي صالحان وي؟ وئې فرمايل: هو؛ کله چي پليتي (پليتان) زيات شي.**

دا روايت چي په بخاري کي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ٣٥٩٨ ، ٧٠٥٩ ، ٧١٣٥، د سند له مخي غريب دئ، په دريو طبقو کي يو يو راوي لري. د متن له پلوه په خپلو منځونو کي څو توپيرونه لري: په يوه کي راغلي: أَنَّ النَّبِىَّ دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا په بل کي د دې خلاف راغلي **اسْتَيْقَظَ النَّبِىُّ مِنَ النَّوْمِ مُحْمَرًّا وَجْهُهُ** په يوه کي وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ وَبِالَّتِى تَلِيهَا په بل کي **وَحَلَّقَ بِإِصْبَعَيْهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِى تَلِيهَا او په بل کي وَعَقَدَ تِسْعِينَ. يو روايت وايي چي رسول اللهﷺ له خوبه راويښ شو، مخ ئې سور اوښتی وو او وئې ويل: لا إله إلا الله، افسوس د عربو په حال له هغه شر چي يقيناً رانږدې شوی، نن د يَأْجُوجَ او مَأْجُوجَ په بند کي دومره سوری جوړ شو، بټه کوته او ورپسي ئې سره وصل کړې، بل ئې وايي چي رسول اللهﷺ په داسي حال کي زموږ خوای ته راننوت چي وېږي اخيستی وو او همدا خبره ئې وکړه خو په پای کي د ابهام ګوتي يادونه نه کوي او وايي يوه او ورپسي ګوته ئې سره وصل کړې. په يوه بل روايت کي د دې ټولو خلاف ويل شوي: « يُفْتَحُ الرَّدْمُ رَدْمُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ » . وَعَقَدَ وُهَيْبٌ تِسْعِينَ، دلته د فتحت پر ځای يفتح راغلي چي له مخکني سره جدي تعارض لري او ښيي چي دا**

سد به له دي وروسته سورى شي. او په بل كي داسي راغلي « فَتَحَ اللَّهُ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلَ هَذَا » . وَعَقَدَ بِيَدِهِ تِسْعِينَ .

كه سره له دې ټولو تعارضاتو دا روايت صحيح وګڼو چي په سد كي سورى راپيدا شوى نو د دې معنى همغه ده چي ځينو درنو شارحينو كړې او دا ئې د دې فتني د قرب او نږدېوالي په معنى اخيستي، نه په حقيقي معنى او په سد كي د سوري په معنى.

د بخاري بل روايت دا دئ:
١٥٩٣ - حَدَّثَنَا أَحْمَدُ حَدَّثَنَا أَبِى حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ حَجَّاجٍ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِى عُتْبَةَ عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ ﷺ عَنِ النَّبِىِّ ﷺ قَالَ « لَيُحَجَّنَّ الْبَيْتُ وَلَيُعْتَمَرَنَّ بَعْدَ خُرُوجِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ » . تَابَعَهُ أَبَانُ وَعِمْرَانُ عَنْ قَتَادَةَ . وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ « لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لاَ يُحَجَّ الْبَيْتُ » . وَالأَوَّلُ أَكْثَرُ ، سَمِعَ قَتَادَةُ عَبْدَ اللَّهِ وَعَبْدُ اللَّهِ أَبَا سَعِيدٍ .

له ابو سعيد خدري ﷺ روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د يأجوج او مأجوج له راوتلو وروسته به هم حج او عمره اداء كېږي. په بل روايت كي دا پرې اضافه شوي چي قيامت تر هغه نه راځي چي د بيت الله حج كول بند شي.

د بخاري ځلور نور روايات داسي دي چي د مؤمنانو په پرتله د يأجوج او مأجوج شمېر داسي ښيي لكه يو په زرو كي، دا روايات هم د سند له مخي مطلق غريب دي، په دريو طبقو كي يو يو راوي لري او په ځلورمي كي دوه.

● د ذوالقرنين د قصې په پاى كي د ده داسي خبري راوړل شوې چي د ده دا قصه او ټوله سوره د هغوى پر محور څرخي، او په دې سره قريشو ته ويل شوي: ستاسو مغرور مشران په خپلي داسي مشرى او زور ځواك مغرور شوي چي د ذوالقرنين د پراخ ملك په پرتله د يوه واړه كلي ملكانو ته ورته دي، هغه پر خداى او آخرت ايمان درلود، د مظلومانو مرسته ئې كوله، د نېكانو مل او ملاتړى وو، شرق، غرب او شمال ته له داسي سترو سترو فوځونو سره ولاړ چي هېڅوك ئې مخي ته نشو تم كېدى، پرديو قومونو ته ئې له بدل او اجورې پرته لوى لوى كارونه كول، خو د قريشو دا مغرور مشران بتان لمانځي، آخرت نه مني، د الله تعالى پر آيتونو ملنډي وهي، د الله پر پيغمبر استهزاء كوي، د خپل قوم پر مظلومو او بې وزلو مؤمنانو ظلمونه كوي، عملونه ئې ګنده، په فساد كي تر ستوني غرق، ټول هم او غم ئې دا چي بې وزلي او مظلومان ولوټي، وېره ئې له دې چي دا ذليل او قليل اقتدار ته ئې ګواښ متوجه نشي**!!**

● د دې بحث په ترڅ كي به تاسو ته واضح شوې وي چي يأجوج او مأجوج د انسانانو د يوه قوم نوم دئ، وحشي قوم وو، په غرونو كي اوسېدل، كوم ښار او مركزي حكومت ئې نه درلود، كه نه نو ذوالقرنين به حتماً هغه فتح كړى وو، پر نورو قومونو ئې غلچكي بريدونه كول، د يوه سد له امله ئې دا غلچكي بريدونه متوقف شول، اوس كه تاسو داسي وينا، رأيه او روايت واورئ چي وايي: دا كوم ځانګړى مخلوق وو، له نورو انسانانو سره ئې ډېر ژور توپيرونه ول، دومره ستر ستر او پلن پلن غوږونه ئې ول چي يو به توشك او نيالى شو او بل برستن، نو ستا قضاوت

به د دې وينا په وړاندې يا دا وې چې دا خبره په بشپړه توګه غلطه، بې بنسټه او د قرآن خلاف ده او يا دا چې ووايي: د يوه غوږ توشك او بل غوږ بړستن معنى دا نه ده چې پلن پلن غوږونه ئې ول بلكې معنى ئې دا ده چې نه ئې توشك وو او نه بړستن، پر ځمكه به داسې پرېوتل چې نه به ترې لاندې له خپل غوږ پرته بل څه وو او نه ئې له پاسه له خپل غوږ پرته كوم څادر او بړستن.

- د دې قصې په پاى كې، د يوې داسې ښكلې او جامع تتمې شاهد يو چې دغه مطالب په كې ځلېږي، الله تعالى فرمايي: هغه ورځ راتلونكې ده چې خلك به له قبرونو راپاڅوو، ټول به د محشر په لوري داسې روان وي چې ځيني به د ځينو نورو په ليكو كې د څپو په څېر ننوځي، په شپېلۍ كې به پو شي نو ټول به يو ځاى راغونډ كړو. په همدې سره د ذوالقرنين دا روزونكې او لارښوونكې ښكلې قصه پاى ته رسوي. او ورپسې د قيامت په ورځ د كافرانو حال بيانوي او فرمايي:

وَعَرَضۡنَا جَهَنَّمَ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡكَٰفِرِينَ عَرۡضًا ﴿١٠٠﴾ ٱلَّذِينَ كَانَتۡ أَعۡيُنُهُمۡ فِي غِطَآءٍ عَن ذِكۡرِي وَكَانُواْ لَا يَسۡتَطِيعُونَ سَمۡعًا ﴿١٠١﴾

او په دې ورځ به دوزخ كافرانو ته مخامخ ورووړاندې كړو، هغو ته چې سترګې ئې زما د پند په وړاندې پوښل شوې وې او د اورېدو وس ئې نه وو.

(١٠٠-١٠١)- دلته د قيامت په ورځ د كافرانو په وړاندې د دوزخ راڅرګندېدل انځور شوي، دوزخ به دوى ته مخامخ ورووړاندې كړى شي، په دنيا كې ئې پر دوزخ باور نه درلود، د دوزخ شته والى ئې له امكان او احتمال لرې، بعيد او محال ګڼلو، د قيامت په ورځ به د دوى په وړاندې څرګند كړى شي، تر څو وګوري چې په دنيا كې ئې دغه دوزخ ناشونى او محال ګڼلو، هغه مهال ئې پر سترګو د جهل، ناپوهى، كفر او شرك پرېړې پردې غوړېدلې وې، غوږونه ئې د حق له اورېدو عاجز ول، په دې ورځ به په خپلو سترګو او له نږدې څخه دوزخ او د هغه لمبې وګوري.

أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن يَتَّخِذُواْ عِبَادِي مِن دُونِيٓ أَوۡلِيَآءَۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكَٰفِرِينَ نُزُلٗا ﴿١٠٢﴾ قُلۡ هَلۡ نُنَبِّئُكُم بِٱلۡأَخۡسَرِينَ أَعۡمَٰلًا ﴿١٠٣﴾ ٱلَّذِينَ ضَلَّ سَعۡيُهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ يَحۡسَبُونَ أَنَّهُمۡ يُحۡسِنُونَ صُنۡعًا ﴿١٠٤﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ

رَبِّهِمْ وَلِقَآئِهِۦ فَحَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَزْنًا ﴿١٠٥﴾ ذَٰلِكَ
جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُواْ وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِي وَرُسُلِي هُزُوًا ﴿١٠٦﴾

آيا دغو كافر شوو داسي انګېرلې چي زما بندګان ئې اولياء (مرستيالان) نيولي (حقيتاً ئې مرستيالان دي؟!!)، موږ دغو كافرانو ته دوزخ مېلمستون ګرځولی. ووايه: آيا پر هغو مو خبر نه كړم چي عملاً تر ټولو تاوانيان دي. هغه چي د دنيا په ژوند كي ئې هڅه بې لاري وه خو دوی داسي انګېرله چي ښه كار كوي، دوی همغه دي چي د خپل رب د آيتونو او له هغه سره د مخامخ كېدو په اړه ئې كفر كړی وو، نو عملونه ئې حبط شول، نو د قيامت په ورځ به هيڅ وزن ورنه كړو. همداسي ده، سزا به ئې جهنم وي، له دې كبله چي كفر ئې كړی وو او زما آيتونه او زما پيغمبران ئې تر استهزاء (لاندي) نيولي ول.

(۱۰۲-۱۰٦)- دلته قريشو ته خطاب متوجه دئ او ويل شوي:

- آيا دا كافر شوي چي په شرك كي غرق دي او د الله تعالی پر ځای ئې د هغه بندګان خپل اولياء او مرستيالان نيولي داسي ګمان كوي چي هغوی به ئې مرسته وكړی شي؟!!.
- نه يوازي دا چي مرسته ئې نشي كولی بلكي له داسي پايلي سره به ئې مخامخ كړي چي دوزخ به ئې مېلمستون شي.
- دوی عملاً تر ټولو خلكو زيات له تاوان او زيان سره مخامخ دي، دا ځكه چي عملونه ئې ناسم دي، په كږو لارو سر شوي، ګناهونو احاطه كړي؛ خو سره له دې داسي انګېري چي ښه كار كوي.
- دوی د خپل رب د آيتونو او له هغه سره د مخامخ كېدو په اړه كفر كړی، له همدې كبله ئې عملونه حبط شوي، د قيامت په ورځ به نه دوی ته په درنه سترګه وكتل شي او نه به ئې عملونه څه ارزښت او وزن ولري، سزا به ئې جهنم وي، له دې كبله چي كفر ئې كړی وو او د الله تعالی آيتونه او د هغه پيغمبران ئې تر استهزاء لاندي نيولي ول.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّٰتُ ٱلْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿١٠٧﴾
خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿١٠٨﴾

يقيناً هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې كړي د دوی ميلمستون به د فردوس جنتونه وي، تلپاته په هغه كي داسي چي له هغه به (بل لوري ته) اوړېدا نه غواړي.

(۱۰۷-۱۰۸)- د بدكارو كافرانو او مشركانو په مقابل كي به د نېكانو مؤمنانو حالت داسي وي چي د فردوس په جنتونو كي به دوی د مېلمنو په توګه منل كېږي، تلپاته مېلمانه، داسي چي

هيڅكله به ئې زړه نه غواړي چې له هغه ځايه بل ځاى ته ولاړ شي.

قُل لَّوۡ كَانَ ٱلۡبَحۡرُ مِدَادٗا لِّكَلِمَٰتِ رَبِّي لَنَفِدَ ٱلۡبَحۡرُ قَبۡلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَٰتُ رَبِّي وَلَوۡ جِئۡنَا بِمِثۡلِهِۦ مَدَدٗا ﴿١٠٩﴾

ووايه: كه سمندر زما د رب د كلماتو (د ليكلو) لپاره رنګ شي، نو سمندر به له هغه وړاندې ختم شي چې زما د رب كلمې تمامې شي، كه څه هم دې ته ورته (سمندرونه) د مرستې په توګه راوړو.

(١٠٩)- دلته د الله تعالى د كلمو د زياتوالي انځورولو لپاره ډېر ښكلى مثال وړاندې شوى، ويل شوي: كه د نړۍ ټول سمندرونه د قلم رنګ شي، د الله تعالى د كلمو په ليكلو پيل وكړي، دا رنګ به تر هغه ډېر د مخه ختم شي چې د الله تعالى كلمې پاى ته رسي، كه څه هم دې ته ورته نور سمندرونه هم د دې خواته كېږدو او د قلم د رنګ په توګه ئې وكاروو!! په دې اړه څو خبرې په پام كې ولرئ:

- دا مطلب د قرآن په بل آيت كې هم راغلى، دلته يا د دې لپاره راغلى چې د هغو خلكو پوښتنه ځواب كړي چې وايي: قرآن ولې د دغو سترو سترو قصو په اړه په څو آيتونو اكتفاء كړې او د قصو د ټولو برخو په اړه ئې تفصيلي بحث نه دئ كړى!! د دوى په ځواب كې ويل شوي: د دې اجمالي بحث وجه دا نه ده چې د الله تعالى كلمې لږ دي، وجه ئې دا ده چې الله تعالى همدومره كافي او شافي بولي.
- او يا د قرآن دا وينا د مسيحيانو په ځواب كې راغلې چې وايي: عيسى د خداى كلمه ده، كلمه د خداى صفت دئ، او صفت له خداى بېل نه دئ، نو عيسى خداى دئ!! د دې سورې له څلورم آيت داسې معلومېږي چې دا د مسيحيانو په ځواب كې راغلي، ځكه په څلورم آيت كې ويل شوي: او هغه وګړي ووېروي چې وايي: الله زوى نيولى. قرآن دلته هم او په بل ځاى كې هم د دوى په ځواب كې وايي: د خداى كلمه يوه نه بلكې دومره دي چې كه بحر مداد (د قلم رنګ) شي، د زمكې د سر ټولې ونې قلمونه شي، اوه بحرونه نور ورسره يو ځاى شي او د الله تعالى كلمې وليكي، نو رنګ به خلاص شي خو د خداى كلمې به لا پاتې وي!! حقيقت دا دئ چې د دې عالم هر شى د الله تعالى د يوې كلمې مظهر دئ، د الله تعالى د (كن) په امر سره راپيدا شوى!! مسيحيان هسې د الفاظو په چكر كې لوېدلي، يوازې عيسى د خداى كلمه ګڼي او كلمه يوه، په دې هم نه پوهېږي چې كلمه شى نه دئ او په كلام سره له متكلم څخه كوم شى نه بېلېږي، كلمه مستقل وجود نه لري، داسې نه چې عيسى عليه السلام يا د عالم دا ټول مخلوقات د الله تعالى له ذات څخه رابېل شوي، بلكې دا هر څه د الله تعالى په يوه فرمان (كلمې) له نشت او عدم څخه راپيدا شوي. بايبل د يوحنا د ليكونو تر عنوان لاندې د ده له قوله ليكي: د خداى حيات بخښونكې (كلمه) په ابتداء كې موجوده وه، ما په خپلو سترګو ليدلې او د ده خبرې مې اورېدلې او په خپل لاس مې لمس كړې، دا كلمه د خداى له لورې راغله او موږ ته ئې ځان راڅرګند كړ او موږ شهادت وركوو چې هغه مو ليدلې، يعني عيسى مسيح

مو لیدلی، هغه تلپاتی ژوندی دئ، هغه له پلار سره وو، خو وروسته ئې ځان موږ ته راڅرگند کړ!!!

دا د یوحنا د لیك خلاصه ده، چي څو خبري ئې د غور وړ دي:

- مسیح د خدای کلمه گڼي او وایي چي په ابتداء یعني ازل کي وه، خو وروپسي مغالطه کوي او داسي ښیي چي گواکي ده دا کلمه په ازل کي لیدلې، حال دا چي که دا لیکونکی واقعاً یوحنا د عیسی علیه السلام شاگرد وي نو ده خو عیسی علیه السلام په خپلو سترگو لیدلی او خبري ئې اورېدلي، نه هغه کلمه چي د عیسی بڼه ئې غوره کړه!! دې ته مو پام وي چي دا هغه یوحنا نه دئ بلکي د اسکندریې د مدرسي یو شاگرد دئ
- دا هم یوه مغالطه ده چي عیسی علیه السلام ته په دې خاطر د کلمې لفظ کاروي چي ثابته کړي دی په ازل کي له پلار سره یو ځای وو او تلپاته ژوندی دئ یعني ازلي او ابدي دئ!! عیسی علیه السلام ته د کلمې لفظ په دې خاطر نه دئ کارول شوی چي هغه د انسان په بڼي کي د خدای کلمه ده او یا د خدای له ذات څخه بېل شوی، دا غلطه خبره چي څوك کوي هغه باید د ټولو مخلوقاتو په باره کي همدا خبره وکړي، نور مخلوقات هم د الله تعالی په امر او یوې کلمې سره پیدا شوي، په کلمې سره د دوی پیدایښت په دې معنی نه دئ چي ټول د الله تعالی له ذات رابېل شوي او په ازل کي وو!! د عیسی علیه السلام په اړه دا خبره کول همدومره غلطه ده لکه د نورو مخلوقاتو په اړه. دا خبره یا ماتریالستان کوي یا هغه چي په وحدت الوجود باور لري او ټول مخلوقات د خدای له ذاته او ازلي او ابدي گڼي، تاسو په خپله منئ چي عیسی علیه السلام له خپلي مور مریمي پیدا شوی، ماشوم وو ورو ورو ستر شوی او د انسان ټولي ځانگړتیاوي ئې درلودې!! عقل حکم کوي چي په څه کي بدلون راځي او له یوه حالت بل ته اوړي هغه نه ازلي کېدی شي او نه ابدي، حتماً پیل او پای لري، ډېر کم عقله انسان به بدلېدونکي شي ته د ازلي او ابدي ذات په سترگه گوري. د تفصیل لپاره ئې بایبل د قرآن په رڼا کي کتاب ته مراجعه وکړئ.

قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰٓ إِلَىَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۖ فَمَن كَانَ يَرْجُوا۟ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَٰلِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدًۢا ﴿١١٠﴾

وواېه: یقیناً چي زه فقط ستاسو په څېر یو بشر یم، دا وحي راته کېږي چي ستاسو معبود یوازنی معبود دئ، نو څوك چي د خپل رب د ملاقات هیله او طمعه لري نو نېك عمل دي وکړي او د خپل رب په عبادت کي دي هیڅوك نه شریکوي.

(١١٠)- په دې مبارك آیت کي چي د سورې وروستی آیت او د سورې د ټولو مضامینو لپاره ډېره جامع او ښکلې تتمه ده، رسول الله ﷺ ته د څو خبرو کولو سپارښتنه شوې:

- وواېه: یقیناً چي زه ستاسو په څېر یو بشر یم.
- دا وحي راته کېږي چي ستاسو معبود یوازنی معبود دئ.
- څوك چي د خپل رب د ملاقات هیله او طمعه لري نو نېك عمل دي وکړي او د خپل رب په

عبادت کي دي هيڅوک نه شريکوي.

او تاسو وليدل چي د سورې له سر تر پايه همدغه اساسي مضامين څېړل شوي، د هر مبحث خلاصه ئې همدا وه، د هري قصې موخه ئې همدا وه او د هري قصې په پای کي دغه ځلانده لارښووني د نتيجې په توگه زموږ په وړاندي ځلېدې.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

مريم

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکي سورې نوم مريم دئ چي د شپاړسم آيت له دې فقرې اخيستل شوی: ﴿وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَرۡيَمَ﴾، دا د سورې د مضامينو لپاره عنوان نه بلکي يوازي نوم دئ، اته نوي آيتونه لري، له دوهم آيت تر دري دېرشم آيت پوري د ټولو آيتونو فواصل ئې سره ورته او د (زکريا) او (خفيا) په څېر دي، له څلور دېرشم تر څلوېښتم پوري ځيني (يمترون) او ځيني (مستقيم) ته ورته دي، له څلوېښتم تر څلور اويايم پورې بېرته د لومړنيو په څېر شوي، او په پای کي له پنځه اويايم تر اته نوي يم پوري (ولداً) ته ورته دي. د رواياتو له مخي معلومېږي چي دا سوره د حبشې له هجرت وړاندي نازله شوې وه او جعفر ﷺ د نجاشي په وړاندي دغه سوره تلاوت کړې وه.

دا سوره په پنځو مقطعاتو حروفو پيل شوې، د سورې محوري او اساسي مضامين هم پنځه دي چي خلاصه ئې د سورې د پای پنځو آيتونو کي په دې توګه راغلي:

- د آسمانونو او زمکي هر څه د الله تعالی په وړاندي داسي دي لکه بنده او مريي.
- الله تعالی پر ټولو مخلوقاتو احاطه کړې او په ښو شمېرلو سره ئې شمېرلي او هر يو به د قيامت په ورځ يوازي ورشي.
- هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به رحمن رب دوی ته په زړونو کي مينه او دوستي پيدا کړي.
- د الله تعالی هغه کتاب چي پر رسول اللهﷺ نازل شوی متقيانو ته د روښانه مستقبل زېری ورکوي او سرټمبه وګړو ته د بدو پايلو خبرداری.
- د دغو لجوجو دښمنانو او مخالفينو عاقبت به همغسي وي لکه د دوی د اسلافو، نه ګورې چي الله تعالی څومره پېړۍ پېړۍ خلك تر دوی وړاندي هلاك کړل، آيا د دوی د کوم يوه څه نښه احساس کوې او کوم ګونګسی او زګېروی ئې اورې.

د همدې اساسي مضامينو لپاره د پيغمبرانو عليهم السلام څو قصې پر له پسې او د دغو

مضامينو د تاريخي ښېلګو په توګه راوړل شوې دي او په هرې قصې کې دغه اساسي مضامين انځور شوي.

په لومړۍ قصې کې د زکريا عليه السلام هغه حالت بيان شوى چې زړښت ته رسېدلى، د خپل ولس د راتلونکې په اړه مشوش دئ، داسې څوك په نظر نه ورځي چې له ده وروسته د ولس سمه لارښوونه وکړي، د يوه صالح وارث هيله کوي، الله تعالى ته په ټيټ ږغ دعاء کوي، دعاء ئې قبلېږي او د صالح زوى زېرى ورکول کېږي، په دې قصې کې له يوې خوا موږ ته دا لارښوونه شوې چې د الله تعالى مقرب بندګان تر نورو زيات خپل رب ته ځان محتاج ګڼي او د خپلو هيلو ترسره کېدو لپاره هغه ته د دعاء لاسونه لوړوي او مرسته ترې غواړي، نه هغسې لکه چې مشرکين ګمان کوي او د الله تعالى مقرب بندګان د دعاګانو د منل کېدو او د حاجتونو د ترسره کېدو مرجع بولي، له بلې خوا راته وايي چې له الله تعالى پرته هيڅوك له غيبو خبر نه دئ، د زکريا عليه السلام په څېر ستر شخصيت نه پوهېدو چې زوى به ئې په برخه شي، نه پوهېدو چې څنګه او کله به ئې په برخه شي!!

په دوهمې قصې کې دغه مطالب د مريمې **صلى** په قصې او د عيسى عليه السلام د پيدايښت په قصې کې زموږ په وړاندې انځوروي او راته وايي: مريمې ته د فرشتو له لارې د زوى زېرى ورکړى شوى، په دې زېري حيرانه شوې، نه پوهېده چې څنګه به يوه پاك لمنه پېغله زوى زېږوي، ولې الله تعالى غواړي په خارق العاده توګه دې ته زوى ورکړي، کله به ئې دا زوى په برخه کېږي، د خلکو د تورونو په ځواب کې به څه وايي، پرېشانه شوې، دومره چې د مرګ هيله ئې کړې!! بيا د عيسى عليه السلام هغه وينا رااخلي چې له پيدايښت لږ وروسته او هغه مهال ئې خلکو ته کړې چې د مور په غېږ کې وو، لومړۍ خبره ئې دا چې زه د الله بنده يم!! او وروستۍ خبره ئې دا چې: الله تعالى هم زما دئ او هم ستاسو رب، نو يوازې د هغه عبادت وکړئ، همدا مستقيمه لار ده.

وروسته د ابراهيم عليه السلام قصه زموږ مخې ته ږدي او د سورې همدا اساسي مضامين په کې تمثيلوي. بيا د اسحاق، يعقوب، موسى، هارون، اسمعيل، او ادريس عليهم السلام يادونه شوې او همدا لړۍ د سورې تر پاى پورې غزېدلې او په پنځو آخري آيتونو کې دغه مطالب بيا په ايجاز او اختصار سره راغلي.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

كٓهيعٓصٓ ﴿١﴾ ذِكۡرُ رَحۡمَتِ رَبِّكَ عَبۡدَهُۥ زَكَرِيَّآ ﴿٢﴾ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيّٗا
﴿٣﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّي وَهَنَ ٱلۡعَظۡمُ مِنِّي وَٱشۡتَعَلَ ٱلرَّأۡسُ شَيۡبٗا وَلَمۡ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ
رَبِّ شَقِيّٗا ﴿٤﴾ وَإِنِّي خِفۡتُ ٱلۡمَوَٰلِيَ مِن وَرَآءِي وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا فَهَبۡ لِي مِن
لَّدُنكَ وَلِيّٗا ﴿٥﴾ يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنۡ ءَالِ يَعۡقُوبَۖ وَٱجۡعَلۡهُ رَبِّ رَضِيّٗا ﴿٦﴾

کاف، هاء، یاء، عین، صاد، ستا د رب د پېرزوینې یادونه ده پر خپل بنده زکریا، هغه مهال چې خپل رب ته ئې په ټیټ غږ غږ کړ، وئې ویل: اې زما ربه! هډوکې مې سست شول، سر مې له زړښت وځلېدو، او اې زما ربه! تا ته په دعاء کې بې بخته نه وم، او یقیناً چې زه له ځان وروسته د خپلو ورثه وو (پر حال) ووېرېدم، او مېرمن مې شنډه ده، نو ما ته له خپل لوري یو داسې وارث را په برخه کړه چې زما وارث هم شي او د یعقوب د ټبر وارث هم. او زما ربه! د رضایت وړ ئې کړه.

(۱-٦)- د دې مبارکو آیتونو په اړه دا خبرې په پام کې ولرئ.

- لکه څنګه چې دا مبارکه سوره په پنځو مقطعاتو حروفو (کاف، هاء، یاء، عین، صاد) پیل شوې؛ <u>د دې سورې محوري او اساسي مضامین هم پنځه دي چې د سورې په آخري پنځو آیتونو</u> کې په دې توګه راغلي:

۱ – څه چې په آسمانونو او زمکې کې دي له دې پرته بل څه نه دي چې رحمن رب ته د بنده په توګه وړاندې کېږي، او یقیناً چې پر ټولو ئې احاطه کړې او په ښو شمېرلو سره ئې شمېرلي.
۲ – او هر یو به د قیامت په ورځ یوازې یوازې ورشي.
۳ – یقیناً هغه چې ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به رحمن رب دوی ته (په زړونو کې) مینه او دوستي پیدا کړي.
٤ – نو هغه مو ستا پر ژبه آسان کړ چې متقیانو ته زېرى پرې ورکړې او سرټمبه وګړو ته خبرداری ورکړې.

٥- او څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) مو تر دوی وړاندې هلاك كړل، آيا د دوی د كوم يوه (څه نښه) احساسوې او كوم ګونګسی او زګېروی ئې اورې.

دغه مطالب لومړی د زكريا عليه السلام د قصې په ترڅ كې، بيا د مريمې عليها السلام په قصې كې او بيا د ابراهيم عليه السلام په قصې كې او وروسته په نورو قصو او تاريخي بېلګو كې راغلي، په لومړي سر كې د زكريا عليه السلام په اړه د الله تعالی د يوې پېرزوينې يادونه شوې، هغه مهال چې خپل رب ته ئې په ټيټ غږ دعاء وكړه او د يوه صالح وارث درلودو هيله ئې وكړه. په دې سره قرآن مؤمنانو ته دوه ستري ستري لارښووني كوي: ١- د زكريا عليه السلام په څېر د الله تعالی يو مقرب بنده او يو پيغمبر خپل حاجتونه الله تعالی ته وړاندې كوي او د هغه په درشل كې ئې د ترسره كېدو هيله او دعاء كوي، عجيبه ده چې څوك له الله تعالی پرته بل ته لاس اوږدوي او د الله تعالی مقرب بندګان د حاجتونو ترسره كولو مرجع بولي او مرسته ترې غواړي. ٢- ستاسو دعاء بايد د الله تعالی په وړاندې او په ټيټ غږ سره وي، همدا د دعاء ادب دئ.

زكريا عليه السلام د خپل رب په وړاندې خپله بې وسي او بې كسي په داسې الفاظو سره بيانوي چې د عجز، ناتوانۍ او نيازمنۍ انتهاء انځوروي، وئې ويل: اې زما ربه! هډوكي مې سست شول، سر مې له زړښت وځلېدو، او زما ربه! تا ته په دعاء كې بې بخته نه وم!! دا ښكلي او زړه راښكونكي الفاظ ښيي چې: ١- هرڅومره چې يو انسان خپل رب ته ورنږدې وي او ښه ئې پېژني همدومره د هغه په وړاندې د ده دعاء مؤدبانه، له عجز او انكسار سره توأم او د احتياج له ژور احساس راولاړه شوې وي. ٢- زكريا عليه السلام د اولاد هيله په داسې عمر كې كوي چې له ډېر زړښته ئې هډوكي سست شوي، د سر وېښتان ئې تك سپين شوي. ٣- وايي: زما ربه! تر دې دمخه دې تل زما دعاګانې قبولې كړې دي، زما دعاء دې پر زمكه نه ده غورزولې او زما لاس دې تش نه دئ پرېښی. او دا ښيي چې له بشپړ اعتماد او ډاډ سره ئې دعاء كړې، او په دې سره موږ ته لارښوونه شوې چې خپل رب ته د دعاء پر مهال له اميد سره دعاء كوئ او ډاډه اوسئ چې الله تعالی ستاسو دعاء قبلوي.

- زكريا عليه السلام د خپل ټبر او قوم راتلونكي پرېشان كړی، داسې څوك په نظر نه ورځي چې له ده وروسته د ولس صحيح لارښوونه وكړي، له دې وېره لري چې د ولس زعامت د ناصالح مشرانو په لاس كې پرېوځي، خپله اندېښنه په دغو الفاظو د الله تعالی په وړاندې ږدي: زه له ځان وروسته د خپلو ورڅه وو پر حال وېرېږم، مېرمن مې شنډه ده، نو ما ته له خپل لوري يو داسې وارث را په برخه كړه چې زما وارث هم شي او د يعقوب د ټبر وارث هم. او زما ربه! د رضايت وړ ئې كړه. د داسې وارث هيله كوي چې: هم د ده د خپل ټبر ښه وارث وي او هم د يعقوب عليه السلام د ټولو اولادونو، صالح وي او خدای او خلك ترې راضي وي. زكريا عليه السلام د يعقوب عليه السلام د اولاد له هغې پښې څخه وو چې لاويان نومېدل او د بايبل د وينا له مخې "د معبد ساتنه او پالنه د دوی دنده وه، ځان ته جامه ئې درلوده او د معبد په نامه قرباني، شكراني او نذراني به دوی ته سپارل كېدې. دوی د هارون عليه السلام اولاده بولي"، د قرآن له دې وينا معلومېږي چې زكريا عليه السلام له دغسې يوه حالته وېرېدو چې بايبل انځور كړی، بايبل دغه حالت ته مشروع مذهبي رنګ وركوي حال دا چې پيغمبران عليهم

السلام او د دوی دعوت په بشپړه توگه د دې مخالف دي، نه پيغمبران عليهم السلام دا غواړي او نه دين دا خوښوي چې مذهب د کومي فرقې په دکان بدل شي او د ولس صدقات او قرباني د مسکينانو پر ځای دوی ته ورکړی شي! بايبل ليکي: "لاويان د موسی عليه السلام قبيله ده، د بني اسرائيلو نورو قبيلو دوی د موسی عليه السلام د ځای ناستو په توگه منلي او د مذهبي مشرتابه دنده ئې د دوی موروثي حق گڼلی"!! او تاسو پوهېږئ چې دا هغه څه دي چې ټول جاهل قومونه ئې له خپلو سياسي، مذهبي او اجتماعي مشرانو سره کوي، هم د پاچا او ملك زوی د ده ځای ناستی گڼي، هم د قائد زوی او هم د پير زوی، ځای ناستی ئې د خپل پلار مقام او منزلت د اهليت او خپلو وړتياوو له مخې نه بلکې د وراثت له مخې ترلاسه کوي، نه يوازې کورنۍ ئې د امتيازاتو مستحق گڼي بلکې قبيله ئې هم د امتيازاتو وړ او تر نورو لوړه گڼي، که بني اسرائيلو دا د مذهبي مشرتابه امتياز لاويانو او د هارون عليه السلام اولاد ته ورکړ، په مسلمانانو کې يوې مذهبي فرقې دا امتياز ساداتو او د علي رضي الله عنه اولاد ته ورکړ، هغوی وايي: کاهن بايد د لاويانو له قبيلې څخه وي او دوی وايي مذهبي مرجع بايد له ساداتو څخه وي او امام د علي رضي الله عنه له اولاد څخه، هغوی هم خپلو مذهبي مشرانو ته ځانگړې جامه جوړه کړه چې له نورو توپير لري او دوی هم، هغوی هم صدقې لاويانو ته ورکوې او دوی ئې هم خپلو مراجعو ته!! دا په داسې حال کې چې د پيغمبر عليه السلام له رحلته وروسته د ده په لاس روزل شوو صحابه وو د ده د خپلوانو پر ځای د ده يو ډېر خوږ او نږدې ملگری، ابوبکر رضي الله عنه غوره کړ او د ابوبکر رضي الله عنه له وفاته وروسته ئې د ده د زوی يا نورو خپلوانو پر ځای د پيغمبر عليه السلام يو بل نږدې ملگری عمر رضي الله عنه انتخاب کړ او په دې توگه ئې وښوده چې د اسلام له نظره نه امارت او قيادت موروثي توکی دئ او نه داسې سپېڅلې او تر نورو غوره قبيله مني چې مذهبي مقام به د دوی تر منځ له پلاره زوی ته په ميراث رسي، د قيادت انتخاب ئې د خلکو دنده وگڼله او معنوي مقام ئې د انسان په عقيدې او عمل پورې مربوط وگاڼو او دې جاهلانه او ظالمانه دود دستور ته ئې لته ورکړه چې سياسي، مذهبي او معنوي مقام په موروثي توگه له يوه بل ته انتقال شي او يوه قبيله په دې دليل تر نورو غوره او سپېڅلې وگڼل شي چې لومړی قايد او زعيم په دوی کې راولاړ شوی!! پيغمبر عليه السلام په خپلې کورنۍ د صدقاتو او زکات اخيستل هم منع کړل او دا ئې د دوی لپاره حرام وگڼل او په دې توگه ئې په مسلمانانو کې د لاويانو په څېر د يوې ستانې قبيلې د راپيدا کېدو مخه ونيوله!!

بايبل د لاويانو په نامه يو مستقل باب او کتاب پرانيستی چې د دې کتاب لومړی برخه د قربانۍ ځرنگوالي ته ځانگړې شوې، په سر کې د سوزېدونکې قربانۍ په اړه بحث کوي او وايي چې د قربانۍ د څاروي کومې برخې بايد وسوزول شي، کومې ئې کاهن ته ورکړی شي، وينې ئې څنگه د قربانۍ د ځای په ستنو وشيندل شي، د دې بحث مطالب څو ځلې په بايبل کې تکرار شوي، د بايبل ليکونکي ته دا بحث ډېر په زړه پوري او مهم دئ، په دوه درې ځلې ئې زړه نه سړېږي، ورپسې د اوړو قرباني څېړي او ليکي چې د غلو دانو کومې برخې به څومره څومره او په څه بنې کې کاهن ته ورکوئ، بيا د سلامتۍ قرباني، د گناه قرباني او د جبران قرباني څېړي، د جبران قرباني هغې قرباني ته وايي چې د اشتباهاتو په عوض کې بايد وړاندې شي، د ټولو قربانيو يوه برخه سوزول کېږي او همدا د خدای برخه گڼي، خو دا برخه وازگې، کولمې او

دې ته ورته برخي دي، خو خوندوره برخه ئي چي سينه او ورنونه دي، دا د كاهن برخه ده او هغه ته به سپارل كېږي!! او كاهن به د دې په مقابل كي د خداى په وړاندي د ده شفاعت كوي او گناه به ئي بخښل كېږي!! ورپسې د دغو قربانيو عجيب عجيب مقررات بيانوي، د دې بحث ټولي خبري هومره بېهوده او د خندا وړ دي چي كه د لوستونكو د بې ځايه سرخوږي وېره راسره نه وى نو ما به له نقد پرته ټولي رانقل كړې وې.

يَٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ ٱسۡمُهُۥ يَحۡيَىٰ لَمۡ نَجۡعَل لَّهُۥ مِن قَبۡلُ سَمِيّٗا ﴿٧﴾ قَالَ رَبِّ
أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٞ وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا وَقَدۡ بَلَغۡتُ مِنَ ٱلۡكِبَرِ عِتِيّٗا ﴿٨﴾
قَالَ كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٞ وَقَدۡ خَلَقۡتُكَ مِن قَبۡلُ وَلَمۡ تَكُ شَيۡـٔٗا
﴿٩﴾ قَالَ رَبِّ ٱجۡعَل لِّيٓ ءَايَةٗۖ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَ لَيَالٖ سَوِيّٗا ﴿١٠﴾

اې زكريا! يقيناً چي موږ د يوه داسي بچي زېرى دركوو چي نوم به ئي يحيى وي، چي تر دې وړاندي مو ده ته همنومى نه دئ گرځولى. وئې ويل: اې زما ربه! څنگه به مي بچى په برخه كېږي حال دا چي مېرمن مي شنډه ده او زه د زړښت له وروستي پړاوه اوښتى يم. وئې ويل: همداسي به وي، ستا رب ويلي چي دا راته آسان (كار) دئ، او يقيناً چي ته مي تر دې وړاندي داسي پيدا كړې چي هيڅ څه نه وې. وئې ويل: زما ربه! يوه نښه (ئى) راته وټاكه، وئې ويل: نښه دي دا ده چي (هغه مهال به) بشپړي درې شپې له خلكو سره خبري نشي كولى.

(۷-۱۰)- د دې مباركو آيتونو د لارښوونو په اړه دا خبري په پام كي ولرئ:

- الله تعالى د زكريا عليه السلام دعاء قبوله كړه، د آل عمران د سورې په ۳۹ آيت كي راغلي چي د فرښتي له لاري په داسي حال كي د زوى زېرى وركړى شو چي په معبد كي په لمانځه بوخت وو، دلته د فرښتو له يادولو پرته ويل شوي چي موږ د يوه داسي بچي زېرى دركوو چي نوم به ئي يحيى وي، چي تر دې وړاندي مو ده ته همنومى نه دئ گرځولى. تر دې د مخه هيڅوك په دې نامه نه دئ نومول شوى.
- زكريا عليه السلام ته دا زېرى عجيب معلوم شو، او وئې ويل: اې زما ربه! څنگه به مي بچى په برخه كېږي حال دا چي مېرمن مي شنډه ده او زه د زړښت له وروستي پړاوه اوښتى يم. داسي معلومېږي چي زكريا عليه السلام د زوى طمعه نه لرله، بلكي د يوه صالح وارث درلودو هيله ئي كړې وه، د زوى د زېري په اورېدو سره حيران شوى، نه پوهېدو چي دا زيرى به څنگه ترسره كېږي. كه څه هم د آل عمران د سورې په ۳۸ آيت كي راغلي چي زكريا عليه السلام د نېك او پاك اولاد هيله او غوښتنه وكړه، (**هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ قَالَ رَب هَب لى مِن لَّدُنك**

ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سمِيعُ الدُّعَاءِ) او دا هيله هغه مهال د ده په زړه کې راولاړه شوه چې وئې ليدل مريمي عليها السلام ته بې موسمه مېوې راځي، خو دا چې آيا دا هيله د زوی درلودو هيله وه او که په خپل تېر او کورنۍ کې د مريمي په څېر د صالح اولاد او ذريه هيله!! د آيت له الفاظو داسي معلومېږي چې ده د پاك زړو ذريه طمع کړې، خو الله تعالی د زوی زېری ورکړی او دې زېري حيران کړی.

- الله تعالی وفرمايل: همداسې به وي، ته به د زوی خاوند شې، دا زېری به ترسره شي، فرشتې ورته ويلي: ستا رب وايي چې دا کار راته آسان دئ، آيا ته مې تر دې وړاندې په داسې حال کې پيدا نه کړې چې هيڅ څه نه وې. وئې ويل: زما ربه! يوه نښه (ئې) راته وټاکه، وئې ويل: نښه دي دا ده چې (هغه مهال به) بشپړې درې شپې (او ورځې) له خلکو سره خبرې نشې کولی. قرآن په دې سره موږ ته وايي: زکريا عليه السلام نه يوازې له غيبو خبر نه وو بلکې د غيب په اړه د ده حالت داسې وو چې د الله تعالی له لوري د زوی زېری ورکړی شوی خو دی نه پوهېږي چې دا زوی به ئې کله په برخه شي!! د يوې داسې نښې غوښتنه کوي چې د زوی د زېږېدو له نېټې ئې خبر کړي!! الله تعالی ورته وايي: هغه مهال به درې شپې ورځې له خلکو سره خبرې نشې کولی!! قرآن په ورپسې آيت کې وايي چې هغه مهال ده له خلکو سره په اشارو خبرې کولې!!
- يحيی عليه السلام د عيسی عليه السلام همزولی او تر ده لږ مشر وو، په ځوانۍ کې پر پيغمبرۍ مبعوث شوی وو، نصاراء هغه ته په ډېره درنه سترگه گوري، د بايبل دوه انجيلونه په دې عنوان پيل شوي: د يحيی پيغمبر ظهور، هم د مرقس انجيل له دغه ځايه پيل شوی، او هم د متی انجيل، د متی انجيل دا موضوع او الفاظ ئې له مرقس اقتباس کړي او تر دې سرليك لاندې ليکي: ... يحيی چې په (تعميد ورکوونکي) مشهور شوی وو، د يهودا په بېديا کې ئې خپل رسالت پيل کړ... ده به د اوښ له وړيو جوړه شوې جامه اغوسته او د څرمنې ملابند به ئې تاړو، خوراك ئې صحرايي شات او ملخان وو، ... خلك به ورته راتلل، د ده موعظو ته به ئې غوږ نيولو، په خپلو گناهونو به ئې اعتراف کاوو او د ده په لاس به ئې د تعميد غسل په برخه کېدو، ... خلکو ته به ئې ويل: زه هغو خلکو ته چې توبه وکړي په اوبو سره تعميد ورکوم، خو داسې څوك به راشي چې تر ما به ئې مقام ډېر لوړ وي، هومره چې زه به د ده په پښو ته دکېپو ايښودو وړتيا هم نه لرم، هغه به تاسو ته په روح القدس او الهي اور سره تعميد درکوي، هغه به پروړه له غنمو بېله کړي او په تلپاتي اور کې به ئې وسوزوي، خو غنم به په گودام کې غونډ کړي!! ... په دې وخت کې عيسی هم د تعميد لپاره يحيی ته راغی... مرقس دا نه وايي چې يحيی ورته وويل: دا مناسب کار نه دئ، زه بايد ستا په لاس تعميد شم، خو متی دا خبرې له ځانه اضافه کړې دي، همدا راز متی وايي: کله چې عيسی له اوبو راوتو نو يحيی يوه کوتره وليده چې له آسمانه راکوزه شوه او د عيسی پر سر کښېنسته او له آسمانه يو غږ واورېدی شو چې (دا زما گران زوی دئ چې ترې راضي يم) خو مرقس وايي چې عيسی په خپله دا کوتره وليده او دا غږ ئې واورېدو.

په دې اړه څو وضاحتونه ضروري برېښي:

۱ – بايبل د خپلو نورو انبياوو په څېر يحيی عليه السلام هم داسې معرفي کړی چې د اردن سيند شاوخوا په

كومي صحرا كي له خلكو لري اوسېدو، خو د قرآن د وينا له مخي معلومېږي چي د ده محترم والد زكريا عليه السلام په يوه معبد كي مدرس او استاد وو او د مريمي عليها السلام روزنه او تربيت د ده په لاس ترسره شوې!

٢ – قرآن د بايبل دا خبره تصحيح كړي چي وايي يحيى له آسمانه دا غږ واورېدو چي (دا زما گران زوی دئ چي ترې راضي يم)، وايي دا د زكريا عليه السلام دعاء وه چي د خپل وارث په اړه ئي كړې وه او ويلي ئي وو: زما ربه! د رضايت وړ ئي كړې.

٣ – قرآن د بايبل ادعاء ردوي او وايي: عيسى عليه السلام او يحيى عليه السلام همزولي وو، په يو ځای كي اوسېدل، د قرآن د وينا له مخي ده په عيسى عليه السلام ايمان راوړی، د ده په لاس د عيسى عليه السلام تعميد حقيقت نه لري.

٤ – بايبل څو صفحي وروسته ليكي چي يحيى له زندانه دوه سړي عيسى ته ولېږل چي ترې وپوښتي: آيا په رښتيا ته همغه موعود مسيح يې؟ پوښتنه دا ده چي ته خو دلته ادعا كوې چي يحيى دی وپېژندو، نه ئي غوښتل دی تعميد كړي، يوه كوتره ئي هم وليده چي له آسمانه راكوزه شوه، د عيسى پر سر كښېنسته، آسماني غږ ئي هم واورېدو چي دا زما همغه گران زوی دئ، نو بيا ئي له زندانه دوه سړي د څه لپاره ورلېږل؟! متأسفانه سره له دې چي بايبل له داسي تناقضاتو ډك دئ خو مسيحيان ئي د سپېڅلي كتاب په توگه مني!!

٥ – د بايبل دا الفاظ ډېر كچه او بې معنى دي چي عيسى عليه السلام به په روح القدس او اور خلكو ته تعميد وركوي!! د تعميد مفكوره له الهي اديانو سره قطعاً اړخ نه لگوي، پيغمبران عليهم السلام په اوبو كي د چا په منډلو سره هغه له گناه نه پاكوي، بلكي هغه ته وايي: توبه وكړه، له گناهونو لاس واخله او خپل رب ته مخه كړه.

٦ – بايبل دا ټوله جعلي قصه د دې لپاره جوړه كړه چي يوه بې بنسټه وړاندوينه رښتيني او د عيسى عليه السلام په اړه ثابته كړي، وړاندوينه دا ده: اشعيا نبي څو سوه كاله مخكي ويلي وو: له بېديا يو غږ اورم چي وايي: د خدای لپاره لار پرانېزئ او لار ورته آواره كړئ.

بايبل په بل ځای كي ليكي: "بيا عيسى د يحيى په هكله خلكو ته وويل: د يحيى شأن تر يوه پيغمبر هم لوړ دئ، تر ده په نړۍ كي ستر شخص نه دئ پيدا شوی، كه رښتيا خبره منئ نو يحيى همغه الياس پيغمبر دئ چي آسماني كتاب ئي د راتلو زېری وركوي!! خپل غوږونه خلاص كړئ او په غور سره واورئ چي څه درته وايم!!"، يحيى عليه السلام ته منسوب دا خبره هم د بايبل له مخكنيو خبرو سره تعارض لري او هم ئي قرآن ترديدوي، بايبل مخكي ليكلي وو چي يحيى عيسى ته د تعميد وركولو په جريان كي دی وپېژندو، د ده په هكله ئي آسماني غږ واورېدو چي ويل ئي: دا زما هغه زوی دئ چي ترې راضي يم او قرآن وايي چي يحيى عليه السلام له لومړۍ ورځي د عيسى عليه السلام مصدق او موئيد وو.

دوهمه خبره ئي چي وايي يحيى همغه الياس دئ چي سپېڅلي كتاب ئي وړاندوينه كړې، هم له بايبل سره تعارض لري او هم له قرآن سره، بايبل الياس عليه السلام هغه نبي گڼي چي تر عيسى عليه السلام څو پېړۍ مخكي تېر شوی او قرآن ئي هم بېل پيغمبر بولي.

بايبل تر دې عنوان لاندي (د هيروديس مضطرب وجدان) ليكي: هيروديس د خپلي مېرمني هيروديا د ټينگار په سبب يحيى زنداني كړ، دا ځكه چي يحيى ورته ويلي وو: د خپل ورور كونډه هيروديا په نكاح كول گناه او غلطي ده، مرقس وايي هيروديس يحيى ته احترام درلود او د يحيى په هكله ئي د خپلي مېرمني غوښتنه نه منله، خو متّى ليكلي: هيروديس هم غوښتل چي يحيى ووژني خو د خلكو له شورش او بغاوت وېرېدو، خو د ده د كليزي په جشن كي د هيروديا لور داسي رقص وكړ چي د هيروديس ډېر خوښ شو او لوړه ئي وكړه چي هر څه وغواړي وربه ئي كړي... دې د خپلي مور په وينا ورته وويل: د يحيى سر په يوه پطنوس كي غواړم... پاچا مجبور شو د هغي غوښتنه ئي ترسره او د يحيى د وژلو امر ئي وكړ او سر ئي په پطنوس

کي ورته راوړ!! د يحيی شاګردان راغلل، د هغه جسد ئې ترلاسه او دفن کړ او بيا عيسی ته راغلل او له پېښې ئې خبر کړ، کله چې عيسی له پېښې خبر شو، په کښتۍ کې کښېناست او يوازې په نامعلوم لوري وخوځېدو!!

په دې وينا کې څو داسې اعترافات ګورو چې د بايبل ډېرې خبرې ردوي: عيسی عليه السلام د يحيی له شهادت خبر نه وو، نورو خبر کړ او له خبرېدو وروسته د دې لپاره په کښتۍ کې سور او په مجهول لوري وخوځېدو چې ګمان ئې کړی ښايي دی به هم ونيول شي!! آيا داسې چا ته د خدای زوی ويل او وړاندوينې ورته منسوبول صريح تناقض نه دئ؟!! عيسی عليه السلام نه يوازې ونه توانېدو چې د يحيی مرسته وکړي، له مرګه ئې وژغوري، بېرته ئې راژوندی کړي، بلکې د ځان له وېرې پټ شو!! آيا خدای او د خدای زوی دومره بې وسه وي؟ موږ له دغو ټولو خبرو سره سره عيسی عليه السلام د الله تعالی يو ستر پيغمبر ګڼو!!

- د زکريا عليه السلام په دې قصې سره د شرك د خبيث او پليت بوټي دوه ګنده جرړي قطع شوې: دا چې له الله تعالی پرته بل ته علم غيب منسوبوي او دا چې د الله تعالی د مقربو بندګانو درشل د حاجتونو د ترسره کېدو مرجع ګڼي!! دا دئ ګورئ چې د زکريا عليه السلام په څېر ستر شخصيت، د يحيی عليه السلام پلار، د مريمې استاد او روزونکی، د بني اسرائيلو ستر مذهبي شخصيت؛ وارث له الله تعالی غواړي، د خپل رب په وړاندې په ټيټ ږغ او زاريو سره دعاء کوي، کله چې ئې دعاء قبلېږي او د زوی زېری ورکول کېږي نو نه پوهېږي چې دا زوی به ئې کله او څنګه په برخه کېږي، د داسې نښې او علامې غوښتنه کوي چې له مخې ئې پوه شي کله به دا هيله ترسره کېږي، نشي کولی په خپل قوم کې چا ته د برکت دعاء وکړي او په يوه نظر سره هغه ته روحاني مقام ورپه برخه کړي!! همغسې لکه په خرافاتو کې غرق متصوفين او د بايبل لاروړکي پلويان چې ګمان کوي!!

زکريا عليه السلام د الله يو پيغمبر دئ، د بل پيغمبر پلار، د مريمې عليها السلام استاد، له دې نه ئې د معنوي مقام اندازه معلومولئ شئ، خو هغه په دې نه پوهېدو چې زوی به ئې کله پيدا کېږي په داسې حال کې چې دا زېری د الله د ملائکو په واسطه ورکړی شوی وو، له الله ئې وغوښتل چې د پيدا کېدو د ورځو نښه او علامه ئې وروښيي. په دې سره ټولو هغو خلکو ته چې د پيغمبرانو او د الله د صالحو بندګانو په اړه دا ګمان کوي چې هغوی په غيب پوهېږي، ويل شوي چې دا ستره غلطي ده. د دوی په اړه دا انګېرنه چې الله تعالی په خپلې واکمنۍ کې له ځان سره شريك کړي، د ځينو چارو اختيارات ئې ورکړي، د خلکو حاجتونه ترسره کولی شي، لويه اشتباه ده. مګر نه ګورئ چې د زکريا عليه السلام په څېر ستر او عظيم شخصيت تر کلونو کلونو د اولاد په طمع وو، خپل حاجت ئې نه شو ترسره کولی، کله چې د الله له لوري د زوی زېری ورکړی شو، تلوسه ئې وه چې الله به څنګه او څه وخت زوی ورکوي، نښه او علامه ئې غوښته!! تاسو پوهېږئ چې همدا دوه غلط ګمانونه د هر شرکي مذهب بنسټ دئ، هم د بتانو لمانځنه له دې راولاړه شوې او هم د قبرونو.

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوۡمِهِۦ مِنَ ٱلۡمِحۡرَابِ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَيۡهِمۡ أَن سَبِّحُواْ بُكۡرَةً وَعَشِيًّا ﴿١١﴾

نو خپل قوم ته له معبده راووت او په اشارې سره ئې هغوی ته وویل: سبا او ماښام تسبیح وایئ.

(۱۱)- دا مبارك آیت وایي: هغه نېټه راورسېده، زکریا علیه السلام خبري نشوی کولی، نو خپل قوم ته له معبده راووت او په اشارې سره ئې هغوی ته وویل: سبا او ماښام تسبیح وایئ.

يَٰيَحْيَىٰ خُذِ ٱلْكِتَٰبَ بِقُوَّةٍ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْحُكْمَ صَبِيًّا ﴿١٢﴾ وَحَنَانًا مِّن لَّدُنَّا وَزَكَوٰةً ۖ وَكَانَ تَقِيًّا ﴿١٣﴾ وَبَرًّۢا بِوَٰلِدَيْهِ وَلَمْ يَكُن جَبَّارًا عَصِيًّا ﴿١٤﴾ وَسَلَٰمٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ﴿١٥﴾

اې یحیی! کتاب په مضبوطۍ سره ونیسه، او په وړکتوب کي مو حکمت ورپه برخه کړ، او زموږ له لوري د نرمښت او پاکیزگۍ خاوند، او متقي وو، او له خپل پلار او مور سره ښېگڼه کوونکی او ظالم او سرکښ نه وو، او پر ده دي هغه مهال سلام وي چي وزېږېدو او هغه ورځ چي مري او هغه مهال چي بیا به ژوندی راپاڅول شي.

(۱۲-۱۵)- په دې مبارکو آیتونو کي د یحیی علیه السلام څو داسي مواصفات بیان شوي چي نه یوازي د ده شخصیت زموږ په وړاندي انځوروي بلکي د هر پیغمبر ځانگړتیاوي او د رسالت خلاصه زموږ مخي ته ترسیموي:

- هغه ته ویل شوي وو چي د الله تعالی پر کتاب په مضبوطۍ سره منگولي ولگوي او عمل پرې وکړي.
- په وړکتوب کي حکمت، د صحیح پرېکړو استعداد او د سم قضاوت پوهه ورکړی شوې وه.
- مهربان، زړه سواند او د نرمښت خاوند وو.
- پاك لمنی او متقي وو.
- له خپل پلار او مور سره ښېگڼه کوونکی وو.
- ظالم او سرکښ نه وو.
- د زېږېدو په ورځ، د مړني په ورځ او د بیاژوندي کېدو په ورځ د الله تعالی له لوري د سلام وړ وو.

دې ته مو پام وي چي ځیني خلك د قرآن هغه الفاظ چي په مجازي معنی راغلي وي په حقیقي معنی نیسي، په دې سره هم په خپله د قرآن په سم پوهېدا کي اشتباه کوي او هم نورو ته شکوك او شبهات راولاړوي، د قرآن گڼ شمېر آیتونه داسي دي چي په هغوی کي د ځینو الفاظو یوازي مجازي معنی اخیستی شو. یوه بېلگه ئې دغه آیت دئ چي وایي: "يَٰيَحْيَىٰ خُذِ ٱلْكِتَٰبَ بِقُوَّةٍ ۖ" دلته د خذ الکتاب بقوة ظاهري معنی مراد نه ده، معنی

ئې دا نه ده چي اې يحيى! دا کتاب په دواړو لاسونو سره کلك ونيسه او په کلك نيولو کي ئې خپل ټول قوت وکاروه؟ بلکي معنى ئې دا ده چي دکتاب په حمل او پر هغه عمل کي خپل ټول توان او ځواك وکاروه، په ډاډه او مطمئن زړه ئې حمل او په پوره باور او قوت سره عمل ورباندي وکړه؟

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَرۡيَمَ إِذِ ٱنتَبَذَتۡ مِنۡ أَهۡلِهَا مَكَانٗا شَرۡقِيّٗا ﴿١٦﴾ فَٱتَّخَذَتۡ مِن
دُونِهِمۡ حِجَابٗا فَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرٗا سَوِيّٗا ﴿١٧﴾ قَالَتۡ إِنِّيٓ أَعُوذُ
بِٱلرَّحۡمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيّٗا ﴿١٨﴾ قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ لِأَهَبَ لَكِ غُلَٰمٗا
زَكِيّٗا ﴿١٩﴾ قَالَتۡ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٞ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞ وَلَمۡ أَكُ بَغِيّٗا ﴿٢٠﴾ قَالَ
كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٞۖ وَلِنَجۡعَلَهُۥٓ ءَايَةٗ لِّلنَّاسِ وَرَحۡمَةٗ مِّنَّاۚ وَكَانَ أَمۡرٗا
مَّقۡضِيّٗا ﴿٢١﴾

او په کتاب کي د مريمي د هغه مهال خبره ياده کړه چي له خپل ټبر شرقي لوري ته ګوښې شوه، نو پرده ئې د دوی مخي ته جوړه کړه، نو موږ خپل روح (جبرئيل) ورولېږو چي کټ مټ د يوه انسان په څېر ورڅرګند شو، وئې ويل: زه رحمن رب ته له تا پناه وړم که (له الله) وېرېدونکی يې. وئې ويل: زه ستا د رب استازی يم چي تا ته پاکيزه بچی درپه برخه کړم، وئې ويل: څنګه به مي بچی په برخه کېږي حال دا چي نه د کوم انسان لاس راباندي لګېدلی او نه بدکاره يم؟، وئې ويل: همداسي ده، ستا رب ويلي چي دا (کار) راته آسان دئ، او د دې لپاره چي خلکو ته ئې يوه نښه وګرځوو او زموږ له لوري يوه پېرزوينه، او دا ترسره کېدونکی کار دئ.

(١٦-٢١)- په دې مبارکو آيتونو کي دغه لارښووني زموږ مخي ته ځلېږي:

• دلته د سورې د محوري مضامينو لپاره يوه بله تاريخي بېلګه وړاندي شوې، د مريمي او عيسى عليهما السلام د قصې يوه برخه راغلې، هغه برخه ئې چي مريمه عليها السلام د هغه معبد په شرقي برخي کي مېشت شوه چي مشري ئې د زکريا عليه السلام په لاس کي وه، تر څان ئې داسي د دېوال پرده تاو کړه چي د خلکو له نظره پټه په زده کړي او د خپل رب په عبادت بوخته وي، د دې تفصيل د آل عمران په سورې کي راغلی، هلته ويل شوي چي د مريمي مور هغه د الله تعالى په لار کي وقف کړې وه، په معبد کي د زکريا عليه السلام تر روزني لاندي نيول شوې، زکريا عليه السلام ئې نږدې خپل وو، د معبد په محراب کي مېشت شوې، محراب د معبد د هغو خونو نوم وو چي عبادت کوونکي به په کي مېشت کېدل. هملته د فرشتو يو ټولګی ورته راغلی او د

زوی زېری ئې ورکړی، دلته ویل شوي چي خپله روح (جبرئیل) مو ورولېږ.و چي کټ مټ د یوه انسان په څېر ورڅرګند شو، د دې معنی دا ده چي جبرئیل علیه السلام د یوې ډلي فرشتو په ګډون د دې خوا ته ورغلی او دا زېری ئې وراورولی، مریمي د انسان ګمان پرې وکړ او وئې ویل: زه رحمن رب ته له تا پناه وړم که له الله وېرېدونکی یې. جبرئیل علیه السلام وویل: زه ستا د رب استازی یم چي تا ته پاکیزه بچی درپه برخه کړم، وئې ویل: څنګه به مي بچی په برخه کېږي حال دا چي نه د کوم انسان لاس راباندي لګېدلی او نه بدکاره یم؟، وئې ویل: همداسي ده، ستا رب ویلي چي دا کار راته آسان دئ او دا د دې لپاره چي الله تعالی غواړي له پلار پرته د عیسی علیه السلام د فوق العاده پیدایښت د خلکو لپاره یوه داسي لارښوونکې نښه وګرځوي چي له مړني وروسته بیاژوندون ورته ثابت کړي، او د هغو خلکو پوښتنه ځواب کړي چي وایي: څنګه به انسان بیاراژوندی کېږي؟!! ځواب ئې دا دئ: همداسي لکه چي عیسی علیه السلام ئې له پلار پرته پیدا کړ، د ده نطفه ئې د مور په رحم کي له خاورې جوړه کړه، همداسي لکه آدم علیه السلام چي ئې له خاورې پیدا کړ. او دا د دې لپاره چي الله تعالی غواړي د عیسی علیه السلام په دې خارق العاده پیدایښت او د پیغمبر په توګه د هغه په بعثت سره پر خلکو پېرزوینه وکړي او د شرك او کفر له تیارو ئې وباسي. جبرئیل علیه السلام وویل: دا ترسره کېدونکی کار دئ، الله تعالی د دې پرېکړه کړې ده چي عیسی علیه السلام به همداسي له پلار پرته پیدا کېږي.

د آیت له دې فقرې (فتمثل لها بشراً سویاً) معلومېږي چي کله فرشته انسان ته راځي نو په هغه صورت کي ئې لیدلی او په خبرو ئې پوهېدلی شي چي د انسان په بڼې کي ورته مجسم شي، دا ځکه چي الله تعالی د انسان سترګي داسي جوړې کړې چي یوازې مادي شیان او هغه هم داسي چي ډېر واړه نه وي لیدلی شي، غیر مادي اشیاء لکه فرشته، پېری، مقناطیسي ساحه، انرژي، نور، جاذبه قوه او دې ته ورته نور لطیف شیان نشي لیدلی، فرشتې له نور پیدا شوې او پېریان د اور له بې دوده شعلې، نو ځکه دواړه نه لیدل کېږي، فرشتې د الله تعالی په حکم او إذن سره او د یوه خارق العاده کار په توګه د انسان په بڼې کي مجسم شوې او انسانانو ته لېږل شوې، او په دې حالت کي لیدل شوې، خو پېریان نشي کولی د بل مخلوق بڼه غوره کړي، هیڅ مخلوق نشي کولی خپل فطرت بدل کړي او د بل مخلوق بڼه غوره کړي، نو ځکه انسان ته د پېریانو لیدل محال دي. هغه خلك چي ګمان کوي پېریان کولی شي خپله بڼه بدله کړي او انسان ته ځان وښیي؛ اشتباه کوي، قرآن د پېریانو لپاره د جن نوم غوره کړی، جن هغه څه ته ویل کېږي چي د انسان له سترګو پټ وي او نه لیدل کېږي، امام المفسرین طبري لیکي: وكل ما توارى عن أبصار الناس، فإن العرب تقول فيه:"قد جَنّ"، و"الجن" من ذلك لأنهم استجنُّوا عن أعين بني آدم فلا يرون. هر هغه څه چي د خلکو له سترګو پټ وي نو عرب د هغه په اړه وایي: "قد جَنّ"، او جن (پېری) له همدې څخه دئ، د دې لپاره چي هغوی د انسانانو له سترګو پټ شوي او نه لیدل کېږي.

- که د قرآن نور آیتونه هم په پام کي ولرو نو د دې قصې تفصیلات داسي دي: د مریمي مور؛ د عمران مېرمن حامله وه، له الله سره ئې وعده وکړه چي خپل بچی به د ده په لار کي وقف کوي، انتظار ئې دا وو چي الله تعالی به زوی ورکړي او هغه به د الله د دین خدمت ته وړاندي کوي، خو الله تعالی ورته لور ورکړه، وئې ویل: زما ربه! دا خو لور ده، ما خو د زوی طمع وه، نارینه خو د ښځي په څېر نه وي، هغه محدودیتونه ئې نه وي چي ښځه عادتاً ورسره مخامخ وي، ما ئې نوم مریم (دالله بنده او خدائي خدمتګاره) کېښود، زه ئې تا ته سپارم، دا او اولاد ئې له رټلي شیطانه په خپل حفظ او امان کي وساته، کله چي د کار کولو او څه زده کولو عمر ته رسېدلې مور ئې هغه معبد ته لېږلې، الله تعالی د دې همدا نذر قبول کړ، د مریمي د ښې روزني انتظام ئې وکړ، دا ئې د زکریا علیه السلام تر روزني او کفالت لاندي ورکړه، په محراب نومي خوني کي مېشت شوه، دلته به د الله تعالی له لوري هغې ته کله کله بې موسمه مېوې راتلې، کله چي به د روزني په دوران کي زکریا علیه السلام د دې

هستوګنځي ته ورغی نو د مریمي خوا ته به ئي بې موسمه مېوې ولیدې، له هغې ئي پوښتنه وکړه چي دا له کومه راځي، مریمي ځواب ورکړ: دا د الله له لوري ده، الله چي چا ته وغواړي له حسابه پرته روزي ورکوي، زه د داسي رزق مستحقه نه یم، دا د الله پېرزوینه ده، زما د کومي ځانګړتیا له مخي ئي نه راکوي، له محاسبې پرته ئي راکوي. یوه ورځ په داسي حال کي چي همدلته په محراب کي وه، یوه فرشته د سړي په شکل کي ورته راڅرګنده شوه، هغې ورته وویل: زما خوا ته مه راځه، زه رحمان خدای ته له تا پناه وړم، فرشتې ورته وویل: زه د الله تعالی له لوري لېږل شوې یم چي تا ته هغه زوی درپه برخه کړم چي د الله د یوې کلمې (امر او حکم) په وجه به پیدا کېږي، نوم به ئي مسیح عیسی د مریمي زوی وي، هغې وویل: اې زما ربه! زه به څنګه اولاد زېږوم حال دا چي د هیڅ انسان لاس راباندي نه دئ لګېدلی؟! په ځواب کي ورته وویل شو: ستا رب چي د کوم څه د پیدا کولو اراده وکړي نو یوازي دا کافي ده چي ووایي: وشه او هغه له ځنډه پرته وشي، ستا زوی به په وړکتوب او زړښت کي خبري کولی شي، په انجیل او تورات به پوهېږي، پیس او له موره ړوند پیدا شوی به د الله تعالی په إذن روغولی شي، مړی به په دعاء سره ژوندی کولی شي، خلکو ته به دا ویلی شي چي نن به ئي کوم خوراك په برخه کېږي او سبا ته به څه ذخیره کوي.

راشئ وګورو چي بایبل په دې اړه څه ویلي: بایبل وایي: یو ځل چي زکریا د خدای په کور کي په خدمت بوخت وو، ناڅاپه یوه فرشته ورته راڅرګنده شوه... زکریا د فرشتې په لیدو سره حیران شو او ووېرېدو، فرشتې ورته وویل: اې زکریا! مه وېرېږه، زه راغلی یم چي زېری درکړم، خدای ستا دعاء اورېدلې، الیزابت به زوی وزېږوي او ته به ئي یحیی ونوموې، ... هغه به د خدای په وړاندي یو ستر شخصیت وي، هیڅکله باید شراب او مستوونکي څښاك ونه څښي، دا ځکه چي له زېږېدو د مخه به له روح القدس ډك وي... تر مسیح به مخکي راشي، چي خلك د ده ظهور ته چمتو کړي... زکریا وویل: دا کار خو ممکن نه دئ، ځکه چي زه زوړ شوی یم او مېرمن مي عمر خوړلې ده، فرشتې ځواب ورکړ: زه جبرئیل یم... راغلم چي تا ته دا زېری درکړم، له دې کبله چي زما په خبري دې باور ونه کړ نو تر هغه به د خبرو کولو توان نه لرې چي زوی دې پیدا شي... خلك بهر منتظر وو چي زکریا راووځي، حیران وو چي ولې دومره ځنډ کوي، کله چي راووت او وئې لیدل چي خبري نه شي کولی، د ده له اشارو پوه شول چي په سپېڅلي ځای کي ئي کومه رؤیا لیدلې!! ... الیزابت امېدواره شوه... په شپږمه میاشت خدای جبرئیل په جلیل کي د ناصره ښار ته ولېږو چي د ده وحې هغې پېغلې ته ورسوي چي مریم نومېده، مریم د یوسف په نامه یوه کس ته چي د داؤد له نسله څخه وو، کوژده شوې وه خو واده ئي لا نه وو تر سره شوی، جبرئیل ورته وویل: سلام پر تا اې پېغلې! چي د خدای لطف دې په برخه شوی، خدای له تا سره دئ!! مریمه ډېره پرېشانه او ووېرېده، نه پوهېده چي د فرشتې مقصد له دې خبري څخه څه دئ! فرشتې ورته وویل: اې مریمې! مه وېرېږه، ... ډېر ژر به حامله شې، زوی به وزېږوې، نوم به ئي عیسی کېږدې، هغه به ستر شخصیت وي، د خدای زوی به ورته ویل کېږي او خدای به د ده د جد داؤد د پاچایي تخت ده ته ورکړي چي د تل لپاره پر اسرائیلیانو حکومت وکړي، د ده سلطنت به هیڅکله پای نه مومي!! مریمي له فرشتې وپوښتل: دا کار څنګه ممکن دئ، تر اوسه د هیڅ انسان لاس راباندي نه دئ لګېدلی، فرشتې ځواب ورکړ: روح القدس به پر تا نازله شي او د خدای قدرت به پرتا سیوری وغوړوي!!... یوه شه چي ستا خپلوانه الیزابت هم شپږ میاشتي مخکي حامله شوې او ژر به زوی وزېږوي، ... خدای ته هیڅ کار محال نه دئ. مریمي وویل: زه د خدای خدمتګاره یم، څه چي د ده خوښه وي په اخلاص سره به ئي کوم، هیله منه یم هغه څه وشي چي تا وویل. څو ورځي وروسته مریمي

د سفر بند و بست وکړ، الیزابت ته ورغله... د دې په لیدو سره د الیزابت په رحم کې بچی وخوځېدو او الیزابت له روح القدسه ډکه شوه او وئې ویل: خدای تر ټولو نورو ښځو زیاته پېرزوینه په تا کړې، ستا زوی به هم د خلکو لپاره د برکتونو باعث وي، څومره د افتخار ځای دئ چې زما د بادار مور زما لیدو ته راغلې... مریمه نږدې درې میاشتې د الیزابت خوا ته پاته شوه، بیا خپل کور ته ستنه شوه. الیزابت زوی وزېږاوو، د مبارکۍ لپاره راغلو ښځو ورته وویل چې د خپل پلار نوم پرې کېږده، خو دې ونه منله او یحیی ئې ونوماوو، دوی ورته وویل: ستا په کورنۍ کې دا نوم سابقه نه لري، بیا ئې په اشارو اشارو له زکریا وپوښتل چې څه نوم ورته غوره کوې، هغه د ټولو په وړاندې په یوې دړې ولیکل: نوم ئې یحیی دئ!! په همدې وخت کې ئې ژبه خلاصه شوه او د خبرو کولو قدرت ئې ترلاسه کړ او د خدای شکر ئې په ځای کړ.

دلته ستاسو پام څو خبرو ته رااړوم:

- د قرآن د وینا له مخې عیسی علیه السلام په هغه ځای کې زیږېدلی چې مور، د ده کورنۍ او قوم ئې په کې اوسېدل او دا د بایبل ادعا ردوي چې مریمه له خپل ټاټوبي بیت لحم ته تللې او عیسی هلته زیږېدلی، بایبل دا خبره د دې لپاره کوي چې د مسیح د زیږېدو د ځای په اړه د دوی د سپېڅلي کتاب وړاندوینه ربښتینې کړي. همدا راز د قرآن د وینا له مخې زکریا علیه السلام فرشتې ته وویل: د دې نښه به څه وي چې الله تعالی به ما ته زوی راکوي؟ هغې ورته وویل: د یحیی (علیه السلام) د پیدایښت په مهال به درې ورځې له چا سره خبرې نه شې کولی او دا د بایبل ادعا ردوي چې وایي: زکریا ته په دې سبب دا سزا ورکړی شوه چې د فرشتې په خبرې ئې باور ونه کړ نو ځکه ئې له همدې ورځې د یحیی تر زیږېدو پورې خبرې نه شوی کولی، دا خبره په دې خاطر غلطه ده چې زکریا خو جبرئیل نه وو پېژندلی، ولې به ئې د خپلې پوښتنې په سبب مجازاتوي؟ دی څه خبر وو چې دا جبرائیل دئ؟)

فَحَمَلَتْهُ فَٱنتَبَذَتْ بِهِۦ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿٢٢﴾

نو (پر خپل ماشوم) امیدواره شوه او لرې ځای ته ورسره لاړه.

(۲۲)- دا مبارک آیت وایي چې مریمه صلی حامله شوه، نو له همدې کبله د امیدوارۍ حالت کې لرې ځای ته ولاړه، قرآن د دې مزید وضاحت نه کوي چې دا لرې ځای کوم ځای وو او تر زیږون څو ورځې مخکې تللې؟ طبیعي ده چې کله د مریمې رحم کې د حمل آثار راڅرګند شوي نو هغې ته په معبد کې پاته کېدا ګرانه وه، باید څه موده بل ځای ته تللې وي، بایبل داسې څه ویلي چې قطعاً د منلو وړ نه دي، بایبل وایي چې مریمې مېږه درلود، یوسف نومېدو، عیسی (علیه السلام) د دوی لومړی زوی وو، د ده د تولد په ورځو کې بیت لحم ته ولاړل... لوقا تر دې سرلیك (د عیسی تولد) لاندې لیکي: ... یوسف له مریمې سره یو ځای له جلیل ښځه بیت لحم ته لاړ، د مریمې د وضع حمل نېټه راورسېده، لومړی زوی ئې وزېږاوو، په یوې جامې کې ئې ونغاښتو، ښه ئې پټ کړ او د څارویو په آخور کې ئې کېښود، دا ځکه چې د هغه ځای په مېلمستون کې د دوی لپاره ځای نه وو!! د هغه ښار په ښېدیا کې ځینې شپانه وو چې خپلې رمې ئې پېولې، په دې شپه ناڅاپي یوه فرشته د دوی خوا ته راڅرګنده شوه او د خدای د جلال نور پر دوی سیورې وغوړاوو او ووېرېدل، خو فرشتې ورته وویل: مه وېرېږئ زه تاسو ته یو زېرې لرم، ټولو خلکو ته زېرې او هغه دا چې همدا نن مسیح، ستاسو بادار او ژغورونکی،

د داؤد په ښار کي وزېږېدو، زما د خبري د رښتياوالي نښه دا ده چي داسي ماشوم به وګورئ چي په جامه کي پېچل شوی او په آخور کي ئې څملولی. ناڅاپه ډېري نوري فرشتې له دغي سره يوځای شوې او د خدای ستاينه ئې کوله... کله چي فرشتې آسمان ته ولاړې، شپنو وويل: راځئ چي بيت لحم ته ولاړ شو او دا عجيبه پېښه په خپلو سترګو وګورو!!... دوی هلته ولاړل، مريم، يوسف او ماشوم ئې وليدل او ټولو خلکو ته ئې دا قصه وکړه، (بايبل دا نه وايي چي دا شپانه څنګه مخامخ د دوی د اوسېدو ځای ته ورغلل؟ فرشتې خو نه ځای ورښودلی وو او نه ئې مور او پلار)، هر چا چي به دا خبري اورېدې نو حيران به شو، مريمي هم دا ټولي خبري اورېدې او خپل زړه ته ئې تېرولې او په دې اړه به ئې فکر کاوو!! ... په اتمه ورځ ئې ختنه کړ او عيسی ئې ونوماوو، ... کله چي د ده والدينو، يوسف او مريمي، دی د خدای کور ته راوست چي د شريعت مطابق ئې د خدای کور ته وقف کړي، ځکه د شريعت د حکم له مخي د هري د کورنۍ مشر زوی بايد د خدای کور ته وقف شوی وی، هلته يو کس چي شمعون نومېدو او روح القدس ورته ويلي وو چي د خدای کور ته ولاړ شه او مسيح وګوره، ... ماشوم ئې په غېږ کي ونيولو او وئې ويل: خدايه! اوس کولی شم په ډاډه زړه له دنيا ولاړ شم!! ؛ هغه ژغورونکی چي نړۍ ته دې بخښلی ما په خپلو سترګو وليد، ... يوسف او مريم هك پك او حيران ورته کتل... شمعون دعاء ورته وکړه او وئې ويل: انديښني او غمونه به ستا زړه د توري په څېر زخمي کړي ځکه ډېر اسرائيليان به دې ونه مني او په دې سره به خپل ځانونه هلاك کړي!!... کله چي شمعون له دوی سره خبري کولې، د آنا په نوم يوه کونډه ښځه چي تل د خدای په کور کي اوسېده، د دوی خوا ته راغله، د خدای شکر ئې په ځای کړ او د اورشليم ټولو خلکو ته ئې خبر ورکړ چي موعود مسيح زېږېدلی!! له دې وروسته يوسف او مريم خپل ښار جليل ته ستانه شول، هلته عيسی ستر شو!!

دا قصه په متی او مرقس کي نه ده راغلي، د دې په ځای هلته ويل شوي چي له لري ختيځ نه څو نجوميان د مسيح د ليدو لپاره راغلل، دوی د نجوم له مخي پوه شوي وو چي اوس مسيح په بيت لحم کي پيدا شوی!! خو دلته ويل شوي چي شپنو فرشتې وليدې او د مسيح د زېږېدو زيری ئې ورکړ، دغه تناقض او ګډې وډې خبري کافي دي چي ووايو: دا قصې ټولي له ځانه جوړي شوې، نه مريمه مېړوښه وه، نه مسيح په بيت لحم کي زېږېدلی، نه فرشتو د هغه ځای نوم ورکړ او مجهولو شپنو ته زيری ورکړی او نه ناپېژاندو نجوميانو د نجوم په خرافي علم سره د هغه له زېږېدو خبر شوي او د ده ليدو ته راغلي، عيسی عليه السلام په خپلي سيمي کي، له پلار پرته، له هغي مريمي زېږېدلی چي پېغله وه، نه مېړوښه، په ماشومتوب کي ئې خبري کړې.

ګورئ چي د قرآن او بايبل د ويناوو ترمنځ څومره ژور توپيرونه شته، بايبل د عيسی عليه السلام پيدايښت د يوه داسي عادي انسان پيدايښت ته ورته ګڼي چي په کورنۍ، کلي او سيمه کي ئې هيڅا د اهميت په سترګه نه دي ورته کتلي، خاص توپير ئې نه دئ ترسترګو شوی، ډېره موده وروسته له نامعلوم مشرق څخه، نامعلوم شمېر مجوسان راغلي، دی ئې ليدلی او سجده ئې ورته کړې!! دا نه وايي چي مريمه څوك او د څنګه شخصيت خاونده وه، د عيسی عليه السلام ماشومتوب څنګه پيل شوی، د ده په معجزاتو کي دا نه رااخلي چي په وړکتوب کي او د

پيدايښت په لومړيو ورځو کې ئې هغه ستري ستري خبري کړې دي چې د يوه پيغمبر د ټول دعوت خلاصه په کې راغلې، د هغه لومړی خبره دا وه چې زه د خدای بنده او د هغه پيغمبر يم، آيا د انسان عقل دا خبره مني چې په مشرق کې څوك د يوه (عجيب) زوی له پيدا کېدو خبر شي خو د ده کورنۍ او کلی هغه يو (عجيب) ماشوم ونه مومي؟!! او له نورو سره ئې هيڅ توپير ترسترګو نه شي؟! دا په داسې حال کې چې مسيحيان دا ماشوم د خدای زوی ګڼي او پيدايښت ئې هم خارق العاده!! خو مسلمانان د قرآن د لارښوونو په رڼا کې سره له دې چې عيسى عليه السلام ته دومره ستري ستري معجزې ثابتوي چې ډېري ئې د مسيحيانو په مذهبي کتابونو کې نه تر سترګو کېږي، خو عيسى عليه السلام يو انسان او د نورو پيغمبرانو په څېر يو پيغمبر ګڼي!!

فَأَجَآءَهَا ٱلۡمَخَاضُ إِلَىٰ جِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ قَالَتۡ يَٰلَيۡتَنِي مِتُّ قَبۡلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسۡيٗا
مَّنسِيّٗا ﴿٢٣﴾ فَنَادَىٰهَا مِن تَحۡتِهَآ أَلَّا تَحۡزَنِي قَدۡ جَعَلَ رَبُّكِ تَحۡتَكِ سَرِيّٗا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّيٓ
إِلَيۡكِ بِجِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ تُسَٰقِطۡ عَلَيۡكِ رُطَبٗا جَنِيّٗا ﴿٢٥﴾ فَكُلِي وَٱشۡرَبِي وَقَرِّي عَيۡنٗاۖ
فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ ٱلۡبَشَرِ أَحَدٗا فَقُولِيٓ إِنِّي نَذَرۡتُ لِلرَّحۡمَٰنِ صَوۡمٗا فَلَنۡ أُكَلِّمَ ٱلۡيَوۡمَ
إِنسِيّٗا ﴿٢٦﴾

نو د زېږون درد د خرما د ونې ستي ته بوتله، وئې ويل: کاش تر دې وړاندې مړه شوې وی او هېره شوې خاطره وی، نو له لاندې ئې پرې غږ کړ چې مه غمجنه کېږه، يقيناً چې ستا رب تر تا لاندې لښتې جوړ کړی، او د خرما ستڼه وخوزوه چې تازه پخې کجورې دربانديې توی کړي، نو وخوره، وڅښه او خپلې سترګې سړې کړه، او که د انسانانو څخه کوم يو وګورې ووايه: ما رحمن رب ته د روژې نذر کړی، نو نن په هيڅ توګه له هيڅ انسان سره خبري نه کوم،

(٢٣-٢٦)- د دې مبارکو آيتونو خلاصه مطالب دا دي:

- د زېږون شيبه رانږدې شوې، د زېږون درد د خرما د ونې ستي ته بېولې، د قرآن له دې وينا معلومېږي چې مريمه کوم ګڼ ځنګله ته تللې، نه هغسې لکه چې بايبل وايي کوم مېلمستون ته!!
- د همدې ستي ښېخ کې ئې زوی زېږولی، له سختې آزموينې سره مخامخ شوې، نه پوهېده چې په کوم مخ به له خلکو سره مخامخ کېږي، څه به ورته وايي، د تورونو ځواب به څنګه ورکوي، دا سپکاوی به څنګه زغمي چې خلك به د دې په اړه وايي: د معبد يوې خدايي خدمتګارې پيغلې زوی زېږولی؟!! دغو سختو اندېښنو داسې پرېشانه کړې وه چې له خولې ئې دا وينا ووته: کاش تر دې وړاندې مړه شوې وی او هېره شوې خاطره وی.

● د همدې سخت غم او اندېښنې په حال کې له لاندې پرې ږغ شوی: مه غمجنه کېږه، يقيناً چې ستا رب تر تا لاندې لښتې جوړ کړی، او د خرما ستنه وخوزوه چې تازه پخې کجورې دربانديې توی کړي، نو وخوره، وڅښه او خپلې سترګې سړې کړه، او که د انسانانو څخه کوم يو وګورې ووايه: ما رحمن رب ته د روژې نذر کړی، نو نن په هيڅ توګه له هيڅ انسان سره خبرې نه کوم. دا ږغ د چا له لورې وو؟ د فرشتې که د خپل زوی عيسى عليه السلام له لورې؟ د آيت له دغو الفاظو: نو وخوره، وڅښه او خپلې سترګې سړې کړه، معلومېږي چې دا د فرشتې ږغ وو، د فرشتې لخوا ورته ويل شوي چې اندېښنه مه کوه، دا ځ رب دې ستا تر پښو لاندې چينه راخوټولې، که وږې شوې ونه وخوزوه تازه خرما به درته راتوی شي، د زوی په ليدو به دې سترګې سړې شي، که کوم انسان دې تر سترګو شو او د زوی په اړه ئې پوښتنه کوله ورته ووايه: ما نن روژه نيولې ده، نن له هيڅ انسان سره خبرې نه کوم، خپل زوی ته اشاره کوه هغه به ځواب ورکوي.

فَأَتَتۡ بِهِۦ قَوۡمَهَا تَحۡمِلُهُۥۖ قَالُواْ يَٰمَرۡيَمُ لَقَدۡ جِئۡتِ شَيۡـٔٗا فَرِيّٗا ﴿٢٧﴾ يَٰٓأُخۡتَ هَٰرُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ ٱمۡرَأَ سَوۡءٖ وَمَا كَانَتۡ أُمُّكِ بَغِيّٗا ﴿٢٨﴾ فَأَشَارَتۡ إِلَيۡهِۖ قَالُواْ كَيۡفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِي ٱلۡمَهۡدِ صَبِيّٗا ﴿٢٩﴾

نو په داسې حال کې ئې خپل قوم ته ورروړ چې پورته کړی ئې وو، (په خپلې غېږ کې)، وئې ويل: اې مريمې! يقيناً چې ډېر بدغونی (له چټې وتلی) کار دې کړی، اې د هارون خورې! نه دې پلار بد سړی وو او نه دې مور بد لمنه وه، نو هغه ته ئې ګوته ونيوله، (خلکو) وويل: څنګه له هغه چا سره خبرې وکړو چې د زانګو ماشوم وي؟!

(۲۷-۲۹)- د دې مبارکو آيتونو خلاصه مطالب دا دي:

● مريمه صلى په داسې حال کې د خپل کور په لور خوزېدلې چې خپل زوی ئې په غېږ کې وو، کلې ته رسېدلې، له خپل قوم سره مخامخ شوې، خلك پرې راغونډ شوي، پوښتنه ئې ترې کړې چې چېرې تللې وې او دا ماشوم د چا دئ!! هغه چوپه خوله ده او د هر يوه اعتراض او پوښتنه اورې، له هر لورې ورته ويل کېږي: اې مريمې! يقيناً چې ډېر بدغونی او له چټې وتلی کار دې کړی، اې د هارون خورې! نه دې پلار بد سړی وو او نه دې مور بدکاره وه، د هارون په کورنۍ کې خو داسې کرکجن کار هيڅ نه وو کړی، ټول قوم ته دې لوی سپکاوی واړاوو، ولې دې له کوره د تښتېدو لار ونيوله او اوس له بچي سره کلي ته راوګرځېدې!! هغې خپل بچي ته ګوته نيولې چې له ده وپوښتئ!! خلکو ورته ويلي: څنګه له هغه چا سره خبرې وکړو چې د زانګو ماشوم دئ؟!

● الله تعالى همدا غوښتل چې ډېر خلك راغونډ شي او د مريمې صلى په غېږ کې د يوه داسې ماشوم خبرې واورې چې نوی او بې پلاره پيدا شوی!! خو داسې ستري ستري خبري چې د پيغمبرانو عليهم السلام د دعوت ټولې اساسي خبرې په کې راخلاصه شوې.

● دې ته مو پام وي چې مريمه په دې نامه يادول چې د هارون خورې! ځينو داسې انګېرلې چې ښايي دې به د هارون په نامه کوم ورور درلودو، او ځينو ويلي چې دا په مخکنيو قومونو کې معمول وه چې د يوه تېر غړي به ئې د خپل جد د ورور په نامه يادولو، لکه اخوان لوط، اخا مُضَر، اخا همدان، دلته د اخت هارون معنى همدا ده، يعني مريم خپل جد هارون عليه السلام ته منسوب شوې، د قرآن له وينا معلومېږي چې دغه دوهم تعبير دقيق دئ، ځکه مريمه د خپلې مور لومړنی لور وه، د بني اسرائيلو مذهبي کورنيو به لومړی زوی د معبد د خدمت

لپاره وقف كولو، د مريمي مور همدا نذر اېښى وو، طمعه ئې دا وه چي الله تعالى به زوى ورپه برخه كړي، خو لور ئې په برخه شوه، نودا تعبير دقيق نه برېښي چي د هارون په نامه ئې كوم ورور درلود.

قَالَ إِنِّي عَبۡدُ ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِيَ ٱلۡكِتَٰبَ وَجَعَلَنِي نَبِيّٗا ﴿٣٠﴾ وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيۡنَ مَا كُنتُ
وَأَوۡصَٰنِي بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ مَا دُمۡتُ حَيّٗا ﴿٣١﴾ وَبَرَّۢا بِوَٰلِدَتِي وَلَمۡ يَجۡعَلۡنِي جَبَّارٗا
شَقِيّٗا ﴿٣٢﴾ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَيَّ يَوۡمَ وُلِدتُّ وَيَوۡمَ أَمُوتُ وَيَوۡمَ أُبۡعَثُ حَيّٗا ﴿٣٣﴾ ذَٰلِكَ
عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَۖ قَوۡلَ ٱلۡحَقِّ ٱلَّذِي فِيهِ يَمۡتَرُونَ ﴿٣٤﴾ مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن
وَلَدٖۖ سُبۡحَٰنَهُۥٓۚ إِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٣٥﴾ وَإِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي
وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ﴿٣٦﴾

(بچي) وويل: يقيناً چي زه د الله بنده يم، ما ته ئې كتاب راپه برخه كړی او زه ئې پيغمبر گرځولی يم، او زه ئې بابركته گرځولی يم، هر چېري چي وم، او ما ته ئې د لمانځه او زكات سپارښتنه كړې، تر هغه چي ژوندی وم، او د خپلي مور په اړه نېكي كوونكی او زه ئې جبر كوونكی او بدبخته نه يم گرځولی، او (د الله له لوري) پر ما سلام دئ هغه ورځ چي وزېږېدم، او هغه ورځ چي مرم او هغه ورځ چي بېرته به ژوندی راپاڅول كېږم. همدا عيسى د مريمي زوی دئ، هغه حقه وينا چي (دوی) شك په كي كوي، الله ته نه ښايي چي كوم (څوك د) زوی (په توگه) ونيسي، ده ته (له دې عيبه) پاكي ده، كله چي د كوم كار پرېكړه وكړي نو ورته وايي: وشه؛ نو هغه كېږي، او يقيناً چي الله هم زما رب دئ او هم ستاسو رب، نو د ده عبادت وكړئ، مستقيمه لار همدا ده.

(٣٠-٣٦)- په دې مباركو آيتونو كي د مريمي عليها السلام د ماشوم زوی هغه ستري ستري خبري راغلې چي هر پيغمبر خپل قوم ته كړې دي، د پيغمبرانو عليهم السلام د الهي پيغام خلاصه همدا څو خبري دي: زه د الله تعالى بنده يم، كتاب ئې راكړی، پيغمبر ئې گرځولی يم، بركت ئې راپه برخه كړی، د ژوند تر پايه ئې په لمانځه او زكات او له خپلي مور سره په ښه سلوك گمارلی يم، مغرور او بدبخته ئې نه يم گرځولی، الله زما او ستاسو رب دئ، د هغه عبادت وكړئ چي مستقيمه لار همدا ده،

دا د عيسى بن مريم حقيقت دئ. دا همغه حقيقت دئ چي دوی په كي شك كوي، الله تعالى له دې ډېر لوړ دئ چي ځان ته زوی غوره كړي، د ده كار داسي دئ چي د څه اراده وكړي ورته وايي: وشه، او هغه سملاسي ترسره كېږي. داسي ذات به ولي زوی او ځای ناستی غوره كوي،

زوی ته هغه څوك ضرورت لري چي يا مري او يا د بل له مرستي پرته خپل کارونه نشي ترسره کولی، الله تعالی له داسي عیبونو منزه دئ.

دا دئ ګورئ چي دلته د مريمي **صلی** او د دې د زوی عيسی عليه السلام د پيدايښت په قصه کي د دې سورې اساسي مضامين په دې توګه انځور شوي:

- الله تعالی مريمي ته په خارق العاده توګه زوی ورکوي، فرشتې ئې خوا ته ورځي او د دې خبري زېری ورکوي، دې ته دا زېری نه يوازي عجيب او د حيرانتيا وړ برېښي بلکي نه پوهېږي چي د دې خارق العاده پيدايښت موخه څه ده، الله تعالی د څه لپاره دې ته زوی ورکوي، پرېشانه ده، دومره چي د مرګ هيله کوي، آيا دا ټول ښيير نه ښيي چي د الله تعالی مقرب بندګان له غيبو بې خبره دي؟! آيا دا نه ښيي چي دوی د عالم د چارو په سمبالولو کي له الله تعالی سره شريك نه دي؟ آيا عيسی عليه السلام په ماشومتوب کي نه وايي چي زه د الله تعالی بنده يم، نه ئې زوی او ځای ناستی يم او نه ئې شريك؟! آيا نه وايي چي زه په لمانځه، زکات او له خپلي مور سره په نېکۍ ګمارل شوی يم؟!! اې اهل کتابو!! څنګه د الله تعالی يو مطيع بنده د هغه زوی او ځای ناستی بولئ؟!!

بايبل د عيسی عليه السلام اوږده شجره بيانوي، د هغه د معجزو اوږد فهرست د ويونکي مخي ته ږدي خو دغه اساسي خبري چي عيسی عليه السلام په خپل ماشومتوب کي کړې وې په ټول بايبل کي نشئ موندلی!! بايبل دا اساسي خبري د ټولو انبياوو په اړه هېري کړې دي، معجزې ئې له مبالغو په ډکو الفاظو سره بيانوي خو د دوی اصلي خبري نه کوي!! يو ځل مسيح په خپله خدای ګڼي چي د انسان په بڼي کي څرګند شوی او ليکي: مسيح د نه ليدل شوي خدای ليدل شوې څېره وه، بيا د دې وينا کاملاً مخالفه خبره کوي او ليکي: هغه د خدای زوی دئ!! داسي متعارضي او متناقضي خبري هغه څوك کوي چي د خپلو خبرو په معنی نه پوهېږي. يا خو بايد ووايي چي خدای د مسيح په څېرې کي مجسم شوی او يا دا چي مسيح د خدای زوی دئ. او دا دواړه خبري هم د عقل خلاف دي او هم د تورات او انجيل، او قرآن خو وايي: د الله تعالی په اړه دا خبره کول چي هغه زوی لري دومره ستره کرکجنه خبره ده چي آسمانونه او زمکه ئې نه شي زغملی.

موږ د عيسی عليه السلام په معجزو ايمان او باور لرو، قرآن په ډېر وضاحت او تفصيل سره د ده معجزې بيانوي، خو قرآن وايي چي دا معجزې د الله تعالی په إذن او حکم ترسره کېدې، په کوم ځای او وخت کي چي الله تعالی د دغو معجزو څرګندېدا ضروري او مفيد ګڼله همغه وخت ترسره کېدې، دا د عيسی عليه السلام ذاتي کار نه وو، د ده په خوښه او اختيار نه ترسره کېدې، (بايبل هم وايي چي عيسی خلکو ته وويل: زه په خپله خوښه او ميل کوم کار نه کوم)، قرآن وايي چي دی لا د مور په غېږ کي ماشوم وو چي خلکو ته ئې همغه خبري کولې چي په ځوانۍ کي ئې کولې.

فَٱخۡتَلَفَ ٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَيۡنِهِمۡۖ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن مَّشۡهَدِ يَوۡمٍ عَظِيمٍ ﴿٣٧﴾ أَسۡمِعۡ
بِهِمۡ وَأَبۡصِرۡ يَوۡمَ يَأۡتُونَنَاۖ لَٰكِنِ ٱلظَّٰلِمُونَ ٱلۡيَوۡمَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٣٨﴾ وَأَنذِرۡهُمۡ يَوۡمَ

ٱلۡحَسۡرَةِ إِذۡ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَهُمۡ فِي غَفۡلَةٖ وَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّا نَحۡنُ نَرِثُ ٱلۡأَرۡضَ
وَمَنۡ عَلَيۡهَا وَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ﴿٤٠﴾

نو دغو ډلو په خپل منځ کي اختلاف وکړ، نو افسوس د هغو په حال چي کفر ئې وکړ، د يوې ستري ورځي د ليدو پر مهال، کله چي موږ ته راځي څومره ښه اورېدونکي به وي او څومره ښه ليدونکي! خو دا ظالمان نن په ځرګندي بې لارۍ کي دي. او د حسرت له هغي ورځي خبرداری ورکړه چي د کار پرېکړه به وشي، په داسي حال کي چي دوی په غفلت کي دي او دوی ايمان نه راوړي، يقيناً چي موږ به د زمکي او څه چي ورباندي دي وارث شو او (ټول) زموږ لوري ته راګرځول کېږي.

(٣٧-٤٠)- دا مبارك آيتونه موږ ته وايي چي يهود او نصارا د عيسى عليه السلام د پيدايښت د څرنګوالي او د مريمي صلى په اړه په اختلاف کي پرېوتل، ځينو يو څه وويل او ځينو بل څه، ځينو د کفر لار غوره کړه او ځينو د شرك، چا مريم صلى په بدلمنى تورنه کړه، چا هغه د خدای مور وګڼله، چا عيسى عليه السلام د خدای زوی او ځای ناستی وګڼلو، چا وويل: دی خدای وو چي د عيسى په بڼي کي زمکي ته راغلی وو، چا د ساحر په نامه ياد کړ او معجزې ئې کوډي وبوللي، چا د هغه د وژلو لپاره ملا وتړله، د قيامت په ورځ به دوی ته حقايق ځرګند شي، په هغي ستري ورځ کي به دوی له افسوسناك برخليك سره مخامخ شي، نن د دوی پر سترګو د جهل او تعصب پردې غوړېدلي دي؛ د قيامت په ورځ به ئې سترګي ښه ليدل کولی شي او حقايق به په واضح توګه ګوري، نن ئې غوږونه د حق اورېدو ته کاڼه دي خو هغه ورځ به ئې غوږونه خلاص شي او هر څه به ښه اوري. نن د دنيا مال او متاع غولولي، خو هر څه به تري پاته شي او الله تعالى به د زمکي د هر څه يوازنی وارث وي، ټول به د الله تعالى په لوري درومي.

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِبۡرَٰهِيمَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ لِمَ تَعۡبُدُ
مَا لَا يَسۡمَعُ وَلَا يُبۡصِرُ وَلَا يُغۡنِي عَنكَ شَيۡـٔٗا ﴿٤٢﴾ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي قَدۡ جَآءَنِي مِنَ
ٱلۡعِلۡمِ مَا لَمۡ يَأۡتِكَ فَٱتَّبِعۡنِيٓ أَهۡدِكَ صِرَٰطٗا سَوِيّٗا ﴿٤٣﴾ يَٰٓأَبَتِ لَا تَعۡبُدِ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّ
ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ عَصِيّٗا ﴿٤٤﴾ يَٰٓأَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٞ مِّنَ

ٱلرَّحۡمَـٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيۡطَـٰنِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾

او په كتاب كې د ابراهيم يادونه وكړه، يقيناً چې هغه رښتينى نبي وو، هغه مهال چې خپل پلار ته ئې وويل: ګرانه پلاره! ولې د هغه څه عبادت كوې چې نه اوري او نه ويني او نه كوم څه (ضرر) درنه دفع كولى شي، اې ګرانه پلاره! يقيناً چې ما ته داسې علم راپه برخه شوى چې تا ته نه دئ درپه برخه شوى، نو زما متابعت وكړه چې سمه لار دروښيم، اې زما ګرانه پلاره! د شيطان عبادت مه كوه، يقيناً چې شيطان د رحمن رب په وړاندې سرغړوونكى دئ، اې زما ګرانه پلاره! يقيناً چې زه له دې وېرېږم چې د رحمن رب له لورې په عذاب اخته شې او د شيطان ملګرى شې.

٤١-٤٥)- دلته د ابراهيم عليه السلام د قصې داسې يوه برخه زموږ په وړاندې ايښودل شوې چې د دې قصې د اساسي مضامينو لپاره يوه بله تاريخي بېلګه ده، په دې توګه:

- **د ابراهيم يادونه وكړه چې هغه يقيناً رښتينى نبي وو، د هغه مهال يادونه چې خپل پلار ته ئې وويل: ګرانه پلاره! ولې د هغه څه عبادت كوې چې نه اوري او نه ويني او نه كوم تاوان او ضرر درنه دفع كولى شي، د ابراهيم پلار بتان لمانځل، دا بتان د تېرو شخصيتونو په نامه جوړ شوي او د هغوى مجسمې وې، د دوى انګېرنه دا وه چې دا نازولې شخصيتونه كولى شي د الله تعالى په وړاندې د دوى شفاعت وكړي، د دوى د دعاګانو د منل كېدو سپارښتنه وكړي، د دوى حاجتونه ترسره او د دوى مشكلات حل كړي، ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته وايي: دا بتان ستاسو دعاګانې نه اوري، ستاسو له حاله خبر نه دي، نه څه ګټه دررسولى شي او نه كوم تاوان او ضرر درنه دفع كولى شي، ولې د دوى عبادت كوئ؟!!**
- **بيا ورته وايي: اې ګرانه پلاره! يقيناً چې ما ته داسې علم راپه برخه شوى چې تا ته نه دئ درپه برخه شوى، نو زما متابعت وكړه چې سمه لار دروښيم، ما ته سمه لار معلومه شوې، الله تعالى ما ته علم او پوهه راكړې، راشه زما متابعت وكړه چې سمه لار دروښيم.**
- **بيا ورته وايي: اې زما ګرانه پلاره! د شيطان عبادت مه كوه، يقيناً چې شيطان د رحمن رب په وړاندې سرغړوونكى دئ. ګورئ چې دلته يو ځل بيا قرآن د شيطان اطاعت د ده له عبادت سره مترادف ګڼي، او د دې معنى دا ده چې اطاعت د عبادت يو مهم اړخ دئ، څوك چې د الله تعالى د اوامرو او احكامو اطاعت نه كوي د عبادت دعوى ئې دروغجنه او بې اعتباره ده، څوك چې د شيطان اطاعت كوي په حقيقت كې د هغه بنده دئ، څوك چې طاغوت ته سر ټيټوي او د جابرو او ظالمو حكامو واكمنې منې او خپلې شخړې او منازعات د هغوى د پرېكړو مطابق حلوي د قرآن له نظره د هغوى عبادت كوي، څوك چې د خپل نفس غوښتنو او هوسونو ته تسليمېږي هغه د خپل نفس بنده دئ. ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته وايي چې د شيطان اطاعت او عبادت مه كوه، شيطان د خپل رب له اطاعته سرغړوونكى دئ، څوك چې د هغه اطاعت كوي د خپل رب په وړاندې به باغي او سرغړوونكى شي.**
- **بيا ورته وايي: اې زما ګرانه پلاره! يقيناً چې زه له دې وېرېږم چې د رحمن رب له لورې**

په عذاب اخته شي او د شیطان ملګری شي. په همغه برخلیك به اخته شي چي شیطان ته تاکل شوی، له هغه سره به یوځای په دوزخ کي پرېوځي.
ګورئ چي ابراهیم په څومره عطوفت، مهربانۍ او زړه سوي سره خپل پلار ته بلنه ورکوي، په وار وار د ګران پلار خطاب ورته کوي، په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي له مخاطب سره ستاسو چلن باید ډېر ښکلی او له مهربانۍ او عطوفت ډك وي، د یوه زړه سواند او مهربان داعي په توګه خلکو ته بلنه ورکړئ. ځیني د کمعلمۍ له کبله مفاهیم سره خلط کړي، ګمان کوي چي قرآن موږ ته د کافرانو په اړه د تشدد، سخت چلن او عدم نرمښت سپارښتنه کړې ده او الله تعالی دا خوښوي چي تندي مو کافر ته تریو وي او وینا مو تونده!! خو حقیقت دا دئ چي له کافرانو سره چلن له یوه حالته تر بل توپیر لري، قرآن موږ ته له محارب کافر سره د یوه ډول چلن سپارښتنه کوي، له هغه کافر سره چي زموږ مخاطب دئ او اسلام ته بلنه ورکوو د بل ډول چلن، او له هغه کافر سره چي له موږ سره مناقشه او بحث کوي خو د دې لپاره چي په حق پوه او پوښتني ئې ځواب شي، د بل ډول معاملې توصیه کوي، په یوه حالت کي به زموږ چلن داسي وي لکه د ابراهیم علیه السلام چلن له خپل پلار سره، په بل ځای کي به د قرآن د دې لارښووني مصداق وي چي فرمایي:

ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦۖ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١٢٥﴾

النحل: ۱۲۵

د خپل رب لاري ته په حکمت او نېکي موعظې سره بلنه ورکړه، او په داسي توګه مجادله ورسره کوه چي تر ټولو غوره وي، یقیناً چي ستا رب پر هغو ښه پوه دئ چي د ده له لاري تېروتي او هغه پر هدایت شوو هم ښه پوه دئ.

او له محارب دښمن سره د دې لارښووني مطابق:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلۡكُفَّارِ وَلۡيَجِدُواْ فِيكُمۡ غِلۡظَةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾

التوبه: ۱۲۳

اې مؤمنانو**!** له هغو کافرانو سره وجنګېږئ چي درنږدې دي او حتماً دي په تاسو کي زیږوالی ومومي او په دې پوه شئ چي الله له داسي متقیانو سره (مل) دئ.

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ ءَالِهَتِى يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ۖ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ ۖ وَٱهْجُرْنِى مَلِيًّا ﴿٤٦﴾
قَالَ سَلَٰمٌ عَلَيْكَ ۖ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّىٓ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ بِى حَفِيًّا ﴿٤٧﴾ وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا
تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَأَدْعُوا۟ رَبِّى عَسَىٰٓ أَلَّآ أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّى شَقِيًّا ﴿٤٨﴾

وئې ويل: اې ابراهيمه! آيا زما له معبودانو تېر شوی (څنګ ته شوی) يې؟ که ډډه ونه کړې نو حتماً به دې رجم (سنګسار) کړم، او د تل لپاره له ما لرې شه، وئې ويل: سلام پر تا! حتماً به له خپل رب څخه تا ته بخښنه وغواړم، يقيناً چې هغه ډېر راباندې مهربان دئ، زه له تاسو او له هغه څه چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ لرې کېږم، او خپل رب ته دعاء کوم؛ هيله ده چې خپل رب ته په دعاء کې کمبخته نه وم.

(٤٦-٤٨)- دلته د ابراهيم عليه السلام د دعوت په وړاندې د ده د مشرك پلار جاهلانه عكس العمل انځور شوی او په مقابل کې ئې د ابراهيم عليه السلام ښکلی او مؤدبانه ځواب: پلار ئې ورته وويل: اې ابراهيمه! آيا زما له معبودانو دې لاس اخيستی؟!! كه داسې وې نو يا به دې سنګسار کړم، يا خو د تل لپاره له ما لرې شه، يعنې ستا سزا يا رجم او يا له وطنه تبعيد ده، ابراهيم عليه السلام ورته وويل: سلام پر تا! حتماً به له خپل رب څخه تا ته بخښنه وغواړم، يقيناً چې هغه ډېر راباندې مهربان دئ، هيله ده زما مهربان رب ستا په اړه زما دعاء قبوله کړي، صحيح ده زه ستاسو له مخې لرې کېږم او ستاسو له هغو معبودانو هم لرې کېږم چې تاسو ئې له الله تعالی پرته لمانځئ، او خپل رب ته دعاء کوم؛ هيله ده چې خپل رب ته په دعاء کې کمبخته نه وم او زما دعاء بې اجابته پرې نږدي.

فَلَمَّا ٱعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ۖ وَكُلًّا جَعَلْنَا
نَبِيًّا ﴿٤٩﴾ وَوَهَبْنَا لَهُم مِّن رَّحْمَتِنَا وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿٥٠﴾

نو كله چې له دوی او له هغه څه چې دوی له الله پرته لمانځل ګوښه شو موږ اسحاق او يعقوب ورپه برخه کړل، او هر يو مو پيغمبر وګرځاوو، او دوی ټولو ته مو خپله پېرزوينه ورپه برخه کړه او د رښتيني ژبې لوړه يادونه مو ورته وټاکله.

(٤٩-٥٠)- دا مبارك آيتونه وايي چې ابراهيم عليه السلام د هجرت لار غوره کړه، له خپلوانو او د دوی له دروغجنو معبودانو لرې شو او د هجرت په عوض کې الله تعالی دا بدله ورکړه:

- ده ته ئې اسحاق او ورپسې يعقوب عليهما السلام ورپه برخه کړل، دواړه د الله تعالی ستر ستر پيغمبران. په دې اړه څو خبري په پام کې ولرئ: ١- په دې سره له يوې خوا قريشو ته ويل شوي چې ستاسو ستر جد ابراهيم

علیه السلام له شرك او مشركینو سره خپله رابطه شلولې وه او ترې لرې شوی وو، ۲- له بلې خوا یهودانو ته ویل شوي چې ابراهیم علیه السلام ته هغه ستر مقام د دې لپاره ورکړی شوی وو چې هغه یو موحد وو، د توحید لپاره ئې له خپل مشرك پلار سره رابطه او تعلق وشلولو، د همدې لپاره الله تعالی د ده په کورنۍ کې پیغمبران راپیدا کړل، د پیغمبرۍ دا مقام نه موروثي دئ او نه نسبي، نه ابراهیم علیه السلام ته له خپل پلار په میراث پاته شوی وو او نه تاسو ته له خپلو اجدادو دا مقام انتقال شوی، تاسو هسې ځان ستانه ګڼئ او پر دې افتخار کوئ چې د ابراهیم او یعقوب علیهما السلام اولاد یئ!! دلته د اسمعیل علیه السلام د نوم نه یادول همدا مطلب افاده کوي چې خطاب یهودو ته متوجه دئ. ۳- له بلې خوا مسلمانانو ته ویل شوي چې که مکه دربانديي تنګه شوه، د خپل ایمان له امله خپلوانو ګواښلی، نو د ابراهیم علیه السلام په څېر ترې بېل شئ او ډاډه اوسئ چې الله تعالی به داسې بدله درکړي چې ابراهیم علیه السلام ته ئې ورکړه.

- الله تعالی ابراهیم علیه السلام او د ده زوی او لمسي ته نه یوازې خپلې پېرزوینې او رحمت ورپه برخه کړ بلکې په وروستنیو کې ئې د دوی لپاره داسې نېکه یادونه پرېښوده چې خلك ئې په لوړ نوم او رښتینولۍ یادوي او دا دئ تر نن پورې خلك وربانديي درود وایي.

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مُوسَىٰٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ مُخۡلَصٗا وَكَانَ رَسُولٗا نَّبِيّٗا ﴿٥١﴾ وَنَٰدَيۡنَٰهُ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنِ وَقَرَّبۡنَٰهُ نَجِيّٗا ﴿٥٢﴾ وَوَهَبۡنَا لَهُۥ مِن رَّحۡمَتِنَآ أَخَاهُ هَٰرُونَ نَبِيّٗا 

او په کتاب کې د موسی یادونه وکړه چې غوره شوی وو او نبي استازی وو، او موږ د طور له ښي اړخ ورغږ کړل او د نجوی لپاره مو رانږدې کړ، او د خپلې پېرزوینې له مخې مو د ده ورور هارون د نبي په توګه ورپه برخه کړ.

(۵۱-۵۳)- په دې مبارکو آیتونو کې د موسی علیه السلام یادونه شوې او دا ځانګړتیاوې ئې انځور شوې:

- د خلکو له منځه غوره کړی شوی وو، تر ټولو خلکو غوره انسان وو.
- له حقایقو خبر استازی وو، الله تعالی د استازي او رسول په توګه لېږلی او له حقایقو خبر (نبي) وو.
- الله تعالی د خپلې پېرزوینې له مخې د ده ورور هارون هم د نبي په توګه د ده خوا ته وګمارو.

په دې سره هم یهودو ته ویل شوي چې د هارون علیه السلام انتخاب د نسبي او قومي تړاو او تعلق له مخې نه وو، بلکې د الله تعالی له لوري پر موسی علیه السلام د یوې پېرزوینې له مخې وو، هغه د یوه مرستیال هیله کړې وه، الله تعالی ئې دا هیله ترسره کړه.

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِسۡمَٰعِيلَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صَادِقَ ٱلۡوَعۡدِ وَكَانَ رَسُولٗا نَّبِيّٗا ﴿٥٤﴾ وَكَانَ

يَأۡمُرُ أَهۡلَهُۥ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱلزَّكَوٰةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِۦ مَرۡضِيّٗا ﴿٥٥﴾

او په کتاب کي د اسمعيل يادونه وکړه چي يقيناً په ژمنو کي رښتينی وو او نبي استازی وو، او خپل ټبر به ئې پر لمانځه او زکات ګمارو، او د خپل رب په وړاندي د رضايت وړ وو.

(٥٤-٥٥)-په دې مبارکو آيتونو کي د اسمعيل عليه السلام يادونه شوې او دا ځانګړتياوي ئې بيان شوي:

- په خپلو ژمنو کي رښتينی وو.
- نبي استازی وو، الله تعالی د استازي او رسول په توګه لېږلی او له حقايقو خبر (نبي) وو.
- خپل ټبر به ئې پر لمانځه او زکات ګمارو.
- او د خپل رب په وړاندي د رضايت وړ شخصيت وو.

دلته د خطاب مخه قريشو ته راجع ده، هغوی ځان اسمعيل عليه السلام ته منسوبولو او پر دې ئې فخر کولو او ځان ئې تر نورو لوړ ګڼلو، الله تعالی د اسمعيل عليه السلام دا ځانګړتياوي د دوي مخي ته ږدي او په دې سره ورته وايي: تاسو د خپل جد په لار روان نه يئ، هغه مواصفات په تاسو کي نشته چي اسمعيل عليه السلام درلودل. صداقت، په خپلو وعدو او ژمنو وفا کول، خپل ټبر پر لمانځه او زکات ګمارل؛ د اسماعيل عليه السلام هغه ځانګړتياوي وې چي په تاسو کي نشته.

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِدۡرِيسَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيّٗا ﴿٥٦﴾ وَرَفَعۡنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿٥٧﴾

او په کتاب کي د ادريس يادونه وکړه چي ډېر رښتينی پيغمبر وو او لوړ مقام ته مو ورساوو.

~~(٥٦-٥٧)- دلته د ادريس عليه السلام يادونه شوې او دا ئې مواصفات ښودل شوي:~~

- **ډېر رښتينی پيغمبر وو.**
- **لوړ مقام مو ورپه برخه.**

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ وَمِمَّنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٖ
وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡرَٰٓءِيلَ وَمِمَّنۡ هَدَيۡنَا وَٱجۡتَبَيۡنَآۚ إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُ
ٱلرَّحۡمَٰنِ خَرُّواْۤ سُجَّدٗا وَبُكِيّٗا۩ ﴿٥٨﴾

دوی له هغو انبياءو څخه دي چي الله پرې پېرزوينه کړې، د آدم او د هغو له اولاده چي

له نوح سره مو (په بېړۍ کې) سپاره کړل، او د ابراهیم او اسرائیل له اولاده؛ او له هغو چې هدایت مو کړل او غوره مو کړل. کله چې د رحمن رب آیتونه پرې تلاوت کېدل نو سجده کوونکي او ژړېدونکي به (پر زمکه) پرېوتل.

(۵۸)- په دې مبارك آیت کې د وړاندې ذکر شوو پیغمبرانو په اړه لاندې یادونې شوې:

- دوی هغه پیغمبران دي چې الله تعالی پرې پېرزوینه کړې.
- د آدم علیه السلام او د هغو خلکو د اولاد له ډلې چې الله تعالی له نوح سره یو ځای په بېړۍ کې سپاره کړل او له غرقېدو ئې وژغورل، او د ابراهیم او یعقوب علیهما السلام له اولاده؛
- دوی د هغو شخصیتونو له ډلې څخه دي چې الله تعالی هدایت کړل او د خلکو د لارښوونې لپاره ئې غوره کړل.
- حالت ئې داسې وو چې کله به ئې د خپل مهربان رب آیتونه واورېدل نو په سجده به پرېوتل او له سترګو به ئې اوښکې بهېدې.

د دې آیت له لارښوونو څو خبرې معلومېږي: ۱- د سورې له پیل تر دې ځایه چې د کومو پیغمبرانو علیهم السلام یادونه شوې او د دوی قصې زموږ په وړاندې اېښودل شوې وې د ټولو مقصد دا وو چې موږ ته دغه مطالب واضح کړي چې په دغه آیت کې راغلي. ۲- له نوح علیه السلام وروسته نسلونه یوازې د ده اولاد نه دي، هغسې چې بایبل وایي او بني اسرائیل ئې انګېري، له نوح علیه السلام سره د ده پر اولاد سربېره نور خلك هم په کښتۍ کې ژغورل شوي او ځیني پیغمبران د دغو خلکو په اولاد کې مبعوث شوي، ځکه په دې آیت کې د نوح پر اولاد سربېره د ده د ملګرو د اولاد یادونه شوې. د هود د سورې له آیت په ډېر صراحت سره معلومېږي چې د نوح علیه السلام طوفان نړۍ وال طوفان نه وو:

قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهۡبِطۡ بِسَلَٰمٖ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٖ مِّمَّن مَّعَكَۚ وَأُمَمٞ سَنُمَتِّعُهُمۡ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٤٨﴾ : وویل شول: اې نوح! زما له لوري له سلامتیا او هغو برکتونو سره کوز شه چې پر تا او هغه ډلو (نازل شوی) دئ چې له تاسره دي. او ځیني ډلې داسې دي چې (د دنیا له متاع به ئې) برخمن کړو بیا به زموږ په دردوونکي عذاب اخته شي.

د آیت له وروستۍ برخې داسې معلومېږي چې د نوح علیه السلام له غرق شوي قوم او ژغورل شوو ملګرو نه علاوه د زمکې پر سر داسې قومونه ول چې لا ئې د تعذیب پرېکړه نه وه شوې، دا فقره د هغو درنو مفسرینو رأیه تأییدوي چې وایي د نوح علیه السلام په طوفان کې نه ټوله نړۍ غرقه شوې او نه د زمکې د سر ټول انسانان.

فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا



بيا له دوی وروسته هغه خلف (بد وروستني) ورپسې شول چې لمونځ ئې ضايع کړ او د نفسي غوښتنو متابعت ئې وکړ نو خود به له ورکاوي سره مخامخ کيږي.

(۵۹)- په دې مبارك آيت كې د ټولو مخكنيو قصو پايله په دې توګه انځور شوې: له هر پيغمبر وروسته داسي بد خلف (وروستني) ورپسې شوي چې (لمونځ ئې ضايع کړی) او (د نفسي غوښتنو متابعت ئې کړی) او د همدې دواړو له کبله له ورکاوي سره مخامخ شوي. دلته
قرآن عظيم الشان د ناصالح خلف او د هغه نا اهله ټولګي چې نه دئ توانېدلی د خپل پتمن او سرلوړي سلف د عظمتونو او جلال ساتنه وکړي، دوه لويې او اساسي نښې په ګوته کوي: د لمانځه ضايع كول او د هوس بندګي، يعنې چا چې لمونځ ضايع کړ او د نفس بنده شو، د يوه باعزته او باعظمته قوم د شرف او د سرلوړی د لرغوني ميراث ساتنه نشي کولی، ډېر ژر به په ميراث ترلاسه كړی عزت بايلي او له سپكاوي او وركاوي سره به مخامخ كيږي.

دلته دا پوښتنه راولاړيږي چې ولې ټول انحرافات په دغو دوو (لمونځ ضايع كول) او (د نفسي غوښتنو متابعت) كې راخلاصه شوي؟ آيا دلته له لمانځه څخه همدا د ركوع او سجود لمونځ مراد دئ او كه ټول هغه تعلقات (صلات) چې دين ئې د ټينګ ساتلو امر كوي؟ آيا د دې معنی دا ده چې لمونځ د ايمان اساسي نښه ده، هغه څوك ئې ضايع كوي چې د دين له دائرې وتلو ته نږدې شوی وي؟!! او كه ئې معنی دا ده چې د قومونو د انحراف لړی د لمانځه له ضايع كېدو پيل كيږي او د هوس په بندګی منتج كيږي؟!! د آيت له الفاظو داسي معلوميږي چې دا وروستی تعبير دقيق دئ.

إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا ﴿٦٠﴾
جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ عِبَادَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّهُۥ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَأۡتِيّٗا ﴿٦١﴾ لَّا
يَسۡمَعُونَ فِيهَا لَغۡوًا إِلَّا سَلَٰمٗاۖ وَلَهُمۡ رِزۡقُهُمۡ فِيهَا بُكۡرَةٗ وَعَشِيّٗا ﴿٦٢﴾ تِلۡكَ ٱلۡجَنَّةُ ٱلَّتِي
نُورِثُ مِنۡ عِبَادِنَا مَن كَانَ تَقِيّٗا ﴿٦٣﴾

مګر هغه چې توبه ئې وكړه، ايمان ئې راوړ او نېك عمل ئې وكړ، چې دوی به جنت ته ننوځي او هيڅ ظلم به نه پرې كيږي. هغه تلپاته جنتونه چې رحمن رب ئې خپلو بندګانو ته په غياب كې وعده وركړې، يقيناً چې د هغه وعده حتماً راتلونكې (ترسره كېدونكې) ده، په هغه كې به بېهوده خبره نه اوري (يوازې) سلام سلام به اوري، او دوی ته به خپل رزق سبا او ماښام ورپه برخه وي، دا همغه جنت دئ چې په خپلو بندګانو كې ئې هغه چا

ته په میراث ورکوو چې متقي وي.

(٦٠-٦٣)- په دې مبارکو آیتونو کې هغه څوك له وړاندې یاد شوي بد برخلیك څخه په امان کې ګڼل شوی چې توبه وکړي، ایمان راوړي او نېك عمل وکړي، دوی ته د څو خبرو زېری ورکړی شوی: جنت ته به ننوځي، هیڅ ظلم به نه پرې کېږي، هغه تلپاته جنتونه به ئې په برخه شي چې رحمن رب ئې خپلو بندګانو ته په غیاب کې (تر هغه وړاندې چې دوی ئې په خپلو سترګو وګوري) وعده ورکړې، یقیناً چې د هغه وعده حتماً ترسره کېدونکې ده، په دې جنتونو کې به بېهوده خبره نه اوري، یوازې سلام سلام به اوري، دوی ته به سبا او ماښام خپل رزق ورکول کېږي، دا جنت به د الله تعالی هغو بندګانو ته په میراث ورکول کېږي چې متقي وي.

وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمۡرِ رَبِّكَۖ لَهُۥ مَا بَيۡنَ أَيۡدِينَا وَمَا خَلۡفَنَا وَمَا بَيۡنَ ذَٰلِكَۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيّٗا ﴿٦٤﴾ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا فَٱعۡبُدۡهُ وَٱصۡطَبِرۡ لِعِبَٰدَتِهِۦۚ هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيّٗا ﴿٦٥﴾

او موږ یوازې ستا د رب په حکم راکوزېږو، ټول هغه څه د ده دي چې زموږ تر مخ دي او څه چې زموږ تر شا دي او څه چې د دواړو تر منځ دي، ستا رب هېروونکی نه دئ. د آسمانونو، زمکې او هغه څه رب چې د دوی تر منځ دي، نو عبادت ئې کوه او پر عبادت ئې صبر کوه، آیا کوم همنومی ورته پېژنې؟!

(٦٤-٦٥)- د دې مبارکو آیتونو په اړه لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته د فرشتو دا وینا راغلې چې رسول اللهﷺ ته وایي: موږ یوازې ستا د رب په حکم راکوزېږو، هغه زموږ د کوزېدا نېټه ټاکي، د ماضي، حال او مستقبل پرېکړې د ده له لوري کېږي، د ټولو هغو چارو واکمن دئ چې نن یا تر دې وړاندې او وروسته ترسره کېږي، ستا رب هېروونکی نه دئ، که زموږ په راتګ کې کله ځنډ راځي نو د دې معنی دا نه ده چې ته خپل رب هېر کړی یې، ستا رب د آسمانونو، زمکې او هر هغه څه رب دئ چې د دوی تر منځ دي، نو پر عبادت ئې لګیا اوسه او که په دې لار کې له کړاوونو او ستونزو سره مخامخ کېږې نو صبر کوه، له ده پرته نه بل معبود شته او نه ولي او مرستندوی، آیا په ټول عالم کې کوم همنومی او نظیر ورته مومې؟!
- د آیت له فحوی داسې معلومېږي چې د دې آیت د نزول په شپو ورځو کې رسول الله او صحابه په داسې سخت او ستونزمن حالت کې وو چې د وحې د نزول تلوسه ئې درلوده، چې له یوې خوا ئې لاربښوونه وشي او له بلې خوا ډاډ او اطمئنان ورکړی شي، د فرشتو له قوله دوی ته ویل شوي چې د دوی راتګ د الله تعالی په امر تر سره کېږي، د مخکنیو او وروستنیو پېښو

په اړه اوامر د الله تعالی له لوري صادرېږي، مطمئن اوسه چي خپل رب هېر کړی نه یې.

• خو دا پوښتنه راولاړېږي چي د دې آیت ارتباط له مخکنیو سره څنگه دئ؟ آیا مخامخ له مخکنیو آیتونو سره تړاو لري او هغه څنگه؟ او که د سورۍ له کومي بلي برخي سره؟ که لږ ځیر شو نو وبه گورو چي د سورۍ په سر کي لومړی د زکریا علیه السلام په قصې کي د فرشتو راتگ ته اشاره شوې او هغه هم په داسي وخت کي چي زکریا علیه السلام ډېر پرېشان وو او الله تعالی ته ئې خپل عجز او احتیاج وړاندي کړی وو، په همدې حالت کی فرشتې ورته راغلې او د صالح زوی او نېك وارث زېری ئې ورکړ، ورپسې مو د مریمي صلی په قصې کي ولیدل چي په داسي سخت او ستونزمن حالت کي فرشته ورته راغله او زېری ئې ورکړ چي د ډېرو اندېښنو له کبله ئې د مرگ تمنا کوله، اوس چي د سورۍ په دغي برخي کي د دغو قصو لړی پای ته رسېدلې او د قصو موخي او مقاصد هم بیان شوي، طبیعي ده چي د دغو قصو د اورېدو په دوران کي به له رسول الله سره دا هیله راپیدا شوې وي چي ده ته هم د زکریا علیه السلام او مریمي صلی په څېر د فرشتو له لاري د روڼ سباوون زېری ورکړی شي، په دې آیت کي د دغي هیلي ځواب د فرشتو له قوله ورکړی شوی او ورته ویل شوي: فرشتې ستا د رب په حکم راکوزېږي، هغه ئې د کوزېدا نېټه ټاکي، د ماضي، حال او مستقبل پرېکړي د ده له لوري کېږي، د ټولو چارو واکمن دئ، خپل رب هېر کړی نه یې، که د فرشتو په راتگ کي کله ځنډ راځي نو د دې معنی دا نه ده چي ته خپل رب هېر کړی یې، ستا رب د آسمانونو، زمکي او هر هغه څه رب دئ چي د دوی تر منځ دي، ته د خپل رب پر عبادت لگیا اوسه او که په دې لار کي له کړاوونو او ستونزو سره مخامخ کېږي نو صبر کوه.

وَيَقُولُ ٱلْإِنسَـٰنُ أَءِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا ﴿٦٦﴾ أَوَلَا يَذْكُرُ ٱلْإِنسَـٰنُ أَنَّا خَلَقْنَـٰهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْـًٔا ﴿٦٧﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَٱلشَّيَـٰطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى ٱلرَّحْمَـٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِٱلَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾

او دا انسان وایي: آیا کله چي ومرم نو هرومرو به (له قبره) ژوندی راوځم؟! آیا دا انسان دا نه ورپه یادوي چي موږ تر دې وړاندي په داسي حال کي پیدا کړ چي هیڅ شی نه وو، نو ستا په رب لوړه چي حتماً به دوی او شیطانان راغونډ کړو بیا به ئې د دوزخ چاپېر په گونډو پراته حاضر کړو، بیا به له هري ډلي هغه ترې راوباسو چي د رحمن رب په وړاندي تر ټولو په سرکښی کي شدید وي، بیا موږ پر هغو ډېر ښه پوه یو چي په دې کي د غورزېدو له پلوه ډېر وړ دي.

(٦٦-٧٠)- په دې مبارکو آيتونو کې د قيامت او بېاژوندون په اړه د کافر انسان پوښتنه او د هغې ځواب په دې توګه راغلي:

- دا کافر او له آخرت منکر انسان وايي: آيا کله چې ومرم نو هرومرو به له قبره ژوندی راوځم؟! څنګه ومنم چې له مړيني وروسته او په داسي حال کې چې تر خاورو لاندې ښخ شوی يم او هر څه مې خاورې شوي، بېرته به راژوندی کېږم او له قبره به ژوندی راوځم؟!!
- ده ته په ځواب کې ويل شوي: آيا دې انسان دا خبره هېره کړې چې الله تعالی تر دې وړاندې په داسي حال کې پيدا کړ چې هيڅ شی نه وو؟ آيا له نست ئې هست نه کړ؟ آيا له خاورې ئې راپيدا نه کړ؟!! ولې له خاورې بيا راپيدا کېدا ورته محال برېښي؟!
- دا د الله تعالی قطعي پرېکړه ده او لوړه ئې کړې چې حتماً به دوی هم او د دوی هغه شيطانان هم چې دوی ئې غولولي بياراژوندي کوم، يو ځای به ئې راغونډوم، د دوزخ شاوخوا کې به ئې په ګونډو پراته حاضروم، بيا به له هرې ډلې هغه ترې راوباسم چې د رحمن رب په وړاندې تر ټولو په سرکښی کې شديد وو، بيا به د خپل علم له مخې هغه تر نورو وړاندې په دوزخ کې غورزوم چې په هغه کې د غورزېدو له پلوه تر نورو زيات وړ وي.

وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا۟ وَّنَذَرُ ٱلظَّٰلِمِينَ فِيهَا
جِثِيًّا ﴿٧٢﴾

او ستاسو هر يو به ورننوتونکی وي، ستا پر رب دا؛ حتماً ترسره کېدونکې پرېکړه، بيا به هغه کسان وژغورو چې تقوی ئې کړې او ظالمان به پر ګونډو پراته په کې پرېږدو.

(٧١-٧٢)- دا مبارك آيتونه وايي چې هر انسان به دوزخ ته ننوځي، دا د الله تعالی قطعي او نه بدلېدونکې پرېکړه ده چې حتماً ترسره کېږي، خو متقيان به ژغورل کېږي او ظالمان به په داسي حال کې په دوزخ کې پاته کېږي چې پر ګونډو به پراته وي. دا پوښتنه راولاړېږي چې آيا نېکان به هم دوزخ ته ننوځي؟ ځواب دا دئ چې هو؛ حتی متقيان به هم دوزخ ته ننوځي، يعني د جنت لار د دوزخ له منځه تېره شوې، متقيان به هم له دې لارې جنت ته رسي، خو په رواياتو کې د دې وضاحت شوی، ويل شوي چې دا لار به يوه پول ته ورته وي چې د دوزخ له پاسه به وي، چا ته به پراخ شي او د سترګو په رپ کې به ترې تېر شي، پرته له دې چې د دوزخ لمبې او تاو ئې لمس کړي، ځيني به ترې لاندې دوزخ ته ولوېږي، ځيني به لږ، ځيني ډېر او ځيني به د تل لپاره په کې پاته شي.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَىُّ ٱلْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ
مَّقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا ﴿٧٣﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَٰثًا وَرِءْيًا ﴿٧٤﴾

او کله چې زموږ آيتونه پرې تلاوت شي هغه کسان چې کفر ئې کړی هغو ته چې ايمان ئې راوړی وايي: کومه ډله د مقام له پلوه غوره ده او د جلسو له پلوه ښايسته او ډولې. او

څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) مو تر دې وړاندې هلاك كړل چې سامان او ظاهري حالت ئې ډېر ښايسته وو.

(۷۳-۷٤)- دلته د كافرانو د مستې او غرور حالت او د مسلمانانو پرېشانه وضع انځور شوې او ويل شوي: كله چې به كافرانو ته د قرآن آيتونه واورول شول نو دوى به نه يوازې انكار كولو بلكې ويل به ئې: موږ هم د اجتماعي حيثيت او مقام له پلوه تر تاسو غوره يو او هم د پلويانو د شمېر له پلوه تر تاسو وړاندې، د ټولنې اكثريت زموږ ملاتړ كوي، شتمن زموږ خوا كې دي، ولس ته منلې مذهبي، سياسي او قومي مشران له موږ سره دي، له تاسو سره د ټولنې بې وزلې، نيستمن او بې اعتباره خلك هغه هم د ګوتو په شمېر ملګرتيا كوي!! له دې سره سره څنګه ګمان كوئ چې تاسو په حقه يئ او ستاسو دين تر موږ غوره دئ؟!! دلته د دوى په ځواب كې ويل شوي: الله تعالى څومره پېړۍ پېړۍ خلك تر دې وړاندې هلاك كړل چې سامان او ظاهري حالت ئې ډېر ښايسته او غولوونكى وو، تر تاسو په هر څه كې وړاندې ول، هم ئې امكانات او وسائل زيات ول او هم ئې پلويان او ملاتړي، خو د كفر، شرك، فساد او ظلم له كبله په الهي عذاب اخته او هلاك شول، بايد پوه شئ چې ستاسو پايله به هم دې ته ورته وي.

قُلْ مَن كَانَ فِي ٱلضَّلَٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ مَدًّاۚ حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْاْ مَا يُوعَدُونَ إِمَّا ٱلْعَذَابَ وَإِمَّا ٱلسَّاعَةَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضْعَفُ جُندًا ﴿٧٥﴾

ووايه: څوك چې په ضلالت كې وي نو رحمن رب يو ډول پراخې ورپه برخه كوي، تر هغه چې يا عذاب او يا د قيامت هغه څه وګوري چې وعده ئې ورسره كېږي، نو حتماً به پوه شي چې څوك د مقام له پلوه بد دئ او د لښكر له پلوه كمزورى.

(۷٥)- هغو مغرورو كافرانو ته چې حرام مال، كاذب اجتماعي وجاهت، طماع پلويان او ملاتړي د حق او باطل معيار ګڼي او همدې ته په پام سره ځان تر مؤمنانو غوره ګڼي؛ ويل شوي: دا يو الهي سنت دئ چې كله كله لاروركو او په كفر او ضلالت كې پرېوتو ته هم د مال او متاع پراخوالى ورپه برخه كوي، ځينې تر هغه خپلې مخې ته پرېږدي چې له الهي مقدر عذاب سره مخامخ شي او ځينې د قيامت ورځ ته محول كوي، كله چې د مهلت دا نېټه پاى ته ورسېږي نو حقيقت به ورته څرګند شي او په دې به پوه شي چې څوك د مقام له پلوه بد دئ او د لښكر له پلوه كمزورى.

وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱهْتَدَوْاْ هُدًىۗ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾

او الله هغو كسانو ته لازياته لارښوونه كوي چې د هدايت لار ئې نيولې، او صالح پاتې شونې د الله خوا ته هم د ثواب له پلوه غوره دي او هم د پايلو له پلوه غوره.

(٧٦)- په دې مبارك آيت كې د الله تعالی يو بل نه بدلېدونكی سنت زموږ مخې ته ځلېږي، د مخكنې عكس او دا د مؤمنانو په اړه، او هغه دا: څوك چې د هدايت په لار روان شي نو الله تعالی د هدايت پراخې دروازې د هغه پر مخ پرانېږي او ګام په ګام ئې لازيات هدايت كړي، داسې صالح پاته شونې ئې په برخه شي چې هم د ثواب له پلوه غوره وي او هم د پايلو له پلوه غوره. عملونه ئې له پايښت برخمن شي، تل نېك آثار پرې مرتب كېږي، ثوابونه ئې د الله تعالی په خوا كې خوندي وي، هيڅكله نه ضائع كېږي او بې نتيجې نه پاته كېږي.

أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى كَفَرَ بِـَٔايَـٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾ أَطَّلَعَ ٱلْغَيْبَ أَمِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَـٰنِ

عَهْدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ ٱلْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾ وَنَرِثُهُۥ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا



آيا هغه دې وليد چې زما له آيتونو ئې انكار وكړ او وئې ويل: حتماً به مال او اولاد راپه برخه شي!، آيا له غيبو خبر شوی او كه له رحمن رب ئې كومه ژمنه ترلاسه كړې؟!، داسې نه ده؛ حتماً به هغه څه وليكو چې دی ئې وايي او په ځانګړي پراخولو سره به عذاب ورته پراخ كړو، او هغه څه به په ميراث ترې واخلو چې دی ئې وايي او موږ ته به يوازی او ګوښی راشي.

(٧٧-٨٠)- په دې مباركو آيتونو كې د هغو وګړو خوشې او بې بنسټه هيلې او طمعې انځور شوې چې ګمان كوي د كفر او كافرانو غېږ ته په پناه وړلو سره به د مال خاوند شي او اجتماعي وجاهت او اعتبار به ئې په برخه ~~شي!! وايي: آيا هغه چا ته دې پام كړی چې د الله تعالی له آيتونو ئې انكار وكړ او وئې ويل: حتماً به مال او اولاد~~ راپه برخه شي!، آيا دا انګېرنه ئې له دې امله ده چې له غيبو خبر شوی؟! او كه له دې امله چې له الله تعالی ئې كومه ژمنه ترلاسه كړې؟!، څنګه ګمان كوي چې د كفر او كافرانو په غېږ كې به د ده هيلې ترسره او مال، وجاهت او اقتدار به ئې په برخه شي، چا له غيبو خبر كړی او په كوم الهي كتاب كې ئې دا لوستلي؟!! داسې نه ده؛ حتماً به هغه څه وليكو چې دی ئې وايي او د مالي پراخوالي او د وجاهت زياتوالي پر ځای به له ځانګړي پراخ عذاب سره مخامخ شي، همدغه غلطه وينا او كچه انګېرنه به په ميراث ترې پاته شي او الله تعالی ته به تش لاس، يوازی او ګوښی وړاندې شي. هر انسان به بېل او له نورو جلا له خپل قبر او مدفن راپاڅېږي او د الله تعالی په لورې به خوځول كېږي، له دوستانو او خپلوانو، قوم او قبيلې، حزب او ډلې، پلويانو او سپاهيانو، حاميانو او ملګرو او له ټولو هغو چې په دنيا كې ئې د ده شاوخوا نيولې وه او ده پرې حساب كاوو، نن به د دوی هيڅوك په خپلې خوا كې نه مومي، ګوښی او يوازې به د الله په لور درومي.

وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لِّيَكُونُوا۟ لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾ كَلَّا ۚ سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا



او له الله پرته ئې داسي معبودان ونيول چي دوی ته د عزت او قوت سبب شي، داسي نه ده؛ حتماً به د دوی له عبادت څخه انکار کوي او د دوی ضد او دښمن به شي.

(٨١-٨٢)- دلته د مشرکينو هغه انګېرنه په ګوته شوې چي له الله تعالی پرته نور معبودان د دې لپاره غوره کوي چي دا به عزت او قوت ورپه برخه کړي، د عزت غولوونکي طمعه ئې له الله تعالی پرته د بل درشل کي دروي، خو الله تعالی د هغوی د دې غلطي طمعي په اړه فرمايي: داسي نه ده؛ دا هيله به ئې ترسره نشي، هغه ورځ به هرومرو راشي چي دا جعلي معبودان به د دوی له عبادت څخه انکار کوي، دوی به دروغجن ګڼي، د دوی په ضد به ولاړ وي او د دوی په خلاف به شهادت ورکوي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّآ أَرْسَلْنَا ٱلشَّيَٰطِينَ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿٨٤﴾

آيا پام دي نه دئ چي موږ شيطانان کافرانو ته ورلېږلي چي په وار وار ئې هڅوي، نو تلوار مه پرې کوه، يقيناً چي موږ (شپې) په ښو شمېرلو سره ورته شمېرو.

(٨٤-٨٤)- دا مبارک آيتونه ښيي چي رسول الله ﷺ او صحابه د مخالفينو له اذيتونو او ځورونو سخت تنګ شوي ول، شيطانانو او وسوسو ئې د دوی دښمنان ډول ډول فتنو ته او د مسلمانانو په ضد خصمانه اقداماتو ته هڅول، د مؤمنانو هيله دا وه چي الله تعالی دا حالت ژر بدل کړي او د دښمنانو اذيتونه پای ته ورسوي، الله تعالی خپل پيغمبر او مؤمنانو ته لارښوونه کوي چي عجله او تلوار مه کوئ، بې صبره کېږه مه، دښمن او کړني ئې د الله تعالی تر نظر لاندي دي، شپې په دقت سره شمېري، هغه ورځ به په خپل وخت او له هيڅ تغيير او ځنډ پرته راځي چي الله تعالی د دوی د تعذيب لپاره ټاکلې ده، الله تعالی ښه پوهېږي چي د مهلت څومره برخه تېره شوې او څومره پاته ده او کله به پای ته رسي او د عذاب پرېکړه به تحقق مومي.

يَوْمَ نَحْشُرُ ٱلْمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحْمَٰنِ وَفْدًا ﴿٨٥﴾ وَنَسُوقُ ٱلْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾ لَّا يَمْلِكُونَ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾

هغه ورځ چي متقيان به د رحمن رب لوري ته د (درنو) پلاوو په توګه راغونډ کړو، او مجرمين به د تږو څناورو په څېر د دوزخ په لور وخوزوو، د شفاعت توان به له هغه چا پرته بل څوك نه لري چي له رحمن رب ئې کومه ژمنه او فرمان ترلاسه کړی وي.

(٨٥-٨٧)- په دې مبارکو آيتونو کي د قيامت د هيبتناکي ورځي هغه حالت انځور شوی چي يوې خوا ته به پاك لمني او متقي مؤمنان د درنو پلاوو په څېر د خپل رحمن رب په وړاندي راغونډېږي او بلي خوا ته به مجرم کافران د دوزخ په لوري داسي خوزول کېږي لکه شپون چي د لرګي په خوزولو سره تږي څاروي د اوبو لوري ته شړي، له هيچا سره به نه د شفاعت توان وي او نه ئې جرأت او جسارت، او نه به ئې شفاعت په برخه کېږي او څه ګټه به وررسوي، يوازي هغه څوك به د شفاعت مجال ترلاسه کوي او شفاعت به ګټه وررسولی شي چي

الله تعالى هغه ته د بل په اړه د شفاعت كولو اجازه وركړي. هغه مجرمين چي د يوه او بل نازولي د شفاعت په طمع ئې جرمونه كول، باور ئې دا وو چي د قيامت په ورځ به ئې پير، مرشد او معبود له الهي مؤاخذې ژغوري او د دوى د شفاعت په طفيل به جنت ته درومي، بايد پوه شي چي دا شفاعت به ئې نه په برخه شي او نه به ګټه وروررسوي.

وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَـٰنُ وَلَدًا (٨٨) لَّقَدۡ جِئۡتُمۡ شَيۡـًٔا إِدًّا (٨٩) تَكَادُ ٱلسَّمَـٰوَٰتُ يَتَفَطَّرۡنَ مِنۡهُ وَتَنشَقُّ ٱلۡأَرۡضُ
وَتَخِرُّ ٱلۡجِبَالُ هَدًّا (٩٠) أَن دَعَوۡاْ لِلرَّحۡمَـٰنِ وَلَدًا (٩١) وَمَا يَنۢبَغِي لِلرَّحۡمَـٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا (٩٢) إِن كُلُّ مَن
فِي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ إِلَّآ ءَاتِي ٱلرَّحۡمَـٰنِ عَبۡدًا (٩٣)

او وئې ويل: رحمن خداى (ځان ته) زوى ټاكلى، يقيناً چي دا يوه ډېره بده او بېهوده وينا ده چي تاسو (په خوله) راوړه، له دې خبري نږدې ده آسمان ټوټې ټوټې شي، زمكه وچوي او غرونه وران او رانسكور شي، چي رحمن خداى ته د زوى ادعا كوي، حال دا چي له رحمن خداى سره نه ښايي چي ځان ته كوم زوى غوره كړي، د آسمانونو او زمكي هر څه د ده په وړاندي د بنده په توګه رادرومي!!

(٨٨-٩٣)- په دې مباركو آيتونو كي د يوې بلي ډلي شركي او انحرافي باورونو ته اشاره شوې، هغه چي الله تعالى ته زوى او ځاى ناستى ثابتوي، يو كس د خداى زوى ګڼي او د هغه اولاد د خداى د ځانګړې او نازولې كورنۍ غړي، ډېرو جاهلو او شرك وهلو قومونو دا كار كړى، يهودو عزير عليه السلام د خداى زوى وګڼلو او نصاراوو عيسى عليه السلام، بني اسرائيلو خپل ټول قوم د خداى نازولي، محبان، دوستان او زامن وګڼل، شيعه د علي جل جلاله او د هغه د اولاد په اړه همغه عقيده لري چي يهود او نصارا ئې د عزير او عيسى عليهما السلام په اړه لري. خو قرآن په دې اړه فرمايي: څوك چي رحمن خداى ته زوى منسوبوي، دا يوه ډېره بده او بېهوده وينا ده چي هغه خپله خوله پرې پرانېزي، دا دومره كركجنه خبره ده چي نږدې ده آسمان ئې په اورېدو سره ټوټې ټوټې شي، زمكه وچوي او غرونه وران او نسكور شي، له رحمن خداى سره نه ښايي چي ځان ته كوم زوى غوره كړي، هغه په ټول عالم كي نه سيال لري، نه مرستيال، نه ځاى ناستى او نه كوم نازولى زوى، د آسمانونو او زمكي هر څه د ده په وړاندي د بنده حيثيت لري، يوازي هغه څه كولى شي چي الله تعالى ئې د كولو توان او توفيق وركړي، داسي ټولواك او ځواكمن رب به ولي زوى او ځاى ناستى ځان ته ټاكي، ځاى ناستى خو هغه څوك ځان ته ټاكي چي په يوازي سر او د بل له مرستي پرته د خپل ملك له ادارې عاجز وي!!

لَّقَدۡ أَحۡصَىٰهُمۡ وَعَدَّهُمۡ عَدًّا (٩٤) وَكُلُّهُمۡ ءَاتِيهِ يَوۡمَ ٱلۡقِيَـٰمَةِ فَرۡدًا (٩٥)

او يقيناً چي پر ټولو ئې احاطه کړې او په ښو شمېرلو سره ئې شمېرلي. او هر يو به د قيامت په ورځ يوازي يوازي ورشي.

(٩٤-٩٥)- په دې مبارکو آيتونو کي مخکنی مطلب مزيد توضيح شوی او ويل شوي: الله تعالی د دې عالم پر ټولو مخلوقاتو احاطه کړې، داسي ټولواك ذات به ولي ځای ناستی او شريك غوره کوي؟!! الله تعالی د عالم ټول مخلوقات په ښو شمېرلو سره شمېرلي، شريك او مرستيال ته خو هغه څوك اړ وي چي د خپل ملك او تر خپلي واکمنی لاندي شيانو په اړه جامع او بشپړ علم نه لري، بل د شمېرني په اړه ورسره مرسته کوي، شفاعت خو د هغه چا په وړاندي کېدی شي چي د يو چا له ښېګڼو واقف نه وي او بل ورته وايي: دا د پېرزوينې وړ دئ، تا ته مخلص دئ، ګناه ئې دومره ستر نه ده چي سزا ورکړی شي!! د هغه الله تعالی په وړاندي به شفاعت څه ارزښت ولري چي نېك او بد، صالح او طالح، جنتي او دوزخي، د مکافات او مجازات وړ ورته معلوم وي، الله تعالی د عالم هر څه په دقيقه توګه شمېرلي، د همدې دقيقي شمېرني له مخي وايي چي د عالم هر څه د ده د بنده حيثيت لري، په ټول عالم کي نه کوم شريك ورته شته او نه کوم ځای ناستی. هر څه ورته منقاد دي. د قيامت په ورځ به هر څوك يوازي يوازي د الله تعالی حضور ته وړاندي شي، نه به ئې مدافعين او حاميان ګټه وررسولی شي او نه دوستان او محبان.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَيَجۡعَلُ لَهُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وُدّٗا ﴿٩٦﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلۡمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوۡمٗا لُّدّٗا ﴿٩٧﴾ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّن قَرۡنٍ هَلۡ تُحِسُّ مِنۡهُم مِّنۡ أَحَدٍ أَوۡ تَسۡمَعُ لَهُمۡ رِكۡزَۢا ﴿٩٨﴾

يقيناً هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به رحمن رب دوی ته (په زړونو کي) مينه او دوستي پيدا کړي. نو موږ ستا پر ژبه آسان کړ چي متقيانو ته زېری پرې ورکړې او سرټمبه وګړو ته خبرداری ورکړې. او څومره پېړی پېړی (خلك) مو تر دوی وړاندي هلاك کړل، آيا د دوی د کوم يوه (څه نښه) احساسوې او کوم ګونګسی او زګېروی ئې اورې.

(٩٦-٩٨)- د دې مبارکو آيتونو ځلانده ځلانده لارښووني دا دي:

- هغه چي ايمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به رحمن رب دوی ته به زړونو کي مينه او دوستي پيدا کړي. د خلکو په زړونو کي به ځای لري، صالح او نېك خلك به د خير دعاء ورته کوي او په ښه نامه به ئې يادوي.
- د الله تعالی هغه کتاب چي پر رسول اللهﷺ نازل شوی متقيانو ته د روښانه مستقبل زېری ورکوي او سرټمبه وګړو ته د بدو پايلو خبرداری.

- د دغو لجوجو دښمنانو او مخالفینو عاقبت به همغسي وي لکه د دوی د اسلافو، نه ګوري چي الله تعالی څومره پېړی پېړی خلك تر دوی وړاندي هلاك کړل، آیا د دوی د کوم یوه څه نښه احساس کوې او کوم ګونګسی او زګېروی ئې اورې.

لکه چي ګورئ د سورې په وروستیو پنځو آیتونو کي هغه اساسي مطالب راغلي چي د سورې له پیل تر پای پوري، په بېلو بېلو الفاظو او د بېلو بېلو قصو په ترڅ کي په مشرح او مفصله توګه څېړل شوي، د دغو مطالبو خلاصه داسي ده:

- د آسمانونو او زمکي هر څه د الله تعالی په وړاندي داسي دي لکه بنده او مریي.
- الله تعالی پر ټولو مخلوقاتو احاطه کړې او په ښو شمېرلو سره ئې شمېرلي او هر یو به د قیامت په ورځ یوازي ورشي.
- هغه چي ایمان ئې راوړی او نېك عملونه ئې کړي حتماً به رحمن رب دوی ته په زړونو کي مینه او دوستي پیدا کړي.
- د الله تعالی هغه کتاب چي پر رسول اللهﷺ نازل شوی متقیانو ته د روښانه مستقبل زېری ورکوي او سرټمبه وګړو ته د بدو پایلو خبرداری.
- د دغو لجوجو دښمنانو او مخالفینو عاقبت به همغسي وي لکه د دوی د اسلافو، نه ګوري چي الله تعالی څومره پېړی پېړی خلك تر دوی وړاندي هلاك کړل، آیا د دوی د کوم یوه څه نښه احساسوې او کوم ګونګسی او زګېروی ئې اورې.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

بسم الله الرحمن الرحيم

طٰه

د سورې پېژندنه:

د دې مبارکي سورې نوم (طٰهٰ) دئ، يو سل پنځه دېرش آيتونه لري، له لومړي آيت تر ديارلسم آيت پوري د آيتونو فواصل د طٰهٰ او تشقىٰ په څېر دي، څوارلسم آيت په (لذکري) پای ته رسېدلی، بيا پنځلسم تر څلرويشتم پوري ببرته د لومړيو په څېر شوي، بيا له پنځه ويشتم تر دوه دېرشم پوري د (صدري) په څېر دي، بيا د سورې تر پايه د ټولو آيتونو فواصل دغو دوارو ته ورته دي، ډېری آيتونه ئې لومړيو ته ورته دي او څو محدود ئې له دوهم ډول سره شباهت لري، آيتونه ئې لنډ لنډ، شعارونو ته ورته او ډېر ښکلی غږ او وزن لري. د رواياتو له مخي دا سوره د عمر ﷻ له ايمان راوړو لږ وړاندي نازله شوې، په رواياتو کي راغلي چي عمر ﷻ د رسول اللهﷺ د وژلو په موخه وتلی وو، په لاري کي له يوه کس سره مخامخ شو، پوښتنه ئې ترې وکړه چي چېري ځې، چي له ارادې ئې خبر شو ورته وئې ويل: لومړی ولاړ شه د خپل ټبر حال واخله، ستا اخښی او خور مسلمانان شوي، د دې خبري په اورېدو سره مخامخ د خپلي خور کره ولاړ، هلته د ده خور فاطمه بنت خطاب صلى او اخښی ئې سعيد بن زيد ﷻ ناست ول او له خباب بن ارت ﷻ ئې يوه پاڼه آيتونه زده کول، کله چي د ده له راتلو خبر شول نو خور ئې دا پاڼه پټه کړه، خباب ﷻ هم يوې گوښې ته شو، خو عمر ﷻ د دوی غږ اورېدلی وو، له څو پوښتنو او گروېږنو وروسته ئې پر خپل اخښي لاس پورته کړ او پر وهلو ئې پيل وکړ، خور ئې تر منځ شوه، هغه ئې ټپي کړه، او له سره ئېويني وبهېدې، دغه مهال دوارو وويل چي هو؛ موږ ايمان راوړی، څه چي دي له لاسه کېږي هغه وکړه!! د دوی ځواب له يوې خوا او د خور ټپي کېدا له بلي خوا ژور اغېز پرې وکړ، نرم شو، او وئې ويل: صحيح ده، ما ته هغه څه راوښيئ چي تاسو لوستو، خور ئې وويل: لومړی لوړه وکړه چي هغه به نه څيري کوې، بيا غسل وکړه چي پاك شې، بيا به ئې درکړم چي وئې لولې، عمر ﷻ غسل وکړ او د هغي پاڼي لوستل ئې پيل کړ، په هغې کي د طٰهٰ د سورې ځيني آيتونه ول، د لوستلو په پای کي ئې ناڅاپي وويل: دا څومره ښکلی کلام دئ!! د دې خبري په اورېدو سره

خباب ﷻ هم راځرګند شو او وئې ویل: په خدای قسم چې زه هیله من یم الله تعالی له تا څخه د خپل دین په خورولو کې لوی کار واخلي، ځکه ما پرون له رسول اللهﷺ څخه اوریدلي چې فرمایل ئې: خدایه! له دغو دواړو ابوالحکم بن هشام (ابوجهل) او عمر بن الخطاب څخه یو د اسلام حامي او پلوي کړه، نو ای عمره! د الله لوري ته راشه! د الله لوري ته راشه! همدا مهال هغه پریکړه وکړه چې د رسول اللهﷺ په حضور کې حاضر شي او ایمان راوړي، نو له خباب ﷻ سره یو ځای د رسول اللهﷺ حضور ته ورغی او ایمان ئې راوړ. دا پیښنه د حبشې له هجرت لږ وراندې رامنځته شوې.

لکه څنګه چې دا مبارکه سوره په دوو مقطعاتو حروفو (طاء او هاء) پیل شوې؛ دا سوره په دوو اساسي او محوري مضامینو بحث کوي، لومړی موضوع له دوهم آیت پیل کیږي او تر ۹۸ آیت پورې دوام کوي، لومړي اته آیتونه د دې موضوع لپاره د تمهید او مقدمې حیثیت لري او ورپسې د موسی علیه السلام قصه د دې موضوع لپاره د یوې تاریخي او عملي بیلګې په توګه وړاندې شوې او بیا تر ۱۱٤ آیت پورې د دې مبحث نتائج زموږ مخې ته ځلیږي، دوهم مضمون له ۱۱۵ آیت پیل کیږي، دا موضوع د آدم علیه السلام او ابلیس په قصې کې انځور شوې، تر ۱۲۷ آیت پورې د قصې تفصیلات زموږ مخې ته ږدي او بیا د سورې تر پای پورې د همدغو دواړو مضامینو خلاصه او له دغو دواړو قصو ترلاسه شوې عبرتونه او لارښووني ترسیم شوې، د سورې وروستی آیت د یوې ښکلې تتمې په توګه رسول اللهﷺ ته لارښوونه کوي چې خپلو مخالفینو ته ووایې: هر څوک منتظر دئ نو تاسو هم انتظار وکړئ، ژر به پوه شئ چې څوك د سمې لارې خاوندان ول او څوك په سمه لار روان!! هر څوك د خپلو هیلو، باورونو او ګمانونو مطابق د راتلونکې په اړه اټکلونه کوي، د روښانه مستقبل انتظار لري، ګمان ئې دا دئ چې تګلاره ئې سمه، مذهب ئې الله تعالی ته مقبول، هدایت او لارښوونه ئې په برخه شوې، تاسو هم د خپلو انګیرنو او هیلو په شنه بڼ کې خوبښ او هیله من اوسئ، ژر به پوه شئ چې صحیح او حقیقي لارښوونه د چا په برخه شوې، سمه تګلاره د چا وه او روڼ مستقبل چا ترلاسه کړی. وبه ګورئ چې څوك د فرعون، هامان او شیطان ملګري او له همغه برخلیك سره به مخامخ کیږي چې سلف ئې ورسره مخامخ شوی وو او څوك د موسی علیه السلام او آدم علیه السلام په لار درومي او له همغه برخلیك سره به مخامخ کیږي چې دا دواړه ستر ستر شخصیتونه ورسره مخامخ شوي وو.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

طه ﴿١﴾ مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ ﴿٢﴾ إِلَّا تَذۡكِرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰ ﴿٣﴾

ط، هـ، پر تا مو دا کتاب د دې لپاره نه دئ لیږلی چي په مصیبت او مشقت کي پرېوځې، مگر هغه چا ته یادونه چي وېرېږي.

(۱-۳)- د دې مبارکو آیتونو په اړه لاندي خبري په پام کي ولرئ:

- **لکه څنگه چي دا مبارکه سوره په دوو مقطعاتو حروفو (طاء او هاء) پیل شوې؛ دا سوره په دوو اساسي او محوري مضامینو بحث کوي، چي تفصیل ئې د سورې په پېژندني کي وړاندي شو.**
- **رسول اللهﷺ ته ویل شوي چي دا کتاب مو د دې لپاره پر تا نه دئ نازل کړی چي په مصیبت او مشقت کي پرېوځې، داسي دندې مو تا ته نه دي سپارلې چي تر سره کول ئې تا له سختو کړاوونو سره مخامخ کړي، پر دې مو نه ئې گمارلی چي هرو مرو به ټول خلك پر سمې لاري تلو ته اړ کوې او همدومره مشقت او زحمت به قبلوې چي ټول خلك حق ته غاړه کېږدي، الله تعالی ته مخه کړي او ایمان راوړي، ته یوازي په دومره مشقت او زحمت گمارل شوی يې چي له الله تعالی وېرېدونکو خلکو ته یادونه وکړې. ستا مأموریت په همدې کي راخلاصه شوی چي د شرك، کفر، ظلم او فساد له بدو پایلو وېرېدونکو وگړو ته یادونه وکړې.**

تَنزِيلٗا مِّمَّنۡ خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ وَٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلۡعُلَى ﴿٤﴾ ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ ﴿٥﴾
لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَمَا تَحۡتَ ٱلثَّرَىٰ ﴿٦﴾ وَإِن تَجۡهَرۡ
بِٱلۡقَوۡلِ فَإِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلسِّرَّ وَأَخۡفَى ﴿٧﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ ﴿٨﴾

د هغه چا له لوري لیږنه چي زمکه او لوړ لوړ آسمانونه ئې پیدا کړي. هغه رحمن رب چي پر عرش ئې استوی کړې، ټول هغه څه د ده دي چي په آسمانونو او زمکي کي او د دوی تر منځ دي، او هغه څه چي تر خاورو لاندي دي، که خبره په لوړ غږ وکړې، نو بیشکه چي الله تعالی په سري او خفي ټولو پوهېږي. هغه الله چي له ده پرته بل معبود نشته، غوره نومونه ئې دي.

(٤-٨)- د دې مبارکو آيتونو مهمې مهمي لارښوونې دا دي: دا قرآن د داسې ذات له لوري نازل شوی چې زمکه او لوړ لوړ آسمانونه ئې پيدا کړي، هغه ذات چې نه يوازې خالق دئ بلکې تولواك هم دئ، د زمکې او آسمانونو هر څه د ده تر واك لاندې دي، آسمانونه او زمکه د ده ملك دئ او دی ئې حاکم او تولواك، ډېر مهربان تولواك، هر څه د ده د واکمنۍ تر عرش لاندې دي، دلته همغه څه کېږي چې دی ئې غواړي او د کېدو اجازه ئې ورکوي، هغه ذات چې نه يوازې خالق او تولواك دئ بلکې پر دې سربېره د آسمانونو او زمکې هر څه، د آسمانونو او زمکې تر منځ هر څه او تر خاورو لاندې هر څه د ده دي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې چا ته څه او څومره ورکړي، پر دې تولو سربېره هغه د خپلو بندګانو ټيټ او جګ غږ اوري. هغه الله چې له ده پرته بل معبود نشته، پر ذکر شوو نومونو او صفاتو سربېره ئې بې شمېره غوره نومونه دي. د دغو لارښوونو مقتضيات دا دي:

- قريش دې دا ګمان نه کوي چې دا قرآن د يوه کمزوري، بې وسه او بې کسه داعي پيغام دئ، داسې چې منل او نه منل ئې ورته برابر دي، مقابله ئې کولی شي او مخه ئې نيولی شي، نه د دوی پر مخالفت بدې پايلې مرتب کېږي او نه ئې منل له روښانه مستقبل سره مخامخ کوي، دا د عالمونو د خالق، تولواك، حاکم او مالك له لوري نازل شوی، هم ئې د منلو نتائج روښانه دي او هم ئې د مخالفت پايلې وخيمې.

دلته پر عرش د رحمن رب د استوی الفاظ راغلي، چې څو اساسي مطالب افاده کوي: د زمکې او آسمانونو خالق او تولواك رب ډېر مهربان ذات دئ، خپل بندګان د بې رحمو ظالمانو په منګولو کې تر عذابونو لاندې او يوازې نه پرېږدي، اې مغرورو قريشو! ګمان مه کوئ چې الله تعالی به خپل پيغمبر او د ده مؤمن ملګري ستاسو تر تېريو او ظلمونو لاندې پرېږدي او مرسته به ئې نه کوي!! اې تر ظلمونو لاندې بې وزلو مؤمنانو! ډاډه اوسئ چې د عرش مهربان تولواك به خپل رحمت او پېرزوينه درپه برخه کوي او له دې بې وزلۍ او مظلوميت څخه به تاسو ژغوري، د خپلې بريا په اړه شك مه کوئ، د دښمن زور او ځواك دې تاسو له خپلې بريا ناهيلي نه کړي، ستاسو مل او مرستندوی هغه ذات دئ چې د آسمانونو، زمکې او د عالم د هر څه مالك او تولواك دئ، هغه چې ستاسو دعاګانې اوري، که دا په جګ غږ وي او که په ټيټ، که په پټه وي او که ښکاره. ستاسو د دښمن له څرګندو تبليغاتو او هڅو هم خبر دئ او له پټو توطئو او خصوصي غونډو او ويناوو ئې هم. هغه الله چې له ده پرته بل معبود نشته، پر ذکر شوو نومونو او صفاتو سربېره ئې بې شمېره غوره نومونه دي.

- دې ته مو پام وي چې دلته د (عرش) او (استوی) مجازي معنی مراد ده نه حقيقي او اصلي معنی ئې، نه د الله تعالی عرش د زمکې کوم تخت ته ورته دئ او نه پر عرش د الله تعالی استوی پر کوم تخت د انسان ناستې ته ورته، نه عرش مکان دئ او نه پر عرش د الله تعالی استوی له يوه ځای بل ته د الله تعالی انتقال او پر کوم ځای کې استقرار، مکان، له يوه ځای بل ته حرکت د مخلوق خصوصيات دي، الله تعالی په هيڅ څه کې مخلوق ته ورته نه دئ. له هر هغه تعبير څخه بايد ځان لرې وساتو چې له مخلوق سره د الله تعالی په تشبيه منتج کېږي. د استوی على العرش مراد دا دئ چې الله تعالی د آسمانونو او زمکې له پيدايښت وروسته هغه خپلې مخې ته نه دي پرېښې، بلکې د عالم د تولواك، حاکم او مالك په توګه ئې د تولو چارو زمام او واګې په خپل لاس کې نيولې دي.

وَهَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ۝٩ إِذۡ رَءَا نَارٗا فَقَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا

لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم مِّنۡهَا بِقَبَسٍ أَوۡ أَجِدُ عَلَى ٱلنَّارِ هُدٗى ﴿١٠﴾ فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ يَٰمُوسَىٰٓ
﴿١١﴾ إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَٱخۡلَعۡ نَعۡلَيۡكَ إِنَّكَ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوٗى ﴿١٢﴾ وَأَنَا ٱخۡتَرۡتُكَ
فَٱسۡتَمِعۡ لِمَا يُوحَىٰٓ ﴿١٣﴾ إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ
لِذِكۡرِيٓ ﴿١٤﴾

آیا د موسی قصه دررسېدلې، هغه مهال چې اور ئې ولید او خپل اهل (ټبر) ته ئې وویل: تم شئ، ما یو اور ولید، ښايي کومه لمبه به تاسو ته ترې راوړم یا به د اور خوا ته کومه لارښوونه ومومم. نو کله چې ورغی؛ پرې غږ شو: اې موسی! یقیناً چې زه ستا رب یم، نو پڼې دې وباسه، یقیناً چې ته د طوىٰ په سپېڅلي ناو کې یې، او یقیناً چې ما غوره کړې؛ نو هغه څه ته غوږ شه چې تا ته وحې کېږي. یقیناً چې زه هغه الله یم چې له ما پرته بل معبود نشته، نو زما عبادت کوه او زما د یادولو لپاره لمونځ کوه.

(۹-۱٤)- د دې مبارکو آیتونو په ارتباط لاندې خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته د موسی علیه السلام د قصې هغه برخه راغلې چې د سورې له اساسي مضامینو سره ژور تړاو لري، قصه له هغه ځایه پیل شوې چې موسی علیه السلام په مدین کې له اته یا لس کاله تېرولو وروسته د مصر په لوري خوځېدلی، مېرمن او بچیان ئې هم ورسره دي، د طوىٰ په دره کې لار ترې ورکه شوه، شپه پرې راغله، یخنی وه، د درې په اړخ کې ئې له لرې اور تر سترګو شو، مېرمنې او ماشومانو ته ئې وویل چې دلته تم شئ، زه د هغه اور خوا ته ورځم، یا به د اور کومه سکروټه ترې راوړم او یا به د اور خوا ته له غونډ شوو خلکو د لارې په اړه پوښتنه وکړم، خو کله چې هغه ځای ته ورنږدې شو نو د اور له څنګه پرې غږ شو: اې موسی! یقیناً چې زه ستا رب یم، نو پڼې دې وباسه، یقیناً چې ته د طوىٰ په سپېڅلي ناو کې یې، او یقیناً چې ما غوره کړې، نو هغه څه ته غوږ شه چې تا ته وحې کېږي. یقیناً چې زه هغه الله یم چې له ما پرته بل معبود نشته، نو زما عبادت کوه او زما د یادولو لپاره لمونځ کوه.

دلته څو مهمې لارښوونې زموږ مخې ته ځلېږي:

- موسی علیه السلام په داسې حال کې په پیغمبرۍ مبعوث شوی چې د یوه ستنېدونکي مهاجر په توګه خپل ملك ته روان دئ، اته یا لس کاله ئې له وطنه لرې تېر کړي، تر تعقیب لاندې وو، د اعدام پرېکړه ئې شوې وه، د همدې لپاره له وطنه تښتېدلی وو، له خپلې وړې کورنۍ سره د مصر په لور روان دئ، لار ترې ورکه شوې، د یوې سکروټې ترلاسه کولو په طمعه او په دې هیله چې د اور خوا ته غونډ شوي شپانه به لار وروښیي ورروان شو، د خپل انتظار خلاف ئې د الله تعالی دا وینا واورېده چې ما د پیغمبر په توګه غوره کړی یې، زما وحې ته غوږ شه، زما عبادت کوه او زما د یادولو لپاره لمونځ کوه. په دې سره قریشو ته ویل شوي چې رسول اللهﷺ هم د موسی علیه السلام په څېر په پیغمبرۍ مبعوث شوی، نه ئې تر بعثت وړاندې دا هیله کړې او نه داسې وینا او حرکت ترې لیدل شوی چې وښیي د داسې مقام ترلاسه کولو لپاره لېوال دئ. دی تاسو ته همغه څه وايي چې موسی علیه السلام خپل قوم ته ویل، ده ته همغه وحې کېږي چې موسی علیه السلام ته کېدله، د ده پیغام او وینا

همغه ده چې د موسی علیه السلام وه، دی همغسي د الله تعالی په عبادت او لمانځه گمارل شوی لکه چې موسی علیه السلام پرې گمارل شوی وو.

- دلته موسی علیه السلام ته ویل شوي چې پڼې دې وباسه، ځکه چې ته په سپېڅلي ځای کې یې، باید وگورو چې آیا په هر سپېڅلي ځای کې په پڼو لوڅول او پڼې ایستل ضروري او د پیغمبرانو علیهم السلام د تگلارې مطابق دي او د الله تعالی خوښېږي؟ آیا موږ هم مکلف یو چې په سپېڅلي ځای کې پښې لوڅې کړو، که نه؟ ځینې په دې باور دي چې رسول الله ﷺ په پڼو کې لمونځ کولو، هغوی د بخاري په دې روایت استناد کوي چې وایي:

عن سَعِيدُ بْنُ يَزِيدَ الأَزْدِيُّ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ أَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُصَلِّي فِي نَعْلَيْهِ قَالَ نَعَمْ. (بخاري:٣٨٦)

او له انس ﷺ روایت دئ چې پوښتنه ترې وشوه: آیا رسول الله له پڼو سره لمونځ کاوو؟ انس ﷺ وویل: هو.

دا روایت یو ځل بیا هم په بخاري کې تکرار شوی، دواړه روایتونه د الفاظو او محتوی له پلوه سره ورته دي او راوي ئې انس ﷺ دئ. خو دا روایات نه وایي چې پیغمبر علیه السلام ئې په جومات کې که له جوماته بهر، په سفر کې که په حضر کې، پر فرش که پر زمکه له پڼو سره په لمانځه لیدلی، تل ئې همداسې لیدلی که یو ځل؟ دا روایت له هغو ډېرو نورو روایاتو سره هم تعارض لري چې وایي رسول الله په لوڅو پښو او له پڼو پرته لمونځ کړی، که دا روایت د انس او هرماس رسول په څېر له کم عمره کسانو روایت شوی په مقابل کې ئې نور روایات د عائشې صلی په څېر له معروفو شخصیتونو روایت شوي، له بلې خوا قرآن وایي چې الله تعالی موسی علیه السلام ته د طور په غره کې د ملاقات پر مهال وویل چې پڼې دې وباسه، ته د طویٰ سپېڅلي درې کې یې، د روایت تعارض به له دې آیت سره څنگه توجیه کوو؟ دغو خبرو ته په پام سره ویلی شو چې له پڼو سره لمونځ یو استثنایي حالت دئ نه دائمي او ارجح حکم، همغسې لکه پر موزو مسحه چې استثنایي حالت دئ، غوره او ارجح رأیه دا ده چې له ضرورته پرته نه جومات ته له پڼو، څپلیو، بوټونو او کېپو سره ننوځو او نه پر مصلی او فرش لمونځ ورسره وکړو، په دې توگه به موږ د قرآن آیت هم مراعات کړی وي او پر حدیث به مو هم عمل کړی وي.

نور روایات دا دي:

عن عائشة صلی قالت رأیت رسول الله ﷺ یصلی حافیا ومتنعلا ویشرب قائما وقاعدا وینصرف عن یمینه وعن شماله ولا یبالی أي ذلك كان. رواه البیهقي

له عائشې صلی روایت دئ چې وایي: رسول الله مې لیدلی چې لوڅې پښې او له پڼو سره ئې لمونځ کړی، په ولاړه او ناسته ئې اوبه څښلې دي، او په ښي اړخ او کیڼ اړخ گرځېدلی، د دې پروا ئې نه کوله چې له دغو څخه کوم یو وي.

حَدَّثَنَا عَبْدُ الله حَدَّثَنِي أَبِي حَدَّثَنَا خَلَفُ بْنُ الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ- يَعْنِي الرَّازِىَّ- عَنْ مَطَرٍ الْوَرَّاقِ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ-صلى الله عليه وسلم- يُصَلِّي فِي نَعْلَيْهِ وَرَأَيْتُهُ يُصَلِّي حَافِياً وَرَأَيْتُهُ يَشْرَبُ قَائِماً وَرَأَيْتُهُ يَشْرَبُ قَاعِداً وَرَأَيْتُهُ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ وَرَأَيْتُهُ يَنْصَرِفُ عَنْ يَسَارِهِ. مسند احمد

عمرو بن شعیب د خپل پلار له لاري له خپل نیکه روایت کوي چي رسول الله مي لیدلی چي په خپلو پښو کي ئي لمونځ کاوو او لیدلی مي دئ چي لوڅي پښي ئي لمونځ کولو او لیدلی مي دئ چي په ولاړه ئي اوبه څښلي او لیدلی مي دئ چي په ناسته ئي اوبه څښلي او لیدلی مي دئ چي په ښي اړخ ګرځېدلی او لیدلی مي دئ چي په کیڼ اړخ ګرځېدلی.

که څوك پر زمکه له فرش او مصلی پرته لمونځ کوي کولی شي له خپلو پښو سره لمونځ وکړي، که بشپړه مصلی نه لري کولی شي د سجدې پر ځای وړه ټوټه وغوړوي او که نه سجده هم پر زمکه وکړي. ځکه په روایاتو کي راځي چي رسول الله همداسي کړي دي.

إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخۡفِيهَا لِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا تَسۡعَىٰ ﴿١٥﴾ فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنۡهَا مَن لَّا يُؤۡمِنُ بِهَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ فَتَرۡدَىٰ ﴿١٦﴾

یقیناً د قیامت ګړی راتلونکې ده، غواړم د دې لپاره ئې پټ وساتم چي هر کس ته د هغه څه (مطابق) بدله ورکړی شي چي کوي ئې، نو هغه څوك دي تا ترې منع نه کړي چي ایمان نه پرې راوړي او د خپل هوس متابعت کوي؛ که نه نو هلاك به شې.

(۱۵-۱٦)- په دې مبارکو آیتونو کي موسی علیه السلام ته د دوو نورو اساسي لارښوونو یادونه شوې: لومړی دا چي د قیامت ګړی حتماً راتلونکې ده، الله تعالی د دې ګړی د راتلو نېټه د دې لپاره له خلکو پټه ساتلې چي هر انسان د خپلو کړنو مطابق مکافات او مجازات شي، دوهمه دا چي د هغو خلکو عدم ایمان باید تا د وحي له متابعت منع نه کړي چي پر الله تعالی او آخرت ایمان نه راوړي او د خپل هوس متابعت کوي که نه نو هلاك به شې.

دلته دا مطلب وضاحت غواړي چي د قیامت د نېټي پټ ساتل د انسان له سعي او د سعي مطابق مکافات او مجازات سره څه تعلق لري؟ د سعي مطابق مکافات او مجازات خو په خپله له قیامت سره تعلق لري، دومره ویل کافي وو چي قیامت مي د دې لپاره ټاکلی چي هر چا ته د ده د کړنو مطابق سزا او جزا ورکړی شي. ځواب دا دئ چي انسان د داسي آزموینې لپاره تل ځان چمتو ساتي او تیاری ورته نیسي چي نېټه ئې معلومه نه وي او هره شېبه داسي انګېرې چي ښایي همدا اوس او څو شیبې وروسته به آزموینه پیل شي، خو که د آزموینې له نېټي خبر شي او هغه ځندمنه وي نو له ځان سره وايي: لا ډېر وخت پاته دئ، وروسته به تیاری ونیسم، دغه حکمت ته په پام سره الله تعالی د هغې د پټ ساتلو پرېکړه کړې ده.

وَمَا تِلۡكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿١٧﴾ قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّؤُاْ عَلَيۡهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَـَٔارِبُ أُخۡرَىٰ ﴿١٨﴾ قَالَ أَلۡقِهَا يَٰمُوسَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَلۡقَىٰهَا فَإِذَا هِيَ

حَيَّةٌ تَسْعَىٰ ﴿٢٠﴾ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا ٱلْأُولَىٰ ﴿٢١﴾ وَٱضْمُمْ
يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ ءَايَةً أُخْرَىٰ ﴿٢٢﴾ لِنُرِيَكَ مِنْ ءَايَـٰتِنَا
ٱلْكُبْرَى ﴿٢٣﴾ ٱذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿٢٤﴾

او اې موسی! دا په ښي لاس کي دي څه دي؟ وئې ویل: دا مي عصا ده، پرې تکيه کوم، او خپلو میږو ته پاڼې پرې راڅندم، او نور حاجتونه ورته لرم (نور حاجتونه مي پرې ترسره کوم)، وئې ویل: اې موسی! وئې غورځوه، نو کله چي ئې وغورځوله ناڅاپه داسي مار شوه چي ځغستل ئې، وئې ویل: دروائې خله! او مه وېرېږه، لومړنی حالت به ئې وراعاده کړو، او خپل لاس دي له تخرګ سره جوخت کړه چي له کوم داغ پرته تك سپین راووځي، د یوې بلي نښي په توګه، تر څو ځیني ستر ستر آیتونه مو دروښیو، د فرعون لوري ته ولاړ شه چي یقیناً هغه طغیان کړی.

(۱۷-۲٤)- د دې مبارکو آیتونو مهمي مهمي لارښووني دا دي:

- موسی علیه السلام له خپلي عصا سره یبلي پېښې د خپل رب په وړاندي ولاړ دئ، پوښتنه تري کوي: اې موسی! دا په لاس کي دي څه دي؟ ځواب ورکوي: دا مي عصا ده، پرې تکیه کوم، او خپلو میږو ته پاڼې پرې راڅنډم او ځیني نور حاجتونه ورته لرم، څه نور حاجتونه مي پرې ترسره کوم، وئې ویل: وئې غورځوه، نو کله چي ئې وغورځوله ناڅاپه داسي مار تري جوړ شو چي تېز تېز ئې ځغستل، وېره پرې راغلې، الله تعالی ورته فرمایلي: مه وېرېږه، په ډاډه زړه ئې دروا‌خله، لومړني حالت ته به ئې اعاده کړو، بېرته به ستا مخکنۍ عصا تري جوړه کړو، دا به ستا یوه معجزه وي، او بله دا چي خپل لاس دي له تخرګ سره جوخت کړه چي له کوم داغ پرته تك سپین راووځي، او دا ئې ستا بله معجزه، دا دوه معجزې به زما د ګڼ شمېر نورو معجزو پیلامه او مقدمه شي، په دې سره به تا ته ستري ستري معجزې دروښیو، له دغو معجزو سره د فرعون لوري ته ولاړ شه چي یقیناً هغه طغیان کړی.
- د دې مبارکو آیتونو په ترڅ کي موږ ته ویل شوي چي موسی علیه السلام ته دوه معجزې ورکړې شوې: خپله عصا ئې یوه معجزه او خپل سپین لاس ئې بله معجزه، په همدې دوو معجزو سره الله تعالی د خپل قدرت نوري ستري ستري معجزې وروښودې: فرعون، فوځ او نظام ئې په همدغو دوو معجزو سره مات کړل، د بني اسرائیلو مظلوم، بې وزلی او تر سختو سختو عذابو لاندي قوم ئې نه یوازي وژغورو بلکي د زمکي

خلافت، د فرعون د شتمنيو وراثت او د نړۍ د ټولو قومونو فکري قيادت او زعامت ئې دغه قوم ته په ميراث ورکړ. نو که تاسو د موسى عليه السلام په لار د تلو هوډ وکړئ، د فرعونيانو مقابلې ته چمتو شئ، نو مطمئن اوسئ چې ستاسو د سپين لاس عصا به د موسى عصا شي او الله تعالى به د زمانې د فرعون لښکرې پرې ماتې کړي.

قَالَ رَبِّ ٱشۡرَحۡ لِي صَدۡرِي ﴿٢٥﴾ وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي ﴿٢٦﴾ وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةٗ مِّن لِّسَانِي ﴿٢٧﴾
يَفۡقَهُواْ قَوۡلِي ﴿٢٨﴾ وَٱجۡعَل لِّي وَزِيرٗا مِّنۡ أَهۡلِي ﴿٢٩﴾ هَٰرُونَ أَخِي ﴿٣٠﴾ ٱشۡدُدۡ بِهِۦٓ
أَزۡرِي ﴿٣١﴾ وَأَشۡرِكۡهُ فِيٓ أَمۡرِي ﴿٣٢﴾ كَيۡ نُسَبِّحَكَ كَثِيرٗا ﴿٣٣﴾ وَنَذۡكُرَكَ كَثِيرًا ﴿٣٤﴾ إِنَّكَ
كُنتَ بِنَا بَصِيرٗا ﴿٣٥﴾

وئې ويل: اې زما ربه! سينه مې راته پرانېزه، کار مې راته آسانه کړه، د ژبې عقده (غوټه) مې راته وسپړه، چې په خبرې مې پوه شي، او له خپل ټبره يو مرستندوى راته وټاکه، زما ورور هارون، په هغه سره مې ملا مضبوطه کړه، او زما په کار کې ئې راسره شريک کړه، چې ډېر دې په تسبيح لګيا وو او ډېر دې ياد کړو، يقيناً چې ته مو ښه ليدونکى يې.

(۲۵-۳۵)- دلته د موسى عليه السلام څو ډېرې ښکلې او جامع دعاګانې راورل شوې، داسې دعاګانې چې هر هغه مجاهد ئې بايد خپل رب ته وکړي چې د فرعونانو مقابلې ته ملا تړي:

- اې زما ربه! سينه مې راته پرانېزه، لويه حوصله، پراخه سينه او صبرناك زړه را!
- کار مې راته آسانه کړه، له سختو سختو آزموينو سره مې مه مخامخ کوه، ګران ګران کارونه راته آسانه کړه او زما ستونزې راته حل کړه.
- د ژبې غوټه مې راته وسپړه، د ژبې طلاقت راپه برخه کړه، فصيح او ژبه ور داعي مې کړه، داسې چې خلك مې په خبرې پوه او منلو ته چمتو شي.
- له خپل ټبره يو مرستندوى راته وټاکه، زما ورور هارون، په هغه سره زما ملاتړ وکړه او مټ مې مضبوط کړه، او زما په کار کې ئې راسره شريك کړه، دا بار درونډ دئ، زه ئې په يوازې سر له وړلو عاجز يم، مرستيال ته اړ يم.
- چې ډېر دې په تسبيح لګيا وو او ډېر دې ياد کړو، دواړه به په ګډه وتوانېږو چې په ښه توګه ستا اوامر پر ځاى کړو، په هر ځاى کې ستا نوم ياد کړو، هر چا ته ئې ورسوو.
- يقيناً چې ته مو ښه ليدونکى يې، له حال او احوال مو خبر يې، زموږ وضعيت ښه درته معلوم دئ.

قرآن په نورو آيتونو کې د دې مزيد وضاحت کوي او وايي: موسى عليه السلام ځان د دې ستر مأموريت وړ نه ګڼي، دا دنده تر خپل وس لوړه او درنه بولي، ځان تر دې عاجز ګڼي

چي دا ستر مسئوليت په غاړه واخلي او له عهدې ئې بريالى ووځي، دوه دلايل وړاندي کوي: ١- ما د دوى يو کس وژلى، ما ته د دښمن په سترګه ګوري، وېرېږم چي وبه مي وژني، مخکي له دې چي خپل دعوت پيل کړم. ٢- د زعامت او مشرتابه لپاره چي کوم فصاحت ته ضرورت دئ زه ترې محروم يم، تر ما هارون فصيح او ژبه ور دئ، دا دنده هغه ته وسپاره. الله تعالى هارون عليه السلام د ده د مرستيال په توګه ګماري او اطمئنان ورکوي چي دښمن هيڅ تاوان نه شي دررسولى. په نورو آيتونو کي د دې مزيد تفصيل راغلى او فرمايي چي موسى عليه السلام ته وويل شو: د فرعون مقابلې ته ولاړ شه، د بني اسرائيلو د آزادۍ لپاره، هغه بغاوت کړى، د خپلي بريا په اړه ډاډه اوسه، زما آيتونه ستا د بريا لپاره کافي دي.

قَالَ قَدۡ أُوتِيتَ سُؤۡلَكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَيۡكَ مَرَّةً أُخۡرَىٰٓ ﴿٣٧﴾ إِذۡ أَوۡحَيۡنَآ
إِلَىٰٓ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰٓ ﴿٣٨﴾ أَنِ ٱقۡذِفِيهِ فِي ٱلتَّابُوتِ فَٱقۡذِفِيهِ فِي ٱلۡيَمِّ فَلۡيُلۡقِهِ ٱلۡيَمُّ
بِٱلسَّاحِلِ يَأۡخُذۡهُ عَدُوّٞ لِّي وَعَدُوّٞ لَّهُۥۚ وَأَلۡقَيۡتُ عَلَيۡكَ مَحَبَّةٗ مِّنِّي وَلِتُصۡنَعَ عَلَىٰ
عَيۡنِيٓ ﴿٣٩﴾ إِذۡ تَمۡشِيٓ أُخۡتُكَ فَتَقُولُ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ مَن يَكۡفُلُهُۥۖ فَرَجَعۡنَٰكَ إِلَىٰٓ
أُمِّكَ كَيۡ تَقَرَّ عَيۡنُهَا وَلَا تَحۡزَنَۚ وَقَتَلۡتَ نَفۡسٗا فَنَجَّيۡنَٰكَ مِنَ ٱلۡغَمِّ وَفَتَنَّٰكَ فُتُونٗاۚ
فَلَبِثۡتَ سِنِينَ فِيٓ أَهۡلِ مَدۡيَنَ ثُمَّ جِئۡتَ عَلَىٰ قَدَرٖ يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٠﴾ وَٱصۡطَنَعۡتُكَ لِنَفۡسِي
﴿٤١﴾ ٱذۡهَبۡ أَنتَ وَأَخُوكَ بِـَٔايَٰتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكۡرِي ﴿٤٢﴾ ٱذۡهَبَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ
طَغَىٰ ﴿٤٣﴾ فَقُولَا لَهُۥ قَوۡلٗا لَّيِّنٗا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوۡ يَخۡشَىٰ ﴿٤٤﴾

وئې ويل: اې موسى! يقيناً چي غوښتني دي درکړى شوې، او يقيناً چي يو ځل بيا مو هم پر تا پېرزوينه کړې وه، هغه مهال چي ستا مور ته مو د هغه څه وحي وکړه چي په اشارې سره ښودل کېږي، چي په صندوق کي ئې واچوه، بيا ئې په سيند کي وغورځوه، چي سيند ئې په ساحل کي وغورځوي، چي زما او د ده دښمن ئې واخلي، او له خپل لوري مي محبت درباندي وغوړاوو، او چي زما تر نظر لاندي ستا روزنه وشي، هغه مهال چي ستا خور تلله او ويل ئې: آيا داسي څوك دروښيم چي پالنه ئې وکړي؟، نو د خپلي مور لوري ته مو ستون کړې چي سترګي ئې يخي شي او غمجنه نه وي، او يو

كس دي ووژلو، نو له اندېښنو مو وژغورلې، او په ډول ډول آزموينو مو وآزمويلې، نو څو كاله په مدين والو كي پاته شوې، بيا اې موسى! د تقدير مطابق (دلته) راغلې. او د ځان لپاره مي جوړ كړې، ته او ورور دي زما له آيتونو سره ولاړ شئ او زما په يادوني كي سستي مه كوئ. فرعون ته ورشئ چي يقيناً هغه سركښي كړې ده، او پسته وينا ورته وكړئ، ښايي پند واخلي او ووېرېږي.

(۳٦-٤٤)- د دې مباركو آيتونو خلاصه مطالب دا دي:

- الله تعالى موسى عليه السلام ته وفرمايل: اې موسى! ستا غوښتني ترسره او دعاگاني دي قبولي شوې، تر دې وړاندي مي هم پر تا پېرزوينه كړې وه، هغه مهال چي ستا مور مي د وحي له لاري پوه كړه چي زوى دي په صندوق كي كېږده، صندوق په سيند كي پرېږده، سيند به ئې په ساحل كي وغورځوي، زما او د ده دښمن به ئې ورواخلي.
- پر تا مي له خپل لوري د محبت داسي جاذبه وغوړوله چي د هر ليدونكي زړه ئې ځان ته راكاږو، غوښتل مي ستا روزنه زما تر نظر لاندي بشپړه شي، د فرعونيانو لاس ته ورغلې، د محبت دغه جاذبه باعث شوه چي د فرعون مېرمن ستا د وژلو مخنيوى وكړي، د داسي چا په لټه كي شي چي تا ته تى دركړي او ستا پالنه په غاړه واخلي، همدا مهال ستا خور راورسېده او وئې ويل: آيا داسي څوك دروښيم چي پالنه ئې وكړي؟، په دې توگه مو د خپلي مور لوري ته ستون كړې چي سترگي ئې يخي شي او غمجنه نه وي.
- بيا هغه وخت درياد كړه چي يو كس ستا په لاس ووژل شو، مشوش او لالهانده وې، موږ له اندېښنو وژغورلې.
- بيا ستا د آزموينو لړۍ پيل شوه، په ډول ډول آزموينو مو وآزمويلې، له مصر څخه وتلو ته اړ شوې، څو كاله په مدين كي پاته شوې.
- بيا اې موسى! د تقدير مطابق دلته د طوىٰ درې ته راغلې. ته او ورور دي زما له آيتونو سره ولاړ شئ او زما په يادوني كي سستي مه كوئ. فرعون ته ورشئ چي يقيناً هغه سركښي كړې ده، او پسته وينا ورته وكړئ، ښايي پند واخلي او ووېرېږي.
- دې ته مو پام وي چي په (وَلِتُصۡنَعَ عَلَىٰ عَيۡنِيٓ) كي مراد دا دئ: او چي زما تر نظر لاندي ستا روزنه

وشي، هغه خلك چي تل د الفاظو په ظاهري او متبادري معنى پوري نښلي د دې فقرې له صحيح تعبير او توجيه عاجز پاته كېږي، د الفاظو ظاهري معنى داسي راخېژي: او چي زما پر سترگو جوړ كړى شي، خو دا تعبير نه كوم صحيح مطلب او معنى افاده كوي او نه حقيقت لري.

قَالَا رَبَّنَآ إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفۡرُطَ عَلَيۡنَآ أَوۡ أَن يَطۡغَىٰ ﴿٤٥﴾ قَالَ لَا تَخَافَآۖ إِنَّنِي
مَعَكُمَآ أَسۡمَعُ وَأَرَىٰ ﴿٤٦﴾ فَأۡتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرۡسِلۡ مَعَنَا بَنِيٓ
إِسۡرَٰٓءِيلَ وَلَا تُعَذِّبۡهُمۡۖ قَدۡ جِئۡنَٰكَ بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكَۖ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلۡهُدَىٰٓ

﴿إِنَّا قَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡنَآ أَنَّ ٱلۡعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ٤٨﴾ ٤٧

دواړو وویل: اې زموږ ربه! موږ له دې وېرېږو چې تېرى راباندې وکړي او طغيان (لازيات) کړي. وئې ويل: مه وېرېږئ، زه درسره يم، اورم او وينم، نو ورشئ او (ورته) ووايئ: موږ ستا د رب استازي يو نو بني اسرائيل راسره ولېږه او (نور ئې) مه تعذيبوه، يقيناً چې ستا د رب له لوري مو څرګنده نښه درته راوړې، او پر هغه چا دې سلام وي چې په هدايت پسي درومي، يقيناً چې موږ ته وحي شوې چې عذاب د هغه چا په برخه کېږي چې (حق) تکذيب کړي او مخ (ترې) واړوي.

(٤٥-٤٨)- د دې مبارکو آيتونو خلاصه داسي ده:

- موسى او هارون عليهما السلام خپل رب ته عرض وکړ: اې زموږ ربه! موږ له دې وېرېږو چې فرعون به تېرى راباندې وکړي او طغيان او سرکښي به ئې لازياته شي، د القصص په سورې کي راغلي چې موسى عليه السلام هم د فرعونيانو له پلوه مشوش وو او دا انديښنه ورسره وه چې زه د دوى پوروړى يم، ما د دوى يو کس وژلى، ما ته د دښمن په سترګه ګوري، وېرېږم چې وبه مي وژني، مخکي له دې چې خپل دعوت پيل کړم. ښايي ما ته د دې فرصت هم رانه کړى شي چې خپل پيغام خلکو ته ورسوم، په قتل تورن يم، له تلو سره سم به زما د وژلو پرېکړه کوي او بني اسرائيل به ما ته د شك په سترګه ګوري، ځکه چې زه څه موده د فرعون په کور کي پاته شوى يم، زما په اړه به دا فکر کوي چې د قيادت او مشرى شوق او تلوسه ئې د فرعون له کوره ترلاسه کړې، د دې په ځاى چې ما يو پيغمبر وګڼي ما به د اقتدار وږى او د پيغمبرى دروغجن مدعي وشمېري!! ګورئ چې موسى عليه السلام هم د قبطيانو له غبرګونه انديښنه لري او هم د اسرائيليانو، هم له دوست او هم له دښمنه، قرآن حالات داسي انځور کړي چې موسى عليه السلام له هيڅ پلوه د مصر شرايط د ځان او خپل دعوت په ګټه نه ګڼي، يوازي دئ، د دې دروند پېټي د وړلو توان او حوصله په ځان کي نه ګوري، فقط يوه عصا ورسره ده، نه د دوست مثبت غبرګون ته طمع لري او نه د دښمن له پلوه څه ډاډ او اطمئنان لري، خو له دې ټولو سره سره وروستۍ فتح د ده په برخه شوه او مجهز دښمن ئې له ماتې سره مخامخ شو!!
- الله تعالى وفرمايل: مه وېرېږئ، زه درسره يم، اورم او وينم، زما تر عنايت او رعايت لاندي يئ، فرعون ته ورشئ او ورته ووايئ: موږ ستا د رب استازي يو نو بني اسرائيل راسره ولېږه او له تعذيبولو ئې لاس واخله، يقيناً چې ستا د رب له لوري له څرګندي نښي سره تا ته راغلي يو، او سلامتيا دې پر هغه چا وي چې د لارښووني متابعت کوي. يقيناً چې موږ ته وحي شوې چې عذاب د هغه چا په برخه کېږي چې حق تکذيب کړي او مخ ترې واړوي.

قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٩﴾ قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِيٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ
﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ ٱلۡقُرُونِ ٱلۡأُولَىٰ ﴿٥١﴾ قَالَ عِلۡمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَٰبٖۖ لَّا يَضِلُّ
رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴿٥٢﴾ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا وَسَلَكَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا وَأَنزَلَ

مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجًا مِّن نَّبَاتٖ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾ كُلُواْ وَٱرۡعَوۡاْ أَنۡعَٰمَكُمۡۚ
إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ ﴿٥٤﴾ ۞مِنۡهَا خَلَقۡنَٰكُمۡ وَفِيهَا نُعِيدُكُمۡ وَمِنۡهَا نُخۡرِجُكُمۡ
تَارَةً أُخۡرَىٰ ﴿٥٥﴾

وئې ويل: اې موسى! نو دا ستاسو رب څوك دئ؟ وئې ويل: زموږ رب هغه دئ چې هر څه ته ئې خپل خپل جوړښت وركړى بيا ئې لارښوونه (ورته) كړې، وئې ويل: نو د مخكنيو نسلونو به څه حال وي، وئې ويل: د دې علم زما له رب سره په كتاب كي (ليكلى) دئ، زما رب نه تېروځي او نه ئې (څه) هېرېږي، هغه چې زمكه ئې تاسو ته زانګو ګرځولې او په هغې كې ئې لارې درته پرانيستې دي، او له آسمانه ئې اوبه راورولې او په دې سره ئې د ډول ډول بوټو جوړې جوړې راوايستلې، وخورئ او خپل څاروي وڅروئ، يقيناً چې په دې كي عقلمنو ته څرګندې نښې دي، له همدې مو پيدا كړئ او همدې ته مو بيا ورګرځوو او له همدې مو يو ځل بيا راباسو.

(٤٩-٥٥)- په دې مباركو آيتونو كي د موسى عليه السلام او د فرعون يوه په زړه پوري او ډېره جالبه مناقشه او سؤال و ځواب راغلى، په دې توګه:

- فرعون موسى عليه السلام ته وويل: اې موسى! نو دا ستاسو رب څوك دئ؟ موسى عليه السلام وويل: ~~زموږ رب هغه دئ چي هر څه ته ئې خپل خپل جوړښت او ځانګړى ځانګړى شكل وركړى، بيا ئې لارښوونه~~ ورته كړې، هر څه ته ئې خپل خپل مسير ټاكلى، هر څه په هغه لار درومي او په همغه كار بوخت وي چي الله تعالى ورته غوره كړى.
- فرعون وويل: نو د مخكنيو نسلونو به څه حال وي، د هغو خلكو چي ستا دا خبري ئې نه دي اورېدلې، ستا پر خداى له ايمان پرته تللي؟! په دې پوښتني سره فرعون غوښتل موسى عليه السلام د مخكنيو په اړه داسي څه ووايي چي د خلكو حساسيت تحريك شي، فرعون ترې استفاده وكړي او خلكو ته ووايي: دا دئ موسى ستاسو د پلرونو په اړه وايي چي دوزخ ته تللي او په الهي عذاب اخته شوي، دا د موسى عليه السلام د وينا د هغي برخي په عكس العمل كي وه چي وئې ويل: يقيناً چي موږ ته وحي شوې چي عذاب د هغه چا په برخه كېږي چي حق تكذيب كړي او مخ ترې واړوي. دا په حقيقت كي د پيغبرانو عليهم السلام په ضد د ټولو كفري ځواكونو يوه كاري حربه ده، هغوى تل پر پلرني دين د ټينګار تر نامه لاندي خلك غولوي او د داعيانو په ضد ئې پاروي، قرآن وايي چي دا د مستكبرينو تر ټولو لوى مكر دئ، موسى عليه السلام ځواب وركړ: د دې علم زما له رب سره په كتاب كي ليكلى دئ، زما رب نه تېروځي او نه ئې څه هېرېږي، پوهېږي چي له هغوى سره څه وكړي او د كومي معاملې وړ دي.

موسى عليه السلام د فرعون وروستۍ پوښتني ته عالمانه او حكيمانه ځواب وركړ او په بې ګټې بحث كي له لوېدو ئې ډډه وكړه، او په دې سره قرآن موږ ته لارښوونه كوي چي د مخكنيو په اړه له بې ګټو مناقشو او بحثونو ځان لرې وساتئ، د قرآن دا لارښوونه په دې مبارك آيت كي په لازيات صراحت سره زموږ مخي ته ځلېږي چي وايي: د مخكنيو صالحانو په

اړه هم له مناقشو ډډه وکړئ: تِلۡكَ أُمَّةٞ قَدۡ خَلَتۡۖ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَلَكُم مَّا كَسَبۡتُمۡۖ وَلَا تُسۡـَٔلُونَ عَمَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٤١﴾ البقره: ١٤١: دا خو يوه ډله وه چې تېره شوه، دوی لره به خپله لاسته راوړنه وي او تاسو ته خپله لاسته راوړنه او تاسو به د دوی له کړنو څخه نه پوښتل کېږئ.

الله تعالی په دې آيت کې مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې د مخکنيو صالحانو په سر له جاهلانو سره په شخړو او منازعاتو کې ځان مه مصروفوئ، د دې پر ځای خپل عمل ته پام وکړئ، هغه څه چې تاسو له عذاب ژغورلی شي ستاسو خپل عمل دئ نه بل څه.

- موسی عليه السلام فرعون ته مزيد وويل: زما رب هغه دئ چې زمکه ئې تاسو ته زانګو ګرځولې او په هغې کې ئې لارې درته پرانيستې دي، او له آسمانه ئې اوبه راورولې او په دې سره ئې د ډول ډول بوټو جوړې جوړې راوايستلې، د دې لپاره چې هم ئې تاسو وخورئ او هم خپل څاروي وڅروئ، يقيناً چې په دې کې عقلمنو ته څرګندې نښې دي، ګورئ چې دلته قرآن يو ځل بيا وايي چې بوټي او نباتات مو جوړه جوړه پيدا کړي، يعني نر او ښځه، د دوی دانې او مېوې د هغو ګردونو له يو ځای کېدا جوړېږي چې ځينې ئې نارينه خصوصيات لري او ځينې ئې ښځينه.
- **د پنځه پنځوسم آيت په وروستۍ فقره کې راغلي: زما رب همغه دئ چې وايي: له همدې زمکې مې پيدا کړئ او همدې ته مو بيا ورګرځوم او له همدې مو يو ځل بيا راباسو!! د دې معنی دا ده چې په لومړي ځل ئې هم له دغې زمکې راايستلي يو او د قيامت په ورځ به مو يو ځل بيا له همدې زمکې راباسي، او دا همغه مطلب دئ چې د نوح د سورې په ١٧ آيت کې داسې راغلی: وَ اللّهُ أَنبَتَكُم مِّنَ الأَرْضِ نَبَاتاً: او الله له زمکې راوټوکولئ په ځانګړې توکولو سره.**

وَلَقَدۡ أَرَيۡنَٰهُ ءَايَٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾

او يقيناً چې خپل ټول آيتونه مو وروښودل خو هغه تکذيب کړل او سرغړاوی ئې وکړ.

~~(٥٦)- دا مبارک آيت وايي چې الله تعالی فرعون ته ټول آيتونه وښودل، دلته د (ټولو آيتونو) مراد هم ټول هغه~~ اغېزمن دلائل دي چې د موسی عليه السلام له لوري هغه ته اورول شوي، او هم هغه معجزې چې موسی عليه السلام ورښودلې. خو ده نه دلائل ومنل او نه ئې معجزو ته اعتناء وکړه، آيتونه ئې تکذيب کړل او له ايمان راوړو ئې ډډه وکړه.

قَالَ أَجِئۡتَنَا لِتُخۡرِجَنَا مِنۡ أَرۡضِنَا بِسِحۡرِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٥٧﴾ فَلَنَأۡتِيَنَّكَ بِسِحۡرٖ مِّثۡلِهِۦ فَٱجۡعَلۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكَ مَوۡعِدٗا لَّا نُخۡلِفُهُۥ نَحۡنُ وَلَآ أَنتَ مَكَانٗا سُوٗى ﴿٥٨﴾ قَالَ

مَوۡعِدُكُمۡ يَوۡمُ ٱلزِّينَةِ وَأَن يُحۡشَرَ ٱلنَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾ فَتَوَلَّىٰ فِرۡعَوۡنُ فَجَمَعَ كَيۡدَهُۥ ثُمَّ أَتَىٰ ﴿٦٠﴾

وئې ويل: اې موسی! آيا د دې لپاره راغلی يې چي په خپلو کوډو سره موږ له خپلي زمکي (هېواد) وباسې؟، نو هرومرو به دې ته ورته کوډې درته راوړو، نو زموږ او ستا ترمنځ يوه داسي نېټه وټاکه چي نه موږ ترې شا ته شو او نه ته، يو مناسب ځای، وئې ويل: نېټه مو د جشن ورځ ده او دا چي خلك دې غرمه راغونډ کړی شي. نو فرعون مخ واړاوو (او ولاړ) او خپل تدبيرونه ئې راغونډ کړل او (بېرته) راغی.

(۵۸-٦۰)- د دې مبارکو آيتونو خلاصه مطالب دا دي:

- ~~فرعون د موسی عليه السلام د معجزو له ليدو وروسته د ايمان راوړلو پر ځای دا هڅه~~ **وکړه چي پر خلکو د دغو معجزو اغېز په دې توګه له منځه يوسي چي هغوی ته ووايي: دا همغسي کوډې دي چي تاسو ئې ببلګي هره ورځ د مصر په کوڅو کي ګورئ، هغه کوډګر چي دکانونه ئې پرانيستي او د څو پيسو په بدل کي کوډې کوي، خلکو ته تعويذونه ورکوي او د خپل لاس او جادو هنر ورانډې کوي، موسی هم د دوی له ډلي دئ، د قرآن په نورو آيتونو کي ويل شوي چي فرعون وويل: دا د جادوګرانو استاد او مشر دئ. او دا هغه تور دئ چي پر ټولو پيغمبرانو لګول شوی، د دې وجه دا ده چي د مخکنيو جاهلو قومونو مذهبي مشران اکثراً هغه خلك ول چي فالونه به ئې نيول، تعويذونه به ئې ورکول، کوډې به ئې کولې، او له همدې لاري به ئې خلك شکول او د شکرانو او نذرانو په نامه به ئې له غولېدلو خلکو پيسې ترلاسه کولې، د دوی سياسي او قومي مشرانو به د پيغمبرانو عليهم السلام په ضد خلکو ته ويل: دا د پيغمبری مدعيان ستاسو د مذهبي مشرانو په څېر دي، دوی هم د دين او مذهب په نامه څه زهر او زقوم ترلاسه کول غواړي، ولي خپل مخکني مذهبي مشران پرېږدئ او په دوی پسي ځئ؟!! د الشعراء په سورې کي راغلي چي فرعون خپل قوم ته همدا خبره وکړه، فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَـٰتِ يَوۡمٍ مَّعۡلُومٍ ﴿٣٨﴾ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلۡ أَنتُم مُّجۡتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُواْ هُمُ ٱلۡغَـٰلِبِينَ ﴿٤٠﴾ الشعراء:۳۸-۴۰**

کوډګران د معلومي ورځي ميقات ته راغونډ کړی شول او خلکو ته وويل شول: آيا تاسو هم غونډېدونکي ياست؟ تر څو د سحره وو متابعت وکړو که غالب شول.

- دا آيتونه وايي چي سحره د حاکم نظام په خدمت کي دي او د اربکيو په ذريعه را غونډېږي او د مسابقې ميدان ته سوق کېږي، دوی د عام ولس د راغونډولو وسيله ګرځوي، خلکو ته وويل شول: که دا سحره غالب شول

د دوی متابعت به کوو، دوی زموږ خپل مخکني او منل شوي مذهبي مشران دي، ولي به نوی مذهب او نوی مشر منو؟!! خو کله چي همدا سحره ماتي خوري، د موسی علیه السلام د دعوت پر حقانیت پوهېږي، ایمان راوړي، ګورئ چي فرعون ئې په مرګ او لاس پښو قطع کولو ګواښي !!

• فرعون موسی علیه السلام ته وویل: اې موسی! آیا د دې لپاره راغلی یې چي په خپلو کوډو سره موږ له خپلي زمکي (هېواد) وباسې؟، غواړې په دې ملك کي فساد او بې امني خوره کړې، غواړې د قبطیانو واکمني نسکوره کړې، خپل قوم مسلط کړې، یو ځل بیا د مصر واکمني همغسي ستاسو په لاس کي پرېوځي چي د یوسف علیه السلام په وخت کي ستاسو په لاس کي پرېوتي وه، غواړې قبطیان له مصره وشړې؟ د فرعون دا ټولي خبري د قرآن په نورو آیتونو کي راغلي دي او دا د دې لپاره وې چي قبطیان د موسی علیه السلام په ضد تحریك کړي او د موسی علیه السلام د دعوت د بریا او غلبې له پایلو ئې ووېروي، د مصر دغه ځانګړي اجتماعي حالت ته په پام سره ده چي موسی علیه السلام فرعون ته وایي: بني اسرائیل پرېږده چي له ما سره یو ځای له مصر ووځو او د خپل جد یعقوب علیه السلام سیمي ته ستانه شو، د دوی له مزید ځورولو لاس واخله.

• فرعون غواړي خلکو ته عملاً وښیي چي موسی علیه السلام د کوډګرو د ډلي یو فرد دئ، موسی علیه السلام ته بلنه ورکوي چي د مصر د کوډګرو مقابلې ته چمتو شه، د مقابلې نېټه وټاکه، دواړه باید کلکه ژمنه وکړو چي له دې نېټې به نه ترشا کېږو، داسي ځای وټاکه چي ټول خلك په آساني ورته راتلی شي. د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کي معلومېږي چي په دې وینا سره مؤمنانو ته دا لارښوونه کوي چي ستاسو په ضد به د دښمن له لوري لومړی پرانستېدونکي جبهه له هغو خلکو جوړېږي چي د مذهب تر نامه او شعار لاندي ستاسو مقابله کوي، کوم کار چي د مصر فرعون د موسی علیه السلام په ضد وکړ او د مصر مذهبي مشران (جادوګران) ئې د مقابلې لومړی کرښې ته ولېږل همداسي به د زماني هر فرعون د هر واقعي دیني تحریك په ضد دین پلورونکي مذهبي مشران استخداموي او د جنګ لومړی کرښې ته به ئې لېږي. د افغانستان د اسلامي نهضت په ضد د وخت حاکم ظاهر شاه همداسي یوه ډله جوړه او د مقابلې لپاره ئې لومړی کرښې ته ولېږله، کمونیستانو د شئون اسلامي په نامه وزارت جوړ کړ، ایمان پلورونکي ملایان ئې په کي راغونډ کړل او د مجاهدینو په ضد ئې فتواګاني پرې لاسلیك کولې، امریکایانو همدا کار وکړ، داسي د سپینو جامو تور زړي دین او ایمان پلورونکي ئې استخدام کړل چي د دوی په ضد جهاد ناروا وګڼي، حتی ځینو ئې وویل چي امریکایان د مستأمن حکم لري او د مستأمن وژل حرام دي!! امریکایانو په عراق کي همدا کار وکړ، یو شیعه آخوند ئې چي ایران ئې د حضرت آیت الله العظمی، مرجع بزرګ تشیع عراق په نامه یادوي کویټ ته وغوښت، دوه سوه ملیونه ډالر ئې ورکړل، انګریزانو د درملني او علاج تر نامه لاندي لندن ته وغوښت او جیب ئې ورډك کړ، چي د عراق شیعه له صلیبي یرغلګرو سره ملګرتیا ته چمتو کړي، همداسي ئې وکړل، شیعه ئې دې ته چمتو کړل چي د امریکایانو تر قوماندې لاندي د مجاهدینو په ضد وجنګېږي. تر دې وړاندي د نصیرالدین طوسي او ابن علقمي په څېر د دوی دین پلورونکو مشرانو د هلاکو او چنګیز لپاره د بغداد د سقوط لار آواره کړه.

• الله تعالی همدا غوښتل چي د موسی علیه السلام د دعوت حقانیت ټولو خلکو ته جوت شي، په خپلو سترګو وګوري چي موسی علیه السلام د الله رسول دئ او په خپلو غوږو د ده الهي پیغام واوري، موسی علیه السلام ته ممکنه نه وه چي له بلې لاري خپل پیغام په دومره آساني سره او د یوې ستري غونډې په ترڅ کي خلکو ته ورسوي، الله تعالی د دښمن په لاس دا غونډه ورته جوړه کړه، همغسي لکه چي د دښمن په لاس ئې د سند له څېو ژغورلی وو او همغسي لکه چي د دښمن په کور کي ئې روزلی وو. موسی علیه السلام هغه ته وویل: نېټه مو د جشن ورځ ده او دا چي خلك دي غرمه راغونډ کړی شي. ستاسو جشن رانږدې دئ، موعد مو همدا ورځ، میدان همغه چي خلك په کي راغونډېږي او وخت ئې غرمه چي ډېری خلك راغونډ شوي وي.

• فرعون موافقه وکړه، تدبیرونه ئې وکارول، د کوډګرو د راغونډولو او مقابلې ته د چمتو کولو کار ئې پیل کړ، که څه هم دلته د آیت الفاظ داسي دي چي انسان ګمان کوي فرعون په همدې غونډې کي مخ اړولی، بهر وتلی، خپل تدبیرونه ئې کارولي او بېرته راستون شوی، خو د قرآن نور آیتونه د دې وضاحت کوي چي فرعون ټولو ښارونو ته اربکي ولېږل، ټول تکړه او ماهر جادوګران ئې راغونډ کړل، له هغوی سره ئې د ښه او په زړه پوري انعام ژمنه وکړه، ورته وئې ویل چي د بریا په صورت کي به تاسو د مقربو درباریانو په ډله کي نیول

کېږئ او ټول هغه امتيازات به مو په برخه وي چې درباريان ئې ترلاسه کوي.

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ وَيۡلَكُمۡ لَا تَفۡتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا فَيُسۡحِتَكُم بِعَذَابٖۖ وَقَدۡ خَابَ مَنِ ٱفۡتَرَىٰ ﴿٦١﴾

موسی ورته وويل: افسوس پر تاسو، پر الله دروغجنه افتراء مه کوئ که نه نو په عذاب به مو اخته او تباه کړي او هغه څوك سپېره او نامراده شو چې افتراء ئې وکړه.

(٦١)- دا مبارك آيت موږ ته وايي: فرعون د خپلو تدبيرونو په لړ کي جادوگران راغونډ کړل، د موسی عليه السلام مخي ته ئې ودرول، موسی عليه السلام ورته وويل: ١- افسوس پر تاسو، هو؛ افسوس پر دوی چې د دين او مذهب تر نامه لاندي د کفر او کافر په امر او گټه د دين او مذهب مقابله کوي، د يوه مزدور جنگيالي په توگه، د طمعي او هوس په غوښتنه او د شيطان په هڅونه، ٢- پر الله دروغجنه افتراء مه کوئ، خپل جادو او کوډو ته د دين او مذهب رنگ مه ورکوئ، له کفر او کافر سره ملگرتيا د دين او مذهب مطابق کار مه گڼئ، د حق خلاف دروغجني فتواگاني مه ورکوئ، ٣- که له دې افتراءاتو لاس وانه خلئ په داسي سخت الهي عذاب به اخته شئ چې ستاسو جرړي به وباسي، ٤- څوك چې له دغي لاري غواړي کوم ذليل مراد ترلاسه کړي، افتراء او فتوی ئې د دنيوي پرېوتو اغراضو لپاره وي هيڅکله به خپل مراد ته ونه رسيږي. يقيناً هغه کس سپېره او نامراده شو چې افتراء ئې وکړه.

فَتَنَٰزَعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَىٰ ﴿٦٢﴾ قَالُوٓاْ إِنۡ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ يُرِيدَانِ أَن يُخۡرِجَاكُم مِّنۡ أَرۡضِكُم بِسِحۡرِهِمَا وَيَذۡهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلۡمُثۡلَىٰ ﴿٦٣﴾ فَأَجۡمِعُواْ كَيۡدَكُمۡ ثُمَّ ٱئۡتُواْ صَفّٗاۚ وَقَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡيَوۡمَ مَنِ ٱسۡتَعۡلَىٰ ﴿٦٤﴾

نو د خپل مأموريت په اړه په خپلو منځونو کي په شخړه بوخت شول او د راز خبره ئې پټه کړه، وئې ويل: دا دواړه (موسی او هارون عليهما السلام) خو يقيناً چې جادوگران دي، غواړي په خپل جادو سره تاسو له خپلو سيمو وباسي او ستاسو غوره طريقت او مذهب له منځه يوسي!! نو خپل تدبيرونه راغونډ کړئ بيا يوه ليکه راوړاندي شئ او يقيناً نن به هغه څوك بريالی وي چې برلاسی شي.

(٦٢-٦٤)- دا آيتونه ښيي چې جادوگران د موسی عليه السلام د اغېزناکو خبرو له اورېدو وروسته په اختلاف او شخړي کې ښکېل شوي، له مناقشو وروسته داسي نتيجې ته رسېدلي چې له ځان سره ئې پټه ساتلې، که څه هم قرآن په واضح الفاظو نه دي ويلي چې د دوی دا سري پرېکړه څه وه، خو د کلام له فحوی معلومېږي چې خپل مأموريت ئې ناسم او غلط گڼلی، د موسی عليه السلام مخالفت ورته ناوړه عمل معلوم شوی، غوښتي ئې دي چې

له دې مقابلې لاس واخلي، خو فرعون ته اطلاع رسېدلې او هغه راغونډ کړي او ورته ويلي ئې دي: **دا دواړه (موسى او هارون عليهما السلام) له شکه پرته جادوګران دي، غواړي په خپل جادو سره تاسو له خپلو سيمو وباسي او ستاسو غوره طريقت او مذهب له منځه يوسي!!** نو خپل تدبيرونه راغونډ کړئ بيا يوه ليکه راوړاندې شئ او يقيناً نن به هغه څوك بريالی وي چې برلاسی شي. د فرعون په دې خبرو کې جادوګرانو ته څو ګوابنونه انځور شوي:

- **تردد او زړه نازړه توب يوې خوا ته پرېږدئ، دا دواړه موسى او هارون (عليهما السلام) له شکه پرته جادوګران دي. هسې د ده د خبرو تر اغېز لاندې تللی يئ او د مقابلې په اړه مشوش شوي يئ او په خپلو کې مو نزاع پيل کړې، ستاسو اختلاف بنې پايلې نه لري، په ګډه د ده مقابله وکړئ.**
- **دوی غواړي په خپل جادو سره دا وطن درته سور اور کړي، فتنې، شخړې او بې امنې رامنځته کړي، که خپلې مخې ته پرېښودل شي نو داسې حالت به رامنځته شي چې تاسو له خپلو سيمو وتلو ته اړ شئ.**
- **دوی ستاسو د پلرنې غوره دين دښمنان دي که ئې مخنيوی ونشي ستاسو غوره طريقت او مذهب له منځه وړي!!**
- نو خپل ټول زور ځواك وکاروئ، تدبيرونه راغونډ کړئ بيا متحد او يوه ليکه راوړاندې شئ او يقيناً نن به هغه څوك بريالی وي چې برلاسی شي.

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَلۡقَىٰ ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْۖ فَإِذَا حِبَالُهُمۡ وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ إِلَيۡهِ مِن سِحۡرِهِمۡ أَنَّهَا تَسۡعَىٰ ﴿٦٦﴾

وئې ويل: اې موسی! يا ئې ته وغورځوه او يا به موږ هغه شو چې لومړی ئې غورځوي، وئې ويل: نه؛ بلکې تاسو ئې وغورځوئ، نو هغه مهال د دوی د سحر له کبله د دوی پړي او عصاګانې داسې ورته وبرېښېدې چې ګواکې ځغلي.

(٦٥-٦٦)- د دې مبارکو آيتونو خلاصه دا ده: جادوګران مقابلې ته چمتو شول، موسى عليه السلام ته ئې وويل: ~~اې موسی! يا ته خپله عصا وغورځوه او يا به موږ هغه ډله شو چې لومړی خپل پړي او عصاګانې غورځوي،~~ موسى عليه السلام په ځواب کې ورته وويل: نه؛ تاسو ئې وغورځوئ، نو هغوی د خپل جادو ننداره وړاندې کړه، پړي او عصاګانې ئې پر ځمکې وغورځول، دغه مهال د دوی د سحر له امله دا پړي او عصاګانې داسې برېښېدل چې ګواکې ځغلي، موسى عليه السلام ته هم او نورو خلکو ته هم.

د قرآن د وينا له مخې جادوګرانو په خپل جادو سره د خلکو په ذهن او سترګو داسې اغېز کړی چې دوی ته دا پړي د مارانو په څېر خوځنده وبرېښي، د پړو په ماهيت کې څه تبديلي نه ده راغلې بلکې د خلکو په سترګو اغېز پرېوتی. يعنې جادوګرانو په خپل جادو سره يوازې دومره څه کړي چې پر ځمکې پراته پړي او عصاګانې موسى عليه السلام او نورو ته داسې برېښېدلې چې ګواکې خوځي او ځغلي، د دوی په جادو سره د دغو شيانو په ماهيت کې څه تبديلي نه ده راغلې، حقيقتاً له ځايه نه خوځېدل بلکې د خلکو ذهن ته داسې ورغلې چې دا پړي او عصاګانې د مارانو په څېر ځغلي.

د سحر د اغېز په اړه په ټول قرآن کي درې ځایه څه ویل شوي، چي یو ئې همدغه آیت دئ، بل ئې د الاعراف د سورې پورتني ته ورته او په همدې مناسبت راغلی، آیت دا دئ:

قَالَ أَلْقُوا۟ ۖ فَلَمَّآ أَلْقَوْا۟ سَحَرُوٓا۟ أَعْيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَآءُو بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾

الاعراف: ۱۱۶

وئې ویل: وئې غورځوئ، نو کله چي دوی وغورځول د خلکو سترګي ئې په جادو (سره اغېزمني) کړې، وئې وېرول او ستر جادو ئې وړاندي کړ.

او بل ئې د البقره د سورې ۱۰۰ آیت دئ چي وایي:

وَٱتَّبَعُوا۟ مَا تَتْلُوا۟ ٱلشَّيَـٰطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَـٰنَ ۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَـٰنُ وَلَـٰكِنَّ ٱلشَّيَـٰطِينَ كَفَرُوا۟
يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحْرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَـٰرُوتَ وَمَـٰرُوتَ ۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ
أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيْنَ ٱلْمَرْءِ
وَزَوْجِهِۦ ۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ ۚ
وَلَقَدْ عَلِمُوا۟ لَمَنِ ٱشْتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ مِنْ خَلَـٰقٍ ۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا۟ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْ ۚ لَوْ
كَانُوا۟ يَعْلَمُونَ 

البقره: ۱۰۰

او د هغه څه متابعت ئې پیل کړ چي شیطانانو به د سلیمان علیه السلام د پاچاهی (په اړه) لوستل، دا په داسي حال کي چي سلیمان د کفر لار نه وه غوره کړې، بلکي په خپله دا شیطانان کافران شوي وو، خلکو ته ئې جادو او هغه څه ورښودل چي د بابل په دوو ملائکو: هاروت او ماروت نازل شوي وو، (دې ملائکو) به هیچا ته څه تعلیم نه ورکاوو مګر دا چي ورته ویل به ئې: موږ (خو د یوه) امتحان (لپاره راغلي) یو، نو ته مه کافرکېږه، خو دوی له دې دواړو هغه څه زده کول چي په هغه سره نارینه او مېرمنه ئې سره بېل کړې، دا په داسي حال کي چي په دې سره دوی د الله له اذن پرته هیچا ته تاوان رسوونکي نه وو او په داسي حال کي چي هغه څه ئې زده کول چي تاوان ئې وررساوو او ګټه ئې نه وررسوله او یقیناً په دې پوه شوي وو چي هرڅوك دا وپېري نو په آخرت کي به ئې هیڅ برخه نه وي او یقیناً چي ډېر بد دئ هغه څه چي خپل ځان ئې پرې وپلورو، کاش پوهېدلی.

دلته په اصل کي د بني اسرائیلو په څېره کي د یوه بې لارې دیندار ولس څو سترو سترو

انحرافاتو ته اشاره شوې: په خپلو ژمنو نه ودرېدل، د الله کتاب داسې شا ته غورځول لکه چې په هيڅ څه ئې نه پوهېږي او د الله د کتاب پر ځای کوډو، جادو او تعويذونو ته مخه کول، دا حرام کارونه نه يوازې حلال ګڼل بلکې د سليمان عليه السلام هغه ستره واکمني، چې بېلګه ئې په تاريخ کې نه ده ليدل شوې، د يوې جادويي ګوتې او د څه کوډو او منتر نتيجه ګڼل، نه د ده او د ده د مجاهد پلار داؤد عليه السلام د جهادونو نتيجه، د دوی لويه مشغله دا شي چې په کوډو سره د مېړه او مېرمنې ترمنځ ئې بېلتون راولي. بني اسرائيل هم ورو ورو له الهي دين څخه لرې شول، په دوی کې فکري او اخلاقي انحرافات راپيدا شول، له اخلاقي لحاظه هومره راپرېوتل چې يو د بل ناموس ته په کمين کې کښېناستل، يو به په دې لټه کې وو چې څنګه د بل مېرمن د ځان لپاره ترې رابېله کړي، د الله کتاب ئې شا ته وغورځاوو، کوډو، جادو او تعويذونو ته ئې مخه کړه. الله تعالی د اتمام حجت لپاره دوی ته دوې ملائکې د انسانانو په څېره کې ولېږلې، ترڅو دوی له انحرافاتو، جاهلانه دودونو او کافرانه مشغلو وژغوري او دوی ته ووايي چې کوډو او جادو ته په پناه وړلو سره مه کافران کېږئ، خو دوی له ملائکو هم د هغه څه زده کولو هڅه کوله چې ښځه له خپل خاوند څخه پرې بېله کړی شي.

په دې آيت کې نه يوازې دا نه دي ويل شوي چې په کوډو او جادو سره توانېدل چې مېړه او مېرمن ئې سره بېل کړي بلکې د دې خلاف ويل شوي چې کوډو هيڅ ګټه نه وررسوله، د ګټې پر ځای ئې تاوان وررساوو.

څوك چې د قرآن دا دوه څرګند آيتونه ګوري او سره له دې يا جادو او کوډو ته پناه وړي يا ګمان کوي چې سحر او جادو کولی شي د شيانو ماهيت بدل کړي او مېرمن له خپل مېړه بېله کړي، د چا مينه ئې په زړه کې راپيدا کړي، په بيماري ئې اخته کړي او دې ته ورته نور اغېز او تأثير ورته ثابتوي نو هغه يا په قرآن ايمان نه لري، يا قرآن د هرې خبرې لپاره وروستی ملاك او معيار نه ګڼي او يا ناپوه او له قرآني لاربښوونو بې خبره دئ.

که تاسو د سحر او جادو د اغېز په اړه د قرآن لاربښوونو ته ځير شئ نو وبه ګورئ چې د سحر او جادو د اغېز خبرې کافرانو ته منسوبې او دا د دوی غلطه انګېرنه او عقيده ګڼي.

ښه به وي چې دلته د بايبل وينا هم له نظره تېره کړو چې له موسی عليه السلام سره د جادوګرانو د مقابلې خبره کوي، بايبل تر دې عنوان (د هارون عصا) لاندې ليکي: (خدای موسی او هارون ته وويل: دا ځل به د مصر پاچا له تاسو معجزه وغواړي، نو هارون دې خپله عصا د فرعون په مخکې پر زمکه وغورځوي، عصا به مار شي... موسی او هارون بيا فرعون ته ورغلل... هارون د فرعون او درباريانو په وړاندې خپله عصا پر زمکه وغورځوله او مار ترې جوړ شو، فرعون د مصر حکيمان او جادوګران راوغوښتل، هغوی هم د خپل جادو په مرسته همدا کار وکړ، خپلې عصاګانې ئې پر زمکه وغورځولې او ماران ترې جوړ شول، خو د هارون مار د جادوګرانو ټول ماران وخوړل...خو د دې معجزې له ليدو سره سره د فرعون زړه سخت پاته شو... بيا خدای موسی ته وويل: سبا هغه عصا درسره واخله چې مار ترې جوړ شوی وو، د نيل ژۍ ته ورشه، د فرعون تر راتلو انتظار وکړه، ورته ووايه: ... اوس به خدای داسې کار وکړي چې پوه شې هغه خدای دئ... زه به د ده په امر د نيل اوبه په يوه ګوزار سره په وينو بدلې کړم... هارون د پاچا او درباريانو په وړاندې د نيل اوبه په خپلې

عصا ووهلې او په وينو بدلي شوې، ټول ماهيان مړه شول او اوبه ګنده شوې، ...خو د فرعون زړه همغسي سخت پاته شو... له دې ورځي يوه اونۍ وروسته خدای موسی ته وويل: فرعون ته ورشه او ورته ووايه: زما قوم پرېږده چي ولاړ شي او زما عبادت وکړي، که نه نو ټول مصر به له چنګاښو درته ډك کړم، د نيل سيند به داسي له چنګاښو ډك شي چي بهر به راووځي او ستا د قصر په لوري به هجوم راوړي... ستا د خوب خوني، د اوړو نغريو او تنورونو ته به ځان ورسوي... هارون خپله عصا د نيل سيند، چينو او حوضونو ته اوږده کړه، ټول له چنګاښو ډك شول... خو مصري جادوګرانو هم په خپل جادو سره همدا کار وکړ او ډېري زياتي چنګاښي ئې راپيدا کړې!! فرعون له موسی وغوښتل چي خپل خدای ته دعاء وکړي چي دا بلا زموږ له سره لري کړي، ژمنه کوم چي په هغه صورت کي به بني اسرائيل پرېږدم چي ولاړ شي او د خپل خدای لپاره قرباني وکړي... موسی دعاء وکړه... ټولي چنګاښي مړې شوې ... خو بيا هم د فرعون زړه نرم نه شو... بيا خدای موسی ته وويل: هارون ته ووايه چي سبا خپله عصا پر زمکه ووهي تر څو ټول مصر له ماشو ډك شي... همداسي ئې وکړل او ټول مصر له ماشو ډك شو او پر خلکو ئې بريد پيل کړ... د مصر جادوګرانو وغوښتل چي همدا کار وکړي خو دا ځل موفق نه شول... نو فرعون ته ئې وويل: په دې کار کي حتماً خدای لاس لري... خو بيا هم د فرعون زړه نرم نه شو... ورپسې په همدې توګه د مچانو، طاعون، دانو، ژلۍ، ملخ او سختي تيارې داسي يادونه کوي لکه چي ئې د مخکنيو مصيبتونو يادونه کړې، الفاظ ئې تکراري او جملې ئې سره ورته، هرځل د هارون په عصا يو له دغو مصيبتونو پر مصريانو مسلط شوی او بيا فرعون له موسی غوښتي چي دعاء وکړي... د موسی عليه السلام د دعاء په وجه مصيبت ترې دفع شوی خو فرعون په خپل قول عمل نه دئ کړی!! په پای کي ليکي چي فرعون موسی عليه السلام ته وويل: زما له مخي لري شه او بيا مه راځه که نه نو وژل کېږې، موسی ورته وويل: لکه څنګه چي تا وويل بيا به ما ونه ګورې، نو خدای موسی ته وويل: داسي بلا به پر فرعون او د ده پر قوم راولم چي دی به په خپله له تاسو وغواړي چي له مصره ووځئ!! د اسرائيليانو ښځو ته ووايه چي له وتلو مخکي له خپلو مصري ګاونډيو سره او سپين زر (په امانت) ترلاسه کړي!!! نو موسی فرعون ته وويل: خدای فرمايي: نن نيمه شپه به د مصر له منځه تېر شم، (په همدې سره به) د مصري کورنيو ټول مشران زامن ومري، د فرعون له مشره زويه چي د ده ځای ناستی دئ نيولې د هغي وينځي تر زوی پوري چي کار ئې په مېچني سره د غنمو وړه کول وي، حتی د مصر د څارويو لومړي بچيان به هم ومري!!! ... نو دغه وخت موسی له غصې سره د فرعون له قصره ووت،...)

دلته د بايبل ګڼ شمېر خبري د سالم عقل او صحيح الهي دين خلاف دي او قرآن ئې ردوي:

- بايبل داسي ښيي لکه چي موسی عليه السلام څو اونۍ سر په سر د فرعون په دربار کي تېرې کړې وي او په همدې مودې کي خدای په وار وار ورته راغلی او ده ته ئې د نوې معجزې ښودلو لارښوونه کړې وي، ده هم خپلي ټولي معجزې د فرعون په حضور کي او له جادوګرانو سره په مقابله کي ښودلې دي، هر څه چي ده کړي جادوګرانو هم همغه کار کړی، دوی يوازي د ماشو په پيدا کولو نه دي توانېدلي!! دا هسي يوه بې بنسټه او په خرافاتو ولاړه خبره ده، هيڅ جادوګر، که هر

ځومره ماهر او چالاك وي، هيڅ شی نه شي پيدا کولی، نه مړ شی او نه ژوندی، د جادوگر کمال او هنر په دې کې وي چې د خلکو ذهن تر اغېز لاندې راولي او يو شی د خپلې اصلي بڼې په ځای په بدلې بڼې کې وگوري، جادوگر له دې پرته نور هيڅ نه شي کولی، له الله تعالی پرته نه ځوك په جادو سره څه پيدا کولی شي او نه په بل څه سره، د قرآن د وينا له مخې جادوگرانو خپل پړي اچولي او په جادو سره ئې د خلکو په ذهن او سترگو داسې اغېز کړی چې دوی ته دا پړي د مارانو په څېر خوځنده وبرېښي، د پړو په ماهيت کې څه تبديلي نه ده راغلې د خلکو په سترگو اغېز پرېوتی.

• د ټولو معجزو موخه دا ښودل شوې چې فرعون د بني اسرائيلو پرېښودو ته اړ کړي، نه دا چې مصريان پر خدای ايمان راوړي، له کفر او شرك لاس واخلي او د الله تعالی دين ته غاړه کېږدي!! خو که تاسو په دې اړه د قرآن وينا ته ځير شئ وبه گورئ چې موسی عليه السلام فرعون او مصريانو ته جامع او بشپړ پيغام لري، د بني اسرائيلو آزادي د اساسي مسايلو په ضمن کې او د يوې ثانوي موضوع په څېر مطرح کوي.

• که معجزې يوازې فرعون ته ښودل کېدې او مقصد ئې دا وو چې فرعون بني اسرائيلو ته له مصره د وتلو اجازه ورکړي، ولې ئې په ټولو مصريانو دا مصيبتونه راوستل؟ ولې ئې د ټولو مصريانو حتی د هغو وينځو مشران زامن هم ورته وژل چې مېچنې ئې چلولې؟!! آيا دا خبره د کوم انسان عقل منلی شي چې الله تعالی د مصريانو د زامنو د وژلو لپاره په خپله د مصر له منځه تېر شوی؟!! او آيا الله تعالی د چا د وژلو لپاره دې ته اړ کېږي چې زمکې ته راکوز شي او د هغه کلي له منځه تېر شي چې د کليوالو د وژلو پرېکړه ئې کړې؟!! دا هره ورځ چې انسانان د الله تعالی په اراده پيدا کېږي او مري، داسې مري لکه چې بايبل وايي؟! او تر ټولو مسخره خبره خو لا هغه ده چې بايبل تر دې وروسته کړې او ليکلي ئې دي چې خدای به په مصر کې د بني اسرائيلو او مصريانو کورونه له دې نښې سره بېلوي چې د بني اسرائيلو د کورونو دروازې به د قربانۍ په وينو سرې شوې وي او د دغو وينو په ليدو سره به د بايبل خدای له دغو کورونو تېرېږي، يوازې د مصريانو کورونو ته به ننوځي او د دوی مشران زامن به وژني!!!

• گورئ چې بايبل دلته هم خدای داسې معرفي کوي چې بني اسرائيلو ته د غدر او خيانت لارښوونه کوي، وايي چې خدای موسی عليه السلام ته ويلي وو: د اسرائيليانو ښځو ته ووايه چې له خپلو مصري گاونډيو د سرو او سپينو زرو ښه ډېرې گاڼې (په کومه پلمه) ترلاسه کړي، چې بيا ئې د وتلو په وخت کې له ځان سره يوسي!! آيا ممکنه ده چې د زمکې او آسمانونو رب به خپلو بندگانو ته د داسې غدر او خيانت درس ورکوي!!

فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِۦ خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾ وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوٓاْۖ إِنَّمَا صَنَعُواْ كَيْدُ سَٰحِرٍۖ وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾

نو موسی په خپل زړه کې ویره احساس کړه، ومو ویل: مه وېرېږه، یقیناً چې همدا ته برلاسی یې، او هغه شی وغورځوه چې ستا په لاس کې دئ، چې هغه څه ښوی تېر کړي چې دوی جوړ کړي، یقیناً هغه څه چې دوی جوړ کړي د کوډګر مکر دئ، او جادوګر چې هر چېرې ورشي بریا نشي موندلی.

(٦٧-٦٩)- له دې مبارکو آیتونو څو خبرې معلومېږي:

- **د کوډګرو له لوري ښودل شوې ننداره دومره هیبتناکه وه چې موسی علیه السلام په خپل زړه کې ویره احساس کړه، دلته دا نه دې ویل شوي چې آیا پر ځان وېرېدلی، که له دې چې په مسابقې کې به برلاسی نشي او که په دې چې خلك به دوکه شي او د جادوګرانو تر اغېز لاندې به راشي؟! خو له وروستۍ فقرې معلومېږي چې ویره ئې په مسابقې کې د خپلې بریا په اړه وه، ځکه الله تعالی فرمایي: ومو ویل: مه وېرېږه، یقیناً چې همدا ته برلاسی یې.**
- **د الله تعالی له لوري موسی علیه السلام ته ویل شوي چې د خپل لاس عصا وغورځوي، چې دا به ټول هغه پړي او عصاګانې ښوی تېرې کړي چې دوی د خوځنده مارانو په څېر ښودلې.**
- **دلته ویل شوي چې جادو هسې یوه دوکه او غولونه وه، د فرعون د ماهرو جادوګرانو دا لوبه د لاس هنر وو نه د جادو اغېز، دا په حقیقت کې یو مکر وو نه بل څه، د پړو او عصاګانو حقیقت نه دئ بدل شوی بلکې خلك غولول شوي او د خوځنده مارانو ګمان ئې پرې کړی!! د آیت دا برخه چې وایي: جادوګر چې هر چېرې ورشي بریا نشي موندلی، دا حقیقت مزید واضح کوي او ښیي چې د جادوګر مکر او کید د څو شېبو داسې غولونکې ننداره ده چې نه ده ته کومه ګټه رسوي او نه بل ته.**

فَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سُجَّدٗا قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ هَٰرُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾

نو کوډګر په سجده پرېوتل (او) وئې ویل: د هارون او موسی پر رب مو ایمان راوړ.

(٧٠)- د دې مبارك آیت له فحوی معلومېږي چې موسی علیه السلام د الله تعالی له حکم سره سم خپله عصا غورځولې او هغې د کوډګرو د لوبې سامان ټول ښوی ښوی تېر کړي، کوډګرو د دې صحنې په لیدو سره نه یوازې خپله ماتې منلې، تسلیم شوي او په سجده پرېوتي بلکې په واضح الفاظو او جګ غږ سره ئې اعلان کړی چې: موږ د هارون او موسی علیه السلام پر رب ایمان راوړ.

قَالَ ءَامَنتُمۡ لَهُۥ قَبۡلَ أَنۡ ءَاذَنَ لَكُمۡۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِي عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحۡرَۖ
فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَرۡجُلَكُم مِّنۡ خِلَٰفٖ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمۡ فِي جُذُوعِ ٱلنَّخۡلِ

وَلَتَعۡلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابٗا وَأَبۡقَىٰ ٧١

وئې ويل: آيا تر دې وړاندې چې اجازه درکړم ده ته مو ايمان راوړ؟ يقيناً چې هغه ستاسو هغه مشر دئ چې جادو ئې درښودلی!! نو هرومرو به ستاسو لاسونه او ستاسو پښې يوه د بل خلاف پرې کوم او حتماً به تاسو د خرما په ستو پانسی کوم او تاسو به هرومرو پوه شئ چې څوك په موږ کې د عذابولو له پلوه شديد دئ او څوك د ډېر پايښت خاوند.

(۷۱)- د دې مبارك آيت له لارښوونو څو حقايق ترلاسه کېږي:

- فرعون د خپلې توطئې په لومې کې ونښت، تدبير ئې معکوسه نتيجه ورکړه، د موسی عليه السلام د رسالت حقانيت ټول ولس ته جوت شو، نو په بلې توطئې لاس پورې کوي او وايي: اې جادوګرانو! تاسو ولې د مسابقې د پايلو له اعلان وړاندې خپله ماتې ومنله او د موسی (عليه السلام) پر رب مو د ايمان راوړلو اعلان وکړ؟! ولې مو زما پرېکړې ته انتظار ونه کړ، ولې مو تر دې وړاندې چې زه اجازه درکړم ايمان راوړ؟ د دې معنی دا ده چې تاسو لادمخه له ده سره توافق کړی وو، په ګډه مو دا لوبه جوړه کړې وه، هغه ستاسو مشر دئ، جادو هغه درښودلی!! دا د خلکو د غولولو لپاره د فرعون بل کيد او مکر وو!!
- له بلې خوا ئې جادوګران په دې ووېرول چې اوس به هرومرو ستاسو لاسونه او ستاسو پښې يوه د بل خلاف پرې کوم، ښی لاس او کينه پښه، يا کين لاس او ښی پښه، او حتماً به تاسو د خرما په ستو پانسی کوم، اوس به تاسو هرومرو پوه شئ چې څوك د عذابولو له پلوه شديد دئ او څوك د ډېر پايښت خاوند.

قَالُواْ لَن نُّؤۡثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلَّذِي فَطَرَنَاۖ فَٱقۡضِ مَآ أَنتَ
قَاضٍۖ إِنَّمَا تَقۡضِي هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَآ ٧٢ إِنَّآ ءَامَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغۡفِرَ لَنَا خَطَٰيَٰنَا
وَمَآ أَكۡرَهۡتَنَا عَلَيۡهِ مِنَ ٱلسِّحۡرِۗ وَٱللَّهُ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ ٧٣ إِنَّهُۥ مَن يَأۡتِ رَبَّهُۥ مُجۡرِمٗا فَإِنَّ
لَهُۥ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحۡيَىٰ ٧٤ وَمَن يَأۡتِهِۦ مُؤۡمِنٗا قَدۡ عَمِلَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلدَّرَجَٰتُ ٱلۡعُلَىٰ ٧٥ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ
فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ مَن تَزَكَّىٰ ٧٦

وئې ويل: هيڅکله به تا تر هغو څرګندو دلائلو او نښو چې زموږ په برخه شوي او پر هغه چا چې موږ ئې پيدا کړي يو؛ غوره ونه ګڼو، نو هغه پرېکړه وکړه چې ته ئې

کوونکی یې، یقیناً چې ته یوازې د دنیوي ژوند په اړه پرېکړه کولی شې، یقیناً چې موږ پر خپل رب ایمان راوړی، چې زموږ خطاګانې او هغه جادو راوبخښي چې تا ورته اړ کړو، او الله تر ټولو غوره او تر ټولو زیات د پاېښت خاوند دئ، یقیناً هغه څوك چې خپل رب ته د مجرم په توګه وړاندې شي نو داسې دوزخ به د هغه په برخه شي چې نه به په کې مري او نه به ژوند کولی شي، او څوك چې د مؤمن په توګه وروړاندې شي په داسې حال کې چې نېك عملونه ئې کړي وي نو هغوی ته لوړې لوړې درجې دي، داسې تلپاته جنتونه چې ترې لاندې ویالې بهېږي، په هغه کې به تلپاته وي، او دا د هغه چا بدله ده چې ځان ئې پاك کړ.

(۷۲-۷٦)- په دغو مبارکو آیتونو کې د دغو ایمان راوړونکو جادوګرانو داسې زړه راښکونکې ویناوې انځور شوې دي چې له یوې خوا پر انسان د ایمان ژور اغېز او هغه تبدیلي په ګوته کوي چې په انسان کې ئې رامنځته کوي او له بلې خوا مؤمنانو ته وایي چې تاسو به د ګواښونو په وړاندې داسې دریځ غوره کوئ چې دغو مؤمنانو غوره کړ. کوم ځواب چې جادوګران ئې فرعون ته ورکوي، ډېر عجیب، د پام وړ او ارزښتناك دئ، وایي: هیڅکله به تا تر هغو څرګندو دلائلو او نښو چې زموږ په برخه شوي او پر هغه چا چې موږ ئې پیدا کړي یو؛ غوره ونه ګڼو، نو هغه پرېکړه وکړه چې ته ئې کوونکی یې، یقیناً چې ته یوازې د دنیوي ژوند په اړه پرېکړه کولی شې، یقناً چې موږ پر خپل رب ایمان راوړی، چې زموږ خطاګانې او هغه جادو راوبخښي چې تا ورته اړ کړو، او الله تر ټولو غوره او تر ټولو زیات د پاېښت خاوند دئ، هیڅ پروا مو نشته، مرګ ته چمتو یو، ته خو یوازې زموږ د وژلو پرېکړه کولی شې، دا مرګ خو له دې پرته بل څه نه دئ چې موږ د خپل پالونکي رب په لوري بیایي، هسې هم مرو او د خپل رب په لوري خامخا ورګرځو!! په دې سره قرآن موږ ته له یوې خوا دا لارښوونه کوي چې پر خدای باندې ایمان انسان ته داسې جرأت او شهامت ورپه برخه کوي، دا جادوګران ګورئ چې څو شېبې مخکې د فرعون په امر راغونډ شوي وو، د ده لپاره ئې د موسی علیه السلام مقابله کوله، د فرعون پر سر ئې لوړه کوله او د ده د عزت او جلال په طفیل ئې خپله بریا یقیني او حتمي ګڼله، له فرعون ئې د اجورې طمع وه او تر ټولو ستر هدف ئې دا وو چې د فرعون د درباریانو په ډله کې ونیول شي، خو اوس او په الله تعالی باندې له ایمان وروسته په دوی کې دومره ژوره تبدیلي راغلې چې د فرعون د ګواښونو پروا نه کوي، له مرګه نه وېرېږي، مرګ د الله تعالی په لوري د تلو وسیله ګڼي او پرونی مادي طمع ئې اوس په معنوي تلوسې بدله شوې او موخه ئې دا ده چې الله تعالی ترې راضي شي او ګناهونه ئې ورته وبخښي!! له بلې خوا موږ ته وایي چې د ایمان خاوند باید داسې وي، که تاسو په رښتیا په الله تعالی ایمان لرئ نو د فرعونانو له ګواښونو به نه وېرېږئ.

- دا مؤمنان تر دې هم وړاندې درومي او فرعون ته وایي: یقیناً هغه څوك چې خپل رب ته د مجرم په توګه وړاندې شي نو داسې دوزخ به ئې په برخه شي چې نه به په کې مري او نه به ژوند کولی شي، هغه ورځ به ئې ژوند ژوند نه وي، له ژونده به بې زاره وي، د مرګ هیله او تمنا به کوي خو نه به ئې په برخه کېږي، او څوك چې د مؤمن په توګه وروړاندې شي په داسې حال کې چې نېك عملونه ئې کړي وي نو هغوی ته لوړې لوړې درجې دي، داسې تلپاته جنتونه چې ترې لاندې ئې ویالې بهېږي، په هغه کې به تلپاته وي، او دا د هغه چا بدله ده چې ځان ئې پاك کړ.

وَلَقَدۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَسۡرِ بِعِبَادِي فَٱضۡرِبۡ لَهُمۡ طَرِيقٗا فِي ٱلۡبَحۡرِ يَبَسٗا لَّا تَخَٰفُ دَرَكٗا وَلَا تَخۡشَىٰ ﴿٧٧﴾

او يقيناً چي موسى ته مو وحي وكړه چي زما بندګان (د شپې مهال) روان كړه، نو په سيند كي وچه لار ورته پرانيزه، مه له نيول كېدو وېرېږه او مه (له بله پلوه) وېرېږه.

(۷۷)- د دې مبارك آيت خلاصه مطالب دا دي:

- الله تعالى موسى عليه السلام ته په وحي سره لارښوونه وكړه چي بني اسرائيل د شپې له لوري له مصر د سينا په لور روان كړه، دوى مخكي او ته ورپسي، په خپلي عصا سره سيند ووهه چي وچه لار په كي پرانيستل شي، مه له دې وېره لره چي د فرعون لښكري به تاسو تعقيب او ونيسي او مه په سيند كي د تېرېدو پر مهال د سيند په ډوبو كي له لاهو كېدو.

فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ بِجُنُودِهِۦ فَغَشِيَهُم مِّنَ ٱلۡيَمِّ مَا غَشِيَهُمۡ ﴿٧٨﴾ وَأَضَلَّ فِرۡعَوۡنُ قَوۡمَهُۥ وَمَا هَدَىٰ ﴿٧٩﴾

نو فرعون له خپلو لښكرو سره ورپسې شو، نو د سيند اوبو راونغاړل همغسي چي راوئې نغاړل، او فرعون خپل قوم بې لاري كړ او هدايت ئې نه كړ.

(۷۸-۷۹)- دا آيتونه هغه حالت انځوروي چي فرعون له خپلو لښكرو سره په بني اسرائيلو پسي ووت، د شپې شپې ئې هر لوري ته اربكي ولېږل چي خپل پلويان او فوځيان راغونډ كړي، اعلان ئې وكړ چي دا يو وړوكى ټولګى دئ، كه خپلي مخي ته پرېښودى شي او له مصر څخه روغ ووځي موږ ته ستونزي راولاړوي، بايد ونيول شي، په سباوون كي ورپسي شو، كله چي موسى عليه السلام د بحر خوا ته ورسېد، له لري د فرعون لښكري راڅرګندي شوي، د موسى عليه السلام ملګري پرېشان او لالهانده شول، موسى عليه السلام ته راغلل او وئې ويل: موږ محاصره شوو، د وتلو لار نشته، د دښمن په لاس كي پرېوتو، موسى عليه السلام ورته وويل: داسي نه ده، الله تعالى له موږ سره دئ، هغه به د نجات لار راښيي، له همدې وينا سره سم د الله تعالى له لوري ورته وحي وشوه چي بحر په خپلي عصا ووهه، بحر وچاود او څپې ئې دواړو خواوو ته د لوړو غونډيو په څېر ودرېدې، تېزه هوا وچلېده او ځمكه ئې وچه كړه، دوى ته د اوبو په منځ كي وچه لار پرانيستل شوه، له بحر روغ رمټ واوښتل، فرعون له خپلو لښكرو سره د بحر ژۍ ته راورسېد، لار ئې وچه او پرانيستې ومونده، تش لاس او نامراده بېرته ستنېدا ئې د خپل كبر او غرور خلاف وګڼلو، له خپلو آسونو، سپرو او پلو فوځيانو او ګاډيو سره ئې بحر ته ودانګل، هغه مهال چي ټول فوځ ننوت، يو سر ئې د بحر يوې ژۍ كي او بل سر ئې بلي ژۍ ته نږدې، ناڅاپي څپې سره ورغلي، ټول ئې تر خپل كومي تېر كړل، همغسي غرقېدا چي ټول ئې له قصې خبر دي، فرعون خپل قوم بې لاري او له داسي برخليك سره مخامخ كړ، د ده ادعاء بې بنسټه وه چي زه ولس ته سمه لار ښيم او همغه لوري ته ئې بيايم چي رفاه او سوكالي ئې په برخه شي.

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ قَدۡ أَنجَيۡنَٰكُم مِّنۡ عَدُوِّكُمۡ وَوَٰعَدۡنَٰكُمۡ جَانِبَ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنَ وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰ ﴿٨٠﴾ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ وَلَا تَطۡغَوۡاْ فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبِيۖ وَمَن يَحۡلِلۡ عَلَيۡهِ غَضَبِي فَقَدۡ هَوَىٰ ﴿٨١﴾ وَإِنِّي لَغَفَّارٞ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا ثُمَّ ٱهۡتَدَىٰ ﴿٨٢﴾

اې بني اسرائيلو! يقيناً چې له خپل دښمن څخه مو وژغورلئ د طور د ښي (يا بختور) لوري وعده مو درسره وکړه، او پر تاسو مو من او سلوی نازل کړل، له هغو پاکيزه وو چې درروزي مو کړل وخورئ او تېری مه په کې کوئ، که نه نو زما غضب به درباندي راپرېوځي، او پر چا چې زما غضب پرېوځي هغه له شکه پرته کوز وغورځېدو. او زه د هغه چا په اړه ډېر بخښونکی يم چې توبه ئې وکړه، ايمان ئې راوړ، صالح عمل ئې وکړ او بيا (همداسې) په سمه لار ولاړ.

(۸۰-۸۲)- په دې مبارکو آيتونو کې هغه الهي لارښووني زموږ مخې ته اېښودل شوې چې د الله تعالی له لوري بني اسرائيلو ته شوې وې او ورته ويل شوي وو: اې بني اسرائيلو! موږ له خپل دښمن څخه وژغورلئ، د طور د ښي لوري وعده مو درسره وکړه، هلته مو مستقر کړئ، پر تاسو مو من او سلوی نازل کړل، درته ومو ويل: هغه پاکيزه پاکيزه شيان وخورئ چې موږ درروزي کړل، په الهي نعمتونو کې تېری مه کوئ، که نه نو زما غضب به درباندي نازل شي، څوك چې زما په غضب اخته شي هغه له شکه پرته د ذلت او سپکاوي په ژوري کندي کې پرېوځي، زه د هغه چا په اړه ډېر بخښونکی يم چې توبه ئې وکړه، ايمان ئې راوړ، صالح عمل ئې وکړ او بيا همداسې په سمه لار ولاړ. په دې اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته د مغفرت لپاره څلور شرايط اېښودل شوي: توبه يعني له ګناهونو لاس اخيستل، ايمان راوړل يعني پر الله تعالی، آخرت، پيغمبر او ټولو مؤمن به شيانو ايمان راوړل، صالح عمل، او د هدايت پر لار ټينګ پاته کېدل.
- ځينو مفسرينو د طور ښي لوري ته وعده هغه وعده ګڼلې چې موسی عليه السلام د الله تعالی سره د ملاقات لپاره هغه ځای ته تللی وو، خو له الفاظو داسې معلومېږي چې مراد ئې د طور خوا ته برکتناکې سيمې کې د بني اسرائيلو مېشت کول دي، دا ځکه چې د ژغورني او من او سلوی تر څنګ ئې يادونه شوې او دا ښيي چې دلته د ايمن معنی بختور دئ، او د جانب الطور الايمن مراد د طور بختور اړخ دئ، په قرآن کې دې سيمې ته بختوره سيمه ويل شوې او د بارکنا فيها الفاظ ورته کارول شوي.

وَمَآ أَعۡجَلَكَ عَن قَوۡمِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٨٣﴾ قَالَ هُمۡ أُوْلَآءِ عَلَىٰٓ أَثَرِي وَعَجِلۡتُ إِلَيۡكَ

رَبِّ لِتَرۡضَىٰ ﴿٨٤﴾ قَالَ فَإِنَّا قَدۡ فَتَنَّا قَوۡمَكَ مِنۢ بَعۡدِكَ وَأَضَلَّهُمُ ٱلسَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾ فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَلَمۡ يَعِدۡكُمۡ رَبُّكُمۡ وَعۡدًا حَسَنًاۚ أَفَطَالَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡعَهۡدُ أَمۡ أَرَدتُّمۡ أَن يَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبٞ مِّن رَّبِّكُمۡ فَأَخۡلَفۡتُم مَّوۡعِدِي ﴿٨٦﴾

او اې موسی! څه شي له خپل قوم څخه راګړندی کړې؟ وئې ویل: دا دي دوی راپسې دي، او اې زما ربه! د دې لپاره مي ستا لوري ته تلوار وکړ چي (له ما) راضي شې، وئې فرمایل: یقیناً چي له تا وروسته مو ستا قوم په آزمېښت کي واچاوو او سامري دوکه او بې لاري کړل، نو موسی خپل قوم ته غصه ناك او افسوس ناك ستون شو، وئې ویل: اې زما قومه! آیا خپل رب د غوره وعدو ژمنه نه وه درسره کړې، آیا (د وعدې دا) موده درباندي اوږده شوه، یا ومو غوښتل چي د خپل رب غضب درباندي راپرېوځي، نو ځکه مو زما له وعدې تخلف وکړ!!

(۸۳-۸٦)- د دې مبارکو آیتونو په اړه لاندي خبري په پام کي ولرئ:

- دلته د طور غره ته د موسی علیه السلام د تګ هغه قصه بیان شوې چي د خپل قوم له یوه درونډ وفد سره تللی او د تورات احکام ورکړی شوي، میقات ته تر نورو وړاندي رسېدلی، الله تعالی ترې پوښتلي: اې موسی! څه شي له خپل قوم څخه راګړندی کړې؟ وئې ویل: دا دي دوی راپسې دي، او د دې لپاره مي ستا لوري ته تلوار وکړ چي له ما راضي شې، الله تعالی وفرمایل: له تا وروسته مو ستا قوم په آزمېښت کي واچاوو او سامري دوکه او بې لاري کړل. په دې سره قرآن د بني اسرائیلو او هر هغه قوم فکري تزلزل او تردد انځوروي چي دیني روزنه ئې کمزورې وي، حالت ئې داسي وي چي د قائد څو ورځنی غیابت د دې باعث شي چي په ټګمارو مشرانو پسي روان شي، دا دئ ګورئ چي موسی علیه السلام د تورات راوړلو لپاره د طور غره ته ولاړ، لا څو ورځي نه وې تېري شوې چي په دوی کي د سامري په څېر جهل او شرك ته بلونکی راپیدا شو، دوی ته ئې د سخوندر په بڼه کي بُت جوړ کړ، د هغه خوا ته دېره شول او هغه ئې د معبود په توګه ونیو، له سرو او سپینو زرو جوړ شوی سخوندر ئې معبود شو او هغه ئې د خدای او بنده تر منځ واسطه او وسیله وګڼلو. د بني اسرائیلو او د هر جاهل قوم یوه ستونزه دا ده چي د صالح مشر او زعیم په شته والي کي په سمه لار راشي، خو چي هغه ترې لږ یوې خوا ته شي، په بې لاري او منحرف مشر راغونډ شي او سمه لار پرېږدي، بني اسرائیل خو داسي وو چي د موسی علیه السلام د دعوت په نتیجه کي ئې نه یوازي په الله ایمان راوړ، بلکي په دې لار کي د کړاوونو او ستونزو ګاللو او له مصر څخه هجرت ته هم چمتو شول، خو چي څو ورځي موسی علیه السلام میقات ته ترې ولاړ، د سامري په شا و خوا راغونډ شول، په هغه پسي ئې اقتداء وکړه او د هغه په وینا (سخوندر) ته په سجده پرېوتل، دوی د ځارویو او

بوده وو په خبر دي، شپون ئې په هر لوري بيولی شي. د دوی دا جرم د سختي نيوني وړ وو، که موسی عليه السلام نه وی، هغه دروغجن معبود ئې نه وی نسکور کړی او سامري ئې نه وی مجازات کړی، نو د الله ستر عذاب به وربانديي نازلېدو، خو الله تعالی د همدې په وجه ورته عفو وکړه. د دې نعمت تقاضاء خو دا وه چي تاسو تل د الله شاکر بندگان وئ او هيڅکله مو د شرك او عصيان لار نه وی غوره کړې.

- قرآن موږ ته وايي چي له سرو او سپينو زرو بُت جوړول د سامري کار دئ!! واقعاً چي د سرو زرو معبد او معبود جوړل د هغو ټگمارانو کار دئ چي د سامري په څېر وي!! هيڅ واقعي خدای پالونکی به په دې راضي نه شي چي د الله تعالی په نامه دي له غولېدلو عوامو سره زر ترلاسه شي او هغه دي په داسي مواردو کي مصرف شي، واقعي الهي دين هغه دئ چي خلکو ته وايي: د الله تعالی د بې وزلو بندگانو مرسته وکړئ، شتمنۍ مو د خير په کارونو کي، د وږو په مړولو کي، د بربنډو په پټولو کي، د بيمارانو په تداوي کي او د مسکينانو په لاس نيوي کي ولگوئ، سره او سپين زر مه ذخيره کوئ، چا چي ذخيره کړل ځای ئې جهنم دئ!!

- موسی عليه السلام خپل قوم ته غصه ناك او افسوس ناك ستون شو، وئې ويل: اې زما قومه! آيا الله د غوره وعدو ژمنه نه وه درسره کړې، آيا د وعدې دا موده درباندي اوږده شوه، يا ومو غوښتل چي د خپل رب غضب درباندي راپرېوځي، نو ځکه مو زما له وعدې تخلف وکړ؟!

قَالُواْ مَآ أَخۡلَفۡنَا مَوۡعِدَكَ بِمَلۡكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلۡنَآ أَوۡزَارٗا مِّن زِينَةِ ٱلۡقَوۡمِ فَقَذَفۡنَٰهَا
فَكَذَٰلِكَ أَلۡقَى ٱلسَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾ فَأَخۡرَجَ لَهُمۡ عِجۡلٗا جَسَدٗا لَّهُۥ خُوَارٞ فَقَالُواْ هَٰذَآ
إِلَٰهُكُمۡ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾ أَفَلَا يَرَوۡنَ أَلَّا يَرۡجِعُ إِلَيۡهِمۡ قَوۡلٗا وَلَا يَمۡلِكُ لَهُمۡ
ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا ﴿٨٩﴾ وَلَقَدۡ قَالَ لَهُمۡ هَٰرُونُ مِن قَبۡلُ يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦۖ وَإِنَّ
رَبَّكُمُ ٱلرَّحۡمَٰنُ فَٱتَّبِعُونِي وَأَطِيعُوٓاْ أَمۡرِي ﴿٩٠﴾ قَالُواْ لَن نَّبۡرَحَ عَلَيۡهِ عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ
يَرۡجِعَ إِلَيۡنَا مُوسَىٰ ﴿٩١﴾

وئې ويل: موږ په خپلي خوښي او واك سره ستا له وعدې څخه نه يو په شا شوي، خو د هغه قوم د گاڼو پېټي راپه شا شول، نو ومو غورځول او سامري هم وغورځول، نو سخوندر ته ورته مجسمه ئې ورته راوايسته چي رمباړه ئې وه او وئې ويل: دا ستاسو او د موسی معبود دئ چي هېر کړی ئې دئ، آيا دې ته ئې نه کتل چي هيڅ خبره نه ورگرځوي (د خبري ځواب نه شي ورکولی) او نه دوی ته د کومي گټي واك لري او نه

د څه تاوان، او يقيناً چي هارون تر دې وړاندي ورته ويلي وو: اې زما قومه! يقيناً چي په دې سره وآزمويل شوئ او ستاسو رب خو له شکه پرته هماغه رحمن رب دئ، نو زما متابعت وکړئ او زما د امر اطاعت وکړئ، وئې ويل: تر هغه به ئې تل اعتکاف کوو (پر لمانځني به ئې ټينګار کوو) چي موسی راوګرځي.

(۸۷-۹۱)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- قوم موسی عليه السلام ته وويل: موږ دا کار په خپل سر نه دئ کړی، په خپله خوښه ستا له وعدې څخه نه يو په شا شوي، خو د هغه قوم د ګاڼو پيټي راپه شا شول، نو ومو غورځول او سامري هم وغورځول، نو سخوندر ته ورته مجسمه ئې ورته راوايسته چي رمباړه ئې وه او وئې ويل: دا ستاسو او د موسی معبود دئ، دلته د آيت په پای کي راغلي چي هېر ئې کړ، ځيني مفسرين دا د سامري وينا ګڼي او وايي چي هغه د موسی عليه السلام په اړه وويل: همدا د موسی عليه السلام خدای دئ، خو ترې هېر شوی!! چي په دې صورت کي به ئې معنی دا وي چي موسی عليه السلام غوښتل داسي معبود جوړ کړي خو د هېرېدو له کبله دا کار ترې پاته شوی، د بل تعبير له مخي دا د الله تعالی قول ګڼل شوی چي معنی ئې دا ده: قوم د موسی عليه السلام هغه لارښووني هېري کړې چي د الله تعالی په اړه ئې دوی ته کړې وې، له همدې کبله د سامري په لومي کي ونښتل او له سرو زرو جوړ شوی سخوندر ئې د الله تعالی ځای ناستی وګڼلو.
- دوی دې ته هم نه کتل چي دا سخوندر ډوله معبود هيڅ خبره نه ورګرځوي، د هيڅ خبري ځواب نه شي ورکولی، نه دوی ته د کومي ګټې واك لري او نه د څه تاوان.
- هارون عليه السلام تر دې وړاندي ورته ويلي وو: اې زما قومه! يقيناً چي په دې سره وآزمويل شوئ او ستاسو رب خو له شکه پرته هماغه رحمن رب دئ، نو زما متابعت وکړئ او زما د امر اطاعت وکړئ.
- قوم په ځواب کي ورته ويلي: تر هغه به ئې تل پر لمانځني ټينګار کوو چي موسی راوګرځي.

ګورئ چي قرآن موږ ته وايي: (طلايي بُت) جوړول د (سامري) کار دئ، موږ ته د ټولو طلايي معبودانو او معبدونو حقيقت بيانوي او لارښوونه راته کوي چي که چېري تاسو ته داسي معبد او معبود په نظر درشي چي له سرو او سپينو زرو جوړشوی نو پوه شئ چي د دې په جوړولو کي حتماً د کوم سامري لاس وو!!

قَالَ يَـٰهَـٰرُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوٓاْ ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ۖ أَفَعَصَيْتَ أَمْرِى ﴿٩٣﴾ قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِى وَلَا بِرَأْسِىٓ ۖ إِنِّى خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِى ﴿٩٤﴾

وئې ويل: اې هارونه! څه شي له دې منع کړې چي دوی دې بې لارې وموندل او زما اطاعت دې ونه کړ؟! آيا زما له امره دې سرغړاوی وکړ؟ وئې ويل: اې زما د مور بچيه! تر ږيري او تر سر مې مه نيسه، زه له دې ووېرېدم چي ته به (راته) ووايې: په بني اسرائيلو کي دي تفرقه راولاړه کړه او زما د وينا خيال دې ونه کړ!!

(۹۲-۹۴)- دا مبارك آيتونه د موسى عليه السلام هغه جلالي حالت انځوروي چې خپل قوم ته غضبناك راګرځېدلی، خپل ورور هارون عليه السلام ئې د سر او ږيرې له وېښتانو كلك نيولی، ځان ته ئې راكښ كړی او ورته ويلي ئې دي: اې هارونه! څه شي له دې منع كړې چې دوی دې بې لارې ومومندل او زما اطاعت دې ونه كړ؟! آيا زما له امره دې سرغړاوی وكړ؟ د هارون عليه السلام ځواب هم د يوه صالح، صبرناك، د لوی زغم خاوند او باحكمته او بادرايته ورور په توګه داسې انځوروي: اې زما د مور بچيه! تر ږيرې او تر سر مې مه نيسه، ما خپله دنده ترسره كړې، د خپل وس او توان تر حده مې د دوی مخنيوی كړی، دومره چې ووېرېدم ته به مې ورتې او راته وبه وايې: په بني اسرائيلو كې دې تفرقه راولاړه كړه او زما د وينا خيال دې ونه كړ!!

دې ته مو پام وي چې ځينو درنو مفسرينو د هارون عليه السلام دا وينا داسې تعبير كړې لكه چې هغه اصلاً د سامري هيڅ مقابله نه وي كړې، حال دا چې قرآن په ډېر صراحت سره په ۹۰ آيت كې وايي: هارون تر دې وړاندې ورته ويلي وو: اې زما قومه! يقيناً چې په دې سره وآزمويل شوئ او ستاسو رب خو له شكه پرته هماغه رحمن رب دئ، نو زما متابعت وكړئ او زما د امر اطاعت وكړئ. قوم ځواب وركړی وو چې موږ د موسى عليه السلام تر راتلو پورې د دې بُت له لمانځنې لاس نه اخلو.

دا مطلب د الاعراف په سوره كې په دې توګه راغلی:

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ غَضۡبَٰنَ أَسِفٗا قَالَ بِئۡسَمَا خَلَفۡتُمُونِي مِنۢ بَعۡدِيٓۖ أَعَجِلۡتُمۡ أَمۡرَ رَبِّكُمۡۖ وَأَلۡقَى ٱلۡأَلۡوَاحَ وَأَخَذَ بِرَأۡسِ أَخِيهِ يَجُرُّهُۥٓ إِلَيۡهِۚ قَالَ ٱبۡنَ أُمَّ إِنَّ ٱلۡقَوۡمَ ٱسۡتَضۡعَفُونِي وَكَادُواْ يَقۡتُلُونَنِي فَلَا تُشۡمِتۡ بِيَ ٱلۡأَعۡدَآءَ وَلَا تَجۡعَلۡنِي مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥٠﴾ قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَلِأَخِي وَأَدۡخِلۡنَا فِي رَحۡمَتِكَۖ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿١٥١﴾

الاعراف: ۱۵۰ -۱۵۱

او كله چې موسى خپل قوم ته غصه ناك او اسفناك راوګرځېدو وئې ويل: له ما وروسته مو زما ډېر بد نيابت كړی، آيا د خپل رب په كار كې مو دومره تلوار وكړ؟ (داسې ژر مو د الله تعالی په ځای د بُت عبادت پيل كړ؟) الواح ئې لرې وغورځولې او خپل ورور ئې تر سر ونيو او د ځان په لورې ئې راښكود، (ورور ئې) وويل: زما د مور بچيه! قوم كمزوری وګڼلم، نږدې وو ومې وژني، نو دښمنان مه راباندې ښادوه او د ظالم قوم له ډلې مې مه ګرځوه! وئې ويل: زما ربه! ما ته بخښنه وكړې او زما ورور ته هم او په خپل رحمت كې مو داخل كړې او ته خو يقيناً چې تر ټولو رحم كوونكو زيات رحم كوونكی يې.

دا آيتونه موږ ته وايي:

- **موسى عليه السلام خپل قوم ته غصه ناك او اسفناك راوګرځېد، له يوې خوا سخت غصه وو او له بلې خوا ئې د دې ناپوه قوم په حالت تأسف كولو چې څنګه دومره ژر دوكه شول او د شرك په ګنده ډنډ كې پرېوتل.**
- **ورور ته ئې وويل: زما بد نيابت دې كړی.**

- **له ډېرې غصې ئې الواح پر زمکه وغورځولې.**
- **خپل ورور ئې له ږېرې او د سر له وېښتانو ونيولو او په زور ئې ځان ته راښكود.**
- **هارون عليه السلام د يوه مطيع او صالح ورور په توګه ورته وويل: ما خپله دنده ترسره کړې، دوی مې له دې كاره منعه كړي، خو راباندې برلاسي شول، نږدې وو ما ووژني، له ما سره دا اندېښنه وه چې ته به مې پر دې ملامتوې چې ولې دې په قوم كې اختلاف راولاړ كړ او زما تر راتلو دې انتظار ونه كړ، خو د انتظار خلاف ګورم چې ته مې رټې، دښمنان مه راباندې ښادوه، مه مې د ظالمانو له ډلې شمېره او مه مې داسې كار ته اړ كوه چې ظالمان ئې كوې!**
- **د هارون عليه السلام د خبرو له اورېدو وروسته حقيقت ورته جوت شوی، له تحقيق او پوښتنې ګروېږنې مخکې د هارون عليه السلام په اړه دا كار ئې خپله غلطي او اشتباه ګڼلې، د ځان او خپل ورور لپاره ئې د مغفرت او رحمت دعاء كړې.**
- **په دې قصې كې د موسی عليه السلام لوړ همت، جلال او ديني غيرت انځور شوی، دا ئې نښو زغملی چې د ده قوم د شرك په ډنډ كې پرېوځي، ګمان ئې كړی چې هارون عليه السلام تساهل او نرمي كړې، نو ځكه ئې له ږېرې او د سر له وېښتانو ونيولو او په زور ئې ځان ته راښكود. هيبت ئې هومره چې نه ئې سامري مخې ته ودرېدی شو او نه د هغه مشرك پلويان.**

ګورئ چې د موسی عليه السلام چلند جدي وو، له خپل نائب سره هم او له سامري او د سامري له پلويانو سره هم، خپل ورور د سر او ږېرې له وېښتانو نيسي، په قهر او غصې سره ئې د ځان په لوري راكاږي، ورته وايي: ولې دې د سامري او د هغه د پلويانو د شرك په وړاندې سكوت وكړ؟ كله چې دې دوی وليدل د الله تعالی په ځای د سخوندر عبادت كوي ولې دې مخنيوی ونه كړ؟ هغه ورته وايي: ای زما د مور زويه! "ای زما وروره!" زه قوم بې وسه كړم، نږدې وو چې ما ووژني، دښمنان مه راباندې خوشحالوه! او ما د ظالمانو له جملې څخه مه ګرځوه! ما مه د دوی ملګری ګڼه او مه مې داسې كار ته اړ كوه چې ستا په وړاندې بې ادبي وكړم او له ظالمانو څخه شم، ورته وايي: ما تر ډېره حده د دوی مقابله وكړه، حتی له ما سره دا وېره راولاړه شوه چې ته به له راګرځېدو وروسته ما په دې ملامت كړې چې ولې دې زما تر راتلو انتظار ونه كړ؟ ولې دې په ولس كې اختلاف راولاړ كړ؟ ولې دې د ولس د وحدت او يووالي خيال ونه ساتو؟

موسی عليه السلام بُت ټوټې ټوټې كوي، بيا ئې سوزوي او ايرې ئې په اوبو كې غورځوي، او سامري ته داسې سزا اعلانوي چې هر څوك به ترې لرې ګرځي او له لاس وروړو به ځان ساتي.

كله چې بني اسرائيل له مصر څخه وتل، د لارې په اوږدو كې د داسې قوم خوا ته تېر شول چې بُتان ئې لمانځل، دوی هم له موسی عليه السلام وغوښتل چې همداسې كوم بُت ورته جوړ كړي، موسی عليه السلام سخت ورټل او دا ئې د يوه جاهل او ناپوه قوم غوښتنه وګڼله، سامري د قوم دا تلوسه او د ضعف نقطه درك كړه، منتظر وو چې په كوم مناسب فرصت كې ترې ګټه واخلي، پوه شو چې دا خلك څرګند او تر سترګو كېدونكی خدای غواړي، د ولس جاهلانه تلوسې او د موسی عليه السلام موقت غيابت دا موقع په

لاس ورکړه، په بیړه پاڅېدو، خلکو ته ئې وویل: باید د نورو قومونو په څېر د دعاء او عبادت پر مهال د خدای انځور زموږ مخې ته ولاړ وي، سخوندر د قوت نښه ده، د خدای قدرت او ځواکمنې باید د سخوندر په بڼه کې انځور کړو، که تاسو خدای منئ نو خپلې ګاڼې راوړئ، دوی ته ئې د سخوندر داسې مجسمه جوړه کړه چې کله کله به رمباړه ترې پورته کېده، منځ ئې ګوګ او مجوف وو، کله چې به هوا د ګوګ له منځه تېرېده نو غږ به ئې ترې پورته کېدو، قوم ته ئې وویل: دا همغه خدای دئ چې تاسو ئې له مصره وایستئ!!

د ګاڼو له غونډولو معلومېږي چې ښايي په دې کار کې د ښځو ونډه تر نارینه وو زیاته وه!! اوس هم ګورئ چې د کوډګرو، تعویذګرو، فال نیونکو، نجومیانو، زیارتونو، پیرانو او فقیرانو خوا ته اکثراً ښځې ورځي او د خپلو حاجتونو ترسره کېدا ترې غواړي، او په بدل کې ئې شکرانې او نذرانې ورکوي.

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَـٰسَـٰمِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُواْ بِهِۦ فَقَبَضْتُ
قَبْضَةً مِّنْ أَثَرِ ٱلرَّسُولِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ لِى نَفْسِى ﴿٩٦﴾ قَالَ فَٱذْهَبْ
فَإِنَّ لَكَ فِى ٱلْحَيَوٰةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَ ۖ وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّن تُخْلَفَهُۥ ۖ وَٱنظُرْ
إِلَىٰٓ إِلَـٰهِكَ ٱلَّذِى ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ۖ لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُۥ فِى ٱلْيَمِّ نَسْفًا ﴿٩٧﴾
إِنَّمَآ إِلَـٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَسِعَ كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾

وئې ویل: اې سامري! ستا څه حال وو؟ وئې ویل: هغه څه مې ترسترګو شول چې د نورو ترسترګو نه شول، نو د پیغمبر له آثارو مې یو موټ ترلاسه کړل، بیا مې وغورځول، نفس مې همدا راته ښایسته کړ، وئې ویل: نو درومه او ستا لپاره به د دنیا په ژوند کې دا ویل وي چې: لاس مه راوړئ او تا ته داسې نېټه ټاکل شوې چې ترې شا ته کېدا دې نشته او خپل هغه معبود ته دې وګوره چې پرمخې ئې خوا ته پرېوتی وې، خامخا به ئې وسوزوو، بیا به ئې د ایرو په څېر په سیند کې وشیندو، خبره دا ده بله نه ده چې ستاسو معبود هغه الله دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، علماً ئې په هرڅه احتواء کړې.

(۹۵-۹۸)- د دې مبارکو آیتونو په اړه مو څو خبرو ته پام وي:

• موسی علیه السلام سامري ته مخ کړ او وئې پوښتو: اې سامري! ستا څه حال وو؟ ولې دې دا کار کړی؟ سامري ځواب ورکړی: داسې څه مې ترسترګو شول چې د نورو خلکو ترسترګو نه شول، نو د پیغمبر له آثارو مې یو موټ ترلاسه کړل، بیا مې وغورځول، نفس مې همدا راته ښایسته کړ! دلته دا وضاحت نه تر سترګو کېږي چې سامري څه لیدلي، دومره ویل شوي چې د پیغمبر آثار ئې تر سترګو شوي او یو موټ ئې ترې اخیستی، ځینو له دغو الفاظو دا انتباه اخیستې چې سامري جبریل علیه السلام لیدلی او د هغه د آس د پلونو یو موټ خاوره ئې ترلاسه کړې، همدا ئې د سخوندر په خوله کې اچولې او د سخوندر د رمبارې وجه همدا خاوره وه!! خو دا خوشې ادعاء او بې بنسټه انګېرنه ده، په څو دلائلو: قرآن نه دې ویلي چې جبریل په اسپي سپور ځان فرعون ته ورښودلی چې د ده آس وهڅوي او ورپسې شي او سیند ته ننوځي، دوی دا خبره له کومه ځایه راایستلې؟ که دا کار شوی وي نو دا خو به ئې د سیند آبلې غاړې کې فرعون ته ښودلې وي نو سامري څنګه ولید، په داسې حال کې چې سامري د سیند په دې غاړې کې وو؟ ولې به یوازې سامري لیدو او ولې به ګڼ شمېر نورو نه وي لیدلی؟ دې ته څه ضرورت وو چې د فرعون د آس د هڅولو لپاره باید جبریل علیه السلام له آسمانه راکوز او پر یوې اسپې سپور شي؟!! مګر الله تعالی له دې پرته دا کار نشي کولی؟!!

• په لږ دقت سره د آیت له فحوی معلومېږي چې د سامري مراد له رسول څخه په خپله موسی علیه السلام دئ او د رسول له اثر څخه ئې مراد د موسی علیه السلام لارښوونې دي، په عربې کې اثر او آثار همدې ته وایي، مطلب ئې دا دئ چې ما د پیغمبر ځینې لارښوونې ترلاسه کړې، د دین په ځینو برخو پوه شوم، څه علم راپه برخه شو، خو د هوی او هوس په غوښتنه مې هغه لرې وغورځول، او دغه کار ته ئې وهڅولم، خلکو د هغه مخکنې دیني علم او پوهې له امله زما خبرې ومنلې او سخوندر لمانځلو ته چمتو شول. په دې سره قرآن موږ ته د سامري او سامریانو د ښه پېژندو په اړه لارښوونه کوي او د دوی ځانګړتیاوې داسې معرفي کوي: تر عامو خلکو ئې پوهه او بصیرت نسبتاً زیات دئ، یعني شیخ او ملا دئ، هم خلك ورته د پوه په سترګه ګوري او هم په خپله ځان تر نورو پوه ګڼي، د پیغمبر له لارښوونو، شعارونو او علومو ئې هم څه برخه ترلاسه کړې، خو په نیمې لارې کې ئې ټول شا ته غورځولي، نفس دوکه کړی او د خلکو غولولو ته ئې هڅولی. یعني د شرك بنسټ د هغو ټګمارو مذهبي مشرانو په لاس ایښودل شوی چې د پیغمبر له آثارو او د دین له ویناوو ئې څه برخه درلوده، خو دا ئې شا ته غورځولي او د خلکو د دوکه کولو لپاره ئې ملا تړلې، د سرو زرو بُت ئې ورته جوړ کړی، هغه هم په خپله د دوی له ګاڼو او پیسو او ورته ویلي ئې دي: دا ستاسو رب دئ او په دې توګه ئې خلك د الله تعالی په ځای د (سخوندر) عبادت ته چمتو کړي!!

• موسی علیه السلام هغه ته وویل: نو درومه او ستا لپاره به د دنیا په ژوند کې دا ویل وي چې: لاس مه راوړئ او تا ته داسې نېټه ټاکل شوې چې ترې شا ته کېدا دې نشته او خپل هغه معبود ته دې وګوره چې پرمخې ئې خوا ته پرېوتی وې، خامخا به ئې وسوزوو، بیا به ئې د ایرو په څېر په سیند کې وشیندو، خبره دا ده بله نه ده چې ستاسو معبود هغه الله دئ چې له ده پرته بل معبود نشته، علماً ئې په هرڅه احتواء کړې. سامري ته د موسی علیه السلام له دې وینا معلومېږي چې هغه غوښتل خلك وغولوي، د ځان ملګري ئې کړي، د پلویانو شمېر ئې زیات شي، په همدې موخه ئې دا بُت جوړ کړی وو، نو ځکه موسی علیه السلام د هغه سزا داسې اعلان کړه: درومه او ستا لپاره به د دنیا په ژوند کې دا ویل وي چې: لاس مه راوړئ!! یعني همدغو خلکو ته به وایې: زما خوا ته مه راځئ، له ما لرې ګرځئ، ما ته لاس مه راوړئ!!

• دې ته مو هم پام وي چې غربي مستشرقینو د نورو مواردو په څېر دلته هم د (سامري) د نامه په اړه دا اعتراض کړی چې ګواکې قرآن د سامري نوم له مخکنیو کتابونو په غلطه توګه اخیستی او دا په اصل کې سامریه د بني اسرائیلو د هېواد هغه پلازمېنه ده چې تر دې واقعې ډېر وروسته دا پلازمېنه جوړه شوې او دا نوم ورته غوره شوی!! خو که له دې جنابانو پوښتنه وکړو چې د (سامریه) نوم له څه اخیستل شوی؟ ولې دې پلازمېنې ته دا نوم ورکړی شو؟ که دا نوم په دوی کې پېژندل شوی نوم نه وی څنګه ئې د پلازمېنې لپاره غوره کاوو؟ ځواب به ئې څه وي؟!!، د دې بې بنسټه او چټي اعتراض وجه دا ده چې بایبل د سخوندر جوړول هارون علیه السلام ته منسوب کړي، نو دا مستشرقین ځکه د سامري د نامه په اړه دې وینا ته اړ شوي!! بایبل په دې اړه لیکلي: کله چې

موسی د سینا په غره کې وو خدای ورته هغه لوحې ورکړې چې په خپلو ګوتو ئې لس احکام په کې لیکلي وو!! خو د سینا په غره کې ئې ځنډ وکړ... خلك هارون ته راغلل چې پاڅه او موږ ته خدای جوړ کړه چې زموږ لارښوونه وکړي... هارون ورته وویل: د سرو زرو هغه ګاڼې ما ته راوړئ چې ستاسو د مېرمنو، لوڼو او زامنو په غوږونو کې دي، خلکو دا کار وکړ... هارون ټولې ویلې کړې، په یوه قالب کې ئې واچولې او سخوندر ئې ترې جوړ کړ، کله چې خلکو سخوندر ولید چیغې ئې کړې: اې بني اسرائیلو! دا ستاسو هغه خدای دئ چې له مصره ئې راوایستئ!! هارون د دې صحنې په لیدو سره د سخوندر مخې ته د قربانۍ ځای هم جوړ کړ او وئې ویل: سبا د خدای لپاره جشن نیسو!! سبا خلك سهار وختي پاڅېدل، د سخوندر په وړاندې ئې د سوزولو او سلامتی قرباني وړانده کړه، کښېنستل... ښه ډېر خوراك څښاك او د بې حیایی کارونه ئې وکړل... خدای موسی ته وویل: په تلوار لاندې ولاړ شه چې ستا قوم فاسد شوی... پرېږده چې د خپلې غصې اور پرې بل کړم... او ټول ووژنم... خو موسی وویل: خدایه! ولې پر خپل قوم دومره غصه یې؟ سوال کوم چې خپله غصه پرېږده او د خپل قوم له مجازاته تېر شه!! ... خپله هغه لوړه درپه یاد کړه چې ابراهیم او اسحاق ته دې ویلې وو: په خپل ذات لوړه کوم چې ستاسو اولاد به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!! ... نو له دې کبله خدای له خپل تصمیم تېر شو!! ... نو موسی له غره راکوز شو... او هغه دوه ډبریني لوحې ئې په لاس کې وې چې په دواړو خواوو ئې (خدای په خپل لاس) لس احکام لیکلي وو... کله چې پنډغالي ته رانږدې شو، شور او ځوږ ئې ترغوږ شو... سترګي ئې پر طلایي سخوندر ولګېدې چې خلك ئې مخې ته په نڅا او خندا بوخت دي... داسې غصه شو چې لوحې ئې تر غره!! لاندې وغورځولې او ټوټې ټوټې شوې... بیا ئې طلایي سخوندر په اور کې ویلې کړ، وئې ټکاوو او د هغه دوړې ئې پر اوبو وشیندلې او دا اوبه ئې پر بني اسرائیلو وڅښلې!!! ... هارون ته ئې وویل: ولې دې له قوم سره دا جفا وکړه؟.. د پنډغالي په دروازه کې ودرېدو او غږ ئې کړ: څوك چې د خدای پلوي وي زما خوا ته دې راشي... د لاوي ټول ټبر د ده خوا ته راغونډ شو... ورته وئې ویل: خدای امر کوي چې توري ترملا وتړئ، د پنډغالي له یوه سره تر بل سره ولاړ شئ، خپل ورور، دوست او ګاونډي ووژنئ...لاویانو اطاعت وکړ او په دې ورځ درې زره اسرائیلیان ووژل شول... موسی لاویانو ته وویل: تاسو ثابته کړه چې د خدای د خدمت وړ یاست... نو خدای به تاسو ته برکت درکړي!!!... موسی خدای ته وویل: دې قوم لویه ګناه کړې، خو ته ئې وبخښه او یا خو زما نوم له خپل کتابه محوه کړه!! خدای ورته وویل: ستا نوم به ولې محوه کوم... چا چې ګناه کړې هغه ته سزا ورکوم...خدای د هغه بُت د لمانځنې له کبله چې هارون جوړ کړی وو پر بني اسرائیلو لویه بلا نازله کړه!! بیا خدای موسی ته وفرمایل: دا قوم هغې سیمې ته بوځه چې شات او شیدې په کې بهېږي!!! خو زه به په دې سفر کې ستاسو په منځ کې نه وم، ځکه چې سرکښ یئ... ممکن په لارې کې مو هلاك کړم!! که یوه شېبه ستاسو په منځ کې پاته شم نو تاسو حتماً وژنم... تر څو چې ستاسو په اړه وروستی پرېکړه کوم هر ډول ګاڼې او جواهرات له ځانه لرې کړئ...)

که څه هم د دې وینا جمله جمله غلطه ده او هر عاقل انسان ئې په غلطی پوهېږي، خو د بایبل د هغو منونکو لپاره چې دا کتاب ئې له غور پرته منلی او هره وینا ئې ورته مقدسه برېښي، څو وضاحتونه ضروري ګڼو:

- **آیا الله تعالی زموږ په څېر دئ چې د څه لیکلو لپاره باید قلم په لاس کې واخلي او په خپلو ګوتو څه ولیکي؟!! د الله تعالی په اړه داسې وینا خو یوازې هغه څوك کولی شي چې نه ئې پېژني او په یوه کمزوري او محتاج انسان ئې قیاسوي، راشئ د بایبل دا ضعیفه وینا د قرآن له جامع او کاملې وینا سره مقایسه کړئ چې فرمایي:**

إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾

یس: ۸۲

يقيناً چي د ده كار له دې پرته بل څه نه دئ چي كله د كوم څه اراده وكړي نو ورته وايي: وشه، نو هغه (له ځنډه پرته ترسره) كېږي!!

- **كه په رښتيا دا د سرو زرو سخوندر ډوله بُت او د هغه مخي ته د قربانۍ ځای هارون جوړ كړی وي، نو تر ټولو سخته سزا خو بايد ده ته وركړی شوې وی!! دا څنګه موسی عليه السلام د نورو د وژلو امر كوي، هغه هم له پوښتني او ګوېږني پرته او د پنډغالي له يوه سره تر بله سره د ټولو د وژلو امر، او هارون عليه السلام ته نه يوازي كومه سزا نه وركوي بلكي دی او زامن ئې (لاويان) د معبد د ساتونكو او پالونكو په توګه پرېږدي او پرېمانه امتيازات ورته مني؟!!!**
- **آيا ستاسو عقل او ايمان دا مني چي الله تعالی به داسي پرېكړه كړې وي چي يوه ډله به توري له تېكو راباسي او د پنډغالي له يوه پلوه به تر بله پلوه پوري درومي او چي څوك مخي ته ورځي، كه ئې ورور وي، كه دوست، كه ګاونډی، نو وژني به ئې؟!! پرته له دې چي وګوري د سخوندر عبادت ئې كړی وو كه نه، د وژلو وړ دئ كه نه؟ د عقل، عدل او دين تقاضا خو دا ده چي يوازي مجرم ته سزا وركړی شي او يوازي بُت لمانځونكي مجازات شي!! كه دا د پېټو سترګو وژنه وی نو ولي به له شپږو لكو يوازي درې زره وژل كېدل؟! په كار خو دا وه چي په داسي عام قتل كي د وژل شوو شمېر ډېر زيات وی، كه د بايبل دا خبره رښتيا وي چي درې زره وژل شوي نو بيا خو د دې معنی دا ده چي يوازي مجرمان وژل شوي. متأسفانه زموږ ځيني مفسرين هم د دغو اسرائيلي رواياتو تر اغېز لاندي تللي او د بايبل دا غلطه او بې بنسټه وينا ئې د قرآن د دې مبارك آيت په تفسير كي رااخيستې.**
- **هر عقلمن انسان په دې پوهېږي چي د معبد د سينګارولو لپاره سره او سپين زر كارول او مجاور ته ئې د نفيس ټوكر جامې جوړول او قيمتي ډبري ئې په سينه بند او ملابند كي كارول يوازي د ټګمارو مذهبي مشرانو كار كېدی شي، په اسلام كي نه خاصه مذهبي طبقه شته، نه ئې خاص امتيازات، نه ئې خاصه تبعيضي او امتيازي جامه، نه ئې په قربانيو او صدقاتو كي خاصه برخه، اسلام موږ ته وايي ټوله زمكه مسجد دئ، په هر ځای كي د الله تعالی عبادت كولی شئ، امام په خپله غوره كړئ، هغه امام مه نيسئ چي پر امامت اجوره غواړي، مسجد به مو ساده وي او له سينګارولو به ئې ډډه كوئ، د لمانځه په مهال به امام له مقتديانو څخه په لوړ ځای نه ودرېږي. او دا همغه خبره ده چي د بايبل ليكونكي سهواً ليكلې وه: د قربانۍ ځای له خاورو جوړ كړئ، كه ډبره كاروئ نو مه ئې تراشئ، تراشلې ډبري له ما سره نه ښايي!! په معبد كي زينه هم مه جوړوئ، خو هغه د انجيل په دغي خبري كي تحريف كړی او دا ئې پرې اضافه كړې: داسي نه چي له دغو زينو د پورته تلو په مهال مو عورت بربنډ نه شي...د بايبل ليكونكی دې ته نه دئ تيار چي ووايي: زينې د دې لپاره مه جوړوئ چي د الله تعالی په وړاندي يو برابر ودرېږئ!!**
- **آيا ستاسو عقل دا خبره مني چي موسی عليه السلام به په بني اسرائيلو له اېرو ډكي اوبه څښلې وي؟! ولي به ئې دا بېهوده او بې معنی كار كاوو او د دې ګټه څه وه او څه معنی ئې درلوده؟! قرآن د بايبل دا وينا ردوي او فرمايي چي بني اسرائيلو د سوزول شوي بُت په اېرو لړلې اوبه نه وې څښلې بلكي د دې بُت مينه ئې څښلې وه!!**

كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ مَا قَدۡ سَبَقَۚ وَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ مِن لَّدُنَّا ذِكۡرٗا ﴿٩٩﴾
مَّنۡ أَعۡرَضَ عَنۡهُ فَإِنَّهُۥ يَحۡمِلُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وِزۡرًا ﴿١٠٠﴾ خَٰلِدِينَ فِيهِۖ وَسَآءَ لَهُمۡ يَوۡمَ
ٱلۡقِيَٰمَةِ حِمۡلٗا ﴿١٠١﴾ يَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِۚ وَنَحۡشُرُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٖ زُرۡقٗا ﴿١٠٢﴾

يَتَخَٰفَتُونَ بَيۡنَهُمۡ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا عَشۡرٗا ﴿١٠٣﴾ نَّحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَقُولُونَ إِذۡ يَقُولُ
أَمۡثَلُهُمۡ طَرِيقَةً إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا يَوۡمٗا ﴿١٠٤﴾

همداراز تا ته د هغو (پېښو) قصې بیانوو چې وړاندې تېرې شوې او یقیناً چې له خپل لوري مو تا ته یو ذکر درکړی، څوك چې ترې ډډه وکړي نو د قیامت په ورځ به یو پېټی پر شا وړي، تلپاتی په هغه کې، د قیامت په ورځې به ئې بار څومره بد وي، هغه ورځ چې په شپېلۍ کې به پو شي او مجرمین به په دې ورځ داسې راغونډ کړو چې شنه شنه به (اوښتي) وي، په خپلو منځونو کې به ورو ورو او پټه پټه دا خبره کوي چې یوازې لس ورځې ځنډېدلي یئ!! موږ په هغه څه ښه پوه یو چې دوی ئې وایي هغه مهال چې د تګلارې له پلوه غوره به ئې وایي: یوازې یوه ورځ ځنډېدلي یئ.

(۹۹-۱۰٤)- په دې مبارکو آیتونو کې رسول اللهﷺ ته ویل شوي:

• په دې توګه تا ته د مخکنیو پېښو قصې بیانوو، له خپل لوري مو تا ته دا د پند او یادونې (ستر کتاب قرآن) درکړی، څوك چې ترې ډډه وکړي نو د قیامت په ورځ به د ګناه یو درونډ پېټی پر شا وړي، تر دې درونډ پېټي لاندې تلپاتی، د قیامت په ورځ به ئې دا بار څومره بد وي، هغه ورځ چې په شپېلۍ کې به پو شي او مجرمین به په دې ورځ داسې راغونډ کړو چې شنه شنه به اوښتي وي، چې معنی ئې یا دا ده چې سترګې به ئې له ډېرې وېرې، هیبت او کړاو شنې شوې وي، رډې رډې به راوتلې وي او د سترګو تور به شنه بخون شوي وي، او یا دا چې د دوی رنګ به له هیبته او وېرې شین بخون شوی وي، په خپلو منځونو کې به ورو ورو او پټه پټه دا خبره کوي چې یوازې لس ورځې ځنډېدلي یئ!! تر ټولو غوره به ئې وایي: یوازې یوه ورځ ځنډېدلي یئ. ډېری به په دنیا کې او تر خاورو لاندې خپله ځنډېدا د لسو ورځو ځنډېدا ګڼي او هغه چې د تګلارې له پلوه تر نورو غوره وي او محتاطانه خبره کوي هغه به ئې یوازې د یوې ورځې ځنډېدا بولي.

وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡجِبَالِ فَقُلۡ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسۡفٗا ﴿١٠٥﴾ فَيَذَرُهَا قَاعٗا صَفۡصَفٗا ﴿١٠٦﴾ لَّا
تَرَىٰ فِيهَا عِوَجٗا وَلَآ أَمۡتٗا ﴿١٠٧﴾ يَوۡمَئِذٖ يَتَّبِعُونَ ٱلدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهُۥۖ وَخَشَعَتِ
ٱلۡأَصۡوَاتُ لِلرَّحۡمَٰنِ فَلَا تَسۡمَعُ إِلَّا هَمۡسٗا ﴿١٠٨﴾ يَوۡمَئِذٖ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنۡ
أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُۥ قَوۡلٗا ﴿١٠٩﴾ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا
يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا ﴿١١٠﴾

او د غرونو په اړه تا پوښتي، ووايه: زما رب به ئې د دوړو په څېر خواره واره کړي، نو د آواز ډاګ په څېر به ئې پرېږدي، نه به کوم پيچومى په کي ګورې او نه لوړه ژوره، په دې ورځ به په بلونکي پسې داسي درومي چي کوږوالى به ئې نه وي، او د رحمن رب په وړاندي به غږونه ټت شي، نو له کښېهار (د پښو څپا) پرته به بل څه نه اورې. په هغه ورځ به شفاعت څه ګټه نه رسوي، مګر د هغه چا چي خداى اجازه ورکړې او د ده په وينا راضي شي، هر هغه څه ورته معلوم دي چي د دوى مخي ته دي يا ئې شا ته دي او دوى علماً پرې احاطه نشي کولى.

(١٠٥-١١٠)- د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- **د قيامت منکرين له رسول الله ﷺ پوښتل چي دا ستر ستر غرونه به څنګه شي؟ څنګه ومنو چي دا به ټوټې ټوټې شي؟! دوى ته په ځواب کي ويل شوي: زما رب به ئې د دوړو په څېر خواره واره کړي، زمکه به د آواز ډاګ په څېر کړي، نه به کوم پيچومى په کي ګورې او نه لوړه ژوره. هغه خلك چي نظر ئې کمزورى او لري ليد ئې تنګ دئ، د يوه مضبوط دېوال رنګېدل هم ورته ګران برېښي، د سترو سترو غرونو رنګېدل او ټوټې ټوټې کېدا خو آخوا پرېږده، خو هغه چي له حقايقو خبر دي پوهېږي چي په دې خور عالم کي هره ګړې داسي ستر ستر ستوري له منځه ځي چي زمکه د هغوى په پرتله يوه توپ ته ورته ده، دا غرونه په حقيقت کي له داسي وړو وړو اتومونو جوړ شوي چي د جاذبې يوه ځواك سره راغونډ کړي، که دا جاذبه له منځه ولاړه شي نو غرونه به ټوټې ټوټې نه بلکي داسي دوړي دوړي شي چي ذرات به ئې په سترګو هم نه ليدل کېږي.**
- **قرآن وايي چي د قيامت په ورځ به دا زمکه او آسمان په بشپړه توګه له منځه ولاړ شي، نوې زمکه او نوى آسمان به پيدا شي، د هغې زمکي سر به داسي آوار ډاګ وي چي نه به پيچومي په کي ليدل کېږي او نه لوړي ژوري.**
- **په دې ورځ به ټول خلك له قبرونو راپاځي، د محشر په لور به د تلو او راغونډېدو بلنه ورکړى شي، ټول به په بلونکي پسي داسي درومي چي يوې خوا بلې خوا ته به نه کږېږي، د رحمن رب په وړاندي به ودرېږي، غږونه به ټت اوټيټ شي، له کښېهار پرته به بل څه نه اورېدل کېږي.**
- **په دغه ورځ به شفاعت څه ګټه نه رسوي، مګر د هغه چا چي خداى اجازه ورکړې او د ده په وينا راضي شي، الله تعالى پر دې راضي شي چي هغه څه ووايي او يوازي هغه څه به ويلى شي چي الله تعالى پرې راضي کېږي، نه د الله تعالى له اجازت او رضايت پرته شفاعت کولى شي او نه د نامستحقو په اړه د شفاعت مجال ترلاسه کولى شي. دا ځکه چي الله تعالى ته هر هغه څه معلوم دي چي د دوى مخي ته دي يا ئې شا ته دي، په ظاهر او باطن ئې، په ماضي او مستقبل ئې، په مخکني عمل ئې او په راتلونکي مناسبې سزا ئې، په هغو کارونو ئې چي وړاندي ئې لېږلي او هغه چي شا ته ئې پرېښي، پر ټولو پوهېږي، نو د داسي عليم ذات په وړاندي به شفاعت څه ارزښت لري، شفاعت خو د هغه چا په وړاندي ارزښت لري چي د بل**

معلومات ته اړ وي، بل ئې د چا له ښېګڼو خبر کړي، ورته ووايي: دا ښه سړى دئ، د سزا وړ نه دئ، د بخښنې مستحق دئ، زه ئې پېژنم نو ځکه ئې شفاعت کوم!!

- **د آيت د وروستى فقرې په اړه لږ توقف په کار دئ، دلته ويل شوي: او دوى علماً پرې احاطه نشي کولى. دا پوښتنه راولاړېږي چې په چا او څه علماً احاطه نشي کولى؟ پر الله تعالى که پر هغه چا چې شفاعت ئې کېږي؟ د الله تعالى په علم او که د دې کس پر کړنو؟ که څه هم اکثر مفسرين دا الله تعالى او د هغه علم ته راجع ګڼي خو د فقرې له الفاظو او سياق و سباق معلومېږي چې مراد ترې د دغه کس حالت او کړني دي، يعني شفاعت کوونکي په بشپړه توګه نه پوهېږي چې دا کس څنګه دئ، د شفاعت وړ دئ که نه؟ د بخښنې مستحق دئ که د عذاب؟ د کوم کس کوم عمل ښه ورته معلوم شوى او همدې ته په پام سره ئې د شفاعت او بخښنې وړ ګڼي، خو هغه څه خبر دئ چې د دې عمل تر شا ئې څه اراده او قصد وو او نور عملونه ئې څنګه دي، دا تعبير د دې لپاره دقيق دئ چې دلته د همدې کس په اړه د علم او معلومات موضوع مطرح ده نه د الله تعالى د علم موضوع، مطلب ئې دا دئ چې الله تعالى ئې ښه پېژني او شفاعت کوونکي ئې سم او په بشپړه توګه نه پېژني.**
- **دا آيتونه پدې دلالت کوي چې د قيامت په ورځ به د مشرکانو مزعوم شفاعت نه وي، د شفاعت په اړه د دوى تصور او ګمان بې اساسه او غلط دئ، دا ډول تصور په شرک ککړ او له شرکي افکارو راولاړ شوى تصور دئ، شريعت هغه شفاعت مني چې د دې خصوصياتو درلودونکي وي:**

- شفاعت کوونکي د الله تعالى له خوا ټاکل کېږي او د الله تعالى له اجازې وروسته به شفاعت کولى شي.
- د شفاعت وړ او د سفارش مستحق کسان به هم د الله تعالى له خوا غوره کېږي او له الهي اذن وروسته به د دوى شفاعت کېدى شي.
- هيڅوك دا جرأت او وس نه لري چې د الله تعالى له اجازې پرته د هغه په وړاندې څه ووايي او نه څوك د هغه له اذن پرته د چا د شفاعت حق او جرأت لري.
- هغه شخص د شفاعت وړ بلل کېږي چې مسلمان وي خو جرم ترې شوى وي، د مشرك لپاره شفاعت نشته، الله تعالى له شرك پرته د ټولو ګناهونو بخښنه کوي، خوشرك نه بخښي او نه د مشرك په حق کې د چا شفاعت قبلوي او هيڅوك هم دا جرأت نشي کولى چې د الله تعالى په وړاندې د کوم مشرك شفاعت وکړي.

وَعَنَتِ ٱلۡوُجُوهُ لِلۡحَيِّ ٱلۡقَيُّومِۖ وَقَدۡ خَابَ مَنۡ حَمَلَ ظُلۡمٗا ﴿١١١﴾ وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَا يَخَافُ ظُلۡمٗا وَلَا هَضۡمٗا ﴿١١٢﴾

او مخونه د مدبر ژوندي رب په وړاندې خاضع او تسليم دي او يقيناً هغه څوك نامراد

شو چي د ظلم پېټی ئې پر شا کړ، او څوك چي نېك عملونه وکړي؛ په داسي حال کي چي مؤمن وي؛ نو نه به له ظلم وېره لري او نه له حق تلفي.

(۱۱۱-۱۱۲)- دلته د قیامت په ورځ او د الله تعالی په وړاندي د دوو ډلو د ودرېدو څرنګوالی انځور شوی، یوې خوا ته هغه چي سرونه به ئې ټیټ، غاړي کږې، په څېرو کي ئې د وېري او ذلت نښي له ورایه څرګندي، دا هغه خلك دي چي د ظلم پېټي به ئې پر شا وي، په دنیا کي خپل زور ځواك مغرور کړي ول، د کفر، شرك او ظلم لار ئې غوره کړې وه، نن به د سرټیټو او ذلیلو انسانانو په څېر د الله تعالی په وړاندي ولاړ وي، بلي خوا ته به هغه مؤمنان وي چي نېك عملونه ئې کړي، د الله تعالی په وړاندي به ډاډه او مطمئن ولاړ وي، نه به له دې وېرېږي چي ظلم به پرې وشي او نه له دې چي حق به ئې تلف شي.

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا وَصَرَّفۡنَا فِيهِ مِنَ ٱلۡوَعِيدِ لَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ أَوۡ يُحۡدِثُ لَهُمۡ ذِكۡرٗا ﴿١١٣﴾

همداسي مو د عربي قرآن په توګه نازل کړ او په هغه کي مو ډول ډول تنبیهات بیان کړل چي ځان ساتنه وکړي او یا دوی ته پند اخیستنه رامنځته کړی شي.

(۱۱٤)- لکه چي نورو قومونو ته خپل خپل پیغمبران ورغلل، هر یوه ته د خپل قوم په ژبه کتاب ورکړی شوی وو؛ عربو ته مو عربي قرآن ولېږو، په دې قرآن کي مو په مکرره توګه ډول ډول تنبیهات بیان کړل؛ په دې موخه چي دوی له انحرافاتو، ظلم او فساد ځان وساتي او د پند اخیستو مجال ترلاسه کړي.

فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۗ وَلَا تَعۡجَلۡ بِٱلۡقُرۡءَانِ مِن قَبۡلِ أَن يُقۡضَىٰٓ إِلَيۡكَ وَحۡيُهُۥۖ وَقُل رَّبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا ﴿١١٤﴾ وَلَقَدۡ عَهِدۡنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبۡلُ فَنَسِيَ وَلَمۡ نَجِدۡ لَهُۥ عَزۡمٗا ﴿١١٥﴾

نو حقیقي ټولواك الله د لوړ شأن څښتن دئ، او پر قرآن تر هغه وړاندي تلوار مه کوه چي تا ته ئې وحي بشپړه شي، او ووایه: اې زما ربه! علم مي زیات کړې. او یقیناً چي تر دې وړاندي مو آدم ته حکم کړی وو؛ نو هېر ئې کړ او د عزم خاوند مو ونه موند.

(۱۱٤-۱۱۵)- د دې مبارکو آیتونو په اړه لاندي خبري په پام کي ولرئ:

- د آیت لومړۍ فقره د مخکنیو آیتونو ښکلې تتمه ده، د قیامت په اړه د مشرکینو انګېرني ناسمي بولي او وایي: الله تعالی له هغه څه ډېر لوړ دئ چي دوی ئې د حقیقي ټولواك په اړه وایي، نه د قیامت راوستل ورته ګران دي او نه به هغه ډول شفاعت وي چي دوی پرې باور لري.

• د دوهمي فقرې په اړه په تفسیرونو کي بېل بېل آراء تر سترګو کېږي، باید وګورو چي معنی ئې څه ده، آیا معنی ئې دا ده چي نورو ته د قرآن په اورولو کي عجله مه کوه، یا دا چي د وحي په دوران کي د قرآن د حفظ او تکرار عجله مه کوه، یا دا چي د دې تلوار مه کوه چي قرآن ژر ژر دربانديې نازل او بشپړ شي، هره رأیه د ابن عباس، مجاهد، قتاده، ابن جریج او نورو په څېر شخصیتونو ته منسوب شوې، خو که د فقرې سیاق و سباق ته ځیر شو نو له کوم شك پرته دې نتیجې ته رسېږو چي تر ټولو دقیق تعبیر درېیم تعبیر دئ، یعني دا چي د دې تلوار مه کوه چي قرآن ژر ژر درباندي نازل او بشپړ شي، پرېږده چي هره برخه په خپل خپل مناسب وخت کي درباندي نازله شي، له مناسب وخت مخکي د احکامو ترلاسه کول ډېر ځلي په دې منتج کېږي چي عمل پرې ونه شي، یا لږ تر لږه د عمل په مرحله کي حکم هېر کړی شي، په حکم باندي د عمل نه کولو یوه څرګنده او معروفه بېلګه زموږ د ستر جد آدم علیه السلام په هغي کړني کي انځوروي چي د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړه، د آدم علیه السلام په اړه ویل شوي: تر دې وړاندي مو آدم ته حکم کړی وو؛ نو هېر ئې کړ او د عزم خاوند مو ونه موند. دا تعبیر د ټولو فقرو ترمنځ ژور تړاو په ګوته کوي خو نور تعبیرونه نه یوازي دا یووالی او تړاو له منځه وړي بلکي بې ربطه فقرې ترې جوړوي.

ځینو درنو مفسرینو دا هڅه کړې چي د آدم علیه السلام په اړه راغلي الفاظ داسي تعبیر او توجیه کړي چي وښیي آدم علیه السلام هیڅ اشتباه نه ده کړې، حکم ترې هېر شوی وو، د الهي حکم د مخالفت عزم او اراده ئې نه وه کړې، هسي په هېره او غیر قصدي توګه ئې هغه مېوه خوړلې وه!! خو دا توجیه نه یوازي له ډېر تکلف ډکه توجیه ده بلکي د قرآن د همدې آیت او د ګڼ شمېر نورو صریح او واضح آیتونو خلاف توجیه ده، دوی دې ته پام نه دئ کړی چي آدم علیه السلام او مېرمن ئې د دغي اشتباه له کبله له خپلي مخکنۍ جامې محروم شول، له جنت کوز شول، الله تعالی د دوی په اړه فرمایلي: فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٍ فَتَابَ عَلَيۡهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٣٧﴾ : نو آدم علیه السلام له خپل رب څخه داسي څو ټکي ترلاسه کړل چي د هغه په وجه ئې توبه قبوله کړه، بې شکه چي هغه ډېر مهربان توبه منونکی دئ. یعني آدم علیه السلام د توبې اراده وکړه، د داسي الفاظو په لټه کي شو چي خپل ندامتورباندي بیان کړی شي او الله ئې توبه قبوله او اشتباه ئې عفو کړي! الله تعالی ورته هغه الفاظ تلقین کړل چي په کوم سره ئې هم خپل ندامت څرګندولی شو او هم ئې د الله تعالی د مغفرت او رحمت غوښتنه پرې کولی شوه، د همدې الفاظو په ویلو سره الله تعالی د ده توبه قبوله کړه. قرآن د دغو کلماتو په اړه داسي فرمایي: قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ * : دواړو وویل: اې زموږ ربه! په رښتیا چي موږ په خپل ځان ظلم وکړ، که ته راته بخښنه ونه کړې او راباندي رحم ونکړې، نو هرومرو به له زیانمنو څخه وو. په دې سره قرآن موږ ته وایي چي له هرچا خطاء او غلطي کېدی شي، غلطي او اشتباه کول ستاسو فطري کمزوري ده، خو که له غلطي وروسته توبه وکړئ، ندامت وښیئ، الله ته رجوع وکړئ او د خپلي غلطۍ د جبران په لټه کي شئ، الله تعالی به بخښونکی او مهربان ومومئ.

• دا فقره چي په کوم ځای او مناسبت راغلې دا په خپله ښیي چي مراد ئې د آدم علیه السلام د هغي کړني سپیناوی او توجیه نه ده، بلکي د یوې اشتباه یادونه ده، عجیبه ده چي څوك دا ټول حقایق له پامه وغورځوي او د قرآن د دې آیت داسي تعبیر او توجیه وړاندي کړي چي هم د آیت له الفاظو او سیاق و سباق سره اړخ نه لګوي او هم له ګڼ شمېر نورو آیتونو سره جدي او ژور تعارض رامنځته کوي!!!

• دې ته مو پام وي چې يوازې الله تعالی کامل او له هر عيب او نقص مبراء دئ، په الهي اخلاقو سمباليدا په حقيقت کې د بې انتهاء معنوي کمال او ارتقاء هغه لوړې څوکې ته د رسيدا په معنی ده چې هغې ته رسيدل د انسان له وسه وتلي ده، هغې څوکې ته نږدې کيدا ممکنه ده خو رسيدا محال. پيغمبران عليهم السلام دې لوړې څوکې ته د رسيدلو په لار کې هغه ځای ته رسيږي چې د انسان لپاره وروستی او آخري معراج دئ، په يوه بې انتهاء او پای نه منونکي مسير کې وروستی تم ځای او د توقف آخري پړاو، هيڅ انسان ته تر دې نقطې آخوا تيريدا ممکنه نه ده. د پيغمبرانو عليهم السلام شخصيت د انساني لوړو اخلاقو، د ده اوچتو معنوي ځانګړتياوو او د غوره صفاتو او خصوصياتو لپاره وروستی معراج او د ګراف آخري لوړه څوکه ده. هغوی په هر څه کې د نورو لپاره بېلګه، اسوه او قدوه دي، الله جل شأنه له ګناه، خطأ او اشتباهاتو خوندي او مصئون ساتلي، له فکري، اخلاقي او عملي پلوه له ګناه او خطأ معصوم دي، د ګناه عصمت په دې معنی چې که کله د انساني طبيعت په مقتضاء له دوی څخه کومه وړه اشتباه هم وشي، الله جل شأنه ئې ډېر ژر متوجه کوي، د اشتباه مخنيوی او جبران کوي او تکرار ته ئې نه پرېږدي. په دې معنی هغوی معصوم دي او الله جل شانه له ګناه مصئون ساتلي، الله تعالی د خپل رسالت او پيغام لپاره داسې شخصيتونه غوره کوي چې دا دنده په بشپړ امانت او صداقت سره خلکو ته ورسوي.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ ﴿١١٦﴾ فَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ
إِنَّ هَٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ ٱلْجَنَّةِ فَتَشْقَىٰٓ ﴿١١٧﴾ إِنَّ لَكَ أَلَّا
تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ﴿١١٨﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا۟ فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ﴿١١٩﴾

او هغه مهال چې ملائکو ته مو وويل: د آدم لپاره سجده وکړئ، نو ټولو سجده وکړه، له ابليس پرته چې ډډه ئې وکړه، نو ومو ويل: ای آدمه! يقيناً چې دا ستا او ستا د مېرمنې دښمن دئ، نو داسې نه چې له جنته مو وباسي که نه نو په مصيبت کې به پرېوځې. يقيناً چې په دې کې به تا ته دا درپه برخه وي چې نه به وږی کيږې او نه به بربنډ کيږې، او ته به نه په کې تږی کيږې او نه به دې ګرمي کيږي.

(۱۱۶-۱۱۹)- په دې مبارک آيت سره د سورې دوهمه اساسي موضوع پيل شوې، په سر کې ئې د آدم عليه السلام لپاره د ملائکو سجده او له دې سجدې د ابليس سرغړاوی راغلی، د پورتنيو دريو آيتونو لارښوونې دا دي:

• الله تعالی ملائکو ته امر وکړ چې د آدم عليه السلام لپاره سجده وکړئ، له ابليس پرته ټولو سجده وکړه، د ملائکو سجده د آدم عليه السلام په وړاندې د ټولو مخلوقاتو د انقياد په معنی وه، په ټولو کې يوازې ابليس د آدم عليه السلام په وړاندې له انقياد ډډه وکړه.

• الله تعالی آدم عليه السلام ته وويل: ای آدمه! يقيناً چې دا ستا او ستا د مېرمنې دښمن دئ، نو داسې نه چې له جنته مو وباسي که نه نو په مصيبت کې به پرېوځې. **يعني د ابليس هڅه دا ده چې تاسو له جنته وباسي، که د ده د وسوسو په لومې کې ونښتئ له جنته به ووځئ او په مصيبتونو به اخته شئ، هغه ستاسو دښمن دئ، د دښمن په سترګه ورته ګورئ او له وسوسو ئې ځان ساتئ.**

• الله تعالی آدم عليه السلام ته دا هم ويلي چې **په جنت کې به ستا حالت داسې وي چې نه به وږی کيږې، نه به بربنډ کيږې، نه به تږی کيږې او نه به دې ګرمي کيږي. يعني لوږه او تنده به نه ګالې، تل به دې پرېمانه**

خوراك څښاك په برخه وي، نه به له يخنى ځوريږي او نه له تودوخي، داسي جامي دي په برخه شوې چي هم دي له يخني ساتي او هم له تودوخي.

• د يو سل اتلسم آيت له وروستۍ فقرې په ډېر وضاحت او صراحت سره معلوميږي چي دا جامه كومه مصنوعي جامه نه وه، ځكه په مصنوعي جامه كي انسان حتماً او په وار وار بربنډ كيږي، د غسل په وخت كي، د زږښت په صورت، د شړېدو او شلېدو په نتيجه كي، په بلي د بدلولو په وخت كي، خو دا آيت وايي چي ته به په جنت كي هيڅكله نه بربنډ كيږي، نو د دې معنى يوازي دا كېدى شي چي دا جامه يوه داسي طبيعي جامه وه چي د دوى له بدن سره نښتې وه، همغسي لكه چي الله تعالى ټولو نورو ژوو ته وركړې، دا جامه د ممنوعه مېوې د خوړلو په نتيجه كي ترې ايستل شوې، له همدې كبله اوس ګورو چي په ټولو ژوو كي يوازنى بربنډ مخلوق انسان دئ چي مصنوعي جامې ته ضرورت لري، په ژمي كي تودو جامو ته او په دوبي كي سړو ته. دې ته مو پام وي چي مصنوعي جامه انسان په خپل لاس جوړوي، كله د حيواناتو له پوستكي، كله د دوى له وړيو، كله له سونډو او وريښمو او كله له نيلون، الله تعالى چي كومه جامه مخلوق ته وركوي هغه مصنوعي نه بلكي طبيعي جامه وي، چي نه خيرنيږي، نه شړيږي، نه زړيږي او نه بدلولو ته ضرورت لري. د دې تفصيل د الاعراف د سورې په۲۰ آيت كي وګورئ.

فَوَسۡوَسَ إِلَيۡهِ ٱلشَّيۡطَٰنُ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ هَلۡ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ ٱلۡخُلۡدِ وَمُلۡكٖ لَّا يَبۡلَىٰ ﴿١٢٠﴾ فَأَكَلَا مِنۡهَا فَبَدَتۡ لَهُمَا سَوۡءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخۡصِفَانِ عَلَيۡهِمَا مِن وَرَقِ ٱلۡجَنَّةِۚ وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ ﴿١٢١﴾

نو شيطان ورته وسوسه وكړه، وئې ويل: اې آدمه! آيا د پايښت ونه او داسي واكمني ته دي لارښوونه وكړم چي له منځه نه ځي؟! نو دواړو (مېوه) ترې وخوړه، نو خپل بدنونه ورته څرګند شول، نو په دې ئې پيل وكړ چي پر خپل ځان د جنت پاڼې ونښلوي، او آدم له خپل رب څخه سرغړاوى وكړ نو (له سمي لاري ئې) تېروتنه وكړه.

(۱۲۰-۱۲۱)- د دې مباركو آيتونو په اړه څو خبري په پام كي ولرئ:

• دلته ويل شوي چي شيطان آدم عليه السلام وسوسه كړ، د دې خبري معنى دا ده چي شيطان دوى ته مجسم شوى نه دئ، بلكي داسي ئې وسوسه كړي لكه چي نن د دوى اولاد وسوسه كوي. د دې آيت په رڼا كي په ټول ډاډ او اطمئنان سره ويلى شو چي آدم عليه السلام ته شيطان داسي ورغلى لكه نن چي د ده اولاد ته ورځي، **قرآن د آدم عليه السلام د غولولو او له جنت څخه د ده د ايستلو كار شيطان ته منسوبوي، شيطان همغه څوك دئ چي د آدم عليه السلام اولاد (انسان) ګناه ته هڅوي، خو آيا دا شيطان په كومي څرګندي بڼي كي آدم او حواء عليهما السلام ته ځان ښودلى، لكه ځيني چي د محرف بايبل تر اغېز لاندي تللي، د بايبل غلطه خبره تكراروي او ادعاء كوي چي شيطان دوى ته مجسم شوى، او كه همغسي ورغلى او دوى ئې وسوسه كړي لكه نن چي د دوى اولاد وسوسه كوي؟ په يقين او ډاډ سره ويلى شو چي هغه وسوسه به داسي وه لكه د ده ننۍ وسوسې، نن چي موږ يو څوك احساسوو چي په زړه مو چونډۍ لګوي، ګناه ته مو هڅوي، ګناه او حرام راته ښايسته كوي، زموږ د (ارتقاء) او (دوام) باعث ئې ګڼي، همغه چي موږ ئې په سترګو نه ګورو خو هره شېبه ئې اغېز احساسوو، زموږ جد ته همدا دوكه مار مخلوق او همدا وسوسه اچوونكى په همدې توګه ورغلى، همداسي ئې ورته ويلي:**

که دا مېوه وخورئ (په جنت کي تل پاته کېدا) او (معنوي ارتقاء) به مو په برخه شي، قرآن په دې اړه همغه خبره کړې چي هر انسان ئې هره شېبه په خپل ژوند کي احساسوي، خو بايبل خوشې او بېهوده خبره کوي او دا وسوسه د مار له لوري ګڼي!! او متأسفانه زموږ ځيني مفسرين وايي چي شيطان د مار په بڼې کي يا د مار په خوله کي جنت ته ورغلی او دوی ئې دوکه کړي!! دا د هغو خلکو کار دئ چي غواړي د قرآن آيتونه د بايبل په استناد تفسير کړي او د قرآن او بايبل ترمنځ د تلفيق هڅه کوي.

- د آيت له الفاظو داسي معلومېږي لکه چي د دې اشتباه پيلوونکی آدم عليه السلام وو، د (عصی) او (غوی) نسبت ده ته شوی، او دا د بايبل د هغې وينا ترديد کوي چي وايي د دې مېوې د خوړولو محرك او باعث حوی صلی وه، بايبل وايي: **يوه ورځ مار د ښځي خوا ته راغی او هغې ته ئې وويل: آيا رښتيا ده چي خدای تاسو د باغ د ټولو ونو د ميوو له خوړلو منع کړي يئ؟ ښځي په ځواب کي ورته وويل: موږ ته اجازه راکړی شوې چي د ټولو ونو مېوه وخورو پرته د يوې ونې چي د باغ په منځ کي ده، خدای امر کړی چي د دې ونې مېوه ونه خورو او حتی لاس ورنه وړو که نه نو مرو. مار ورته وويل: "مطمئن اوسه چي نه مرئ، بلکي خدای ښه پوهېږي چي کله تاسو دا مېوه وخورئ سترګي مو پرانستل کېږي، د خدای په څېر کېږئ او ښه له بده بېلولی شئ"، هغه ونه ښځي ته ښاېسته وبرېښېده او له ځان سره ئې فکر وکړ چي "کېدی شي د دې ښاېسته ونې مېوه خوندوره وي او پوهه مي په برخه کړي، نو د دې ونې ميوې ئې راوشکولې، وئې خوړلې او خپل خاوند ته ئې هم ورکړې او هغه هم وخوړلې" په همدې سره د دوی دواړو سترګي پرانستلې شوې، په خپلې بربنډتيا پوه شول، نو د انځر له پاڼو ئې د ځان پټولو جامه جوړه کړه...**

د بايبل په دې برخي کي دومره بېهوده او د خندا وړ خبري دي چي انسان ورته حيران شي، نه پوهېږو مسيحيان څنګه دا خبري د الله تعالی له لوري او د يوه مقدس آسماني کتاب خبري ګڼي!! لاندي څو خبرو ته ئې متوجه شئ:

- **وايي: مار ښځي ته وويل: خدای تاسو ته حقيقت نه دئ ويلی، دا سمه نه ده چي د دې ميوې په خوړلو سره تاسو مرئ، حقيقت دا دئ چي د دې ميوې په خوړلو سره تاسو په ښه او بد پوهېږئ، خدای د دې لپاره نه غواړي چي تاسو دا مېوه وخورئ چي په دې سره تاسو د خدای په څېر معرفت ترلاسه کوئ او په ښه او بد پوهېږئ او د ده رقيبان درنه جوړېږي، هغه نه غواړي چي رقيب ولري!! د همدې لپاره ئې تاسو د دغې ميوې له خوړلو منع کړي يئ!! بايبل وايي چي د مار خبره سمه وختله او د خدای خبره ناسمه او د حقيقت خلاف، دوی دواړو دا مېوه وخوړه، مړه نه شول، برعکس په ښه او بد پوه شول!!**
- **بايبل په دې بحث سره ښځه د ګناه اصلي عامل او باعث معرفي کوي، د ګناه پيل د دې لخوا شوی، د زمکي پر سر لومړۍ ګناه د دې له لوري وه، نارينه هم د دې په لاس ګناه ته هڅول شوی! او دا د حقيقت او واقع کاملاً خلاف خبره ده، د ګناه په کولو کي د ښځي جسارت تر نارينه ډېر لږ دئ، په نارينه وو کي د مجرمانو شمېر تل تر ښځو زيات وي، ښځه غالباً د نارينه تقليد کوي، په هغه پسي اقتدا کوي، د ښځو جوړښت داسي دئ چي تر نارينه ئې ښېګڼو ته تمايل زيات وي، قوي عاطفه ئې د بدو په ځای ښو ته هڅوي، تل ګورو چي نارينه د ګناه لپاره په ښځو پسي ورځي.**
- **په ۱۲۱ آيت کي ويل شوي چي دوی دواړو د ممنوعه شجرې مېوه وخوړه، او په دې سره خپل بدنونه ورته څرګند شول، دلته دا الفاظ راغلي: فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْءَاتُهُمَا، ځينو سوءات د غليظه عورت په معنی اخيستی، او دا ډېر کمزوری تعبير دئ، دا ځکه چي د انسان غليظه عورت په خپله له ده پټ نه پاته کېږي، او په خپله ده او زوج ته ئې څرګندېدا ګناه نه ده، مصنوعي جامه دا عورت د تل لپاره له ده پټ نشي ساتلی، د آيت الفاظ داسي دي چي ښيي له دې جامې وروسته دوی ته خپل سوءات څرګند شوي، او د دې معنی له دې پرته بل څه نشي کېدی چي مخکنۍ جامې ئې ټول بدن او د بدن پوستکی پټ کړی وو او هغه مهال چي دا**

جامه ئې له لاسه ورکړه ټول بدن ئې ورته ځرګند شوی. د مائدې په سوره کې همدا لفظ د بدن او جثې لپاره راغلی:

فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابًا يَبۡحَثُ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُرِيَهُۥ كَيۡفَ يُوَٰرِي سَوۡءَةَ أَخِيهِۚ قَالَ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ أَعَجَزۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِثۡلَ هَٰذَا ٱلۡغُرَابِ فَأُوَٰرِيَ سَوۡءَةَ أَخِيۖ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ﴿٣١﴾ : نو الله يو کارغه

راولېږو چې زمکه ئې سپړله، ترڅو وروښيي چې د خپل ورور جثه څنګه پټه کړي، وئې ويل: های افسوس، آيا له دې هم عاجز شوم چې د دې کارغه په څېر وای او د خپل ورور جثه مې پټه کړې وای، نو له پښېمانې کوونکو څخه شو.

- **قرآن وايي چې د مېوې په خوړلو سره جامه ترې وايستل شوه، بربنډ شول او لګيا شول چې ځان په پاڼو پټ کړي، د آيت الفاظ داسې دي چې ښيي ټول ځان ئې لوڅ شوی او د ټول ځان د پټولو لپاره ئې پاڼې په ځان نښلولې. د دې معنی دا ده چې له لوڅېدو وروسته د انسان لومړۍ جامه پاڼې وې، نوري جامې ئې ډېر وروسته جوړې کړې دي. د علمي تحقيقاتو په نتيجه کې څېړونکي همدې نتيجې ته رسېدلي چې لومړنيو انسانانو د ونو له پاڼو د جامې په توګه استفاده کړې، وروسته ئې د حيواناتو له څرمنو او بيا ئې له نورو شيانو جامې جوړې کړې.** په داسې حال کې چې دا آيت د قرآن يو ځرګند علمي اعجاز زموږ مخې ته ږدي، هغه خبره کوي چې انسان له ډېرو ژورو څېړنو وروسته پرې پوه شوی خو متأسفانه ځينو د بايبل غلطه او بې بنسټه وينا د دې آيت په تفسير کې وړاندې کړې!! د دې تفصيل د الاعراف سورې د۲۰ آيت او د المائدې سورې د ۳۱ آيت په تفسير کې وګورئ.

ثُمَّ ٱجۡتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَتَابَ عَلَيۡهِ وَهَدَىٰ ﴿١٢٢﴾

بيا خپل رب غوره کړ، (له مهربانۍ سره) پرې راوګرځېدو، او هدايت ئې کړ.

(۱۲۲)- دا آيت وايي چې الله تعالی آدم عليه السلام غوره کړ، د ده توبه ئې قبوله کړه، ده د خپل رب لوري ته مخه کړه او الله تعالی د ده لوري ته له مهربانۍ او پېرزوينې سره وروګرځېدو او هدايت ئې کړ. دا د ټولو بنيادمانو په اړه د الله تعالی دائمي او نه بدلېدونکې سنت بيانوي، کله چې دوی اشتباه وکړي، خدای ته مخه کړي، توبه وکړي، الله تعالی ئې توبه قبلوي، د خپل رحمت وزر پرې غوړوي او د هدايت دروازه ئې پر مخ پرانېزي.

قَالَ ٱهۡبِطَا مِنۡهَا جَمِيعَۢاۖ بَعۡضُكُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوّٞۖ فَإِمَّا يَأۡتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدٗى فَمَنِ ٱتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشۡقَىٰ ﴿١٢٣﴾ وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ ﴿١٢٤﴾

وئې ويل: دواړه په ګډه له دې کوز شئ، ځينې د ځينو نورو لپاره دښمن، نو که زما له لوري کوم هدايت درغی نو چا چې زما د لارښوونې متابعت وکړ نو نه به بې لارې شي

او نه بدبخت او چا چې زما له ذکره اعراض وکړ، نو د تنګسې او اضطراب ژوند به ئې په برخه وي او د قیامت په ورځ به ئې ړوند راپاڅوو.

(۱۲۳-۱۲۵)- د دې مبارکو آیتونو مهمي مهمي لارښووني دا دي:

- الله تعالی آدم علیه السلام، د ده مېرمني او شیطان ته وفرمایل: تاسو دواړه فریقه له دې کوز شئ، ځیني د ځینو نورو لپاره دښمن، په دې فقرې کي د جمیعاً له لفظ معلومېږي چي خطاب دواړو فریقو ته وو نه یوازي آدم علیه السلام او د ده مېرمني ته، د دواړو تر منځ له دښمنی څخه هم مراد د انسان او شیطان تر منځ دښمني ده نه د آدم علیه السلام د اولاد تر منځ.
- الله تعالی مزید وفرمایل: که زما له لوري کوم هدایت درغی نو چا چي زما د لارښووني متابعت وکړ نو هغه به نه بې لاري شي او نه بدبخت او چا چې زما له ذکره اعراض وکړ، نو د تنګسې او اضطراب ژوند به ئې په برخه وي او د قیامت په ورځ به ئې ړوند راپاڅوو. په دې کي هم خطاب دواړو ډلو ته دئ نه یوازي د آدم علیه السلام اولاد ته. یعني چا چي په دنیا کي د الله تعالی له ذکر او یادولو او د الهي کتاب له پند او لارښوونو ډډه وکړه، الله جل شأنه ئې هېر کړ، د ړندو په څېر ئې ژوند وکړ، د هغه دنیایي ژوند به له تنګی، اضطراب، پرېشانی او تشویش سره توأم وي، هغه به د واقعي اطمئنان او آزادۍ مخ ونه ګوري، په اختناق او وحشت کي به ژوند کوي، که څه هم له زیاتو امکاناتو برخمن وي، ډېر وسائل، ذرایع او امکانات ئې په واك کي وي، خو زړه به ئې ډاډه نشي، تل به مضطرب او پرېشانه وي. د انسان ترټولو لویه شتمني د زړه ډاډ او اطمئنان دئ، هغه به له دې شتمنۍ محروم وي، وسائل، بنګلې، مال، دولت او شتمني انسان ته د زړه اطمئنان نشي ورکولی، دا د الله تعالی ذکر او یادونه ده چي انسان ته اطمئنان ورکوي او زړه ئې ډاډه کوي، چا چي د الله له ذکر او یاده ډډه وکړه، په دې معنی چي الله ورپه یاد نشو او کوم کتاب چي الله تعالی نازل کړی هغه ئې خپل لارښود نکړ، د هغه په رڼا کي ئې ژوند ونه کړ، هغه د ده د لاري ډېوه او د ژوند په ټولو برخو کي لارښود نه وو او د هغه له منلو ئې ډډه وکړه، د دې اجتناب په وجه به په دنیا کي مضطرب، پرېشانه، ناامنه او له کړاوونو ډك ژوند لري او د قیامت په ورځ به ړوند حشر کېږي.
- په ۱۲۳ آیت کي د اهبطا صیغه راغلې چي معنی ئې (دواړه کوز شئ) ده، دا صیغه هغه چا ته کارول کېږي چي له یوه ځایه په خپلو پښو د کوزېدو امر ورته کېږي، له دې صیغې په ډېر صراحت سره معلومېږي چي آدم علیه السلام د زمکي په کوم جنت (باغ) کي وو، نه د آسمان په جنت کي، د آسمان له جنته په خپلو پښو راکوزېدل ممکن نه دي، د قرآن له هیڅ آیت او هیڅ لفظ څخه دا نه معلومېږي چي آدم علیه السلام په آسمان کي پیدا شوی، یا په زمکي کي له پیدایښت وروسته آسمان ته بېول شوی او یا له آسمانه بېرته زمکي ته راوستل شوی، چا چي د (اهبطوا) له صیغې دا معنی اخیستې چي ګواکي دوی ته ویل شوي له آسمانه کوز شئ سخته اشتباه ئې کړې، دوی به په خپلو پښو څنګه له آسمانه راکوزېدل، الله تعالی به څنګه داسي څه ورته ویل چي د دوی له وسه پوره نه وه. د قرآن ګڼ شمېر آیتونه ښیي چي آدم علیه السلام په زمکي کي پیدا شوی، د زمکي په جنت کي مېشت شوی، له همدې جنته کوز شوی، همدلته وفات شوی او له همدې زمکي به بیا راژوندی کېږي. په اصلي جنت کي نه ممنوعه شجره شته، نه شیطان او د ده ملګري ورننوتی شي، الله تعالی دا جنت او مېوې ئې پر دوی حرامي کړې دي، دې جنت ته له محاسبې وروسته جنتیان ننوځي، بېرته وتل ترې نشته. د دې تفصیل د الاعراف د سورې په ۱۹آیت کي وګورئ.

قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيرٗا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتۡكَ ءَايَٰتُنَا

فَنَسِيتَهَا ۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلْيَوْمَ تُنسَىٰ ﴿١٢٦﴾ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى مَنْ أَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِنۢ بِـَٔايَـٰتِ
رَبِّهِۦ ۚ وَلَعَذَابُ ٱلْـَٔاخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبْقَىٰٓ ﴿١٢٧﴾

وئې ويل: اې زما ربه! ولي دې ړوند حشر کړم په داسي حال کي چي سترګه ور وم. وئې فرمايل: همدا راز زما آيتونه درغلل خو تا هېر کړل "هغه دې ونه منل"، نو همداسي به نن هېر کړی شې. او همداسي به هغه چا ته سزا ورکړو چي اسراف او تېری ئې وکړ او د خپل رب په آيتونو ئې ايمان رانه وړ، او د آخرت عذاب حتماً ډېر شديد او ډېر پايښت لرونکی دئ.

(۱۲۵-۱۲۷)- د دې آيتونو په اړه لاندي مطالب په پام کي ولرئ:

- ~~د قيامت په ورځ به دغه ړوند حشر شوی بنده ووايي: اې زما ربه! ولي دې ړوند حشر کړم په داسي حال~~ کي چي سترګه ور وم. الله تعالی به د ده په ځواب کي وفرمايي: همدا راز زما آيتونه درغلل خو تا هېر کړل، هغه دې ونه منل، نو همداسي به نن هېر کړی شې. لکه چي تا د الله آيتونه هېر کړل، پند او عبرت دې ترې وانه خيست، عمل دې پرې ونه کړ، اعتناء دې ورته ونه کړه، همداسي به الله تعالی نن تا ته التفات نه کوي، تا ته به توجه او اعتناء نه لري، دا ځکه چي تا د هغه آيتونو ته اعتناء او توجه ونه کړه.
- په کومه معنی چي دلته د (نسي) لفظ راغلی، د آدم عليه السلام په اړه په ۱۱۵ آيت کي د (فنسي) معنی همدا ده، دا قطعاً صحيح نه ده چي دلته ئې په يوه معنی واخلو او هلته په بله معنی**!!**
- په ۱۲۷ آيت کي چي ويل شوي: همداسي به هغه چا ته سزا ورکړو چي اسراف او تېری ئې وکړ او د خپل رب په آيتونو ئې ايمان رانه وړ، او د آخرت عذاب حتماً ډېر شديد او ډېر پايښت لرونکی دئ، د دې معنی دا ده چي په دنيا کي تنګ او ضيق معيشت د دوی دنيوي سزا ده او په آخرت کي به له لازيات شديد او اوږد عذاب سره مخامخ کيږي.

أَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ ٱلْقُرُونِ يَمْشُونَ فِى مَسَـٰكِنِهِمْ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ
لَـَٔايَـٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلنُّهَىٰ ﴿١٢٨﴾ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَأَجَلٌ مُّسَمًّى


نو آيا دا نه ده ورته ښکاره شوې چي تر دوی وړاندي مو څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) هلاك کړل چي دوی ئې په هستوګنځيو کي ګرځي، يقيناً چي په دې کي عقلمنو ته څرګندي نښې دي، او که ستا د رب وينا وړاندي نه وی (ويل شوې) او تاکل شوې نېټه نه وی نو حتماً به لازم شوی وو (الهي عذاب).

(۱۲۸-۱۲۹)- په دې مبارکو آيتونو کي دا لارښووني مومو:

• د هغه چا په اړه چې له الهي لاربنوونو اعراض کوي ويل شوي: آيا دا نه ده ورته ښکاره شوې چې تر دوی وړاندې مو څومره پېړۍ پېړۍ خلک د همدې جرم له کبله هلاك کړل، هغه چې اوس دوی د هغوی په هستوګنځيو کې ګرځي، هر څه ئې نورو ته په ميراث پاته شول، يقيناً چې په دې کې عقلمنو ته څرګندې نښې دي.
• که د دوی په اړه ستا د رب دا وينا له وړاندې نه وی ويل شوې چې مهلت ورکوم، ژر او له ګناه او عصيان سره سم ئې نه نيسم او که د محاسبې او مؤاخذې لپاره ټاکل شوې نېټه نه وی نو ډېر وړاندې به په الهي عذاب اخته شوي وو.

فَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوعِ ٱلشَّمۡسِ وَقَبۡلَ غُرُوبِهَاۖ وَمِنۡ ءَانَآيِٕ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡ وَأَطۡرَافَ ٱلنَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرۡضَىٰ ﴿١٣٠﴾

نو په هغه څه چې دوی ئې وايي صبر وکړه او له ستايني سره د خپل رب تسبيح وايه؛ تر لمر راختو مخکې او تر لوېدو ئې مخکې او د شپې په يوې برخې کې تسبيح وايه او د ورځې په اطراف کې؛ چې راضي شې.

(۱۳۰)- په دې مبارك آيت کې رسول اللهﷺ ته د دښمنانو د تبليغاتو او مخالفتونو په وړاندې څو سپارښتنې شوې دي:

• په هغه څه چې دوی ئې وايي صبر وکړه.
• له ستايني سره د خپل رب تسبيح وايه، يعنې لمونځ کوه، تر لمر راختو مخکې او تر لوېدو ئې مخکې او د شپې په يوې برخې کې تسبيح وايه او د ورځې په اطراف کې؛ چې راضي شې.

يعنې د دوی د مخالفتونو په وړاندې صبر او لمانځه ته پناه يوسه، په دې سره به د الله تعالی داسې رعايت او عنايت ترلاسه کړې چې پرې راضي به شې، او دا هغه څه دي چې د بقرې د سورې په ٤٥ او ١٥٣آيتونو کې په دې صيغه راغلي:

وَٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى ٱلۡخَٰشِعِينَ ﴿٤٥﴾

البقره: ٤٥

او په صبر او لمانځه سره مرسته ترلاسه کړئ او دا خو يقيناً چې ګران او ستر کار دئ مګر خاشعينو ته.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَعِينُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿١٥٣﴾ البقره: ١٥٣

اې مؤمنانو! په صبر او لمانځه سره مرسته ترلاسه کړئ، يقيناً چې الله له صبر کوونکو سره دئ.

• د طٰه د سورې په دې آيت کې د تسبيح او تحميد لپاره دا وختونه ښودل شوي: سحر له لمر

ختو وړاندي، مازدیگر له لمر لوېدو مخکي، او د شپې په ځینو برخو کي، چي په دې سره ماښام، ماخستن او د تهجد لمانځه وختونو ته اشاره ده، خو يوه بل وخت ته د اطراف النهار په لفظ اشاره شوې. دا اطراف النهار نه سحر او مازدیگر کېدی شي او نه سحر او ماښام، ځکه دغو وختونو ته وړاندي په واضح توگه اشاره شوې، باید وگورو چي اطراف څه ته وایي او په اطراف النهار سره کوم وخت ته اشاره شوې، دې پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره دوه مراجع لرو: په خپله قرآن او د رسول اللهﷺ سنت، د سنت له مخي د لمانځه پنځم وخت ماسپښين دئ، له دې معلومېږي چي په اطراف النهار سره د ماسپښين لمانځه ته اشاره شوې، د هود په سوره کي د اطراف په ځای طرفي النهار راغلي، آیت داسي دئ:

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾: او د ورځي په دواړو خواوو کي او (ورپسي نږدې) د شپې ځيني برخي کي لمونځ کوه، يقيناً چي ښېگڼي بدي له منځه وړي، دا د پند اخستونکو لپاره پند دئ.

د دې آیت له الفاظو داسي معلومېږي چي له (طرفي النهار) څخه مراد د ورځي دواړه خواوي دي، له غرمې مخکي او وروسته برخي ئې، چي په دې سره د گهيځ، ماسپښين او مازدیگر لمونځونو ته اشاره شوې او له (زلفا من الليل) نه مراد د شپې هغه لومړنۍ برخه مراد ده چي ورځي ته نږدې وي، چي په دې سره د ماښام او ماخستن لمونځونو ته اشاره شوې.

ماسپښين د ورځي د دواړو برخو منځ کي دئ، هم له لومړنۍ برخي سره وصل دئ او هم له وروستنۍ برخي سره، دلته د ورځي اطراف سره يو ځای شوي، له همدې امله ماسپښين ته د اطراف نوم ورکړی شوی.

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّنۡهُمۡ زَهۡرَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا لِنَفۡتِنَهُمۡ فِيهِۚ وَرِزۡقُ رَبِّكَ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ ﴿١٣١﴾

او خپلي سترگي د هغه څه لوري ته مه اړوه چي د دوی ځينو ډلو ته مو ورپه برخه کړي، دا د دنيوي ژوند د سينگار اسباب دي چي دوی په کي آزمويو، او ستا د رب رزق ډېر غوره او زيات پاتې‌کېدونکی دئ.

(١٣١)- په دې مبارك آیت کي رسول اللهﷺ ته او د ده له لاري ټولو مؤمنانو ته لارښوونه شوې چي خپلي سترگي د هغه څه لوري ته مه اړوه، اعتناء ورته مه کوه او ارزښت مه ورکوه چي د حق د مخالفينو ځينو ډلو ته ورپه برخه شوي، دا د دنيوي ژوند د سينگار اسباب او وسائل دي، دا د کومي ورتيا له مخي دوی ته نه دي ورکړی شوي، بلکي د دې لپاره ورکړی شوي چي دوی په کي وآزمويو، غوره او د اعتناء او التفات وړ رزق هغه دئ چي د خپل رب خوا ته به ئې ترلاسه کوئ، هغه رزق هم ډېر غوره دئ او هم زيات پاتې‌کېدونکی.

وَأۡمُرۡ أَهۡلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَاۖ لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقٗاۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكَۗ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلتَّقۡوَىٰ ﴿١٣٢﴾

او خپل اهل او عیال پر لمانځه وګماره او پرې کلك اوسه، کوم رزق نه درنه غواړو، موږ تا ته روزي درکوو، او (نېکه) پایله د تقوی (د خاوندانو) ده.

(۱۳۲)- دلته رسول الله ﷺ ته او د هغه له لارې ټولو مؤمنانو ته سپارښتنه شوې چې خپل اهل او عیال پر لمانځه وګماري او په خپله هم پرې کلك واوسي، د هغو خلکو په څېر نه وي چې ټول هم او غم ئې د رزق ترلاسه کول وي، له هرې لارې چې ورته ممکنه وي، نه د حلال پروا لري او نه د حرام، ستاسو د خلقت هدف دا نه دئ چې فقط ځان ته رزق ولټوئ، دا کار خو هر حیوان هم کوي، هر ژوی د رزق لټه کوي، ستاسو د پیدایښت هدف تر دې ډېر لوړ دئ، الله تعالی کوم رزق نه درنه غواړي، هغه ستاسو او د ټولو ژوو د رزق ضامن دئ، څه چې له حلالو لارو ترلاسه کوئ په هغه اکتفاء وکړئ، له مقابل لوري سره په دې کې سیالي مه کوئ، د هغوی ظاهري حالت ته له اعتناء پرته خپلو اصلي دندو ته توجه وکړئ، له هغه څه ځان وساتئ چې الله تعالی ترې منع کړې یئ، په دې پوه شئ چې نېکه پایله د تقوی او متقینو ده، دوی به هم د دنیا بریا ترلاسه کوي او هم د آخرت.

او دا همغه مطلب دئ چې تر دې د مخه د آدم علیه السلام په قصې کې موږ ته انځور شوی وو، هغه په تقوی ګمارل شوی وو؛ د ممنوعه شجرې له مېوې د ځان لرې ساتلو سپارښتنه ورته شوې وه، الله تعالی ده ته په هغه جنت کې پرېمانه رزق ورکړی وو، تاسو ته هم دې ته ورته سپارښتنه کوي، تقوی غوره کړئ، له هغه څه ځان وساتئ چې الله تعالی ترې منع کړي یئ، د رزق ضامن مو الله تعالی دئ، دا د هدف په توګه مه غوره کوئ، د یوې وسیلې په سترګه ورته وګورئ.

وَقَالُواْ لَوۡلَا يَأۡتِينَا بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّهِۦٓۚ أَوَلَمۡ تَأۡتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِي ٱلصُّحُفِ ٱلۡأُولَىٰ ﴿١٣٣﴾

او وئې ویل: ولې د خپل رب له لوري کومه څرګنده نښه نه راته راوړي، آیا دوی ته هغه ښکارندویه نښې نه دي راغلې چې په مخکنیو صحیفو کې وې؟!

(۱۳۳)- دلته یو ځل بیا د کافرانو هغه وینا راغلې چې معجزې ئې غوښتلې، داسې معجزې چې هر څوك ایمان راوړو ته اړ کړي، له پیغمبر علیه السلام ئې داسې خارق العاده کار غوښتو چې انسان ئې له کولو عاجز وي او هر چا ته ثابته کړي چې دا کار د الله تعالی له لوري ترسره شوی، یوازې د داسې معجزې په لیدو سره به ایمان راوړي او پر دې به باور کوي چې دی د الله رسول دئ!! د دوی په ځواب کې ویل شوي: آیا دوی ته هغه ښکارندویه نښې نه دي راغلي چې په مخکنیو صحیفو کې وې؟! چې مطلب ئې دا دئ: آیا په دې قرآن کې ټولې هغه څرګندې نښې نه دي راغلي چې په مخکنیو الهي کتابونو او صحیفو کې راغلي وې؟ که قرآن هغه څه وایي چې په تورات، انجیل او زبور کې راغلي وو، که رسول الله ﷺ خلکو ته همغه خبره کوي چې ابراهیم، موسی، عیسی او داؤد علیهم السلام او نورو پیغمبرانو کولې نو آیا دغه څرګند دلیل کافي نه دئ چې رسول الله ﷺ د دوی په

ځبر يوپيغمبر دئ او قرآن د الله تعالی کتاب؟!! هر څوك د خپلي وينا او پيغام له مخي پيژندل کيږي، پيغمبر هغه دئ چي پيغام ئي د پيغمبرانو په ځبر وي، عقلمن وګړي د چا پيغام ته په پام سره د هغه په اړه قضاوت کوي، جاهلان، متعصبين او متعنتين معجزې او خارق العاده کارونه غواړي، خو آيا دغو جاهلانو د هغو پيغمبرانو مخالفت نه دئ کړی چي ستري ستري معجزې ئي وړاندي کړې وې؟!!

وَلَوْ أَنَّآ أَهْلَكْنَـٰهُم بِعَذَابٍ مِّن قَبْلِهِۦ لَقَالُوا۟ رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَـٰتِكَ مِن قَبْلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخْزَىٰ ﴿١٣٤﴾

او که موږ تر ده وړاندي په عذاب سره هلاك کړي وی نو حتماً به ئي ويلي وو: ولي دي موږ ته يو پيغمبر راونه لېږو چي ستا د آيتونو متابعت مو کړی وی؛ مخکي تر دې چي ذليل او سپك شو.

(۱۳٤)- دلته مزيد ويل شوي چي که دوی د الهي عذاب په بڼي کي کومه معجزه غواړي او مقصد ئي دا وي چي که ته واقعاً د الله رسول يې، ګوابنونه دي حقيقت لري او موږ د عذاب مستحق يو نو دا عذاب ولي نه راځي؟!! د دوی په ځواب کي ويل شوي: که موږ د پيغمبر تر بعثت او د قرآن تر نازلېدو وړاندي په عذاب سره هلاك کړي وی نو حتماً به ئي ويلي وو: ولي دي موږ ته يو پيغمبر راونه لېږو چي ستا د آيتونو متابعت مو کړی وی؛ مخکي تر دې چي ذليل او سپك شو. د دې لپاره چي سبا د الهي محاکمې او محاسبې پر مهال دا عذر او بهانه وړاندي نه کړی شئ نو تر عذاب وړاندي ئي تاسو ته پيغمبر او د هغه په لاس قرآن درولېږو، اوس نو ستاسو او د عذاب، ذلت او سپکاوي تر منځ لنډ واټن پاته دئ.

قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوا۟ ۖ فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ أَصْحَـٰبُ ٱلصِّرَٰطِ ٱلسَّوِىِّ وَمَنِ ٱهْتَدَىٰ ﴿١٣٥﴾

ووايه: هر څوك منتظر دئ نو تاسو هم انتظار وکړئ، ژر به پوه شئ چي څوك د سمي لاري خاوندان ول او څوك په سمه لار روان!!

(۱۳٥)- دا آيت چي د سورې وروستی آيت دئ؛ د سورې د ټولو مضامينو لپاره د يوې بنکلي تتمې په توګه رسول الله ﷺ ته لارښوونه کوي چي خپلو مخالفينو ته ووايي: هر څوك منتظر دئ نو تاسو هم انتظار وکړئ، ژر به پوه شئ چي څوك د سمي لاري خاوندان ول او څوك په سمه لار روان!! هر څوك د خپلو هيلو، باورونو او ګمانونو مطابق د راتلونکي په اړه اټکلونه کوي، د روښانه مستقبل انتظار لري، ګمان ئي دا دئ چي تګلاره ئي سمه، مذهب ئي الله تعالی ته مقبول دی او هدايت او لارښوونه ئي په برخه شوې، تاسو هم د خپلو انګېرنو او هيلو په شنه بڼ کي خوښ او هيله من اوسئ؛ ژر به پوه شئ چي صحيح او حقيقي لارښوونه د چا په برخه شوې، سمه تګلاره د چا وه او روڼ مستقبل چا ترلاسه کړی. وبه ګورئ چي څوك د فرعون، هامان او شيطان ملګري او له

همغه برخليك سره مخامخ شول چي سلف ئي ورسره مخامخ شوی وو او څوك د موسی عليه السلام او آدم عليه السلام په لار درومي او له همغه برخليك سره به مخامخ كيږي چي دا دواړه ستر ستر شخصيتونه ورسره مخامخ شوي وو.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

فهرست

عنوان

صفحه